٤

لقد کان لکم فی رسول اللہ اسوۃ حسنۃ (الآیۃ)



سیرت الرسول صلی اللہ علیہ وسلم







تالیف

الشیخ العلامۃ ابو محمد امین اللہ پشاوری حفظہ اللہ

جمع وترتیب واضافات مفیدہ

الشیخ ابو زھیر سیف اللہ حفظہ اللہ

مکتبہ محمدیہ

بیرون کنج گیٹ منگل مارکیٹ پشاور

0301-8828402

Maktaba-tul-Ishaat.com

Maktaba Tul Ishaat

تمام فنون کے کتب ہمارے ویب سائٹ اور پلے سٹور سے فری ڈاون لوڈ کریں۔ ہم روزانہ کی بنیاد پر اس میں مزید نئے کتب شامل کر رہے ہیں نئے شامل شدہ کتب لیے روزانہ ہمارے پلے سٹور اور ویب سائٹ کو باقاعدگی سے چیک کیا کریں۔

اپنی کتاب کو ہمارے ویب سائٹ پر شائع کرنے کے لیے رابطہ کریں

تفاسیر	خطبات	منطق
احادیث	سیرت	معانی
فقہ	تاریخ	تصوف
سوانح حیات	صرف	تقابل ادیان
درس نظامی	نحو	تجوید
لغت	فلسفہ	نعت
فتاوی	حکمت	تراجم
اصلاحی	بلاغت	تبلیغ و دعوت
آڈیو دروس	مناظرے	تمام فنون

maktaba.tul.ishaatofficial@gmail.com

لقد کان لکم فی رسول اللہ اسوۃ حسنۃ (الآیۃ)

سیرت الرسول ﷺ

تالیف: الشیخ العلامۃ ابو محمد امین اللہ پشاوری حفظہ اللہ

٤



مکتبہ محمدیہ
بیرون گنج گیٹ منگل مارکیٹ پشاور

Maktaba Tul Ishaat.com

د تالیف او طباعت حقوق محفوظ دی

د کتاب نوم	سیرت الرسول ﷺ جلد ۵
د مؤلف نوم	الشیخ ابو محمد امین الله البشاوری حفظه الله ورعاه
جمع وترتیب واضافات مفیده	از ابوزهیر سیف الله غفر له شیخ آباد پشاور۔
سنۂ طباعت	جمادی الاولیٰ ۱۴۳۹/۷ هجری الموافق: ۲۵/۱/۲۰۱۸م)
د نسخو تعداد	۱۱۰۰
فن	سیرتِ رسول (ﷺ)
ناشر	مکتبه محمدیه گنج پیښور

د ملاویدو پته

۱- مکتبه محمدیه

بیرون گنج گیټ پهندو روډ منگل مارکیټ پیښور پاکستان

ولی الله :03118828402/ 03018828402 ابو سلمان : 03025953513 ابو زهیر : 03075924001

۲- ایوب مکتبه واسلامی کیسټ مرکز، عقب قصه خوانی پیښور۔

۳- معراج کتب خانه قصه خوانی بازار محله جنگی پیښور۔

٤- نوروز کتب خانه صوابی اډه پاکستان۔

۵- دار الکتاب والسنة، نیو حاجی کیمپ سلطان آباد کراچی : 03002615402

٦- مسلم کتاب پاورنځی، جلال آباد اسحاق زئی مارکیټ۔

۷- مکتبه محمدیه، جلال آباد تالاشئ چوك گمرك مسجد ترځنگ دکان نمبر ۲

Maktaba Tul Ishaat.com



حجة الوداع او د هغې مقدمات

دا نهم کال روان دے، کله چه د ذو القعدے میاشت راغله نو د نبی ﷺ په زړهٔ کښے الله تعالیٰ وا چوله چه په عامه علاقه باندے غلبه راغله نو کیدے شی چه الله تعالیٰ ما خپل ځان ته وغواړی، وفات مے کړی، او دنیا کښے مے پرینږدی، او په ځان باندے پو هه شو او انبیاء علیهم السلام ته الله تعالیٰ خبر هم ورکوی. خاصکر په اِذَا جَاءَ نَصْرُ اللهِ وَالْفَتْحُ سورت کښے ورته اشاره هم شوے وه نو د هغهٔ په زړهٔ کښے تیر شول چه یوه غټه اجتماع پکار ده چه د مختلفو علاقو نوی او زاړهٔ مسلمانان یو ځائے ته راجمع شی او دوئ سره خبرے اترے وشی، او زما په اُوګو باندے چه کوم امانت پروت دے چه دا دوئ ته وسپارم چه ما خو هغه تاسو ته ورسولو نور اخوا تاسو ته سپارلے شویدے، چه نور امت ته به ئے رسوئ او تر قیامته پورے به ئے تاسو د یو پیړئ نه بلے پیړئ ته رسوئ.

صحابه کرام رضی الله عنهم به د تابعینو او تابعین به د اتباع التابعینو او هغوی به د روستنو تر قیامته پورے د یو بل ذمه وار وی.

او دا تپوس به الله د هر چا نه کوی، چه د الله دین تاسو ته وسپارلے شو، لکه زمونږ په زمانه کښے صحابه کرام او تابعین او اتباع التابعین او د پخوانو په شان د اسلام لوی فحول او عظیم شخصیات نشته نو د الله د دین ذمه واری زمونږ په شان کمزورو ته پاتے شوے که مونږ د الله دین نهٔ بیانوو، حق نهٔ بیانوو، حقے مسئلے د عوامو نه پټه وو، یا غلط مذهب پیش کوو، نو دا د الله او د رسول او د الله د دین او د عوامو سره ډیر غټ خیانت دے، پدے غټ خیانت کښے اول حاکمان او دویم پیران او دریم علماء واقع دی. او

Maktaba Tul Ishaat.com

پدے کښے لږ خلك داسے دی چه ددے خیانت نه الله خلاص کړیدی۔
نو دا اجتماع ئے د حج په موقعه کښے جوړه وله، ځکه چه دے وخت کښے جزیرة العرب د اسلام په حلقه کښے راغلے وو، عامے دنیا ته خبره رسیدلے وه او جزیرة العرب مسلمانانو د لاس د لاندے راغلے وو، صرف رومیان بهر دی، خپل واك کښے دی، او څه نا څه خلك پکښے یریدل۔
جزیرة العرب تر یمن، تر شام او دیخوا تر عراق پورے (چه عراق لا نهٔ دے فتح شوے) او تر بنو حنیفه ؤ پورے۔ مختلفے علاقے د مسلمانانو په قبضه کښے دی، او امن او امان دے، پخوا به پدے کښے قسماقسم فسادات وو، خو کله چه پدے کښے اسلام راغلو نو پدے کښے ظالم او مظلوم ختم شو، حاکم او محکوم نهٔ وو، قاهر او مقهور (غالب او مغلوب) نهٔ وو، پدے کښے پردے مال اخستل، غلا کول، ډاکے کول نهٔ وو، دا ټول فسادات ختم شو،
دا مطلب نهٔ دے چه هر یو کس متقي او مؤمن شو، بلکه عامه علاقه کښے تقویٰ والا پیدا شو اگر که فسادیان به هم وو لیکن هغوی پټ پټ وو، او داسے خو په هره زمانه کښے وی، لنډه دا چه د تاریخ یوه نوے پانړه شروع شوه۔
نو رسول الله ﷺ په خلکو کښے اعلان وکړو چه اے خلکو! تاسو ټول مدینے ته راشئ د چا چه وسه کیږی، د مدینے نه شریك حج کوو۔ دے حج ته حجة الوداع وائی۔ یعنی هغه حج چه رسول الله ﷺ د امت نه ددے نه روستو رخصت شویدے او امت ئے رخصت کړیدے، او د دنیا نه تلے دے۔
(**فائده** : نبی ﷺ درے حجونه کړیدی، یو د نبوت نه مخکښے، د هغے حج څه احکام نشته ځکه چه هغه د نبوت نه مخکښے دے، صرف دا یوه خبره نقل ده چه قریش تر مزدلفے پورے لاړل او عام خلك عرفات ته لاړل او نبی ﷺ د قریشو نه وو لیکن الله ښه فطرت ورکړے وو نو د مزدلفے نه واوړیدو او د عامو خلکو سره عرفات ته لاړو۔ او هلته ئے دعاگانے وکړے او واپس راغے او د خپل قوم خلاف ئے وکړو ځکه چه فطرت ئے برابر دے، او عرفات ته تگ د فطرت مطابق دی۔
دویم حج د هجرت نه مخکښے شویدے، ددے احکام هم نهٔ دی نقل ځکه چه نبی ﷺ کمزورے وو، ملگری ورسره نهٔ وو چه هغوی ترے احکام نقل کړی، بلکه ځانله ئے

Maktaba Tul Ishaat.com

د مشرکانو سره حج وکړو او بیرته راغے۔
دریم دا حجة الوداع دے، عام احکام د حج پدے حج کښے نقل دی ځکه چه نبی ﷺ پدے حج کښے عملی طریقه د حج هم خودلے او بار بار به ئے په مختلفو موقعو د مِنی او عرفات کښے بیانونه کول او د حج احکام به ئے بیانول، او د خلکو د سوالونو جوابونه به ئے ورکول۔ ددے وجه نه ئے د ټولے دنیا مسلمانانو ته اعلان کړے وو چه تاسو ټول دے حج ته حاضر شئ چه په شریکه حج وکړو او ما نه تاسو دین زده کړئ۔
پدے کښے ئے دوه حکمونه کړی یو دا چه

[خُذُوا عَنِّيْ مَنَاسِكَكُمْ]

اے خلکو! ما نه د حج طریقے زده کړئ۔ او دا ئے هم وئیلی وو :

[حُجُّوا كَمَا اَحُجُّ]

اے خلکو! داسے حج کوئ لکه څنګه ئے چه زۀ کوم۔
(دائے پکښے ونۀ وئیل چه فرض پکښے دومره دی او واجب پکښے دومره دی، او سنت پکښے دومره، دا رسول الله ﷺ هیچرے نۀ دی وئیلی، بلکه دا پیژندل د عوامو دپاره ضروری نۀ دی، بلکه په اسلام کښے دا خبره راغلے ده چه د عبادت طریقه زده کړه چه د الله نبی به دا فلانے عبادت څنګه کولو۔ د الله نبی داسے ترتیب سره احکام بیان کړل او عملی ئے وخودل چه ټول امت ته هغه فائده ورکوی)۔
(نو دے حج کښے یو غرض اجتماعیت او د مسلمانانو ملاقات کول، او بل هغوی ته امانت سپارل او بل د حج او د نورو احکامو تعلیم ورکول وو)۔
نو د چاوس چه کیده هغوی مدینے ته راغلل لکه حدیث کښے دی :

[فَقَدِمَ الْمَدِيْنَةَ بَشَرٌ كَثِيْرٌ]

مدینے ته ډیر مخلوقات راجمع شو۔
(چه اهل سیرت لیکی چه پدے حج کښے یو لاکھ څلیریشت زره او علی الاکثر یو لاکھ څلور څلویښت زره (١٤٤٠٠٠) مسلمانان شریك شو، او دا هم د رسول الله ﷺ د دعوت ناشنا فائده ده او عجیبه خبره ده چه په دومره لږه موده کښے دومره خلك پیدا شی، نو دا د الله رب العالمین د نصرت او د رسول الله ﷺ د حقانیت نښه وه۔

Maktaba Tul Ishaat.com

په شپږم کال چه ئے کله صلح د حدیبیه کوله نو د نبی ﷺ سره تقریباً یونیم زر (۱۵۰۰) کسان وو، او زنانه او ماشومان چه په مدینه کښې پاتے وو، هغه ورسره زاجمع کړے نو درے زره نۀ جوړیدل نو ګویا کښې په نولس (۱۹) کالو کښې دغه لړه سرمایه پیدا شوه او د صلح حدیبیه شپږم (۶) کال نه بعد تر اتم (۸) کال پورے الله لس زره (۱۰۰۰۰) مجاهدین پیدا کړل چه په مکه ئے حمله وکړه او الله فتح ورکړه او د مکے د فتح نه لږه موده بعد چه کال لا نۀ وو تیر شوے نو دیرش زره (۳۰۰۰۰) مسلمانان مجاهدین بغیر د زنانه او ماشومانو نه تیار شو او بیا په لسم (۱۰) کال کښې یو لاکھ ځلور ځلویښت زره (۱۴۴۰۰۰) تعداد ته ورسیدل۔ دا د رسول الله ﷺ د دعوت کمال او د الله تعالیٰ نصرت وو چه هغۀ دا وعده کړے وه چه زۀ به اسلام غالبه کوم او هغه وعده ئے پوره کړه۔

بیت الله ته روانګی :

نو د لرے ځائے خلك سیده مکے ته ورسیدل او ډیر خلك مدینے ته راغلل۔

نبی ﷺ اراده وکړه چه د حج سفر شروع کړی، دا وخت د سیرت د کتابونو مطابق د ذی القعدے ځلور (۴) ورځے پاتے وے او د احادیثو د روایاتو مطابق پنځه (۵) ورځے پاتے وے، (صحیح بخاری : ۱۵۴۵) رسول الله ﷺ روان شو او د خالی په ورځ ئے سفر شروع کړو۔

(د ضرورت مطابق د یوم الخمیس نه علاوه هم سفر کول جائز دی)

نو رسول الله ﷺ دلته سر ګمنځ کړو او خپله مکمل صفائی ئے وکړه، ویښته، بریت نوکونه وغیره۔ (ځکه چه په هغه وخت کښې به په احرام کښې ډیرے ورځے تیریدلے یواځے د مدینے نه مکے ته اته (۸) یا لس (۱۰) ورځے سفر وو، نو مخکښې نه صفائی ضروری وه، او د احادیثو نه داسے معلومیږی چه پدے وخت کښې نبی ﷺ په یوه شپه کښې نهه (۹) بیبیانو سره ملاؤ شو او انبیاء علیهم السلام له الله تعالیٰ ډیر طاقت ورکړے وی، دے کښې ډیرے فائدے وی، ډیر خلك پدے فائدو نۀ پوهیږی نو د صحیح بخاری د صحیح احادیثو نه انکار کوی،

Maktaba Tul Ishaat.com

پدې کار سره د نظر حفاظت، د زړهٔ صفائی راځی، او دا بیبیانے هم د رسول الله ﷺ سره شریك سفر کوی، نو مخکښے د هغوی د حاجت لحاظ هم ساتی، او د هرے بی بی سره د ملاویدو نه بعد به ئے غسل کولو، ابورافع ﷺ ورته عرض وکړو اے د الله رسوله! ددے تولو په آخر کښے ولے یو غسل نهٔ کوے؟،

نبی ﷺ وفرمایل: [هٰذَا اَزْكٰی وَاَطْهَرُ]

پدے سره نفس پاکیږی او په بدن کښے طیبت او مزیدار والے پیدا کیږی

(او د طبی اصولو مطابق بدن نه تلے طاقت بیرته راواپس کیږی)

الغرض: د خالی په ورځ ئے د ماسپښین مونځ په مدینه کښے په مسجد نبوی کښے وکړو او ذو الحلیفه ته روان شو چه دا د مدینے والو میقات دے۔ دلته د مازیګر مانځه نه مخکښے راورسیدو ځکه چه ددے او د مدینے ترمینځ نهه (۹) کیلو میټره مزل دے۔

دلته ئے د قصر مونځ وکړو (دوه رکعاته)

(نو دے نه دا مسئله معلومه شوه چه کله یو تن د سفر په اراده د خپل کلی د کورونو نه او بازارونو نه بهر شو نو مسافرانه مونځ کولے شی لکه مثلاً لاهور ته سفر کوے نو چه کله د اډے نه روان شوے نو بس مسافرانه جائز شوه)

نبی ﷺ دلته ذو الحلیفه کښے شپه وکړه (د مازیګر او ماښام او ماسخوتن او سهار مونځ ئے وکړو) او سهار ناوخته روان شو۔

(دلته ئے ولے داسے تاخیر وکړو؟ نو دے کښے حکمت دا وو چه کوم مسلمانان په څه کار مصروف دی، یا کمزوری، زنانه او ماشومان دی چه هغوی د رسول الله ﷺ پسے دلته راورسیږی او شریك روان شی، د نبی ﷺ په کارونو کښے جلتی نهٔ وه خاصکر په دے حج کښے ئے د جلتئ نه منع کړے وه لکه چه روستو به راشی۔

(ټولو خلکو ته دا حکم وو چه حج ته به ځئ صرف ډیرو کمزورو ته نهٔ وو، او نبی ﷺ په مدینه باندے د خپل ځان نائب ابودُجانه ﷺ مقرر کړو، او بعض وائی سِبَاع بن عُرْفُطَة ﷺ مقرر کړو)

نبی ﷺ چه کله په ذو الحلیفه کښے شپه وکړه نو سهار کښے ئے ملګروته ئے وویل چه ماته جبریل علیه السلام راغلو، د الله ذ طرف نه سلام ئے راوړو او دا ئے راته وویل:

[صَلِّ فِیْ هٰذَا الْوَادِیْ الْمُبَارَكِ]

Maktaba Tul Ishaat.com

په دې مبارکه وادي (علاقه) کښې مونځ وکړه.

(پدې وادي کښې هسې مونځ ادا کول غوره دي، او ددې مانځه نه د احرام دوه رکعاته نهٔ دي مراد، لکه بعض خلکو ترې دا مراد اخستې دې، دا صحيح نهٔ دې، بلکه دا ددې ځائې فضيلت دې چه مونځ پکښې بهتر عمل دې)

بيا ئې د احرام دپاره غسل وکړو او جامې ئې مکملې لرې کړې او د غسل نه بعد ئې په سر او ګيره باندې عطر واچول، (د محرم دپاره په سر او ګيره کښې عطر اچول بهتر دي، په ابتداء د احرام کښې او که په جامو ئې واچول نو هغه ناروا دي، بيرته به ئې وينځي)

عائشه رضی الله عنها فرمائي : ما ورله دا خوشبوئي جوړه کړه او ما ورله واچوله.

او دا هم فرمائي :

[كَأَنِّيْ أَنْظُرُ إِلٰى وَبِيْصِ الطِّيْبِ فِيْ مَفَارِقِ رَسُوْلِ اللّٰهِ ﷺ وَهُوَ مُحْرِمٌ]

ګويا که ما ته د رسول الله ﷺ د سر په مينځنئ لاره کښې د خوشبوئي سپينوالې (چمك) ښکاره کيږي کله چه هغه محرم وو.

[بخاري : ۱۵۳۸]

او لنګ او څادرئې واچولو، او خپلو اُوښو ته ئې په غاړه کښې اميلونه واچول. (لکه دا سنت طريقه ده چه حج ته کومه هدي بوځي نو د هغې غاړې ته يو پړې يا اميل واچوي، دې ته تقليد وائي)

او دې وخت کښې ئې لا د احرام نيت نهٔ دې تړلې. (ځکه چه د احرام د کپړو په اچولو سره انسان نهٔ محرم کيږي ترڅو چه ئې نيت نهٔ وي کړې او لبيك ئې نهٔ وي وئيلې)

نو کله ئې چه په ذو الحليفه کښې غسل وکړو او د احرام کپړې ئې واغوستې بيا ئې د ماسپخين مونځ وکړو بيا ئې د عمرې او د حج ترمينځ يوځائې والې وکړو په همدغه ځائې د مانځه کښې، او کله چه د مسجد نه بهر ووتو او په سورلئ باندې سور شو نو بيا ئې تلبيه ووئيله او چه کله بيداء مقام ته ورسيدو نو بيا ئې تلبيه ووئيله لکه روستو حديث د جابر ﷺ کښې راروان دې.

بيا ئې د کوم حج اراده وکړه ؟ دې کښې د علماؤ اختلاف دې ليکن ظاهر د احاديثو دا دې چه د حج قِران اراده ئې وکړه (حج قران ديته وائي چه د حج او د عمرې نيت شريك وکړې او په همدغه يو احرام کښې عمره او حج دواړه وکړي، او مينځ کښې ځان حلال

Maktaba Tul Ishaat.com

نکړی۔ او ځان سره د خپلے علاقے نه هدیه (قربانی) روانه کړی۔ که هدیه درسره نهٔ وه نو حج قران به نهٔ کوے،

بعض خلك اُوس هم د حج قِران نیت کوی او هدیه ورسره نهٔ وی، دا د بعض علماؤ په نیز باندے د سنت خلاف دے، او بعض وائی چه بیخی حج قران ئے نهٔ کیږی۔

جابر ﷺ فرمائی : کله چه مونږ ذو الحلیفه ته راورسیدو نو دلته اسماء بنت عمیس رضی الله عنها بچے پیدا شو یعنی د ابوبکر صدیق ﷺ ځوی محمد بن ابی بکر۔ نو هغے د رسول الله ﷺ پسے جواب ولیږلو چه زهٔ به څهٔ کوم؟ نو رسول الله ﷺ ورته آسانه مسئله وخودله :

[اِغُتَسِلِیُ وَاسُتَثُفِرِیُ بِثَوُبٍ وَاَحُرِمِیُ]

غسل وکړه او ځان ته کپړه کیده او احرام وتړه۔

(نو د حائضے او نفاسے زنانه دپاره دا قانون دے چه په حالت د بیماریٔ کښے هم د حج یا د عمرے نیت کولے شی خو طواف د بیت الله به نهٔ کوی ترڅو چه پاکه شوی نهٔ وی)

نو رسول الله ﷺ چه کله د ذی الحلیفه د مسجد نه ووتو او اُوښه باندے سور شو او هغه په اَلُبَیُدَاء (میدان) کښے روانه شوه او دے پرے برابر کیناستو نو دغه وخت ئے لَبَّیُكَ حَجَّةً او بیا لَبَّیُكَ عُمُرَةً وویل۔ او دا تلفظ سنت طریقه ده۔ او روستو به مشهوره تلبیه وائی کومه چه لاندے راځی۔

(جابر ﷺ فرمائی : کله چه په رسول الله ﷺ باندے اُوښه (چه قَصُواء نوم ئے وو) برابره شوه او په بیداء کښے روان شو نو ما د خپل نظر د اُوږدوالی په اندازه وکتل چه مخے ته ددهٔ نه سوارهٔ خلك او پیاده خلك روان دے او ښی طرف او گس طرف ته او روستو هم دغه شان روان دی، (یعنی هر طرف ته د مسلمانانو سیلاب دے) او رسول الله ﷺ زمونږ (ددے ښکلے جماعت) په مینځ کښے روان دے او په هغهٔ باندے قرآن نازلیږی او هغه ئے خلکو ته تعلیم ورکوی نو په څه باندے به چه رسول الله ﷺ عمل کولو نو مونږ به هم په هغے باندے عمل کولو۔

[فَاَهَلَّ بِالتَّوُحِیُدِ]

نو رسول الله ﷺ په کلمه د توحید یعنی

[لَبَّیُكَ اَللّٰهُمَّ لَبَّیُكَ، لَبَّیُكَ لَا شَرِیُكَ لَكَ لَبَّیُكَ اِنَّ الُحَمُدَ وَالنِّعُمَةَ لَكَ وَالُمُلُكَ لَا شَرِیُكَ لَكَ]

Maktaba Tul Ishaat.com

سره احرام وتړلو۔ او خلکو هم پدې الفاظو سره احرام وتړلو۔ (په مخ د زمکې چرته داسې مجمع نۀ پخوا ليدلې شوې او نۀ به روستو وليدلې شي)
(دا ئې دريم ځلې تلبيه وه) (الرحيق المختوم)
ددې وجه نه د صحابه کرامو پدې کښې اختلاف وو چه رسول الله ﷺ اوله تلبيه کوم ځائے وئيلې وه؟ نو بعضو به وئيل چه د مانځه نه بعد ئې وئيلې ده، او بعضو ووئيل چه کله په اُوښه سور شو نو دې وخت کښې ئې وئيلې، او چا وئيلې چه په بيداء کښې ئې وئيلې ده۔ دا ټولې خبرې صحيح دي، ګنړه زياته وه چا يو حالت د رسول الله ﷺ ليدلے دے او چا بل، او ټولې خبرې صحيح دي، او مونږ ته د ټولو صحابه کرامو خبره رارسيدلې ده۔
(ددې نه دا فائده معلوميږي چه کله روستنو ته د مخکنو په نسبت علم زيات حاصل شي ځکه چه مخکنو ته د بعض علم حاصل وي او روستنو ته د ټولو علم حاصل شي)
دلته چا د حج نيت وکړو او چا د عمرې او چا د دواړو۔ نبی ﷺ هيچا ته څه ونۀ وئيل۔ (خلکُ ئې په عامه اجازه باندې پريخودي وو چه څوک څنګه احرام تړي)
په لاره باندې به تعليم او تعلم کيدل، او صحابه کرامو به د هر حالت نه دين زده کولو۔
اته ورځې دا مزل وشو۔
عبد الله بن عمر ﷺ به روستو هغه ځايونه چه نبی ﷺ به پکښې دمه کوله هغه به ئې په نښه کول دې دپاره چه د هغې بيا تابعداري وکړي ځکه چه هغه شديد الاتباع لرسول الله ﷺ) وو۔ (د نبی ﷺ سخت تابعدار وو)، چه نورو صحابه کرامو به د دغه څيزونو تابعداري نۀ کوله او دۀ به د هغې هم کوله، ځکه چه هغه په امت باندې لازم نۀ وو، يعني هغه کارونه چه د اتفاقياتو د قبيلې نه به وو، لکه نبی ﷺ باندې يو ځائے کښې د مونځ وخت راغلے دے، او هلته ئې مونځ کړيدے يا ئې يو ځائے کښې قضائے حاجت کړيدے، يا ئې يو ځائے کښې ئې دمه کړيده، يو ځائے کښې اُودۀ شويدے نو په امت لازم نۀ ده چه په همدغه ځايونو کښې به دغه کارونه کوي، ليکن عبد الله بن عمر به دا ځايونه هم متعين کول او دا به ئې وئيل چه زۀ ددې تابعداري هم کوم، د هغۀ کارونو

Maktaba Tul Ishaat.com

تابعداري ضروري وي چه نبي ﷺ د دين د وجه نه کړي وي).
رسول الله ﷺ درميانه سفر وکړو چه دا په اته ورځو کښې کيږي او تيز مزل په درے ورځو کښې او په آرام سفر په لس دولسو ورځو کښې کيږي. (مکے ته تقريباً پنځه سوه کيلوميټره مزل دے او په تحديد سره (٤٧٠ کيلوميټره)
لاره کښې واقعات :
١- **اوله واقعه** : رسول الله ﷺ په لاره روان دے ګورى چه يو کمزورے سړے دے چه خپلو دواړو ځامنو د اُوګو نه نيولے دے او پياده ئے (مکے ته) روان کړيدے -(د ډيرے کمزورئ د وجه نه پياده مزل هم نشي کولے) تپوس ئے وکړو چه دا ولے ؟ هغوى ووئيل :

[نَذَرَ اَنْ يَّمْشِيَ اِلَى بَيْتِ اللّٰهِ]

دهٔ نذر کړيدے چه دے به بيت الله ته پياده ځي (او نهٔ به سوريږي، نو زمونږ شريعت خو آسان شريعت دے، هر مشکلاتونه پکښے وتل دى، او انسان ئے پوره آزاد کړے هم نهٔ دے) نو نبي ﷺ وفرمايل :

[اِنَّ اللّٰهَ لَغَنِيٌّ عَنْ تَعْذِيْبِ هٰذَا نَفْسَهٗ، وَاَمَرَهٗ اَنْ يَّرْكَبَ]

[بخاري : ٦٧٠١]

الله تعالىٰ ددے سړى خپل ځان ته د عذاب ورکولو نه غنى (بے حاجته) دے، (الله پدے خه کوى چه دا انسان ځان ته عذاب ورکړى چه ددے ځائے نه به مکے پورے پنځه سوه کيلوميټره پدے سختئ کښے وهى) نو هغهٔ ته ئے حکم وکړو چه دا دِے سور شى.
(په نذر کښے دا قانون دے چه کله دِے نذر ومنلو او بيا دِے د هغے د پوره کولو طاقت نهٔ وو، نو دا نذر مات کړه او د قسم کفاره ورکړه، لکه يو تن ووائى چه په ما دِے ټول عمر هره ورځ روژه وى، يا دِے په مياشت کښے شل روژے وى، يا به فلانى ځائے ته ځم او دا ددهٔ طاقت کښے نهٔ وى نو دا دِے مات کړى او د قسم کفاره دِ ورکړى، زمونږ اسلام کښے دا سختى نشته).
٢- **واقعه** : نبي ﷺ په بطن الروحاء علاقه کښے روان وو، چه دلته ورله يوه قافله مخے له راغله چه هغوى هم بيت الله ته روان دى، حج له ځى، د نبي ﷺ سره ملاؤ شو چه يو بل ئے نهٔ پيژندل نو نبي ﷺ د هغوى نه تپوس وکړو، تاسو څوک يئ ؟ هغوى ووئيل : [نَحْنُ الْمُسْلِمُوْنَ] مونږ مسلمانان يو.

Maktaba Tul Ishaat.com

(د نبی ﷺ دا تګ ډیر خوښ شو چه صرف د خپلې قبیلې دعوه ئې ونکړه چه مونږ فلانئ قبیلې والا یو، بلکه اسلام ته ئې ځان منسوب کړو او دا ډیر ښکلی نوم دے)
بیا هغوی تپوس وکړو: [مَنْ اَنْتَ ؟] ته څوك ئې ؟ نو نبی ﷺ وفرمایل :
[اَنَا رَسُوْلُ اللّٰهِ]
زهٔ د الله رسول یم۔ (دا اولنے ملاقات وو، ځکه چه دے خلکو د وفدونو په ذریعه ایمان راوړے وو او د رسول الله ﷺ سره لا نهٔ وو ملاؤ شوی)
په دے کښے یوے زنانه خپل یو ماشوم راپورته کړو او دا ئې وویل :
[یَا رَسُوْلَ اللّٰهِ ! اَلِهٰذَا حَجٌّ ؟]
آیا ددے ماشوم حج کیږی؟۔ وے فرمایل : [نَعَمْ وَلَكِ اَجْرٌ]۔
آؤ، او ددے اجر به تا ته درکړے کیږی۔ [مسلم : ۳۳۱۷]۔
ځکه چه زنانه د هغے مشقت برداشت کوی۔
(په اتفاق د مسلمانانو سره ماشوم چه کله وړوکوالی کښے حج وکړی نو هغه ئې د فرضی حج نه نهٔ اداء کیږی، دوباره ئې بیا کوی، البته دهٔ ته او دهٔ مور او پلار ته ددے حج اجر ملاویږی، او په دے کښے د علماؤ اختلاف دے چه کله ماشوم په حالت د احرام کښے جنایت وکړی نو آیا ددے جنایت دم پرے راځی او که نهٔ ؟ راجح دا ده چه نهٔ راځی، ځکه چه مکلف نهٔ دے)
عائشه رضی الله عنها فرمائی : مونږ (زنانه) چه به په لاره تللو نو مخونه به مو ښکاره وو، (ځکه چه په حالت د احرام کښے د زنانه دپاره مخ ښکاره کول ضروری دی) خو چه کله به سری مخے ته راغلل
[سَدَلَتْ اِحْدَانَا جِلْبَابَهَا مِنْ رَأْسِهَا عَلٰی وَجْهِهَا فَاِذَا جَاوَزُوْنَا كَشَفْنَاهُ]۔
نو زمونږ هرے یوے به خپل څادر (پړونے) د سر نه په مخ باندے راخکته کړو خو کله چه به هغوی مخکښے تیر شو نو مونږ به بیا ښکاره کړو۔
[ابو داود : ۱۸۳۵ باسناد صحیح]۔
(د مُحرمے زنانه دپاره نقاب اچول صحیح نهٔ دی، نقاب دے ته وائی چه پوزه پټه کړی لکه برقع واچوی، او د سر نه یوه کپړه په مخ باندے راځوړنده ول صحیح دی چه

Maktaba Tul Ishaat.com

څوانه ښځه ده، د مخ نه ئے فتنه پیدا کیږی، او په توله لاره باندے سړی وی، دا نهٔ غواړی چه زما مخ څوك وینی نو سر باندے یوه کپړه واچوی او په مخ ئے راښکته کړی اګرکه د مخ سره ولګیږی نو هیڅ حرج نشته، بعض خلك کپړه د مخ نه جدا ساتلو کښے ډیر تکلف کوی او په سر کښے ئے د لرګو یو کټ جوړ کړے وی او هغه ئے زنانه ته اچولے وی، دا تکلف دے، مخ باندے د کپړے لګیدو نه هیڅ منع نشته. او دے حدیث کښے سوچ وکړه.

پدے حالت کښے مونږ روان وو تردے چه سَرِف علاقے ته ورسیدو (دا د مکے شمال مشرقی طرف ته علاقه ده چه د مکے نه دولس (١٢) کیلو میټره جدا ځائے دے)

دلته رسول الله ﷺ دمه وکړه او هغهٔ دپاره خیمه ووهلے شوه (ځکه چه دا به زر وهلے کیده او ګرمی به زیاته وه،)

عائشه رضی الله عنها په خیمه کښے دننه وه، رسول الله ﷺ بهر د ملګرو سره خبرے اترے وکړے نو یوه خبره ئے دا وکړه: "چا چه د احرام د تړلو په وخت کښے هر نیت کړے وی، د حج یا د عمرے یا د دواړو نو هغهٔ له پکار دی چه عمره ترے جوړه کړی. (یعنی د عمرے احرام وتړیٔ) که چا سره هدی نهٔ وی (یعنی څارویے مو د ځان سره راروان کړے نهٔ دے نو تاسو له پکار دی چه حج تمتع وکړیٔ"، یعنی اول عمره وکړیٔ او بیا به د حج دپاره دوباره احرام وتړیٔ) خو په خلکو باندے دا خبره لازمه نهٔ کړه بلکه ترغیب ئے ورکړو،

دا د نبی ﷺ حکمت وو چه یوه خبره به سخته وه او د خلکو په رواج کښے به وه نو هغه به ئے په آرام آرام سره ختموله، دے دپاره چه د خلکو په ذهن کښے ئے په آسانئ سره واقع کړی، لکه دا رواج روستو ذکر کیږی چه د دویٔ رواج دا وو چه د حج په ورځو کښے عمره کول به ئے حرام ګنړل او دے ته به ئے افجر الفجور (ډیره غټه ګناه) وئیله. او دا به ئے وئیل:

[إِذَا انْسَلَخَ صَفَرُ، وَبَرَأَ الدَّبَرُ، وَعَفَا الْأَثَرُ حَلَّتِ الْعُمْرَةُ لِمَنِ اعْتَمَرَ].

کله چه صفر تیره شی او د اُوښانو زخمونه (د سفر د وجه نه) روغ شی او په لاره کښے د تللو منډونه وران شی نو څوك چه عمره کول غواړی نو هغهٔ دپاره به عمره حلاله شی، که نهٔ وی نو په دنیا کښے دا د ټولو نه لویه ګناه ده چه د حج په ورځو کښے عمره

کوي.

(دا غلط رواج او تصور وو، د الله د مرضئ مخالف وو، نو چه په دین کښې یو شے وي او بل څوك ئې ګناه ګنړي نو د هغې ختمول ضروري دي او د خلکو د ذهن نه دا ګند ویستل پکار دي، الله د خپلو مؤمنانو بندګانو نه دا غواړي چه د هغوی نظریه او تصور ډیر برابر وي، داسې ګډې وډې عقیدې د دوئ نۀ وي، د مړو په باره کښې غلطې عقیدې، او د صحابه کرامو رضوان الله علیهم اجمعین او د انبیاؤ علیهم السلام او د علماؤ عظامو او د اولیاؤ کرامو په باره کښې غلطې عقیدې د الله نۀ دي خوښې، دا وجه ده چه شریعت مُطهره د عقیدې او د تصور په جوړه ولو ډیر اهتمام کوي)

ډیرو خلکو ته دا مسئله نۀ وه معلومه نو ډیر تعجب ئې وکړو (ځکه چه د رواج خلاف وو، لکه یو تن ته چه په ګناه حکم وکړې) لیکن مسلمانان دي د نبی ﷺ د امر نه نۀ تیریږي، نو عامو خلکو دا خبره ومنله لیکن نبی ﷺ سختئ سره نۀ وه کړې.

عائشه رضی الله عنها فرمائي: نبی ﷺ زما خیمې ته راغے نو ما ژړل، وې فرمایل: ولې ژاړې؟ ما ووېل: ما ستا خبره واوریده د عمرې په باره کښې نو زۀ خو د عمرې نه محرومه شوم (ځکه چه په ما د زنانو بیماري راغله) وې فرمایل:

[فَلَا يَضُرُّكِ إِنَّمَا أَنْتِ امْرَأَةٌ مِنْ بَنَاتِ آدَمَ كَتَبَ اللّٰهُ عَلَيْكِ مَا كَتَبَ عَلَيْهِنَّ فَكُونِي فِي حَجَّتِكِ فَعَسَى اللّٰهُ أَنْ يَرْزُقَكِهَا].

(تا ته هیڅ ضرر نشته، تۀ خو د آدم علیه السلام د نورو لونړو په شان ئې په تا باندې الله هغه څه مقرر کړیدي چه په هغوی ئې مقرر کړیدي، نو په خپل حج کښې وسیږه شاید چه الله به تا ته عمره درکړي).

د دغه ځائې نه روان شو تردې چه ذي طُوئ ته ورسیدو (چه دا د مکې د وادیو نه یوه وادي ده، اُوس د مکې د آبادیو په مینځ کښې راغلې ده، تقریباً نیمه ګینټه پیاده مزل دې) دلته رسول الله ﷺ شپه وکړه.

(ځکه چه رسول الله ﷺ جلتي نۀ کوله، پدې کښې بله فائده دا ده چه نبی ﷺ او ملګري په راحت شي نو بیا چه په عمره باندې ورشي نو په ډیره آسانئ به ئې وکړي او چه کله سړې ستړې وي نو عبادت به په ښائسته طریقه ادا نشي، ددې وجه نه یو د عبادت روحانیت دې او بل د عبادت جسمانیت دې، نبی ﷺ به د جسمانیت سره د

Maktaba Tul Ishaat.com

روحانیت ډیر کوشش کولو)

په ذی طُویٰ علاقه کښې به رسول الله ﷺ د مکې د داخلیدو دپاره غسل کولو۔

(که د چا وس کیږی نو سنت طریقه ده، لیکن دے وخت کښې ډیرو ته دا سنت طریقه معلومه هم نهٔ ده، او نهٔ دغه ځائے پیژنی)

نبی ﷺ د چاشت په وخت کښې مسجد حرام ته ننوتو، هلته چه ورسیدو اودس ئے وکړو اود اوداسه نه بعد ئے سمدست طواف شروع کړو، خو د کعبے د لیدو په وخت ئے دعاء وکړه، او د بعض احادیثو نه معلومیږی چه دے دعاء کښې ئے لاسونه پورته نکړل۔

نبی ﷺ طواف په اُوښ باندے کولو،

(ددے وجه نه بعض اهل اعلم وائی چه په سورلیٔ باندے حج بهتر دے، دویم ئے پدے وجه په سورلیٔ کولو چه خلکو ته مناسك (کارونه د حج) خودل مقصد وو)،

نو اول حجرِ اسود ته ورغلو او هغے ته ئے یوه امسا وروړه چه د هغهٔ په لاس کښې وه، او په اول کښې ئے بسم الله الله اکبر ووئیلو او روستو به ئے صرف الله اکبر وئیلو۔ اُوه (۷) ګردشونه وکړے شو، د هغے نه بعد ئے د طواف دوه رکعاته مونځ وکړو۔

(دے طواف ته طواف قُدوم وائی چه دا د مُفردِ حاجی او د قارن دپاره سنت عمل دے)

ددے نه روستو رسول الله ﷺ زمزم ته ورغلو د هغے نه روستو بیا حجر اسود خوا ته راغلو او اشاره ئے وکړه او بیا صفا مروه طرفته روان شو او آیت ﴿إِنَّ الصَّفَا وَالْمَرْوَةَ مِنْ شَعَائِرِ اللَّهِ﴾ ئے ولوستو او بیا ئے ووئیل:

[نَبْدَأُ بِمَا بَدَأَ اللَّهُ بِهِ]

مونږ په هغے شروع کوو چه الله پرے شروع کړیده چه هغه صفا ده۔ نو د صفا نه شروع شو۔

اول ئے په صفا کښې درے دعاګانے وکړے۔

د بعض احادیثو نه معلومیږی چه په طواف کښې دننه د مُلتَزَم په خوا کښې ودریدو او اُوږده دعاء ئے وکړه او نور صحابه کرام ورسره خواته ولاړ وو، دا د دعاء د قبلیدو ځائے دے، (دعاء پکښې ډیره بنه قبلیږی، بعض مقاماتو ته الله غوره والے ورکړے وی)۔

په صفا باندے د نبی ﷺ د دعاء طریقه دا وه چه کله صفا ته ورسیدو نو مخ ئے کعبے ته راوګرزولو او درے دعاګانے ئے وکړے پدے طریقه چه اول ئے داسے ووئیل:

Maktaba Tul Ishaat.com

[لَا اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ وَحْدَهٗ لَا شَرِيْكَ لَهٗ لَهُ الْمُلْكُ وَلَهُ الْحَمْدُ وَهُوَ عَلٰى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيْرٌ، لَا اِلٰـهَ اِلَّا اللّٰهُ وَحْدَهٗ اَنْجَزَ وَعْدَهٗ وَنَصَرَ عَبْدَهٗ وَهَزَمَ الْاَحْزَابَ وَحْدَهٗ]

(نشتـه حـقـدار د بـنـدگئ سوئ د هغهٔ نه، یواځې دے، هیڅ شریك نهٔ لری، هغه دپاره بادشاهی ده او هغـهٔ دپاره حـمـدونه دی، او هغه په هر شی قدرت لرونکے دے، نشتـه حـقـدار د بـنـدگئ سوئ د هغهٔ نه، یواځې دے، خپله وعده ئے پوره کړه او خپل بنده سره ئے مدد وکړو او یواځې ئے ټولے ډلو د کافرانو ته شکست ورکړو)۔

او ددے نه پس ئے ځان سره پټے دعاګانے وکړے چه د هغے نقل نهٔ دے راغلے۔

بیا ئے لاسونه خکته کړل، بیا ئے اُوچت کړل او دغه دعاء او نورو دعاګانے ئے وکړے بیا ئے لاسونه خکته کړل بیا ئے پورته کړل او دغه دعا او نورے دعاګانے ئے وکړے او بیا صفا نه مروه ته ورخکته شو،

(د احادیثو نه معلومیږی چه کله به په سورلئ تللو او کله به پیاده)

نـو دلتـه ئے هم اُوه ګردشونه وکړل یعنی شروع ئے د صفا نه وکړه او په مروه باندے ئے ختم کړو او په مروه کښے به ئے هم هر کرت دغه شان در درے دعاګانے کولے۔

نو ټولے یویشت (۲۱) دعاګانے شوے۔ د صفا مروه په مینځ کښے یوه کنده وه چه کله بـه هغے ته ورخکته شو نو منډه به ئے کړه (اُوس د هغے کندے په ځائے شنه بلپونه دی، دلته خلك منډه وهی، دا سنت عمل ادا کیږی،

د مکے خلك ئے سیل ته ولاړ وو، د مکے زنانهٔ ورله سیل کولو۔

د رسول الله ﷺ پـه حـج کښے د مـلکانو او وزیرانو او بادشاهانو په شان حالت نهٔ وو چه کله روان وی نو خلك ورته لاره صفا کوی، او داسے وائی :

[اِلَيْكُمْ اِلَيْكُمْ]

اے خـلکو! وړاندے شئ، وړاندے شئ، صیب راروان دے او وهل او شړل وی، داسے نهٔ وو۔ نبی ﷺ د خـلـکـو سره داسے روان وو لـکـه د رش او ګنړے یو فرد، چه خلك ترے ګیر چاپیره، مخکښے او روستو او اخوا دیخوا روان وو،

اګـرکـه رسول الله ﷺ د ټولے دنیا د بادشاهانو او امیرانو او بزرګانو نه ډیر عزت والا دے، لیکن نبی ﷺ به تواضع کوله۔

Maktaba Tul Ishaat.com

د مروه نه بعد رسول الله ﷺ دلته تقریر وکړو (چه په عرفات کښې ټول صحابه کرام جمع شوی وو او دلته اکثر جمعه وو) او دوئ ته ئې مسئله بیانه کړه، چه تاسو به سر وخرئیوئ یا به ئې وروکې کړئ. یعنی دا کوم طواف او سعی د صفا مروه چه مو وکړه نو دې ته عُمره وائی، تاسو چه مخکښې هر نیت کړے وی، نو بس هغه نیت به پدې عمره باندې ختموئ او عمره به ترې جوړه وئ.

(نو دلته ئې ورته دا مسئله ئې ورته وخودله) او رسول الله ﷺ نۀ سر وخرئیو او نۀ ئې وروکې کړو، بلکه په خپل احرام کښې همدغه شان وو. (ځکه چه هغۀ د حج قِران نیت کړے وو)

نو صحابه کرامو ورته ووېل: چه یارسول الله تۀ خپله داسې نۀ کوې (چه سر وخریوې او احرام کوز کړې) او مونږ باندې داسې کوې؟

یو خو پدې ورځو کښې د هغوی په ذهن کښې د جاهلیت رواج وو چه عمره ګناه ده، دا خبره خو ترې پدې وجه ووتله چه مؤمنان دی، د پیغمبر خبره به منی، چه د الله رسول امر کوئ نو بس ګناه به نۀ وی، جائز ده.

نو دویمه مهمه خبره د هغوئ په زړونو کښې دا خبره وه چه نبی ﷺ په ځان باندې سخته تیره وی (حج قِران کوی) او مونږ ته د آسان حج امر کوی. (یعنی د حج تمتع).

نو بعض ملګرو ووېل: چه مونږ به اُوس جامې بدلې کړو او خپلو ښځو ته به نزدې کیږو او صبا له د عرفې ورځ ده او مونږ به نزدیکت کړے وی، دا څنګه حج شو؟ (یعنی حج کښې خو لږ تکلیف تیرول او د الله دپاره خواهشات قربانول پکار دی، دا خو مونږ ته نبی ﷺ ډیره آسانی راښائی، نو په آسانئ خفه وو، چه مونږه باندې سخته تیره شی او اجر مو زیات وشی، دارنګه د رسول الله ﷺ د عملی تابعدارئ پسې خفه دی)

نو نبی ﷺ هغوئ ته د تسلئ دپاره دا خبره وکړه:

[لَوِ اسْتَقْبَلْتُ مِنْ اَمْرِیْ مَا اسْتَدْبَرْتُ مَا سُقْتُ الْهَدْیَ وَلَجَعَلْتُهٗ عُمْرَةً]

که ما ته د مخکښې نه پته وې کومه چه راته اُوس پته ولګیده چه تاسو به داسې خفګان کوئ ما به ځان سره د میقات نه هدی نۀ وې راوستې، او ما به هم ستاسو په شان کار کړے وې.

(لیکن دلته د الله یو حکم دے چه یو سړے د میقات نه ځان سره څاروې راروان کړی

Maktaba Tul Ishaat.com

نو هغهٔ دپاره حج قِران کول بهتر دی چه اول عمره وکړی او بیا په همدغه احرام کښې حج هم وکړی) نو ما څان سره هدی راوستے ده او کومو ملګرو چه هدیی راوستی وی نو هغوی دِے زما په شان کار وکړی او کومو کسانو چه هدیی نهٔ دی راوستی نو د هغوی دپاره دا قانون دے چه هغوئ به اول عمره کوی او د عمرے نه پس به د حج دپاره په اتم د ذی الحجه احرام تړی۔ (یعنی حج تمتع به کوی)

او تاسو سره څاروی نشته نو څکه به تاسو حج تمتع کوئ۔

(دا خبره ئے د ملګرو د زړهٔ ساتلو دپاره وکړه او د هغوی د شوق او جذباتو قدرئے کولو، صرف امرئے نهٔ چلولو چه زما امر دے، دا به خامخا منئ هر رنګه چه وی)

نو ملګرو ټولو دا خبره وومنله نو چا سرونه واړه کړل او چا وخرئیل۔

او د نبی ﷺ او ابوبکر رضی الله عنه او عمر رضی الله عنه او بعض وس دارو ملګرو سره هدیی وے۔

(صحیح مسلم)

جابر رضی الله عنه فرمائی: نبی ﷺ او د هغهٔ ملګرو د حج احرام وتړلو او د دوئ نه د یو تن سره هدی نهٔ وه سوئ د نبی ﷺ او د طلحه رضی الله عنه نه، او علی رضی الله عنه د یمن نه راغلو (څکه چه دے رسول الله ﷺ یمن ته ګورنر او عامل لیږلے وو چه هلته خلکو ته تعلیم ورکړی او د هغوی نه زکاتونه وصول کړی)

او د هغهٔ سره هم هدی وه نو نبی ﷺ ترے تپوس وکړو چه تا څنګه احرام تړلے دے؟

علی رضی الله عنه وفرمایل:

[اَهْلَلْتُ بِمَا اَهَلَّ بِهِ النَّبِیُّ ﷺ]

ما هغه شان احرام وتړلو چه څنګه نبی ﷺ تړلے دے۔

نو نبی ﷺ علی رضی الله عنه ته هم وفرمایل: چه تهٔ احرام مهٔ پرانیزه (یعنی ستا هم حج قِران دے۔ [بخاری: ۱۶۵۱، مسلم: ۳۰۰۲]

دا د اتوار ورځ وه۔ نهه ورځ ئے په لاره تیرے کړیدی، چه ددے نه ئے یوه شپه په ذی طوئ کښې تیره کړه۔

نبی ﷺ چه کله ددے نه فارغ شو نو یو صحابی سراقه بن مالك بن جعشم رضی الله عنه پاڅیدو چه

[هِیَ لَنَا اَمْ لِلْاَبَدِ؟]

Maktaba Tul Ishaat.com

آیا دا کار صرف زمونږ پورې خاص دے او که همیشه دپاره (د هر چا دپاره) دا قانون دے؟۔ (چه د حج په سفر کښې اول عمره وکړې او بیا حج وکړی)، دا الفاظ د بخاري دي.
او د مسلم په روایت کښې دي :

[اَلِعَامِنَا هٰذَا اَمْ لِأَبَدٍ]

آیا دا کار زمونږ ددے کال دپاره دے او که همیشه دپاره دے؟ نو نبی ﷺ وفرمیل :
[لَا، بَلْ لِلْأَبَدِ] نهٔ، بلکه دا همیشه دپاره دے۔
او نبی ﷺ یو بل کښې ګوتے ورکړے او دوه کرته ئے وفرمایل :

[دَخَلَتِ الْعُمْرَةُ فِي الْحَجِّ مَرَّتَيْنِ]

عمره په حج کښې داخله شوه۔ د جاهلیت رواج ختم شو چه تاسو پدے ورځو کښې عمره بده ګڼړله۔
نبی ﷺ ددے ځائے نه لاړو حَجُون علاقے ته چه د صفا مروه نه تیر شے او د مکے بره طرف دے، هلته ئے خان له خیمه ولګوله او تول ملګری ورسره هم هلته وو، او مسجد حرام ته نهٔ راتللو۔
(نبی ﷺ پدے خپل حج کښې صرف درے طوافونه کړیدی، یو طواف قدوم چه دا اُوس ئے وکړو، دویم طواف ئے د اختر په ورځ (یعنی فرضی طواف، طواف الافاضه) او دریم طواف چه کله مدینے ته رخصتیدو نو طواف الوداع ئے وکړو۔ امت ته ئے د طواف ترغیبات ورکړیدی، چه د طواف په هر قدم باندے یوه نیکی ملاویږی او یوه ګناه رژیږی، او یو طواف داسے دے لکه غلام آزادول۔
لیکن نبی ﷺ به د حج په ورځو کښې ډیر طوافونه نهٔ کول ددے ډیر رازونه دی، یو په هغے کښې دا دے چه حرم خالي کول بهر مسافرو ته، چه هغوئ ته تکلیف نهٔ وی۔ او پدے کښې امت ته سبق دے۔
(خاصکر پدے زمانه کښې چه لکهونه خلك دغه ځائے ته په مختلفو وختونو کښې د عمرے دپاره راروان وی، نو د طواف په ځائے په برنډو کښې ذکر اذکار او نفلونه کول پکار دی، او د واعظانو او خطیبانو تقریرونو ته کیناستل پکار دی)
بله وجه دا ده چه نبی ﷺ په امت باندے ډیر شفقت والا وو، دلته هیڅکله هم دومره غټه مجمع نهٔ وه جمع شوے نو کله چه ملګری دومره زیات دی، د دوئ د قضائے

Maktaba Tul Ishaat.com

حاجت بندوبست کول بهر بنه کیدو په نسبت د دننه حرم باندے، نو د ملګرو د رعایت د وجه نه د مسجد حرام نه بهر ووتو۔

دلته په مکه کښے به نبی ﷺ دوه دوه رکعاته مونځ کولو اګرکه مکه د رسول الله ﷺ خپل آبائی ښار دے، لیکن ددے نه ئے هجرت کړیدے نو اُوس مدنی نبی دے، اګرکه یاران دوستان او خپلوان ئے دومره ډیر دی چه خلك ئے په سر ګرځوی او هیڅ تکلیف ورته نشته خو بیا هم مسافرانه مونځ کوی، او همدا د الله شرع ده، او نبوی سنت دی)

بخاری او مسلم د ابو جُحَیفة ﷺ نه روایت کړیدے چه زهٔ نبی ﷺ ته د غرمے په وخت راغلم او هغه په مکه کښے په ابطح (خوړ) کښے وو چه د څرمنے په یوه سره خیمه کښے وو، بلال اذان وکړو او بیا ئے د رسول الله ﷺ دپاره د اوداسهٔ اُوبه راوړے نو نبی ﷺ د خیمے نه راووتو او اودس ئے وکړو نو صحابه کرامو رامنډه کړه چه د نبی ﷺ د اوداسهٔ فضلہ اُوبهٔ ئے د یو بل نه لاسونو کښے اخستے (یعنی د هغے نه ئے تبرك حاصلولو او ځانونو پورے ئے راخکلے، د پیغمبرانو په بدن کښے خیر او برکت وی) نبی ﷺ چه کله اُودس وکړو نو خیمے ته ننوتو بیا مانځه ته راووتو

[وَخَرَجَ رَسُولُ اللّٰهِ ﷺ فِيْ حُلَّةٍ حَمْرَاءَ مُشَمِّرًا]

نو رسول الله ﷺ په یوه سره جامه کښے راووتو چه پینڅے ئے بډے کړے وے۔ ګویا که زهٔ د هغه د پونډو سپینوالی (چمك) ته ګورم (چه ډیرے مزیدارے ښکاره کیدے)

(دا جامے بیخی تکے سرے نهٔ وے بلکه چارخانه وے یعنی نورے پټے هم پکښے تیرے شوے وے، ځکه چه د تکے سرے جامے نه رسول الله ﷺ منع کړیده، یو صحابی (عمار بن یاسر ﷺ) راغے چه سرے جامے ئے اغوستے وے او په رسول الله ﷺ باندے ئے سلام وکړو نو هغهٔ جواب ورنکړو)

او بلال یوه امسا راوړه چه د رسول الله ﷺ مخے ته ئے ناله کړه او نبی ﷺ ورغے هغے ته ئے دوه رکعاته مونځ وکړو۔

(دے ته سُتره وائی او دا په اسلام کښے ضروری حکم دے، رسول الله ﷺ به عیدګاه وغیره ته ځان سره وړله او په مسجد کښے به دیوال او ستنه وغیره سُتره وه)

او زنانه او ماشومان او خرهٔ (او ښاروی) به د سُترے نه اخوا تیریدل او نبی ﷺ به

Maktaba Tul Ishaat.com

هیڅ باك نهٔ كولو- [صحیح بخاری : ومسلم : ۱۱٤۸]
(دا هم د شریعت ناشنا حکم دے چه زمونږ عقل ورته نهٔ رسیږی لیکن مؤمن به ورته تسلیمیږی، که تا ته سُتره نهٔ وه او ستا مور هم ستا مخے ته تیره شوه نو ستا مونځ مات شو، او که سُتره دِے ودرولی وی (یعنی یو لرګے د شرعی ګز یو لاس په مقدار باندے) او ددے نه اخوا خرهٔ یا پردئ زنانه تیره شی نو ستا په مونځ کښے هیڅ فرق نهٔ راځی، یو ډکی کښے دومره اثر دے، دا څنګه؟ نو ددے په حکمت الله تعالیٰ پوهه دے)
(او رسول الله ﷺ به چه کله یو ځائے کښے دیره وو نو بیا به ئے غالباً جمع بین الصلاتین نهٔ کول، دلته ئے هم دوه دوه رکعاته په خپل خپل وخت کول)

د ذی الحجے اتمه ورځ:

کله چه د ذی الحجے اتم ورځ راغله ملګرو ته ئے حکم وکړو چه احرامونه وتړی، (او نبی ﷺ خو د مخکښے نه په احرام کښے دے) نو د دغه ابطح نه سیده مِنیٰ ته روان شو
(او داسے ئے ونکړل چه حرم ته راشی او هلته طواف وکړی، یا بعض خلك سعی مخکښے وکړی دے دپاره چه ځان ته خبره د اختر په ورځ آسانه کړی چه بیا به دا سعی نهٔ کوی، دا طریقه بعض علماؤ جائز کړیده پدے وجه چه تقدیم او تاخیر په حج کښے جائز دے نو دا دِے هم جائز شی لیکن دا طریقه د سنت خلاف ده، نبی ﷺ نهٔ خپله دا طریقه کړیده او نهٔ ئے چا ته ددے اجازه ورکړیده)
مِنیٰ ته چه ورسیدو نو هلته ئے پنځه مونځونه وکړل په مسجد الخَیف کښے، یعنی ماسپخین، مازیګر، ماښام، ماسخوتن او سهار- او سنت به ئے نهٔ کول-
(دے کښے حکمت ته وګوره چه دلته نه ئے ځان مِنیٰ ته ورسولو څکه چه صبا له د عرفات ورځ ده، که د مکے نه د عرفات په ورځ روانیږی نو کیدے شی چه مازیګره پورے عرفات ته ونهٔ رسیږی نو د عرفے ورځ به ترے خرابه شی، (څکه چه په حج کښے خو اصلی ورځ د عرفات ده)-
اُوس چه کوم حاجیان په اتمه ورځ سیده عرفات ته ځی یا د مِنیٰ شپه په مکه کښے

تیره وی او دا وائی چه هسې هم مونږ سره سهولت او ګاړی شته نو مِنیٰ ته نهٔ راځی او د عرفې په ورځ سیده عرفات ته ځان رسوی نو دا د نبی ﷺ د سنت طریقې خلاف ده، خلکو د نبوی حج نه لوبې جوړې کړیدی، حج خو هله اثر کوی چه د الله د نبی په طریقه وی او همدغه دین دے۔

د عرفې ورځ : هر کله چه د عرفې سهار شو نو د نمر ختاۀ نه روستو رسول الله ﷺ عرفات طرفته روان شو، امرئے کړے وو چه ما له عرفات کښې خیمه ولګوئ نو په نَمِرَه علاقه کښې دغه خیمه لګیدلے وه چه دا په عرفات کښې لږ داخل او لږ بهر دے۔ یعنی اُوس چه کوم مسجد نَمِرَه دے، نو ددے مخکښې محراب والا حصه د عرفات نه بهر ده او روستنئ حصه ئے په عرفات کښې داخله ده، اُوس پکښې د معلومات دپاره په چهتونو او دیوالونو باندے شنهٔ راډونه لګیدلی دی۔ دغه ځائے کښې د رسول الله ﷺ خیمه لګیدلے وه۔

رسول الله ﷺ لاړو او دغه ځائے کښې ئے بهر د عرفات نه دمه وکړه (لکه دا سنت عمل دے چه د وخت نه مخکښې یعنی ماسپخین د زوال وخت نه مخکښې په نهٔ داخلیږی لیکن د ګڼړ والی نه د وجه نه خلك مخکښې داخلیږی، خپلې خیمې او ځایونه معلومه وی، نو د ضرورت په بناء به جائز وی لیکن که ضرورت نهٔ وی نو مخکښې داخلیدل د سنت خلاف دی)

او د قریشو دا یقین وو چه رسول الله ﷺ به په مشعر حرام (مزدلفه) کښې ایساریږی او مخکښې به نهٔ ځی لکه قریشو چه په جاهلیت کښې دا کار کولو، مګر رسول الله ﷺ د مزدلفې نه تیر شو او عرفات ته ورسیدو۔

[حَتّٰی اِذَا زَاغَتِ الشَّمْسُ اَمَرَ بِالْقَصْوَاءِ فَرُحِلَتْ لَهٗ فَاَتٰی بَطْنَ الْوَادِیْ فَخَطَبَ النَّاسَ]

هر کله چه زوال وشو او د ماسپخین وخت داخل شو نو نبی ﷺ امر وکړو نو د هغهٔ قصواء اُوښه باندے پالان واچولے شو تردے چه د وادی عرفات مینځ ته راغے نو دلته ئے خلکو ته مزیداره خطبه ووئیله، او د رسول الله ﷺ آواز تولو خلکو ته نهٔ رسیدو (ځکه چه لاوډ سپیکر نشته، ددے نه هم مَعلومه شوه چه رسول الله ﷺ بشر دے، یو آواز خلکو ته نشی رسولے نو تا سره به پس د مَرګ نه څه مدد وکړی چه تهٔ ورته آوازونه کوے چه یا رَسول الله مدد)۔

Maktaba Tul Ishaat.com

(ددې نه معلومه شوه چه صحابه کرام د الله اولیاء دی، او ټول جنتیان دی، داسې ملګری ئې ورله ورکړل چه د نبی د هرې خبرې تابعدار دی، دلته ئې تقریباً یو نیم لاکھ کسان ځان سره راوستی دی، دې ته قرآن کریم افواج وئیلی دی، دا ټول د الله په دین کښې داخل شویدی، معلومه شوه چه کوم خلك صحابه کرامو سره دشمنی کوی او هغوئ ته د الله اولیاء نهٔ وائی او صرف پنځه صحابه کرام منی نو دا د الله دشمنان دی، او ښه ګمراهان دی، د قرآن مخالفین دی)

دلته د رسول الله ﷺ آواز خلکو ته نهٔ رسیدو نو رسول الله ﷺ ربیعه ؓ مقرر کړو چه هغهٔ خلکو ته د نبی ﷺ آواز ورسره وی، دا ربیعه د اُمیه بن خلف څوی دې)

دویم نمبر تقریرئې په مِنیٰ کښې کولو نو هلته ئې مُعَبِّر (تعبیر کونکې) علی بن ابی طالب ؓ مقرر کړې وو۔

د عرفات خطبه

دلته هم رسول الله ﷺ ډیره جامعه خطبه ووئیله، اول ئې د الله حمد او ثناء ووئیله۔

(دا ولې مخکښې وئیلې کیږی؟ ددې وجه دا وی چه زهٔ روستو کومې خبرې کوم دا خو ضروری دی خو ددې نه د الله صفت ډیر ضروری دې، الله به د هر څه نه مخکښې ذکر کوې)۔

بیا ئې د خپلې خطبې اهتمام بیان کړو وې فرمایل :

[يَا اَيُّهَا النَّاسُ اِسۡمَعُوۡا قَوۡلِيۡ]

اې خلکو ! زما خبرې واورئ،

[فَإِنِّيۡ لَا اَدۡرِيۡ لَعَلِّيۡ لَا اَلۡقَاكُمۡ بَعۡدَ عَامِيۡ هٰذَا بِهٰذَا الۡمَوۡقِفِ اَبَدًا]

زهٔ نهٔ پوهیږم شاید چه زهٔ به تاسو سره ددې کال نه پس پدې عرفات کښې هیڅکله ملاؤ نشم۔

(صرف همدا یو کال دې، زهٔ وفات کیدو والا یم، نو هرکله چه د رخصتئ ورځ ده نو دا خبره ډیر په تاکید سره یاده کړئ، یو چانس دې۔

نو د صحابه کرامو په شان ادبناك او کاملو حافظو او ذهنونو والا ورته ولاړ دی، نو

Maktaba Tul Ishaat.com

هغویٔ به ولې د خپل خوږ محبوب خبره نهٔ زده کوی، پدے کښې په منکرین حدیث رد دے)

(د صحابه کرامو چونکه د رسول الله ﷺ ډیر زیات محبت وو پدے وجه ئے د رسول الله ﷺ دا خبره یوه عامه خبره وګنړله چه ګنې نبی ﷺ به وفات کیږی نو کله چه وفات شو بیا ئے ذهن ته راغله چه رسول الله ﷺ په عرفات کښې په خطبه کښې دے ته اشاره ورکړے وه)

پدے خطبه کښې رسول الله ﷺ د بندګانو حقوق ډیر ذکر کړیدی، وجه دا ده چه د الله حقوق ډیر انسانان منی، اګرکه دهریه ولے نهٔ وی، ځکه چه د الله بندګی د فطرت تقاضا ده، د کافر فطرت هم د عبادت تقاضا کوی، یهودی او نصرانی هم د الله د محبت دعوے کوی، لیکن د انسانانو حقوق ډیر خلك نهٔ منی، په زنانو او ماشومانو باندے ظلمونه کوی، قتلونه او غارتونه کوی، د هغوی مالونه لوټ کوی، د هغوی قرضونه قبضه کوی، د هغوی عزتونه اخلی او دا معمولی ګنړی حال دا چه تقریباً (۹۵) فیصد خلك به جهنم ته د بندګانو د حقوقو د بربادولو په وجه داخلیږی، عربو به د یو تن د قتل په مقابله کښې د کور مشران وژل)۔

دریمه خبره:

[أَيُّهَا النَّاسُ إِنَّ دِمَائَكُمْ وَأَمْوَالَكُمْ وَاَعْرَاضَكُمْ عَلَيْكُمْ حَرَامٌ كَحُرْمَةِ يَوْمِكُمْ هٰذَا فِيْ شَهْرِكُمْ هٰذَا]

اے خلکو! ستاسو د یو بل وینے، او مالونه او عزتونه په تاسو باندے داسے حرام دی لکه نن ورځ چه څنګه عزتمنه ده او دا میاشت (ذو الحجه) عزتمنه ده (او په عزتمنه ورځ او میاشت او عزتمن ښار کښې قتل وقتال او ګناه کول ډیره سخته ګناه ده او حرام کار دے، ددے وجه نه په کافر باندے به هم په مسجد کښې حمله نهٔ کوے۔

او مطلب دا دے چه لکه څنګه چه د عرفے په ورځ او د عزتمنے میاشت او په عزتمن ځائے (مسجد حرام) کښې تاسو ته ګناه بده ښکاره کیږی نو دغه شان په هر ځائے کښې وګنړه، عربو به د کعبے او د عزتمنو میاشتو خیال ساتلو لیکن د انسانانو د عزت خیال ورسره نهٔ وو نو ځکه ئے پدے خطبه کښې ذهن سازی وکړه)

(په وینه کښې قتل او وژل او د هغهٔ زخمی کول داخلیږی او په مال اخستو کښې

Maktaba Tul Ishaat.com

لوټ مار، غلط شے خرڅول، غلا کول، خیانت او دھوکه کول داخل دی او پدے کښے دا هم داخلیږی چه یو تن د مجبورتیا د وجه نه یو خیرات کوی او خلك ئے خوری، لکه مثلًا داسے وائی چه دے مړی پسے که خیرات ونکړم نو د خلکو نه مے خوړلے ده، هیا به خلك پیغور راکوی، نو د زړهٔ نه ئے خیرات اراده نشته خو د پیغور او شرم نه یریږی نو د داسے خیراتونو به مسلمان ځان ساتی او ددے خوراك صحیح نهٔ دے، مګر زمونږ ډیر مسلمانان په خیټه مړهٔ دی، ددے خبرو هیڅ پرواه نهٔ لری۔

په عزت اخستو کښے بهتان، غیبت، د هغهٔ ډ ښځے او د لونړو بے عزتی کول، هغوئ ته په سُورو او چاودو کښے کتل داخل دی)۔

څلورمه مسئله : د جاهلیت رواجونه ختم کړئ۔ او د جاهلیت یو رواج دا وو چه هغوئ به د خپلے وینے بدلے اخستے، نو اُوس به په اسلام کښے د جاهلیت د زمانے بدلے نهٔ اخلئ۔ وے فرمایل :

[اَلَا كُلُّ شَیْءٍ مِنْ اَمْرِ الْجَاهِلِیَّةِ تَحْتَ قَدَمَیَّ مَوْضُوْعٌ]

خبر شئ د جاهلیت هر کار او هر رواج زما د قدمونو لاندے کیخودے شو (او ما پرے خپه کیخوده، ختم شو)

[وَدِمَاءُ الْجَاهِلِیَّةِ مَوْضُوْعَةٌ]

او د جاهلیت مرګونه هم ختم کړے شو۔ (د جاهلیت بدلے به نهٔ اخلئ)۔

او دا قانون رسول الله ﷺ اول په خپل ځان باندے نافذ کوی فرمائی :

[وَاِنَّ اَوَّلَ دَمٍ اَضَعُهٗ مِنْ دِمَائِنَا دَمُ ابْنِ رَبِیْعَةَ بْنِ الْحَارِثِ بْنِ عَبْدِ الْمُطَّلِبِ]

اولنئ وینه چه زهٔ ئے معاف کوم هغه زما د ترهٔ د ځوی د ځوی ده۔ یعنی د ربیعه د ځوی۔

[كَانَ مُسْتَرْضَعًا فِیْ بَنِیْ سَعْدٍ فَقَتَلَتْهُ هُذَیْلٌ]

دے ماشوم وو او په بنو سعد کښے به دهٔ ته تے ورکړے کیدو نو هذیل قبیلے پدے قوم باندے حمله وکړه نو دا ماشوم ئے هم پکښے مړ کړو۔

(نو زمونږ د هذیل قبیلے پورے یو دم (وینه) قرض ده، لیکن دا قتل د جاهلیت په زمانه کښے شوے لهذا ددے قصاص اُوس نهٔ اخلو، دا ختم شو، البته که اسلام کښے چا قتل وکړو نو بیا به قصاص وی یا دیت وی، یا معافی وی)

Maktaba Tul Ishaat.com

پنځمه مسئله :

[وَرِبَا الْجَاهِلِيَّةِ مَوْضُوعٌ]

او د جاهلیت د زمانے سودونه هم ختم شو۔ (ځکه چه عربو او خاصکر ثقیف قبیلے به سودونه ډیر کول) نو اُوس به سود نهٔ اخلی بلکه خپله سرمایه به اخلی۔

(سود ډیره لویه بد اخلاقی او ظلم دے نو پدے وجه شریعت پدے باندے پابندی ولګوله)

او دا قانون هم اول په ځان نافذ کوی فرمائی :

[وَأَوَّلُ رِبًا اَضَعُ مِنْ رِبَانَا رِبَا عَبَّاسِ بْنِ عَبْدِ الْمُطَّلِبِ فَإِنَّهٗ مَوْضُوعٌ كُلُّهٗ]

او اولنے سود چه زهٔ ئے معاف کوم هغه د عباس بن عبد المطلب رضی الله عنه سود دے چه هغهٔ هم ټول معاف شو۔ (عباس رضی الله عنه په جاهلیت کښے په ثقیف قبیله باندے سودونه اړه ولي وو، نو نبی ﷺ وفرمایل چه دا سودونه هغوئ ته معاف شو، صرف رأس المال به ترے واخلی)

او ستاسو دپاره هم دا قانون دے چه [لَا تَظْلِمُوْنَ وَلَا تُظْلَمُوْنَ]

تاسو به په بل باندے ظلم نکوئ (چه سود ترے واخلئ) او تاسو باندے به هم ظلم نشی کیدے چه څوك درنه سود واخلی۔

شپږمه مسئله : د زنانو په باره کښے :

[فَاتَّقُوا اللّٰهَ فِي النِّسَاءِ فَإِنَّكُمْ اَخَذْتُمُوْهُنَّ بِأَمَانِ اللّٰهِ وَاسْتَحْلَلْتُمْ فُرُوْجَهُنَّ بِكَلِمَةِ اللّٰهِ]

د زنانو په باره کښے د الله نه ویریږئ ځکه چه دا تاسو د الله په امان (امانت) باندے اخستے دی، (دا تاسو سره د الله امانت دے) او دوئ مو ځان له د الله په وینا سره حلالے کړیدی۔ (چه الله فرمایلی دی فَانْكِحُوْا مَا طَابَ لَكُمْ مِنَ النِّسَاءِ) دا روایت د مسلم دے،

او په روایت د ترمذی وغیره کښے دی :

[اَلَا وَاسْتَوْصُوْا بِالنِّسَاءِ خَيْرًا فَإِنَّمَا هُنَّ عَوَانٍ عِنْدَكُمْ]

خبر شئ د زنانو په باره کښے زما نه دا وصیت قبول کړئ چه د دوئ سره خیر خیګړه کوئ ځکه چه دا تاسو سره قیدیانے (بندیے) دی،

بیا په روایت د مسلم کښے دی :

[وَلَكُمْ عَلَيْهِنَّ اَنْ لَّا يُوطِئْنَ فُرُشَكُمْ اَحَدًا تَكْرَهُوْنَهٗ]

ستاسو حق په زنانو باندے دا دے چه هغوی به ستاسو کور او بسترے ته هغه څوك نهٔ راپریدی چه تاسو ئے بد ګنړئ. (ښځه په خپل واك سره خپل پلار او ورور هم (او دارنګه پریدئ زنانه هم) د خاوند په بستره نشی کینولے کله چه د خاوند اجازه نهٔ وی)

په روایت د ترمذی کښے دی:

[اِلَّا اَنْ يَّأْتِيْنَ بِفَاحِشَةٍ مُّبَيِّنَةٍ]

آؤ که زنانه بد اخلاقی او بے حیائی وکړی نو بیا هغوی ته سزا ورکولے شئ هغه روستو ذکر کیږی.

[فَاِنْ فَعَلْنَ ذٰلِكَ فَاهْجُرُوْهُنَّ فِي الْمَضَاجِعِ وَاضْرِبُوْهُنَّ ضَرْبًا غَيْرَ مُبَرِّحٍ]

که هغوئ داسے وکړل نو تاسو دوئ لره په بسترو کښے پریدئ (یعنی شریك ورسره مهٔ پریوزه یا که شریك کټ وی نو بیا ترے مخ بل طرفته واړه (عقلمنده ښځه به پو هه شی) او که پدے هم کار ونشی نو بیا ئے ووهئ په داسے وهلو سره چه هډوکے مات نکړی.

[فَاِنْ اَطَعْنَكُمْ فَلَا تَبْغُوْا عَلَيْهِنَّ سَبِيْلًا]

که زنانه ستاسو خبره منی نو تاسو په هغوئ باندے بله لاره د بد اخلاقئ او د طلاقو مهٔ لټوئ.

[اَلَا وَحَقُّهُنَّ عَلَيْكُمْ اَنْ تُحْسِنُوْا اِلَيْهِنَّ فِيْ كِسْوَتِهِنَّ وَطَعَامِهِنَّ].

خبر شئ د هغوی حق په تاسو باندے دا دے چه تاسو به د هغوئ سره په کپړو (جامو) او خوراك کښے احسان کوئ.

[الترمذی: ۱۱۶۳ ومسلم: ۳۰۰۹]

د الله رسول د عرفات په لوی میدان کښے د زنانه او د خاوند حقوق بیان کړل ځکه چه الله او د هغهٔ رسول ته پته ده چه په کور کښے د جنګ جګړے نه ایمان ته ډیر لوی ضرر رسیږی ددے وجه نه قرآن کریم کښے هم د ښځو او د خاوندانو په حقوقو باندے تاکید راغلے دے.

بیا ئے وفرمایل:

Maktaba Tul Ishaat.com

[أَيُّهَا النَّاسُ، إِنَّهٗ لَا نَبِيَّ بَعْدِيْ، وَلَا أُمَّةَ بَعْدَكُمْ]

اے خلکو! زما نه بعد بل نبی نشته او ستاسو نه روستو بل امت نشته۔ (نو بیا ئے په نورو اهمو اعمالو باندے حکم وکړو،) وے فرمایل:

[أَلَا فَاعْبُدُوْا رَبَّكُمْ، وَصَلُّوْا خَمْسَكُمْ وَصُوْمُوْا شَهْرَكُمْ، وَأَدُّوْا زَكَاةَ أَمْوَالِكُمْ، طَيِّبَةً بِهَا أَنْفُسُكُمْ وَتَحُجُّوْنَ بَيْتَ رَبِّكُمْ، وَأَطِيْعُوْا وُلَاةَ أَمْرِكُمْ، تَدْخُلُوْا جَنَّةَ رَبِّكُمْ]

خبر شئ د خپل رب بندګی وکړئ (هر قسم بندګی، بیا ئے خاص بندګانے ذکر کړے) او پنځه مونځونه کوئ او د رمضان میاشت روژے ونیسئ او د خپلو مالونو زکاة ادا کړئ په داسے حال کښے چه ستاسو نفسونه په هغے باندے خوشحاله وی، او د خپل رب د کور حج وکړئ او د خپلو کارونو د مشرانو تابعداری وکړئ نو د خپل رب جنت ته به داخل شئ۔

(دا دلیل دے چه د جهاد په وجه به حج نشی پریخودے، البته مستحب حج د جهاد په وجه روستو کول جائز دی۔ او د مشرانو یعنی امیرانو او خلفاؤ تابعداری لازم ده)۔

بیا ئے وفرمایل:

[فَاعْقِلُوْا أَيُّهَا النَّاسُ قَوْلِيْ فَإِنِّيْ قَدْ بَلَّغْتُ وَقَدْ تَرَكْتُ فِيْكُمْ مَا لَنْ تَضِلُّوْا بَعْدَهٗ إِنِ اعْتَصَمْتُمْ بِهٖ، كِتَابُ اللّٰهِ]

اے خلکو! زما خبره یاده کړئ ما تاسو ته خبره ورسوله او تاسو کښے ما هغه شے پریخودو چه که تاسو هغه کلک راونیولو نو د هغے نه روستو به هیڅکله ګمراه نشئ چه هغه د الله کتاب دے۔

او په روایت د بیهقی کښے ورسره دا دی: [وَسُنَّةُ نَبِيِّهٖ]

[البيهقي في الكبرى ٢٠٨٣٣ و كتاب السنة للمروزي ص ١٦/١]

او بل شے د الله د نبی سنت طریقے دی۔ دا دواړه چه انسان کلک راونیسی او دے له غاړه ورکړی او په هیڅ حالت کښے ئے پرینږدی نو انسان پرے د ګمراهئ نه پوره بچ کیږی۔

بیا ئے وفرمایل: [إِنَّكُمْ سَتَلْقَوْنَ رَبَّكُمْ فَيَسْأَلُكُمْ عَنْ أَعْمَالِكُمْ]

اے خلکو! تاسو به د خپل رب مخے ته ودریږئ او هغهٔ سره به ملاویږئ نو هغه به

Maktaba Tul Ishaat.com

ستاسو نه ستاسو د اعمالو تپوس کوی (چه تاسو دنیا کښے زندګی په څه کښے تیره کړیده، دا جمله د ټول انسانیت دپاره پوره نصیحت دے)
بیا ئے وفرمایل :
[وَأَنْتُمْ تُسْأَلُوْنَ عَنِّيْ فَمَا أَنْتُمْ قَائِلُوْنَ ؟]
او تاسو نه به زما په باره کښے تپوس کیږی نو تاسو به څه وایئ ؟
صحابه کرامو رضی الله عنهم اجمعین وفرمایل :
[نَشْهَدُ أَنَّكَ قَدْ بَلَّغْتَ وَأَدَّيْتَ وَنَصَحْتَ]
مونږ ګواهی کوو چه تا خبره امت ته پوره ورسوله او امانت دِے ادا کړو او د امت خیرخواهی دِے وکړه۔
(دے الفاظو نه معلومیږی چه د رسول الله ﷺ خبرے ډیرے واضحے او د هر چا د ذهن او دماغو سره برابرے دی، هیڅ اشکالات پکښے نشته، او انتهائی د خیرخواهئ نه ډکے دی، او دے دین کښے هر څه موجود دی، رسول الله ﷺ مونږ ته د روزمره زندګئ په باره کښے هر څه رارسولی دی، خو څوك پرے پوهه وی او څوك ناپوهه، نو دین به نیمګړے نهٔ ګڼړے، په بل عالِم کښے داسے فصاحت او بلاغت نشته کوم چه نبی ﷺ کښے وو)
نو نبی ﷺ پدے وخت کښے ګوته آسمان طرفته پورته کړے او بره ئے وکتل او بیرته ئے خلکو ته راخکته کړه او وے فرمایل :
[اَللّٰهُمَّ فَاشْهَدْ، اَللّٰهُمَّ فَاشْهَدْ]
اے الله ! بس تهٔ ګواه شه، اے الله ! بس تهٔ ګواه شه (درے کرته)
(یعنی چه دے خلکو اقرار وکړو چه ما ستا پیغامات او دین دے خلکو ته ورسولو او خپله ذمه واری مے فارغه کړه)
بیا رسول الله ﷺ ددے نه روستو وفرمایل : (هرکله چه دا دین مکمل شو)
[أَلَا لَا تَرْجِعُوْا بَعْدِيْ كُفَّارًا يَضْرِبُ بَعْضُكُمْ رِقَابَ بَعْضٍ]
خبر شئ، زما نه روستو کفر ته مهٔ واپس کیږئ، چه د یو بل څټونه وهئ،
(دے روایت کښے ئے کفر د مسلمانانو قتل ته وئیلے دے، یعنی قتل د مسلمان د کافرو

Maktaba Tul Ishaat.com

عمل دے- یا ددے مطلب دا دے چه ارتداد مهٔ کوئ چه بیا مسلمانان رالګیړی او ستاسو څټونه وهی)

بیائے وفرمایل: (ما چه کومے خبرے وکړے نو دا به ځان سره نهٔ ساتئ بلکه

[فَلْيُبَلِّغِ الشَّاهِدُ مِنكُمُ الْغَائِبَ، فَرُبَّ مُبَلَّغٍ أَوْعَى مِنْ سَامِعٍ]

په تاسو کښے چه څوك دے مجلس ته حاضر وی نو دا ډے غائبینو ته خبره ورسوی- ځکه چه ډیر کرته چا ته چه خبره رسیږی هغهٔ ددے اول آوریدونکی نه هم زیات یادونکے او پوهیدونکے وی-

[بخاری: ۱۷٤۱ احمد: ۲۰۵۱٦]

(**فائده**: دا حدیث دلیل دے چه الله تعالیٰ په اعتبار د ذات سره پورته دے، او د مخلوقاتو نه بهر دے- ځکه رسول الله ﷺ گوته بره اُوچته کړه-

او دلیل دے چه تبلیغ او د دین بیان ضرور اثر لری، که تا ترے دومره فائده وانخسته ته ئے بیان کړه بل به ترے ډیره فائده واخلی، ډیره اصلاح به ئے وشی نو تا ته به ئے اجر ملاویږی)-

هرکله چه دا خطبه ختمه شوه او رسول الله ﷺ تقریر ختم کړو نو دے نه بعد دا آیت نازل شو:

﴿اَلْيَوْمَ اَكْمَلْتُ لَكُمْ دِيْنَكُمْ وَاَتْمَمْتُ عَلَيْكُمْ نِعْمَتِيْ وَرَضِيْتُ لَكُمُ الْاِسْلَامَ دِيْنًا﴾

[المائدة: ۳]

چه نن ورځ ما تاسو لره ستاسو دین پوره کړو او په تاسو مے خپل نعمت پوره کړو او دین اسلام مے ستاسو دپاره د دین په حیثیت غوره کړو-

(ددے آیت نه روسته احکام نهٔ دی نازل شوی اګرکه د وعظ او نصیحت خبرے نازلے شویدی)-

د کفارو دا خیال وو، چه مونږ به دین اسلام ختم کړو خو کله چه دا آیت نازل شو چه د دین د تکمیل اعلان پکښے وشو نو د هغوئ طمع هم ختمه شوه-

هرکله چه دا آیتونه نازل شو نو عمر فاروق ﷜ په ژړا شو- چا ورته وویل چه دا خو د خوشحالئ ورځ ده چه الله تعالیٰ د خپل دین د تکمیل اعلان وکړو او قرآن ئے راولیږلو او اسلام ته ئے غلبه ورکړه او په کفارو باندے غلبه ده- نو هغهٔ وفرمایل:

Maktaba Tul Ishaat.com

[لَيْسَ بَعْدَ الْكَمَالِ إِلَّا النُّقْصَانُ]

قانون دا دے چه یو شے کمال ته ورسیږی نو هغه بیا نقصان ته راځکته کیږی، نو دین خو کامل شو خو اُوس به پکښے خلك نقصان پیدا کوی۔

او نبی ﷺ هم دے ته اشاره کړے وه :

[لَيُنْقَضَنَّ عُرَى الْإِسْلَامِ عُرْوَةً عُرْوَةً،...... فَأَوَّلُهُنَّ نَقْضًا الْحُكْمُ]

خامخا د اسلام کړئ به ماتولے شی، یوه یوه کړئ، او اولنئ کړئ چه ماتیږی نو هغه به حکم بما انزل الله وی۔ (چه خلك به د الله په قانون باندے فیصلے نکوی)

[وَآخِرُهُنَّ الصَّلَاةُ] او روستنئ کړئ به مونځ وی۔

[مسند احمد : ٢٢٢١٤ واسناده جید]

جمع بین الصلاتین :

ددے تقریر نه پس رسول الله ﷺ بلال ؓ ته حکم وکړو نو هغهٔ اذان وکړو او بیا ئے اقامت وکړو او رسول الله ﷺ د عرفات د حدودو نه بهر جمع بین الصلاتین وکړه یعنی اول ئے د ماسپخین مونځ وکړو بیا ئے اقامت وکړو نو د مازیگر مونځ ئے وکړو۔ او د دواړو مونځونو ترمینځ ئے هیڅ مونځ ونکړو۔ (یعنی سنت) دلته رسول الله ﷺ جمع بین الصلاتین ددے دپاره وکړه چه خلك روستو دعاګانو ته وزګار شی،

نو دغه شان رسول الله ﷺ په عام سفر کښے هم جمع بین الصلاتین کړیدی د امت د آسانئ دپاره۔

بیا رسول الله ﷺ په اُوښه باندے سور شو تردے چه میدان د عرفات ته راننوتو او د صخراتو سره ودریدو (د جبل الرحمة خوا ته، او بره د عرفات غونډئ یعنی جبل الرحمة ته ونهٔ ختلو لکه خلك ددے کوشش کوی، دا کوشش نهٔ دے پکار)

پدے طریقه ودریدو چه د اُوښے خیټه ئے صخرات (غر) طرفته وه او د پیاده خلکو رش ئے مخے ته وو او د نبی ﷺ قبلے ته مخ وو۔ (یعنی خلك مخے ته ولاړ وو او نبی ﷺ لږ شا ته ولاړ وو او دیخوا غر او مخامخ قبله وه، پدے شکل صحابی نقل کړیدے)

رسول الله ﷺ د عرفات آخر سر ته ورسیدو دے دپاره چه امت ته آسانی شی، ځکه

چه کله د عرفات په دې سر کښې ودریږي نو بیا به نور امت اخوا نه ځي، نو رسول الله ﷺ لرې لاړو دې دپاره چه خلك ټول عرفات په وقوف باندې مشغول کړي۔
او بیا ئې وفرمایل: زۀ خو دلته ودریدم، لیکن ټول میدان د عرفات موقف (ځائې د ودریدو) دې۔ بیا ئې په دعاګانو او ذکرونو کښې شروع وکړه۔
اول ئې [لَا اِلٰـهَ اِلَّا اللّٰهُ وَحْدَهٗ لَا شَرِيْكَ لَهٗ لَهُ الْمُلْكُ وَلَهُ الْحَمْدُ وَهُوَ عَلٰى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيْرٌ] ووئیلو۔ لکه رسول الله ﷺ فرمائیلي دي: چه بهترین هغه ذکر چه ما او مخکنو پیغمبرانو د عرفې په ورځ لوستلې دې هغه دغه ذکر دې۔
بیا د ماز یګر نه روستو ئې تر ماښامه پورې دعاګانې کولې۔ هسې ئې وخت نۀ ضائع کولو۔
ځکه چه دا ډیره مهمه ورځ ده، دا هغه ورځ ده چه الله تعالیٰ د بندګانو په ذریعه په ملائکو باندې فخر کوي۔ او ملائکو ته وائي: [مَا اَرَادَ هٰٓؤُلَاءِ؟]
دا خلك څه له راغلي دي؟ چه سرونه سرتور، ګرد آلوده او ستړي ستومانه ما له راغلي دي۔ یعنې الله د دوئ په دې حالت باندې ډیر خوشحاله وي۔
احادیثو کښې دي چه دلته رسول الله ﷺ د امت دپاره یوه بهترینه مُهمه دعاء وکړه وې فرمایل: چه اې الله! زما امت وبخښه ستا حقونه هم ورته معاف کړه او د بندګانو حقونه ئې چه ضائع کړیدي هغه هم ورته معاف کړه۔
نو الله وفرمایل: چه امت ته به بخښنه وشي د هغه ګناهونو چه زما په باره کښې ئې کړي وي، لیکن د بندګانو حقونه ورته نۀ معاف کیږي، چه پردې مال ئې خوړلې وي، یا ئې وینه تویه کړي وي، یا د چا عزت ئې اخستې وي۔
بیا د نمر پریوتو نه روستو رسول الله ﷺ راروان شو (لکه د مشرکانو دا طریقه وه چه هغوئ به د نمر پریوتو نه مخکښې راروانیدل نو نبي ﷺ د هغوی خلاف وکړو)
هر کله چه د عرفات نه راروان شو نو بعض ملګرو منډې وهلې، رسول الله ﷺ ورته په چابك سره اشاره وکړه او دا ئې وفرمایل:

[اَیُّهَا النَّاسُ عَلَیْکُمْ بِالسَّکِیْنَةِ]

اې خلکو! په ځان باندې وقار او آرام لازم کړئ۔

[فَاِنَّ الْبِرَّ لَیْسَ بِالْاِیْضَاعِ]

Maktaba Tul Ishaat.com

څکه چه منډے وهل خو څه نیکی نۀ ده. (په اسلام کښې وقار او آرام سره کار کول ډیر مطلوب دی،
او بله دا چه په حالت د احرام کښې ځان په وقار او ښائسته طریقه عادت کړه نو روستو به هم دا عادت واخلې، او دا اصول مونږ ته د مانځه په باره کښې هم وئیلے شویدی چه کله تۀ مسجد ته راځې نو په وقار او آرام سره. که کوم رکعت درنه فوت شو نو ځانله به ئے وکړے خو خپل وقار مۀ خرابوه).
عرفات نه راروانیدو کښې رسول الله ﷺ ځان سره اسامه بن زید ﷜ په خپله اُوښه باندے شاته سور کړے وو.
او د مزدلفے نه تر مِنیٰ پورے ئے فضل بن عباس ﷜ شا ته سور کړو،
دے کښې به د رسول الله ﷺ ډیر حکمتونه وو، یو د هغے نه خپله عاجزی ښکاره کول وو، چه وګوره د اسامه ﷜ په شان هلك چه د رنګ نه تور او د یو غلام بچے دے، او عربو به غلامان سپك ګنړل نو نبی ﷺ ځان سره هغه سور کړو پدے کښې ئے الله ته عاجزی کوله.
هر کلُه چه به د اُوښے مخے ته یوه ډله د خلکو راغله نو اُوښه به ئے په مزه کړه او کله چه به خلك نۀ وو نو بیا به ئے اُوښه روانه کړه.

مزدلفے ته رسیدل :

مُزدلفے ته رسیدو کښې رسول الله ﷺ په لاره کښې یوے کندے ته ستون شو او هلته ئے تش اَودس مات کړو او بیا ئے خفیف شان اودس وکړو، هغه دا چه اندامونو ته ئے پوره پوره اُوبۀ وانچولے بلکه سرسری شان.
نو ددے وجه نه اسامه ﷜ ترے تپوس وکړو چه آیا د مانځه وخت نۀ دے. (یعنی د مانځه دپاره خو تاسو ډیر کامل اودس ذکر کړیدے نو بیا تاسو څنګه داسے خفیف شان اودس وکړو ؟ دا ئے د سوال مقصد وو، نو رسول الله ﷺ ورته وفرمایل :

[اَلصَّلَاۃُ اَمَامَكَ]

مونځ ستا مخے ته راروان دے (یعنی مونځ خو به مزدلفه کښې کوو، لکه دا سنت طریقه ده چه د ماښام مونځ به په لاره قضاء کړے تردے چه مزدلفے ته راورسیږے نو هلته به جمع بین الصلاتین وکړې، او ما چه دا خفیف اودس وکړو نو دا د مانځه دپاره

Maktaba Tul Ishaat.com

نهٔ دے بلکه د ذکر اذکار دپاره دے، دا د جواب مقصد وو،
یعنی د مانځه اودس کښې به ډیر اهتمام کوے او که د ذکر او تلاوت دپاره کوے نو خفیف اودس هم کافی دے، او ددے مطلب هم دا نهٔ دے چه اندامونه درنه وچ پاتے شی بلکه ډیر تاکید پکښې نهٔ کول دی)
بیا د دغه ځائے نه روان شو تردے چه مزدلفے ته ورسیدل نو هلته ئے د ماښام او ماسخوتن دپاره یو اذان وکړو بیا ئے د ماښام دپاره اقامت وکړو بیا ئے د ماسخوتن دپاره اقامت وکړو او دواړه مونځونه ئے په وخت د ماسخوتن کښې ادا کړل۔
(په یو اذان او دوه اقامتونو سره) او د دواړو ترمینځ ئے هیڅ مونځ ونکړو۔ (یعنی سنت)
بیا ئے امر وکړو چه په سورلو باندے چه کومے کتے وغیره سامان وی هغه تربے لرے کړئ او اُوښان ئے چو کړل۔ بیا ئے د ماسخوتن مونځ وکړو۔
دے نه دا معلومه شوه چه جمع بین الصلاتین دے ته نهٔ وائی چه یو مونځ وکړه او سمدست به بله جمعه ودروے، او مینځ کښې ذکر اذکار ته هم وخت نهٔ ورکوی، دا طریقه صحیح نهٔ ده۔
بیا رسول الله ﷺ د ماسخوتن مانځه نه پس سمدست څملاستو تردے چه بعض علماؤ وئیلی دی چه پدے شپه باندے رسول الله ﷺ وتر هم ونکړل۔
او بعض وائی چه د رسول الله ﷺ طریقه دا وه چه هغهٔ به وتر په سفر کښې نهٔ پریخودل نو کیدے شی چه سهار وخت کښې مانځه دپاره رابیدار یدو وخت کښې ئے وتر کړی وی بیا ئے د سهار مونځ کړے وی۔ لیکن ظاهر د روایت داسے دے:
[ثُمَّ اضْطَجَعَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ حَتّٰى طَلَعَ الْفَجْرُ]
بیا رسول الله ﷺ ډېره ولګوله تردے چه صبا راوختلو۔
دے نه معلومیږی چه وترے او هیڅ مونځ ئے د ماسخوتن نه پس نهٔ دے کړے۔
او پدے شپه باندے ئے تهجد هم ونکړل ددے حکمة دا دے چه سهار له ورته ډیر اعمال ورپه غاړه دی، که یو انسان د شپے راپاڅیږی نو سهار له د فرض عملونو ادا کولو نه کوتاه شی، او دا د ناپوهه خلکو کار وی چه نفلونو له ئے زور ورکړے وی او فرض خرابوی۔ البته که یو تن هسے ناست دے، یا خوب نهٔ ورځی نو که هغه نفل او تهجد

Maktaba Tul Ishaat.com

وکړي نو هیڅ منع نشته، د صحابه کرامو رضی الله عنهم نه پدې وخت نفلونه نقل دي۔

او نبي ﷺ د سهار مونځ وختي وکړو لکه د حدیث الفاظ داسې دي:

[وَصَلَّى الْفَجْرَ - حِيْنَ تَبَيَّنَ لَهُ الصُّبْحُ]

او د سهار مونځ ئې په هغه وخت کښې وکړو چه صبا ورته راښکاره شو۔ (یعنی ډیر وختي ئې وکړو، تردې چه بعض صحابه کرامو ته شك وو چه صبا به راختلې وي او که نه، لیکن نبي ﷺ ته معلومه شوه چه صبا راختلې دې)

بیا ئې د سهار مونځ په یو اذان او یو اقامت سره وکړو۔

د فرض مانځه نه بعد بیا په قَصواء اُوښه باندې سور شو تردې چه مشعر حرام ته راغلو (کوم ځائې چه اُوس مسجد مشعر حرام دې) نو قبلې ته ئې مخ کړو او د الله نه ئې دعاګانې شروع کړې او د الله تکبیر او تهلیل ئې وویلو۔

په یو روایت کښې دي چه رسول الله ﷺ پدې وخت کښې په خندا شو نو ابوبکر او عمر رضی الله عنهما ورته وویل: اې د الله رسوله! ستا خو په داسې مقام کښې خندا عادت نۀ دې، نو دا ولې خاندې؟ وې فرمایل: ما پرون ورځ د الله نه دعا کړې وه چه زما امت ته ګناهونه معاف کړه، نو الله نیمه دعاء قبوله کړې وه نو دلته مې هغه دعاء دوباره وکړه چه اې الله! دې امت ته حقوق العباد هم معاف کړه نو الله سبحانه وتعالیٰ زما دغه دعاء قبوله کړه او ددې دعاء د قبلیدو ابلیس ته پته ولګیده نو هغۀ واویلا شروع کړه او په سرئې خاورې اچولې چه په خلکو مونږ دومره خواري وکړه او الله ورته بخنه وکړه نو زمونږ خواري ئې ضائع کړه۔ نو زۀ چه هغۀ ته ګورم نو ما له خندا راغله۔

ددې حدیث دا مطلب نۀ دې چه بس کبیره ګناهونه معاف دي او چه څه ډېر خوښه وي هغه کوه۔ نه، بلکه دا د هغۀ چا دپاره دې چه خپل کبیره ګناهونه پریدي او ددې نه توبه وباسي نو الله تعالیٰ ورته حقوق الله او حقوق العباد دواړه معاف کوي۔ او چه توبه ډېر نۀ وي ویستلې نو هغۀ ته د معافئ اعلان نشته۔

دا د تائبینو په باره کښې دې، په شریعت کښې دا چرته نشته چه تۀ جرمونه کوه او ما درته بخنه کړیده دا خو بیا د بل چا دین جوړیږي، اسلام کښې دا طریقه ده چه مخکنې جرمونه پریده او په هغې باندې خپیمانه شه، الله درته جرمونه معاف کوي، بلکه ددې

Maktaba Tul Ishaat.com

بشکلے بدلے درکوي، ځکه چه تهٔ به په هغې باندے درد مند او ستومانه ئے نو ددے درد اجر درکوي۔ نو که یو تن د جاهلیت په زمانه کښے پردي حقونه هم ضائع کړي وي بیا توبه وباسي او صحیح مؤمن جوړ شي نو الله ورته دغه حقونه د بندګانو معاف کوي۔

بیا د نمر د راختو نه لږ مخکښے مزدلفے ته روان شو،

(مشرکان به د نمر ختلو نه پس روانیدل نو رسول الله ﷺ د هغوی خلاف وکړو)

په لاره کښے ئے د جمرے (شیطان) د ویشتلو دپاره ئے کانړي راټول کړل (هر ځائے نه راټولول جائز دي) او کله چه وادي مُحَسِّر (بطن مُحَسِّر) ته راورسیدو نو دلته ئے خپله اُوښه تیزه کړه (ځکه چه دا د ابرهه د فوجونو د هلاکت ځائے دے او رسول الله ﷺ به په عذابي ځایونو کښے تیز تللو) او په مینځنۍ لاره د منیٰ باندے لاړو او سیده جمره کبریٰ ته ورسیدو۔

(او دغه وخت پورے ئے په لارو کښے د لبیك آوازونه کول او صحابه کرامو به هم تلبیے وئیلے۔ د کانړو په ویشتلو باندے تلبیه ختمه شي)

د هر کانړي ویشتلو سره به ئے الله اکبر وئیلو۔ او دا کانړي د وړو شړو په اندازه باندے وو۔ او دا ویشتل ئے ددے وادي د مینځ نه وکړل۔

بیا رسول الله ﷺ د قربانۍ ځائے ته واوړیدو (چه دا هغه وخت کښے نزدے وو او ټوله مِنیٰ د قربانۍ ځائے دے) نو د سلو (۱۰۰) اوښانو نه ئے په خپل لاس سره درے شپیته (۶۳) اوښان ذبح کړل۔

(ددے نه معلومیږي چه په خپل لاس سره قرباني ذبح کول بهتر دي، او دا اسراف نهٔ دے چه څوك ووائي چه دا دومره مال ولے ضائع کوي، بلکه دا مخلوق دے د الله د تعظیم دپاره ئے ذبح کول پکار دي)۔

او علي رضی اللہ عنہ ته ئے وویل چه باقیمانده تهٔ حلالے کړه، او هغه ئے هم ځان سره په هدیه کښے شریك کړو۔

(ددے نه دا معلومه شوه چه که یو تن ځانله قرباني واخلي او بیا روستو ځان سره تر ذبح وخت پورے بل څوك شریکوي هم جائز ده۔

بعض اهل علم ددے نه منع کوي لیکن خبره ئے ضعیفه ده، بلکه صحیح دا ده چه قرباني ترڅو پورے ذبح شوی نهٔ وي نو تهٔ ئے خرڅولے هم شے، بدلولے ئے هم شے او بل

Maktaba Tul Ishaat.com

هم ځان سره شریکولے شي)

بیا ئے حکم وکړو چه د هرے قربانۍ نه لږه لږه غوښه پریکړئ او کټوئ کښے ئے واچوئ ځکه چه دا مبارکه غوښه ده.

(عامه قصابی مبارکه نۀ ده ځکه چه هغے کښے د تجارت نیت وی او دے کښے د عبادت نیت وی) بیا دواړو د هغے د غوښے نه خوراك وکړو او د هغے شوربا ئے وڅکله.

بیا رسول الله ﷺ وفرمایل:

[نَحَرْتُ هٰهُنَا وَمِنًى كُلُّهَا مَنْحَرٌ فَانْحَرُوْا فِيْ رِحَالِكُمْ]

ما دلته قربانی وکړه او منیٰ هر ځائے د قربانۍ دے نو تاسو په خپلو خیمو کښے قربانی وکړئ. او بل روایت کښے دی:

[وَفِجَاجُ مَكَّةَ كُلُّهَا مَنْحَرٌ]

د مکے لارے کوڅے هم د قربانۍ ځایونه دی. (یعنی مکه کښے هم قربانی کیږی)

بیا ئے حَلّاق (نائی) راطلب کړو نو رسول الله ﷺ ورته ښے طرف اول ورکړو چه په خرئیلو کښے ددے نه شروع وکړی. (رسول الله ﷺ به په هر څه کښے د ښی طرف لحاظ کولو)

ابو طلحه رضی الله عنه له ئے د ښی طرف ویښته ورکړل چه دا واخله او خلکو کښے ئے تقسیم کړه، هغۀ تقسیم کړل، او بل طرف ویښته ئے ابو طلحه رضی الله عنه ته ورکړل چه دا تۀ واخله.

(پدے کښے هم ډیر حکمتونه وو، د نبی ﷺ د خپل بدن یوه ښنښه امت سره پریخودل، ددے نه هم معلومیده چه د الله رسول وفات کیږی ځکه دوئ ته ویښته پریدی،

دویم پدے ویښتو کښے برکت وو، عام بزرگ او پیر یا ملا پدے باندے نۀ قیاس کیږی ځکه چه زمونږ د انسانانو په ویښتو کښے ګناهونه دی، او د محمد رسول الله ﷺ پاك ویښتۀ دی، هغه به صحابه کرامو اُوبو کښے اچول او هغه اُوبۀ به ئے څکلے کله چه به بیماران شو، دا به داسے وے لکه دم کړے شوے اُوبۀ، نو پدے سره به الله تعالیٰ جوړول.

ددے مطلب دا نۀ دے چه دا ویښته جوړه ول کوی، نه، بلکه [وَالْبَرَكَةُ مِنَ اللّٰهِ]

برکت خو الله ورکوی لیکن دا برکت خو د څه وجے نه نازلوی، نو وجه دا ده چه الله ته د رسول الله ﷺ ویښته خوښ دی نو پدے کښے خیر نازلوی او برکت او شفاء پکښے

Maktaba Tul Ishaat.com

اڅوي. ددې ویښتو په باره کښې بعض خلك دعوه کوي چه دا اُوس هم شته، موئے شریف ورته وائي لکه دا هر ځائے کښې خلکو اعلان کړيدی، لکه په لاهور، انډیا او مزار شریف کښې ئے خلك دعوه کوي. او ددې سره ئے چوغه او پټکے هم ایخودی وی، که دا چرته حقیقةً وی نو بیا خو د ډیر خیر او برکت خبره ده، لیکن ددې هیڅ ثبوت نشته، لکه څنګه چه حدیث سند ته محتاج وی نو دغه څیزونو دپاره هم سند ضروري دې، لیکن روغ سند پیش کول ډیر ګران دی، بیا دې له اعتبار نشته.

(عَبِيْدَةَ السلماني تابعيٌ وائي که ما سره د رسول الله ﷺ یو ویښته وې نو ما ته د دنیا او ما فیها نه ډیر غوره وو).

ددې نه روستو مکې ته راغلو او هلته ئے د ماسپخین مونځ راورسولو.

او د بیت الله طواف ئے وکړو او دوه رکعاته د طواف ئے وکړل بیا زمزم ته راغلو او هلته ئے خلکو ته ووېل :

[اِنْزِعُوا بَنِىْ عَبْدِ الْمُطَّلِبِ فَلَوْلَا اَنْ يَّغْلِبَكُمُ النَّاسُ عَلٰى سِقَايَتِكُمْ لَنَزَعْتُ مَعَكُمْ]

اے د عبد المطلب ځامنو ! خلکو دپاره دا اُوبهٔ راوباسئ (ورکوئ) که چرې دا یره نهٔ وې چه تاسو باندې به خلك د اُوبو په راویستو کښې غالبه شي نو ما به هم تاسو سره اُوبه راویستلې) (لیکن زهٔ ئے ځکه نهٔ راوباسم چه بیا به خلك زما تابعداري کوي نو تاسو نه به ستاسو دا فضیلت واخلي)

دا حدیث دلیل دې چه بل ته اُوبهٔ ورکول خاصکر د زمزم ډیر لوی فضیلت لري چه رسول الله ﷺ ئے هم ارمان کړيدې.

نو خلکو رسول الله ﷺ ته یوه بوکه ورکړه نو هغهٔ ترې څکل وکړل.

[مسلم: ۳۰۰۹]

(دومره وختي مِنیٰ ته راغلو چه بعض صحابه کرامو ګمان وکړو چه ماسپخین مونځ به ئے مِنیٰ کښې کړې وی)

په مِنیٰ کښې نبي ﷺ د جمرې د ویشتلو نه بعد بیان هم کړې وو (او نبي ﷺ پدې ورځو کښې ډیر بیانونه کړي وو ځکه چه هغه مُبلغ او داعي وو، یوه خبره ئے هم نهٔ پریخوده مګر چه امت ته هغه ورسیږي او دلته ئے د مرګ ورځے هم رانزدې شویدي)

دلته رسول الله ﷺ اول سوال او جواب وکړو خلکو ته کیناستو :

Maktaba Tul Ishaat.com

یو تن راغے وے وئیل: ما سر مخکښے وخرئیوو او شیطان مے روستو ویشتو، چا وویل ما قربانی مخکښے وکړه بیا مے شیطان ویشتو، نبی ﷺ به ټولو ته دا جواب ورکولو چه [اِفۡعَلۡ وَلَا حَرَجَ] کوه او هیڅ حرج پکښے نشته۔
نو که په افعالو د حج کښے چا تقدیم یا تاخیر وکړو نو هیڅ ګناه نشته۔

په منیٰ کښے خطبه:

په مِنیٰ کښے کله چه نمر ښه راپورته شو (د چاشت وخت) رسول الله ﷺ راووتو او هغه په خپله سپینه قچره باندے سور وو نو بیان ئے شروع کړو، او دلته علی بن ابی طالب ﷺ د هغهٔ خبره خلکو ته په اُوچت آواز رسوله چه رسول الله ﷺ تاسو ته داسے داسے خبرے کوی۔ او څه خلك ولاړ وو او څه ناست وو، او پدے خطبه کښے ئے بعض هغه خبرے دوباره وکړے کومے ئے چه پرون په عرفات کښے کړے وے۔
مونږ به ترے نورے خبرے راواخلو، وے فرمایل:
[اِنَّ الزَّمَانَ قَدِ اسۡتَدَارَ كَهَيۡئَتِهٖ يَوۡمَ خَلَقَ السَّمٰوٰتِ وَالۡاَرۡضَ، اَلسَّنَةُ اثۡنَا عَشَرَ شَهۡرًا]
زمانه د مخکښے په شان وګرزیده د کومے ورځے نه چه الله آسمانونه او زمکه پیدا کړیدی، کال دولس میاشتے دے، څلورو له پکښے الله عزت ورکړیدے، درے پرله پسے میاشتے دی، ذو القعده، ذو الحجه او محرم او یوه رجب مُضر ده چه پدے کښے به تاسو قتل وقتال نهٔ کوئ۔
(دا خبره ئے ددے دپاره بیان کړه چه مشرکانو به نسیه کوله، د حج ورځے به ئے روستو کولے، کله به ئے د عزتمنو میاشتو عزت د خپل طرف نه روستو کولو نو رسول الله ﷺ پرے رد وکړو چه دا کار به نهٔ کوئ، الله یوے میاشتے له عزت ورکړے او تاسو بلے میاشت له، الله مثلاً د روژو دپاره رمضان میاشت خوښه کړے ده، او یو تن وائی چه زهٔ ئے په شوال کښے نیسم نو دا بدعتی ګمراه دے)
او پدے ورځ ئے د ملګرو نه سوال وکړو چه: [اَیُّ یَوۡمٍ هٰذَا ؟]
نن کومه ورځ ده ؟۔
صحابه کرام چُپ شو (د ادب د وجه نه) هغوی وائی: تردے چه زمونږ ګمان راغے

Maktaba Tul Ishaat.com

چه دے ورځے لـه بـه بل نوم اږدی، (ځکه چه دا ورځ خو هغهٔ ته معلومه ده چه د اختر ورځ ده نو بيا څه له تپوس کوی؟) نو وے فرمايل : آيا يوم النحر نهٔ ده، ؟

مـونږ ووېـل : ولے نهٔ، بيا ئے ووېل : دا کومه مياشت ده؟، زمونږ گمان راغے چه بل نوم بـه ورلـه اږدی، مـونـږ ووېـل : الله او د هـغـهٔ رسـول ښه پوهيږی۔ وے فرمايل : آيا دا ذو الحجه نهٔ ده ؟ مونږ ووېل : ولے نهٔ،

وے فـرمايل : [فَـأَيُّ بَلَدٍ هٰذَا ؟] دا کـوم ښار دے؟ مـونږ ووېل : الله او د هغهٔ رسول ښه پوهيږی، نو غلے شو زمونږ گمان راغے چه بل نوم به ورله اږدی،

وے فرمايل : [اَلَيْسَ الْبَلْدَةَ؟] آيا دا مکه نهٔ ده؟ مونږ ووېل : ولے نهٔ، نو وے فرمايل :

[اِنَّ دِمَائَكُمْ وَاَمْوَالَكُمْ وَاَعْرَاضَكُمْ حَرَامٌ عَلَيْكُمْ كَحُرْمَةِ يَوْمِكُمْ هٰذَا فِيْ بَلَدِكُمْ هٰذَا، فِيْ شَهْرِكُمْ هٰذَا]

يـقيناً ستاسو وينے او ستاسو مالونه او ستاسو عزتونه په يو بل باندے داسے حرام دی لـکـه څنگـه چه پدے ورځ کښے ستاسو په ښار کښے او پدے مياشت کښے قتل وقتال حرام دے۔

بل ئے دا خبره وکړه : [اَلَا لَا وَصِيَّةَ لِوَارِثٍ] اے خـلکو ! خبر شئ، د وارث دپاره وصيت نشتـه، (نهٔ صحيح کيږی، پخوا به وارثانو ته وصيت کيدو هغه ختم شو، بلکه وارثانو ته الله ميراث ورکړيدے هغه به ورکولے شی)

بله خبره ئے دا وکړه :

[اَلَا لَا يَجْنِیْ جَانٍ عَلٰی نَفْسِهٖ، اَلَا لَا يَجْنِیْ عَلٰی وَلَدِهٖ]

يـو تـن دے په خپل ځان باندے جنايت نهٔ کوی۔ خبر شئ چه يو تن دے په خپل بچی باندے جنايت نهٔ کوی (لکه د عربو عادت وو چه د بچی په سر کښے به ئے پلار وژلو)

دا خبره ئے هم وکړه :

[اِنَّ الشَّيْطَانَ قَدْ اَيِسَ اَنْ يُّعْبَدَ فِیْ بَلَدِكُمْ هٰذَا اَبَدًا]

شيـطـان ددے نـه نـا اميـده شو چه ستاسو پدے ښار کښے د هغهٔ بندگی وشی، يعنی شرك ختم شو۔

[وَلٰكِنْ سَتَكُوْنُ لَهٗ طَاعَةٌ فِيْمَا تَحْتَقِرُوْنَ مِنْ اَعْمَالِكُمْ فَيَرْضٰی بِهَا]

ليکن د شيطان طاعت به کيږی په هغه کارونو کښے چه تاسو ئے واړهٔ گنړئ، نو پدے

Maktaba Tul Ishaat.com

به شیطان خوشحاله وی (چه الله نه خو مے واړه ول، دا دیر عجیب روایت دے چه ددے نه معلومیږی چه څوك د توحید عقیده زده کړی او موحد بنده ترے جوړ شی نو هغه په ګناهونو کښے ے باکه شی چه هسے هم زۀ صحیح عقیدے والا یم، او الله په صحیح عقیده جنت ورکوی نو ځان د جنت تهیکدار ګنړی نو د ډیرو ګناهونو نه ځان نۀ ساتی، نو نبی ﷺ فرمائی : چه تاسو باندے به شیطان ګناهونه کوی او پدے به هغه خوشحالیږی، نو ددے نه دا معلومه شوه چه که څوك ځان کمال ته رسوی نو د عقیدے د جوړه ولو نه بعد به د وړو وړو ګناهونو نه هم ځان ساتی۔ او د وړو وړو مستحباتو لحاظ ساته نو یو قیمتی انسان به درنه جوړ شی۔

او ورسره د قصاص مسئلے ئے دوباره وکړے۔

او په نورو ورځو د مِنیٰ کښے هم رسول الله ﷺ خلکو ته تعلیم ورکولو او مسئلے به ئے بیانولے او ذکر اذکار به ئے کول، نو ذکر او دعوت د هغۀ کار وو۔

د حج نه پس :

درے ورځے ئے جمرات ویشتل او بیا مکے طرفته روان شو۔ نو په لاره کښے مُحَصَّب راځی چه پدے کښے لاندے یو خوړ تیر شویدے اُوس پکښے یو مسجد هم جوړ شویدے، او دا په عزیزیه علاقه کښے دے، دلته رسول الله ﷺ راکوز شو او دلته ئے د ماسپخین او مازیګر او ماښام او ماسخوتن مونځونه وکړل بیا اُوده شو تر سهار پورے۔

پدے ځائے کښے عائشے رضی الله عنها شکایت وکړو چه اے د الله رسوله! تاسو به مدینے ته حج او عمرے دواړو سره واپس کیږئ او ما خو صرف حج وکړو (او عمره رانه د بیماریٔ په وجه پاتے شوه)

نو رسول الله ﷺ د هغے ورور عبد الرحمن بن ابی بکر ؓ سره ملګرے کړه او هغۀ په اُوښ باندے کینوله او دا ئے ورته وویل چه د سهار په مانځه کښے به په بیت الله کښے ملاویږو، نو هغه لاړه او د تنعیم نه ئے د عمرے نیت وتړلو او راغله عمره ئے وکړه دلته رسول الله ﷺ چه کله شپه تیره کړه نو ملګرو ته ئے اعلان وکړو چه پاځیږئ او حرم ته ورشئ او طواف وداع وکړئ، نو د سهار مانځه نه مخکښے ئے طواف وداع وکړو بیا ئے د سهار مونځ وکړو او په هغے کښے ئے سورة الطور ولوستلو،

ام سلمه رضی الله عنها فرمائی : چه زۀ بیماره وم په مانځه کښے شریکه نشوم او ما

Maktaba Tul Ishaat.com

شا ته شاته په اُوښ باندے طواف کولو، او رسول الله ﷺ دا سورت لوستلو۔
هرکله چه د مانځه نه فارغ شو نو مدینے طرفته روان شو۔

مدینے ته واپسی :

کله ئے چه طواف وداع وکړو نو رسول الله ﷺ سیده د ګدَاء په علاقه باندے ووتو او مدینے طرفته روان شو۔
رسول الله ﷺ په مکه کښے ایسار نشو چه داسے ووائی چه دلته یو مونځ په یو لاکھ دے او بس دے ته به پراتۀ یو، نه، بلکه د رسول الله ﷺ په سر باندے بیا مجاهده او ضروری کارونه پراتۀ وو، استراحت دپاره نۀ واپس ګیدو چه بس حج وشو اُوس به خوبونه کوو بلکه نور کارونه او د الله دپاره ئے مشقتونه برداشت کول۔
او کوم صحابه کرام رضوان الله علیهم اجمعین چه بهر ملکونو کښے وسیدل هغوی خپلو خپلو علاقو ته واپس شو او کوم چه په مکه کښے وسیدل هغوی پاتے شول۔
او مدنی پیغمبر د خپلے مدنی قافلے سره په خیریت سره مدینے ته ورسیدو۔

ددے حج نه روستو نبی ﷺ په ربیع الاول میاشت کښے وفات شو، نو په محرم او صفر او ربیع الاول میاشت کښے د الله رسول کوم کارونه وکړل ؟ د هغے بیان روستو لیکلے کیږی :

Maktaba Tul Ishaat.com



د یولسم کال کارونه:

آخری فوج لیږل - بعث اسامه رضی الله عنه:

کله چه رسول الله ﷺ د حج نه راواپس شو او د ذو الحجې میاشت ختمه شوه نو په محرم میاشت سره نوی کال یولسم (۱۱) د هجرت شروع شو نو پدې میاشت کښې نبی ﷺ څه خاص سرایا او جماعتونه ونهٔ لیږل، خو چه کله د صفر میاشت راغله نو ددې په آخر کښې نبی ﷺ یو لښکر او فوج ولیږلو چه اسامه بن زید رضی الله عنه ئې د هغې امیر مقرر کړو چه دې وخت کښې دې د اتلسو (۱۸) کالو په عمر وو، (چه سمه ګیره به ئې هم لا نهٔ وه راغلې) او دا ئې د مشرانو صحابه کرامو امیر وګرزولو چه په هغې کښې عمرفاروق رضی الله عنه هم وو، او ابوبکر صدیق د رسول الله ﷺ په امر سره پاتې شو چه خلکو ته مونځونه وکړي.

دوی ته ئې وویل چه تاسو به د ﻓ ـطین زمکه کښې داروم او بلقاء (اُردن) علاقې ته ځئ چه دغه علاقه کښې د رومیانو بادشاهي وه او ددې خواو شا ته عرب وسیدل،

نو پدې فوج کشئ کښې مقصد دا وو چه هغوی ته دا خودل دی چه د نبی ﷺ او د مسلمانانو طاقت په یواځې غزا د تبوك باندې ختم شوې نهٔ دې، بلکه هغه به وخت په وخت فوجونه رالیږي او تاسو به ذلیله کوي،

او ددې دپاره چه د عربو خلکو اطمینان پیدا شي چا چه ایمان راوړیدې او د رومیانو نصاراؤ په زړونو کښې رعب اچول دي، او دا خبره ورښکاره کول چه مسلمانانو سره طاقت شته، د حملو اراده چرته ونکړئ، (د مسلمانانو طاقت ښکاره کول ضروری دی) (الرحیق المختوم)

بل غرض دا وو چه رسول الله ﷺ به زید بن حارثه رضی الله عنه او د جعفر بن ابی طالب رضی الله عنه او

Maktaba Tul Ishaat.com

د عبد الله بن رواحه ﷺ شهادتونه د سترګونه نهٔ بهر کیدل او پدے زمانه کښې رسول الله ﷺ په دوئ باندے ډیر سخت غمجن شوے وو نو رسول الله ﷺ حکم وکړو چه د دغه خلکو نه بدله واخلی۔ (امتاع)

دارنګه د رسول الله ﷺ یو ملګرے فروه بن عمرو الجُذامی ﷺ چه د شام ګورنر وو د رومیانو د طرف نه هغه رومیانو پدے وجه قتل کړو چه په رسول الله ﷺ باندے ئے ایمان راوړے وو، نو رسول الله ﷺ د هغهٔ بدله هم اخستله۔

بعض اهل سیرت لیکی چه هرکله په صفر میاشت کښې څلور ورځے پاتے شوے او د یوم الاثنین (پیر) ورځ شوه نو رسول الله ﷺ حکم وکړو چه تاسو د رومیانو د غزا دپاره څانونه تیار کړئ، کله چه صبا شو نو رسول الله ﷺ اسامه بن زید ﷺ راوغوښتو او هغهٔ ته ئے ووئیل چه

[سِرُ اِلیٰ مَوْضِعِ قَتْلِ اَبِیْكَ فَاَوْطِئْهُمُ الْخَیْلَ]

تهٔ د خپل پلار د شهادت ځائے ته لاړ شه او هغه خلکو باندے په اسونو سره حمله وکړه او په اسونو سره ئے پائمال کړه، تهٔ ما ددے فوج مشر کړے، او سهار وخت کښې په اُبْنیٰ والو باندے حمله وکړه او د هغوی کورونه وسیزه او په جلتئ سره لاړ شه چه ستا نه خبرونه هغوی ته مخکښې ونهٔ رسیږی،

[فَاِنْ ظَفِرَكَ اللّٰهُ فَاَقِلَّ اللُّبْثَ فِیْهِمْ وَخُذْ مَعَكَ الْاَدِلَّاءَ وَقَدِّمِ الْعُیُوْنَ وَالطَّلَائِعَ مَعَكَ]

نو که تا له الله فتح درکړه په هغوی باندے نو هلته ډیر مهٔ ایساریږه او ځان سره لارخودونکی خلك واخله او تا سره چه کوم ملګری دی ددے نه مخکښې جاسوسان او خبر راوړونکی ولیږه۔

کله چه یوم الاربعاء (د چارشنبے ورځ) شوه نو په نبی ﷺ باندے دردونه د وفات شروع شو نو تبه او سردرد پرے راغلو، نو کله چه د زیارت ورځ شوه نو نبی ﷺ د اسامه ﷺ دپاره په خپل لاس سره جنډه وتړله بیائے ورته ووئیل :

[اُغْزُ بِاسْمِ اللّٰهِ وَفِیْ سَبِیْلِ اللّٰهِ وَقَاتِلْ مَنْ كَفَرَ بِاللّٰهِ]

تهٔ د الله په نوم غزا کوه او د الله د رضا دپاره او د هغه چا سره وجنګیږه چه الله باندے کفر کوی۔ (السیرة الحلبیة ۲۲۷/۳)

Maktaba Tul Ishaat.com

پدې فوج کښې عامو مسلمانانو ته حکم وو چه دوئ به ځې لښ شان خلك به پاتې کیږي،

هرکله چه اسامه رضی الله عنه امیر مقرر شو نو بعض کسانو پدې باندې اشکال وکړو چه دلته مشران تکړه مجاهدین انصار او مهاجرین موجود دي، او په مونږ باندې اسامه رضی الله عنه یو کشر مجاهد مشر کوی، د دوو وجو نه دا اشکال وو،

یو دا چه دا یو کشر دے، او کله چه کشر د مشرانو په مخامخ خبرې کوی نو مشرانو له پدې باندې یو قسم طبعاً قهر ورځی، او زړهٔ کښې ورته یو قسم خفګان واقع کیږي۔

دویمه وجه دا ده چه اسامه رضی الله عنه د غلام ځوی دے۔ (په بل تعبیر بهر ملکے سړے دے)، او د عربو خلکو عادت دا وو چه د احرارو ډیر عظمت به ئے په زړهٔ کښې وو او غلامان به داسې وو لکه ے نسبه او مزدوران شان،

دا مزاج خو چونکه د صحابه کرامو نهٔ وو هغوی خو ډیر اُوچتو اخلاقو او مزاجونو والا دي، لیکن په معاشره کښې خو منافقان خلك شته هغوی اعتراض وکړو چه مونږ د اسامه رضی الله عنه امارت نهٔ منو، خو مقابله ئے نشوه کولے، د نبی ﷺ نه یریدل،

نو نبی ﷺ پرې خبر شو، هغه مسجد ته راووتو چه سرئے تړلے وو او شړئ ئے اغوستے وه او منبر ته وختو او د الله حمد او ثناء نه پس ئے وویل چه دا څه خبره ده چه ما ته ستاسو د طرف نه رارسیدلے ده کله چه ما اسامه رضی الله عنه امیر جوړ کړو۔ (السیرة الحلبیة)

بیا ئے وفرمایل :

[اِنْ تَطْعَنُوْا فِیْ اِمَارَتِهٖ فَقَدْ کُنْتُمْ تَطْعَنُوْنَ فِیْ اِمَارَةِ اَبِیْهِ مِنْ قَبْلُ، وَاَیْمُ اللّٰهِ، اِنْ کَانَ لَخَلِیْقًا لِلْاِمَارَةِ وَاِنْ کَانَ مِنْ اَحَبِّ النَّاسِ اِلَیَّ وَاِنَّ هٰذَا مِنْ اَحَبِّ النَّاسِ اِلَیَّ بَعْدَهٗ]

[بخاری : ٣٧٣٠]

که تاسو دهٔ په امارت کښې خبرې کوئ نو تاسو به دهٔ د پلار په مشرئ کښې هم خبرې کولے، او قسم په الله چه هغه د مشرئ لائق وو او یقیناً چه هغه ما ته په ډیرو خلکو کښې زیات محبوب وو او دا هم د هغهٔ نه روستو ما ته د ډیرو خلکو نه زیات محبوب دے۔

(ددې نه دا فائده معلومه شوه چه د دین کار چه کوے نو دے روایت کښې ئے طریقه

Maktaba Tul Ishaat.com

خودلے شویده چه د الله او د رسول حکم ته به ګوري او د خلکو خولو ته به نۀ ګوري، که تۀ دے ته ګوري چه فلانے دا خبره کوي او دا شبهه پیدا کیږي، او خلك به دا وائی او د رواج خلاف به وشي نو بیا به هیڅ ونکړے).

(علماؤ لیکلی دی کومو منافقانو چه د اُسامه ﷺ په امارت اعتراض کړیدے نو دائے الله او رسول ته ضرر ورکړیدے، او دے کښے صحابه کرام یو هم نۀ وو چه د نبی ﷺ په صوابدید کښے شکونه یا اعتراضونه وکړي)

(**فائده**: کله چه یو هلك کښے اهلیت وی نو اګرکه کشر وی، هم مشر کول ئے عیب نۀ دے)

بیا رسول الله ﷺ خپل کور ته ننوتو او دا د خالی ورځ وه چه د ربیع الاول لس ورځے تیرے شوے وے. (السیرة الحلبیة)

نو خلك ټول د اسامه ﷺ د مشرئ د لاندے شو او هغے کښے ئے ځانونه ننویستل او دا فوج روان شو تردے چه د مدینے نه درے (۳) میله وړاندے "جُرف" علاقے ته ووتل او هلته ئے معسکر جوړ کړو او د ملګرو ترتیب ئے جوړه ولو لکه د جهاد یو خاص ترتیب وی، او دے دپاره چه پاتے شوی ملګری هم راورسیږی.

هرکله چه د اتوار ورځ شوه نو په رسول الله ﷺ باندے درد سخت شو، نو پدے کښے اُسامه ﷺ د خپل فوج نه د نبی ﷺ پوښتنے ته راغلو نو وے کتل چه نبی ﷺ په غنودګئ او بے هوشئ شان حالت کښے دے، نو د اُسامه سرئے راخکته کړو او هغه ئے خکل کړو او نبی ﷺ خبرے نشوے کولے نو دواړه لاسونه ئے آسمان ته پورته کړل بیا ئے په اُسامه ﷺ باندے کیخودل.

اسامه ﷺ وائی : ما ته پته ولګیده چه رسول الله ﷺ ما دپاره دعاء غواړی.

نو پدے کښے اُسامه ﷺ (په ډیر غم کښے) واپس خپل فوج ته ورغلو، فوج لا په دغه ځائے کښے ایسار وو، چه اُسامه ﷺ صبا له د (یوم الاثنین) په ورځ بیا نبی ﷺ خوا ته راغلو چه حال اَحوال معلوم کړی نو نبی ﷺ ورته وفرمایل :

[اُغْدُ عَلٰی بَرَکَةِ اللهِ فَوَدَّعَهٗ اُسَامَةُ وَخَرَّ اِلٰی مُعَسْکَرِہٖ]

د الله په برکت سره روان شه، نو اسامه ﷺ نبی ﷺ نه رخصت واخستو او واپس خپل معسکر ته راغلو.

Maktaba Tul Ishaat.com

او خلکو ته ئے د روانیدو امر وکړو پدے مابین کښے چه هغهٔ په اُوښ باندے د سوریدو اراده وکړه نو د هغهٔ مور (ام ایمن) استازے راولیږلو چه رسول الله ﷺ وفات کیږی۔

او په یو لفظ کښے دی: هرکله چه اسامه "جُرف" علاقے ته ورسیدو نو د هغهٔ ښځے فاطمه بنت قیس رضی الله عنها وریسے جواب ولیږلو چه جلتی مهٔ کوه ځکه چه رسول الله ﷺ بیمار دے۔

نو پدے کښے اُسامه ﷺ بیا رسول الله ﷺ خوا ته راروان شو او د هغهٔ سره عمر فاروق ﷺ او ابوعبیده بن الجراح ﷺ هم راغلو، نو رسول الله ﷺ ته په داسے وخت کښے راورسیدل چه رسول الله ﷺ د نزع په حالت کښے وو۔ نو رسول الله ﷺ د نمر د زائل کیدو په وخت کښے وفات شو۔

او یو بل روایت داسے دے چه هرکله اسامه ﷺ "ذی خُشُب" علاقے ته ورسیدو نو دے وخت کښے رسول الله ﷺ وفات شو نو هغه مسلمانان چه په "جرف" علاقه کښے ئے پړاؤ اچولے وو، هغوی بیرته مدینے ته راواپس شول او بریده ﷺ د اسامه ﷺ جنډه راوړه او د رسول الله ﷺ په خوا کښے ئے ناله کړه۔

بیا هرکله چه د ابوبکر صدیق ﷺ سره د خلافت بیعت وشو نو هغهٔ بریده ﷺ ته حکم وکړو چه دغه جنډه د اسامه ﷺ کور ته ویسی او اسامه ﷺ بیرته ولیږی۔

[السیرة الحلبیة ۳/۲۲۹]

دلته نور واقعات راغلل د هغے په وجه دا خلك لا دلته ایسار وو، دلته د نبی ﷺ د بیمارئ متعلق خبرونه اوریدل راوریدل چه الله څه فیصله کوی،

مګر دا خلك په انتظار کښے وو د نبی ﷺ په زمانه کښے لاړ نشو، د نبی ﷺ د وفات نه بعد د ابوبکر صدیق ﷺ په اول سر د دورِ خلافت کښے د اسامه ﷺ دا فوج روان کړو او رخصت ئے کړل لکه روستو راځی چه ملګرو ورته ووئیل چه دا واپس کول پکار دی، حالات برابر نهٔ دی، نو ابوبکر صدیق ﷺ سخت انکار وکړو چه زهٔ به څنګه هغه فوج راستون کړم چه د الله نبی لیږلے دے، دا خو د هغهٔ سنت ماتول دی، او کله ئے چه دا فوج ولیږو نو هدے لیږلو ډیره سخته فائده وشوه چه د کافرانو د یره ولو دپاره ډیره لویه ذریعه وګرځیده۔

د نبی ﷺ آخری تقریرونه :

پدے ورځو کښې د رسول الله ﷺ کار دعوت او د ملګرو ذهن سازی وه ځکه چه آخره زندګی ئے ده، د هغۀ هر وخت عادت دا وو چه د خلکو تربیت به ئے کولو لیکن دے وخت کښې ئے ډیرے مُهمے خبرے بیانولے، وخت په وخت به ئے مختصر بیانات کول۔

د نبی ﷺ د خپلو اعمالو او د اقوالو نه دا معلومیده چه رسول الله ﷺ ددے دنیا نه ځی او وفات کیږی، خلکو ته ئے داسے اشارات ورکول، مشر چه کله موجود وی نو د چا دا ګمان هم نۀ راځی چه دا به مری او دا علاقه به شړیږی او خاصکر په نبی ﷺ باندے دا ګمان چرته راتللو چه دا مجلس به خالی پاتے کیږی او یو غوره محبوب به ترے ځی۔

نو رسول الله ﷺ به د مخکښې نه د دوئ ذهن سازی کوله۔

په یو حدیث کښې دی : عبد الله بن عمر ﷺ فرمائی : په آخره زندګئ کښې رسول الله ﷺ یوه ورځ د ماسخوتن مونځ ملګرو ته وکړو او د مانځه نه بعد پاځیدو او وے فرمایل :

[اَرَاَیْتَکُمْ لَیْلَتَکُمْ هٰذِهٖ فَاِنَّ رَأْسَ مِائَةِ سَنَةٍ مِنْهَا لَا یَبْقٰی مِمَّنْ هُوَ عَلٰی ظَهْرِ الْاَرْضِ اَحَدٌ]

[بخاری : ۱۱٦ ومسلم :٦٦٤٢]

خبر شئ چه د نن شپے نه چه په مخ د زمکه څومره انسانان دی، هغه به په سلو کالو کښې ختمیږی۔ (یعنی که څوك نن شپه پیدا دے او که څوك مخکښې نه پیدا دے خو د سلو کالو نه به اخوا نۀ پاتے کیږی)

نو پدے خبره کښې د رسول الله ﷺ ډیرے فائدے وے،

یو د ملګرو ذهن سازی چه زمونږ څه زندګی ده، چه ددے قرن (پیړئ) سل کاله ژوند دے، د چا شل او د چا دیرش او د چا پنځوس او د چا اتیا تیر شویدی، او لږئ پاتے دے۔

نو پدے طریقه به دنیا پسے د دوئ زړونه نۀ انښلی چه دا خو غته زندګی ده ورسره راخکاړو به، چه کله سړی ته تحدید وشی چه دومره وخت کښې ستا مرګ یقینی دے، نو د هغۀ عقلمندی پیدا شی۔

Maktaba Tul Ishaat.com

دویم : دا خبره د الله د طرف نه وحی وه چه نبی ﷺ ته معلومه شوه او هغهٔ ددے غیبو خبر ورکړو۔ نو بله فائده دا ده چه د دغه شپے نه بعد صحابه کرام د سلو (۱۰۰) کالو نه زیات نهٔ دی پاتے شوی۔ او کومو کسانو چه د سلو (۱۰۰) نه بعد دا دعوه کړیده چه زهٔ هم صحابی یم نو هغه دروغجن دے، لکه دا دعوے پیریان ډیر کوی چه کله په چا باندے پیریان کینی نو هغه وائی چه ما نبی ﷺ سره ملاقات کړیدے۔

بله فائده امام بخاریؒ دا معلومه کړیده چه د صوفیاؤ دا عقیده هم غلطه ده چه خضر علیه السلام ژوندے دے، او په دنیا کښے په مختلفو ځایونو کښے ګرځی، نبی ئے د وحوشو او مارغانو سره دوست کړیدے او هیڅکله هم انسانانو ته رانغلو چه د هغوی تربیت وکړی، هغوی سره جهادونو کښے شریك شی، او که بالفرض هغه ژوندے وو نو پدے حدیث سره د هغهٔ وفات یقینی شو۔

(تصوف الله ته د رسیدو لاره نهٔ ده بلکه پدے سره بندګان د الله نه او د کتاب او د سنت او د جهاد نه اوړی، د خرافاتو او د غلطو عقیدو نه ډك دے)

پدے حدیث باندے د بعض آوریدونکو ذهن کولاؤ نشو، نو چا روستو وویل چه د نبی ﷺ مقصد دا دے چه قیامت به سل (۱۰۰) کاله پس راځی۔

دا خبره خلکو کښے خوره شوه نو عبد الله بن عمر ﷺ خلکو ته بیان وکړو چه دا د نبی ﷺ مقصد نهٔ دے، (فقه فی الدین ډیر ضروری شے دے) بلکه مقصد دا دے چه [اَنْ یَّنْخَرِمَ ذٰلِكَ الْقَرْنُ] چه دا پیړئ به ختمیږی او هرچه د قیامت علم دے نو هغه خو صرف د الله سره دے۔ (مسلم : ٦٦٤٢)

امام بخاریؒ ددے حدیث نه دا فائده هم راوخکلے ده چه د ماسخوتن نه بعد خبرے اترے کول ښهٔ نهٔ دی، دا د عربو عادت وو چه د ماسخوتن نه بعد به ئے قصے کولے او دا غلط مرض زمونږ دے زمانه کښے څو مره زیات دے چه خلك په اخبارونو، کیبل او نیټ ته ناست وی او بیټهکونو کښے هسے ګپے شپے لګوی، شریعت ددے نه منع کړیده لیکن بعض څیزونو کښے ئے اجازه ورکړیده او هغه دا چه تعلیم او تعلم کول لکه دے حدیث کښے دا کار شویدے، یا د میلمه سره کینی، یا د خپلے بی بی سره خبرے اترے کوی، لنډه دا چه دین سره متعلق کارونه او خبرے جائز دی۔

بل تقریر : عبد الرحمن بن عمرو السلمیؒ او حُجر بن حُجر دواړه فرمائی چه مونږ

Maktaba Tul Ishaat.com

د عرباض بن ساریه رضی الله عنه خوا ته راغلو او دا هغه کسانو نه دے چه ددهٔ په باره کښے دا آیت نازل دے :

﴿ وَلَا عَلَى الَّذِينَ إِذَا مَا أَتَوْكَ لِتَحْمِلَهُمْ قُلْتَ لَا أَجِدُ مَا أَحْمِلُكُمْ عَلَيْهِ ﴾

(یعنی په تبوك غزا کښے ورسره سورلی نهٔ وه نو د نبی ﷺ نه ئے سورلئ غوښته خو ورته ملاو نشوه نو په ژړا ژړا واپس شو)

مونږ په هغهٔ باندے سلام واچولو او دا مو ورته وویل چه مونږ ستا ملاقات ته او ستا پوښتنے ته او ستا نه علم حاصلولو دپاره راغلی یو۔

نو عرباض بن ساریه رضی الله عنه وفرمایل : مونږ ته یوه ورځ رسول الله ﷺ مونځ وکړو او د مانځه نه پس ئے مونږ ته مخ راوګرزولو

[فَوَعَظَنَا مَوْعِظَةً بَلِيغَةً ذَرَفَتْ مِنْهَا الْعُيُونُ وَوَجِلَتْ مِنْهَا الْقُلُوبُ]

نو مونږ ته ئے داسے تاثیرناك نصیحت وکړو چه د هغے په وجه د خلکو سترګے وبهیدلے او زړونه ئے وبریدل۔ نو یو تن وویل : یا رسول الله

[كَأَنَّهَا مَوْعِظَةُ مُوَدِّعٍ]

تا خو داسے تاثیرناك بیان وکړو لکه یو تن چه قوم لره رخصتونکے وی او د دنیا نه ځی نو داسے تاکیدات ورته کوی۔

[فَمَاذَا تَعْهَدُ إِلَيْنَا] نو تهٔ مونږ ته څه وصیت کوے؟۔

په بل روایت کښے دی : [فَأَوْصِنَا] مونږ ته وصیت وکړه۔

(دا مخکښے هم وصیتونه او نصیحتونه وو لیکن ددے دپاسه یو خصوصی بل وصیت وکړه)

نو نبی ﷺ ورته دا ونهٔ وئیل چه نه، زهٔ نهٔ رخصتیږم بلکه د هغهٔ تائید ئے وکړو او وے فرمایل :

[أُوصِيكُمْ بِتَقْوَى اللَّهِ وَالسَّمْعِ وَالطَّاعَةِ وَإِنْ عَبْدًا حَبَشِيًّا]

اے خلکو ! زهٔ تاسو ته د الله نه په تقویٰ باندے وصیت کوم (د پرهیز ژوند تیر کړئ، په هر ځائے کښے د الله د حکمونو پابندی وکړئ دے ته تقویٰ وائی)

دویم : د امیر تابعداری به کوئ د هغهٔ خبره به آورئ او هغه به منئ اګرکه په تاسو باندے یو حبشی غلام مشر کړے شی۔

Maktaba Tul Ishaat.com

(ددې اميرانو نه مراد خليفه دې، او هغه امير چه په جهاد وغيره کښې په تا باندې مقرر شو. يا په سفر کښې مقرر شو، او دا د کاميابئ لاره ده، پدې سره پريشانيانې ختميږي، وحدت او اتفاق پيدا کيږي)

بيا ئې وفرمايل :

[فَإِنَّهُ مَنْ يَّعِشْ مِنْكُمْ بَعْدِيْ فَسَيَرَى اخْتِلَافًا كَثِيْرًا]

ځکه چه تاسو کښې چه څوک زما د وفات نه روستو ژوندې پاتې وو نو ډير زر به ډير اختلافات ويني.

(او واقعي دغه شان اختلافات پيدا شو او په آخره زمانه کښې خو د اختلافاتو سيلابونه دي، د صحابه کرامو رضوان الله عليهم اجمعين په زمانه کښې په ديني مسائلو کښې اختلافات تقريباً نۀ وو، که کوم معمولي شان اختلاف به راغلو نو کله چه به نص (کتاب او سنت) پيش کړې شو نو اختلاف به ختم شو.

البته لږ شان اختلافات د خلافت او امارت په مسئلو کښې د علي ﷺ په زمانه کښې راپيښ شو، بيا روستو زمانه کښې زيات شو.

بيا روستو زمانو کښې عقيدوي اختلافات راغلل، د خلکو عقيدې خرابې شوې، جهميه، معتزله، شيعه، خوارج، قدريه، جبريه، اهل الرأي او مبتدعين پيدا شو، چه د خپلې رائې پسې به روان وو، حديثونه به ئې ورانول).

نو اُوس ددې اختلاف نه د بچ کيدو طريقه ښائي :

[فَعَلَيْكُمْ بِسُنَّتِيْ وَسُنَّةِ الْخُلَفَاءِ الرَّاشِدِيْنَ]

نو طريقه دا ده چه زما سنت طريقې راونيسئ (د رسول الله ﷺ په زمانه کښې چه څه وو هغه کوه او چه څه نۀ وو نو هغه مۀ کوه نو بس د اختلاف نه بچ ئې، څوک ډيو مذهب ته او څوک بل ته ډې راکاږي او د نبي ﷺ په زمانه کښې دا يو مذهب هم نۀ وو، نو دا ټول پريده او په سنت طريقو باندې عمل کوه نو بس تۀ کامياب ئې او د اختلافاتو نه بچ ئې،

د صوفيهٔ څلور طريقې دي، څوک به ډې چشتي کوي، څوک سهروردي، څوک نقشبندي او څوک قادري، نو تۀ به ورته ووائې چه دا ډلې د رسول الله ﷺ په زمانه کښې نۀ وې نو ددې کښې به نۀ ننوزې ورنه د حقې لارې نه به واوړې.

Maktaba Tul Ishaat.com

امام مالكؒ فرمائي :

[مَثَلُ السُّنَّةِ كَسَفِيْنَةِ نُوحٍ -عَلَيْهِ السَّلَامُ- مَنْ رَكِبَهَا نَجَا وَمَنْ تَخَلَّفَ عَنْهَا غَرِقَ]

مجموع الفتاوی لابن تيمية : [۱۱/۶۲۳]

د نبي ﷺ د سنت مثال د نوح عليه السلام د كشتۍ دے څوك چه پدے كښے سور شو نو نجات به ومومي او څوك چه ددے نه روستو پاتے شو نو غرق به شي۔

دويم : [وَسُنَّةِ الْخُلَفَاءِ الرَّاشِدِيْنَ الْمَهْدِيِّيْنَ]۔

او د خلفاءِ راشدينو طريقه راونيسئ څكه چه هغوی زما په طريقه عمل كړيدے، (يعني ابوبكر او عمر او عثمان او علي رضي الله عنهم)

(د دوئ په لاره باندے ئے خصوصي امر پدے وجه وكړو چه د نبي ﷺ په زمانه كښے بعض سنت طريقے غير مشهورے وے نو د دوئ په زمانه كښے ئے الله مشهوره وی، څكه چه د نبي ﷺ احاديث صحابه كرامو مختلفو علاقو ته وړی وو،

نو د دوئ په دور خلافت كښے به دا بيا مشهوريږی، نو داسے به نۀ وايئ چه دا خبره ما نۀ ده آوريدلے، ابوبكر صديق ؓ ئے كوی زۀ نۀ منم، يا عمر فاروق ؓ ئے كوی، زۀ ئے نۀ منم۔

ددے نه دا معلوميږی چه خلفاءِ راشدين د نبي ﷺ قصداً خلاف هيڅكله نۀ كوی، او په دين كښے د ځان نه مسئلے نۀ جوړه وی، بعينه په هغه مسئلو عمل كوی كوم چه نبي ﷺ خودلی دی، او د خلفاءِ راشدينو په زمانه كښے چه كومه فضاء وه هغه لاره اختياره كړئ۔

[تَمَسَّكُوا بِهَا وَعَضُّوا عَلَيْهَا بِالنَّوَاجِذِ]۔

(زما طريقه او د خلفاءِ راشدينو طريقے كلكے راونيسئ او پدے باندے د جامے غابښونه ولګوئ (چه څوك ئے درنه رانۀ كاږی، او ددے وجه دا ده چه قيمتي شے خلك تښتوی، او هغه تا نه ورك كوی، نو د نبئ ﷺ او د خلفاء راشدينو د سنت طريقو دشمنان ډير دی، شيطانان، كافران، نفسونه، بدعت او خرافات ئے دشمنان دی، هغوی به ئے درنه ورك كوی، ليكن تۀ به ورپورے كلك انښتے ئے، ددے معنیٰ دا ده چه كه پلار درته وئيل يا استاذ وئيل يا ښځے وئيل يا معاشرے او دوست او رواج وئيل چه دا سنت طريقه پريده نو هغه به نۀ پريدے، پدے باب كښے به خپل عزت او غيرت لرے كړے او سنت

Maktaba Tul Ishaat.com

طریقې به راونیسې، د خلکو د خبرو نه به نهٔ یریږې، نهٔ د چا د ملامتیا نه).

[وَإِيَّاكُمْ وَمُحْدَثَاتِ الْأُمُورِ فَإِنَّ كُلَّ مُحْدَثَةٍ بِدْعَةٌ وَكُلَّ بِدْعَةٍ ضَلَالَةٌ]

او ځانونه د نوی کارونو پیدا کولو نه بچ وساتئ ځکه چه په دین کښې هر نوے کار پیدا کول بدعت دے او هر بدعت ګمراهي ده. [ابو داود : ٤٦٠٩ والترمذی : ٢٦٧٦]

او په یو بل حدیث کښې ورسره دی [وَكُلُّ ضَلَالَةٍ فِي النَّارِ] او هر بدعت به اُور ته ځی.

دا ډیر جامع نصیحت او وصیت د نبی ﷺ دے چه امت ته ئے کړیدے.

۳- د شهداءِ اُحُد ملاقات :

کله چه د نبی ﷺ بیخی آخری زندګی شوه نو یوه ورځ د اُحد د شهیدانو د قبرونو ملاقات له ورغے، اُحد په مدینه کښې یو غر دے چه دلته دوه مقبرے دی، یوه مقبره کښې حمزه ﷺ او عبد الله بن جحش ﷺ او مصعب بن عمیر ﷺ خخ دی، او بعض وائی تر لسو پورے دی.

او بله شا ته مقبره ده چه په هغے کښې پنځوسو شپیتو پورے صحابه کرام پراته دی.

نو نبی ﷺ دغه مقبرے له ورغے او په هغوی ئے سلام واچولو او په هغوی باندے ئے یواځے د جنازے مونځ وکړو د قبرونو په خوا کښې او دا کار د دوئ د شهادت نه اته (۸) کاله پس وشو.

ددے نه دا معلومیږی چه په قبر هم جنازه شته په هغه وخت کښې چه په مړی جنازه نهٔ وی شوی یا د یو سړی شوق زیات دے چه زهٔ پدے سړی جنازه کوم نو کولے ئے شی،

عبد الله بن عمر ﷺ نه به چه کله جنازه فوت شوه نو بیا به ئے په قبر ورله جنازه کوله. عقبه بن عامر ﷺ فرمائی :

[كَالْمُوَدِّعِ لِلْأَحْيَاءِ وَالْأَمْوَاتِ]

ګویا که رسول الله ﷺ ژوندی او مړی دواړه رخصته وی، او دوئ ته دا خبر ورکوی چه زهٔ روان یم بیا به ستاسو زیارت له نهٔ راځم.

(مقبرے ته تلل او مړو ته دعا کول مړو ته ډیر خیرونه ورکوی، په حدیث کښې دی چه په مړو باندے د ژوندو د دعاګانو په وجه قبرونو ته دومره خیرونه ورنازلوی لکه د غرونو

په شان۔ دا په مونږ یو لازم حکم دے، چه الله فرمائی :

﴿وَاسْتَغْفِرْ لِذَنْبِكَ وَلِلْمُؤْمِنِينَ وَالْمُؤْمِنَاتِ﴾ [محمد ۱۹]

بخنه غواړه د خپل ځان دپاره او مومنو سړو او مومنانو ښځو لره۔

پدے دعاګانو سره مړے د پریشانیانو نه خلاصیږی داسے وی لکه چه هغه د جیل نه راوباسی، مګر دا خبرے یقین غواړی۔

بیا نبی ﷺ د مقبرے نه سیده راغے او مسجد نبوی کښے منبر ته وختلو۔

او داسے ئے وفرمایل :

[إِنِّي بَيْنَ يَدَيْكُمْ فَرَطٌ وَأَنَا عَلَيْكُمْ شَهِيدٌ]

اے خلکو ! زهٔ ستاسو نه مخکښے تلونکے یم،

(فرط هغه چا ته وائی چه د قافلے نه مخکښے لاړ شی د هغوی دپاره تیارے کوی، نو نبی ﷺ به حوض کوثر باندے ناست وی، او شفاعتونه به کوی)

او زهٔ به په تاسو ګواهی کوم چه دا زما امت دے او مؤمنان دی، اے الله ! دوی ته بخنه وکړه او جنت ته ئے داخل کړه۔ او د خپل تبلیغ ګواهی به هم ورکوی چه ما دوئ ته دین رسولے دے۔

دریمه خبره ئے دا وکړه :

[وَإِنِّي لَسْتُ أَخْشَى عَلَيْكُمْ أَنْ تُشْرِكُوا بَعْدِي وَلَكِنِّي خَشِيتُ عَلَيْكُمُ الدُّنْيَا أَنْ تَنَافَسُوهَا]

او زهٔ ددے نه نهٔ یریږم چه تاسو به زما نه پس شرك وکړئ (وجه دا ده چه کله د یو تن په توحید باندے ذهن کولاؤ شی او الله ورله بصیرت ورکړی نو هغه بیرته شرك ته نهٔ اوړی، شرك تیارهٔ ده، توحید رڼړا ده، تقلید تیارهٔ ده، اتباع سنت رڼړا ده، باطل تیارهٔ ده، حق رڼړا ده، کله چه یو تن عقلمند وی نو د رڼړا نه پس تیارهٔ نهٔ خوښوی)

لیکن زما یره دا ده چه تاسو باندے به دنیا فراخه شی نو تاسو به ددے سره د یو بل نه سیالی وکړئ (د دنیا محبت به مو ونیسی، د آخرت نه به مو مشغوله کړی)

[بخاری :۴۰۴۲]

۳- بقیع ته ورتلل :

کله چه د نبی ﷺ د وفات وخت ببخی رانزدے شو او د صفر میاشتے بالکل آخر سر دے، نو نبی ﷺ د شپے راپاځیدو، د هغهٔ یو آزاد کړده غلام ابو مُوَيْهِبَه وو چه په

مسجد نبوی کښې به اُودۀ کیدو نو نبی ﷺ هغه هم ځان سره راپاڅولو او دا ئې ورته وویل چه ما ته امر شوید ے چه بقیع والا (مقبرے) ته دعاء وکړه او په دوئ باند ے سلام واچوه (په عامو اوقاتو کښې به هم نبی ﷺ د شپې مقبرے ته ورتللو عائشه رضی الله عنها فرمائی چه کله به زما نمبز وو نو نبی ﷺ به د شپې بقیع مقبرے ته ورتللو (یعنی هفته کښې یو کرت) او یواځې به تللو لیکن دا ځل ئې ځان سره غلام واخستو دے دپاره چه دا کومے خبرے کوی چه دے ئې یادے کړی او بیا ئې خلکو ته بیان کړی)
نو دواړه لاړل وے او د قبرونو خوا کښې ودریدو او داسې ئې وویل :

[اَلسَّلَامُ عَلَيۡكُمۡ يَا اَهۡلَ الۡمَقَابِرِ لِيَهۡنِ لَكُمۡ مَا اَصۡبَحۡتُمۡ فِيۡهِ مِمَّا اَصۡبَحَ فِيۡهِ النَّاسُ]

اے قبرونو والو ستاسو دے هغه حالت مبارك وی چه تاسو په هغې کښې یئ (یعنی نعمتونه) د هغې نه چه خلك په هغې کښې دی. (خلك په مشکلاتو او مصیبتونو او فتنو کښې دی) او تاسو الله د فتنو نه خلاص کړی یئ.
بیا ئې وفرمایل :

[اَقۡبَلَتِ الۡفِتَنُ كَقِطَعِ اللَّيۡلِ الۡمُظۡلِمِ يَتۡبَعُ اَوَّلَهَا آخِرُهَا، اَلۡآخِرَةُ شَرٌّ مِنَ الۡاُوۡلٰى]

داسې فتنې مخامخ راروانې دی لکه د تورے شپې ټکړے، چه روستنۍ به د مخکنۍ پسې متصله روانه وی، روستنۍ به د مخکنۍ نه ډیر شر (ضرر) والا وی.
(هر هغه شے چه تا د دین نه اړه وی، یے ځائے د مسلمانانو خپل مینځ کښې جنګ جګړے، غلطې عقیدے جوړه ول، خرافات او بدعات ایجاد کول، داسې اسباب پیدا کیدل چه په هغې سره خلك د دین نه اوړی، د الله د ذات نه غفلت ته فتنه وائی، ددے وجه نه بچو او مالونو ته هم فتنه وئیلے شویده، بعض فتنې حرامې وی او بعض حلالې خو تا به خرابوی، نو احتیاط به کوے چه تا خراب نکړی،
نبی ﷺ د ابوجهم رالیږلے یوه توره شړه واچوله چه په هغې کښې نبنې وے په مانځه ودریدو او دوه درے کرته ئې د هغې اعلامو (نبنو) ته خیال شو نو د مانځه نه روستو ئې هغه شړئ ابوجهم ته ولیږله او هغۀ ته ئې وویل چه ستا ساده شړئ راکړه ځکه چه

[فَاِنَّهَا كَادَتۡ اَنۡ تَفۡتِنَنِيۡ عَنۡ صَلَاتِيۡ]

دا نزدے وه چه زۀ ئې د مانځه نه په فتنه کښې اچولے وے.
نو دے ته هم نبی ﷺ فتنه ووئیله چه په مانځه کښې د یو شیٔ په وجه توجه خرابه

Maktaba Tul Ishaat.com

شي،

اُوس فکر کوه چه ستا مخې ته به څومره فتنې وي، یاران دوستان، دوکان، بچې، کورونه، بازارونه، جدید آلات فتنې دي، د بجلۍ په ذریعه چه کوم آلات پیدا شویدي انسانان ئې تباه کړل، د ایمان نورانیت د ډیرو انسانانو نه ختم شویدے، د اصلي دین او د اصلي زندګۍ نه مونږ ډیر انسانان خبر نهٔ یو، اصل زندګي د مؤمنانو چه څنګه وي هغه زمونږ نشته، هسې اُوده شان یو،

دے وخت کښې بعض ملیان فتنه ده چه جمات کښې به ناست وي او غلط دعوت به کوي، قرآن او حدیث نه به خلك اړه وي، چه د چا څومره ایمان مضبوط وي، هغهٔ ته هر ځائے کښې فتنې ښکاره کیږي، او چه ایمان ډیرے کمزورے وو نو فتنو کښې به ننوتے ئے لیکن هغه به تا ته فتنه نهٔ ښکاره کیږي، کله چه ستا تعلق د الله سره جوړ شو نو بیا به درته فتنې ښکاره شي)

دا فتنې د نبي ﷺ په زمانه کښې نهٔ وے او د هغهٔ د مرګ نه روستو راکولاوے شوے او د عمر فاروق ﷛ په شهادت سره د قتل وقتال دروازه هم راکولاوه شوه لکه یو صحیح حدیث کښې دي چه تر څو عمر فاروق ﷛ ژوندے وي نو فتنې الله ختمې کړیدي او دهٔ په مرګ سره به فتنې راکولاویږي)۔

ابو مُوَیهبه وائي بیا رسول الله ﷺ ما ته متوجه شو او وے فرمایل :

[یَا اَبَا مُوَیْهِبَةَ اِنِّیْ قَدْ اُوْتِیْتُ مَفَاتِیْحَ خَزَائِنِ الدُّنْیَا وَالْخُلْدَ فِیْهَا ثُمَّ الْجَنَّةَ وَخُیِّرْتُ بَیْنَ ذٰلِكَ وَبَیْنَ لِقَاءِ رَبِّیْ عَزَّ وَجَلَّ وَالْجَنَّةِ]

اے ابو مویهبه ! ما ته د دنیا د خزانو او پدے کښې د همیشوالي او بیا جنت ته داخلیدو اختیار راکړے شو چه دا غوره کوے او که اُوس د رب ملاقات او جنت ته رسیدل۔

ابو مویهبه وائي چه ما ورته وویل : زما مور او پلار دے تا نه قربان شي تهٔ د دنیا خزانې او پدے کښې همیشوالے او بیا جنت غوره کړه۔

رسول الله ﷺ وفرمایل : هیڅکله نهٔ، بلکه ما د الله ملاقات غوره کړو۔

(د نبي ﷺ زړهٔ د الله د محبت نه ډك وو، لکه څنګه چه د الله ورسره مینه وه نو دهٔ هم ورسره ډیره زیاته مینه وه، د نبي ﷺ د زړهٔ د کیفیت بیان څوك نشي کولے، چه

Maktaba Tul Ishaat.com

کله کله د بعض احادیثو نه معلومیږی چه د هغهٔ په زړهٔ کښې څومره زور والے وو، د الله محبت پرے څومره طاری وو، چه بالکل ئے هغه رانیولے وو، بل شی ته ئے کتل نهٔ،
که نبی ﷺ ته د امت پروګرامونه نهٔ وے وړپه غاړه نو وادهٔ به ئے هم نهٔ وے کړے، د دنیا هیڅ شی له به ئے ګوتے نهٔ وے وړی، لیکن دلته ورته امت او انسانانو حقوق وړپه غاړه دی، نو د هغوی د تربیت دپاره ئے بعض داسے کارونه کړیدی چه مباح دی، دے دپاره چه امت ته خبره آسانه شی)
بیا ئے د بقیع والو دپاره بخنه وغوښته. بیا کور ته راواپس شو نو هرکله ئے چه صبا کړو نو د هغهٔ هغه بیماری شروع شوه کوم کښے چه وفات کړے شو.
[مسند احمد : ١٦٠٤٠ المستدرك : ٤٣٨٣ حدیث صحیح- شعیب]
بیا کله چه رسول الله ﷺ صبا کړو نو صبا له په نهه ویشتم د صفر باندے (کما فی التاریخ) چه د یوم الاثنین ورځ وه، رسول الله ﷺ یوے جنازے له لاړو نو د جنازے نه پس چه راتلو سمدست ئے په سر باندے درد شو، صداع پرے ولګیدو، (سخت درد) ځکه چه نبی ﷺ به کله به بیماریدو نو سخت به بیماریدو.
یو حدیث کښے د یوے بلے موقعے واقعه ده چه عبد الله بن مسعود ﷺ فرمائی:
زهٔ رسول الله ﷺ خوا ته راغلم او هغه تبے نیولے وو، ما وویل: یارسول الله ستا خو ډیره سخته تبه ده، هغهٔ وفرمایل: زما داسے تبه وی لکه چه ستاسو د دوه سړو تبه.
ما وویل: [ذٰلِكَ اَنَّ لَكَ اَجْرَيْنِ] دا به پدے وجه وی چه ستا دپاره به دوه اجرونه وی.
وے فرمایل: همدغسے ده. [بخاری : ٥٦٤٨]
(دا هم ناشنا خبره ده چه دے ته د انسان ذهن نهٔ رسیږی چه د الله دوست او د هغهٔ محبوب او الله ته انتهائی ګران او د ذرے هومره ګناه پرے نشته او بیا هم تکلیف پرے ډیر دے، دا ددے دپاره چه امت ته خبره آسانه شی، که یو تکلیف درباندے راشی نو خپل نبی رایاد کړه، چه هغه پاك وو بیا ئے هم تکلیفونه تیر کړیدی، او زهٔ د ګناهونو نه ډك یم که په ما باندے دا تکلیف راغے نو الله زما ګناهونه معاف کوی، نو خبره به درته آسانه شی، که هغوی بیخی د راحت ژوند تیر کړے وے او په مونږ لږ تکلیف راتللے نو ډیره به سخته وه)
کله چه نبی ﷺ د جنازے نه کور ته راغے نو په دغه وخت کښے د الله کار ته وګوره

Maktaba Tul Ishaat.com

چه د عائشې رضی الله عنها په سر هم درد دے،

(**نکته** : د دوه کسانو چه یو بل سره ډیره مینه وی نو د دوئ احوال تول یو بل ته نزدے نزدے وی، چه یو باندے خفګان وی دے بل باندے هم وی)

نو عائشې رضی الله عنها ووېل : [وَارَأْسَاهُ] اے زما سره۔ (د عربو دا عادت وو چه د سر د درد په وخت به ئے دا الفاظ استعمالول۔ (وئ سر مے خوږیږی)

نبی ﷺ ورته وفرمایل :

[بَلْ اَنَا يَا عَائِشَةُ وَارَأْسَاهُ]

بلکه اے عائشې ! زما په سر باندے درد دے۔

نو نبی ﷺ ورته مزاحیه خبره وکړه :

[يَا عَائِشَةُ ! مَا ضَرَّكِ لَوْ مُتِّ قَبْلِيْ، فَقُمْتُ عَلَيْكِ فَغَسَّلْتُكِ وَكَفَّنْتُكِ وَصَلَّيْتُ عَلَيْكِ، وَدَفَنْتُكِ] [ابن ماجه : ١٤٦٥]

اے عائشې باندے څه تکلیف دے که زما نه مخکښې مړه شوے زهٔ به غسل درکړم او کفن به درکړم او په تا باندے به جنازه وکړم او دفن به دے کړم۔

(یعنی زما پدے کارونو سره به تهٔ سیده جنت ته لاړه شے)

نو عائشې رضی الله عنها باندے دا خبره ناشنا ولګیده نو وے فرمایل :

[كَاَنِّيْ بِكَ وَاللهِ لَوْ فَعَلْتَ ذٰلِكَ قَدْ رَجَعْتَ اِلٰى بَيْتِيْ فَاَعْرَسْتَ فِيْهِ بِبَعْضِ نِسَائِكَ]

[مسند احمد : ٢٥٩٥٠]

اے د الله رسوله ! ګویا که زما په تا ګمان دے قسم په الله چه تهٔ به زما د دفن کولو نه راواپس کیدو سره سمدست تا به بل وادهٔ کړے وی او زما کوټے ته به دے وادهٔ راوړے وی۔

رسول الله ﷺ ورته نور هیڅ نهٔ وئیل صرف مُسکے شو۔

(پدے حدیث کښې یوه مسئله دا ده چه خاوند ښځے ته غسل او کفن ورکولے شی، دارنګه د احادیثو نه د بل طرف اجازه ملاویږی۔

دارنګه د مرض اظهار چا ته کول جائز دی، چه زهٔ بیمار یم، کله چه پکښې د الله تعالیٰ نه شکایت نهٔ وی، او د الله تعالیٰ نه شکایت کول ګناه ده)۔

Maktaba Tul Ishaat.com

عائشه رضی الله عنها فرمائي:

[مَا أَغْبِطُ اَحَدًا بِهُوْنِ مَوْتٍ بَعْدَ الَّذِيْ رَأَيْتُ مِنْ شِدَّةِ مَوْتِ رَسُوْلِ اللّٰهِ ﷺ]

[الترمذی : ٩٧٩ صحیح]

زهٔ هیچا ته په آسان مرګ باندې نهٔ پسخیږم پس د هغې نه چه ما د رسول الله سخت مرګ لیدلې دې.

مصیبت په هغه وخت مصیبت کیږي چه بنده پکښې د الله نه ناراضه شي او چه کله مصیبت تا الله ته راکاږي نو دا مصیبت نهٔ دې بلکه نعمت دې)

نو ددې وخت نه رسول الله ﷺ بیمار شو او دا بیماري تقریباً دیارلس (١٣) یا څوارلس (١٤) ورځې وه. پدې ورځو کښې کوم احوال راغلل د هغې بیان دا دې :

هر کله چه د چارشنبې ورځ شوه ظاهر دا دې چه بله چارشنبه ده یعني شپږ (٦) اته (٨) ورځې پس نو دا بیماري په رسول الله ﷺ باندې نوره هم سخته شوه،

د چارشنبې شپه او د هغې سهار انتهائي سخته شوه چه کومه شړئ پرې اچولې شوې وه نو په هغې باندې به چا د ګرمائش د وجه نه لاس نشو کیخودې،

نبي ﷺ ته څوك راغې او دا ئې ووئیل چه بهر انصار ناست دي او د نبي ﷺ د منبر په خوا کښې ژاړي او وائي چه نبي ﷺ به دلته هر وخت راوتو او مونږ سره به کیناستو او اُوس زمونږ نه بند شو، نبي ﷺ ته چه دا خبر وشو نو هغهٔ کور والو ته حکم وکړو چه ماله اُوبهٔ راوړئ د اُوو مشکونو نه چه د اُوو کوهیانو نه راوړې شوي وي.

(ددې حکمت الله او د هغهٔ رسول ته معلوم دې) نو دا اُوبهٔ راوړې شوې او په نبي ﷺ باندې واړه ولې شوې، د غرمې وخت دې، نو نبي ﷺ راپورته کړې شو.

(په کور کښې به خدمت عباس ﷺ، علي بن ابي طالب ﷺ، قُثَم بن عباس ﷺ او فضل بن عباس ﷺ خدمت کولو او بیبیانو به هم کولو، پدې موقعه کښې بیبیانې خدمت ته ولاړې دي)

نو نبي ﷺ په خانك کښې کینولې شو او دا اُوبهٔ ئې پرې لږې لږې اچولې ترڅې چه الله تعالیٰ دا تبه لږه سړه کړه. ګذاره وشوه، په بدن کښې خفت پیدا شو نو نبي ﷺ د ماسپښین مانځه ته راووتو او سرئې په یوه کپړه تړلې وو، درد ئې وو لیکن تبه نسبتاً آسانه شوه.

Maktaba Tul Ishaat.com

نبی ﷺ چه مونځ وکړو نو د مانځه نه پس منبر ته وختلو او مختصراً بیان ئې وکړو چه په هغه بیان کښې مهمې خبرې دا وې (صحابه کرام ورته ډیر په شوق او محبت کښې ناست دی، د صحابه کرام رضی الله عنهم عجیب زړونه وو) :

د حمد او ثناء نه بعد ئې وفرمایل :

[إِنَّ عَبْدًا خَيَّرَهُ اللّٰهُ بَيْنَ أَنْ يُّؤْتِيَهُ مِنْ زَهْرَةِ الدُّنْيَا مَا شَاءَ وَبَيْنَ مَا عِنْدَهُ فَاخْتَارَ مَا عِنْدَهُ]

یو بنده دے چه الله تعالیٰ ورله اختیار وکړو چه د دنیا تازګی او دولونه ورته ورکړی څومره چه هغه غواړی او که د الله سره کوم نعمتونه او خیرونه او فائدے دی هغه غوره کوی۔ نو دغه بنده د الله سره موجود نعمتونه غوره کړل۔

نو دے وخت کښې [فَبَكٰى أَبُوْبَكْرٍ وَقَالَ : فَدَيْنَاكَ بِآبَائِنَا وَأُمَّهَاتِنَا]

ابوبکر صدیق ﷺ وژړل او دا ئې ویل : چه تا نه دې زمونږ پلاران او میندے قربان شی۔

ابوسعیدِ خدری ﷺ فرمائی : [فَعَجِبْنَا لَهٗ] مونږ د ابوبکر ﷺ په دے کار باندے تعجب وکړو، او خلکو ویل چه دے بوډا ته ګورئ چه نبی ﷺ د یو سړی تذکره کوی چه هغهٔ ته الله تعالیٰ اختیار وکړو چه دنیا دِے خوښه ده او که آخرت نو هغهٔ آخرت غوره کړو دا خو د ژړا خبره نهٔ ده او دے ژاړی۔

خو روستو د نبی ﷺ دِ وفات نه بعد مونږ ته پته ولګیده چه دغه بنده خو رسول الله ﷺ وو، نو ابوبکر صدیق ﷺ د نبی ﷺ په مرادونو ډیر ښهٔ پوهیدو چه د انبیاء علیهم السلام نه علاوه خو بل بنده ته الله تعالیٰ اختیار نهٔ ورکوی، او پدے زمانه کښې خو د انبیاؤ علیهم السلام سلسله ختمه ده، صرف همدا یو محمد رسول الله ﷺ باقی دے نو ددے بنده نه مراد همدا دے۔ خو د قرآن او حدیث طریقه دا ده چه په اشاراتو طریقے سره خبره کوی، دے دپاره چه خلك تدبر وکړی او د ځا د قرآن او حدیث سره مینه ده۔

ابوسعید خدری ﷺ فرمائی : [وَكَانَ أَبُوْبَكْرٍ أَعْلَمَنَا]

ابوبکر صدیق ﷺ په مونږ کښې ډیر عالم وو۔

بیا نبی ﷺ ابوبکر صدیق ﷺ ته تسلی ورکړه او وې فرمایل :

Maktaba Tul Ishaat.com

[اِنَّ اَمَنَّ النَّاسِ عَلَیَّ فِیْ صُحْبَتِهٖ وَمَالِهٖ اَبُوْبَکْرٍ]

د ټولـو خلکو نه زیات احسان کونکے ما سره په ملګرتیا کښې او په مال سره ابوبکر صدیق رضی الله عنه دے. (د ټولـو خـلـکو مخامخ صفت کوی، دا د ابوبکر صدیق رضی الله عنه دیر لوی منقبت دے) بیا ئے وفرمایل :

[وَلَوْ کُنْتُ مُتَّخِذًا خَلِیْلًا مِنْ اُمَّتِیْ لَاتَّخَذْتُ اَبَا بَکْرٍ اِلَّا خُلَّةَ الْاِسْلَامِ]

کـه زهٔ د الله نـه سـوئ خـالـص دوسـت نیـونـکے وے نو ما به ابوبکر صدیق رضی الله عنه خپل خـالـص مـخـلـص دوسـت جـوړ کړے وے. مـګر دهٔ سره زمـا د اسلام دوستی ده. (او د عبادت محبت مے صرف د الله سره دے)

بیا ئے وفرمایل : [لَا یُبْقَیَنَّ فِی الْمَسْجِدِ خُوْخَةٌ اِلَّا خُوْخَةَ اَبِیْ بَکْرٍ] .

په مسجد کښې ډیے ټولے کړکۍ او دروازے بندے کړے شی (کوم باندے به چه خلك د خپلو کورونو نه مسجد نبوی ته راتلل) سوئ د کړکۍ د ابوبکر صدیق رضی الله عنه نه.

یـعـنـی نـور خـلـك بـه په خپـلـه صـحـیـح لاره راځی د کړکو د طرف نه راتلل بند شو صرف ابوبکر صدیق رضی الله عنه ته اجازه وشوه،

(عـلـمـاء عـظـامؒ فرمائی : پدے کښې د ابوبکر صدیق رضی الله عنه خـلافت ته اشاره وه، چه دهٔ داسے خصوصیت دے چه دا د بل چا نشته) [بخاری : ٣٩٠٤]

امـام بـخـاریؒ د ابن عباس رضی الله عنه نـه روایت راوړیـدے چـه نبی ﷺ منبر ته وختلو او دا آخـری مـجـلـس وو چـه نبی ﷺ پـه مـنبر کیناستو په خپلو دواړو اُوګو باندے ئے یوه شړۍ اچـولے وه او خپـل سرئے په یوه ټوټه باندے تړلے وو چه هغه غوړه وه نو د الله حمد او ثناء ئے وویله بیا ئے وفرمایل : [اَیُّهَا النَّاسُ اِلَیَّ]

اے خـلـکـو ! ما طرفته متوجه شئ او ما طرفته رانزدے شئ. نو خلك په ډیره تیزۍ ورمخکښ شو.

بیا ئے وفرمایل : [اَمَّا بَعْدُ : فَاِنَّ هٰذَا الْحَیَّ مِنَ الْاَنْصَارِ یَقِلُّوْنَ وَالنَّاسُ یَکْثُرُوْنَ فَمَنْ وَلِیَ شَیْئًا مِنْ اُمَّةِ مُحَمَّدٍ ﷺ فَاسْتَطَاعَ اَنْ یَضُرَّ فِیْهِ اَحَدًا اَوْ یَنْفَعَ فِیْهِ اَحَدًا فَلْیَقْبَلْ مِنْ مُحْسِنِهِمْ وَیَتَجَاوَزْ عَنْ مُسِیْئِهِمْ]

خـلـك ډیـریږی (وخت په وخت مسلمانیږی) او دا ډله د انصارو په کمیدو دی، (په بل

Maktaba Tul Ishaat.com

روایت د بخاري کښې دي: داسې به شي لکه په وړو کښې مالګه. نو څوك چه ستاسو نه د یو کار مشر شو نو هغه ته دې د انصارو د نیکانو نه نیکي قبوله کړي (یعني ددوئ صفت کوئ او د هغوئ لږ خیر ته په اُوچت نظر ګوري) او په دوئ کښې چه چا ګناه وکړه نو هغه معاف کړي (د ګناهونو نه مراد عام ګناهونه دي، چه مثلًا د خولې نه ئې یوه خبره ورانه وختله، یا یو وران کار ترې وشو، هرچه حدود شرعي دي هغه خو هیچا ته نۀ معاف کیږي) [بخاري: ٩٢٧، ٣٦٢٨]

دا حدیث دلیل دې چه کله د چا مرتبه اُوچته وي او د هغه نه یو وران کار وشو نو د هغۀ سره به داسې سختي نۀ کیږي لکه څنګه چه د یو فاسق او ظالم سره کیږي، هغه بې باکه دې، او دې متقي انسان دې لیکن یوه ورځ ترې خطائي وشوه. یو مؤمن نه خطاءً یوه مسئله غلطه وشوه نو د هغۀ سره به داسې سختي نشي کولې لکه څنګه چه بدعتي سره کیږي، ځکه چه هغه نه خطائي وشوه او دا بل قصداً دین ورانوي.

پدې جمله کښې هم یوه ناشنا اشاره وه چه د انصارو نه به خلیفه او امیر المؤمنین نۀ جوړیږي، ځکه ئې داسې وفرمایل چه که څوك ستاسو نه مشر شو نو د انصارو سره احسان وکړي.

لیکن دې وخت کښې د چا څه سوچ وو چه د الله رسول به وفات کیږي او بیا به روستو د خلکو د امیر په باره کښې اختلاف پیدا کیږي چه څوك امیر مقرر کړو.

بل بیان:

فضل بن عباس ﷺ روایت کوي چه نبي ﷺ صحابه کرامو ته تقریر وکړو په هغه مرض کښې چه کوم کښې وفات شو.

(ظاهر دا ده چه دا د مخکنې حدیث سره نزدې وخت وو) نو د الله د حمد او ثناء نه روستو ئې وفرمایل:

[اَمَّا بَعْدُ : فَاِنَّهٗ دَنَا مِنِّیْ خُفُوْقٌ مِنْ بَیْنِ اَظْهُرِکُمْ، فَمَنْ شَتَمْتُ لَهٗ عِرْضًا فَهٰذَا عِرْضِیْ وَمَنْ ضَرَبْتُ لَهٗ ظَهْرًا فَهٰذَا ظَهْرِیْ فَلْیَسْتَقِدْ مِنْهُ وَمَنْ کُنْتُ اَخَذْتُ لَهٗ مَالًا فَهٰذَا مَالِیْ فَلْیَاْخُذْ مِنْهُ]

اې خلکو! خبر شئ زما ستاسو د مینځ نه د غائبیدو وخت رانزدې شویدې، نو د چا عزت چه ما اخستې وي، نو دا زما عزت دې، راشئ ما نه دې بدله واخلي، او د چا چه ما شا وهلې وي نو دا زما شا ده ددې نه دې قصاص واخلي.

Maktaba Tul Ishaat.com

(نبی ﷺ د هیچا عزت نهٔ دے اخستے او نهٔ ئے څوك بیګناه وهلے دے نو پدے کښے امت ته لوی سبق دے چه د چا عزت او مال اخستل ډیره لویه ګناه ده)

بیا ئے وفرمایل : [وَلَا يَقُوْلَنَّ اَحَدٌ : اِنِّیْ اَخْشَی الشَّحْنَاءَ مِنْ رَسُوْلِ اللّٰهِ]

یو تن دِے دا نهٔ وائی چه زهٔ د رسول الله ﷺ د بغض نه یریږم. (هغه به وائی چه دا څنګه ملګرے او شاګرد دے چه اوس ما نه بدلے اخلی او بیا به ئے ما سره بغض او دشمنی پیدا شی) بیا ئے وفرمایل :

[اَلَا وَاِنَّ الشَّحْنَاءَ لَيْسَ مِنْ طَبْعِیْ وَلَا مِنْ شَأْنِیْ]

پو هه شئ : چه بُغض زما طبیعت او زما شان نهٔ دے.

بلکه داسے ئے وفرمایل : [اَلَا وَاِنَّ خَیْرَکُمْ اِلَیَّ مَنْ اَخَذَ مِنِّیْ شَیْئًا کَانَ لَهٗ]

خبر شئ چه څوك ما نه یو شے واخلی چه ددهٔ په ما باندے وی نو دا به ما ته ډیر محبوب وی.

پدے کښے دوه صحابه کرام د بدلے دپاره راپاڅیدل،

یو اُسید بن حُضَیر رضی الله عنه (لکه دا بل حدیث کښے راغلی دی) دهٔ ووېل : اے د الله رسوله! یو ځائے کښے تا زهٔ وهلے وم نو زهٔ بدله اخلم،

نبی ﷺ وفرمایل : دا زما بدن دے بدله واخله. هغهٔ عرض وکړو هغه وخت کښے زما تشے بربند وو او تا باندے قمیص دے، نو رسول الله ﷺ ورته تشے ښکاره کړو نو هغه ورمنده کړه او د محبت غاړه ئے ترے تاؤ کړه او ڇپ ئے کړو لکه یو دوست چه دوست خکلوی. وے وئیل زما بدله اخستل وو نو ما خپله بدله پدے طریقه واخسته.

یو صحابی پاڅیدو وے وئیل یارسول الله ! زما په تا باندے درے (۳) درهم قرض دی، یو مسکین تیریدو تا ما ته حکم وکړو چه دهٔ له ورکړه ما پورے دِے شوے.

نبی ﷺ وفرمایل : اے فضل بن عباس رضی الله عنه دهٔ ته دغه ورکړه.

د نبی ﷺ د بیان د فارغ کیدو نه پس دا صحابی چا ملامته کړو چه تا په داسے مقام کښے د رسول الله ﷺ نه ایله درے (۳) روپئ وغوښتے؟ هغه ووېل : زما درے روپو ته هیڅ ضرورت نهٔ وو لیکن ما ته د رسول الله ﷺ دا تکے خوښ وو چه هغهٔ وفرمایل چه څوك ما نه خپل حق وغواړی نو هغه ما ته زیات محبوب دے. نو زهٔ دا غواړم چه

Maktaba Tul Ishaat.com

د رسول الله ﷺ په محبوبانو کښې راشم۔
نبي ﷺ په بل ځائے کښې فرمايلي دي: اے خلکو ! د چا چه د چا پورے حق وي نو هغه دِے ورکړي يا دِے د هغۀ نه نن ورځ تحليل وکړي مخکښې ددے نه چه داسے ورځ به راشي چه هلته به بيا نۀ روپئ وي او نۀ اشرفئ۔ که د هغه نيك عمل وي نو د هغے نه به د ظلم په اندازه اخستے کيږي۔ (بخاري : ۲٤٤۹)
او د سيرت په بعض کتابونو کښې دا هم راغلي دي چه پدے موقعه کښې بيا نبي ﷺ د زنانو سره د احسان کولو خبره دوباره وکړه۔
ددے نه روستو نبي ﷺ د منبر نه کوز شو او صحابه کرامو يعني علي ؓ او فضل بن عباس ؓ او قُثم بن عباس ؓ د لاسونو نه ونيولو او کور ته ئے ننويستو۔

د لدُود واقعه

د نبي ﷺ په مرض الوفات کښې کور کښې زنانه راجمع شوے او نبي ﷺ دے هوشئ شان حالت کښې وو، عباس ؓ هم په کور کښې حاضر وو، عباس ؓ وفرمايل چه نبي ﷺ باندے د ذات الجنب (نمونيا) بيماري ښکاره کيږي،
(يعني په تشو کښې پرسوب پيدا شي د هغے د وجه نه سخت دردونه شروع شي چه انسان ترے بے هوشه کيږي نو کيدے شي چه دۀ باندے به دا بيماري وي) نو دۀ له به لُدود ورکړو (لدود يوه دوائي ده چه په وښکي کښې اچولے کيږي او هغه د ذات الجنب دپاره فائده منه ده، چه په هغے کښې عُودِ هندي، ګل ورس او زيتونو تيل استعماليږي) نو دوئ دوائي جوړه کړه او د الله نبي ته ئے په وښکو کښې په زوره واچوله، هغۀ ورته اشاره ورکړه چه ما ته ئے مۀ راکوئ ليکن دوئ وويل چه
[كَرَاهِيَةُ الْمَرِيْضِ لِلدَّوَاءِ] دا د بيمار عادت دے چه دوائي بده ګڼړي۔ نو په زوره ئے ورکړه، کله چه رسول الله ﷺ بيدار شو نو وے فرمايل: تاسو خو ما د دوائي راکولو نه منع کولے او تاسو په زوره راکړه، دا چا راکړه؟ وے فرمايل: دے کسانو۔
(د سيرت په روايت کښې دي: دوئ وويل: دا د هغه زنانو عمل دے چه د هغه ځائے نه

Maktaba Tul Ishaat.com

راغلي دي، او په لاس سره ئې حبشو ته اشاره وکړه. يعنې ام سلمه او اسماء بنت عميس رضي الله عنهما ورته دا لدود ورکړی وو. (ځکه چه دې دواړو حبشو ته هجرت کړے وو)

دا مو ولے راکوله ؟ وے وئيل : تا باندے بيماری وه، زمونږ خيال وو چه تا باندے ذات الجنب بيماری ده او هغه الله دے سره بنه کوی، نو نبی ﷺ وفرمايل :

[وَاللّٰهِ مَا كَانَ اللّٰهُ لِيَقْذِفَنِيْ بِذٰلِكَ الدَّاءِ]

د الله عادت دا نهٔ دے چه ګنده بيماری په نبی باندے راولی.

(هسے د سر درد يا تبه وغيره راتللے شی خو داسے مرض چه د خلکو ترے نفرت پيدا کيږی، هغه بيمارياني الله تعالىٰ په انبياء عليهم السلام باندے نهٔ راولی، څوك چه وائی چه ايوب عليه السلام کښے چينجی شوی وو او هغه به غورزيدل او دهٔ به راووچتول دا بے ځائے خبرے دی، آؤ، دا بيله خبره ده چه انبياء عليهم السلام بشر دی، نورے عامے بيمارياني پرے راتللے شی)

نو نبی ﷺ د دغه دوائی په باره کښے حکم وکړو :

[عَزَمْتُ عَلَيْكُمْ لَا يَبْقٰى فِي الْبَيْتِ اَحَدٌ اِلَّا لُدَّ اِلَّا الْعَبَّاسَ عَمَّ النَّبِيِّ ﷺ]

په تاسو باندے زما د طرف نه دا لازم ده چه په کور کښے به هيڅوك نهٔ پاتے کيږی مګر هغهٔ ته به لدود کولے شی (يعنی دغه دوائی به ورته په وښکو کښے اچولے شی) سویٰ د عباس رضی الله عنه نه چه د نبی ﷺ ترهٔ دے،

په بل روايت د بخاری کښے دی : [فَاِنَّهٗ لَمْ يَشْهَدْكُمْ] - دے تاسو سره پدے کار کښے حاضر نهٔ وو. (يعنی عباس ته ئې پدے وجه ورنکړل چه يو خو د نبی ﷺ ترهٔ دے، نو د هغهٔ اکرام پکار دے، بل دا چه، دے پدے کار کښے عملی حاضر نهٔ وو)

نو دوئ شروع شو چه يو بل له ئې په وښکو کښے دوايانے اچولے.

(١ فائده دلته ئې روغو کسانو له دوائی ورکړه، نبی ﷺ ترے بدله اخلی، وجه دا ده. چه هسے نهٔ چه دے کسانو له الله تعالىٰ د نبی ﷺ په تنګولو سره عذاب ورنکړی نو نبی ﷺ ترے خپله بدله واخسته چه معاف شی، دا هم د نبی ﷺ په هغوی باندے مهربانی وه، د هغهٔ په هره ادا او طرز کښے کمال دے، ګنے د نبی ﷺ عادت مبارك دا وو چه هغهٔ به د ځان دپاره بدلے نهٔ اخستے،

Maktaba Tul Ishaat.com

۲-او پدے کښې دے ته هم اشاره ده چه په روستو امت کښې چه څوك د نبی سنتو له ضرر ورکوی نو دا هم نبی له ضرر ورکول دی نو دے هم جرم والا دے،

۳- او نبی ﷺ چه کله د یو کار نه اشارةً منع وکړی نو دا به داسے منع وی لکه چه صراحةً ئے کړی وی۔

٤- او امت دپاره دا سبق شو چه که یو تن د نبی ﷺ د امر او د سنتو مخالفت کوی اګرکه د هغهٔ نیت ښه وی بیا هم مُجرم دے)۔

د سیرت په بعض روایاتو کښې دی چه میمونه رضی الله عنها پدے ورځ باندے روژه وه نو د هغے په وښکو کښې هم دا دوائی واچولے شوه، ځکه چه رسول الله ﷺ قسم کړے وو، هغه ئے سر ته رسولو۔

[امتاع الاسماع۲/۱۳۰]۔

دا واقعه د میمونے په کوټه کښې راغلے وه معلومیږی چه دا اووه ورځے مخکښې راغلے وه، انظر امتاع الاسماع)

(د سیرت په روایت کښې دی چه عباس ﷺ مشوره ورکړے وه او د صحیحینو په روایت کښې دی چه عباس ﷺ تاسو سره نهٔ وو حاضر شوے، نو د دواړو تطبیق دا معلومیږی چه عباس ﷺ عملی طور سره نهٔ ورکړے بلکه بیبیانو ورکړی وو۔ والله اعلم)

۵-فائده: مقصد دا چه په نبی ﷺ باندے بے هوشی راتلل جائز دی ځکه چه دا مرض دے او لیونتوب پرے نشی راتللے ځکه چه هغه نقصان دے۔ (امام نوویؒ)۔

آخری هفته:

پدے بیمارئ ورځو کښې به نبی ﷺ پدے اخیری هفته کښې هم د انصاف نه دومره کار اخستو چه د کومے بی بی نمبر به وو هغے کره به ئے شپه تیره وله، د کوم پیر ورځے نه چه بیمار شوے وو،

نو هرکله چه د میمونے رضی الله عنها کورته ورغلو نو بیماری ئے سخته شوه نو بیبیانے ئے راوغوښتے او د هغوی نه ئے اجازه طلب کړه چه که ستاسو خوښه وی، زهٔ به

Maktaba Tul Ishaat.com

یو کور کښې یم او دا نمبر به ختم کړم څکه چه ما ته ډیر تکلیف دے، هر یو کور ته نقل کیدل راته تکلیف دے، نو هغوی ورته اجازه ورکړه چه یارسول الله ستا چه کوم ځائے خوښ وی او ستا علاج کیږی هلته صحیح ده،

نو پدے ورځ ئے د عائشے رضی الله عنها نمبر وو نو نبی ﷺ د فضل بن عباس ﷺ او علی بن ابی طالب ﷺ په مینځ کښې راروان وو چه هغوی نیولے وو او ځان پسے ئے خپے راخکلے او خپل سر ئے تړلے وو تردے چه د عائشے رضی الله عنها کوټے داخل کړے شو نو د هغے په کوټه کښې ئے اخیری هفته تیره کړه۔

(مونږ ته دا احادیث دا خبره هم راښائی چه نبی ﷺ په بندګانو کښې ډیر قوی بدن والا او د الله رسول دے لیکن دے وخت کښې بل چا ته محتاج دے، نو څوك چه د هغهٔ نه مددونه غواړی او حاجتونه ورته پیش کوی نو دا د مشرکینو طریقه ده)

پدے بیماریٔ کښې به هم رسول الله ﷺ مسجد ته وتلو اګرکه ډیر تکلیف به ورته وو۔

څلور ورځے مخکے :

ددے بیماریٔ په وخت کښې کله چه یوم الخمیس شو یعنی د وفات نه څلور ورځے مخکښې څکه چه په یوم الاثنین وفات شویدے۔

نو پدے ورځ باندے یو څو کارونه شو،

یو دا چه نبی ﷺ باندے بیماری سخته شوه نو صحابه کرام رضی الله عنهم ورته د عائشے رضی الله عنها په کوټه کښې راجمع شوی وو نو نبی ﷺ وفرمایل :

[هَلُمُّوا اَكْتُبُ لَكُمْ كِتَابًا لَنْ تَضِلُّوا بَعْدَهُ]

ورشیٔ ما له کاغذ راوړیٔ چه تاسو ته یوه خبره لیکم چه د هغے نه روستو تاسو ګمراه نشیٔ (قرآن کریم موجود دے د هغے سره انسان نهٔ ګمراه کیږی لیکن دلته مراد دا دے چه په یوه خبره کښې تاسو ګمراه نشیٔ)

نو پدے کښې مسلمانانو خپل مابین کښې اختلاف وکړو، بعضو وویل چه کاغذ به راوړو چه رسول الله ﷺ لیکل وکړی، بعضو وویل چه رسول الله ﷺ سخت بیمار دے، او ډیر تکلیف دے ورته، او هرڅه قرآن او حدیث کښې موجود دی، نبی ﷺ ټول دین بیان کړیدے، نو رسول الله ﷺ زاړه خبره بیرته لیکی نو هغهٔ ته تکلیف ولے

Maktaba Tul Ishaat.com

ورکوو۔ (او دا امر هم د نبی ﷺ په جدی طریقے سره نهٔ وو چه خامخا به کاغذ راوړئ بلکه د یو ے مشورے په شکل وو)
نو دے وخت کښے د خبرو اترو شور جوړ شو چا ویل کاغذ راوړو او چا وویل نهٔ ئے راوړو لکه دا خبره د عمر فاروق ﷺ او د بعض نورو ملګرو وه،
نو رسول الله ﷺ وفرمایل :

[قُومُوا عَنِّیْ وَلَا یَنْبَغِیْ عِنْدِیْ التَّنَازُعُ]

زما خوا نه پاڅیږئ او زما په مجلس کښے جګړے نهٔ دی جائز۔
(ددے ځائے نه دا معلومیږی چه د بیمار خوا ته ورشے نو شور به نهٔ کوے، هغهٔ سره به ډیر ساعت نهٔ کینے هغهٔ ته به تکلیف نهٔ ورکوے۔
نبی ﷺ کاغذ ونهٔ ولیکلو۔ (ددے دا مطلب نهٔ دے چه چا ورله کاغذ نهٔ راوړو ګنے د هغوی نافرمانی غرض وه بلکه د هغوی شفقت مطلب وو، ځوك چه په یو مجلس کښے حاضر وی نو هغهٔ ته صورتِ حال ښه معلومیږی او چه غائبانه رانقل کیږی نو خلکو ته ناشنا لګیږی، نو ددے وجه نه د کاغذ نهٔ راوړو خبره چا بده ونهٔ ګڼله چه ګنے تاسو د رسول الله ﷺ امر مات کړو، بلکه پدے مشوره شوه چه کاغذ نهٔ راوړو او نبی ﷺ دوباره امر ونکړو چه ورشئ کاغذ راوړئ۔
حدیث کښے دی : علی بن ابی طالب وفرمایل : یارسول الله تا ته تکلیف دے ما ته امر وکړه زهٔ به خبرے یادے کړم۔
نبی ﷺ پدے کاغذ کښے یا خو د ابوبکر صدیق ﷺ د خلافت خبره لیکله لکه د بل حدیث نه معلومیږی چه زما نه روستو به خلیفه ابوبکر صدیق ﷺ وی۔ لکه رسول الله ﷺ چه کله روغ وو نو عائشے رضی الله عنها ته ئے وئیلی وُو چه تهٔ خپل ورور او پلار راوغواړه چه هغوی دپاره خط لیکم دے دپاره چه د دوئ نه غیر بل څوك د خلافت تمنا ونکړی لیکن بیا ئے وویل چه خط نهٔ لیکم ځکه چه ما ځان سره وویل :

[یَأْبَی اللّٰهُ وَالْمُؤْمِنُوْنَ اِلَّا اَبَا بَکْرٍ]

د الله رب العالمین او د مومنانو طریقه دا ده چه صدیق اکبر ﷺ یو ځائے کښے موجود وی نو هیڅکله به پرے بل څوك مشری ونکړی، ځکه چه دا د الله هم خوښ دے او ټولو مومنانو ته هم محبوب دے۔

Maktaba Tul Ishaat.com

(دے نهٔ لیکلو کښې به ډیر حکمتونه وو لکه د الله او د رسول په خبرو او کارونو کښې ډیر رازونه وی او چه کله تهٔ پو هه نشوے نو اعتراض مهٔ کوه۔

ددے راز دا ښکاره کیږی چه که نبی ﷺ تعیین کړے وے چه زما د مرګ نه پس به ابوبکر ﷺ ستاسو خلیفه وی، او بیا چا اختلاف کړے وے نو هلاك شوے به وے، دوه هلاکتونه، یو به د امیر خلاف بغاوت راغلے وے،

او بل بـه د رسـول الله ﷺ امـر مـات شوے وی۔ او د الله رسول تـه پـه وحـی سره دا مـعـلـومـات وو چه روستـو بـه داسے خلك وی چه د ابوبکر صدیق ﷺ سره بـه بیعت نکوی او ښه مسلمانان وو مګر بیعت ئے د څه خفګان په وجه ونکړو لکه روستو راځی یوه په هغې کښې فاطمه رضی الله عنها وه، که چرته رسول الله ﷺ ابوبکر صدیق ﷺ خلیفه مقرر کړے وے او فاطمے رضی الله عنها ورسره بیعت نهٔ وے کړے نو په بغاوت کښې بـه هـم واقـع شـوے او د نبی ﷺ امـر بـه هم مات شوے وے، او کله ئے چه اُوس بیعت ونکړو نو نقصان کښې واقع نشوه بلکه اجتهادی خطائی شوه)۔

بیا د الله رسول ﷺ په خپله خوله مبارکه باندے تقریباً پنځه خبرے وکړے :

اوله خبره :

[اَجِیۡزُوا الۡوَفۡدَ بِنَحۡوِ مَا کُنۡتُ اُجِیۡزُهُمۡ]

چـه بهـر نه میلمانهٔ (وفدونه) راځی نو هغوئ ته جائزه (تحفه) ورکوئ لکه چه ما به هغوی ته ورکوله۔

(ځکه چه پدے سره د خلکو دلجوئی کیږی او د اسلامی خلافت سره د خلکو مینه پیدا کیږی)

دویمه خبره : [أَخۡرِجُوا الۡمُشۡرِکِیۡنَ مِنۡ جَزِیۡرَةِ الۡعَرَبِ]

مشرکان او یهود او نصاریٰ د جزیرة العرب نه وباسئ۔ (ځکه چه دا مَهۡبَطُ الوحی ده (یعنی د وحی د نازلیدو ځائے دے) نو چه کله په کښې دا ګنده خلك وی دوی معاشره خرابوی۔ که چرته راځی نو دوه درے ورځو له دِے راځی خو اُوسیږی به نهٔ، لکه روستو د عمر ﷺ او عثمان ﷺ پـه زمانـه کښې بـه چـه یـو یـهـودی حجاز مُقدس ته راتللو نو صرف درے (۳) ورځے به ئے تیره ولے او زیاتے ئے نشوے تیره ولے۔

جزیرة العرب د مکے او مدینے او د شام او ریاض او یمن پورے علاقے دی۔

Maktaba Tul Ishaat.com

[اَنْ لَّا یَبْقٰی فِیْ جَزِیْرَةِ الْعَرَبِ دِیْنَانِ] په جزیرة العرب کښې به دوه دینونه نهٔ پریخودے کیږی، چه اسلام او غیر اسلام وی۔

دریمه خبره : [اَلصَّلَاةَ وَمَا مَلَکَتْ اَیْمَانُکُمْ]

اے زما امته ! د مانځه پابندی کوئ او د خپلو وینځو غلامانو او ماتحتو خلکو سره احسان وکړئ۔ لکه دا خبره رسول الله ﷺ په آخری ورځ د وفات کښې هم کړے وه۔ نو کومو خلکو کښې چه د مانځه پابندی نهٔ وی نو هغهٔ کښې نور دین نشی راتللے۔

څلورمه خبره ئے د اعتصام بالکتاب والسنة وکړه چه په قرآن او په حدیث باندے منګولے ولګوئ۔

الغرض : نبی ﷺ پدے یوم الخمیس (زیارت ورځ) باندے په ډیر تکلیف سره مازیګر مانځه ته هم راووتو بیا ماښام مانځه ته هم راووتو او د ماښام مونځ ئے په ناسته باندے وکړو او مقتدیانو ته ئے امر وکړو چه تاسو هم کینئ او په هغے کښې ئے (والمرسلات) سورت ولوستلو۔

د جُمعے شپه ده نو په نبی ﷺ باندے بیماری نوره سخته شوه، صحابه کرام رضی الله عنهم ماسخوتن مانځه ته حاضر شول، او ټوله مدینه ډیره په خفګان کښې ده چه د الله نبی باندے تکلیف دے، دوئ د ماسخوتن مانځه په انتظار کښې ناست وو چه کیدے شی چه د الله نبی به ورته خپل مخ مبارك راښکاره کړی۔

لیکن رسول الله ﷺ ماسخوتن مانځه ته د وتلو طاقت ونهٔ لرلو، نو عائشے رضی الله عنها ته ئے وویل : [اَصَلَّی النَّاسُ ؟] آیا خلکو مونځ کړے ؟

مونږ وویل : نه، یا رسول الله او هغوی ستا په انتظار کښې ناست دی۔

نو نبی ﷺ حکم وکړو چه ماله اُوبهٔ کیدئ چه زهٔ پرے غسل وکړم او ماسخوتن مانځه ته اُوځم، نو بیبیانو اُوبه راجمع کړے او په نبی ﷺ باندے ئے هغه واچولے نو هغهٔ غسل وکړو، (دے هوشئ نه بعد غسل کول پکار وی)

نو اراده ئے وکړه چه راپاځیږی مګر بیا پرے بے هوشی راغله، بیا لږ وخت روستو خود کښې شو وے فرمایل : [اَصَلَّی النَّاسُ ؟]

آیا خلکو مونځ کړے ؟ مونږ وویل : نه، وے فرمایل : ما باندے اُوبهٔ راواچوئ۔ غسل

Maktaba Tul Ishaat.com

ئې وکړو بیا چه د پاڅیدو اراده وکړه بیا پرېې بې هوشي راغله. بیا بیدار شو، درېې کرته پرېې بې هوشي راغله او بیا بیدار شو آخر دا چه وس ئې ونشو چه مسجد ته راووځي، نو ددې شپې نه روستو رسول الله ﷺ مونځونه په مسجد کښې پریخوستي دي،

(درې ورځو پورې مونځونه امتي ورکړي، یعني ابوبکر صدیق ؓ چه اولس (۱۷) مونځونه ئې خلکو ته ورکړل، په مینځ کښې یوه ورځ نبي ﷺ راوتې دې چه هغهٔ مونځ ورکړېدې، نور د جُمعې د ماسخوتن مانځه نه تر د پیر (یوم الاثنین) سهار پورې مونځونه به ابوبکر صدیق ؓ ورکول. نو یو مونځ د جُمعې د ماسخوتن او یو مونځ د پیر ورځې د سهار او درې ورځې نور نو اولس (۱۷) مونځونه شو).

دلته خلك رسول الله ﷺ ته په انتظار کښې ناست دي چه مانځه ته به راوځي لیکن نبي ﷺ عائشې ته وفرمایل چه ابوبکر صدیق ؓ پسې څوك ولیږه چه ابوبکر صدیق ته امر وکړي چه هغه خلکو ته جمعه ورکړي.

[مُرُوْا اَبَابَکْرٍ فَلْیُصَلِّ بِالنَّاسِ].

ابوبکر ؓ ته حکم وکړئ چه خلکو ته امامت وکړي.

دلته د عائشې رضی الله عنها ذهن بل طرفته لاړو، نو هغې ووېل : یارسول الله! عمر فاروق ؓ ته امر وکړه چه هغه خلکو ته جَمعه ورکړي،

[فَاِنَّ اَبَا بَکْرٍ رَجُلٌ رَقِیْقٌ]

ځکه چه ابوبکر صدیق یو نرم سړې دې (په معمولي خبره هم ژاړي) نو که هغه ستا په ځائې ودرېږي او قرآن شروع کړي نو بیا به ئې هیڅ قراءت د خولې نه راونهٔ وځي او چا ته به قراءت وانهٔ وروي، او عمر فاروق ؓ کښې جلادت او بهادري زیاته ده.

مګر نبي ﷺ بیا حکم وکړو: [مُرُوْا اَبَابَکْرٍ فَلْیُصَلِّ بِالنَّاسِ]. چه ابوبکر ته حکم وکړئ چه خلکو ته مونځ وکړي، عائشې رضی الله عنها بیا دغه خبره وکړه.

(عائشه رضی الله عنها فرمائي : پدې کښې زما د نبي ﷺ امر ماتول غرض نهٔ وو بلکه د خپل پلار نه مې بد فالي او بدګماني اړه وله، ځکه چه ابوبکر صدیق د نبي ﷺ په محراب کښې جَمعه ورکوي نو ټول خلك به ورته بد ګوري او دې به سپك وګنړي او بد فالي به پرې ونیسي چه د الله رسول نشته او دې د هغهٔ په ځائې ودرېږي (لکه دا طریقه ده چه کله یو محبوب مشر وي او بل سړې د هغهٔ په ځائې ودرېږي نو

Maktaba Tul Ishaat.com

عام خلك هغه بد ګڼري)

لیکن بل طرفته د رسول الله ﷺ ذهن ډیر لرے لګیدو او په هغے کښے حکمت وو، بیا رسول الله ﷺ حکم وکړو چه ابوبکر صدیق ته امر وکړئ چه خلکو ته مونځ وکړي. نو عائشے رضی الله عنها بیا دغه خبره وکړه (درے یا څلور کرته)

نو عائشے رضی الله عنها حفصے رضی لله عنها ته حکم وکړو چه نبی ﷺ زما خبره نهٔ آوري نو تهٔ نبی ﷺ ته ووایه چه عمر ته امر وکړي.

(د حفصے رضی الله عنها ذهن دا وو چه دا خو ډیر لوی منقبت دے چه زما پلار د نبی ﷺ په ځائے باندے ودریږي) نو هغه لاړه او رسول الله ﷺ ته ئے وفرمایل : چه عمر فاروق ته حکم وکړه چه هغه ستا په ځائے خلکو ته جمع وکړي؟) نو دے وخت کښے نبی ﷺ غصه شو او وے فرمایل :

[إِنَّكُنَّ لَأَنْتُنَّ صَوَاحِبُ يُوسُفَ، مُرُوْا اَبَا بَكْرٍ فَلْيُصَلِّ بِالنَّاسِ]

تاسو هغه زنانه یئ چه یوسف علیه السلام ته مو دوهوکه ورکوله نو اُوس ما دهوکه کوئ، ابوبکر به مونځ کوي.

(یعنی لکه څنګه چه د یوسف علیه السلام په زمانه کښے زنانه راجمع شوے وے، هغه ئے دهوکه کولو چه تهٔ د خپلے بالدارے خبره وومنه، نو هغهٔ د الله نه دعا وکړه چه ما ددے زنانو د فتنے نه بچ کړه او جیل راته خوښ دے، نو الله جیل ته بوتلو، نو دلته رسول الله ﷺ دے حال ته اشاره ورکوی، یعنی تاسو په ما باندے د الله حکم ماتوئ لکه څنګه چه هغه زنانو په یوسف علیه السلام باندے د الله حکم ماتولو، هغه زنانه اګرکه فاسقے وے او دا خو د امت ډیرے غوره زنانه امهات المؤمنین او صحابیات کاملات دی، لیکن پدے حکم شرعی ماتولو کښے تشبیه ده)

نو پدے کښے یو صحابی عبد الله بن زمعه رضی الله عنه لاړو او ابوبکر صدیق رضی الله عنه ته ئے وویل چه د الله نبی تا ته امر کوی چه تهٔ خلکو ته مونځ وکړه.

دلته مشران صحابه کرام ځکه حاضر نهٔ وو چه دلته د نبی ﷺ بیبیانے موجودے وے نو هغوی نشو راتللے.

نو ابوبکر صدیق رضی الله عنه عمر فاروق رضی الله عنه ته حکم وکړو چه تهٔ خلکو ته جمع وکړه [أَنْتَ أَحَقُّ بِهِ] تهٔ پدے ډیر لائق ئے،

Maktaba Tul Ishaat.com

(د ابوبکر صدیق ﷺ خیال دا وو چه د نبی ﷺ به صرف مونځ ورکول مقصد وی او زما تعیین به ئے مقصد نهٔ وی نو ځکه ئے عمر فاروق ﷺ ته آفر وکړو، نو عمر فاروق ﷺ ورته وفرمایل : چه تهٔ موجود ئے بل څوك چرته جَمع کولے شی، نو ابوبکر صدیق ﷺ مخکښے شو او جَمع ئے ورکړه،

پدے طریقه دا د ماسخوتن مونځ هم وشو، صبا له ورځ هم پدے حالت کښے تیره شوه. ظاهر دا ده چه صبا له د جُمعے ورځ چه راغلے ده نو پدے کښے به هم ابوبکر صدیق ﷺ مونځونه کړی وی، ځکه چه دا باقی ټول مونځونه ابوبکر صدیق ﷺ کړیدی، نو کیدے شی چه د جُمعے خطبه ئے هم ورکړی وی، لیکن د رسول الله ﷺ په ژوند کښے د جُمعے خطبه د ابوبکر صدیق ﷺ نه نقل نهٔ ده. نو کیدے شی چه د الله رسول دے ته راوتے وی او دا خطبه ئے ورکړی وی، مختصره خطبه به وه.

دوه ورځے مخکے :

ابوبکر صدیق ﷺ پدے حالت کښے به مونځونه کول کله چه د خالی ورځ راغله نو نبی ﷺ باندے بیماری لږه شان آسانه شوه، نو پدے ورځ باندے ماسپښین مانځه ته راووتو او دوه کسانو نیولے وو، علی بن ابی طالب ﷺ او بل طرف ته عباس ﷺ او د هغهٔ ځوی فضل بن عباس ﷺ دے، نو بهر چه راووتو نو د ابوبکر صدیق ﷺ په اقتداء کښے جَمعه ولاړه ده.

(او دا کسان جَمعے ته نهٔ تلل ځکه چه دا خبره سنت کښے ثابته ده چه څوك د بیمار سره وی نو په هغهٔ باندے جَمعه نهٔ وی، کله چه د یو بیمار تا ته ضرورت وی نو د بیمار د خاطره که جَمعه درنه پاتے شی نو یو اځے ئے وکړه)

کله چه ابوبکر صدیق ﷺ پوهه شو چه نبی ﷺ مانځه ته راووتو نو هغه شروع شو چه روستو کیدو نو نبی ﷺ ورته په اشارے سره امر وکړو چه مهٔ راروستو کیږه نو دے کسانو نبی ﷺ بوتللو او د ابوبکر صدیق ﷺ گس طرف ته ئے کینولو.

نو جَمعه بدله شوه، ابوبکر صدیق ﷺ خپله جَمعه نبی ﷺ ته وسپارله،

(دا ناشنا مسئله ده چه دے وخت کښے پرے ډیر خلك نهٔ پوهیږی، چه د امام نه مقتدی جوړ شو او د مقتدی نه امام، او داسے کله نا کله جائز وی).

Maktaba Tul Ishaat.com

بعض روایاتو نه معلومیږي چه یو مونځ ئې د ابوبکر صدیق رضی الله عنه پسې وکړو۔ لیکن ظاهر د احادیثو دا دې چه ابوبکر صدیق رضی الله عنه دا مونځ نبی ﷺ ته سپارلې وو۔ نو ابوبکر صدیق رضی الله عنه ولاړ دې او نبی ﷺ ناست دې، او ابوبکر صدیق رضی الله عنه به خلکو ته تکبیر آورولو، او د نبی ﷺ د مانځه اقتداء به ئې کوله۔

(نبی ﷺ صرف دې ورځ باندې راوتې دې او بیا راونۀ وتو)

اسامه بن زید رضی الله عنه لا فوج نۀ دې روان کړې۔ هغه فرمائی: زۀ د نبی ﷺ خوا ته پدې حالت د بیمارئ کښې راغلم نو نبی ﷺ باندې داسې حالت راغلې وو چه [وَقَدْ اُصْمِتَ] چه هغۀ خبرې نشوې کولې، نو پدې کښې ئې چه کله زۀ ولیدم نو آسمان ته ئې لاسونه اُوچت کړل او په ما باندې ئې راخکل، بیائې لاس اُوچت کړو او په ما باندې ئې راخکلو، نو ما ته پته ولګیده چه نبی ﷺ ما له دعا کوی،

یوه ورځ مخکې:

کله چه د اتوار ورځ راغله نو هغۀ سره شپږ (٦) یا اووه (٧) دیناره د صدقې پراتۀ وو نو هغه ئې خیرات کړل، او خپل غلامان ئې آزاد کړل، او کومه اسلحه وغیره چه ورسره وه نو هغه ئې مسلمانانو ته تحفه کړه چه دا د هغوی مال دې۔

(ځکه چه د نبی ﷺ نه میراث نۀ پاتې کیږی بلکه دا به د ټولو مسلمانانو شریکه وی)

عائشه رضی الله عنها فرمائی: دومره د غربت زمانه وه چه پدې شپه باندې چه صبا له نبی ﷺ وفات کیږی، زمونږ په ډیوه کښې تیل هم نۀ وو نو ما ګاونډئ کره ډیوه ولیږله چه پدې کښې ستا د ډبی نه لږ تیل واچوه چه کوټه کښې لږه رڼړا پیدا شی۔

(د سردار دوجهان محمد رسول الله ﷺ په شان عظیم شخصیت په کور کښې دا حال دې، دومره د زهد زندګی ئې تیره کړه، او مونږ سره هر شے موجود وی، چه یو شے معمولی کم شی نو بیا دومره پریشانه یو چه شکایتونه کوو او ځانله ژوند تنګ کړو)

او د رسول الله ﷺ په کور کښې غله ختمه شوې وه نو هغۀ د یو یهودی نه دیرش (٣٠) صاعه وریشې په قرض کښې راوړې، یهودی ورته وویل چه ما سره ګانړه کیده نو خپله زغره مبارکه ئې ورسره کیخوده۔ نبی ﷺ پدې حالت کښې وو تردې چه د رسول الله ﷺ وفات پورې هغه زغره د یهودی سره ګانړه وه، بیا روستو ابوبکر صدیق رضی الله عنه

Maktaba Tul Ishaat.com

دغه قرض ادا کړو او د رسول الله ﷺ زغرهٔ مبارکه ئې آزاده کړه۔ (الرحيق المختوم)
دے حدیث نه امام بخاریؒ په خپل کتاب کښے ډیرے مسئلے راویستلی دی چه هغه په خپل مقام کښے بیانولے شی۔
د رسول الله ﷺ په مخ یوه شړئ پرته وه، چه کله به ئې پکښے ساه خفه شوه نو د مخ نه به ئې لرے کړه او چه کله به ئې ساه برابره شوه بیا به ئې په مخ باندے واچوله۔
نو په دے کښے د هغهٔ په خوا کښے دوه (۲) بیبیانے ناستے وے، ام سلمه او ام حبیبه رضی الله عنهما نو دے دواړو یوه قصه شروع کړه چه مونږ د خپلو خاوندانو سره حبشو ته هجرت کړے وو (مخکنی خاوندان یادوی، ځکه چه دا په دے وخت کښے کونډے وے چه رسول الله ﷺ په نکاح اخستے وی)
نو مونږ د نصاراؤ یوے کنیسے (عبادتخانے) ته ننوتو، په هغے کښے ډیر ښائسته تصویرونه او ډول او سینګار وو، (نو د هغے د حسن او د هغے تصاویرو تذکره ئې کوله) نو نبی ﷺ دے وخت کښے سر راپورته کړو او وے فرمایل:
[أُولٰئِكَ إِذَا مَاتَ فِيهِمُ الصَّالِحُ بَنَوْا عَلٰى قَبْرِهِ مَسْجِدًا وَصَوَّرُوْا فِيهَا تِلْكَ الصُّوَرَ، أُولٰئِكَ شِرَارُ الْخَلْقِ عِنْدَ اللّٰهِ]
ددے یهود او نصاراؤ عادت دا دے چه کله په هغوی کښے یو نیك سړے مړ شو نو دوئ به د هغهٔ په قبر باندے مسجد جوړ کړو او د دغه نیکانو شکلونه او تصویرونه به ئې په هغے کښے جوړ کړل، دا خلك د الله په نیز باندے انتهائی ناکاره مخلوق دے۔ (چه عبادت خانه کښے قبر راولی او تصویرونو والا وی)
او ورسره ئې دا هم وفرمایل:
[لَعَنَ اللّٰهُ الْيَهُوْدَ وَالنَّصَارٰى اِتَّخَذُوْا قُبُوْرَ أَنْبِيَائِهِمْ وَصَالِحِيهِمْ مَسَاجِدَ]
الله دے په یهود او نصاراؤ لعنت وکړی چه دوئ به د خپلو انبیاؤ او د نیکانو خلکو قبرونه به ئې مساجد جوړه ول (یعنی عبادتخانو کښے به ئې قبرونه راوستل) (نو قبرونه په مساجدو کښے ځخول لعنتی کار دے)۔
دارنګه د قبرونو په خوا کښے عبادتونه کول هم ددے حدیث په وجه ناروا کار دے۔
عائشه رضی الله عنها فرمائی: رسول الله ﷺ دا بنیرے په دے مرض الوفات کښے

Maktaba Tul Ishaat.com

ولې وکړې؟ [يُحَذِّرُ مَا صَنَعُوا] امت يره وی چه چرته ما سره داسې کار ونکړې شي.
(امت ئې ددې نه منع کړې چه زما د قبر سره به داسې نۀ کوئ)
[بخاري: ۴۳۵، ۴۳۶، ۱۳۳۰، مسلم: ۱۲۱۲، ۱۲۱۳، ۱۲۱۶]

د ژوند آخري ورځ :

کله چه د پير ورځ (يوم الاثنين) راغله نو نبي ﷺ په کور کښې دې، عامو مونځونو له نشي راتللې نو ابوبکر صديق ﷺ به جَمعه وركوله نو دوئ په سهار مانځه باندې ولاړ دي، مونځ شروع دې، دلته نبي ﷺ په خپل بدن کښې خفت (سپکوالې) مونده کړو. (کله چه د بيمار د بدن نه بيماري لرې اُوچته شي نو بدن ئې سپک شي او چه بيماري وي نو بدن ئې درون وي نو ځکه دې دپاره د خفت لفظ استعماليږي)

نو د عائشې رضی الله عنها کوټه مسجد نبوي ته بيخي قريبه ده، نو دروازې پورې په خپله راغې او پرده زوړنده وه نو نبي ﷺ پرده اُوچته کړه، وې کتل چه صحابه کرام په مانځه باندې ولاړ دي: [فَتَبَسَّمَ يَضْحَكُ] نو نبي ﷺ مکې شو خندلې ئې، پدې کار باندې انتهائي خوشحاله وو چه ما کومه ډله تياره وله نو هغه تياره شوه، که زۀ په مسجد کښې موجود نۀ يم نو داسې خلك ما تيار کړيدي چه هغوی به زما په ځائې کار کوي او پروګرام روان دې او د الله سبحانه وتعالیٰ بندګي کيږي، او په دنيا کښې د الله د رسول د زندګئ مقصد همدا وو چه څه خلك پيدا شي چه د الله يواځې بندګي کوي او تر قيامته پورې دا سلسله روانه وي او همدغسې وشوه، نو ګويا که رسول الله ﷺ د خپلې خوارئ ثمره او نتيجه وليده نو پدې باندې خوشحاله شو)

هغه صحابه کرام رضوان الله عليهم اجمعين چه دروازې ته نزدې ولاړ وو نو هغوی وويل چه مونږ ته پته ولګيده چه دا خو به رسول الله ﷺ وی نو مونږ ورته وکتل نو د هغهٔ مخ راته داسې ښکاره شو [كَأَنَّهُ وَرَقَةُ مُصْحَفٍ] لکه د قرآن کريم د پاڼې په شان ښائسته وو.

(دومره ډول ښکلې وو، او دې وخت کښې ښکلې ډول ځکه ډير شوې وو چه يو رسول الله ﷺ د متقيانو سردار دې، او متقيانو کښې دا رڼرا وي، او بله دا چه بيماري په چا

Maktaba Tul Ishaat.com

باندې تیره شي نو هغه نور ښکلې کیږي او درجات ئې اُوچتیږي، او بل د صحابه کرامو زړونه هم د خپل نبي پسې لیواله او پریشانه وو چه کله ئې دا سپین مخ ګوري)

نو ددې لیدو په وجه [حَتّٰى كَادُوْا اَنْ يَفْتَتِنُوْا فِيْ صَلَاتِهِمْ]

نـزدې وه چـه دوئ پـه مانځه کښې په فتنه کښې واقع شوي وې، (یعنی د ډیر شوق او مـحبت د وجـه نـه ئې مونځ ماتـ کړې وې او نبي ﷺ ته ئې لاس ورکړې وې، ځکه چه دوه درې ورځې ئې خپـل مـحبوب نـهٔ دې لیـدلې، کـور کښې دې، بلـه دا چه ټوله توجه د مانځه ئې نبي ﷺ طرفته لاړه)

پـدې کښې ابوبکر صدیق ﷺ هم پـوهـه شو چه نبي ﷺ راوځي نو ابوبکر صدیق ﷺ شـروع شـو چـه روستـو شـي نو نبي ﷺ ورته اشاره وکړه چه [اَنْ اَتِمُّوْا صَلَاتَكُمْ]

تاسو خپل مونځ پوره کړئ، بیا نبي ﷺ پرده راخکته کړه او دننه حجرې ته ننوتو.

دا آخري سترګې وې چه د رسول الله ﷺ سره ولګیدې. د نبي ﷺ صرف دغه وس وشو چه دروازې پورې راغې او نزدې ځائې کښې دې مګر بهر نشي راوتلې،

(او دا د طبي اصولو نه هم معلومیږي کله یو تن ډیره بیماري وکړي او بیا لږ راښه شي او بیا پرې بیماري اثر وکړي نو دا نښه وي د هغهٔ د وفات کیدو).

پـدې کښې ابوبکر صدیق ﷺ راغې او د رسول الله ﷺ سره ملاؤ شو او دا ئې ورته وویل: [يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ ! اَرَاكَ بِحَمْدِ اللّٰهِ قَدْ بَرِئْتَ]

یارسول الله ! الحمد لله تهٔ خو زما په خیال د مخکښې حالت نه ښه ئې.

صحابه کرام رضی الله عنهم هم خوشحاله شو چه اُوسه پورې خو به رسول الله ﷺ د کټ نـه پـاڅیدې نشو او اُوس دروازې پورې راغې، او په احوالو کښې ئې تغیر پیدا شو نو یو بل لهٔ ئې زیری ورکول چه د الله نبي ښه کیدو والا دې.

پـدې حالت کښې وو، کله چه د چاشت وخت شو نو په نبي ﷺ باندې بیرته بیماري سخته شوه.

نـو پدې ورځ باندې نبي ﷺ فاطمه رضی الله عنها راطلب کړه نو د هغې سره ئې اول پټه خبره وکړه نو هغه په ژړا شوه او بیا ئې ورسره پټه خبره وکړه نو هغه په خندا شوه.

عـائشـه رضـي الله عـنهـا وائي : مونږ وویل چه دا خو ډیره د تعجب خبره ده چه د ژړا

Maktaba Tul Ishaat.com

پسے دومره زر خندا کول خو د ماشومانو کار دے۔ نو مونږ ترے تپوس وکړو چه د الله نبی تا ته څه ووئیل؟ نو هغے ووئیل چه د الله د نبی راز چا ته نۀ کولاووم، کله چه هغه وفات شو نو بیبیانو ورته ووئیل چه تا ته نبی ﷺ څه ووئیل چه تا اول وژړل او بیا دِے نزدے وخاندل؟ نو هغے ووئیل : ما ته نبی ﷺ وفرمایل :

چه زۀ پدے بیماریٔ کښے وفات کیږم ما ته الله ددے خبر راکړیدے۔ نو ما وژړل بیا ئے راته ووئیل چه تۀ مۀ خفه کیږه زما په کورنیٔ کښے نزدے به تۀ وفات کیږے نو ما وخاندل (چه زۀ د خپل پلار سره نزدے ملاویږم) نو د رسول الله ﷺ پسے شپږ میاشتے بعد فاطمه رضی الله عنها وفات شوه۔

(عجیبه دا ده چه دا خلك په مرگ خوشحالیدل، د مرگ په خبر سره ئے وخاندل، ځکه چه دے خلکو د آخرت کورونه آباد کړی وو)۔

دویم دا زیرے ئے راکړو چه [سَيِّدَةُ نِسَاءِ اَهْلِ الْجَنَّةِ]

تۀ به د جنتانو د زنانو سرداره ئے۔

فاطمه رضی الله عنها روایت کوی چه پدے ورځ باندے په رسول الله ﷺ باندے ډیر سخت تکلیف وو نو ووئیل : [وَاكَرْبَ اَبَاهُ] اے زما د پلار غم او تکلیفه چه تۀ څومره سخت ئے او زما په پلار باندے راغلے ئے۔

(د خلکو عادت دا دے چه د تکلیف په وخت تکلیف ته آواز کوی)

نو نبی ﷺ وفرمایل : [اِنَّهُ لَيْسَ عَلٰى اَبِيْكِ كَرْبٌ بَعْدَ الْيَوْمِ]

نن ورځ نه پس به ستا په پلار باندے هیڅ غم او پریشانی او تکلیف نۀ وی۔ (بلکه پوره خوشحالیو باندے به ورځی) [بخاری : ٤٤٦٢]

او دا ئے هم ورته وفرمایل : چه اے فاطمے !

[اِنَّهُ قَدْ جَاءَ اَبَاكِ مَا لَيْسَ اللّٰهُ بِتَارِكٍ مِنْهُ اَحَدًا مِنَ النَّاسِ لِمُوَافَاةِ يَوْمِ الْقِيَامَةِ]

[احمد : ١٤١/٣]

ستا په پلار باندے هغه شے راغے چه الله تعالیٰ به د انسانانو نه هیڅوك د هغے نه بغیر نۀ پریدی، ځکه چه الله وعده کړیده چه دا ټول بندگان به د قیامت په ورځ خپلے مخے ته ودروم۔

(نو ددے طریقه دا ده چه په بندگانو مرگ راولی او د مرگ نه بعد به ئے خپل ځان ته

Maktaba Tul Ishaat.com

ودروی، دا دلیل دے چه انبیاء علیهم السلام هم د مرګ نه نشی بچ کیدے او نهٔ اولیاء او صالحین او نهٔ ملائك او نهٔ جبارین کفار)

او حسن او حسین رضی الله عنهما ئے راوغوښتل او هغه ئے ښکل کړل او خلکو ته ئے د دوئ په باره کښے وصیت وکړو چه تاسو د دوئ سره احسان او نیکی کوئ۔

او بیبیانو ته ئے هم نصیحتونه او وصیتونه وکړل چه تاسو به په اتفاق ژوند تیره وئ او یو بل سره به احسان کوئ او د حیاء او پردے ژوند به تیره وئ۔

❀ او عام خلك چه په دغه موقعه کښے حاضر دی هغوی ته ئے دا وصیت وکړو (او دا په اصل کښے ټول امت ته وصیت دے) وے فرمایل :

[اَلصَّلَاةَ وَمَا مَلَکَتُ اَیۡمَانُکُمۡ]

اے خلکو ! د مانځه پابند جوړ شئ،

(دا وصیت ئے بار بار وکړو، ځکه چه چا کښے د مانځه پابندی نهٔ وی نو هغهٔ کښے هیڅ دین نشی راتللے، او چه د مانځه صحیح پابند وی نو الله د رکښے نور دین راولی)

او د غلامانو او خادمانو سره احسان کوئ، او دوئ سره ظلم مهٔ کوئ

(ځکه چه کله په خادمانو او غلامانو او کمزورو باندے کوم قوم کښے ظلم شروع شی نو الله د هغوی نه عزت او مشری او مالداری اخلی)

د احتضار حالت :

په رسول الله ﷺ باندے همداسے دردونه سختیدل او زیاتیدل تردے چه د احتضار حالت ئے شروع شو۔

عائشه رضی الله عنها فرمائی :

[اِنَّ مِنۡ نِعَمِ اللّٰهِ تَعَالٰی عَلَیَّ اَنۡ تُوُفِّیَ رَسُوۡلُ اللّٰهِ ﷺ فِیۡ بَیۡتِیۡ وَفِیۡ یَوۡمِیۡ وَبَیۡنَ سِحۡرِیۡ وَنَحۡرِیۡ]

د الله د نعمتونو نه په ما باندے دا دے چه رسول الله ﷺ زما په کوټه کښے او زما په نمبر کښے وفات شو او زما د پرپوس او د مرئ په مینځ کښے ئے سر ایخودے وو وفات

Maktaba Tul Ishaat.com

شو.

[وَجَمَعَ اللّٰهُ تَعَالٰی بَیْنَ رِیْقِهٖ وَرِیْقِیْ]

او په آخره ورځ باندې الله تعالیٰ زما او د هغهٔ لاړې جمع کړیدی. هغه پدې طریقه چه نبی ﷺ د ډیر تکلیف په حالت کښې وو نو پدې کښې د ابوبکر صدیق رضی الله عنه ځوی عبد الرحمن (چه د عائشې رضی الله عنها ورور دې) هغه دننه راغې نو د هغهٔ په لاس کښې مسواك وو چه هغه ئې وهلو نو رسول الله ﷺ هغهٔ ته کتل (او خبرې ئې نشوې کولې) نو زهٔ پو هه شوم چه د رسول الله ﷺ مسواك سره مینه ده (لکه چه د مخکښې نه ئې دې سره مینه وه)

نو ما ورته وویل چه درله راوائې خلم، نو هغهٔ په سر اشاره وکړه چه آؤ، نبی ﷺ ته مې ورکړو نو هغهٔ ته سخت شو نو ما ترې بیرته واخستو او په خپله خوله کښې مې وجولو او نرم او مزیدار مې کړو او بیا مې رسول الله ﷺ ته ورکړو نو هغهٔ داسې مزیدار مسواك ووهلو لکه څنګه ئې چه د روغوالي په حالت کښې وهلو بلکه د هغې نه ئې هم زیات مزیدار مسواك ووهلو. [کَأَحْسَنِ مَا کَانَ مُسْتَنًّا].

دا مسواك د کجورو د پوستکی نه جوړ وو.

نبی ﷺ پدې حالت کښې وو چه خوا کښې ورته اُوبهٔ پرتې وې، نو اُوبهٔ به ئې راخستې او په خپل مخ مبارك به ئې اچولې او داسې به ئې فرمایل: [لَا اِلٰـهَ اِلَّا اللّٰهُ] د الله نه بغیر بل اله نشته. (د الله د توحید آوازونه به ئې کول) او دا به ئې وئیل:

[اِنَّ لِلْمَوْتِ سَکَرَاتٍ]

یقیناً د مرګ دپاره ډیر تکلیفونه او نشې دی.

(اشاره کوی چه مرګ هغه شې دې چه د هیچا خاطر نهٔ کوی تردې چه د انبیاء علیهم السلام خاطر هم نهٔ کوی، په هغوی باندې هم مشکلات راولی، ځکه چه دا یو سفر دې د دنیا نه برزخ ته او د سفر د لوازمو نه دا ده چه تکالیف به ورسره وی. او دا د الله اصول دی او پدې کښې ډیر حکمتونه دی).

د سیرت بعض کتابونه لیکی چه کله ملك الموت راغې نو هغهٔ اجازه طلب کړه چه زهٔ راشم او که نهٔ، دلته جبریل علیه السلام هم حاضر وو، پدې کښې هغهٔ ته اجازه ورکړې شوه چه راځه.

Maktaba Tul Ishaat.com

(ملك الموت هغه شخص دے چه د هیچا نه اجازه نهٔ غواړی، سیده په انسان رانںوزی، لیکن نبی ﷺ نه ئے اجازه طلب کړه او دائے ورته ووئیل چه تا ته د الله د طرف نه دا اختیار دے چه تهٔ دنیا غواړے او که آخرت۔ که آخرت غواړے نو زهٔ به درنه روح واخلم او که چرته دنیا غواړے نو الله به تا روغ کړی او زهٔ به واپس لاړ شم او ډیره زندګی به درکړی لکه دا اختیار مخکښے هم ورکړے شوے وو لکه چه مونږ مخکښے ذکر کړل نو نبی ﷺ دے وخت کښے جبریل علیه السلام ته وکتل نو جبریل علیه السلام ورته وفرمایل :

[يَا مُحَمَّدُ اِنَّ اللّٰهَ قَدِ اشْتَاقَ اِلٰى لِقَائِكَ]

اے محمد (ﷺ) یقیناً الله تعالیٰ ستا د ملاقات شوق لری۔ (او د نبی ﷺ هم دغه طرف خوښ وو)۔ دا د سیرت خبره ده۔

(السيرة النبوية لابن كثير، ٤/٥٥٠) والسيرة الحلبية والسيوطى فى الخصائص الكبرىٰ والبيهقى)

او عائشه رضی الله عنها فرمائی : کله چه رسول الله ﷺ مسواك ووهلو نو لاس یا ګوته ئے آسمان طرفته اُوچته کړه او نظرئے چهت ته پورته کړو او شونډے ئے خوزیدلے نو عائشے رضی الله عنها هغے ته غوږ کیخودو نو داسے ئے وئیل :

[مَعَ الَّذِيْنَ اَنْعَمْتَ عَلَيْهِمْ مِنَ النَّبِيِّيْنَ وَالصِّدِّيْقِيْنَ وَالشُّهَدَاءِ وَالصَّالِحِيْنَ، اَللّٰهُمَّ اغْفِرْ لِىْ وَارْحَمْنِىْ، وَاَلْحِقْنِىْ بِالرَّفِيْقِ الْاَعْلٰى، اَللّٰهُمَّ الرَّفِيْقَ الْاَعْلٰى]

(زهٔ د هغه خلکو سره کیدل غواړم چه تا په هغوی باندے احسان کریدے چه هغه انبیاء علیهم السلام او صدیقین او شهیدان او صالحین دی، اے الله ! ما ته بخنه وکړه او ما باندے رحم وکړه او ما د اُوچت مجلس والو سره ملګرے کړه، اے الله ما اُوچت (ملګرو) مجلس والو سره ملګرے کړه۔ دا آخری کلمه ئے درے کرته ووئیله۔

[وَمَالَتْ يَدَهٗ] او لاس مبارك ئے راپریوتو او د رفیق اعلیٰ (اُوچت مجلس والو سره) پیوسته شو۔

[اِنَّا لِلّٰهِ وَاِنَّا اِلَيْهِ رَاجِعُوْنَ، اَللّٰهُمَّ اُجُرْنِىْ فِىْ مُصِيْبَتِىْ وَاَخْلِفْ لِىْ خَيْرًا مِنْهَا]

عائشه رضی الله عنها فرمائی : کله چه رسول الله ﷺ دا کلمات شروع کړل نو ما ته پته ولګیده چه نبی ﷺ ته به الله اختیار ورکولو (او هغهٔ مونږ ته دا فرمایلی وو چه

Maktaba Tul Ishaat.com

هر نبي چه وفات كيږي نو الله اختيار وركوي، نو دهٔ ته ئې اختيار وركړو،

[إِذًا وَاللّٰهِ لَا يَخْتَارُنَا]

نو دغه وخت دے مونږ ته غوره كوي بلكه الله ئې غوره كړو، او د دنيا نه لاړو.

[بخاري: ٤٤٦٣، ومسلم: ٦٤٥٠، وابن كثير]

عائشه رضي الله عنها فرمائي: چه د رسول الله ﷺ سر مبارك زما په سينه باندے وو نو زما اُوګے طرفته لاړو (لكه د انسان نه چه روح وخيژي نو بيا د خپل اختيار حالت كښې نهٔ وي) هركله چه روح تړے لاړو نو ما نبي ﷺ په بالخت باندے واچولو او په ما باندے داسے حالت راغلو لكه چه زما نه ساه ختلي وي، څكه چه دا ډير لوي مصيبت او لويه سانحه ده، نو پدے كښې زهٔ په ژړا شوم او نورے زنانه هم په ژړا شوے،

(په زوره ژړا ګناه ده ليكن د نبي ﷺ د ډير درد د وجه نه او د ډير غم د وجه نه چه مونږ د هغے برداشت نشو كولے) نو ما چغے شروع كړے، نورو زنانو هم ژړل

[فَمِنْ سَفَهِيْ وَحَدَاثَةِ سِنِّيْ اَنَّهٗ قُبِضَ فِيْ حِجْرِيْ فَوَضَعْتُ رَأْسَهٗ عَلَى الْوِسَادَةِ وَقُمْتُ اَلْتَدِمُ مَعَ النِّسَاءِ]

نو زه د خپلے ناپوهئ او د كم عمرئ د وجه نه لاړم او د نورو زنانو سره كيناستم او د هغوي سره مے ژړل، او نبي ﷺ مے په ځائے پريخودو، پكار دا وه چه ما په خپل پتون باندے ايخودے وے، او خپله غيږه كښې مے ايخودے وے (روستو به ئې دا ارمان كولو) (عائشه رضي الله عنها دا هم فرمائي:

[فَلَمَّا خَرَجَتْ نَفْسُهٗ لَمْ اَجِدْ رِيْحًا قَطُّ اَطْيَبَ مِنْهَا]

هركله چه د رسول الله ﷺ روح مبارك ووتو نو ما ددے نه مزيداره بله هيڅ خوشبوئي هيڅكله نهٔ وه مونډلے. [المستدرك والبيهقي - ابن كثير]

هركله چه د زنانو ژړا شروع شوه نو پدے كښې بهر صحابه كرامو ته چه كوم په مسجد كښې وو خبر وشو، اول پدے باندے عباس رضي الله عنه پوهه شو چه نبي ﷺ وفات كيدو والا دے.

لكه ددے نه مخكښې دا واقعه راغلے وه چه علي ﷺ د پير په ورځ سهار كښې راووتو نو خلكو ترے تپوس وكړو چه نبي ﷺ څنګه دے؟ نو هغهٔ ووئيل:

[اَصْبَحَ بِحَمْدِ اللّٰهِ بَارِئًا] الحمد لله اُوس ښه دے۔

عباس ؓ یواځے کړو او دا ئے ورته ووېل چه ته خو دا خبره کوے چه رسول الله ﷺ ښه دے،

[اِنِّیْ اریٰ الموت بِوَجْهِ رَسُوْلِ اللّٰهِ ﷺ. اِنِّیْ اَعْرِفُ الموْت فِیْ وُجُوْهِ بَنِیْ عَبْدِ الْمُطَّلِب]

زهٔ د رسول الله ﷺ په مخ کښے مرګ وینم، ځکه چه زهٔ د عبد المطلب د بچو په مخونو کښے مرګ پیژنم (کله چه دوئ مری نو د دوئ په مخونو کښے خاص نښه وی) نو د هغهٔ سره یو فکر پیدا شو او دا ئے ورته ووېل چه اے علی! لاړ شه او د نبی ﷺ نه وغواړه چه ستا نه روستو خلافت که زمونږ حق وی چه زمونږ په باره کښے تصریح وکړی او که د بل چا حق وی نو هغوی ته وصیت وکړی چه مونږ سره احسانات کوی۔ (چه په مونږ څوك ظلم ونکړی، مونږ پیغمبری کورنۍ یو)

علی ؓ ډیر هوښیار سړے وو نو هغهٔ ووېل چه زهٔ دا کار نکوم، که رسول الله ﷺ مونږ نه منع وکړی چه دا ستاسو حق نهٔ دے نو قیامته پورے به زمونږ او د عباس ؓ په اولادو کښے خلیفه رانشی (ټول خلك به وائی چه نبی ﷺ د دوئ نه اخستے دے نو هیڅکله به ئے څوك نهٔ ورکوی)

نو عباس ؓ ورته ووېل: [اَنْتَ اَحْکَمُ] هلکه ته خو ډیر هوښیار ئے۔

نو لږ ساعت چه تیر شو رسول الله ﷺ باندے وفات راغے نو عباس ؓ خلکو ته خبر ورکړو چه د الله نبی وفات شو۔

پدے کښے بازارونو او کورونو والا هم خبر شو۔

ابوبکر صدیق ؓ پدے ورځ رسول الله ﷺ خوا ته راغے او دا ئے ورته ووېل چه یارسول الله! ته خو لږ ښهٔ ئے، زهٔ به سُنح علاقے ته لاړ شم چه هلته زما بله بی بی ده د هغے نمبر دے۔ (دوه درے ورځے وشوے چه د هغے ملاقات له نهٔ یم تلے۔ دا دویمه ښځه ئے د خارجه بن زید لور وه۔ سُنح په مشرقی طرف د مدینه کښے دے)

نبی ﷺ اجازه ورکړه نو هغه هلته تلے وو، دلته حاضر نهٔ وو۔

غمونه او پریشانی :

نو پریشانی جوړه شوه، د مدینے ټول اطراف او جوانبو باندے تیارهٔ راغله، هر سړی

Maktaba Tul Ishaat.com

خپل سر په لاس کښې نيولې دے۔

انس بن مالك ﷛ فرمائي :

[مَا رَأَيْتُ يَوْمًا كَانَ اَضْوَءَ حِيْنَ قَدِمَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ الْمَدِيْنَةَ وَمَا رَأَيْتُ يَوْمًا كَانَ اَظْلَمَ اَوْ اَقْبَحَ مِنْ يَوْمٍ مَاتَ فِيْهِ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ]

ما د هغهٔ ورځې نه ښائسته او چمك والا ورځ نهٔ وه ليدلې چه نبی ﷺ مدينې ته راغلو او ما د هغهٔ ورځې نه ډيره ناكاره او تيارهٔ والا بله نهٔ وه ليدلې چه په كومه ورځ رسول الله ﷺ وفات شو۔

كله چه وفات شو نو فاطمې رضی الله عنها وويل :

[يَا أَبَتَاهُ، اَجَابَ رَبًّا دَعَاهُ، يَا اَبَتَاهُ مَنْ جَنَّةُ الْفِرْدَوْسِ مَأْوَاهُ، يَا أَبَتَاهُ اِلٰى جِبْرِيْلَ نَنْعَاهُ]

[بخاری : ٤٤٦٢]

اے زما پلاره چه رب راووېلو نو د هغهٔ قبول والے ئې وكړو، اے زما پلاره ! چه جنت الفردوس د هغهٔ د وسيدو ځائے دے، اے زما پلاره مونږ جبريل عليه السلام ته ستا د مرګ خبر وركوو۔ (چه ستا دوست خو وفات شو، اُوس به تهٔ د چا ملاقات ته راځې؟!)

ابوسفيان بن الحارث بن عبد المطلب ﷛ د رسول الله ﷺ د دے غم په باره كښې داسې ژړا كوی :

اَرِقْتُ فَبَاتَ لَيْلِيْ لَا يَزُوْلُ	❁	وَلَيْلُ اَخِي الْمُصِيْبَةِ فِيْهِ طُوْلُ
وَاَسْعَدَنِي الْبُكَاءُ وَذَاكَ فِيْمَا	❁	أُصِيْبَ الْمُسْلِمُوْنَ بِهٖ قَلِيْلُ
لَقَدْ عَظُمَتْ مُصِيْبَتُنَا وَجَلَّتْ	❁	عَشِيَّةَ قِيْلَ : قَدْ قُبِضَ الرَّسُوْلُ
وَاَضْحَتْ اَرْضُنَا مِمَّا عَرَاهَا	❁	تَكَادُ بِنَا جَوَانِبُهَا تَمِيْلُ
فَقَدْنَا الْوَحْيَ وَالتَّنْزِيْلَ فِيْنَا	❁	يَرُوْحُ بِهٖ وَيَغْدُوْ جِبْرَئِيْلُ
وَذَاكَ اَحَقُّ مَا سَالَتْ عَلَيْهِ	❁	نُفُوْسُ النَّاسِ اَوْ كَرَبَتْ تَسِيْلُ
نَبِيٌّ كَانَ يَجْلُو الشَّكَّ عَنَّا	❁	بِمَا يُوْحٰى اِلَيْهِ وَمَا يَقُوْلُ
وَيَهْدِيْنَا فَلَا نَخْشٰى ضَلَالًا	❁	عَلَيْنَا وَالرَّسُوْلُ لَنَا دَلِيْلُ

أَفَاطِمُ إِنْ جَزِعَتِ فَذَاكِ عُذْرٌ	❁	وَإِنْ لَمْ تَجْزِعِي، ذَاكَ السَّبِيلُ
فَقَبْرُ أَبِيكِ سَيِّدُ كُلِّ قَبْرٍ	❁	وَفِيهِ سَيِّدُ النَّاسِ الرَّسُولُ

[الروض الانف والسيرة لابن کثیر وعیون الاثر]

زۀ یے خوبه شوم نو زما شپه نۀ ختمیده او د مصیبت والا شخص شپه اُوږده وی۔

او ما سره ژړا مدد وکړو او دا په هغه مصیبت کښے چه مسلمانانو ته رسیدلے دے ډیره کمه ده۔ زمونږ مصیبت لوی او غټ شو په هغه مازیګر کښے چه ووېل شو چه رسول الله ﷺ وفات شو۔ او زمونږ زمکه د مصیبت د راپیښیدو د وجه نه داسے وګرزیده چه نزدے وه چه ددے اړخونه په مونږ باندے راګاره شی۔ (یعنی زمکه په مونږ باندے اُلټه شوه)

ځکه چه مونږ هغه وحی او د قرآن نازلیدل ورك کړل چه سهار او ماښام به جبریل علیه السلام راوړله۔ او دا هغه شے دے چه ددے لائق دے چه د ټولو انسانانو نفسونه پدے باندے وبهیږی۔ داسے نبی وو چه مونږ نه به ئے د وحی او د خپلے وینا په وجه شکونه لرے کول۔ او مونږ ته به ئے هدایت کولو نو مونږ به په خپلو ځانونو باندے د ګمراهئ نه نۀ یریدو او رسول الله ﷺ زمونږ دپاره پوره لاربنود وو۔ اے فاطمے! که تۀ فریاد کوے نو تۀ معذوره ئے او دا ستا دپاره عذر دے، او که فریاد نۀ کوے نو دغه حقه لاره ده۔

ځکه چه ستا د پلار قبر د ټولو قبرونو سردار دے او پدے کښے د ټولو خلکو سردار رسول الله ﷺ دے۔

○○

(یعنی په مونږ باندے دینی مصیبت راغے چه وحی به سهار او ماښام راتله هغه ختمه شوه)

صحابه کرامو باندے ډیر سخت درد راغے تردے چه بعض کسانو تصدیق نۀ کولو او دا ئے نۀ وئیلے چه نبی ﷺ به وفات وی، دا ئے ذهن نۀ برداشت کوله، ځکه چه اُوس بنۀ وو، چا ووېل چه وفات دے، لیکن د ډیرے پریشانئ په حالت کښے وو۔

تردے چه بعض صحابه کرام فرمائی چه په مونږ باندے دومره غم راغے چه چا به

Maktaba Tul Ishaat.com

څادر په سر باندې اچولے وو او ژړل به ئې، او چا به وئیل چه ارمان دے چه یو ځانله ځائے وے او په هغے کښې مونږ تیز تیز ژړلی وے او دومره مو ژړلی وے چه دا زړونه مو تش کړی وے، او نحیې (ستائینې) مو کړے وے۔
مسجد چه کوم کسان ناست دی نو هغوی خو په خپله پریشانئ کښې دی،

د عمر فاروق رضی الله عنه موقف :

پدے کښې عمر رضی الله عنه بهر وو هغه خبر شو، راغے منبر ته وختلو، او دا ئې وویل چه دا به نۀ وایئ چه رسول الله ﷺ وفات دے۔ منافقان دا خبره کوی، [بَلْ صَعِقَ كَمَا صَعِقَ مُوْسٰی] بلکه په هغهٔ باندے بے هوشی راغلے ده لکه څنګه چه موسیٰ علیه السلام باندے بے هوشی راغلے وه کله چه الله طور غر ته خپله تجلی وکړه۔ او موسیٰ علیه السلام د الله ملاقات ته تلے وو، څلویښت ورځے د قوم نه غائب شوے وو، نو رسول الله ﷺ هم د الله ملاقات له تلے دے او واپس به راځی او د منافقانو لاسونه او خپے به پریکوی چه هغوی دا وائی چه نبی ﷺ وفات دے۔
(او منافقان زمونږ په مجلسونو کښې موجود دی هغهٔ به ختموی)
او بیا ئې وویل : که چا دا وویل چه نبی ﷺ وفات دے نو زهٔ ئې سر پریکوم۔ دا خبرے به نهٔ کوئ چه نبی ﷺ وفات دے، او عمر فاروق رضی الله عنه د رسول الله ﷺ وزیر وو او د الله په امر کښې سخت هم وو، څوك مخے له نشو ورتللے۔
نو خلك نور هم پریشانه شو چه دا څه حالت دے، آیا واقعی وفات دے او که نهٔ ؟،
او هرچه بیبیانے د رسول الله ﷺ او نورے زنانه دی، نو هغوی خو په خپل خفګان کښې دی او نبی ﷺ په خپله کوټه کښې پروت دے، څادر پرے واچولے شو او دروازه ورپسے رابنده کړے شوه۔
پدے کښې ابوبکر صدیق رضی الله عنه ته چا خبر وکړو هغه په جلتئ په اس باندے سور شو او د سنح علاقے نه سیده مسجد ته رانننوتو او د هیچا سره ئې خبرے ونکړے اول تحقیق د خبر کوی، نو سیده د عائشے رضی الله عنها کوټے ته ورغے، زنانو مخونه پټ کړل سویٰ د عائشے رضی الله عنها نه، نو د نبی ﷺ د مخ مبارك نه ئې څادر لرے کړو او هغه ئې په

تندی باندے خکل کړو او وے ژړل او دائے ورته وویل:

[بِأَبِيُ أَنْتَ وَأُمِّيُ يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ، لَقَدُ طِبُتَ حَيًّا وَمَيِّتًا]

زما مور او پلار دِے ستا نه قربان وی، یارسول الله ته چه ژوندے وے هم خوشبویه وے او پس د مرګ نه هم خوشبویه ئے۔

[اَمَّا الْمَوْتَةَ الَّتِيُ كَتَبَهَا اللّٰهُ عَلَيْكَ فَقَدُ مُتَّهَا وَفِيُ رِوَايَةٍ : فَقَدُ ذُقْتَهَا]

کوم مرګ چه تا له الله لیکلے وو نو ته په هغے باندے مړ شوے، او بل روایت کښے دی هغه تا وڅکلو۔

[وَاللّٰهِ لَا يَجْمَعُ اللّٰهُ عَلَيْكَ مَوْتَتَيْنِ]

قسم په الله تعالیٰ په تا باندے ذوه مرګونه نۀ راجمع کوی چه اُوس دِے هم وفات ئے او بیا دِے راژوندے کیږے او بیا دِے وفات کیږے۔ (دا خو به تا ته تکلیف وی) نو ګویا که خلکو ته ئے مسئله وخودله۔

او دا عجیبه خبره ده چه ابوبکر صدیق ﷺ په ټولو خلکو کښے زیات نرم انسان وو لیکن پدے ورځ باندے دومره سخت او کلك ودریدو چه د ټولو خلکو نه سخت وو، نو ابوبکر صدیق ﷺ بهر مسجد ته راووتو خلك پریشانه ناست دی، پدے کښے ئے عمر فاروق ﷺ ته وویل چه [اِجْلِسُ يَا عُمَرُ] اے عمر! کینه۔ لیکن هغه نۀ کیناستو (او خپله خبره ئے جاری ساتله) بیا ئے ورته وویل کینه یا اے عمره لیکن هغه نۀ کیناستو۔

نو ابوبکر صدیق ﷺ لاړو او یو طرف ته ودریدو او خطبه ئے شروع کړه نو ټول خلك لاړل او ابوبکر صدیق ﷺ ته کیناستل او عمر ﷺ ئے پریخودو نو عمر ﷺ هم کیناستو۔ (یا هغه همغه شان ولاړ دے خو خبره ئے بنده کړه)

نو ابوبکر صدیق ﷺ دا آیتونه ولوستل:

﴿وَمَا مُحَمَّدٌ اِلَّا رَسُوْلٌ قَدْ خَلَتْ مِنْ قَبْلِهِ الرُّسُلُ اَفَائِنْ مَاتَ اَوْ قُتِلَ انْقَلَبْتُمْ عَلٰى اَعْقَابِكُمْ وَمَنْ يَّنْقَلِبْ عَلٰى عَقِبَيْهِ فَلَنْ يَّضُرَّ اللّٰهَ شَيْئًا وَسَيَجْزِى اللّٰهُ الشّٰكِرِيْنَ﴾ [آل عمران : ۱۴۴]

(او نۀ دے محمد (ﷺ) مګر د الله رسول دے، ددۀ نه مخکښے ډیر رسولان تیر شویدی آیا پس که دے په خپل مرګ وفات شی یا قتل کړے شی تاسو به په خپلو پوندو بیرته واپس کیږئ نو څوك چه په خپلو پوندو بیرته واپس شو نو دے الله ته هیڅ

Maktaba Tul Ishaat.com

ضرر نشي ور کولے او زر دے چه الله به شکر گذارو ته بدله ور کړي)۔

او ورسره دا یوه مهمه خبره ئے وکړه چه

[اَمَّا بَعْدُ، مَنْ كَانَ مِنْكُمْ يَعْبُدُ مُحَمَّدًا فَإِنَّ مُحَمَّدًا قَدْ مَاتَ، وَمَنْ كَانَ مِنْكُمْ يَعْبُدُ اللّٰهَ فَإِنَّ اللّٰهَ حَيٌّ لَا يَمُوْتُ]

څوك چه ستاسو نه د محمد (ﷺ) بندگي كوي نو محمد (ﷺ) خو وفات شو۔ (د هغهٔ معبود ختم شو) او ستاسو نه چه څوك د الله بندگي كوي نو الله هميشه ژوندے دے هيڅكله مرگ پرے نهٔ راځي)

(او هغوی ته خو توحيد معلوم وو او مطلب د خبرے دا وو چه نبي ﷺ اگركه وفات شي مگر زمونږ د عبادت ځائے (معبود) ژوندے موجود دے)۔

او چه كله ئے دا آيت شروع كړو نو ابن عباس رضی الله عنهما فرمائي : چه د مسلمانانو حالت داسے وو لكه گويا كښے دوئ دا آيت مخكښے نهٔ وو لوستلے تردے چه ابوبكر صديق ﷺ ولوستلو۔ (دے ته عدم توجه او ذهول وائي، كله يوه خبره انسان ته د مخكښے نه معلومه وي ليكن د پريشانئ په عالم كښے ئے د ذهن نه ووځي او توجه ئے ورته پيدا نشي)

[فَتَلَقَّاهَا مِنْهُ النَّاسُ كُلُّهُمْ، فَمَا اَسْمَعُ بَشَرًا مِنَ النَّاسِ اِلَّا يَتْلُوْهَا]

نو خلكو د ابوبكر صديق ﷺ د خولے نه دا آيت واخستو او هر انسان به دا آيت لوستلو۔

عمر ﷺ وفرمايل : [اَهٰذِهٖ فِيْ كِتَابِ اللّٰهِ، اَهٰذِهٖ فِيْ كِتَابِ اللّٰهِ]

آيا دا آيت د الله په كتاب كښے دے، آيا دا آيت د الله په كتاب كښے دے، نو بيا ئے توجه پيدا شوه چه دا خو رشتيا د الله كتاب كښے موجود دے۔ نو هغه فرمائي :

[فَعَرَفْتُ اَنَّهُ الْحَقُّ، فَعَقَرْتُ حَتّٰى مَا تُقِلُّنِيْ رِجْلَايَ وَحَتّٰى اَهْوَيْتُ اِلَى الْاَرْضِ]

نو ما ته پته ولگيده چه د ابوبكر صديق ﷺ خبره حقه ده او رسول الله ﷺ وفات شويدے، نو زما حالت داسے شو لكه چه گويا كښے زما خپے ماتے شوي وي، تردے چه زهٔ خپلو خپو نهٔ اُوچتولم نو زمكے ته پريوتم چه نبي ﷺ خو په رشتيا وفات دے۔ (او زما خبره خطاء وه چه هغه به بيا راځي)

او ابوبکر صدیق ﷛ سید الشاکرین دے، کلك مضبوط ولاړ دے، نو پدے تقریر سره د خلکو ذهنونه کولاؤ شو چه نبی ﷺ وفات دے۔

(دا غلطه نظریه ده چه څوك د محمد رسول الله ﷺ د حیات قائل دی، لکه د صوفیاؤ دا عقیده ده چه نبی ﷺ او نور انبیاء علیهم السلام په دنیا کښے ژوندی دی، او دنیا کښے ګرځی راګرځی او هسے د الله ملاقات له تلے دے، او وصال ئے کړیدے۔ دا خبره د قرآن او د صحیح احادیثو خلاف ده۔

قرآن کریم کښے الله فرمائی : ﴿ اِنَّكَ مَيِّتٌ وَّاِنَّهُمْ مَيِّتُوْنَ ﴾ [الزمر : ۳۰]

تهٔ مړ کیدونکے ئے، او دوئ (هم) مړهٔ کیدونکی دی۔

او دے آیت کښے راغلل : ﴿ اَفَائِنْ مَاتَ ﴾ که دا نبی چرته مړ شی۔ (نو په نبی باندے مرګ راغلے دے)

او ابوبکر صدیق ﷛ وفرمایل : په تا باندے الله دوه مرګونه نهٔ راجمع کوی۔ او [فَاِنَّ مُحَمَّدًا ﷺ قَدْ مَاتَ] نبی ﷺ یقیناً وفات شو۔

عائشه رضی الله عنها وفرمایل : [تُوُفِّيَ بَيْنَ ذَاقِنَتِيْ وَحَاقِنَتِيْ]

زما د سینے او د زنے ترمینځ نبی ﷺ وفات شو، او محدثینو پدے باندے بابونه قائم کړیدی : بَابُ وَفَاةِ النَّبِيِّ ﷺ۔

کله چه ابوبکر صدیق ﷛ دا بیان وکړو نو د خلکو ذهن کولاؤ شو مګر پریشانه دی، او ژړاګانے شروع شوے، یو ځائے کښے ملګری ژاړی او بل ځائے، نهٔ پوهیږی چه څه وکړی، ځکه چه کله مشر لاړ شی نو کشران پریشانه شی چه څه وکړی۔

په روایاتو کښے راغلی دی : [حَتّٰى كَادَ بَعْضُهُمْ يُوَسْوِسُ] تردے چه د بعض کسانو په ذهن کښے وسوسے راغلے، (چه ګنے دین به ختم شی او داسے نورے وسوسے راغلے)

پدے کښے دا حالت وو چه د ماسپښین مانځه وخت راغے، بلال ﷛ ته وویل شو چه اذان وکړه نو د هغهٔ هم طاقت نهٔ وو او دا ئے وویل :

[وَاللّٰهِ لَا اُؤَذِّنُ بَعْدَ رَسُوْلِ اللّٰهِ ﷺ اَبَدًا]

قسم په الله که د رسول الله ﷺ نه روستو اذان وکړم۔ (حال دا چه په اذان کښے اجر دے لیکن دا د ډیر محبت د وجه نه داسے وائی چه محمد رسول الله ﷺ ډے نهٔ وی او زهٔ

Maktaba Tul Ishaat.com

ډېر د هغهٔ په مسجد کښې اذانونه کوم، دا نشی کیدے، ددے وجه نه لږ روستو زمانه کښې ئے د ابوبکر صدیق ﷛ نه اجازه واخسته چه زهٔ په مدینه کښې نهٔ وسیږم، هغهٔ د اذانونو دپاره ایسارولو لیکن هغه نهٔ ایساریدو،

ابوبکر صدیق ﷛ سعید بن عامر ﷛ په یو لوی فوج باندے امیر مقرر کړو او شام ته ئے لیږلو نو پدے کښې بلال ﷛ درخواست وکړو چه اے ابوبکر! که تا زهٔ د الله دپاره آزاد کړے یم نو زما لاره پریده چه زهٔ د الله په لاره کښې جهاد وکړم ځکه چه ما ته جهاد ددے ځائے د پاتے کیدو نه بهتر دے، ابوبکر صدیق ﷛ ورته وفرمایل :

الله پدے گواه دے چه ما تهٔ صرف د هغهٔ د رضا دپاره آزاد کړے ئے، زهٔ تا نه پدے باندے څه بدله او شکر نهٔ غواړم، دا زمکه ډیره پلنه ده ستا چه کومه لاره خوښه وی په هغې ورشه۔ بلال ﷛ وویل : گویا کښې تهٔ به ما ملامته کوے زما په خبره باندے،

ابوبکر صدیق ﷛ وفرمایل : زما پدے خبره په زړهٔ کښې هیڅ خفگان نشته او زهٔ دا خوښوم چه تهٔ خپل خواهش زما د خواهش دپاره مهٔ پریده ترڅو چه تا ته خواهش د خپل رب د طاعت حکم کوی۔

بلال ﷛ وویل : که تهٔ غواړے زهٔ به تا سره پاتے شم۔

ابوبکر صدیق ﷛ وفرمایل : هرکله چه ستا خواهش جهاد دے نو زهٔ تا ته په پاتے کیدو حکم نهٔ کوم البته ما تهٔ د اذان دپاره غوښتلے (چه دلته به اذانونه کوے) او زهٔ به ستا په فراق باندے یو وحشت موندهٔ کړم، او دا داسے جدائی ده چه ددے نه روستو به تر قیامته پورے ملاقات نهٔ کیږی نو بس نیك عمل کوه او د دنیا نه ډیر ستا دومره توښه وی چه تا ته په ژوند کښې الله دریاد کړی او د وفات نه روستو ستا دپاره نیکه بدله درکړے شی، بلال ﷛ ورته وویل :

جَزَاكَ اللّٰهُ مِنْ وَلِيِّ نِعْمَةٍ وَاَخٍ فِی الْاِسْلَامِ۔

الله تعالیٰ دے ته نیکه بدله درکړی، تا ما سره ډیر احسان او اسلامی ورورولی وکړه۔

هر چه د ذان خبره ده نو ما دا عهد کړیدے چه زهٔ به د رسول الله ﷺ نه روستو د هیچا دپاره اذان نهٔ کوم بیا بلال ﷛ د سعید بن عامر ﷛ سره شام ته روان شو۔

[الاکتفاء بما تضمنه من مغازی رسول الله ۳/۱۲۹]

آخر دا چه اجازه ئے ورکړه او شام ته لاړو هلته وسیدو تردے چه په شام کښې وفات

Maktaba Tul Ishaat.com

شو۔

نو بل چا اذان وکړو، نو ابوبکر صدیق ﷛ جمعه وکړه، مسلمانان پدې پریشانئ حالت کښې دی، نو پدې کښې اول افاقه په انصارو راغله، هغوی وویل چه نبی ﷺ وفات شو او مرګ خو حق دے، په هر چا راځی، نو ځئ چه د راتلونکې زمانې څه حال ځانله پیدا کول پکار دی، نو انصار لاړل او په سَقِیُفَه د بنو ساعده کښې جمع شول چه مشری ئے سعد بن عباده ﷛ کوله۔

(سقیفه یوه میدانی علاقه وه چه په هغې باندې یو څپر وو چه خلك به د ګرمئ نه د هغې لاندې کیناستل انصار هلته جمع شو) او علی ﷛ او زبیر ﷛ او طلحه بن عبید الله ﷛ د فاطمې رضی الله عنها کور ته لاړل هغې له تسلی ورکوی۔

او ابوبکر صدیق ﷛ او عمر بن الخطاب ﷛ او ابو عبیده بن الجراح ﷛ او نور مهاجرین عبد الاشهل قبیلې ته تلی دی،

او اُسید بن حُضیر ﷛ یو انصاری صحابی دے دا هم ورسره دے، خفګان او پریشانی ده چه څه وکړی۔ نو انصارو کښې افاقه پیدا شوه څه نا څه غم کم شو۔

د انصارو کوشش دا وو چه خلیفه مقررول پکار دی، ځکه چه خلیفه نۀ وی نو افراتفری جوړیږی۔

نو پدې کښې دوه انصاری صحابه کرام ددې مجلس نه پټ راووتل راغلل ابوبکر صدیق ﷛ او مهاجرینو له خبر ورکوی چه انصار لګیا دی، خلیفه مقرروی او ستاسو مشوره پکښې نشته، حال دا چه دا ستاسو حق دے، او دے ته عدم تعصب (بے تعصبی) وائی چه د خپل قوم لحاظ نۀ ساتی بلکه مهاجرینو ته وائی چه تاسو په جلتئ راشئ او دا خلك رالاندې کرئ مخکښې ددې نه چه په یوه خبره اتفاق وکړی۔ او دا دوه صحابه کرام یو عُویم بن ساعده ﷛ دے او دویم معن بن عدی ﷛ دے۔

(او دا عُویم بن ساعده ﷛ هغه شخص دے چه کله دا آیت نازل شو چه [فِيْهِ رِجَالٌ يُحِبُّوْنَ اَنْ يَّتَطَهَّرُوْا] مسجد قباء کښې څه خلك دی چه پاکی خوښوی۔ نو نبی ﷺ د عویم صفت کړے وو چه

[نِعْمَ الْمَرْءُ عُوَيْمٌ وَمِنْهُمْ عُوَيْمٌ]

چه عُویم ښه سړے دے چه پاکی خوښوی۔ او ددې پاکو خلکو نه یو عُویم بن ساعده

Maktaba Tul Ishaat.com

هم دي۔

او معن بن عدی ﷺ هغه صحابی دے چه کله نبی ﷺ وفات شو نو ډیرو خلکو وویل:

[وَاللّٰهِ لَوَدِدْنَا أَنَّا مِتْنَا قَبْلَ رَسُوْلِ اللّٰهِ ﷺ]

ارمان دے چه مونږ د رسول الله ﷺ نه مخکښې مړۀ وے، دا په مونږ باندے کومه پریشانی راغله۔ مونږ یرېږو چه ددۀ نه روستو به په فتنو کښې واقع شو۔

نو دے پاڅیدو او دائے وویل:

[لٰكِنِّيْ مَا أُحِبُّ أَنِّيْ مِتُّ قَبْلُ حَتّٰى أُصَدِّقَهُ مَيِّتًا كَمَا صَدَّقْتُهُ حَيًّا]

لیکن زۀ دا نۀ خوښوم چه زۀ د نبی ﷺ نه مخکښې مړ وے دے دپاره چه زۀ ئے په مړینی هم تصدیق وکړم لکه چه په ژوندینی مے د هغۀ تصدیق کړیدے۔

(یعنی ایمان بالغیب مے راشی، ځکه چه په ژوند کښې خو به ئے معجزات لیدل او په مرګ د هغۀ باندے هغه معجزے ختمے شوے،

ددے وجه نه په احادیثو کښې دا فضیلت بیان شوے چه

[طُوْبٰى لِمَنْ رَآنِيْ وَطُوْبٰى سَبْعَ مَرَّاتٍ لِمَنْ لَمْ يَرَنِيْ وَآمَنَ بِيْ]

[مسند احمد: ۱۲۶۰۰، ۲۲۲۶۸، صحیح ابن حبان ۷۲۳۲ حسن لغیره]

خوشحالی ده هغه چا له چه زۀ ئے لیدلے یم او اُوه (۷) کرته خوشحالی ده هغه چا لره چه زۀ ئے نۀ یم لیدلے او په ما باندے ئے ایمان راوړے۔ (یعنی غائبانه ایمان ئے راوړیدے)

او نبی ﷺ فرمائی چه زۀ د هغه کسانو په ایمان تعجب کوم چه روستو زمانه کښې به راشی،

[يَجِدُوْنَ صُحُفًا يُؤْمِنُوْنَ بِمَا فِيْهَا]

[رواه ابو یعلی والبزار والحاکم والبیهقی فی الدلائل واسناده حسن لغیره۔ تخریج وآثار کتاب فی ظلال القرآن: ۱/ ۲۹۰ والصحیحة: ۷/ ۶۵۴-۶۵۷ رقم: ۳۲۱۵]

دوئ به کاغذونه مونده کوی او په هغے کښې چه کومے خبرے دی په هغے به ایمان راوړی، او د صحابه کرامو ایمان تعجبی نۀ دے ځکه چه هغوی خو رسول الله ﷺ لیدلے دے او ملائك د الله قدرتونه وینی او پیغمبرانو باندے معجزے نازلیږی، لهذا د روستنو خلکو ایمان تعجبی دے، دا صحابی بیا په جنګ یمامه کښې شهید شو۔

Maktaba Tul Ishaat.com

(سیرتِ ابن اسحاق)

دا دواړه راغلل او ابوبکر صدیق ؓ ته ئې خبر ورکړو چه تاسو ځانله دلته خپل امیر مقرر کړئ مخکښې ددې نه چه هغوی ئې مقرر کړي۔

نو ابوبکر صدیق ؓ ورته وفرمایل چه مونږ داسې نهٔ کوو ځکه چه دا خو زمونږ ورونه دي، د ورونو سره کینو او مشوره کوو او بې مشورې کار نهٔ کوو، دې دپاره چه اختلاف پیدا نشي، نو دا درې صحابه کرام (ابوبکر صدیقؓ، عمر فاروق ؓ او ابوعبیده بن الجراح ؓ) سقیفه د بني ساعده ؤ ته ورغلل۔

کله چه دوئ هلته ورسیدل نو ابوبکر صدیق ؓ او دا ملګری کیناستل نو د انصارو مشر سعد بن عباده ؓ پاڅیدو چه دا ډیر نیك صحابي او جنتي دې۔ هغه پدې ورځ بیمار هم دې چه څادر ئې اچولې وو، هغه ودریدو او یو طرفي بیان ئې وکړو۔

انصارو ته ئې وویل :

[اِنَّ اللّٰهَ بَعَثَ مُحَمَّدًا ﷺ عَلٰی اَنْ يُّعْبَدَ اللّٰهُ وَحْدَهٗ وَاَمَرَهٗ بِخَلْعِ الْاَنْدَادِ وَالْاَوْثَانِ فَلَبِثَ فِيْ قَوْمِهٖ ثَلَاثَ عَشْرَةَ سَنَةً فَمَا آمَنَ بِهٖ اِلَّا قَلِيْلٌ، لَا يَسْتَطِيْعُوْنَ اَنْ يَّمْنَعُوْهُ حَتّٰى سَاقَهُ اللّٰهُ اِلَيْكُمْ]

الله تعالیٰ محمد ﷺ ددې دپاره راولیږلو چه په دنیا کښې د هغهٔ یواځې بندګي وشي او هغهٔ ته ئې حکم وکړو چه بتان او بت پرستي ختمه کړي نو په خپل قوم کښې ئې دیارلس کاله تیر کړل نو په هغهٔ باندې لږو خلکو ایمان راوړو (اشاره کوي د مهاجرینو کم والي ته)، چه د هغوی دا طاقت نهٔ وو چه د رسول الله ﷺ حفاظت وکړي، تردې چه دا نعمت الله تعالیٰ تاسو ته راوستو او تاسو ټول د هغهٔ ملګري شوئ او د هغهٔ مدد مو وکړو او د هغهٔ غمخوري او مرسته مو وکړه او تردې چه په توره باندې تاسو جهاد کړو او ټول عرب مو تابع کړل۔ (ستاسو په تورو دا کار وشو) بیا ئې وویل :

[اِسْتَبِدُّوْا بِهٰذَا الْاَمْرِ]

نو پدې خلافت باندې تاسو مستقل شئ۔ یعنی دا ستاسو حق دې او خلیفه ستاسو نه پکار دې،

(پدې کښې د هغهٔ دنیا پرستي غرض نهٔ ده، بلکه دا خلافت په هغه زمانه کښې یو نعمت دې، زمونږ په زمانه کښې بادشاهي خو دیته وائي چه مشر شه او پردي مالونه

او جائیدادونه خوره او په څان بندے پیتے ډیره وه، او په هغه زمانه کښې خلافت د الله دین نافذ کول او د خلکو خدمتونه کول وو، او خلیفه به په څان باندے ډیر مشکلات تیره ول، نو دا نعمت ئے د خپل قوم دپاره غوښتو)

ددے نه پس کینستو۔

د ابوبکر صدیق ؓ خطبه :

پدے کښے عمر ؓ فرمائی چه [زَوَّرْتُ مَقَالَةً فِیْ نَفْسِیْ]

ما په زړهٔ کښے یو تقریر تیار کړے وو چه زهٔ به ددهٔ د خبرو نه روستو دا خبرے کوم۔ نو کله چه سعد خبرے ختمے کړے زهٔ پاڅیدم نو ابوبکر صدیق ؓ ما ته وویل چه [عَلٰی رِسْلِكَ] په آرام شه، تهٔ مهٔ پاڅیږه۔

عمر ؓ فرمائی : زهٔ ډیر تیز سړے وم لیکن د ابوبکر صدیق ؓ نه به مے ډډه کوله او د هغهٔ نه به مے تیزی اړه وله۔ بل سره به مے تیزه کوله لیکن ابوبکر صدیق سره مے نشوه کوله۔ ځکه چه دا مشر سړے وو، او په عمر باندے ډیر ګران وو او ډیر محبت ئے ورسره وو، نو ابوبکر صدیق ؓ پاڅیدو او داسے مزیدارے خبرے ئے وکړے چه زما د زړهٔ خبرے ئے هم وکړے او د هغے دپاسه ئے نورے هم وکړے، هغهٔ د الله حمد ووئیلو او د حمد او درود نه روستو ئے وفرمایل :

[نَحْنُ الْمُهَاجِرُوْنَ وَاَنْتُمُ الْاَنْصَارُ،]

مونږ مهاجرین یو او تاسو انصار یئ، قریش د ټولو خلکو نه د نسب په لحاظ اُوچت دی [وَاَحْسَنُهُمْ وُجُوْهًا وَاَوْسَطُهُمْ دَارًا وَاِنَّ الْعَرَبَ لَا تَدِیْنُ اِلَّا لِهٰذَا الْحَیِّ مِنْ قُرَیْشٍ]

او دوئ د مخونو په لحاظ ښائسته دی، او د کور په لحاظ هم درمیانه او غوره دی، او عرب دوئ ته په اُوچته سترګه ګوری، عرب صرف قریشو ته غاړه اږدی، (یعنی نور خلك ستاسو نهٔ تابع کیږی)۔

[وَقَدَّمْنَا فِی الْقُرْاٰنِ عَلَیْکُمْ]

او مونږ په قرآن کریم کښے ستاسو نه مخکښے ذکر شوی یو

(د قرآن د دوه ځایونو نه ئے استدلال وکړو یو دا چه

﴿وَالسَّابِقُوْنَ الْأَوَّلُوْنَ مِنَ الْمُهَاجِرِيْنَ وَالْأَنْصَارِ﴾ [التوبة ۱۰۰]
نو مهاجرین ئے مخکښے ذکر کړل د انصارو نه۔
او بل آیت کښے دی : ﴿يَا أَيُّهَا الَّذِيْنَ آمَنُوْا اتَّقُوا اللّٰهَ وَكُوْنُوْا مَعَ الصَّادِقِيْنَ﴾ [۱۱۹]
الله نه ویریږئ او د صادقینو ملګری شئ
او هغه وائی چه د صادقینو نه مراد مهاجرین دی، لکه سورة الحشر آیت (۸) کښے راغلی دی : ﴿أُولٰئِكَ هُمُ الصَّادِقُوْنَ﴾ مهاجرینو ته ئے صادقین وئیلی دی۔
نو الله تاسو ته حکم کړیدے چه تاسو به زمونږ ملګری کیږئ او تاسو چه کومے خبرے وکړے نو دا بالکل صحیح دی،
[وَأَنْتُمْ يَا مَعْشَرَ الْأَنْصَارِ إِخْوَانُنَا فِيْ كِتَابِ اللّٰهِ وَشُرَكَاؤُنَا فِي الدِّيْنِ، وَأَحَبُّ النَّاسِ إِلَيْنَا، وَأَنْتُمُ الَّذِيْنَ آوَوْا وَنَصَرُوْا، وَأَنْتُمْ أَحَقُّ النَّاسِ بِالرِّضَاءِ بِقَضَاءِ اللّٰهِ وَالتَّسْلِيْمِ لِفَضِيْلَةِ مَا أَعْطَى اللّٰهُ إِخْوَانَكُمْ مِنَ الْمُهَاجِرِيْنَ]
او تاسو اے د انصارو ډلے زمونږ ورونه ئے د الله په کتاب کښے (یعنی الله مونږ ته ورونه ورونه وئیلی دی) او زمونږ سره په دین کښے شریك یئ او مونږ ته د ټولو خلکو نه زیات محبوب یئ او تاسو هغه خلك یئ چه تاسو مونږ ته ځائے راکړے او د الله د دین مدد مو کړے۔ او تاسو د ټولو خلکو نه ډیر لائق یئ چه د الله په فیصله به راضی کیږئ او هغهٔ چه ستاسو مهاجرینو ورونو ته کوم فضیلت ورکړے هغے ته به غاړه اږدئ۔
[فَجَزَاكُمُ اللّٰهُ خَيْرًا]
نو الله دِ ے تاسو ته جزائے خیر درکړی۔ نو قانون دا دے چه
[فَأَنْتُمُ الْوُزَرَاءُ وَنَحْنُ الْأُمَرَاءُ]
تاسو به زمونږ وزیران یئ او مونږ به امیران یو۔ ځکه چه د الله نبی فرمایلی دی :
[اَلْأَئِمَّةُ مِنْ قُرَيْشٍ] امامان او امیران به د قریشو نه وی۔
او زما رایه دا ده چه تاسو ددے دواړو سړو نه د یو تن سره بیعت وکړئ او د عمر فاروق رضی الله عنه او د ابو عبیده بن الجراح رضی الله عنه په مینځ کښے ولاړو نو د هغوی په سرونو ئے لاسونه کیخودل، ځکه چه دا دواړه ما ته د خلافت دپاره خوښ دی او ددے اهل دی۔

Maktaba Tul Ishaat.com

(عمر ﷺ فرمائی : ما د ابوبکر صدیق ﷺ خبرے بنے وګنړلے لیکن دا خبره مے پکښے خوښه نشوه چه زۀ ئے پکښے یادم کړم، زۀ دا خوښوم چه زما څټ وهلو ته مخکښے شی خو په هغه قوم بانديے به مشری ونکړم چه په هغوی کښے ابوبکر موجود وی۔ (بخاری ۶۸۳۰)

نو ابوبکر صدیق ﷺ ډیرے مزیدارے خبرے وکړے چه انصار ئے هم خفه نکړل او دا ئے هم واضحه کړه چه خلافت د قریشو حق دے۔

پدے کښے د انصارو نه یو تن (حُباب بن المنذر ﷺ) پاڅیدو او دا ئے وویل :

[اَنَا جُذَيْلُهَا الْمُحَكَّكُ وَعُذَيْقُهَا الْمُرَجَّبُ، مِنَّا اَمِيْرٌ وَمِنْكُمْ اَمِيْرٌ]

زۀ تجربه ناك سړے یم، زۀ دا وایم چه یو امیر زمونږ نه مقرر کړئ او یو امیر به ستاسو نه مقرر شی۔

لیکن پدے بانديے رد وشو چه دوه امیران په یوه بادشاهئ کښے اول نه اختلاف ته اشاره ده چه امیر جدا شو نو هغه بل ته غاړه نۀ اږدی، نو فساد به پیدا کیږی۔

نو شور جوړ شو او اختلاف پیدا شو نو پدے کښے عمر فاروق ﷺ پاڅیدو چه اے خلکو ! د ابوبکر صدیق ﷺ فضیلت سره څوك برابریږی، الله تعالیٰ دۀ ته د رسول الله ﷺ صاحب وئیلے دے۔ ﴿اِذْ هُمَا فِي الْغَارِ اِذْ يَقُوْلُ لِصَاحِبِهٖ لَا تَحْزَنْ﴾

او رسول الله ﷺ تاسو لره په مونځونو کښے صرف همدا خوښ کړیدے، تاسو کښے څوك دے چه ابوبکر موجود وی او هغه ابوبکر ته امامت وکړی، هیڅوك پانۀ څیدو، هغوی غلی شو نو عمر فاروق ﷺ د ابوبکر صدیق ﷺ لاس ونیولو او بیعت ئے ورسره وکړو چه بس تۀ زمونږ امیر ئے، نو ابوبکر صدیق ﷺ د مشکلاتو ختمولو دپاره مجبوراً لاس اُوږد کړو۔

لیکن ددے نه هم مخکښے بشیر بن سعد انصاری ﷺ زر راپاڅیدو او د ټولو نه مخکښے ئے ابوبکر صدیق ﷺ ته لاس ورکړو۔ (چه دے نیکئ ته زۀ مخکښے شم)،

بیا عمر ﷺ بیعت وکړو او بیا مهاجرین ورپاڅیدل بیعت ئے وکړو بیا انصار شروع شو۔ او ابوبکر صدیق ﷺ د ټولو په اتفاق سره امیر او خلیفة المسلمین جوړ شو۔

(د صحابه کرامو اختلاف به ډیر زر ختمیدو کله چه به ورته د رسول الله ﷺ د

Maktaba Tul Ishaat.com

ارشاد او د قرآن کریم د آیتونو نه دلیل پیش شونو انصارو تولو خپله خبره واپس واخسته او ټول په یوه خبره متفق شول والحمد لله علی ذلك)

کله چه صحابه کرامو بیعت کولو نو دلته سعد بن عباده ﷺ بیمار پروت وو، شړئ ئے اغوستے وه نو د ډیر رش د وجه نه نزدے وه چه خلك په سعد ﷺ باندے ورختلی وے، نو یو انصاری آواز وکړو چه تاسو سعد مړ کړو، په خپو ئے پایمال نکړئ۔

عمر فاروق ﷺ وفرمایل : [قَتَلَ اللّٰهُ سَعْدًا]

الله تعالیٰ دے سعد مړی څکه چه دهٔ خو کړه خبره کړیده۔

(دوئ خپل مینځ کښے ملګری دی، یاران دی، یو بل ته داسے خبره کولے شی، اګرکه مونږه ئے ورته نشو کولے، اګرکه سعد هم ډیر فضیلت والا جنتی صحابی دے، د خزرج قبیلے سردار دے، او د اسلام دپاره ئے ډیرے لوی قربانیانے ورکړیدی)

دا اختلاف خو پدے ځائے ختم شو، ابوبکر صدیق ﷺ خلیفه شو او الله رب العالمین دا نعمت هغهٔ ته ورکړو او هغه ئے لائق هم وو۔

دا ورځ خو تیره شوه چه عام خلك د پریشانئ حالت کښے دی، او دے لږو کسانو بیعت وکړو۔ صبا ورځ (منګل ورځ) راغله، د ماسپښین مانځه نه مخکښے ابوبکر صدیق ﷺ ته عام مدینے والا راجمع شو،

ابوبکر صدیق ﷺ منبر ته ختلو خبره ئے کوله لیکن د هغهٔ نه مخکښے عمر فاروق ﷺ پاځیدو او دا ئے وویل چه زهٔ یوه خبره کوم ما ته اجازه راکړه بیا نورے خبرے تهٔ وکړه۔

نو هغهٔ دوه خبرے وکړے، یو ئے دا وویل چه اے خلکو! پرون چه ما کومه خبره کړے وه چه نبی ﷺ وفات نهٔ دے، نو دا نهٔ ما قرآن کښے لیدلے وه او نهٔ ما ته رسول الله ﷺ وئیلے وه، بلکه دا زما خیال وو چه رسول الله ﷺ به زمونږ د ټولو نه په آخر کښے مری۔ (یعنی زهٔ په خپل اجتهاد او خیال کښے خطاء وم) او دا ئے وویل :

الله تعالیٰ تاسو ته خپل کتاب پریخودے دے، هغه کتاب چه پدے سره ئے خپل نبی ته هدایت کړے نو که تاسو دا کلك راونیولو نو تاسو ته به هم هدایت وکړی هغه خبرو ته چه خپل نبی ته ئے کړیدے۔

دویمه خبره ئے دا وکړه چه الله تعالیٰ ستاسو کار په یو تن باندے راجمع کړیدے چه

Maktaba Tul Ishaat.com

هغه ستاسو ټولو نه غوره دے چه د رسول الله ﷺ د غار ملګرے دے۔ مونږ د هغهٔ سره بیعت کړیدے نو تاسو پاڅیږئ او ددهٔ سره بیعت وکړئ۔ نو خلك راپاڅیدل او د ابوبکر صدیق ﷺ سره عام بیعت وشو پس د بیعت د سَقیفه نه۔

ددے بیعت نه صرف علی بن ابی طالب ﷺ او فاطمه رضی الله عنها او سعد بن عباده ﷺ پاتې دی۔ نور عامو مسلمانانو بیعت وکړو۔

نو ابوبکر صدیق ﷺ پدے وخت کښے منبر باندے کیناستو او مختصر بیان ئے وکړو۔ دا ئے وویل :

[یَا اَیُّهَا النَّاسُ اِنِّیُ قَدُ وُلِّیۡتُ عَلَیۡکُمۡ وَلَسۡتُ بِخَیۡرِکُمۡ]

اے خلکو ! زهٔ په تاسو مشر کړے شوم (او خلکو راسره بیعت وکړو) او زهٔ په تاسو کښے غوره نهٔ یم (حسن بصریؒ فرمائی: قسم په الله چه دے د ټولو نه غوره وو چه هیڅ مقابل ئے نهٔ وو لیکن مؤمن سړے عاجزی کوی- البیهقی فی الکبری)

[فَاِنۡ اَحۡسَنۡتُ فَأَعِیۡنُوۡنِیۡ وَاِنۡ اَسَأۡتُ فَقَوِّمُوۡنِیۡ]

که ما چرته ښهٔ کار کولو نو ما سره به مدد کوئ (ځکه چه خلافت د یو تن کار نهٔ دے) او که ما بد کار کولو نو ما به برابره وئ (دا به راته وایئ چه دا کار غلط دے)

بیا ئے وویل : [اَلصِّدۡقُ اَمَانَةٌ وَالۡکِذۡبُ خِیَانَةٌ]

رشتیا زما په نیز امانت دے، زهٔ به همیشه تاسو ته رشتیا وایم، دا به زما په غاړه کښے امانت وی، زما په باره کښے به دا ګمان نهٔ کوئ چه دا مونږ ته دروغ وائی او مونږ سره ټګی کوی، لکه ډیر امیران او مشران د خپلو عوامو سره ټګی کوی، چه ظاهره کښے یو شان وی او مینځ کښے بل شان۔

او دروغ خیانت دے۔ (یعنی زهٔ به تاسو ته هیڅکله دروغ نهٔ وایم او تاسو به هم راته دروغ نهٔ وایئ)

[وَالضَّعِیۡفُ فِیۡکُمۡ قَوِیٌّ عِنۡدِیۡ حَتّٰی اُرِیۡحَ عَلَیۡهِ الۡحَقَّ]

او په تاسو کښے کمزورے زما په نیز قوی دے تردے چه زهٔ به د ظالم نه حق اخلم او هغهٔ ته به ئے واپس کوم۔

[وَالۡقَوِیُّ فِیۡکُمۡ ضَعِیۡفٌ عِنۡدِیۡ حَتّٰی آخُذَ مِنۡهُ الۡحَقَّ اِنۡ شَاءَ اللّٰهُ]

او په تاسو کښے قوی زما په نیز ضعیف دے تردے چه د هغهٔ نه به حق اخلم (او

Maktaba Tul Ishaat.com

مستحق ته به ئے ورکوم) ان شاء الله۔

(دے تـه ذهـن سازی وائـی چـه قـوی دِے پـه خپل قوت باندے مغرور نشی چه زۀ به پردی حقـونـه وهـم او مـا تـه بـه څوك څه نۀ وائی بلكه زۀ به د خلافت په زور د هغۀ نه حق اخلم)۔

بیا ئے جهاد ته هم ترغیب ورکړو او په بے حیایئ باندے ئے رد وکړو، وے فرمایل:

[لَا يَدَعُ قَوْمٌ الْجِهَادَ فِیْ سَبِیْلِ اللّٰهِ اِلَّا ضَرَبَهُمُ اللّٰهُ بِالذُّلِّ]

یو قوم جهاد نۀ پریدی مګر هغوی الله په ذلت اخته کوی۔ (نو جهاد به نۀ پریدو)

[وَلَا تَشِیْعَ الْفَاحِشَةُ فِیْ قَوْمٍ قَطُّ اِلَّا عَمَّهُمُ اللّٰهُ بِالْبَلَاءِ]

او پـه یـو قـوم کښے چـه بے حیـائـی خـوره شـی نـو دوئ باندے به الله تعالیٰ عمومی عـذابـونه او بلاء ګانے راولی۔ (یعنی یو قوم کښے چه جهاد نۀ وی او بے حیائی عامه وی نو دغه قومونه به ذلیله او مصیبتونو کښے اخته وی)

بیا ئے وفرمایل:

[أَطِیْعُوْنِیْ مَا أَطَعْتُ اللّٰهَ وَرَسُوْلَهُ فَاِذَا عَصَیْتُ اللّٰهَ وَرَسُوْلَهُ فَلَا طَاعَةَ لِیْ عَلَیْكُمْ]

زمـا خبره بـه مـنـئ کـلـه کـه مـا د الله او د رسول طاعت کولو او که ما د الله او د رسول خـلاف (چرتـه وکـړو، زۀ ئـے نـکـوم خـو کـه بالفرض رانه وشی) نو زما طاعت په تاسو باندے نشته۔

(بیـا بـه داسے نۀ وایئ چه ابوبکر صدیق ﷺ پـه خلفاءِ راشدینو کښے دے او دا خو امیر المؤمنین او عالم دے، نو که بالفرض زما نه د حدیث یا د قرآن خلاف وشو نو تاسو به د قـرآن او حـدیـث پسے ځئ او زما خبره به پریدئ، دا څومره ښکلے ذهن سازی ده، لیکن مـونـږ تـه دا یاران وائی چه هر رنګ چه وی خو زمونږ امام چه څه وئیلی دی هغے پسے به ورځئ، ښه وی او که بد، دلیل وی او که نۀ، د دلیل تپوس به نۀ کوے۔

دا قسـم خبرے چـه څوك کوی، دا د قرآن خلاف خبرے هم کوی او د حدیثو هم کوی او د خلفاء راشدینو هم کوی۔ وائی چه [لَا یُسْأَلُ الْإِمَامُ]

دا مـام نـه بـه د دلیل تپوس نۀ کوے، هغه چه څه وائی هغه به منے، دا خبره غلطه ده، د ابوبکر ﷺ نـه پـه امت کښے څوك غټ عالم او لوی شخصیت کیدے شی، هغه داسے وائی چه زما طاعت به په خطاء کښے نۀ کوئ۔

Maktaba Tul Ishaat.com

بیا ئے وفرمایل : [قُوۡمُوۡا اِلٰی صَلَاتِکُمۡ یَرۡحَمُکُمُ اللّٰهُ]

مانځه ته راپاڅیږئ الله دِے په تاسو رحم وکړی۔

نو ابوبکر صدیق ﷛ مونځ وکړو او خلك لا همغه شان په پریشانئ کښے دی لیکن په آرام آرام دا حالت بدلیدو والا دے او دا د منګل (سه شنبے) ورځ ده۔

ددے نه بعد د نبی ﷺ د تجهیز او تکفین پروګرام شروع کیږی، وجه داده چه خلیفه لا مقرر نۀ دے نو نبی ﷺ باندے جنازه یا هغۀ له غسل ورکول یا قبر ته خکته کول ډیره مهمه نۀ وه او خلیفه مقررول ډیر مهم وو ځکه چه د خلیفه په نۀ مقررولو سره په مسلمانانو کښے افراتفری او اختلاف او فساد جوړیږی او د نبی تجهیز او تکفین روستو کولو کښے فساد نۀ راځی۔

تجهیز او تکفین او غسل :

ددے نه بعد د نبی ﷺ په باره کښے درے څلور اختلافه پیدا شو، او اختلاف کله د عدم علم د وجه نه پیدا کیږی، دے ته سوچ پکار دے چه حدیث شته دے او د هغوی اختلاف پیدا کیږی، وجه دا ده چه احادیث تقسیم دی، یو حدیث یو صحابی ته یاد دے او بل حدیث بل ته او بل بل ته۔ هر یو ته ټول یاد نۀ وی نو ځکه اختلاف پیدا کیږی۔

اول اختلاف دا پیدا شو چه نبی ﷺ به په مدینه کښے خخوو او که بل ځائے؟، بیا مدینه کښے چه خخوو نو بقیع مقبرے ته به ئے وړو او که کور کښے به ئے خخوو؟۔

بعضو ووئیل چه مکے ته وړل غواړی، چا ووئیل چه بیت المقدس ته به ئے وسو، هغه د پیغمبرانو ځائے دے، عام پیغمبران هلته خخ دی، چا ووئیل چه د منبر په خوا کښے خخول پکار دی، چا ووئیل چه په خپله مصلیٰ کښے دِے خخ کړے شی،

[الموطأ رقم : ٥٤٥، ابن سعد ۲/۲۹۳)

دے ته آراء وائی، صرف مشورے وے۔

نو دا د ابوبکر صدیق ﷛ کمال وو چه هغۀ د وخت نه د مسئلو تپوس کړے وو، دا د هوښیارو طریقه وی چه د راتلونکی وخت حالاتو په باره کښے معلومات جمع کوی، عامو صحابه کرامو دا په خیال کښے نۀ وه چه نبی ﷺ به وفات کیږی او پروګرامات

Maktaba Tul Ishaat.com

به مونږ ته سپارلے کیږي، نو ابوبکر صدیق ﷺ ته دا معلومات وو چه د الله نبی وفات کیدو والا دے، او پروګرامات به امت ته پاتے کیږي، نو د مخکښے نه ئے د نبی ﷺ نه تپوس کړے وو چه یارسول الله که ته وفات شے نو تا به مونږ چرته خخوو ؟۔

نو ابوبکر صدیق ﷺ وفرمایل : اختلاف مهٔ کوئ ما د رسول الله ﷺ نه دا ارشاد آوریدلے دے :

[مَا قَبَضَ اللّٰهُ نَبِيًّا اِلَّا فِي الْمَوْضِعِ الَّذِیْ یُحِبُّ اَنْ یُّدْفَنَ فِیْهِ]

هیڅ یو نبی نه الله تعالیٰ روح نهٔ اخلی مګر په هغه ځائے کښے چه هغه غواړی چه په هغے کښے خخ شی۔ [اِدْفِنُوْهُ فِیْ مَوْضِعِ فِرَاشِهٖ]

دا د خپلے بسترے په ځائے کښے دفن کړئ۔

[صحیح السیرة النبویة ص ۷۲۷]

ددے حدیث د صحت په باره کښے اختلاف دے مګر د نبی په خپل ځائے د وفات کښے خخولو باندے اجماع د امت ده۔

نو رسول الله ﷺ له په راتلونکی شپه یعنی د بدهـ (چار شنبے شپه) باندے قبر وکنستے شو۔ (دوه شپے نبی ﷺ په خپله کوټه کښے په همدغه حالت کښے پروت وو او د انبیاؤ بدنونه نهٔ خرابیږی)۔

دا اختلاف خو ددے حدیث په بیانولو باندے ختم شو۔

دویم اختلاف : آیا نبی ﷺ ته به غسل ورکوو او که نهٔ ؟، او که غسل ورکوو نو جامے به ترے وباسو او که نهٔ ؟ او **دریم** اختلاف دا چه جنازه به پرے کوو او که نهٔ ؟ دا مسئلے عامو ملګروته نهٔ وے معلومے۔

نو د ابوبکر صدیق ﷺ نه تپوس وشو چه یا خَلِیْفَةَ رَسُوْلِ الله ﷺ آیا رسول الله ﷺ له به غسل ورکوو ؟ هغهٔ وفرمایل : آؤ، ما د رسول الله ﷺ نه آوریدلی دی چه نبی ته به غسل ورکولے شی۔

نو بربنډه وو به ئے او که نهٔ ؟

عائشه رضی الله عنها فرمائی : هرکله چه خلکو اراده وکړه چه رسول الله ﷺ ته غسل ورکړی نو دوئ وویل : مونږ ته پته نشته چه آیا مونږ به رسول الله ﷺ ته په بربنډه غسل ورکړو او که په جامو کښے، هرکله چه دوئ اختلاف وکړو (نو دلته الله

Maktaba Tul Ishaat.com

سبحانه د دوئ کرامت ښکاره کړو او دویم د ابوبکر صدیق رضی الله عنه زیات علم راښکاره شو) نو الله تعالیٰ په دوئ باندې خوب واچولو

[حَتّٰى مَا مِنْهُمْ رَجُلٌ اِلَّا وَذَقْنُهُ فِيْ صَدْرِهٖ]

تردې چه د دوئ نه د هر سړی زنه په سینه باندې راخکته شوه (یعنی خوب پرې راغلو) بیا د دوئ سره د کوټې د طرف نه یو خبرې کونکی (ملائك) خبرې وکړې دوئ نه پوهیدل چه دې څوك دې؟ هغۀ وویل:

[اِغْسِلُو النَّبِیَّ ﷺ وَعَلَيْهِ ثِيَابُهٗ]

نبی ﷺ ته په جامو کښې غسل ورکړئ. نو صحابه کرام راپاڅیدل او هغۀ ته ئې د جامو دپاسه غسل ورکړو چه اوبه به ئې پرې د قمیص دپاسه راړولې او هغه به ئې په قمیص سره مږلو (مخلو) نۀ په لاسونو سره.

عائشې رضی الله عنها وفرمایل: که ما ته مخکښې نه پته وې لکه چه روستو راته پته ولګیده نو نبی ﷺ ته به صرف خپلو بیبیانو غسل ورکړې وې.

[سنن ابی داود ۳۱٤۱، اسناده حسن، مسند احمد ۲٦۳٤۹]

(داسې ډیر کرته الله تعالیٰ کوی چه کله یو تن په صحراء کښې ورك شی نو یو ملائك سړی ته د انسان په شکل راشی او لاره وښائی، او الله تعالیٰ ملائك د انسانانو په خدمتونو لګولی دی، څوك چه دا خبره کوی چه دا خضر علیه السلام وو، نو دا د صوفیاؤ خبره ده، چه هیڅ حقیقت نۀ لری، ځکه چه خضر علیه السلام خو انسان دې، نو انسان څنګه نۀ ښکاره کیږی، او اوسه پورې ورك وو او چه کله نبی ﷺ وفات شو نو اوس راښکاره شو)

پدې کښې ابوبکر صدیق رضی الله عنه پدې وخت د غسل کښې حاضر نۀ دې لیکن د هغۀ نه بیا هم تپوس شویدې چه دا آواز چا وکړو پته نشته، د چا په خبره عمل وکړو؟ (صحابه کرام خو په وهمونو پسې نۀ روانیدل بلکه خبره به ئې حقیقت ته رسوله نو ابوبکر صدیق رضی الله عنه راغې او هغۀ نه تپوس وشو چه

[يَا خَلِيْفَةَ رَسُوْلِ اللّٰهِ ﷺ اَنُجَرِّدُ رَسُوْلَ اللّٰهِ ﷺ؟]

آیا مونږ به رسول الله ﷺ د غسل دپاره بربنډه وو؟

نو هغۀ وویل چه ما د رسول الله ﷺ نه آوریدلی دی چه زۀ کله وفات شم نو ما به نۀ

Maktaba Tul Ishaat.com

بربنډه وئ. نو دوه تائیدونه راغلل یو غیبی تائید او دویم علم د ابوبکر صدیق ﷜.

د غسل طریقه :

طریقه دا وه چه په کور کښې صرف اهل بیت راجمع شو، عباس ﷜ یوه خیمه شان ووهله، عام خلك ئے دننه نۀ پریخودل صرف بنو هاشم ئے دننه پریخودل، او په خیمه کښې خپله ننوتو او علی بن ابی طالب ﷜ او دوه ځامن فضل او قُثم ئے ځان سره واخستو او اسامه ﷜ چه د نبی ﷺ محبوب دے او دے وخت کښې د فوج امیر هم دے لیکن واپس راغلے دے او سفر ئے نۀ دے شروع کړے ځکه چه دا مشکل مینځ ته راغلو، دا هم حاضر شو او د شقران په نوم باندے د نبی ﷺ یو آزاد کړے شوے غلام وو، ډیر ښه خادم وو، هغۀ ئے هم حاضر کړو.

پدے کښې یو صحابی د انصارو نه اَوس بن خَولی ﷜ چه بدری صحابی دے، د بنو عوف بن الخزرج نه. دروازه ووهله نو علی ﷜ ور اُووتو نو دا ئے ورته ووئیل :

[اَنۡشُدُكَ اللّٰهَ وَحَظَّنَا مِنۡ رَسُوۡلِ اللّٰهِ ﷺ]

چه تاسو ته په الله قسم درکوم چه مونږ د نبی ﷺ انصار یو او زمونږ په رسول الله ﷺ کښې برخه شته نو ما پریدئ چه زۀ هم دے غسل ته حاضر شوم،

(دا کار ئے د ډیر محبت د وجه نه وکړو) او عام خلك ئے نۀ پریخودل ځکه چه د مړی بدن ته ډیر خلك حاضرول ګناه ده، د مړی بدن عورت دے دا به نۀ ښکاره کیږی، دے وجه نه د غسل په وخت ډیر کسان حاضرول صحیح نۀ وی. نو علی ﷜ هغۀ ته هم اجازه ورکړه.

نو د نبی ﷺ د غسل پروګرام شروع شو.

عائشه رضی الله عنها فرمائی :

[لَوِ اسۡتَقۡبَلۡتُ مِنۡ اَمۡرِیۡ مَا اسۡتَدۡبَرۡتُ مَا غَسَّلَ رَسُوۡلَ اللّٰهِ ﷺ اِلَّا اَزۡوَاجُهٗ]

(ابو داود : ۳۱٤۱)

که ما ته مخکښې نه دا معلومه وے کومه چه روستو راته معلومه شوه نو رسول الله

Maktaba Tul Ishaat.com

ﷺ ته به مونږه بيبيانو غسل ورکړے وے. (ځکه چه زمونږ د نبی سره آزادی وه، ليکن مونږ هغه وخت کښې ډير پريشانه وو نو دا خبره مونږ نه هيره شوه)

د غسل نه مخکښې : د بئر غرس نه اُوبه راوړے شوے،

(دا کوهے په قربان علاقه کښې مسجد قباء ته نزدے مشرقی طرف کښې واقع دے، ددے کوهی نه رسول الله ﷺ اودس کړے وو او بيائے باقيمانده اُوبه پدے کښې اچولے وے، او رسول الله ﷺ به ددے کوهی نه اُوبۀ هم څکلے. دا کوهے د سعد بن خيثمه ﷺ وو، کوم باندے چه رسول الله ﷺ په مدينه کښې نازل شوے وو، او ددے کوهی نه به ئے ورلهِ اُوبۀ راوړلے).

او د بيرو پانړے او کافور هم حاضر کړے شو. اول ئے پرے خالص اُوبه راواړه ولے، او دويم ځل ئے د بيرو په اُوبو سره او دريم ځکه په اُوبه او کافورو سره ووينځلو. (امتاع).

نو علی ﷺ غسل ورکولو او عباس ﷺ او فضل بن عباس ﷺ به ورسره مدد کولو، اړه ولو راړه ولو به ئے، (ځکه چه فضل ډير قوی او مضبوط وو) او قُثم بن عباس ﷺ او اسامه ﷺ او شقران ﷺ درے واړو به ورته اُوبۀ اچولے. (امتاع الاسماع)

علی ﷺ فرمائی : د عام مړی نه کله واړه بول او فضله جات خارجيږی د غسل په وخت کښې نو ما وويل چه زۀ رسول الله ﷺ گورم، نو ما چه نبی ﷺ وکتلو نو د هغۀ بدن داسے مزيدار او خوشبويه وو لکه څنگه چه ژوند کښې به ترے خوشبوئی تلله.

نو وے فرمايل : [بِأَبِیْ وَأُمِّیْ ! طِبْتَ حَيًّا وَمَيِّتًا]

تا نه دِے زما پلار او مور قربان وی، پس د مرگ نه هم خوشبويه ئے او په ژوند کښې هم خوشبويه وے.

کفن :

او د غسل نه چه کله فارغ شو نو جامے ئے ورله اُوچے کړے او بيائے کفن ورته واغوستو.

صحيح حديث کښې دی : چه درے لفافے ئے ورته واچولے، لکه همدا سنت طريقه ده.

[كُفِّنَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ فِیْ ثَلَاثَةِ أَثْوَابٍ بِيْضٍ سَحُوْلِيَّةٍ لَيْسَ فِيْهَا قَمِيْصٌ وَلَا عِمَامَةٌ]

رسول الله ﷺ ته په درے کپړو کښې کفن ورکړے شو چه تکے سپينے وے او په هغے

Maktaba Tul Ishaat.com

کښې قمیص او پتکې نهٔ وو. طریقه ئې دا ده چه درې واړه کپړې به اُوږدې اُوږدې واچوی یو بل دپاسه، مړې به په درې واړو دپاسه کیږدی، نو بیا د کپړې ګس طرف تاو کړی بیا ښې طرف، او په مینځ مینځ کښې عطر اچوی، او یو سر او بل سر وتړی او مینځ کښې هم یوه ټکړه تاؤ کړی دې دپاره چه کفن کولاؤ نشی او په هغې باندې درې درې کرت عطر اچول مسنون عمل دې. دا سیده ساده کفن دې،

او مړی ته قمیص اچول هم جائز دی لکه نبی ﷺ عبد الله بن اُبی ابن سلول منافق ته په کفن کښې خپل قمیص ورکړې وو، هغې کښې به بل حکمة وو.

او د نبی ﷺ عام عادت دا نهٔ وو چه مړو ته قمیص واچوی. نو د کفن په وخت علماؤ ته پتکې او لونګئ اچول بدعت دې.

جنازه :

بیا د جنازې په باره کښې تپوس وکړې شو نو ابوبکر صدیق ؓ جواب ورکړو چه په نبی ﷺ به جنازه کیږی لیکن په غیر د جماعت نه. (دا د انبیاؤ علیهم السلام خصوصیت دې، ددې خصوصیت حکمتونه الله تعالیٰ ته معلوم دی)

نو اول سړو جنازه وکړه چه لس لس (۱۰) کسان به کوټې ته ورننوتل او مونځ به ئې پړې کولو پس د غسل نه، ځکه چه ځائې تنګ وو، سړی چه کله فارغ شو بیا پړې زنانو جنازه وکړه، بیا کشران ماشومان ممیزینو پړې جنازه وکړه.

او د یو روایت نه معلومیږی چه نبی ﷺ فرمایلی وو چه کله تاسو زما د جنازې نه فارغ شوئ نو ما لږ همداسې پریدئ ځکه چه ملائک به راځی او په ما به جنازه کوی.

(او صحیح احادیثو کښې راغلی دی چه ملائک د هر مؤمن جنازې ته حاضریږی، سعد بن معاذ ؓ چه وفات شو نو اویا زره (۷۰۰۰۰) ملائک د هغهٔ جنازې له راغلل.

او د بعض مسلمانانو دپاره کم او زیات راځی، ددې وجه نه حدیث کښې دی چه څوك جنابت کښې مړ شی نو دهٔ له ملائك نهٔ راځی.

اګر که په جنابت کښې مړ کیدل ګناه نهٔ ده، مثلاً یو تن ماسخوتن کښې جنب شو او پدې جنابت کښې د سهاره پورې پروت دې، دا ګناهګار نهٔ دې لیکن که مړ شو ملائك

بـه ئـے پـه جنازه نهٔ ودریږی البته که غسل وکړی، یا اودس وکړی یا تیمم ووهی، بیا هم ملائك حاضریږی۔

[سنن البیهقی ۱/۲۰۳ رقم: ۹۲۸]

رسـول الله ﷺ یـوے جـنازے تـه روان وو نـو څه کسان ئے ولیدل چه سوارهٔ وو نو ورے فرمایل:

[اِنَّ مَلَائِکَةَ اللّٰهِ عَلٰی اَقْدَامِهِمْ وَاَنْتُمْ عَلٰی ظُهُوْرِ الدَّوَابِّ]

مـلائك پیـاده روان دی او تـاسـو پـه سورلو باندے ناست یئ۔ نو د عامو مړو جنازو له ملائك راځی نو د نبی ﷺ جنازے ته هم راغلی دی۔

بیا **سوال** دا دے چه دا جـنازه ئے بهر ولے نهٔ راویستله چه ابوبکر صدیق ﷺ به پرے کـړے وے ؟ چا ددے وجـه دا بیـان کـریـده چـه لا خلیفه مقرر نهٔ وو نو ځکه داسے ونشوه لیکن دا وجه خطاء ده، ځکه چه خلیفه خو پرون مقرر شویدے۔

نـو دویمه وجه دا ده چه نبی ﷺ داسے امر کړے وو چه په ما باندے امامت مهٔ کوئ۔ (لکه په الخصائص الکبریٰ د بیهقیؒ کنبے د علی ﷺ روایت نه معلومیږی ۲/۴۱۳)

نـو دا د نبی ﷺ خـصـوصـیت دے، او بعض علماؤ ددے وجه دا بیان کړیده چه که د امامتئ پـه شـکـل جـنازه د یـو امام پسے وشی نو بیا به په نبی ﷺ باندے یوه جنازه وشی او چه کله د امام نه بغیر هر سړے جنازه کوی نو دے کنبے به ډیرے جنازے وَشی۔

بله وجه دا ده چه په قرآن کریم کنبے هر چا ته مستقل امر دے ﴿صَلُّوْا عَلَیْهِ﴾

تـاسـو پـه نبی ﷺ بـانـدے درود ووایئ او هـغهٔ تـه دعاء وکړئ۔ نو ددے دپاره چه هر سړے په مستقله توگه د هغهٔ دپاره دعاء وغواړی۔

او که امامت شی نو کیدے شی چه امام دعاء وکړی او مقتدیان ئے ونکړی۔

او دا جنازه پړے د یوم الثلاثاء (منگل) د ورځے نه شروع شوه۔

نبی ﷺ اگرکه بخښلے شویدے او یقیناً جنت ته تلے دے، په هغهٔ باندے پس د مرگ نـه هیـڅ قسم تکلیف نشته لیکن جنازه کولو کنبے ئے ډیر حکمتونه دی، لکه مونږ د اذان نـه بعد د هغهٔ دپاره دعاء کنبے وایو چه اے الله ! وسیلے ته ئے ورسوه، حال دا چه هغه خو دعاء ته محتاج نهٔ دے لیکن دا د دین برخه ده چه مونږ به خپل نبی ته دعاء کوو۔

او دے دعاء کنبے ډیرے فائدے او حکمتونه دی، د امت خیرخواهی ده، او امت دپاره

Maktaba Tul Ishaat.com

سبق دے چه مړي جنازے ته ضرورت لري۔

هرکله چه جنازه پرے وشوه او دا ورځ تیره شوه او ماسخوتن وخت راغے، نو اراده وکړے شوه د رسول الله ﷺ د دفن کولو، ځکه چه مړي په کور کښے بغیر د ضرورت نه ایسارول صحیح نهٔ دي، خلکو ته هم تکلیف وي او د مړي دپاره هم دا عزت دے چه هغه زر قبر ته ورسولے شي۔

نبي ﷺ فرمائي:

[اَسْرِعُوْا بِالْجِنَازَةِ فَاِنْ كَانَتْ صَالِحَةً قَالَتْ : قَدِّمُوْنِيْ]

جنازه په جلتئ سره ویسئ که هغه نیك عمله وي نو داسے وائي چه ما زر ویسئ (مزو ته) او که ناکاره وي۔ نو دا وائي : [يَا وَيْلَهَا اَيْنَ تَذْهَبُوْنَ بِهَا]

زهٔ خو تباه شوم تاسو ما کومے کندے ته غورزوئ۔ او د هغے آواز هر شے آوري سوئ د انسان نه۔ (بخاري)

لحد او شق :

هرکله چه دا خبره ښکاره شوه چه نبي ﷺ به په خپله کوټه کښے خخوو نو د صحابه کرامو رضوان الله علیهم اجمعین بل شك دا راغلو چه دهٔ له کوم قسم قبر اُوباسو، شق جوړ کړو او که لحد؟۔

(شق په قبر کښے مینځنئ کنده ده، او لحد دے ته وائي چه په کنده کښے دننه قبلے طرفته یوه نرئ شان کنده وباسي)، نو مدینه کښے دوه (۲) صحابه کرام وو چه یو به شق او بل به لحد جوړه ولو، ابوعبیده بن الجراح ﷺ مهاجر صحابي به شق والا قبر جوړه ولو ځکه چه په مکه کښے لحند نهٔ جوړیدو، زمکه شړلنه وه او ابو طلحه انصاري ﷺ به په مدینه کښے لحد جوړه ولو، نو نبي ﷺ له کوم قسم قبر جوړ کړو؟

نو یو تن ئے د ابو طلحه ﷺ پسے او بل تن ئے د ابوعبیده ﷺ پسے ولیږل او عباس ﷺ ورپسے روستو دعاء وکړه:

[اَللّٰهُمَّ خِرْ لِرَسُوْلِ اللّٰهِ ﷺ]

اے الله ! د رسول الله ﷺ دپاره غوره کار وکړه، یعنی کوم یو کار چه غوره وي نو د هغے قبر کنستو والا مخکښے راوله۔

(داسے وخت کښے دعاء طلب کول ډیر ښهٔ وي کله چه علم نهٔ وي)۔ لیکن د نورو

Maktaba Tul Ishaat.com

صحابه کرامو سره دے باره کښے علم وو خاصکر د ابوبکر صدیق رضی الله عنه سره. ځکه چه رسول الله ﷺ داسے فرمایلی وو:

[اَللَّحُدُ لَنَا وَالشَّقُّ لِغَیْرِنَا]

(یعنی لحد د مسلمانانو کار دے او کنده ویستل د یهود او نصاراؤ طریقه ده)

لیکن دا هغه طریقه ده چه زمونږ دپاره هم جائز ده، بعض طریقے د یهود او د نصاراؤ وی لیکن د مسلمانانو دپاره هم جائز وی، دواړو کښے یو شان والے وی په بعض احکامو کښے. نو لحد غوره دے او شق جائز دے، ددے وجه نه بعض صحابه کرامو به شق قبر ویستلو او چا به نۀ منع کول.

(نو دلته دا قانون د رسول الله ﷺ په حدیث کښے ددے په باره کښے موجود دے لیکن دغه لږو مسلمانانو ته نۀ دے معلوم)

نو کوم استازے ئے چه د ابو طلحه رضی الله عنه پسے لیږلے وو نو هغه ورسره ملاؤ شو او د ابو عبیده رضی الله عنه پسے چه کوم استازے تلے وو نو هغه ترے غائب دے پدے وخت کښے نو پدے کښے ابو طلحه رضی الله عنه مخکښے راغے، نو حکم ئے وکړو چه لحد دِے وکنستے شی. د عباس رضی الله عنه دعاء هم وه او د الله تعالیٰ هم لحد خوښ وو او رسول الله ﷺ هم فرمایلی وو.

نو الله خپل نبی دپاره لحد غوره کړو.

عائشه رضی الله عنها فرمائی: مونږ ته دا پته نۀ وه چه رسول الله ﷺ څه وخت کښے خخیږی، نو مونږ د پردے نه شاته ناست وو،

[مَا عَلِمْنَا بِدَفْنِ رَسُوْلِ اللّٰهِ ﷺ حَتّٰی سَمِعْنَا صَوْتَ الْمَسَاحِیْ مِنْ جَوْفِ اللَّیْلِ وَفِیْ رِوَایَةٍ مِنْ آخِرِ اللَّیْلِ]

مونږ ته دا پته نۀ وه چه نبی ﷺ به اُوس خخیږی، تردے چه مونږ د بیلچو آوازونه واوریدل نو مونږ ته پته ولګیده چه اُوس د شپے ئے خخوی، نبی ﷺ ئے په نیمائی شپه کښے یا په آخر د شپه کښے خخ کړو. دا د چارشنبے شپه وه.

ددے نه دا مسئله معلومه شوه چه د مړو د شپے خخول جائز دی. او ددے تفصیل مخکښے تیر شویدے چه د مړو د شپے خخولو نه منع هم راغلے ده، د هغے وجه دا وه چه یو صحابی چا د شپے خخ کړے وو چه هغۀ ته ئے کفن هم نیمګړے ورکړے وو او

Maktaba Tul Ishaat.com

جنازه هم پرې سمه نۀ وه شوې، نو نبي ﷺ منع وکړه،

او کله چه دا خبرې پکښې نۀ وی نو بیا جائز ده۔لکه ډیرو احادیثو کښې اجازه راغلې ده۔

بیا ئې نبي ﷺ د سَل په طریقه خخ کړو، او په احادیثو کښې دوه طریقې د مړی د خخولو راغلی دی، یوه دا چه د قبلې د طرف نه ئې راواخلی۔ یعنی کټ د مړی د قبر یو طرف ته راوړی او د مړی مخ قبلې طرفته وی او د هغې نه ئې راواخلی او قبر ته ئې په پلنو باندې راخکته کړی لکه خلك عام مړی په همدې طریقه خخوی۔

او دویمه طریقه د سَلّ ده او دا طریقه غوره ده او په نبي ﷺ باندې کړې شویده۔

د سل طریقه دا ده چه په قبر کښې د مړی خپې کوم ځائې راځي نو هلته به کټ کیخودې شی بیا به د مړی سر ونیولې شي او د قبر د خپو د طرف نه به ئې په قبر کښې پورته په اُوږدو راخکاږی او هغه سر ته به ئې بوځي۔

قبر ته علي بن ابی طالب رضی الله عنه، فضل بن عباس رضی الله عنه، او قُثم رضی الله عنه او شقران رضی الله عنه درې ځلور کسان ورخکته کړې شول۔ نو اَوس بن خَولي رضی الله عنه بیا راغې چه الله ته وګورئ ما هم پریدئ، نو هغه ئې هم پریخودو او د رسول الله ﷺ یو څوکیدار چه مغیره بن شعبه رضی الله عنه دې، چه هر وخت به ئې د رسول الله ﷺ څوکیداری کوله، خُود (د وسپنې توپئ) به ئې په سر وه، نو هغه هم پدې ځائې کښې حاضر شو، نو رسول الله ﷺ قبلې طرفته واچولې شو،

او سنت طریقه دا ده چه ټول مړې به قبلې طرفته متوجه کوې، یواځې سر نه، ګویا که په ښي اړخ باندې به ئې واچوی، او سر ته به ورله د خاورو بالخت جوړ کړی۔ لکه په لحد کښې په همدې شکل باندې خخولې شي۔

یو روایت کښې دی چه د نبي ﷺ یوه شړئ وه چه هغه به ئې اغوستله نو د شقران رضی الله عنه ورسره ډیره مینه وه نو دۀ وویل چه د الله نبي به وفات شی او دا به بیا روستو بل څوك اغوندی نو هغه شړئ ئې د نبي ﷺ په قبر کښې خوره کړه۔

(که نۀ وی، سنت طریقه دا ده چه د مړی لاندې سرګړې او بروزې وغیره اچول پکار دی، دا د مړی اکرام دې، لکه په صحیح احادیثو کښې راغلی دی۔ او بستره او څادر وغیره ورته خوره ول بهتر نۀ دی، لیکن دا هم د نبي ﷺ د خصوصیاتو نه دی، چه

Maktaba Tul Ishaat.com

هغۀ ته دا شړئ اچولے شویده۔

او بعض سیرتونو کښې دی چه صحابه کرامو دغه شړئ بیرته راخکله چه دا سنت طریقه نۀ ده۔ سنت طریقه دا ده چه مړے په خاوره کښې کیخودے شی لاندے ورته څه بستره وغیره وانچولے شی۔

او په نبی ﷺ باندے نهه (۹) کچه خښتے کیخودلے شوے۔ (پدے کښے لرګی او پخے خښتے استعمالول د سنت خلاف دی)

کله چه دوه درے خښتے پاتے شوے نو دے وخت کښې مغیره بن شعبه ﷛ قبر ته خپله ګوتمه وغورزوله کله چه خلك د قبر نه ووتل او نورے خښتے ئے پرے کیخودے نو مغیره ﷛ وویل : ودریږئ ما نه ګوتمه غورزیدلے ده، هغه راخلم، علی ﷛ ورته وویل ورکوز شه۔ نو هغه ورکوز شو او ګوتمه ئے راواخسته (چه هغه ئے قصداً غورزولے وه) او د نبی ﷺ په خپو مبارکو ئے لاسونه راخکل۔

(دا کار د ډیر محبت د وجه نه کیږی، که تۀ د صحابه کرامو د زړونو محبت وګورے نو حیران به شے چه څومره عجیب محبت الله تعالیٰ دوئ ته ورکړے وو، دۀ دا کار ددے دپاره وکړو چه په ټولو انسانانو کښې زۀ د رسول الله ﷺ سره آخری ملاقات کونکے شم۔ دا به صحابه کرامو رضوان الله علیهم اجمعین فخر ګڼړلو۔

لکه عائشه رضی الله عنها فرمائی : په ما باندے د الله فضل دا دے چه رسول الله ﷺ زما په نمبر کښې وفات دے، زما د سینے سره لګیدلے دے، آخره کښې زما او د هغۀ لاړے شریکے شویدی، دا د الله مهربانی ګڼړی، د ډیر محبت د وجه دا خبره کوی۔

مغیره بن شعبه ﷛ پدے خبره فخر هم کولو چه زۀ په تاسو کښې د ټولو نه روستنے هغه سړے یم چه د نبی ﷺ سره زما بدن لګیدلے دے۔

بیا پرے خاورے راواړه ولے شوے، او د هغۀ قبر جوړ کړے شو داسے وړوکے لکه د یو لویشت په مقدار۔ او په هغے باندے شړے واچولے شوے،

لکه حدیث د ابو داوؒد کښې دی :

قاسم بن محمدؒ وائی (چه دا د عائشے رضی الله عنها وراره دے) چه اے زما مورے ! ما ته خو د نبی ﷺ او د هغۀ د دواړو ملګرو (د ابوبکر ﷛ او د عمر ﷛) قبرونه راوبنایه (ځکه چه هر چا ته ددے قبرونو د کتلو اجازه نۀ وه چه په خپله طبع ورننوزی)

Maktaba Tul Ishaat.com

نو هغه وائی : ما ته ئې درې قبرونه راوخودل :

[لَا مُشْرِفَةٌ وَلَا لَاطِئَةٌ مَبْطُوحَةٌ بِبَطْحَاءِ الْعَرْصَةِ الْحَمْرَاءِ]

[ابو داود : ۳۲۲۲]

چه هغه نۀ ډیر اُوچت وو او نۀ د زمکې سره هموار وو او په هغې باندې د خوړ وارۀ وارۀ سرۀ کانړی خوارۀ کړې شوی وو.

(پدې باندې نۀ ګنبد وو او نۀ بل شے او نۀ پوخ کړې شوے وو، ګنبد خو روستو شپږمه صدئ کښې مظفر الدین اِربل بادشاه جوړ کړے، دا د صحابه کرامو او تابعینو او تبع تابعینو طریقه نۀ ده بلکه د شپږمې صدئ کار دے، نو په قبرونو باندې ګنبدونه جوړه ول خلاف سنت عمل دے)

بلکه ساده وړوکے قبر جوړ کړے شو.

الله تعالیٰ خپل نبی په کوټه کښې ولے خخولو ؟ ددے ډیر حکمتونه دی، یو د هغې نه دا دے چه کوم انسان د کومې خاورې نه پیدا وی نو په هغه خاوره کښې بیرته خخیږی، لکه دا په صحیح حدیث کښې راغلی دی : الله د ټولې زمکې نه خاوره راخستے وه او آدم علیه السلام کښې ئې اچولې وه نو د کوم انسان خاوره چه د کوم ځائې نه وی نو په همغه ځائے کښې وفات کیږی. الله ته هغه ځائے او هغه خاوره معلومه ده نو د رسول الله ﷺ خاوره به ددې ځائے نه راخستے شوے وه نو ځکه همدلته خخ کړے شو.

ددے وجه نه بعض خلك مدینه غوره کوی پدې وجه چه د رسول الله ﷺ بدن ددې خاورې نه جوړ کړے شویدے. لیکن صحیح مسئله دا ده چه مکه مکرمه په مدینه منوره باندې غوره ده، ځکه چه د الله رسول فرمایلی وو چه مکه غوره ده. نو مونږ به د رسول الله ﷺ خبرے ته ګورو هغه فرمائی :

[اِنَّكِ لَأَحَبُّ الْبِلَادِ اِلَى اللّٰهِ]

اے مکے ! تۀ په ټولو ښارونو کښې الله ته بهترینه او خوښه ئې.

دویمه وجه دا ده چه رسول الله ﷺ ارشاد فرمائیلے وو :

[اَللّٰهُمَّ لَا تَجْعَلْ قَبْرِيْ وَثَنًا يُّعْبَدُ]

اے الله ! زما د قبر نه بت (او د شرکی تعظیم ځائے) مۀ جوړه وه چه خلك ئې بندګی

Maktaba Tul Ishaat.com

کوی۔

عائشه رضی الله عنها فرمائی : [وَلَوْلَا ذٰلِكَ لَأُبْرِزَ قَبْرُهُ]

که دا یره نهٔ وے نو د رسول الله ﷺ قبر مبارك به ښكاره شوے وے۔ (هر سړی به لیدلے) نو ددے د خاطره الله تعالیٰ د هغهٔ دعاء قبوله کړه او قبرئے په کوټه کښے پټ کړے شو چه اُوس ئے څوك عبادت نشی کولے۔

په رسول الله ﷺ باندے د قبر اول او آخر ته د سورة البقرے اول او آخری آیتونه ونهٔ لوستلے شو، ځکه چه دا به نبی ﷺ خپله هم قبرونو ته نهٔ وئیل او نهٔ به صحابه کرامو رضی الله عنهم وئیل۔ عبد الله بن عمر ﷺ ته ددے نسبت شویدے چه هغهٔ به وئیل لکه مشکاة کښے راغلی دی، لیکن هغه روایت د عبد الرحمن بن العلاء بن اللجلاج راوی د وجه نه ضعیف دے۔

صحیح خبره دا ده چه د الله نبی ډیر مړی خخ کړیدی او هغهٔ نه هیڅکله دا نقل نهٔ دی۔ بلکه د هغهٔ طریقه دا ده چه کله به مړے خخ کړے شو نو په شریکه به ئے په لاسونو اُوچتولو سره د هغهٔ په قبر باندے د تثبیت دعاء وکړه، لیکن خلکو دا سنت طریقه پریخودے ده او بل بدعت ئے ایجاد کړیدے۔

دا قانون د عامو مړو په باره کښے دے، او د انبیاء علیهم السلام په باره کښے دا چرته نهٔ دی راغلی چه ملائك هغوی له په قبر کښے راځی او د هغوی نه تپوسونه کوی چه

مَنْ رَبُّكَ وَمَنْ نَبِيُّكَ وَمَا دِيْنُكَ

(ستا رب څوك دے او نبی دِے څوك دے او دین دِے څه دے)

د نبی شان بل رنګه دے د الله په نیز، هغه خو یو بادشاه دے چه د یو بادشاهئ نه بلے بادشاهئ ته لاړو، نو بادشاه چه بلے بادشاهئ ته ځی نو هغهٔ ته د اکرام دپاره څو مره فوج او پولیس ولاړ وی او څو مره مکانات او لارے ورته ښائسته کولے شی، دغه شان رسول الله ﷺ چه د دنیا نه تلو نو د هغهٔ دپاره خوشحالیانے دی، هغهٔ نه په قبر کښے تپوسونه نهٔ وی۔

اګر که په قیامت کښے د انبیاء علیهم السلام نه د تبلیغ په باره کښے تپوس شته چه آیا تاسو دین بیان کړیدے او که نهٔ؟ او په دے کښے به هم مقصد د خلکو رټاګیره ول وی چه زما انبیاؤ (علیهم السلام) خو دین بیان کړیدے خو څو مره خلکو منلے دے او

Maktaba Tul Ishaat.com

کومو منلے دے، او کومو نهٔ ؟۔

حاکمؒ د سعید بن المسیبؒ نه روایت راوړیدے چه عائشې رضی الله عنها د رسول الله ﷺ د وفات نه مخکښے خوب لیدلے وو چه درے (۳) سپوږمۍ دی او درے واړه زما په کوټه کښے راپریوتے، نو ابوبکر صدیق ﷛ ته ئے بیان کړو،

(لکه اول د خوبونو په تعبیر کښے رسول الله ﷺ ماهر وو بیا ابوبکر صدیق ﷛ او په تابعینو کښے محمد بن سیرینؒ) نو ابوبکر صدیق ﷛ ورته تعبیر ورکړو چه که ستا خوب رشتینی وی نو د الله په زمکه به درے غوره انسانان ستا په کوټه کښے خخیږی۔

کله چه نبی ﷺ وفات شو نو ابوبکر صدیق ﷛ عائشے رضی الله عنها ته هغه خوب رایاد کړو چه

[يَا عَائِشَةُ، هٰذَا خَيْرُ اَقْمَارِكِ وَهُوَ اَحَدُهَا]

دا ستا یوه هغه سپوږمۍ ده او دا پکښے ډیر غوره وو۔

[المستدرك ٦٣/٣ كتاب المغازى والسرايا باب (٣٠) حديث رقم: (٤٤٠١) وقال الحافظ الذهبي في التلخيص: على شرط البخاري ومسلم]

نبی ﷺ په قبر کښے روغ جوړ پروت دے لکه څنګه چه په اوله ورځ دے بلکه د هغې نه زیات خوشبویه پروت دے، معمولی تغیر هم په هغهٔ باندے نهٔ راځی۔

ددے وجه نه رسول الله ﷺ فرمایلی دی چه کله د جُمعے ورځ راشی نو په ما باندے درود زیات وایئ (عامو اوقاتو کښے هم د درود فضائل شته لیکن د جُمعے په ورځ زیات دی) [فَاِنَّ صَلَاتَكُمْ تَبْلُغُنِىْ حَيْثُ كُنْتُمْ]

ځکه چه ستاسو درود ماته رارسولے شی هر ځائے چه تاسو یئ۔

نو صحابه کرامو تپوس وکړو:

[وَكَيْفَ تُعْرَضُ صَلَاتُنَا عَلَيْكُمْ وَقَدْ اَرِمْتَ اَىْ قَدْ بَلِيْتَ]

اے د الله نبی! زمونږ درود به په تا باندے څنګه پیش کړے شی حال دا چه تهٔ به ذره ذره شوے ئے۔

نبی ﷺ وفرمایل: [اِنَّ اللّٰهَ حَرَّمَ عَلَى الْاَرْضِ اَنْ تَاْكُلَ اَجْسَادَ الْاَنْبِيَاءِ]

الله تعالیٰ په زمکه باندے دا حرامه کړیده چه د انبیاء علیهم السلام بدنونه وخوری۔

[ابوداود: ١٠٤٩ احمد: ١٦٢٠٧ والنسائى: ١٣٧٤ باسناد صحيح]

Maktaba Tul Ishaat.com

نو رسول الله ﷺ په قبر کښې روغ رمټ او د خوشحالۍ په حالت کښې پروت دے، او د هغۀ روح په جنت کښې دے، او د روح او د بدن خپل مینځ کښې تعلق هم وی۔

بیا دا خبره یادول پکار دی چه ټول انبیاء علیهم السلام او شهداء په قبرونو کښې په حیاتِ برزخی سره ژوندی دی، چه دا داسې ژوند دے چه الله قرآن کریم کښې وئیلی دی :

﴿ وَلٰكِنۡ لَّا تَشۡعُرُوۡنَ ﴾ (بقره : ۱۵٤)

چه بندګان پرے نۀ پو هیږی۔

الله تعالیٰ مخلوق ته دا علم نۀ دے ورکړے چه دا معلومه کړی چه دا څنګه ژوند دے، په ظاهری هیڅ آلاتو او اسبابو سره د هغې هیڅ معلومات نشی کیدے،

که یو تن قبر راکولاو کړی نو نبی ﷺ به همغه شان پروت وی لکه څنګه چه خخ کړے شویدے، لیکن حرکت به نۀ کوی، خبرے به نشی کولے، کتل به نشی کولے، شهید به هم دغه شان قبر کښې پروت وی، وینه به پرے پرته وی لیکن آواز به نۀ آوری، حرکت به نشی کولے، خبرے به تا سره نشی کولے)

(**فائده** : په قبر کښې ټول انبیاء علیهم السلام بیخی نۀ خاورے کیږی،

او دارنګه عام شهیدان نۀ خاورے کیږی (اګرکه بعض خاورے کیږی)،

دارنګه بعض علماء چه د دین صحیح پرچار او دعوت کوی، او بعض نور نیکان صالحینو ته الله تعالیٰ دا فضیلت ورکوی چه په قبر کښې ئے نۀ خاورے کوی، خو که یو تن خاورے شو نو دا دلیل نۀ دے چه ګنې دے د الله په نیز غلط سړے دے، عامو مومنانو لره خاورے خوری او بیا جنت ته ځی)

الغرض : نبی ﷺ او شُهداء په قبر کښې د دنیا د ژوند په شان ژوندی نۀ دی، په دنیا کښې ګرځی راګرځی نۀ، دا خلك آواز هم نۀ آوری، په ضعیف روایت کښې راغلی دی چه نبی ﷺ د قبر په خوا کښې آواز آوری، لیکن صحیح احادیثو کښې دی چه ستاسو درود ما ته ملائك رارسوی۔ او خپله زمونږ آواز نۀ آوری۔ مؤمن به د شرعی حدودو مطابق عقیده ساتی، د ځان نه به عقیدے نۀ ایجاد کوی۔

ټول انبیاء علیهم السلام په قبرونو کښې روغ جوړ پراتۀ دی، لکه د عمر فاروق رضی الله عنه په زمانه کښې دانیال علیه السلام د عراق په علاقه کښې رابښکاره شوے وو (چه روغ جوړ پروت وو) نو عمر فاروق رضی الله عنه حکم وکړو چه دا بیرته خخ کړئ۔

Maktaba Tul Ishaat.com

[تحذیر الساجد من اتخاذ القبور مساجد للالبانی]

نو څوك چه دا عقیده لري چه انبیاء علیهم السلام په دنیاوي ژوند سره ژوندي دي نو دا ډیره غلطه عقیده ده، د کتاب او سنت سراسر خلاف ده.

(او دا د صوفیاؤ عقیده ده چه دا خلك په ظاهره کښې ذاکرین دي لیکن په مینځ کښې د دین چینجي دي، دین تباه کوي، د الله دین د بیخ نه وهي، عوام خلك پدې خبرو نه پوهیږي، د صوفیاؤ عقیدې د وحدة الوجود دي، تصور د شیخ، د خضر علیه السلام د مددونو قائل دي، د قبرونو نه لاسونه رابنکاره کول او خلکو سره پس د مرګ نه مددونه کول، او د رسول الله ﷺ سره په جسد عنصري سره ملاویدل، دا د دوئ عقیدې دي).

بنا په قول د دوئ نبي ﷺ څنګه ژوندې دې چه امت ته ځان نۀ رابنکاره کوي، او نۀ مسئله بیانولې شي او د امت اختلاف پیدا کیږي د هغې حل نشي کولې، ددې غلطې عقیدې د وجه نه دوئ د خپلو مشرانو غلطې خبرې صحیح کول غواړي چه فلانې وائي چه زۀ د نبي ﷺ په ویښه باندې پنځلس کرته ملاؤ شوې یم لکه دا خبره اشرف علي تهانوي د کتاب "اعمال قرآني" په آخر کښې لیکلې ده.

قاسم نانوتوي وائي چه ما کله د دیوبند مدرسه جوړه وله نو نبي ﷺ راغې او ما له ئې چونه واچوله.

تفتازاني وائي : زۀ د کور نه راووتم رسول الله ﷺ بهر دروازه کښې ولاړ وو، خوله کښې ئې راته لاړې واچولې نو د علم نه ډك شوم. دې خرافاتو ته سوچ کوه.

"ارواح ثلاثه" کتاب کښې لیکي : قاسم نانوتوي د شیعه ګانو سره مناظره شوه هغوي ورته وویل چه که تا مونږ ته نبي ﷺ په ویښه راوخودو نو مونږ به ایمان راوړو او اهل سنت به شو (یعني دۀ سره دا طاقت هم وو چه خلکو ته ئې نبي ﷺ په ویښه خودلې شو) نو هغۀ ورسره شرط کیخودو چه تاسو ولیکئ چه مونږ به اهل سنت کیږو، شیعیت به پریدو. نو هغوي روستو شو چه هسې نۀ رسول الله ﷺ راته وښائي نو بیا خو به شیعیت پریخودل راځي او مونږ خو شیعیت پریخودو ته تیار نۀ یو.

تۀ به وائې چه رسول الله ﷺ د دوئ کور کښې ناست دې اودې به ورته امر وکړي او خلکو ته به ئې رابنکاره کړي، دا ټو مره باطلې عقیدې دي.

Maktaba Tul Ishaat.com

دا په تصوراتو کښې نبي ګوري، ډير تصور وکړي او مخې ته ډير څه حاضر کړي نو دے وائي چه ما نبي وليدو. کله ورته شيطان د يو ښائسته انسان په شکل مخې ته راشي لکه شيطان دا کار ډير کرته کوي او تاسو د وفدونو په بحث کښې مخکښې واقعات وکتل چه شيطان به بت کښې داخليدو او د هغې نه به ئے مشرکانو ته آوازونه کول او هغوي به ئے ګمراه کول. د خپلو عقيدو غم پکار دے، په اکابرو باندے د ښه ګمان په وجه د ډيرو خلکو عقيدے خرابے شوے، د هغوي د طرف نه جوابونه کوي.

دا عقيده د اجماع المسلمين او عقل او نقل ټولو خلاف ده.

د رسول الله ﷺ وفات تاريخ:

مشهور تاريخ دادے چه دولسم ۱۲ د ربيع الاول وو، د نبي ﷺ عمر په قمري حساب سره درے شپيته (۶۳) کاله او څلور (۴) ورځے دپاسه پوره شوے وو. او شمسي حساب سره ۶۱ کاله وو. چه څلويښت کاله ئے قبل النبوة زندګي وه، او ۲۳ کاله د نبوت وه او ډير د مشکلاتو زندګي وه، هغه زندګي وه چه رسول الله ﷺ پکښې خپل ټول خواهشات قربان کړي وو، لکه اول کښې مونږ وئيلي وو چه کله رسول الله ﷺ د الله نبي شو نو خديجے رضي الله عنها د نبي ﷺ نه د هغه خوشحالو مطالبه وکړه کوم چه ښځه او خاند خپل مابين کښې کوي، نو هغهٔ وفرمايل:

[الآنَ ذَهَبَ وَقْتُ النَّوْمِ وَالرَّاحَةِ]

اُوس د خوب او د راحتونو وخت لاړو.

(ددے دا معنیٰ نهٔ ده چه ګنے نبي ﷺ خوب نهٔ دے کړے يا ئے راحت نهٔ دے اخستے بلکه مطلب دا دے چه غالباً زندګي ئے په مشکلاتو او سترړي والي کښې تيره کړيده، په مکه کښې ئے ديارلس (۱۳) کاله مشکلات برداشت کړل او مدينے ته چه راغے نو ټول جهادونه او تکليفونه وو تر وفات پورے،

په مينځ کښې پرے الله تعالیٰ فراخيانے هم راوستے وے، فتوحات ئے پرے راکولاو کړل، کافران ئے ذليله کړل او د هغهٔ سره ئے وعدے رشتينے کړے، ليکن رسول الله ﷺ دے دنيا ته د تعظيم په نظر باندے ونهٔ کتل او دا ورته هيڅ نهٔ ښکاره کيده.

Maktaba Tul Ishaat.com

د نبی ﷺ وفات غم او رحمت :

نبی ﷺ چه کله وفات شو نو صحابه کرام رضی الله عنهم پرے ډیر خفه شو، ځکه چه دا ډیر لوی مصیبت دے،

او یو روایت کښے دا راغلی دی چه کله تاسو ته مصیبت در ورسیږی نو زما د مرګ مصیبت رایاد کړئ ځکه چه پدے امت کښے هیڅوک داسے نشته چه زما په شان مصیبت هغهٔ ته رسیدلے وی. (که ستا پلار او مور مړهٔ شی نو د هغے نه د محمد رسول الله ﷺ مرګ ډیره لویه خبره ده).

دا مصیبت هم دے لیکن مِنْ وجه د امت دپاره رحمت هم دے لکه په حدیث د مسلم کښے دی :

[إِنَّ اللَّهَ عَزَّ وَجَلَّ إِذَا أَرَادَ رَحْمَةَ أُمَّةٍ مِنْ عِبَادِهِ قَبَضَ نَبِيَّهَا قَبْلَهَا فَجَعَلَهُ لَهَا فَرَطًا وَسَلَفًا بَيْنَ يَدَيْهَا، وَإِذَا أَرَادَ هَلَكَةَ أُمَّةٍ عَذَّبَهَا وَنَبِيُّهَا حَيٌّ فَأَهْلَكَهَا وَهُوَ يَنْظُرُ فَأَقَرَّ عَيْنَهُ بِهَلَكَتِهَا حِينَ كَذَّبُوهُ وَعَصَوْا أَمْرَهُ] [مسلم : ٦١٠٥]

کله چه الله تعالیٰ د یو امت دپاره اراده وکړی چه په هغوی رحم کوی نو نبی د هغوی نه مخکښے وفات کړی، نو هغه د هغوی دپاره شفاعتونه کوی او د هغوی دپاره بښکلے ذخیره شی، (ځایونه ورله تیار کړی)، او کله چه الله د یو قوم د عذاب اراده وکړی نو په هغه قوم باندے عذاب راولی او د هغوی نبی ژوندے وی نو نبی ورته ګوری او هغوی هلاك کړی نو د نبی سترګے د هغوی په هلاکت باندے یخے کړی کله چه هغوی د هغهٔ تکذیب کوی او د هغهٔ د امر نافرمانی کوی.

نو د رسول الله ﷺ د اُمت نه مخکښے تګ د امت دپاره نعمت دے، ښه دے چه داسے نهٔ دی شوی چه هغه ژوندے وے او په مونږ باندے عذاب راغلے وے او تول ئے هلاك کړی وے.

لیکن ظاهره کښے خو لوی خفګان هم دے.

ددے وجه نه کله چه انس بن مالك ﷺ د نبی ﷺ د دفن نه فارغ شو سره د نورو ملګرو نه نو د فاطمے رضی الله عنها ملاقات ته ورغلل نو فاطمے رضی الله عنها انس

Maktaba Tul Ishaat.com

ﷺ ته وویل:

[اَطَابَتْ اَنْفُسُكُمْ اَنْ تَحْثُوْا عَلٰى رَسُوْلِ اللّٰهِ ﷺ التُّرَابَ]

ستاسو زړونو څنګه غوښتل چه تاسو په رسول الله ﷺ باندې خاورې راړه ولے او هغهٔ مو د خاورو لاندې کولو، ستاسو زړونو دا څنګه برداشت کوله.

د زنانو زړونه ډیر نرم وي داسے مصیبتونه ډیر نشي برداشت کولے، بیا چه پلار وي او بیا د نبي ﷺ په شان پلار. او بیا ئے ددے سره ډیر سخت محبت هم دے.

صحابه کرام رضي الله عنهم به د ډیر محبت د وجه نه د رسول الله ﷺ پسے ډیرے زمانے پورے غمجن وو بلکه کله چه به ئے نوم ورله واخستو نو غم به ئے کولو، او د محبت نه ډک کلمات به ئے وئیل.

انس بن مالك ﷺ وائي: داسے شپه نشته چه زهٔ نبي ﷺ په خوب کښے نهٔ وینم.

عبد الله بن عمر ﷺ فرمائي: چه زهٔ هم هر وخت نبي ﷺ په خوب کښے وینم، او کله چه به هغه وغوختل چه رسول الله ﷺ رایاد کړي نو رایاد به ئے کړو او بیا به ئے وژړل.

ام ایمن رضي الله عنها د رسول الله ﷺ آزاده کړے شوے وینځه هم ده، او د رسول الله ﷺ حاضنه (پرورش کونکے) هم ده (وړوکوالي کښے ئے د رسول الله ﷺ تربیت هم کړے) (دا بوډئ ښځه وه) کله چه د الله رسول وفات شو نو ابوبکر صدیق ﷺ عمر فاروق ﷺ ته وویل چه راځه چه د ام ایمن ملاقات له لاړ شو لکه څنګه چه به رسول الله ﷺ ددے ملاقات له ورتللو،

انس بن مالك ﷺ وائي: زهٔ هم ورسره وم. هرکله چه مونږ ورسیدو نو هغه ناسته وه ژړل ئے. نو دوئ ورته وویل: ولے خفګان کوے؟:

[اَمَا تَعْلَمِيْنَ اَنَّ مَا عِنْدَ اللّٰهِ خَيْرٌ لِرَسُوْلِهٖ ﷺ]

آیا تا ته پته نشته چه د الله سره چه کوم نعمتونه او راحتونه دي هغه د رسول الله ﷺ دپاره ډیر غوره دي. (که رسول الله ﷺ وفات شو نو نعمتونو ته لاړو) نو هغے ډیره خوږه خبره د علم وکړه، وے وئیل:

[مَا اَبْكِيْ اَنْ لَّا اَكُوْنَ اَعْلَمُ اَنَّ مَا عِنْدَ اللّٰهِ خَيْرٌ لِرَسُوْلِهٖ ﷺ]

زهٔ پدے وجه نهٔ ژاړم چه زهٔ پدے خبره نهٔ پوهیږم چه د الله نعمتونه د رسول الله ﷺ

Maktaba Tul Ishaat.com

دپاره غوره دی، او الله هغه نعمتونو ته بوتللو،

[وَلٰكِنْ اَبْكِيْ اَنَّ الْوَحْيَ قَدِ انْقَطَعَ مِنَ السَّمَاءِ]

لیکن زۀ پدے وجه ژاړم چه د الله وحی به د عرش نه د جبریل علیه السلام په واسطه راتلله او هغۀ اُوس قطع شوه۔ نو زمونږ او د الله ترمینځ د وحی په ذریعه رابطه ختمه شوه، نو په ابوبکر ﷺ او عمر ﷺ باندے دے خبرے دومره اثر وکړو:

[فَهَيَّجَتْهُمَا عَلَى الْبُكَاءِ فَجَعَلَا يَبْكِيَانِ مَعَهَا] [مسلم: ٦٤٧٢]

نو دواړه ئے وژړل نو دواړه د هغے سره په شریکه په ژړا شو۔

واقعی چه ددے خلکو د الله د رسول سره انتهائی محبت وو چه د هغے بیان نشی کیدے۔

فاطمے رضی الله عنها ته دا اشعار منسوب دی:

مَاذَا عَلَى مَنْ شَمَّ تُرْبَةَ اَحْمَدٍ	❁	اَنْ لَا يَشُمَّ مَدَى الزَّمَانِ غَوَالِيَا
صُبَّتْ عَلَيَّ مَصَائِبُ لَوْ اَنَّهَا	❁	صُبَّتْ عَلَى الْاَيَّامِ صِرْنَ لَيَالِيَا

چا چه د رسول الله ﷺ د خاورو خوشبوئی بوئی کړی وی نو هغه باندے هیڅ پرواه نشته چه په ټوله زمانه کښے خوشبوئی بوئی نکړی۔ ما باندے داسے مصیبت راواړه ولے شو که دا په ورځو اړه ولے شوے وے نو دے نه به شپے جوړے شوے وے۔

[عیون الاثر ۲/٤٣٤، سبل الهدی والرشاد ١٢/٣٣٧]

حسان بن ثابت ﷺ یو زړۀ دردونکے اُوږده قصیده ووئیله چه په هغے کښے ئے د رسول الله ﷺ صفات او د هغۀ د مرګ حالت او د هغۀ نه بعد د مسجد او د مدینے خالی والے او د صحابه کرامو رضی الله عنهم دردونه ئے پکښے ذکر کړیدی۔

تفصیل سره ئے ذکر کوو د محبت د وجه نه او دے دپاره چه الله تعالیٰ مو د حبیب رب العالمین سره په جنات الخلد کښے یو ځائے کړی لکه همدا خبره حسان ﷺ په آخر ددے قصیده کښے ذکر کړیده۔

۱: بِطَيْبَةَ رَسْمٌ لِلرَّسُوْلِ وَمَعْهَدُ	❁	مُنِيْرٌ وَقَدْ تَعْفُوْ الرُّسُوْمُ وَتَهْمَدُ
۲: وَلَا تَمْتَحِي الْاٰيَاتُ مِنْ دَارِ حُرْمَةٍ	❁	بِهَا مِنْبَرُ الْهَادِيْ الَّذِيْ كَانَ يَصْعَدُ

Maktaba Tul Ishaat.com

٣: وَوَاضِحُ آثَارٍ وَبَاقِي مَعَالِمٍ	❁	وَرَبْعٌ لَهُ فِيهِ مُصَلًّى وَمَسْجِدُ
٤: بِهَا حُجُرَاتٌ كَانَ يَنزِلُ وَسْطَهَا	❁	مِنَ اللّٰهِ نُورٌ يُسْتَضَاءُ وَيُوقَدُ
٥: مَعَارِفُ لَمْ تُطْمَسْ عَلَى الْعَهْدِ آيُهَا	❁	أَتَاهَا الْبِلَى فَالآيُ مِنْهَا تَجَدَّدُ
٦: عَرَفْتُ بِهَا رَسْمَ الرَّسُولِ وَعَهْدَهُ	❁	وَقَبْرًا بِهَا وَارَاهُ فِي التُّرْبِ مُلْحِدُ
٧: ظَلِلْتُ بِهَا اَبْكِي الرَّسُولَ فَاَسْعَدَتْ	❁	عُيُونٌ وَمِثْلَاهَا مِنَ الْجَفْنِ تُسْعِدُ
٨: يُذَكِّرْنَ آلَاءَ الرَّسُولِ وَمَا اَرٰى	❁	لَهَا مُحْصِيًا نَفْسِي فَنَفْسِي تَبَلَّدُ
٩: مُفَجَّعَةً قَدْ شَفَّهَا فَقْدُ اَحْمَدٍ	❁	فَظَلَّتْ لِآلَاءِ الرَّسُولِ تُعَدِّدُ
١٠: وَمَا بَلَغَتْ مِنْ كُلِّ اَمْرٍ عَشِيْرَهُ	❁	وَلٰكِنْ لِنَفْسِي بَعْدُ مَا قَدْ تَوَجَّدُ
١١اَطَالَتْ وُقُوفًا تَذْرِفُ الْعَيْنَ جُهْدَهَا	❁	عَلَى طَلَلِ الْقَبْرِ الَّذِي فِيهِ اَحْمَدُ
١٢:فَبُورِكْتَ يَا قَبْرَ الرَّسُولِ وَبُورِكَتْ	❁	بِلَادٌ ثَوٰى فِيهَا الرَّشِيدُ الْمُسَدَّدُ
١٣: وَبُورِكَ لَحْدٌ مِنْكَ ضُمِّنَ طَيِّبًا	❁	عَلَيْهِ بِنَاءٌ مِنْ صَفِيحٍ مُنَضَّدٍ
١٤تَهِيلُ عَلَيْهِ التُّرْبَ اَيْدٍ وَاَعْيُنٌ	❁	عَلَيْهِ وَقَدْ غَارَتْ بِذٰلِكَ اَسْعُدُ
١٥لَقَدْ غَيَّبُوا حِلْمًا وَعِلْمًا وَرَحْمَةً	❁	عَشِيَّةَ عَلَّوْهُ الثَّرٰى لَا يُوَسَّدُ
١٦وَرَاحُوا بِحُزْنٍ لَيْسَ فِيهِمْ نَبِيُّهُمْ	❁	وَقَدْ وَهَنَتْ مِنْهُمْ ظُهُورٌ وَاَعْضُدُ
١٧يُبَكُّوْنَ مَنْ تَبْكِي السَّمَاوَاتُ يَوْمَهُ	❁	وَمَنْ قَدْ بَكَتْهُ الْاَرْضُ فَالنَّاسُ اَكْمَدُ
١٨وَهَلْ عَدَلَتْ يَوْمًا رَزِيَّةُ هَالِكٍ	❁	رَزِيَّةَ يَوْمٍ مَاتَ فِيهِ مُحَمَّدُ ؟
١٩تَقَطَّعَ فِيهِ مَنْزِلُ الْوَحْيِ عَنْهُمْ	❁	وَقَدْ كَانَ ذَا نُورٍ يَغُورُ وَيَنْجُدُ
٢٠يَدُلُّ عَلَى الرَّحْمٰنِ مَنْ يَقْتَدِي بِهِ	❁	وَيُنْقِذُ مِنْ هَوْلِ الْخَزَايَا وَيُرْشِدُ
٢١اِمَامٌ لَهُمْ يَهْدِيهِمُ الْحَقَّ جَاهِدًا	❁	مُعَلِّمُ صِدْقٍ اِنْ يُطِيعُوهُ يُسْعَدُوا

Maktaba Tul Ishaat.com

۲۲ عَفُوٌّ عَنِ الزَّلَّاتِ يَقْبَلُ عُذْرَهُمْ	❁	وَاِنْ يُّحْسِنُوْا فَاللّٰهُ بِالْخَيْرِ اَجْوَدُ
۲۳ وَاِنْ نَابَ اَمْرٌ لَمْ يَقُوْمُوْا بِحَمْلِهٖ	❁	فَمِنْ عِنْدِهٖ تَيْسِيْرُ مَا يَتَشَدَّدُ
۲۴ فَبَيْنَا هُمْ فِىْ نِعْمَةِ اللّٰهِ بَيْنَهُمْ	❁	دَلِيْلٌ بِهٖ نَهْجُ الطَّرِيْقَةِ يُقْصَدُ
۲۵ عَزِيْزٌ عَلَيْهِ اَنْ يَّجُوْرُوْا عَنِ الْهُدٰى	❁	حَرِيْصٌ عَلٰى اَنْ يَّسْتَقِيْمُوْا وَيَهْتَدُوْا
۲۶ عَطُوْفٌ عَلَيْهِمْ لَا يُثَنِّىْ جَنَاحَهٗ	❁	اِلٰى كَنَفٍ يَحْنُوْ عَلَيْهِمْ وَيَمْهَدُ
۲۷ فَبَيْنَاهُمْ فِىْ ذٰلِكَ النُّوْرِ اِذْ غَدَا	❁	اِلٰى نُوْرِهِمْ سَهْمٌ مِنَ الْمَوْتِ مُقْصِدُ
۲۸ فَاَصْبَحَ مَحْمُوْدًا اِلَى اللّٰهِ رَاجِعًا	❁	يُبَكِّيْهِ حَقُّ الْمُرْسَلَاتِ وَيُحْمَدُ
۲۹ وَاَمْسَتْ بِلَادُ الْحُرْمِ وَحْشًا بِقَاعُهَا	❁	لِغَيْبَةِ مَا كَانَتْ مِنَ الْوَحْيِ تُعْهَدُ
۳۰ قِفَارًا سِوٰى مَعْمُوْرَةِ اللَّحْدِ ضَافَهَا	❁	فَقِيْدٌ يُبَكِّيْهِ بَلَاطٌ وَغَرْقَدُ
۳۱ وَمَسْجِدُهٗ فَالْمُوْحِشَاتُ لِفَقْدِهٖ	❁	خَلَاءٌ لَهٗ فِيْهِ مَقَامٌ وَمَقْعَدُ
۳۲ وَبِالْجَمْرَةِ الْكُبْرٰى لَهٗ ثُمَّ اَوْحَشَتْ	❁	دِيَارٌ وَعَرَصَاتٌ وَرَبْعٌ وَمَوْلِدُ
۳۳ فَبَكِّىْ رَسُوْلَ اللّٰهِ يَا عَيْنُ عَبْرَةً	❁	وَلَا اَعْرِفَنَّكِ الدَّهْرَ دَمْعُكِ يَجْمُدُ
۳۴ وَمَالَكِ لَا تَبْكِيْنَ ذَا النِّعْمَةِ الَّتِىْ	❁	عَلَى النَّاسِ مِنْهَا سَابِغٌ يَتَغَمَّدُ
۳۵ فَجُوْدِىْ عَلَيْهِ بِالدُّمُوْعِ وَاَعْوِلِىْ	❁	لِفَقْدِ الَّذِىْ لَا مِثْلُهُ الدَّهْرَ يُوْجَدُ
۳۶ وَمَا فَقَدَ الْمَاضُوْنَ مِثْلَ مُحَمَّدٍ	❁	وَلَا مِثْلُهٗ حَتَّى الْقِيَامَةِ يُفْقَدُ
۳۷ اَعَفَّ وَاَوْفٰى ذِمَّةً بَعْدَ	❁	ذِمَّةٍ وَاَقْرَبَ مِنْهُ نَائِلًا لَا يُنَكَّدُ
۳۸ وَاَبْذَلَ مِنْهُ لِلطَّرِيْفِ وَتَالِدٍ	❁	اِذَا ضَنَّ مِعْطَاءٌ بِمَا كَانَ يُتْلَدُ
۳۹ وَاَكْرَمَ صِيْتًا فِى الْبُيُوْتِ اِذَا انْتَمٰى	❁	وَاَكْرَمَ جَدًّا اَبْطَحِيًّا يُسَوَّدُ
۴۰ وَاَمْنَعَ ذِرْوَاتٍ وَاَثْبَتَ فِى الْعُلَا	❁	دَعَائِمَ عِزٍّ شَاهِقَاتٍ تُشَيَّدُ

Maktaba Tul Ishaat.com

٤١ وَأَثْبَتَ فَرْعًا فِي الْفُرُوْعِ وَمَنْبَتًا	❁	وَعُوْدًا غَذَّاهُ الْمُزْنُ فَالْعُوْدُ أَغْيَدُ
٤٢ رَبَّاهُ وَلِيْدًا فَاسْتَتَمَّ تَمَامُهُ	❁	عَلٰى أَكْرَمِ الْخَيْرَاتِ رَبٌّ مُمَجَّدُ
٤٣ تَنَاهَتْ وَصَاةُ الْمُسْلِمِيْنَ بِكَفِّهِ	❁	فَلَا الْعِلْمُ مَحْبُوْسٌ وَلَا الرَّأْيُ يُفْنَدُ
٤٤ أَقُوْلُ وَلَا يَلْقٰى لِقَوْلِيَ عَائِبٌ	❁	مِنَ النَّاسِ إِلَّا عَازِبُ الْعَقْلِ مُبْعَدُ
٤٥ وَلَيْسَ هَوَايَ نَازِعًا عَنْ ثَنَائِهِ	❁	لَعَلِّيْ بِهِ فِيْ جَنَّةِ الْخُلْدِ أَخْلُدُ
٤٦ مَعَ الْمُصْطَفٰى، أَرْجُوْ بِذَاكَ جِوَارَهُ	❁	وَفِيْ نَيْلِ ذَاكَ الْيَوْمِ أَسْعٰى وَأَجْهَدُ

۱ : په مدينه کښې د رسول الله ﷺ نښې او علمي مادرګاه (مدرسه) پاتې شوه چه رڼړا کونکې ده، او د نور چا نښې کله ورانې شي او کله ولاړې وي.

۲ : ليکن ددې محترم کور (مدينې) نه نښې نۀ ختميږي، (ځکه چه ددې بيعزتي حرامه ده) پدې کښې د هادي (هدايت کونکي پيغمبر) داسې منبر دې چه هغه به ورته ختلو.

۳ : او نورې ښکاره نښې دي، (چه ددۀ په مکان د اقامت باندې ښکاره دلالت کوي) او باقيمانده آثار دي او ددۀ دپاره يو کور دې چه په هغې کښې ددۀ مصلیٰ او مسجد دې.

٤ : په مدينه د رسول الله ﷺ کښې د بيبيانو حُجرې دي، چه په هغې کښې به د الله تعالیٰ د طرف نه داسې رڼړا راتلله چه د هغې نه به خلکو رڼړا حاصلوله.

۵ : دا د پيژندلو ځايونه دي چه په زمانه کښې ددې نښې نۀ دي ورانې کړې شوي، دې باندې زوروالې راغلې دې ليکن ددې نخې وخت په وخت تازه کولې شي.

٦ : د دغه نخو په وجه ما د رسول الله ﷺ آثار او د هغۀ زمانه پيژندلې ده، او په هغې کښې قبر دې چه خاورو پټ کړيدې.

۷ : زۀ په مدينه کښې وګرځيدم چه د رسول الله ﷺ پسې مې ژړا کوله نو ما سترګو مدد وکړو او ددې دوچنده به کاتئ د سترګو زما مدد کوي.

۸ : دا نښې مونږ ته د رسول الله ﷺ نعمتونه رايادوي، چه زما نفس هغه نشي شمارلې پدې وجه زما نفس حيران دې.

۹ : په داسې حال کښې چه (زما نفس) درمند دې، دې لره د احمد (ﷺ) ورک کيدلو

خوار کړیدے، نو اُوس ګرځیدلے دے چه د رسول نعمتونه شماری. (یعنی زما په نفس کښې د خوار والی د وجه نه نور څه پاتے نۀ دی بس صرف دا چه د پیغمبر نعمتونه وشمارم)

۱۰: او زما نفس د هر کار نه (چه دے ئے اراده لری) لسمے برخے ته هم نۀ دے رسیدلے لیکن زما نفس لا تر اُوسه غمجن دے.

۱۱: آیا دا نفس اُوږد وږدیدلے دے چه د خپل وس مطابق سترګو نه اُوښکے بهیوی په کنډراتو د هغه قبر چه په هغے کښې احمد ﷺ وو.

۱۲: نو اے د رسول قبره! تا ته دِے برکت درکړے شی او هغه ښارونو کښې دِے خیر واچولے شی چه په هغے کښې هدایت کونکے په نیغه لار روان کړے شوے پیغمبر اُوسیږی.

۱۳: او په هغه لحد کښې دِے برکت واچولے شی چه هغه په مزیدار پیغمبر باندے مشتمل کړے شویدے چه په هغے باندے آبادے دے د پلنو ګټو جوختو کیخودے شوو نه.

۱٤: په دۀ باندے لاسونه خاورے راړه وی. او په دۀ باندے سترګے د ډیرے ژړا په وجه خکته پریوتی دی، او پدے کار باندے زۀ نیکبخته کیږم.

۱۵: نو دوئ حلم او علم او رحمت پټ کړو په هغه ماښام کښې چه دوئ په هغه باندے خاورے راواړه ولے چه هغه نشی هیرولے.

۱٦: او دوئ راواپس شو په غم سره چه په دوئ کښې د دوئ نبی نۀ وو موجود، په داسے حال کښې چه د دوئ شا ګانے او لاسونه کمزوری شوی وو.

۱۷: خلك ژاړی د هغه شخص پسے چه په دغه ورځ د وفات باندے آسمانونو هم ژړل او هغه څوك چه په هغۀ پسے زمکه ژاړی نو انسانان خو به د غم نه ډیر ډك وی.

۱۸: آیا یوه ورځ به د یو مړی غم د هغه ورځے د غم سره برابر شی په کومه ورځ چه محمد ﷺ وفات شو. (یعنی ددۀ د وفات غم سره د هیچا غم برابر نۀ دے)

۱۹: ختم شو د دوئ نه ځائے د نازلیدو د وحی حال دا چه دے خو د داسے رڼرا والا وو چه خکته او بره به تلله.

۲۰: چا چه به ددے نبی اقتداء کوله نو دۀ به ورته رحمٰن ذات خودلو، او دۀ به په

Maktaba Tul Ishaat.com

خپلو ارشاداتو سره خلك د شرمونو د ګبراهټ نه بچ ساتل او هغوی ته به ئې سمه لاره خودله۔

۲۱ : د خلکو امام وو، دوئ ته به ئې د حق هدایت کولو او پدې کښې به ئې ډیر زیات کوشش کولو۔ د رشتیاو تعلیم ورکونکې، (رشتینے معلم وو) که خلك دده تابعداری وکړی نو کامیاب به شي۔

۲۲ : معافی کونکے دے د خطایانو د خلکو نه، د هغوی عذرونه قبلوی، او (دا فرمائی چه) که خلك نیك کار کوی نو الله تعالیٰ به ډیر خیر ورکوی (ځکه چه هغه جواد (سخی) ذات دے)

۲۳ : که یوه حادثه به راپیښه شوه چه خلکو به هغه د سختوالی په وجه نشوه پورته کولے نو کوم کار چه به سخت وو دوئ به د رسول الله ﷺ سره د هغے آسانی موندله۔

۲٤ : نو پدے مابین کښے دوئ د الله تعالیٰ په نعمت کښے وو چه د دوئ ترمینځ لاربښودونکے موجود وو، چه په دهٔ سره به د نیغے لارے قصد کیدے شو۔

۲۵ : دے نبی باندے دا ګرانه تمامیده چه خلك د هدایت نه بل طرف ته واوړی، او پدے حرص کونکے وو چه خلك په دین کلك ودریږی او په سمه لاره روان شي۔

۲٦ : په خلکو باندے مهربان وو، د هغهٔ اړخ د شفقت به بل طرف ته نشو اړه ولے کیدو، په خلکو به ئې شفقت کولو او دوئ له به ئې خیر تیاره ولو۔

۲۷ : نو پدے مابین کښے دوئ په دغه رڼا کښے وو چه نا څاپه د مرګ نیغ غشے د دوئ رڼا ته راورسیدو (او هغه ئې ترے واخستو)

۲۸ : نو دے په داسے حال کښے الله تعالیٰ ته واپس شو چه خلکو ئې صفتونه کول۔ په دهٔ پسے ملائکو په حقه ژړل او دهٔ ستائینے به کیدے شوے۔

۲۹ : او د حرم ښارونه وګرځیدل چه د هغے زمکے وحشی (ناشنا) شوے، د وجه د غائبوالی د وحی نه چه هغه به وخت په وخت راتلله۔

۳۰ : (او د حرم ښارونه) شاړ میدانونه شو، سویٰ د هغه زمکے نه چه هغه د رسول الله ﷺ په لحد باندے آباده ده او په هغے باندے بی مثله پیغمبر میلمه شویدے چه د هغهٔ پسے بلاط (چه په مدینه کښے مشهور ځائے دے) او غرقد ونے ژړاګانے کوی۔

Maktaba Tul Ishaat.com

۳۱ : او مسجد هم (وړسے زړا کوی) چه په هغے کښے به د رسول الله ﷺ د کیناستو پاڅیدو ځائے وو، دا ټول د نبی په غائبیدو وحشی او خالی شو۔
۳۲ : او جمره کبرئ ددهٔ نه خالی شوه او بیا عام ښارونه او میدانونه او کورونه او ځائے د ولادت ددهٔ نه خالی شو۔
۳۳ : نو اے سترګے ! د رسول الله ﷺ پسے ښے اُوښکے تویه کړه او زهٔ دِے تا په ټول عمر کښے ونهٔ پیژنم چه ستا اُوښکے اُوچی شی۔
۳٤ : او څه وجه ده اے سترګے ! چه تهٔ به نهٔ ژاړے په هغه نعمتونو والا پسے چه په خلکو باندے د هغے نه کامل نعمتونه شویدی چه هغوی لره ئے پټ کړیدی،
۳۵ : نو په هغهٔ باندے په اُوښکو سره سخا وکړه او آوازونه وکړه په ورك کیدو د هغه شخص سره چه د هغهٔ په شان په هیڅ زمانه کښے څوك نشی پیدا کیدے۔
۳٦ : مخکښو خلکو د محمد ﷺ پشان شخص نهٔ دے ورك کړے، او نهٔ به ددهٔ په شان تر قیامته پورے څوك ورك کړے شی۔
۳۷ : (ددهٔ په شان شخص ئے نهٔ دے ورك کړے) په پاکدامنئ کښے او په وفادارئ د لوظ کښے پس د لوظ نه۔ او چه د هغهٔ تحفے خلکو ته نزدے وی چه په هغے کښے هیڅ خړوالے نهٔ وی۔
(یعنی ډیر پاکدامن وو او د متواترو لوظونو پابند وو، او هرچا ته ئے عطیات نزدے وو او د هغے پسے به ئے زباتنه نهٔ وړسے کوله چه دغه تحفه خړه کړی)۔
۳۸ : او ډیر خرچ کونکے د زوړ او د نوی مال وو کله چه ډیره ورکړه کونکے (سخی) انسان په خپلو مالونو باندے بخل وکړی۔ (نو دے په دغه وخت کښے هم سخاوت کونکے وو)
۳۹ : او په کورونو (او خاندانونو) کښے عزتمن شهرت لرونکے وو کله چه به ددهٔ نسبت کیدو، او د نیکونو سردارانو په لحاظ ډیر عزتمن وو۔
٤۰ : په عزت کښے داسے څوکو (سرونو) ته رسیدلے دے چه هغے ته څوك نشی ختلے، او په اُوچتو مرتبو کښے ئے د عزت ستنے او لوړ غرونه ودرولی دی چه هغه وخت په وخت مضبوطولے شی۔
٤۱ : او دے د څانګو په لحاظ (یعنی د نسل (اولاود) په اعتبار سره) او د پلارانو په

Maktaba Tul Ishaat.com

لحاظ د هر چا نه زیات مضبوط دے، او د شجرۀ نسب په اعتبار سره ددۀ شجره تازه ده.

٤٢ : دۀ ته د شرافت والا رب په ووړوکوالی کښے تربیت ورکړے نو دے په عزتمنو خیرونو او بهترینو صفاتو باندے سرته ورسیدو.

٤٣ : آخر سرته رسیدلی دی وصیتونه د مسلمانانو ددۀ په لاس سره، نو نۀ ددۀ علم د چا نه بند کړے شوے وو او نۀ ددۀ په رأی باندے چا عیب وئیلو.

٤٤ : زۀ دا خبرے کوم او زما ددے خبرو هیڅ عیب ویونکے نشته مگر هغه څوك چه عقل ئے نۀ وی او هلاك شوے وی.

٤٥ : او نۀ دے زما خواهش چه ددے نبی د صفت نه ځان راښکاره کړی، شاید چه زۀ به پدے صفتونو سره په جنت د همیشوالی کښے همیشه شم.

٤٦ : د مصطفی ﷺ سره، چه پدے سره زۀ د هغه ګاونډتوب غواړم، او د دغۀ ورځے د حاصلولو دپاره زۀ منډه وهم او کوشش کوم.

(الروض الانف وامتاع الاسماع، والاكتفاء)

OO

یو لوی مصیبت راغے لیکن د الله تعالیٰ په فضل باندے الله عزوجل د خپل دین حفاظت کوی، دین الله تعالیٰ ته ډیر قیمتی دے، که انبیاء علیهم الصلوات والتسلیمات د دنیا نه لاړ هم شی نو الله تعالیٰ نور کسان پیدا کوی چه هغوی د دین کار کوی، الله تعالیٰ ضرور د دین حفاظت کوی.

نو الله تعالیٰ صحابه کرام په خپل دین باندے کلك ودرول چه ټولے دنیا ته ئے دین ورسولو او ابوبکر صدیق ﷺ په دوئ کښے ډیر پیش پیش وو، د الله تعالیٰ د دین داسے خدمت ئے وکړو لکه انبیاؤ علیهم السلام چه څنګه کړے وو.

Maktaba Tul Ishaat.com

خاتمه :

دے ځائے پورے سیرت د رسول الله ﷺ ختم شو۔ بعض سیرتونو والو ددے ځائے نه روستو د رسول الله ﷺ کورنئ او د رسول الله ﷺ شمائل (ذاتی صفات) او د رسول الله ﷺ معجزات، او د هغهٔ میراث ئے ذکر کړیدے چه مونږ به ددے نه بعض ذکر کړو۔

د رسول الله ﷺ نسب او خاندان :

د رسول الله ﷺ د نسب یوه خاکه خو په ابتداء کښے هم ذکر شویده لیکن دلته مختصره جامعه خاکه د زیاتے فائدے دپاره پیش کولے شی :

نسب :

محمد بن عبد الله بن عبد المطلب (چه ددهٔ نوم شیبه وو) بن هاشم (ددهٔ خپل نوم عمرو وو) بن عبد مناف (ددهٔ خپل نوم مغیره وو) بن قُصی (ددهٔ نوم زید وو) بن کلاب بن مره بن کعب بن لؤی بن غالب بن فِهر (چه دهٔ ته به ئے قریش وئیلو، او دهٔ ته د قریشو قبیله منسوب شویده) بن مالك بن النضر (ددهٔ نوم قیس وو) بن کنانه بن خُزَیمه بن مُدرکه (ددهٔ نوم عامر وو) بن الیاس بن مُضر بن نزار بن معد بن عدنان، صلی الله علیه وعلی آله وصحبه اجمعین۔

(تردے ځائے پورے اتفاقی دے)

د عدنان نه بره نسب داسے دے : عدنان بن اُدد بن اَلْهَمَیْسَع بن سلامان بن عوص بن بوز بن قموال بن اُبی بن عوام بن ناشد بن حزا بن بلداس بن یدلاف بن طابخ بن جاحم بن ناحش بن ماخی بن عیض بن عبقر بن عبید بن الدعا بن حمدان بن سنبر بن یثربی بن یحزن بن یلحن بن ارعوی بن عیض بن دیشان بن عیصر بن أفناد بن ایهام بن مقصر بن ناحث بن زارح بن سمی بن مزی بن عوضة بن عرام بن قیدار بن اسماعیل

Maktaba Tul Ishaat.com

بن ابراهیم علیهما السلام۔

د ابراهیم علیه السلام نه بره نسب داسې دے :

ابراهیم بن تارخ (چه ددهٔ نوم آزر دے) بن ناحور بن ساروع (یا ساروغ) بن راعو بن فالخ بن عابر بن شالخ بن ارفخشد بن سام بن نوح علیه السلام بن لامك بن متوشلخ بن اخنوخ (چه دا ادریس علیه السلام دے) بن مهلائیل بن قینان بن انوش بن شیث بن آدم علیه السلام۔

پدے نسب کښې ډیر اختلاف دے خو دا پکښې مشهور نومونه دی او دا د اهل کتابو نه نقل دی۔

د رسول الله ﷺ اُسرَه (خاندان) په هاشمي خاندان سره یادیږی، ځکه چه ددهٔ نیکه هاشم بن عبد مناف وو۔

هاشم شام ته د تجارت دپاره تلے وو نو هرکله چه مدینے ته راغلو نو هلته ئے یوه ښځه وکړه چه د هغې نوم سلمیٰ بنت عمرو وه چه دا د بنو عدی بن نجار نه وه او هلته ورسره وسیدو، بیا هلته نه شام ته لاړو او دے وخت کښې ددهٔ بی بی په عبد المطلب باندې حمل داره وه نو هاشم په فلسطین کښې په "غزه" علاقه کښې مړ شو، او دلته په مدینه کښې سلمیٰ بنت عمرو یو ځوی راوړو چه هغهٔ ته ئے د شیبه نوم کیخودو ځکه چه د هغهٔ په سر کښې سپینوالے وو، او دا میلادی کال (۴۹۷ م) وو،

سلمیٰ به د شیبه خدمت او تربیت کولو، او په مکه کښې د هاشم خاندان ته پته نهٔ وه چه د دوئ ورور هاشم په مدینه کښې وادهٔ کړیدے او د هغې نه بچے پیدا شویدے۔

د هاشم څلور زامن او پنځه لونړه وے لکه (۱) اسد (۲) ابو صیفی (۳) نضله (٤) او عبد المطلب (چه شیبه نوم ئے دے) او لونړه دا وے : (۱) الشفاء (۲) خالده (۳) ضعیفه (٤) رقیه (۵) او جنه۔

هرکله چه عبد المطلب د اُوو(۷) یا اتو (۸) کالو شو نو ددهٔ تره مطلب بن عبد مناف ته خبر وشو چه ستا وراره په مدینه کښې دے، نو د خپل دے ورارهٔ په طلب کښې مدینے ته راروان شو هرکله ئے چه خپل ورارهٔ ولیدو نو وے ژړل او ځان سره ئے یو ځائے کړو او دا ئے ورته وویل چه زهٔ تا ځان سره بوځم زهٔ ستا ترهٔ یم، او بیا ئے ځان سره په خپله اُوښه باندے کینولو نو دهٔ وویل چه صبر شه زهٔ د خپلے مور نه اجازه اخلم، نو مطلب ورغلو

Maktaba Tul Ishaat.com

او د هغهٔ مور ته ئے وویل چه دا مونږ سره پریده نو هغې اول کښې منع وکړه لیکن مطلب ورته وویل چه دا مونږ د خپل پلار بادشاهی ته او د الله تعالیٰ حرم ته بوځو، نو هغې ورته اجازه ورکړه نو مطلب ځان سره په اوښ باندې کینولو او مکې طرفته راروان شو، هرکله چه مکې ته راورسیدو نو خلکو آواز وکړو چه مطلب ځان سره غلام راوستو نو ددې وجه نه د هغه وخت نه به ورته خلکو عبد المطلب وئیلو (یعنی د مطلب غلام) مطلب خلکو ته وویل چه خوار شئ دا زما د مړ ورور (هاشم) ځوی دے،

بیا به عبد المطلب د خپل ترهٔ (مطلب) سره په مکه کښې وسیدو تردې چه زلمے شو نو یوه ورځ مطلب یمن ته تلے وو چه په ''دمان'' علاقه کښې پرے مرګ راغلو او هلته دفن شو۔

د هغهٔ نه روستو عبد المطلب د هغهٔ ځائے ونیولو او مشری دهٔ ته پاتے شوه، نو عبد المطلب به د خپل قوم دپاره هغه کارونه کول کوم چه به ددهٔ پلارانو کول او په خپل قوم کښې داسے شرافت ته ورسیدو چه ددهٔ پلاران هم هغې ته نهٔ وو رسیدلی، او خپل قوم ورسره ډیره مینه وکړه او هغوی کښې ډیر رعب داب والا جوړ شو۔

ازواج مطهرات اُمّهات المؤمنین رضی الله عنهن

د یوې زنانه د رسول الله ﷺ په نکاح کښې راتللو معنیٰ دا وی چه هغه به جنت ته داخلیږی نو دا د امهات المؤمنین لوی فضیلت دے چه الله تعالیٰ په ټول عالم کښې دا بیبیانی د خپل خوږ پیغمبر دپاره منتخب کړے، او دا ئے د امت میندے وګرځولے، او امت دپاره ئے د دوئ سره همیشه دپاره نکاح حرامه وګرځوله۔

رسول الله ﷺ د دیارلسو (۱۳) زنانو سره نکاح کړیده او د نهو نه وفات شویدے او دوه د هغه په ژوند کښې وفات شویدی او دوو سره ئے دخول نهٔ دے شوے چه تفصیل ئے داسے دے:

۱- پدے کښې اوله بی بی **خدیجه** بنت خُوَیلد رضی الله عنها وه چه دا رسول الله ﷺ په داسے عمر کښې اِخستے وه چه د څلویښتو کالو وه او رسول الله ﷺ د پنځه ویشتو (۲۵) وو، او ددے په ژوند کښې ئے بله بی بی په نکاح نهٔ وه اخستے، او ټول اولاد

Maktaba Tul Ishaat.com

ئې ددې نه پيدا شوې وو سوئ د ماريه قبطيه نه چه د هغې نه صرف ابراهيم رضى الله عنه پيدا وو.

د رسول الله ﷺ نارينه اولاد غټوالى ته نهٔ دى پاتې شوى البته لونړه ئې پاتې شويدى نو څلور لونړه ئې په ترتيب د عمر سره داسې دى :

(۱) زينب (۲) رقيه (۳) ام كلثوم (٤) او فاطمه رضى الله عنهن. او ټولو ايمان راوړے وو،

زينب رضى الله عنها ئې خپل د ترور (ماسى) ځوى ابو العاص بن الربيع ته په نكاح وركړې وه چه دا د خديجه رضى الله عنها د ترور (ماسى) ځوى دے، چه ددهٔ د اسلام قصه ددې كتاب په مخكنو جلدونو كښې ذكر شويده.

او رقيه او ام كلثوم رضى الله عنها ئې د نبوت نه مخكښې د ابولهب دواړو ځامنو ته وركړې وې، نو هغهٔ د نبوت نه روستو د نكاح نه مخكښې طلاقې كړې بيا رسول الله ﷺ عثمان بن عفان رضى الله عنه ته د يوې بلې نه پس په نكاح وركړې.

او فاطمه رضى الله عنها ئې على بن ابى طالب رضى الله عنه ته د بدر او د احد په مينځنئ موده كښې په نكاح وركړه.

او د فاطمې رضى الله عنها نه حسن او حسين، رضى الله عنهما او زينب او ام كلثوم رضى الله عنهما اولاد پيدا شوى وو.

۲- سوده بنت زمعه رضى لله عنها : دا رسول الله ﷺ په شوال مياشت كښې په لسم د نبوت باندې په نكاح اخستې وه كله چه خديجه رضى الله عنها وفات شوه او د هغې تقريباً يوه مياشت وشوه، دا اول كښې د هغې د ترهٔ ځوى سكران بن عمرو په نكاح كښې وه، بيا ترې هغه وفات شو، نو رسول الله ﷺ په نكاح واخسته.

په مدينه كښې په شوال مياشت كښې په سنه (٥٤ هجرى) كښې وفات شويده.

۳- عائشه بنت الصديق رضى الله عنها، په شوال مياشت كښې په يولسم (۱۱) د نبوت باندې په نكاح اخستې وه، د سودې رضى الله عنها د وادهٔ نه يو كال روستو ئې عائشه رضى الله عنها په نكاح كړې وه، د هجرت نه دوه كاله او پنځه مياشتې مخكښې چه دې وخت كښې د عائشې رضى الله عنها عمر شپږ كاله وو، او بيا په شوال مياشت كښې د هجرت اوه مياشتې روستو په مدينه كښې ئې ورسره وادهٔ وكړو چه دے وخت

Maktaba Tul Ishaat.com

کښې د نهو کالو په عمر وه۔

رسول الله ﷺ دا يوه بي بي صرف پيغله په نکاح کړيده او باقي ټولې کونډې وې، او دا رسول الله ﷺ ته د ټولو نه زياته محبوبه وه پدې وجه چه دې کښې ډير زيات کمالات وو او د ټولو امت د زنانو نه زياته پوهه او عالمه ده، ددې فضيلت په زنانو باندې داسې دې لکه ماته روټۍ چه په باقي طعام باندې څنګه غوره ده۔ دا په اولسم (۱۷) رمضان په سنه (۵۷ هـ) يا (۵۸ هـ) کښې وفات شويده او په بقيع مقبره کښې خخ شويده۔

٤- حفصه بنت عمر بن الخطاب رضی الله عنها :

دا د خُنيس بن حُذافه السهمي رضی الله عنه نه کونډه پاتې شوه د بدر او د احد په مينځنۍ موده کښې، هرکله چه ددې عدت تير شو نو رسول الله ﷺ په شعبان مياشت کښې په سنه (۳ هـ) کښې په نکاح واخسته، بيا په شعبان مياشت کښې په سنه (٤٥ هـ) کښې وفات شويده، او دا د شپيته (۶۰) کالو وه، او په بقيع مقبره کښې دفن شويده۔

٥- زينب بنت خزيمة رضی الله عنها :

د بنو هلال بن عامر بن صعصعه نه وه او دې ته به ئې ام المساکين وئيله، ځکه چه دې به په مسکينانو باندې رحم او شفقت او سخاوت کولو، دا د عبد الله بن جحش رضی الله عنه په نکاح کښې وه، هرکله چه عبد الله بن جحش رضی الله عنه په احد کښې شهيد شو نو رسول الله ﷺ په سنه (٤ هـ) کښې په نکاح واخسته۔

د وادهٔ نه درې مياشتې روستو په ربيع الآخر مياشت کښې په سنه (٤ هـ) کښې وفات شوه، او نبي کريم ﷺ په هغې باندې جنازه وکړه او په بقيع مقبره کښې دفن کړې شوه۔

٦- ام سلمه (چه نوم ئې هنده وو) بنت ابی اُميه، رضی الله عنها،

دا د ابوسلمه بن عبد الاسد رضی الله عنه په نکاح کښې وه، هرکله چه ابوسلمه رضی الله عنه په سنه (٤ هـ) کښې وفات شو نو رسول الله ﷺ په همدغه کال د شوال مياشتې په آخر کښې په نکاح باندې واخسته او دا د ټولو زنانو نه ډيره پوهه او عقلمنده وه۔

Maktaba Tul Ishaat.com

په سنه (۵۹ هـ) یا (۶۲ هـ) کښې وفات شوه او په بقیع کښې دفن کړې شوه او ددې عمر (۸۴) کاله وو.

۷- زینب بنت جحش بن رباب رضی الله عنها :

د بنو اسد بن خزیمه نه ده، دا د رسول الله ﷺ د ترور (عمې) لور وه، دا اول کښې د زید بن حارثه رضی الله عنه په نکاح کښې وه، چه زید به د رسول الله ﷺ ځوی ګڼړلے کیدو بیا زید ورته طلاق ورکړو لکه چه دا واقعه پدې کتاب کښې مونږ تفصیلًا لیکلې ده هغې ته رجوع وکړه.

دا رسول الله ﷺ په ذی القعده میاشت کښې په سنه (۵ هـ) کښې په نکاح اخستے وه، او بعض وائی په (۴ هـ) کښې. او دا په ټولو زنانو کښې ډیره عبادت ګذاره وه او ډیرو صدقو والا وه. دا په شلم (۲۰ هـ) کښې وفات شویده، او ددې (۵۳) کاله عمر وو.

۸- جویریة بنت الحارث رضی الله عنها چه په خزاعه کښې د بنو المصطلق د مشر لور وه، دا د بنو المصطلق په غزا کښې په قیدیانو کښې راغلې وه نو د ثابت بن قیس بن شماس رضی الله عنه په برخه کښې ورسیده نو هغهٔ ورسره کتابت وکړو او رسول الله ﷺ د هغې کتابت ادا کړو، او بیا ئې په شعبان میاشت کښې په سنه (۶ هـ) کښې ئې په نکاح واخسته، نو مسلمانانو ددې په وجه ددې د خاندان نه د بنو المصطلق سل غلامان آزاد کړل او دا ئې وویل چه دا خو د رسول الله ﷺ سخرانه شوه. نو دا د خپل قوم دپاره ډیر د برکت والا وګرځیده. په ربیع الاول میاشت کښې په سنه (۵۶ هـ) یا (۵۵ هـ) کښې وفات شویده او ددې عمر (۶۵) کاله وو.

۹- ام حبیبه رَمْلَه بنت ابی سفیان رضی الله عنها :

دا د عبید الله بن جحش په نکاح کښې وه نو د هغې نه د هغهٔ حبیبه پیدا شوه نو په هغې سره ئې کنیه کیخودې شوه، او د هغهٔ سره ئې حبشو ته هجرت وکړو نو عبید الله هلته کښې نصرانیت ته واپس شو او هلته وفات شو.

او ام حبیبه رضی الله عنها په خپل دین او هجرت باندې مضبوطه پاتې شوه، هرکله چه رسول الله ﷺ عمرو بن امیه الضمری رضی الله عنه له خط ورکړو چه نجاشی ته ئې ورسوی په سنه (۷ هـ) کښې، نو هغهٔ ته ئې دا پیغام هم ولیږلو چه ام حبیبهٔ رضی الله عنها باندې ددهٔ دپاره جرګه وکړی نو نجاشی هغهٔ ته په نکاح ورکړه او د خپل طرف نه

Maktaba Tul Ishaat.com

ئې هغې ته څلور سوه (٤٠٠) دیناره ورکړل او دا ئې د شرحبیل بن حسنه رضي الله عنه سره راولیږله نو رسول الله ﷺ ورسره په داسې وخت کښې یو ځائې شو چه د خیبر د غزا نه راواپس شوې وو، دا په سنه (٤٢ هـ) یا (٤٤ هـ) یا (٥٠) کښې وفات شویده.

۱۰- صفیه بنت حیي بن اخطب رضي الله عنها:

چه د بنو نضیرو (د بني اسرائیلو) نه د حیي بن اخطب لور وه، دا په خیبر کښې نیولې شوې وه نو رسول الله ﷺ د خپل ځان دپاره غوره کړه او دې ته ئې اسلام پیش کړو نو اسلام ئې قبول کړو او هغه ئې آزاده کړه او په نکاح باندې ئې واخسته پس د فتح د خیبر نه په سنه (۷ هـ) کښې. او مدینې ته چه کله راروان شول نو دولس میله (۱۲) د خیبر نه را جدا په سَدُّ الصَّهْبَاء علاقه کښې ئې ددې سره واده وکړو.

دا په سنه (٥٠ هـ) کښې وفات شویده. او بعض وائي چه په سنه (۳٦ هـ) کښې وفات ده او په بقیع کښې دفن کړې شویده.

۱۱- میمونه بنت الحارث رضي الله عنها:

د ام الفضل لُبَابه بنت الحارث رضي الله عنها خور ده کومه چه د عباس رضي الله عنه بي بي وه. دا په ذي قعده کښې په سنه (۷ هـ) کښې په نکاح اخستې په عُمْرَةُ الْقَضَاء کښې کله ئې چه عمره وکړه. او د مکې نه نهه (۹) میله جدا په سَرِف علاقه کښې ئې پرې واده وکړو، او دا بیرته په سنه (٦١ هـ) کښې یا په (٦٣ هـ) کښې په سَرِف علاقه کښې وفات شوې هم ده، او همدلته دفن شوې ده.

پدې بیبیانو کښې خدیجه رضي الله عنها او زینب بنت خزیمه ام المساکین د رسول الله ﷺ په ژوند کښې وفات شوې وې او باقي نهه بیبیانو نه رسول الله ﷺ وفات شو.

او هرچه دوه نورې زنانه چه رسول الله ﷺ د هغوی سره واده نهٔ دې کړې صرف نکاح شویده هغه یوه د بنو کِلابو نه وه، او بله د کِندہ نه، چه دا په "جونیه" باندې مشهوره وه.

او د رسول الله ﷺ وینځې دوه وې: یوه ماریه قبطیه رضي الله عنها چه دا ورته د مصر بادشاه مُقَوْقِس هدیه کړې وه، نو د هغې نه ئې ابراهیم رضي الله عنه پیدا شو او بیا تقریباً د اتلسو میاشتو په عمر کښې په مدینه کښې په سنه (۲۸/یا ۲۹، شوال سنه (۱۰ هـ) کښې موافق د ۲۷ جنوري سنه (٦۳۲م) کښې وفات شو.

Maktaba Tul Ishaat.com

دویمه ریحانه بنت زید النضرية او القرظیه وه چه دا د بنو قریظو په قیدیانو کښې وه۔ نو رسول الله ﷺ ځان دپاره غوره کړه، بعض وائی دا بی بی وه، آزاده ئے کړه او په نکاح ئے واخسته۔

د رسول الله ﷺ نارینه اولاد:

د خدیجې رضی الله عنها نه د رسول الله ﷺ یو ځوی د قاسم په نوم باندې پیدا شو، چه پدې سره رسول الله ﷺ خپله کنیه کیخوده، (ابو القاسم ﷺ) چه دا د ټول اولاد نه مشر وو، بیا په وړوکوالی کښې وفات شو۔

بیا په اسلام کښې ترې عبد الله پیدا شو نو هغهٔ ته به ئے طیب او طاهر هم وئیلو۔

او د ماریه قبطیه نه ابراهیم رضی الله عنه پیدا شو۔

میراث د نبی ﷺ:

نبی ﷺ چه کله وفات شو نو د خپل ځان نه ئے روستو کوم خاص میراث پرینخودو، ددې حکمت دا دې چه که رسول الله ﷺ چرته خپلو بچو او بیبیانو ته مال پریښودې وې نو د ډیرو خلکو بدگمانی پیدا کیده، په پاکه جامه باندې داغ زر لګیږی، که یو جائز کار وکړی نو غلط خلك پرې اعتراض کوی، چه صحیح ده رسول الله ﷺ خو د ځان دپاره مال نهٔ جمع کولو لیکن خپلو بیبیانو او بچو او نمسو له ئے ډیرې ګټې وکړې۔ نو په نبوت باندې یو قسم اعتراض د خلکو پیدا کیدو، او یو نفرت پهیلاویدو، نو الله سبحانه وتعالیٰ په انبیاء علیهم السلام زکاة او صدقه حرامه کړه او دا هم پرې حرامه وی چه تاسو به د ځان نه روستو میراث نهٔ پریدئ او کوم مال چه پریدی نو هغه به مسلمانانو ته صدقه وی۔

او نبی ﷺ د دنیا د مال د جمع کولو دپاره راغلې نه وو، نهٔ خپل ځان له او نهٔ خپلو بچو له، بلکه د هغهٔ کار د امت اصلاح او د هغوی تعلق د الله تعالیٰ سره جوړه ول او د آخرت دپاره تیارې دې، یعنی الله تعالیٰ خپل ځان له رالیږلې وو چه بندګان الله تعالیٰ سره جوړاو کړی، الله تعالیٰ ورته فرمائیلی وو:

Maktaba Tul Ishaat.com

﴿ وَلِرَبِّكَ فَاصْبِرْ ﴾

او رب دپاره به صبر کوې۔ (دې دپاره چه خلك د الله بندګی کونکی جوړ شی)۔
او نبی ﷺ خپله هم دا خبره بیان کړې وه:

[لَا نُوْرَثُ، مَا تَرَكْنَاهُ صَدَقَةٌ]

مونږ د پیغمبرانو جماعت نه به میراث نهٔ وړلے کیږی، مونږ چه کوم شے پریدو هغه به صدقه وی۔
کله چه وفات کیدو نو هم داسے ئے فرمایلی وو:

[مَا تَرَكْتُ بَعْدَ نَفَقَةِ نِسَائِيْ وَمُؤْنَةِ عَامِلِيْ فَهُوَ صَدَقَةٌ]

ما چه د بیبیانو د خرچے نه بعد او د خپلو عاملانو د مزدورئ نه بعد کوم مال پریخے وی هغه به صدقه وی۔ [بخاری: ٦٧٢٩]
(رسول الله ﷺ به خپلو بیبیانو ته د کال خرچه ورکوله او بعض مال به ئے دے دپاره ساتلے وو چه کوم کسان به ئے په کارونو لګولی وو چه هغے ته عاملان وائی نو هغوی له به ئے ترے تنخواه ورکوله- نو مطلب دا شو چه د بیبیانو د کال خرچه او د عاملانو دا تنخواه ګانے به نهٔ تقسیموئ باقی په تاسو تقسیم ده)۔
نو د رسول الله ﷺ بچو او د هغهٔ بیبیانو کوم میراث وانخستو۔
او د رسول الله ﷺ څه خاص میراث هم نهٔ وو پاتے شوے، هغهٔ سره په ژوند کښے لږ شان مالونه وو خو هغه ئے هم د مرګ نه مخکښے مخکښے صدقه کړی وو، لکه د هغهٔ یو څو غلامان وو، او څلور (٤) اسونه او دوه (٢) اُوښانے او یوه (١) قچره وه او شپږ (٦) اته (٨) نهه (٩) چیلئ وے، دا ئے په ژوند کښے ختم کړی وو، کله چه وفات کیدو نو په کور کښے دومره غربت وو چه د یو یهودی نه ئے دیرش (٣٠) صاعه (یعنی څه دپاسه شپیته (٦٠) کیلو) وربشے په قرض اخستے وے او د هغهٔ سره ئے په ګانړه کښے زغره ایخودے وه۔
دا حدیث بعض مسلمانانو ته معلوم وو او ډیرو ته نهٔ وو معلوم، د علم د نهٔ کیدو د وجه نه کله اختلاف واقع کیږی، خو د صحابه کرامو رضوان الله علیهم اجمعین طریقه دا وه چه کله به ئے یوه مسئله کښے اختلاف وکړو او حدیث به ور ورسیدلو نو

Maktaba Tul Ishaat.com

بیا به چُپ کیدل او اختلاف به ئې ختمولو، زمونږ په دې زمانه کښې اختلافات وی، حدیث ورورسیږی لیکن بیا ئې هم اختلاف نهٔ ختمیږی ځکه چه ضد کوی، صحابه کرامو رضی الله عنهم کښې د ضد صفت بیخي نهٔ وو، صحابه کرامو به خپل مابین کښې په بعض مسئلو کښې اختلاف راتللو لیکن اختلاف به ئې زر ختمېدو۔

د نبی ﷺ بیبیانو د ابوبکر صدیق ﷺ پسې عثمان ﷺ ولیږلو چه د هغهٔ نه ئې د میراث مطالبه کوله چه مونږ له دې د رسول الله ﷺ میراث راکړې شی، لکه په فدك او خیبر علاقه کښې د رسول الله ﷺ زمکه پاتې شوه، او په مدینه کښې د بنو نضیرو زمکه وه چه نبی ﷺ به د هغې نه د میلمنو او د کور خرچه کوله۔

عائشې رضی الله عنها ورته حدیث بیان کړو چه تاسو دا حدیث نهٔ دې آوریدلې چه نبی ﷺ فرمائی: مونږ انبیاؤ نه میراث نهٔ وړې کیږی، کوم مال چه مونږ پریدو هغه د ټولو مسلمانانو دپاره صدقه وی۔

بیبیانې اګرکه د عائشې رضی الله عنها بنې دی، لیکن ضد ئې ونکړو چه مونږ ستا خبره نهٔ منو مونږ خپل مال غواړو، بلکه ټولې واپس شوې، او دې حدیث ته ئې غاړه کیخوده۔ دا د صحابه کرامو رضی الله عنهم کمال وو۔

فاطمه رضی الله عنها ابوبکر صدیق ﷺ ته راغلې وه چه ما له دې د پلار میراث راکړې شی۔ او ابوبکر صدیق ﷺ ته ئې وویل چه ته مړ شې ستا میراث به څوك وړی؟ هغهٔ وویل: زما بچی۔ نو هغې وویل: دغه شان رسول الله ﷺ وفات شو نو مونږ له میراث راکړه۔ ابوبکر صدیق ﷺ ورته وفرمایل: د الله تعالیٰ نبی داسې فرمایلی دی: مونږ چه څه پریدو هغه صدقه وی۔ او هغې ته ئې تسلی ورکړه چه ته مهٔ خفه کیږه نبی ﷺ چه په دې مال کښې څنګه کار کړیدې هغه کار به زهٔ هم کوم، او د هغهٔ مخالفت بالکل نهٔ کوم۔

(او دا د صحابه کرامو رضی الله عنهم کمال دې چه دلته ئې محبت ته ونهٔ کتل چه دا د رسول الله ﷺ لور ده راځئ چه میراث ورکړو، اګرکه هغه خفه وه لیکن دوئ د رسول الله ﷺ حکم نهٔ ماتولو)۔

نو دا ئې وویل چه زهٔ به هم هغه شان خرچه کوم په بیبیانو او کور والو او بچو او میلمنو باندې څنګه چه نبی ﷺ کوله۔ او دا ئې وفرمایل:

[وَاِنِّیْ اَخْشٰی اِنْ تَرَکْتُ اَمْرَهٗ اَوْ شَیْئًا مِنْ اَمْرِهٖ اَنْ اَزِیْغَ]

او زهٔ یریږم که زهٔ د رسول الله ﷺ امر پریدم یا لږ شے د هغهٔ د امر نه پریدم نو زما زړهٔ به واوړی او زهٔ به گمراه شم۔

(دا دلیل دے چه څوك سنت طریقے پریدی نو الله تعالیٰ به ورله زړهٔ اړه وی او گمراه کیږی به)

او کـه تـهٔ په ما بد گمان کوے نو د مسلمانانو نه تپوس وکړه هغوئ به تا ته ددے خبر درکړی۔ لیـکـن فاطمه رضی الله عنها خفه شوه ځکه چه بشر دے د بشر نه، خفه شوه چه ما ته ابوبکر صدیق ﷛ ولے میراث نهٔ راکوی، او د ډیر خفگان او د غصے په وجه ئے دے حـدیـث طرفـتـه خیـال لاړ نشـو، انسان چه کله غصه وی نو بل طرف ته ئے خیال رانشی۔ حال دا چه دا حدیث یواځے ابوبکر صدیق ﷛ نهٔ وو بیان کړے بلکه عباس ﷛، عمر فاروق ﷛، ابو هریره ﷛، ابو سعید ﷛ او عائشه رضی الله عنها ته یاد وو۔

شپږ میاشتے پس فاطمه رضی الله عنها وفات شوه، دا چه کله بیماره شوه نو ابوبکر صدیق ﷛ تپوس له ورغلو، هغے د علی بن ابی طالب ﷛ نه اجازه طلب کړه چه اجازه ورکړم او که نهٔ ؟ علی ﷛ ورته وفرمایل : اجازه ورکړه۔

ابـوبکر صدیق ﷛ ورغـلـو او هـغـه ئے رضـا کړه چه تهٔ مهٔ خفه کیږه، زهٔ د الله د نبی تـابـعـداری کـوم، که د هغهٔ حکم نهٔ وے نو ما به دا ټول مال تا ته درکړے وے لکه څنگه چه د پلار مال بچو ته پاتے کیږی۔

لیـکـن دلتـه د نبی ﷺ خـصـوصـیت دا دے چه د هغهٔ نه میراث نهٔ وړے کیږی، نو هغـه ئے د مـرض الـوفات په وخت کښے رضا او خوشحاله کړه۔ په داسے حالت کښے د دنیا نه لاړه نشوه چه د خلیفة المسلمین نه ناراضه وی۔

صـحـابـه کـرام رضی الله عنهم ډیرو پاکو زړونو او خویونو والا وو چه په یوه خبره به پو هه شو نو بیا به پرے ډیر کلك ولاړ وو، چا به اخوا دیخوا کولے نشو۔

د یـو صـحـابی عبد الله بن ابی اوفیٰ ﷛ نـه چا تپـوس وکـړو لـکه طلحه بن مصرف رحمه الله وائی : چه ما د عبد الله بن ابی اوفیٰ ﷛ نه تپوس وکړو :

[هَلْ اَوْصٰی رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ ؟]

آیا رسول الله ﷺ وصیت کړیدے ؟ هغهٔ وفرمایل : نهٔ، نو ما وویل :

[فَلِمَ أُمَرَنَا بِالْوَصِيَّةِ ؟]

بیا نبی په مونږ امت باندې وصیت څنګه لازمه ولو.

نو هغهٔ وفرمایل: [أَوْصٰى بِكِتَابِ اللّٰهِ]

د الله تعالیٰ په کتاب باندې ئې وصیت کړیدې.

(یعني وصیتونه دوه قسمه دی، یو مالي وصیت دې، او بل دیني وصیت، نو دیني وصیت رسول الله ﷺ کړیدې چه په دین باندې او د الله تعالیٰ په کتاب باندې منګولې ولګوئ، او مالي وصیت هم ضروري دې، کله چه تا سره مال وی او وفات کیدې نو د وارثانو نه علاوه خپلو خپلوانو په باره کښې به وصیت کوې چه کله زهٔ وفات شوم نو فلاني فلاني له ترې دومره مال ورکړئ،

او دا هم داسې مسئله ده چه ډیرو خلکو ته نهٔ ده معلومه او نهٔ پرې عمل کوی، بعض علماؤ وئیلی دی چه د وصیت حکم منسوخ شویدې لیکن صحیح دا ده چه د میراث خورو په حق کښې منسوخ دې، هغوی دپاره وصیت د میراث نه علاوه نور مال باندې نهٔ کیږی او هر چه نور خپلوان دی نو د هغوی دپاره وصیت کول لازم دی چه څه نا څه مال هغوی ته ورکړې شی او دلیل پرې آیت دې

﴿كُتِبَ عَلَيْكُمْ إِذَا حَضَرَ أَحَدَكُمُ الْمَوْتُ إِنْ تَرَكَ خَيْرًا نِ الْوَصِيَّةُ﴾ .

او بل دا حدیث دلیل دې چه رسول الله ﷺ امت ته په وصیت کولو حکم کړیدې).

د ابوبکر صدیق ﷺ د خلافت دپاره د ربط د پیدا کولو دپاره دوه درې خبرې عرض کیږی:



د نبی ﷺ صفات او شمائل :

نبی ﷺ الله سبحانه وتعالیٰ ډیر کامل انسان پیدا کړے وو چه په انسانانو کښے داسے کامل انسان نۀ تیر شویدے او نۀ به راشی لکه حسان بن ثابت ﷺ د نبی ﷺ په صفت کښے فرمائی :

وَاَحْسَنَ مِنْكَ لَمْ تَرَ قَطُّ عَيْنِيْ	❁	وَاَحْسَنَ مِنْكَ لَمْ تَلِدِ النِّسَاءُ	
خُلِقْتَ مُبَرَّءً ا مِنْ كُلِّ عَيْبٍ	❁	كَأَنَّكَ قَدْ خُلِقْتَ كَمَا تَشَاءُ	

او ستا نه ښائسته شخص چرته هم زما سترګو نۀ دے لیدلے او ستا نه ښائسته او ډولی زنانو نۀ دے راوړے۔

تۀ پیدا کړے شوے ئے جدا د هر عیب نه، ګویا که تۀ د خپلے خوښے مطابق پیدا شوے ئے۔

نبی ﷺ ته الله تعالیٰ ظاهری او باطنی دواړه قسمه کمالات ورکړی وو، جمال د ظاهر او جمال د باطن۔ په احادیثو کښے ئے ظاهری جمال هم ذکر دے، د شکل په لحاظ سره هم ښائسته چه احادیثو کښے د هغے تفصیلات راغلی دی اجمالی اشاره کافی ده۔

چا د براء بن عازب ﷺ نه تپوس وکړو چه د نبی ﷺ به داسے مخ وو لکه د تُوری په شان هغۀ وویل :

[لَا، بَلْ مِثْلَ الْقَمَرِ]

نۀ، (د تورے سره تشبیه مۀ ورکوه) بلکه هغه د سپوږمۍ په شان وو۔

فراخه تندی والا، اُوچتے پوزے والا، ښکلی مخ والا، ګڼړے ګیرے والا، قوی بدن والا، غټو غټو هډوکو والا، د دواړو اوګو ترمینځ ئے جدا والے وو۔

سپین تندی والا، رنجینو سترګو والا چه ګاتے ئے تک تور وو او نورے سترګے ئے سرخی مائل وے، باریکو او ورسره کاملو وروځو والا، نرمو اننګو والا، نۀ ډیر وښکلے اُوږد وو او نۀ لنډ قد والا وو، درمیانه وو۔

د معجزاتو نه ئې دا وه چه دنیا کښې به د اُوږد نه اُوږد انسان راغلو او د رسول الله ﷺ خوا کښې به ودریدو نو رسول الله ﷺ به ترې اُوچت ښکاره کیدو او عامو اوقاتو کښې به درمیانه ښکاره کیدو۔

مَنْهُوْسُ الْعَقِبَيْنِ وو، یعنې د پوندو غوښه ئې کمه وه۔ ښائسته پړق وهونکې غاښونو والا، غټ ښائسته سر والا۔ د سر تکو تورو ویښتو والا۔ چه نهٔ ډیر کوږئ وو او نهٔ ډیر پراتهٔ وو، فراخه کولاو لاسونو والا وو۔

د خولې نه به ئې خوشبوئي تلله چه بعض صحابیاتو به په عطرو کښې اچوله لکه د ام سُلیم رضی الله عنها په کور کښې به نبی ﷺ کله کله اُوده کیدو (دا یوه میلمه دوسته ښځه وه او د نبی ﷺ سره ددې او ددې تولې کورنئ ډیر محبت وو، دا د انس بن مالك ﷺ مورده) نو هغې به کله نا کله خوله راجمع کړه او بیا به ئې په عطرو کښې اچوله۔

د الله تعالیٰ نبی چه به په کومه لاره تیر شو نو خلکو ته به پته لګیده چه پدې لار بانديې تلے دے، دومره خوشبوئي به ترې تلله۔ الله تعالیٰ ئې په بدن کښې دا کمال اچولے وو، او ولے به پکښې داسې کمال نهٔ وو چه د الله تعالیٰ محبوب وو۔

او الله تعالیٰ چه یو نبی رالیږی نو ډیر کمالات پکښې اچوی،

یو حدیث کښې دی: هر نبی چه الله تعالیٰ رالیږلے دے نو خکلے مخ ئې ورکړے او ښائسته آواز ئې ورکړے او اُوچت نسب کښې ئې رالیږلے دے۔

په ګیره مبارکه کښې ئې سپین نهٔ وو لګیدلې په دری شپیته (٦٣) کالو کښې سوئ د یو ځو دانو ویښتو نه چه هغه د ګیرې په لاندې طرف کښې وو او یو طرف او طرف بل طرفته وو چه ټول تقریباً یویشت (٢١) ویښته صحابه کرامو حساب کړی وو۔ حال دا چه کله به ئې په هغې باندې نکریزه یا تیل ولګول نو بیا به نهٔ ښکاره کیدل۔

اِیَاد بن ابی رِمْثَه واٸي: زهٔ د خپل پلار سره د رسول الله ﷺ خواته لاړم، هر کله چه ما ولیدو نو ما ته پلار وویل: تهٔ پوهیږې دا سړے څوك دے؟ ما وویل: نه،

وې فرمایل: دا رسول الله ﷺ دے۔ نو زما غوښې زیږ شو او ویښته مې په بدن ودریدل کله ئې چه ما ته دا خبره وکړه (یعنې رعب راباندې راغې) ځکه چه ما به په رسول الله ﷺ باندې داسې ګمان کولو چه دا به داسې وی چه د خلکو سره به مشابه نهٔ وی، نو

Maktaba Tul Ishaat.com

چه ما وکتـل دغه وخت هغه يو انسان وو چه د غوږونو پورې ويښته ئې وو او په هغې باندې د نکريزو سور والې وو او هغهٔ دوه شنهٔ څادرونه اغوستي وو.

[موسوعة الدفاع عن رسول الله ﷺ ١٠/١٦٨]

عبد الله بن عمر رضي الله عنهما فرمائي :

نبي ﷺ به زيړې چپړې اغوستلې او ګيره مبارکه به ئې په ګل ورس او زعفران سره سرهٔ کوله او عبد الله بن عمر رضي الله عنه به هم روستو داسې کول.

انس بن مالك ﷺ فرمائي :

[وَاللّٰهِ مَا مَسِسْتُ دِيْبَاجًا وَلَا حَرِيْرًا اَلْيَنَ مِنْ كَفِّ رَسُوْلِ اللّٰهِ ﷺ]

قسم په الله ما غټ او نرى وريښم نهٔ دي مسه کړي چه هغه د رسول الله ﷺ د ورغوي نه ډير نرم وي.

د ټولو خلکو نه ډير فصيح او واضحه خبرې کونکې، د خلکو نه زيات قوي زړهٔ او بهادرئ والا.

لنډه دا چه الله تعالیٰ رسول الله ﷺ ته ظاهري کامل بدن هم ورکړې وو، او دا قانون دې الله تعالیٰ چه د چا نه د دين کار اخلي نو هغوي له علم هم ورکوي او ورسره صحت هم، ځکه چه کله د سړي صحت خراب او کمزورې وي بيا هم د دين کار نشي کولې او چه صحت ئې ښهٔ وي او علم ورسره نهٔ وي، او دننه باطني کمالات پکښې نهٔ وي بيا هم د دين کار نشي کولې، نو ځکه انبياء عليهم السّلام ته الله تعالیٰ داسې اُوچت کمالات ورکوي.

نو تهٔ د رسول الله ﷺ په باره کښې ډير اُوچت تصور کولې شې، په دنيا کښې چه تا ته کوم ښائسته انسان ښکاره کيږي نو د هغې نه د الله تعالیٰ رسول په زر هاؤ درجه ښکلې او ډولي وو.

ددې وجه نه چه اول کښې به د رسول الله ﷺ سره څوك ملاؤ شو نو هيبت به پرې راتللو، الله تعالیٰ پکښې رعب اچولې وو، خو چه ورسره کيبه ناستو نو بيا به ئې ورسره داسې مينه پيدا شوه چه د مجلس نه پاځيدو به خوند نهٔ ورکولو. د هغهٔ په خبرو او ناسته کښې الله تعالیٰ داسې خوند اچولې وو.

سائل الاطراف وو، يعني خورو طرفونو والا وو يعني بهيدونکې بدن ئې وو، يعني

Maktaba Tul Ishaat.com

شاکړوے، او بدن ئے يو طرف ته وتلے نۀ وو۔
دارنګه نبی ﷺ ته الله تعالیٰ جمالِ باطني هم ورکړے وو، يعني هر ښه صفت په نبی ﷺ کښے په کامله طريقه موجود وو، او په امت کښے الله تعالیٰ دغه صفتونه تقسيم کړيدی، چا کښے يو او چا کښے بل وی او دا ټول په نبی ﷺ کښے په يو ځل راجمع وو۔
.د سعودی د علماؤ يو ے لَجنے يو کتاب ليکلے دے په يولس جلدونو کښے د هغے نوم دے ((نَضُرَةُ النعيم فی اخلاق الرسول الکريم)) چه په هغے کښے درے سره يو شپيته (۳٦۱) خوبونه او صفتونه جمع کړے شويدی چه دوه سوه (۲۰۰) صفات ثبوتی دی، او يوسل يو شپيته (۱٦۱) سلبی صفتونه دی، يعني اولنی پکښے وو او روستنی پکښے نۀ وو۔ او په هغے باندے ئے دليلونه راوړيدی چه نبی ﷺ دغه صفتونه فرمائيلی هم دی او د هغۀ په ذات کښے هم موجود وو، ډير عجيب کتاب دے۔
لکه رسول الله ﷺ کښے اُوچت اخلاق وو، په هغه اخلاقو کښے يوه حياء ده، رسول الله ﷺ ډير حياناك انسان وو، [اَشَدُّ مِنَ الْعَذْرَاءِ فِیْ خِدْرِهَا]
د هغه زنانه هم د حياء په لحاظ ډيرے حياء والا وو چه هغه په پرده کښے ناسته وی، او بهر نۀ اُوځی۔
ليکن د هغے سره سره شجاعت او بهادری هم پکښے په اعلیٰ پيمانه موجود وه۔
د حياء د وجه نه به ئے چا ته مخامخ خبره هم نۀ کوله چه دا کار دے ولے کړے او داسے ولے کوے ؟ که چا به څه وړانے وکړو نو په منبر باندے به ئے عامه خبره کوله، چه [مَا بَالُ اَقْوَامٍ] څه وجه ده بعض خلکو لره چه داسے داسے کار کوی نو خلك به پو هه شو۔
په رسول الله ﷺ کښے تواضع، يقين، توکل په رب العالمين موجود وو، د تقویٰ ټول صفات په رسول الله ﷺ کښے وو، سيد المتقين، سيد العابدين دے، دومره بندګی به ئے کوله چه خپے به ئے پړسيدلے، او د خلکو سره ډير احسان والا وو، امت سره ئے احسانات کړيدی، د خپلو صحابه کرامو رضی الله عنهم سره ئے کړيدی، د الله تعالیٰ په لاره کښے جهادونه کول، بهادريانے راښکاره کول، دا ټول کمال پکښے وو۔
د عائشے رضی الله عنها نه چا تپوس وکړو د رسول الله ﷺ اخلاق څنګه وو؟ وے فرمايل : تا قرآن نۀ دے وئيلے؟ هغۀ ووئيل : ولے نۀ، وے فرمايل :

Maktaba Tul Ishaat.com

[كَانَ خُلُقُهُ الْقُرْآنَ]

د نبی ﷺ اخلاق قرآن کریم وو۔ یعنی په قرآن کریم کښې چه الله تعالیٰ خپل نبی ته کوم اخلاق ورخودلی دی هغه ټول په کښې موجود وو۔

د ایمان والو چه کوم صفات په قرآن کریم کښې ذکر دی دا ټول پکښې موجود وو۔ لکه په سورت المؤمنون او سورت معارج او سورت اعراف آخر کښې او سورت توبه کښې الله تعالیٰ کوم صفات د مؤمنانو بیان کړیدی دغه په نبی ﷺ کښې په اعلیٰ پیمانه موجود وو۔

د هغهٔ د جمالِ ظاهری او باطنی تصور وکړه نو مینه به دِ ے ورسره پیدا شی۔

بیا الله تعالیٰ په امت باندے د نبی حقوق لازم کړیدی، ځکه چه مونږ دپاره ئے ډیره خواری کړیده، او په آخرت کښې به هم د امت دپاره خواری کوی، شفاعت به کوی، منډے ترړے به وهی چه امت د اُور نه بچ شی او جنت ته په جلتئ باندے لاړ شی۔

د قیامت په ورځ به هر نبی خپل نفس یادوی [نَفْسِیُ نَفْسِیُ]

او زمونږ نبی ﷺ به فرمائی: [اُمَّتِیُ اُمَّتِیُ]۔ لیکن ډیر امتیان د هغهٔ سنت او خبرے غورزوی او نورے خبرے او خلك پرے دپاسه کوی، څوك پرے خپل مشر او څوك پرے خپل رسم او رواج، او څوك پرے خپل خواهش، او چا پرے د یهودو او نصاراو لاره دپاسه کړیده او چا د هغهٔ په دین کښې نوے نوے خبرے پیدا کړیدی۔

د رسول الله ﷺ په امت باندے حقوق:

هر کله چه داسے عظیم الشان نبی دے نو الله تعالیٰ د هغهٔ دپاره په امت باندے ډیر حقوقونه لازم کړیدی چه په طریقه د اجمال سره بعض دا دی:

١- یو دا چه په هغهٔ باندے به ایمان راوړی۔ زمونږ د ایمان یو رکن دا دے چه په رسول الله ﷺ باندے به ایمان راوړی۔ په هغهٔ باندے د ایمان معنیٰ دا ده چه دا یقین وکړی چه هغه بشر وو او الله تعالیٰ ټول عالَم ته نبی رالیږلے دے، عالمی پیغمبر دے، نبی ﷺ د عربو او عجمو او تر قیامته پورے چه څومره انسانان او پیریان راځی د هغوی ټولو دپاره پیغمبر جوړ شوے رالیږلے شویدے، دا ټول خلك به د هغهٔ پسے

Maktaba Tul Ishaat.com

ورځي او د هغهٔ اتباع به کوي۔

دویم دا چه د هغهٔ طریقے او دین به کامل گنړے، داسے به نهٔ وئیلے کیږي چه د هغهٔ په دین کښے عبادات شته لیکن سیاست پکښے نشته، یا فلانئ خبره د رسول الله ﷺ په طریقه کښے نشته۔ نو دا عقیده به ساتے چه د رسول الله ﷺ سنت او دین کامل مکمل دی، هر څه پکښے شته برابره ده چه د عقیدے سره تعلق لري او که د اعمالو او د اخلاقو او د معاملے او د معاشرے، او د خلافت او د نظام او د کفارو سره د معاملات دا تولے خبرے په قرآن کریم او په احادیثِ نبویه ؤ کښے شته۔

۲- حق : [اَلْاِتِّبَاعُ] د رسول الله ﷺ په افعالو او اعمالو کښے به اتباع کولے شي۔ هغهٔ چه څنگه ژوند تیر کړیدے او څه اعمال ئے کړیدي د هغے تابعداري کول، سویٰ د هغه اعمالو نه چه د هغهٔ د خصوصیاتو نه وي۔

الله تعالیٰ فرمائی : ﴿قُلْ اِنْ کُنْتُمْ تُحِبُّوْنَ اللّٰهَ فَاتَّبِعُوْنِیْ﴾

[آلعمران : ۳۱]

د الله تعالیٰ محبت انسان ته نشي حاصلیدے ترڅو چه د نبي تابعداري ئے نهٔ وي کړي۔

۳- حق : [اَلْاِطَاعَةُ] د هغهٔ اطاعت کول دي، اطاعت دے ته وائي چه هغهٔ امت ته کومے خبرے کړیدي، کوم اقوال ئے دي، هغه به امت په لبیك سره اخلي او هغه به مني او د هغے نه به انکار او انحراف نهٔ کوي، او مخ به ترے نهٔ اړه وي، او هغے ته به تسلیمیږي نو هله به د نبي ﷺ حق ادا کیږي، او دا حقوق په مونږ باندے فرض دي۔ که دا څوك ادا نکړي هغه مومن نشي جوړیدے، جنت ته نشي داخلیدے۔ نبي علیه السلام خپله دا قانون ایخوستے دے، فرمائیلي ئے دي :

[کُلُّ اُمَّتِیْ یَدْخُلُوْنَ الْجَنَّةَ اِلَّا مَنْ اَبٰی قِیْلَ وَمَنْ یَّاْبٰی یَا رَسُوْلَ اللّٰهِ ؟ قَالَ : مَنْ اَطَاعَنِیْ دَخَلَ الْجَنَّةَ وَمَنْ عَصَانِیْ فَقَدْ اَبٰی] [بخاری رقم : ۷۲۸۰]

زما ټول امت به جنت ته داخلیږي مگر هغه څوك چه (د جنت د داخلیدو نه) انکار وکړي، تپوس وشو اے د الله رسوله ! د جنت د داخلیدو نه څوك انکار کوي؟ وے فرمایل : څوك چه زما طاعت کوي هغه به جنت ته داخلیږي او څوك چه زما نافرماني کوي

Maktaba Tul Ishaat.com

هغه د جنت د داخلیدو نه انکار کوی۔

نـو د رسول الله ﷺ په طاعت کښې د اُور نه بچاؤ دے، که ستا په بدن کښې یوه سنت طریقه وه نو الله تعالیٰ دِے اُور ته نهٔ بوځی، الله تعالیٰ ته د خپل نبی سنت دومره محبوب دی،

کله چه یو صحابی ابو عبد الله ایمان راوړو نو نبی ﷺ دهٔ ته وئیلی وو:

خپل بریت ووهه [ثُمَّ اَقِرَّهٗ حَتّٰی تَلْقَانِیْ عَلَی الْحَوْضِ]

بیا پدے باندے همیش والے کوه تردے چه ما سره به په حوض کوثر باندے ملاؤ شے۔

کله چه هغه بیمار وو نو زړل ئے، ملګرو ورته دا زیرے ورکړو چه تا ته خو رسول الله ﷺ زیرے درکړے تهٔ ولے خفه ئے؟

(ددے نه اهل علمو دا فائده راوخکلے ده چه د یو سنت طریقے په تابعدارئ باندے یو انسان د نبی ﷺ سره په حوض کوثر باندے ملاویږی نو د هغه چا به څه حال وی چه دوه سنت طریقے او درے او لس او شل پکښے وی، او ټول بدن ئے د نبی ﷺ په طریقو باندے آباد وی، داسے کسان الله تعالیٰ اُور ته نهٔ بوځی،

دا مونږ چه پدے خبره زور لګوو او ټول استاذان او علماء او مشران دا نعرے وهی چه اے خلکو! د نبی تابعداری وکړئ دا ددے مقصد دپاره چه اے خلکو! د اُور نه د بچاؤ لاره همدا ده، او د جنت ته د داخلیدو لاره صرف همدا ده بله نشته، د نبی سره محبت پیدا کړئ، چا چه د بل چا طریقے رامخکښے کړی وی او د هغے نه دفاع کوی نو خامخا به د هغهٔ د محمد رسول الله ﷺ سره مینه نهٔ وی، اګرکه دے به د محبت ډیرے دعوے کوی، لکه د هغه خلکو نه تپوس وکړه چه هغوی ته الله تعالیٰ نیغے لارے ته هدایت کړے وی نو هغوی په خپل زوړ حالت باندے تعجب کوی۔

٤- حق: د هغهٔ د حقوقو نه دا ده چه د هغهٔ احترام او تعظیم به کولے شی، کله ئے چه نوم یاد کړے شی نو درود به پرے وئیلے شی،

دارنګه د هغهٔ د بیبیانو او د هغهٔ د صحابه کرامو او ملګرو تعظیم کول، که یو تن په رسول الله ﷺ باندے د ایمان دعوه لری لیکن د هغهٔ د بیبیانو بی عزتی کوی، یا ئے د بچو یا ئے د ملګرو بے عزتی کوی نو دا په نبی ﷺ باندے صحیح مؤمن نهٔ دے۔

تهٔ خپل ځان ته وګوره چه یو تن تا سره د محبت دعوه کوی او ستا د ښځے یا ستا د

Maktaba Tul Ishaat.com

بچي یا ستا د شاګرد یا د ملګري بې عزتي کوي نو دا داسې ده لکه ستا بې عزتي.

نو د صحابه کرامو رضی الله عنهم ادب هم زمونږ د خوږ نبي ﷺ ادب دې، او هغهٔ خپله فرمائیلي هم دي چه زما صحابو پسې خبرې مهٔ کوئ.

[لَا تَسُبُّوْا اَصْحَابِیْ]

[بخاري: ٣٦٧٣، مسلم: ٦٦٥١]

(زما صحابه کرامو ته بد رد مهٔ وایئ) د هغوي عیبونه مهٔ بیانوئ.

که د بعض صحابه کرامو رضی الله عنهم په بعض مسائلو کښې خپل مابین کښې لږ څه اختلاف راغلې دې نو هغوي انسانانو وو او د انسانانو خپل مینځ کښې اختلاف راتلې شي لیکن ټول متقیان خلك وو، د هر چا پکښې دا اراده وه چه خپل الله تعالیٰ ته ځان ورسوي، ددې خبرې وضاحت روستو راځي.

د سلفو د رسول الله ﷺ په تعظیم کښې ډیر ناشنا واقعات دي، چه کله به د هغهٔ نوم واخستې شو نو ناشنا تغیر به پکښې پیدا کیدو، دې سره به تازه کیدل او ژوند به پکښې پیدا کیدو.

٥- حق: د رسول الله ﷺ سره محبت ساتل: نبي ﷺ فرمایلي دي:

[لَا یُؤْمِنُ اَحَدُکُمْ حَتّٰی اَکُوْنَ اَحَبَّ اِلَیْهِ مِنْ وَالِدِهٖ وَوَلَدِهٖ وَالنَّاسِ اَجْمَعِیْنَ]

[بخاري: ١٤/١٥]

یو تن په تاسو کښې مؤمن کیدې نشي ترڅو چه ما سره د خپل پلار او د بچو او د ټولو خلکو نه زیات محبت وکړي.

نو د مشر او لیډر او پلار او مور او ښځې او بچو نه به د هغهٔ سره زیات محبت کیږي که ونشو نو د هغهٔ فتویٰ ده چه دا مؤمن نهٔ دې، او دا ډیر سخت وعید والا حدیث دې.

ابو موسی اشعري ﷺ فرمائي: یو صحابي تپوس وکړو:

[اَلرَّجُلُ یُحِبُّ الْقَوْمَ وَلَمَّا یَلْحَقُ بِهِمْ ؟]

یو سړې د چا سره محبت کوي او د هغوي سره پیوست نهٔ وي (یعني هغوي ته په عملونو او زمانه کښې نشي وررسیدلې نو ددهٔ او د هغوئ به څه حال وي ؟)

نبي ﷺ وفرمایل: [اَلْمَرْءُ مَعَ مَنْ اَحَبَّ] سړې به په قیامت کښې د هغه چا سره وي

Maktaba Tul Ishaat.com

چه د چا سره ئے مینه وی۔ [بخاری : ٦١٧٠]

انس بن مالك ﷺ فرمائی : یو سړے رسول الله ﷺ ته راغلو عرض ئے وکړو :
[مَتَى السَّاعَةُ ؟] قیامت به کله راځی؟ نبی ﷺ وفرمایل :

[وَمَاذَا اَعْدَدْتَّ لَهَا ؟]

تا د قیامت دپاره څه تیاری کړیده؟ هغهٔ وویل :

[لَا شَیْءَ اِلَّا اَنِّیْ اُحِبُّ اللّٰهَ وَرَسُوْلَهٗ ﷺ]

بل څه خاص خو نشته مګر دا چه زهٔ د الله تعالیٰ او د هغهٔ د رسول سره محبت لرم۔

نو نبی ﷺ وفرمایل : [اَنْتَ مَعَ مَنْ اَحْبَبْتَ]

تهٔ به په قیامت کښې د هغه چا سره ئے چه ستا ورسره مینه ده۔

نو اُوس ډیر هریو تن خپل ګریوان کښې سوچ وکړی چه د چا سره ئے ډیره مینه ده۔

راوی وائی : صحابه کرام د اسلام نه روستو په دے حدیث باندے ډیر زیات خوشحاله شو۔ اول په اسلام خوشحاله وو او دویم پدے حدیث۔

وجه د خوشحالیٔ دا ده چه هغوی به وئیل چه زمونږ خو د الله تعالیٰ او د رسول الله ﷺ سره مینه ده، نو مونږ به د قیامت په ورځ د رسول الله ﷺ سره راپاڅیږو۔

[بخاری : ٣٦٨٨]

انس بن مالك ﷺ فرمائی : زهٔ د الله تعالیٰ او د رسول الله ﷺ او د ابوبکر صدیق او عمر فاروق (رضی الله عنهما) سره مینه لرم نو زما امید دے چه ما به الله تعالیٰ د دوئ سره پاڅوی اګر که ما د هغوی په شان اعمال نهٔ دی کړی۔

[احمد : ١٣٣٤٠]

ثابت بُنانیؒ به وئیل چه زمونږ خو داسے عملونه نشته لیکن مونږ د رسول الله ﷺ او د ابوبکر او عمر او انس بن مالك (رضی الله عنهم) سره مینه لرو۔

نو مونږ له پکار ده چه ددے تولو صحابه کرامو سره مینه ولرو سره د رسول الله ﷺ نه۔ نو الله تعالیٰ به په قیامت کښې مونږ هم د هغوی سره راپاڅوی ان شاء الله تعالیٰ۔
اَللّٰهُمَّ اجْعَلْنَا مِنْهُمْ، وَاحْشُرْنَا فِیْ زُمْرَتِهِمْ۔

٦- حق : په رسول الله ﷺ باندے درود وئیل دی، په مانځه کښې په هغهٔ باندے درود

Maktaba Tul Ishaat.com

وئيل لازم دي، او چه کله ئې نوم واخستې شي نو په هغه وخت کښې او داسې نورو مقاماتو کښې هم ضروري دي. او سهار او ماښام لس لس کرت درود وئيلو ته ترغيب ورکړې شويدې چه دا وايئ زهٔ به درله قيامت کښې شفاعت کوم.

۷- [اَلدِّفَاعُ عَنْهُ وَعَنْ سُنَّتِهٖ وَعَنْ دِيْنِهٖ]

د رسول الله ﷺ نه دفاع او د هغهٔ د طريقې نه او د هغهٔ د دين نه دفاع کول.

يعنې کفار او يهود او نصارى او اهل بدع او نور مجرمان په رسول الله ﷺ باندې خپل غشي وروليء، د هغهٔ په ذات او د هغهٔ په طريقو باندې اټيکونه کوي، نو په مسلمان فرض ده چه ددې دفاع به کوي د خپل وس مطابق په توره، په نفس، په مال او په علم او قلم سره.

الله رب العالمين دا حقونه په مونږ باندې په قرآن کريم کښې لازم کړيدي او دائې د کاميابئ اسباب جوړ کړيدي، فرمائي:

﴿فَالَّذِيْنَ آمَنُوْا بِهٖ وَعَزَّرُوْهُ وَنَصَرُوْهُ وَاتَّبَعُوا النُّوْرَ الَّذِيْ اُنْزِلَ مَعَهٗ اُولٰئِكَ هُمُ الْمُفْلِحُوْنَ﴾

[الاعراف: ۱۵۷]

هغه کسان چه په رسول الله ﷺ باندې ايمان راوړي او د هغهٔ ادب او تعظيم وکړي او د هغهٔ مدد وکړي (په ژوند کښې او پس د مرګ نه د هغهٔ د دين) او تابعداري وکړي د هغه رڼړا چه د هغهٔ سره نازله شويده (چه قرآن کريم او احاديث دي) دا کسان هم دوي کامياب دي.

۲۱ رمضان ۱٤۳۸ هـ، جون ۱٦، ۲۰۱۷ يوم الجمعه.

Maktaba Tul Ishaat.com

د نبی کریم ﷺ معجزات

نبی ﷺ له الله تعالیٰ ډیرے زیاتے معجزے ورکړے وے چه بعض علماؤ دعوه کړیده چه درے زره (٣٠٠٠) معجزات وو، یو کتاب په جلد کښے لیکلے شویدے ((اَلْفُ مُعْجِزَةٍ لِلْمُصْطَفٰی ﷺ)) چه د نبی ﷺ زر معجزے ئے په ټولو کښے جمع کړیدی،

او دارنګه قاضی عیاض رحمه الله (م ٤٧٦ - ت ٥٤٤ هـ) په خپل کتاب " اَلشِّفَاء بِتَعْرِيْفِ حُقُوْقِ الْمُصْطَفٰی " کښے بعض ذکر کړیدی چه دے کتاب کښے د نبی ﷺ شمائل، حقوق او معجزات وغیره ښکلے بحثونه ذکر دی، دا کتاب ولوله د رسول الله ﷺ سره به ډیر محبت پیدا شی.

چه هغه معجزات نقل کولو باندے هم ډیرے پاڼرے ډکیږی لیکن د کلام د ربط پیدا کولو دپاره به یو څو ستاسو مخے ته وړاندے کیږی، او زمونږ دپاره پکښے ناشنا فائدے هم دی :

نبی ﷺ له لکه څنګه چه الله تعالیٰ امت غټ ورکړے نو دغه شان ئے معجزے هم ډیرے ورکړیدی،

١- **کتاب الله** : د رسول الله ﷺ یوه معجزه چه اَلْمُعْجِزَةُ الْخَالِدَة ده (چه هغه تر قیامته پورے باقی معجزه ده) او ټول بندګان د هغے نه فائده اخستو والا هغه د الله تعالیٰ کتاب دے چه د قرآن کریم په شکل کښے دے، مشرکانو وئیلی وو چه دا خو د عربئ کتاب دے، دا مۀ راوړه څکه چه تۀ هم عربی ئے او د عربی کتاب پیش کوے بلکه داسے معجزه راوړه چه ستا لاس رڼرا وکړی، امسا نه ډیرے مار جوړ شی لکه څنګه چه موسیٰ علیه السلام دا معجزات راوړی وو، نو الله تعالیٰ د هغوی دا سوال قبول نکړو په هغے کښے ډیر حکمتونه وو،

یو دا چه که دغه معجزات ورکړے شوی وے نو د هغه وخت سره به ختمه شوے وے، صرف صحابه کرامو رضی الله عنهم به لیدلی وے او د هغوی ایمان به مضبوط شوے وے نو زمونږ دپاره به پکښے خاص فائده نۀ وے.

Maktaba Tul Ishaat.com

نو الله رب العالمين داسې معجزه ورکړه چه ټول امت ته فائده ورکړي، دا داسې کتاب دې چه ټول عالم ته وئيلې شويدي چه ددې مقابله وکړئ او ددې په شان کامل کتاب پيش کړئ ليکن هيچا ئې مقابله نۀ ده کړې، بيا پدې کښې الله تعالیٰ هدايت اچولې دې، د الله تعالیٰ د تعلق خبرې پکښې دي، زمونږ دين پکښې دې۔

۲- دويمه معجزه : الله تعالیٰ د محمد رسول الله ﷺ دين چه کتاب او سنت دی ددې د حفاظت وعده ئې کړيده چه دا به تر قيامته پورې باقي وي۔ د نورو انبياء عليهم السلام دين د هغوی د وفات نه بعد زر ختم شو، د موسیٰ عليه السلام يوه طريقه هم څوك په صحيح سند سره نشي پيش کولې، چه يو يهودی په سند سره موسیٰ عليه السلام ته يوه خبره ورسوی،

يا نصاریٰ عيسیٰ عليه السلام ته سند ورسوی۔ او زمونږ د دين هره خبره په صحيح سند سره روغه رمټه رارسيدلې ده، او همغه شان صحيح پروت دې، اګرکه خلکو پکښې ډيرې ګوتې وهلی دی او خپل وسه ئې کړيده ليکن الله تعالیٰ د هغې دفاع کړيده او د خلکو خبرې ئې ترې جدا کړيدی د علماؤ په واسطه سره۔

په هره زمانه کښې عادلان خلك موجود وو هغوی به د غالينو خلکو تحريفات او د باطل پرستو بد نسبتونه او د جاهلانو غلط تاويلات به ئې لرې کول۔ لکه دا خبره حديث کښې راغلې ده۔ ددې وجه نه د هيچا دا عذر نشته چه يو سړې ووائي چه زۀ په دين عمل نشم کولې او زۀ نۀ پوهيږم، بلکه قرآن کريم موجود دې او په هره ژبه کښې ئې تفسيرونه شته دې، او حديث موجود دی، په هره ژبه کښې د هغې شروح او تشريحات شويدی نو الله تعالیٰ د خلکو عذرونه ختم کړيدی، داسې ده لکه ماته ډوډئ چه د انسان مخې ته پرته وی او صرف خوړل غواړی۔ الله تعالیٰ دين دومره آسان کړيدې۔

۳- معجزه : نورو پيغمبرانو عليهم السلام به چه دعوت وکړو نو امتيان به ئې پيدا شو نو لږه زمانه بعد به په هغوی کښې تغير پيدا شو، نو دين به ئې هم وران شو۔ نو د هغې نه بعد به الله تعالیٰ بل پيغمبر راوليږلو، په خلاف زمونږ ددې امت نه چه نبی ﷺ فرمائيلی دی چه ددې امت کښې به هميشه تر قيامته پورې اهل حق موجود وی، دوئ به نۀ ختميږی۔

د رسول الله ﷺ چه کوم خلك تابعدار وو نو بيا به په تابعينو کښې هم دغه شان

Maktaba Tul Ishaat.com

خلك وی، بیا به په اتباع التابعین كښې او داسې راخه تر قیامته پورې به حق پرست موجود وی چه د الله تعالیٰ بندګئ او د رسول الله ﷺ تابعدارئ والا دی۔

نبی ﷺ فرمائی :

[لَا تَزَالُ طَائِفَةٌ مِنْ أُمَّتِيْ عَلَى الْحَقِّ ظَاهِرِيْنَ حَتّٰى يَأْتِيَ وَعْدُ اللّٰهِ، لَا يَضُرُّهُمْ مَنْ خَذَلَهُمْ وَلَا مَنْ خَالَفَهُمْ] [بخاری : ۷۳۱۱، مسلم : ۵۰۵۹]

زما د امت نه به یوه ډله په حق باندې ولاړه وی تردې چه قیامت راشی، هغوئ له به ضرر نهٔ ورکوی هغه څوك چه د دوئ سره مدد نكوی یا ترې خلاف كوی۔

یعنی یهود، نصاریٰ او كفار او مبتدعین به هغوی لره د حق نه نشی اړه ولې، كه ټوله دنیا راجمع شی او اسلام ختمول غواړی نو نهٔ ئې شی ختمولې، دا د نبی ﷺ پیشنګوئی ده۔ نو اُوس هم اهل حق شته، او روستو به هم راپیدا كیږی، او بیا به په نورو كښې هم۔ دا صحیح خبره ده چه په ابتداء كښې حق پرست زیات وو او روستو به په آرام آرام سره كمیږی۔

نو څوك چه دا خبره كوی چه قرآن او حدیث والا اُوس د انګریز د زمانې نه پیدا شو نو دا سو چه دروغ وائی او تهمتونه لګوی او الله تعالیٰ به ورسره سخت حساب كوی، په قرآن او حدیث باندې عمل والا د نبی ﷺ د زمانې نه واخله تر قیامته پورې به وی۔

رسول الله ﷺ له الله تعالیٰ نورې معجزې وركړې وې چه د هغهٔ د بركت نه به طعامونه ډیریدل، اُوبهٔ به ډیریدلې لكه ددې واقعې مونږ مخكښې لیكلی دی۔

٤- **معجزه** : یو اعرابی راغې نبی ﷺ ورته د ایمان دعوت وركړو نو هغهٔ وویل :

[مَنْ يَّشْهَدُ لَكَ عَلٰى هٰذَا ؟]

ستا دپاره پدې خبره (یعنی نبوت) څوك ګواهی وركوی؟

او په روایت د ترمذی كښې دی : [بِمَ أَعْرِفُ أَنَّكَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ؟]

ما ته به څنګه پته لګی چه تهٔ د الله رسول ئې ؟

نو نبی ﷺ ورته وفرمایل : مخامخ كجوره كښې چه كوم غونچك دې، كه دې ته زهٔ امر وكړم او هغه راشی او ګواهی وركړی نو بیا به ئې ومنې چه زهٔ د الله تعالیٰ رسول یم؟

هغهٔ وویل : آؤ، نو نبی ﷺ هغې ته امر وكړو، نو دغه غونچك راپریكړې شو او راخكته شو [فَجَعَلَ يَنْقُزُ] او راغې چه ټوپونه ئې وهل او هغهٔ ګواهی وكړه چه

Maktaba Tul Ishaat.com

[اَشْهَدُ اَنْ لَّا اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ وَاَشْهَدُ اَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُهٗ وَرَسُوْلُهٗ]

بیا رسول الله ﷺ هغهٔ ته ووېل چه واپس لاړ شه، نو هغه خپل ځائے ته واپس لاړو، نو اعرابی چه دا حالت ولیدو، وے وئیل چه ددے دلیل نه روستو بل هیڅ دلیل ته حاجت نشته نو سمدست ئے ایمان راوړو۔

[الترمذی: ۳۶۲۸، واسناده صحیح والمستدرك: ۴۲۳۷]

(دا غونچك به څنګه راغلے وی حال دا چه څه خپے هم نهٔ لری، نو دے ته معجزه وائی چه د عقل نه بهر کار وی، او کیدے شی چه الله تعالیٰ به د ملائکو په واسطه راروان کړے وی او د الله تعالیٰ په قدرت به راغلے وی)

داسے نورے ناشنا معجزے د نبی ﷺ ښکاره شوے وے ځکه چه رسول الله ﷺ عالمی پیغمبر دے، د عالمی پیغمبر کیدو د وجه نه الله تعالیٰ په پخوانو کتابونو کښے هم ددهٔ صفات لیکلی وو،

او دارنګه انبیاء علیهم السلام امتونو ته ددهٔ زیرے ورکړے وو، او د پیدائش په وخت کښے ئے ډیر ناشنا احوال راغلی وو او د پیدائش نه بعد ئے هم ناشنا احوال راغلی وو لکه مخکښے مونږ د هغے نه یوه حصه لیکلے ده، دا ددے دپاره چه د رسول الله ﷺ په باره کښے د چا کوم شك باقی پاتے نشی۔

دلته مونږ بعض معجزات ذکر کړل او علماؤ پدے باره کښے ډیر تفصیلات کړیدی، صرف ددے دپاره بیان شول چه مونږ پدے سره د سیدنا ابوبکر صدیق رضی الله عنه سیرت طرف ته نقل شو۔



د خلفاء راشدینو

رضی الله عنهم اجمعین

سیرت

سیرت د ابوبکر

صدیق رضی الله عنه

Maktaba Tul Ishaat.com

سیرت سیدنا ابوبکر صدیق رضی الله عنه :

د صحابه کرامو رضوان الله علیهم اجمعین په اتفاق سره ابوبکر صدیق ﷛ خلیفة المسلمین جوړ شو، دا د خلفاءِ راشدینو نه دے، رسول الله ﷺ ددهٔ په تابعداریٔ باندے حکم کړیدے.

لهذا ددهٔ سیرت پیژندل هم دین دے، او د هغے تابعداری کول پکار دی،

نو ددهٔ په سیرت کښے یو څو خبرے بیانولے شی، د ابوبکر صدیق ﷛ خپل نوم، ددهٔ لقبونه، او ددهٔ فضائل چه په احادیثو کښے راغلی دی چه ددهٔ شان وپیژندلے شی. ددهٔ رنګ او شکل، ذدهٔ علم او شجاعت او ددهٔ اسلام او ایمان. یعنی ددهٔ په احوالو باندے به اول بحث کیږی،

او دویم نمبر : د ابوبکر صدیق ﷛ په زمانه کښے کوم کارونه شویدی، د هغهٔ د خلافت زندګی څه دپاسه دوه کاله وه، نو پدے کښے هغهٔ کوم کارونه وکړل.

عائشه رضی الله عنها فرمائی : ابوبکر صدیق ﷛ چه کله خلیفه شو نو په هغهٔ باندے دومره سخت مصیبتونه راغلل :

[نَزَلَ بِأَبِیْ یَعْنِیْ مِنَ الْمَصَائِبِ مَا لَوْ نَزَلَ بِالْجِبَالِ الرَّاسِیَاتِ لَهَاضَهَا]

زما په پلار باندے دومره مصیبتونه راغلل که هغه په مضبوطو غرونو نازل شوی وے نو هغه به ئے ذرے ذرے کړی وے.

[مصنف ابن ابی شیبة : ۳۷۰۵۵، فضائل الصحابة لاحمد بن حنبل رقم : ٦٨ وقال الهیثمی وروی من طرق ورجاله احدها ثقات، مجمع الزوائد : ۹/۵۳]

څکه چه نبی ﷺ وفات شو، په مدینه کښے دننه منافقانو سرونه راپورته کړل، دلته عامے قبیلے د عربو چه تقلیدی طریقے سره ئے ایمان راوړے وو، هغوی بیرته کفر اختیار

کړو،

(صحابه کرام رضوان الله علیهم اجمعین نهٔ وو اَوړیدلی بلکه هغه څوك واوړیدل چه هغوی تقلیدی ایمان راوړے وو، تقلیدی ایمان دے ته وائی چه د بل چا د وجه نه مسلمان شوے وی چه فلانئ قبیلے ایمان راوړو نو مونړ به ئے هم راوړو چه د جنګونو نه محفوظ شو، او خپل څه بصیرت ئے نهٔ لرلو، لکه یو ځائے کښے یو تن مشر شی نو نور خلك وګوری چه ددهٔ خو خلك تابع شو نو دے هم ورپسے روان شی، پټو سترګو والا د دین نه واوړیدل۔

خصوصاً نبی ﷺ پیشنګوئی ورکړے وه چه دوه کسان به د نبوت دعوه کوی، او دواړه دروغجن دی۔ د هغوی د لاس نه هم یو فساد پیدا شو چه یو ته ئے مسیلمة الکذاب وئیلو، او بل اسود عنسی۔ اسود عنسی خو الله تعالیٰ د نبی ﷺ د وفات په دور کښے ختم کړو، لکه دا واقعه به روستو بیانیږی ان شاء الله تعالیٰ۔

او مسیلمة الکذاب ئے د ابوبکر صدیق ﷺ د قتال په وجه ختم کړو۔ نو ابوبکر صدیق ﷺ ددے ټولو فتنو مقابله وکړه او الله تعالیٰ پرے کامیاب کړو۔

د سهیل بن عمرو رضی الله عنه تقریر:

تردے چه اکثر مکے والو اراده کړه چه مونږ هم د دین اسلام نه اَوړو، ځکه چه رسول الله ﷺ وفات شو، هلته هم شور شو، د نبی ﷺ د طرف نه هلته یو والی مقرر وو، عتّاب بن اَسِید رضی الله عنه د هغهٔ نوم وو، هغه ویریدو چه قوم بلوئ دے هسے نهٔ چه ما مړ کړی نو هغه د خلکو نه څه وخت دپاره غائب شو نو پدے کښے سهیل بن عمرو ﷺ منبر ته وختلو او مکے والا ئے راجمع کړل، او د الله تعالیٰ د حمد او ثناء وئیلو نه پس ئے د نبی ﷺ وفات ذکر کړو بیا ئے بعینهٖ داسے خبرے وکړے لکه ابوبکر صدیق ﷺ چه د رسول الله ﷺ د وفات په وخت کښے کړے وے، وے فرمایل:

[مَنْ كَانَ يَعْبُدُ مُحَمَّدًا فَإِنَّ مُحَمَّدًا قَدْ مَاتَ وَمَنْ كَانَ يَعْبُدُ اللّٰهَ فَإِنَّ اللّٰهَ حَيٌّ لَا يَمُوتُ]

څوك چه د محمد (ﷺ) عبادت کوی نو (هغه دِے پو هه شی چه) محمد ﷺ وفات شو او څوك چه د الله تعالیٰ عبادت کوی نو الله تعالیٰ ژوندے دے په هغهٔ باندے

مرګ نهٔ راځی۔
آیا تاسو پدې نهٔ پو هیږئ چه الله تعالیٰ فرمائی :
﴿ اِنَّكَ مَيِّتٌ وَاِنَّهُمْ مَيِّتُوْنَ ﴾ (الزمر: ۳۰)
یقیناً تهٔ به مرې او دا خلك به هم مری۔ او فرمائی :
﴿ وَمَا مُحَمَّدٌ اِلَّا رَسُوْلٌ قَدْ خَلَتْ مِنْ قَبْلِهِ الرُّسُلُ ﴾
رسول الله ﷺ دپاره خو مرګ شته لکه څنګه چه پخوانی رسولان وفات شویدی۔
او داسې نور آیتونه ئې ولوستل، او دائې وفرمایل :
[وَتَوَكَّلُوْا عَلٰى رَبِّكُمْ فَاِنَّ دِيْنَ اللّٰهِ قَائِمٌ وَكَلِمَتَهُ تَامَّةٌ، اِنَّ اللّٰهَ نَاصِرُ مَنْ نَصَرَهُ وَمُقَوِّ دِيْنَهُ وَقَدْ جَمَعَكُمُ اللّٰهُ عَلٰى خَيْرِكُمْ يَعْنِىْ اَبَا بَكْرٍ]
اې خلکو ! په الله تعالیٰ باندې توکل وکړئ ځکه چه د الله تعالیٰ دین قائم دې، او د هغهٔ کلمه پوره ده، یقیناً الله تعالیٰ د هغه چا مدد کوی چه څوك د هغهٔ مدد کوی او د هغهٔ دین مضبوطوی، او الله تعالیٰ تاسو په یو ډیر غوره شخص باندې راجمع کړی یئ چه هغه ابوبکر صدیق رضی الله عنه دې۔ بیا ئې وفرمایل :
[اِنَّ ذٰلِكَ لَمْ يَزِدِ الْاِسْلَامَ اِلَّا قُوَّةً]
د نبی ﷺ وفات خو اسلام ته نور هم قوت ورکوی (چه الله تعالیٰ خپل دین کامل کړو او امت ته ئې دین حواله کړو،)
[يَا اَهْلَ مَكَّةَ ! كُنْتُمْ آخِرَ مَنْ اَسْلَمَ فَلَا تَكُوْنُوْا اَوَّلَ مَنِ ارْتَدَّ،]
اې مکې والو ! تاسو په اسلام کښې ناوخته داخل شوی یئ نو ددې نه زر مهٔ اوړئ۔
بیا ئې وفرمایل :
[فَمَنْ رَاَيْنَاهُ اِرْتَدَّ ضَرَبْنَا عُنُقَهُ، فَتَرَاجَعَ النَّاسُ وَكَفُّوْا عَمَّا هَمُّوْا بِهِ]
نو څوك چه مونږ ولیدو چه د دین نه مرتد شو نو مونږ به ورله څټ وهو، نو پدې خبرو آوریدو سره خلك راواپس شو او کومه اراده ئې چه کړې وه هغه ئې پریخوده۔
عتاب بن اسید رضی الله عنه ته پته ولګیده چه د خلکو د اسلام محبت بیرته په زړونو کښې راغې نو هغه هم راښکاره شو۔
(د سهیل بن عمرو رضی الله عنه دې خبرو ته رسول الله ﷺ په غزا د بدر کښې اشاره

Maktaba Tul Ishaat.com

کړے وه چه کله سهیل بن عمرو ﷺ نیولے شوے وو، نو عمر فاروق ﷺ وفرمایل :
یارسول الله ! د سهیل بن عمرو مخامخ دوه غابنونه اُوباسه دے دپاره چه ستا په خلاف
باندے بیانونه نهٔ کوی۔

رسول الله ﷺ ورته وفرمایل : چه زهٔ دا کار نکوم، دا مُثله ده،

[إِنَّهُ عَسٰى اَنْ يَّقُوْمَ مَقَامًا لَا تَذُمُّهُ]

نزدے ده چه دے به په داسے ځائے کښے ودریږی چه ته به د هغے بدی نهٔ وائے۔ ددے نه
مراد همدا ځائے دے چه خلك ئے د ارتداد نه بچ کړل او د اسلام په تائید کښے ئے تقریرونه
وکړل، سُبْحَانَ مَنْ عَظُمَ شَانُهُ وعم فيضه وفيضانه۔

دا د نبی ﷺ معجزه او رشتینی پیشنګوئی وه۔

[السيرة الحلبية ٤٥٦/٢، وحياة محمد ﷺ ص : ١٨٢/٢ لمحمد حسنين هيكل]

او په صحابه کرامو باندے هم ډیر زیات تکلیف راغے۔

په مخکنی روایت د عائشه رضی الله عنها کښے ددے مثال داسے ورکړے شویدے :

[وَصَارَ الْمُسْلِمُوْنَ كَالْغَنَمِ الْمُطِيْرَةِ فِي اللَّيْلَةِ الشَّاتِيَةِ]

د مسلمانانو حالت داسے شو لکه ګډے بزے چه د ژمی په شپه کښے باران راخستی
وی او یو ځائے ته راغونډے شی۔ ګیر چاپیره دنیا کښے کفر شروع شو او یهود او نصاراؤ
هم سرونه راپورته کړل، او دلته منافقان رابنکاره شو او دلته ګوزارے والا مسلمانان هم
مرتد شو (د کومو چه زړهٔ ته پوره ایمان نهٔ کوز شوے) نو په صحیح مؤمنانو باندے
ډیر سخت امتحان راغے او نبی ئے هم نهٔ دے موجود چه هغهٔ ته رجوع وکړی۔

نو پدے وخت کښے الله رب العالمین د ابوبکر صدیق ﷺ نه ډیر لوی کار واخستو
چه په هر میدان کښے ډیر مضبوط ودریدو۔

لکه اول مدد د الله تعالیٰ د دین چه ئے وکړو نو هغه د اسامه بن زید ﷺ جیش (فوج)
لیږل وو۔

Maktaba Tul Ishaat.com

د ابوبکر صدیق ﷛ فضائل :

یو حدیث کښې دي : [حُبُّ أَبِي بَكْرٍ وَعُمَرَ إِيمَانٌ وَبُغْضُهُمَا كُفْرٌ]
(د ابوبکر او عمر رضی الله عنهما سره محبت لرل ایمان دے او د دوئ سره بغض لرل کفر دے)۔

پدے روایت کښې ډیر سخت وعید بیان شویدے چه د دوئ سره په بغض کولو باندے انسان کافر کیږي، دا تغلیظي او تشدیدي فتویٰ ده۔

(دا روایت اګرکه د سند په لحاظ سره ضعیف جدًا دے، لیکن دا خبره د دین نه معلومه ده، او د سلفو په اقوالو کښې ذکر ده)

عبد الله بن مسعود ﷛ فرمائیلي دي :

[إِنَّ حُبَّ أَبِي بَكْرٍ وَعُمَرَ وَمَعْرِفَتَهُمَا مِنَ السُّنَّةِ]

[ابن عساکر: تاریخ الخلفاء للسیوطی وشرح اصول الاعتقاد للالکائی برقم : ۱۸۸٦]

د ابوبکر او عمر رضی الله عنهما سره محبت ساتل ایمان دے (د ایمان یوه برخه ده) او د دوئ پیژندل سنت دي۔

او مسروق بن الاجدع رحمه الله فرمائي :

[حُبُّ أَبِي بَكْرٍ وَعُمَرَ وَمَعْرِفَةُ فَضْلِهِمَا مِنَ السُّنَّةِ]

[عبد الله بن احمد /السنة ص : ۲۳۸، ابو القاسم التیمی/ الحجة فی بیان المحجة ۲/۳۳٦ وسنده عند عبد الله بن احمد متصل ورجاله ثقات سوی خالد بن سلمة المخزومی فهو صدوق، فالاثر حسن]

یعنی د ابوبکر صدیق ﷛ او عمر فاروق ﷛ سره محبت ساتل او د دوئ فضیلت پیژندل د سنت نه دي۔ (څکه چه رسول الله ﷺ د دوئ سره محبت کړیدے او د دوئ فضیلت ئې امت ته خودلے دے)

مُحارب بن دِثار السدوسی الکوفی القاضی تابعیؒ فرمائي :

[بُغْضُ أَبِي بَكْرٍ وَعُمَرَ نِفَاقٌ]

[رواه وکیع، اخبار القضاة ۳/۲۸، الخلال فی السنة ص : ۲۹۰ وسند الخلال متصل

Maktaba Tul Ishaat.com

ورجاله ثقات سوی علی بن حرب فهو صدوق ومدار الاثر علیه فالاثر حسن]

ابوبکر او عمر فاروق رضی الله عنهما سره بُغض (کینه) ساتل منافقت دے۔

امام مالك بن انس رحمه الله فرمائی :

[كَانَ صَالِحُوا السَّلَفِ يُعَلِّمُوْنَ اَوْلَادَهُمْ حُبَّ اَبِیْ بَكْرٍ وَعُمَرَ كَمَا يُعَلِّمُوْنَ السُّوْرَةَ]

[تاریخ دمشق برقم : ۳۸۳/٤٤، شرح السنة للالکائی : ۲۳۲۵]

نیکانو سلفو به خپلو اولادو ته د ابوبکر صدیق او عمر فاروق رضی الله عنهما محبت داسے خودلو لکه چه یو سورت د قرآن کریم به ئے ورته خودلو۔

(یعنی ددوئ تاریخ پیژندل سنت دی، وجه دا ده چه دا زمونږ د دین مشران دی، او د خپل دین مشران پیژندل هم ضروری خبره ده)۔

دا وجه ده چه د احادیثو په کتابونو کښے یو غټ بَابُ مَنَاقِبِ الصَّحَابَةِ راځی، (د صحابه کرامو رضی الله عنهم صفات)

دا ئے پکښے ولے راوړیدی حال دا چه پدے پورے خو څه احکام متعلق نهٔ دی؟، نو وجه دا ده چه د صحابه کرامو رضی الله عنهم پیژندنه د ایمان نښه ده،

او بله دا چه صحابه کرام رضی الله عنهم د دین نقل کونکی دی، دین ئے یاد کړیدے او مجاهده ئے کړیده او بیا ئے په ډیر تکلیف سره خلکو ته رسولے دے، نو د دین اول نقل کونکو شان او قدر پیژندل دا د دین شان او برخه ده۔

د صحابه کرامو رضی الله عنهم توثیق خپله نبی ﷺ کړیدے۔

(د توثیق معنی داده چه د هغوی عدالت او د هغوی معتمد کیدل نبی ﷺ بیان کړیدی چه دوئ صحیح خلك دی او د الله تعالیٰ کامل اولیاء دی)

پدے وجه څوك چه د صحابه کرامو پسے خبرے کوی نو دا په اصل کښے په نبی ﷺ باندے اعتراض کوی چه هغهٔ ورله ولے صفتونه کول۔

یو مشر شیعه د نبی ﷺ د قبر په خوا کښے ولاړ وو، شاګردان ئے ابوبکر او عمر رضی الله عنهما ته په قهر وو چه دا دلته پدے کوټه کښے څه له پراتهٔ دی، نو دهٔ ورته وویل چه تاسو دوئ ته مهٔ غصه کیږئ دا ټول نقصان (العیاذ بالله ثم العیاذ بالله) د رسول الله ﷺ دے، ځکه چه دهٔ ورله صفتونه کړیدی، چه ابوبکر صدیق ﷺ داسے دے او عمر ﷺ داسے دے۔

Maktaba Tul Ishaat.com

نو دے ظالم په محبوبِ مصطفیٰ ﷺ باندے ئے اعتراض وکړو۔

غرض دا چه رسول الله ﷺ د خپلو ملګرو مدح او صفت او مناقب اُمت ته ددے دپاره بیانوی چه دا د دین غټه برخه ده، بلکه ددین بنیاد دے، د صحابه کرامو رضی الله عنهم په باره کښے چه ډیے بد ګمانی پیدا شوه او په هغوئ ډیے اعتراضات پیدا شو نو د دین بنیاد او اساس باندے اعتراض راغے نو ټول دین دے سره ختمیږی، ددے وجه نه د کفارو خلکو دسیسه دا ده چه نبی ﷺ خلکو ته بدی ښکاره کوی، د هغهٔ تنقیص کوی او د هغهٔ د ځان نه عیبونه جوړه وی او د خلکو زړونو کښے د هغهٔ کموالے ښکاره کوی، دے دپاره چه دین ختم شی، لیکن د خلکو په زړونو کښے الله تعالیٰ د هغهٔ محبت اچولے دے، ځوك ئے ویستلے نشی، نو بیا دویم نمبر د صحابه کرامو پسے خبرے کوی او د هغوی بدنامول او په هغوی اعتراضات کول دی، او په تاریخ کښے د هغوی د بدنامه ولو دپاره د هغوی پسے ډیر دروغ هم وئیلے شویدی۔

نبی ﷺ یو بل حدیث کښے داسے هم فرمایلی دی: دیلمیؒ د انس بن مالك نه روایت کړیدے چه نبی ﷺ وفرمایل:

[اِنِّیْ اَرْجُوْ لِاُمَّتِیْ بِحُبِّ اَبِیْ بَکْرٍ وَّعُمَرَ کَمَا اَرْجُوْ لَهُمْ بِقَوْلِ لَا اِلٰـهَ اِلَّا اللّٰهُ]

[ابن عساکر، تاریخ الخلفاء للسیوطی]

زما په امت کښے چه څوك د ابوبکر او عمر رضی الله عنهما سره مینه لری نو زما امید دے چه الله تعالیٰ به هغوی له دومره اجر ورکړی لکه څنګه چه لا اله الا الله وائی۔

(وجه دا ده چه د صحابه کرامو سره مینه د کلمے یوه برخه ده)

او رسول الله ﷺ فرمائیلی دی:

[فَاقْتَدُوْا بِالَّذَیْنِ مِنْ بَعْدِیْ اَبِیْ بَکْرٍ وَّعُمَرَ]

[ترمذی: ٣٦٦٢ صحیح]

تاسو د هغه دوه کسانو اقتداء وکړئ چه زما نه روستو دی یعنی ابوبکر او عمر (رضی الله عنهما)۔

ددے احادیثو د وجه نه مونږ به لړ شان سیرت ددے صحابه کرامو ذکر کړو چه د دوئ سره مو زیات محبت پیدا شی او دا زمونږ د دین برخه ده۔

لیکن عجیبه دا ده چه زمونږ عوامو ته د انګریزانو، د ډمانو او اداکارو او کهلاړیانو

Maktaba Tul Ishaat.com

نومونه خو ډیر بنه معلوم دی، او د هغوئ د پوره تاریخ نه خبر وی لیکن د خپل نبی ﷺ د مشرانو ملګرو نومونه او تاریخ به ورته نۀ وی یاد۔
د کفارو طریقه هم دا ده چه د خلکو ذهنونو نه په مختلفو طریقو سره د رسول الله ﷺ سیرت او د صحابه کرامو رضوان الله علیهم اجمعین سیرت او طرزِ زندګی ویستل چه خلك ددې سره آشنا نشی او د کفارو د مشرانو سره آشنا شی۔
نو دلته به د صدیق اکبر ﷺ تعارف، بیا فضائل بیا کوم کارونه چه د هغۀ په دور خلافت کښې شویدی ذکر کیږی۔

د ابوبکر صدیق رضی الله عنه تعارف :

نوم : ددۀ خپل نوم عبد الله او د پلار نوم ئے عثمان دے، د پلار اسم کنیه ئے ابو قحافه دے، او ابوبکر صدیق ﷺ په ابوبکر اسم کنیه باندے مشهور شویدے، پلار ئے په فتح د مکه کښې په اتم کال ایمان راوړے وو۔ او ابوبکر صدیق ﷺ د ټولو نه اولنے مسلمان وو۔
ابوبکر صدیق ﷺ ته دا فضیلت حاصل دے چه دے هم صحابی دے او پلار ئے هم صحابی دے او بچی ئے هم صحابه دی۔ داسے په صحابه کرامو کښې ډیر کم خلك وی۔
نبی ﷺ چه کله مکه فتح کړه نو ابو قحافه پریدلے وو چه ما څوك مړ نکړی نو بهر وتلے وو، نو ابوبکر صدیق ﷺ ورغے او دعوت ئے ورکړو چه د رسول الله ﷺ سره بیعت وکړه نو هغه ورسره راغے، او دے وخت کښې ډیر سپین ګیرے شوے وو، او ړوند شوے هم وو۔
حدیث کښې دی : [وَلِحْيَتُهٗ وَرَأْسُهٗ كَالثَّغَامَةِ] او د هغۀ ګیره او سر داسے شوی وو لکه سپین بوټے۔ ابوبکر صدیق ﷺ د لاس نه نیولے وو چه رائے وستو،
نو نبی ﷺ ورته وفرمایل :

[هَلَّا تَرَكْتَ الشَّيْخَ فِيْ بَيْتِهٖ حَتّٰى آتِيَهٗ فِيْهِ]

دا مشر سړے به دې په کور کښې پریخودے وے زۀ به ورته ورغلے وے۔
نبی ﷺ تواضع کوله۔ نو ابوبکر صدیق ﷺ وفرمایل :

[يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ ! هُوَ اَحَقُّ اَنْ يَّمْشِيَ اِلَيْكَ مِنْ اَنْ تَمْشِيَ اِلَيْهِ]

Maktaba Tul Ishaat.com

اے د الله رسوله ! دا ددے لائق دے چه تا له به راځی ددے نه چه ته ورته ورشے۔ (که سپین ګیرے دے خو دے اسلام ته محتاج دے، رسول ته امت محتاج وی، او ستا قدر او شرف او مرتبه اُوچته ده)

نو نبی ﷺ وفرمایل : [إِنَّا نَحْفَظُهُ لِأَيَادِئ اِبْنِهِ عِنْدَنَا]

مونږ ددهٔ لحاظ به پدے وجه ساتو چه ددهٔ د ځوی (ابوبکر صدیق) زمونږ سره ډیر احسانات دی۔

(یعنی ستا د احساناتو د وجه نه به مونږ ستا د پلار اکرام کوو، نبی ﷺ کښے د شکر ګذارئ صفت وو، چه چا به ورسره احسان وکړو نو هغه به ئے نهٔ هیره ولو بلکه بار بار به ئے یادولو، او مونږ بندګانو کښے د هیرے ماده زیاته ده)۔

بیا ئے د نبی ﷺ مخے ته کینولو نو هغهٔ ورله په سینه باندے لاس راخکلو او دا ئے ورته وویل : چه اسلام راوړه۔ نو هغهٔ اسلام قبول کړو۔

بیا نبی ﷺ هلته امر وکړو چه د ابوبکر صدیق ﷺ پلار بعض زنانو ته بوځئ چه ددهٔ د پلار سر او ګیره ډیره سپینه ده چه دا بدله کړی۔ وے فرمایل :

[غَيِّرُوْا هٰذَا بِشَيْءٍ وَجَنِّبُوْهُ السَّوَادَ]

دا ویښته په بل څه شی سره بدل کړئ او د تور رنګ نه ئے وساتئ۔

[مسلم : ٥٦٣١، مسند احمد : ١٢٦٥٦و ٢٧٠٠١ وابوداود : ٤٢٠٦ والبزار رقم : ٧٩ المستدرك : ٤٣٦٣ صحيح ابن حبان : ٧٢٠٨]

تك تور رنګ لګول صحیح نهٔ دی البته تور او سور چه ملاؤ شی یعنی توربخن نو جائز ده، او سپینه ګیره او سپین سر ساتل هم جائز دی لیکن بهتر نهٔ دی، څکه چه بیا انسان په ځوانئ کښے ډیر بوډا ښکاره کیږی، او د رنګ په ورکولو سره انسان ځوان ښکاره کیږی او مسلمان له پکار دی چه ځان هر وخت ځوان ښکاره کړی۔

د نبی ﷺ سره په وړاندے نیکه کښے شریك دے یعنی په مُره بن کعب کښے، د قریشو نه دے، او بیا د بنو تیم نه، پدے وجه دهٔ ته تیمی وائی۔

نسب :

سلسله د نسب ئے داسے ده:

Maktaba Tul Ishaat.com

ابوبکر عبد الله بن ابی قُحافة عثمان بن عامر بن عمرو بن کعب بن سعد بن تیم بن مرة بن کعب بن لؤی بن غالب بن فهر۔

لقب:

دهٔ یو لقب صدیق دے، صِدِّیق ورته ځکه وائی چه د ټولو نه ړومبے ئے د رسول الله ﷺ تصدیق کړیدے۔ او بل لقب ئے عَتِیق وو۔ دا ئے ورته د دوه وجو نه وئیلو، یو [لِعَتَاقَةِ وَجْهِهٖ] مخ ئے ډیر ښائسته وو۔ یا پدے وجه [لِعَتَاقَةِ نَسَبِهٖ] چه نسب ئے آزاد وو د عیبونو نه، په نسب کښے ئے څه عیب نهٔ وو۔

دے ته نکات بعد الوقوع وائی، اصل وجه ئے بله ده هغه دا چه نبی ﷺ یوه ورځ د ملګرو سره ناست وو نو پدے کښے ابوبکر صدیق ﷛ راغے نو نبی ﷺ وفرمایل:

[مَنْ سَرَّهٗ اَنْ يَّنْظُرَ اِلٰى عَتِيْقٍ مِنَ النَّارِ فَلْيَنْظُرْ اِلٰى هٰذَا]

که څوک پدے خوشحالیږی چه یو داسے سړی ته وګوری چه الله تعالیٰ د اُور نه آزاد کړیدے نو دے شخص ته دِے وګوری۔ یعنی دا الله تعالیٰ د اُور نه خلاص کړیدے۔

(دا خبره ئے ځکه وکړه چه هر انسان اُور والا دے، ګویا که د جهنم نه پړی او زنځیرونه راوتی دی او مونږ پرے تړلے شوی یو، او دغه زنځیرونه مونږ اُور ته راکاږی، نو قرآن او حدیث مونږ ته وئیلی دی چه تاسو دا زنځیرونه مات کړئ، دا عمل وکړئ دا یو زنځیر به مات شی او دا بل عمل وکړئ دا بل زنځیر به مات شی،

بعض داسے اعمال دی چه هغه دِے وکړل نو ټول زنځیرونه مات شی او انسان کولاؤ شی چه هغه اعمال رسول الله ﷺ ذکر کړیدی چه چا دا فلانے عمل وکړو نو الله تعالیٰ به ئے د اُور نه خلاص کړی، لکه نبی ﷺ فرمائی چا چه د ورځے درے سوه شپیته (۳٦۰) نیك عملونه وکړل لکه سبحان الله والحمد لله ووئیله یا چا سره ئے احسان وکړو، یا ئے د لارے نه ضرری شے لرے کړو [فَقَدْ زَحْزَحَ يَوْمَئِذٍ نَفْسَهٗ مِنَ النَّارِ] نو دهٔ خپل ځان په دغه ورځ د اُور نه خلاص کړو۔

په رمضان کښے الله تعالیٰ بنده د اُور نه آزاده وی، ددے مطلب هم دا دے چه هر انسان اُور والا دے، ﴿وَاِنْ مِّنْكُمْ اِلَّا وَارِدُهَا﴾ الله تعالیٰ قسم کړیدے چه تاسو ټول انسانان په اُور باندے ور روان یئ، اُور والا یئ، د هغے نه به تاسو تقویٰ او عملونه خلاصوی۔

نو ابوبکر صدیق ﷛ ته پدے وجه عتیق وائی چه دهٔ دغه ټول اعمال پوره کړیدی، نو

د اُور نه خلاص شوید ے۔

د هغهٔ فضائل روستو راځي لیکن یو روایت اُوس وګوره چه ابوبکر ﷺ څنګه د اُور نه آزاد شے وو، وجه دا وه چه هغهٔ کښے الله تعالیٰ هر خیر راجمع کړے وو۔

حدیث کښے دی :

[خِصَالُ الْخَيْرِ ثَلَاثٌ وَمِائَةٌ وَسِتُّوْنَ خَصْلَةً، إِذَا أَرَادَ اللّٰهُ عَزَّ وَجَلَّ بِعَبْدٍ خَيْرًا جَعَلَ فِيْهِ خَصْلَةً مِنْهَا يُدْخِلُهُ بِهَا الْجَنَّةَ قَالَ أَبُوْبَكْرٍ : أَفِيَّ مِنْهَا شَيْءٌ ؟ قَالَ : نَعَمْ، جَمْعَاءُ مِنْ كُلِّ شَيْءٍ]

[مکارم الاخلاق لابن ابی الدنیا ١/٢٥ ح ٢٩]

د نیکئ درے سوه شپیته (٣٦٠) خویونه دی، کله چه الله تعالیٰ په یو بنده باندے د خیر اراده وکړی (چه دهٔ ته دا فائده او خیر ورکوم) نو د هغے نه په هغهٔ کښے یو خوئی راپیدا کړی، چه ددے په وجه ئے جنت ته بوځی۔

(ددے نه معلومیږی چه جنت د خیر والو ځائے دے، کومو انسانانو کښے چه د خیر څه صفت وی، مار او لړم نهٔ وی، شری انسان نهٔ وی، که خیر د رکښے ډیر وو نو زر به جنت ته ځی او که خیر د رکښے کم وو، او ځان ته او مخلوق ته ئے فائده کمه رسیده نو بیا به جنت ته په قلاره ځئ او چه هیڅ خیر د رکښے نهٔ وو نو دا بیا ګندونه دی، او ګندونه الله تعالیٰ په اُور باندے سیزی، الله تعالیٰ فرمائی :

﴿ لِيَمِيزَ اللّٰهُ الْخَبِيثَ مِنَ الطَّيِّبِ وَيَجْعَلَ الْخَبِيثَ بَعْضَهُ عَلٰى بَعْضٍ فَيَرْكُمَهُ جَمِيعًا فَيَجْعَلَهُ فِي جَهَنَّمَ ﴾ [انفال : ٣٧]

(دے دپاره چه الله ګنده د پاك نه جدا کړی او خبیث بعض په بعضو وولی بیا ئے یو بل دپاسه راجمع کړی او جهنم کښے ئے واچوی)

ګندونه الله تعالیٰ جهنم ته راجمع کوی۔

نو ابوبکر صدیق ﷺ پدے باب کښے ډیر سبّاق بالخیرات وو نو دهٔ ووېل : یارسول الله ! آیا په ما کښے به ددے درے سوه شپیته (٣٦٠) خویونو نه څه شے وی؟ (که وی خو چه د الله تعالیٰ شکر ادا کړو او که نهٔ وی نو د هغے د حاصلولو کوشش وکړو دا د تپوس مقصد وو، د خیر طالب وو)

نبی ﷺ وفرمایل : آؤ، په تا کښے ددے درے سوه شپیته خویونو نه مکمل راجمع

Maktaba Tul Ishaat.com

دی۔

داسے انسان هم په دنیا کښے شته چه دومره ډیر ښکلے صفات پکښے موجود دی، ددے وجه نه پخوانو کتابونو کښے ئے لیکلی وو چه د انبیاء علیهم السلام نه پس ډیر غوره د هغوئ ملګری دی، او پدے ټولو کښے ډیر غوره ابوبکر صدیق ﷺ دے۔

[خَيْرُ هٰذِهِ الْأُمَّةِ بَعْدَ نَبِيِّهَا]

د نبی ﷺ نه روستو پدے ټول امت کښے غوره ابوبکر صدیق ﷺ دے۔

ددے خبرے په تائید کښے به نور روایتونه هم د فائدے دپاره راجمع کړو۔

❁ ابوبکر صدیق ﷺ په هغه کسانو کښے د ټولو نه اول وو چه الله تعالیٰ فرمائی:

﴿وَمِنْهُمْ سَابِقٌ بِالْخَيْرَاتِ بِإِذْنِ اللّٰهِ﴾ [فاطر: ۳۲]

بعض د مؤمنانو نه هغه دی چه مخکښے کیدونکی دی هرے نیکئ ته۔

لیکن دا صفت پدے زمانه کښے په ډیرو کمو انسانانو کښے دے چه هرے نیکئ ته منډه ووهی او هره نیکی ددهٔ د لاس نه وشی، بلکه که مونځ اودس کوی نو وائی چه بس دے مونځ اودس کوو، پدے اکتفاء کوی او په نورو اعمالو کښے سستوالے۔

او که د دنیا په کارونو کښے که کروړ روپئ ورسره وی نو دوه او درے پیدا کوی او که یو ګاړے ورسره وی نو د دوه او دریو کوشش کوی، او که یو کور وی نو د نورو کوشش کښے پیش پیش وی، هغے کښے خو نهٔ اُودریږی لیکن د نیکئ په کارونو کښے په کم باندے راضی وی، دا زمونږ د زمانے د عامو خلکو خوئی دے۔

مګر صدیق اکبر ﷺ داسے نهٔ وو، بلکه ددے انسان همت ډیر عالی وو،

❁ په یو مجلس کښے نبی ﷺ وفرمایل:

[مَنْ أَنْفَقَ زَوْجَيْنِ مِنْ شَيْءٍ مِنَ الْأَشْيَاءِ فِي سَبِيْلِ اللّٰهِ دُعِيَ مِنْ أَبْوَابِ الْجَنَّةِ]

یعنی چا د یو جنس نه دوه څیزونه د الله تعالیٰ په لاره کښے خرچ کړل (لکه دوه کپړے، دوه جوړه څپلئ، دوه غواګانے، دوه اُوښان، دوه ګډے ورکړی) نو دے به د جنت د دروازونه په یوه دروازه رابللے کیږی دهٔ ته به وئیلے کیږی

[يَا عَبْدَ اللّٰهِ هٰذَا خَيْرٌ] اے د الله تعالیٰ بنده! دے دروازه کښے خیر دے راشه۔

(الله تعالیٰ د جنت په دروازو باندے ملائك مقرر کړی چه نیکانو بندګانو ته به

Maktaba Tul Ishaat.com

آوازونه کوی)

بیا نبی ﷺ وفرمایل : چه د جنت اته (۸) دروازے دی او هغه په اعمالو باندے تقسیم دی، ددغه اعمالو په بدله کښے ورکولے شی۔ د یوے دروازے نوم دے باب الصلاۃ، د بل نوم دے باب الصدقة، باب الجهاد، باب الریان۔

(دے حدیث کښے دے ځائے پورے راغلی دی او په بل روایت کښے دی) :

بَابُ الضُّحٰی، (د څابنت مونځ) بَابُ الرَّاضِیْنَ بِالْقَضَاءِ (کوم خلك چه د الله تعالیٰ په فیصلو راضی وی)، بَابُ التَّوَّابِیْنَ (توبه ویستونکی)، بَابُ الذَّاكِرِیْنَ اللهَ كَثِیْرًا۔ (د الله تعالیٰ ډیر ذکر کونکی) بَابُ الْاَیْمَنِ (ښی طرف دروازه – چه ددے نه به اویا زره (۷۰۰۰۰) کسان بغیر دحساب کتاب نه داخلیږی)۔

دا دروازے ډیرے ډیرے لیکن دے کښے تداخل کیږی لکه مونځ او ذکر یوه دروازه ده۔ نو څوك چه د مانځه سره ډیر شغف او شوق وی فرض او نفل سره۔ نو هغه به د بَابُ الصَّلَاۃ نه رابللے کیږی، او څوك چه صدقو والا وی نو هغۀ ته به د صدقے د دروازے نه آواز کیږی، او څوك چه جهاد والا وی، هغۀ ته به د جهاد د دروازے نه آواز کیږی، او څوك چه روژے ډیرے نیسی (یعنی نفلی روژی پرے ډیرے غالبے وی) نو دے به د بَابُ الرَّیَّان نه رابللے کیږی۔

(ریّان معنیٰ مړه دروازه، بَابُ الصَّوْم پکښے نشته دے دپاره چه څوك ونۀ یریږی چه هلته به هم روژے وی بلکه هلته به مړیږے)

دغسے څوك چه د ضحیٰ (څابنتی مونځ) پابند دے، او څوك چه د الله تعالیٰ په تقدیر باندے راضی دے، او څوك چه د الله تعالیٰ ذکر کوی، د خپلو خپلو دروازونه به رابللے کیږی۔

(نبی ﷺ دا ترغیب دے دپاره ورکړو چه زما امت پدے اعمالو کښے کوشش وکړی لکه د همدے دپاره دوئ پیدا دی)

نو ابوبکر صدیق ﷛ وفرمایل :

[مَا عَلٰی مَنْ دُعِیَ مِنْ تِلْكَ الْاَبْوَابِ مِنْ ضَرُوْرَۃٍ]

هغه انسان چه د دغه یوے دروازے نه ورته آواز وشی د هغۀ خو ضرورت پوره شو (کامیاب شو) خو زۀ دا تپوس کوم ؟

Maktaba Tul Ishaat.com

[فَهَلُ يُدُعٰى اَحَدٌ مِنُ تِلُكَ الْأَبُوَابِ كُلِّهَا]

آیا داسے څوك شته چه ددے ټولو دروازو نه به ورته آواز کیږی ؟ (چه فلانیه دیخوا راشه او بلے نه ورته وئیلے کیږی چه دیخوا راشه) دے ته علو الهمة (اُوچت همت) وائی، چه په فضیلتونو حاصلولو کښے نیت او شوق لری۔

نبی ﷺ وفرمایل : آؤ داسے شته [وَاَرُجُوُ اَنُ تَكُوُنَ مِنُهُمُ]

[بخاری :۱۸۹۷، مسلم : ۲٤۱۸]

او زما دا امید دے چه ته به هم د دغه کسانو نه یے۔ (چه تا ته به د ټولو دروازو د جنت نه آواز کیږی، ددے جه دا وه چه ابوبکر صدیق ﷺ دا ټول اعمال پوره کړی وو)

د علو الهمة معنیٰ دا ده چه بنده به همت اُوچت ساتی داسے به نۀ وائی چه زۀ دا فلانے عمل کوم، د دین کار کوم دا بس دے، بلکه اُوچت همت ساته، که د ایمان سل پوړئ وی او ته په نویمه (۹۰) او شپږ نویمه (۹٦) کښے روان یے نو بیا هم داسے مۀ وایه چه زۀ ډیر بره راختلے یم بلکه بیا هم بره کوشش کوه چه سلمے (۱۰۰) ته ورسیږے، نو دا نښه ده ددے خبرے چه په تا کښے په رشتیا ایمان شته او ته په الله تعالیٰ کښے رغبت لرے، او که اکتفاء دِے وکړه نو معلومیږی چه ستا د الله تعالیٰ سره ډیره مینه نشته، ایمان دِے کمزورے دے او همت دِے خراب دے۔

ﷺ ددے تائید بل حدیث دے :

نبی ﷺ به کله کله د ملګرو نه انټروی اخسته او تپوسونه به یے کول چه دوئ کوم عمل کوی او کوم نۀ کوی، د شپے به پرے کله ګرځیدو هم چه زما ملګری تهجدو ته راپاڅیږی او که نۀ، صرف بیان د هغۀ کار نۀ وو بلکه د ملګرو تفقد او تالاش او تحقیق هم کولو، څکه چه حقیقی مشر وو۔ نو کله به یے ترے مخامخ تپوس کولو، نو یوه ورځ رسول الله ﷺ د سهار مانځه نه روستو د ملګرو نه تپوس وکړو :

[مَنُ اَصُبَحَ الْيَوُمَ مِنُكُمُ صَائِمًا]

تاسو کښے نن چا روژه نیولے ده؟،

نو عمر ﷺ وفرمایل : [مَا حَدَّثُتُ نَفُسِيَ الْبَارِحَةَ بِالصَّوُمِ] بیګاه زما زړۀ کښے د روژے خیال رانغلو، رانه پاتے شوه۔ ابوبکر صدیق ﷺ وفرمایل :

Maktaba Tul Ishaat.com

[اَمَّا اَنَا فَحَدَّثْتُ اَنْ اُصْبِحَ صَائِمًا]

هر چه زهٔ یم نو ما اراده کړے چه زهٔ به نن روژه یم۔

(دا ریاکاری نهٔ ده، بلکه رسول الله ﷺ ترے تپوس کړے او خال وئیل واجب دی نو څکه حال وائی او داسے خلکو کښے ریاء هم نهٔ وی، ریاء په بے ایمانه او ضعیف الایمان خلکو کښے راځی)

بیا ئے تپوس وکړو: [مَنْ عَادَ مِنْكُمُ الْيَوْمَ مَرِيْضًا]

په تاسو کښے نن د بیمار تپوس چا کړیدے؟ نو عمر فاروق ﷺ ووئیل: دا خو د سهار وخت دے لا د بیمار پرسئ وخت نهٔ دے راغلے۔ ابوبکر صدیق ﷺ ووئیل: زهٔ سهار وختی راپاڅیدم نو ما ته وئیل شوی وو چه عبد الرحمن بن عوف ﷺ ناجوړه دے، نو زهٔ اول د هغهٔ کور ته لاړم، [فَجَعَلْتُ طَرِيْقِيْ عَلَيْهِ] او خپله لاره مے په هغهٔ باندے وګرځوله (چه جمع به هم وکړم او د مسلمان تپوس به هم وکړم، دے ته په یوه نیکئ کښے دوه نیکئ راجمع کول وائی، لکه مانځه له به لاړ شو او عِلمی خبره به هم واورو، داسے نیتونه کول پکار دی)

بیا ئے تپوس وکړو: [هَلْ مِنْكُمْ اَحَدٌ اَطْعَمَ الْيَوْمَ مِسْكِيْنًا؟]

آیا تاسو کښے داسے څوك شته چه نن ورځ ئے مسکین ته خوراك ورکړے وی؟

عمر ﷺ وفرمایل: دا خو ایله مونږ مونځ وکړو او لا موقعه نهٔ ده ملاؤ شوے۔

ابوبکر صدیق ﷺ ووئیل: چه زهٔ جمات ته راننوتم نو یو سائل په جمات کښے سوال کولو نو ما سره څه نهٔ وو نو زما د ځوی عبد الرحمن په لاس کښے د وریشو یوه قطره روټئ وه، نو ما د هغهٔ نه واخسته او دغه سائل ته مے ورکړه۔ (دا هم صدقه ده)

بیا ئے ووئیل: [فَمَنْ تَبِعَ مِنْكُمُ الْيَوْمَ جَنَازَةً؟]

تاسو کښے نن څوك په جنازه کښے شریك شوے، ابوبکر صدیق ﷺ وفرمایل: زهٔ جنازه پسے تلے یم (دے کښے ورسره نور صحابه کرام هم یو ځائے شویدی)

نو نبی ﷺ د ترغیب دپاره وفرمایل:

[مَا اجْتَمَعْنَ فِیْ امْرِئٍ اِلَّا دَخَلَ الْجَنَّةَ]

دا څلور کارونه چه په یو سړی کښے (په یوه ورځ) راجمع شی نو دے به الله سبحانه

Maktaba Tul Ishaat.com

وتعالیٰ ضرور جنت ته داخل کړی۔ (د ایمان او د توحید نه بعد)

[مسلم : ۷۶۱۰ والادب المفرد للبخاری : ۵۱۵ ومجمع الزوائد رقم : ٤٩٤٩ وقال رواه الطبرانی فی الکبیر والسیاق له وکذا فی السنة لابن ابی عاصم رقم : ۱۲۷۸ وفیه مبارك بن فضالة وفیه کلام واصل الحدیث فی مسلم وغیره]

دا بنده به څومره بختور وی چه په خپل ژوند کښې ئې دا فضیلت ډیر کرته ګټلے وی۔ لیکن ډیر کرته زمونږ د عامو انسانانو دے کارونو کولو ته فکر هم نهٔ وی۔

❁ په غزا د تبوك کښې ابوبکر صدیق ﷺ ټول مال راوړے وو،

لکه دا حدیث مخکښې مونږ ذکر کړے چه په غزا د تبوك کښې رسول الله ﷺ د انفاق ترغیب ورکړو (او دا انفاق فرض وو ځکه چه د جهاد سخت ضرورت وو)

عمر فاروق ﷺ وفرمایل : چه دغه وخت کښې ما سره مال وو، ما وویل چه زهٔ د ابوبکر ﷺ نه کله هم په نیکئ کښې مخکښې نشوم، نن به ترے مخکښې کیږم، لاړم مال مے په مینځ نیم کړو، نیم مے کورته پریخودو او نیم مے راوړو۔

(نیم مال خرچ کول ډیر ګران کار دے لکه یو تن سره لس لاکهه روپئ وی پنځه لاکهه خیرات کړی)

او ابوبکر صدیق ﷺ هم مال راوړو۔ پدے کښې رسول الله ﷺ تپوس وکړو چه اے عمره! تا څومره مال راوړو ؟ ما ورته وویل : نیم مے کورته پریخودو او نیم مے راوړو۔ ابوبکر صدیق ﷺ ته ئې وویل : تا څومره مال راوړو؟ هغهٔ وویل : [اَتَیۡتُ بِمَالِیۡ کُلِّهٖ] ما خپل ټول مال راوړو؟ ورته ئې وویل : کورته دے څه پریخودو ؟ وے وئیل :

[اَبۡقَیۡتُ لَهُمُ اللّٰهَ وَرَسُوۡلَهٗ]

هغوی ته مے الله تعالیٰ او د هغهٔ رسول پریخودو، یعنی د الله تعالیٰ بندګی دے کوی او د رسول الله ﷺ تابعداری، دا ورله بس دے پدے به ورله الله تعالیٰ رزق ورکوی، اُوچت یقین والا لکه د ابوبکر صدیق ﷺ په شان سړے داسے کار کولے شی، بل څوك به ئې نهٔ کوی، څومره چه د چا یقین مضبوط وی نو الله تعالیٰ ورله په آسانئ باندے رزق ورکوی)۔

نو عمر ﷺ فرمائی : ما وویل چه د ابوبکر صدیق ﷺ نه په نیکئ کښې هیڅوك نشی مخکښې کیدے۔

Maktaba Tul Ishaat.com

(کوم انسانان چه الله تعالیٰ جنت له پیدا کړي نو بیا ئے دغسے استعمالوی هم۔ دا یاد کړه چه الله تعالیٰ جنت له پیدا کړے ئے، نو دغسے د خیر کارونه به درنه اخلی، او هغے دپاره به دے استعمالوی، او که جنت له ئے نهٔ ئے پیدا کړے نو دے ته به فکر او سوچ هم نهٔ وی او نهٔ به دے کښے استعمالیږے، او زندګی به دے همداسے تیره شی، دے خبره کښے زمونږ ټولو دپاره ډیر لوی عبرت پروت دے)۔

ﷺ د تاریخ په کتابونو کښے مشهور روایت راغلے دے:

په مدینه کښے یوه بوډئ زنانه وه په سترګو ړنده هم وه چه د خدمت ئے څوک نهٔ وو، نو خدمت به ورله عمر ﷺ کولو، لکه د هغے اُوبهٔ ډکول او ځائے جارو کول۔

نو عمر فاروق ﷺ فرمائی: زهٔ چه به کله سهار کښے لاړم نو هغه کار به شوے وو، یوه ورځ بله ورځ او داسے ډیرے ورځے دا کار وشو نو ما ووئیل چه دے ښځے له به دا خدمت څوک کوی؟ نو یوه ورځ وختی لاړم او ورته په انتظار کیناستم چه ومے کتل نو ابوبکر صدیق ﷺ د هغے د کور نه راووتو او دے پدے زمانه کښے د مسلمانانو خلیفه هم دے۔ نو ما ووئیل: [اِنَّکَ لَسَبَّاقٌ بِالْخَیرِ]

تهٔ خامخا هرے نیکئ ته مخکښے کیدونکے ئے۔

ﷺ عبد الله بن مسعود ﷺ فرمائی: یوه ورځ زهٔ په مسجد نبوی کښے په مانځه ولاړ وم نو رسول الله ﷺ د ابوبکر او عمر رضی الله عنهما سره زما په خوا تیریدل نو زما قراءت ته ئے غوږ کیخودو چه ما سورة النساء شروع کړے وه، بیا زهٔ التحیات باندے کیناستم، نو تشهد مے ولوستو بیا مے درود ولوستو بیا مے دعاګانے وکړے۔

(نو رسول الله ﷺ زما دعاء هم واوریده) نو کله چه فارغ شوم رسول الله ﷺ راته ووئیل چه ترتیب دے صحیح دے، دے ترتیب سره چه د الله تعالیٰ نه دعاء غواړے نو الله تعالیٰ به دے حاجت پوره کوی، (یو ئے ما ته دا ترغیب راکړو) نو ما پدے دعاګانو کښے یوه دعاء داسے وکړه:

[اَللّٰهُمَّ اِنِّیْ اَسْأَلُكَ اِیْمَانًا لَا یَرْتَدُّ وَنَعِیْمًا لَایَنْفَدُ وَمُرَافَقَةَ نَبِیِّنَا مُحَمَّدٍ ﷺ فِیْ اَعْلٰی جَنَّةِ الْخُلْدِ]

(ترجمه: اے الله! زهٔ ستا نه داسے ایمان غواړم چه نهٔ واپس کیږی او داسے نعمتونه چه نهٔ ختمیږی او زمونږ د نبی محمد ﷺ سره په اعلیٰ جنت د همیشوالی کښے

Maktaba Tul Ishaat.com

ملګرتیا غواړم)

بیا زهٔ کور ته لاړم، نو زما په غیاب کښې رسول الله ﷺ یوه خبره وکړه وې فرمایل :

[مَنْ اَحَبَّ اَنْ یَّقْرَاَ الْقُرْآنَ غَضًّا کَمَا اُنْزِلَ فَلْیَقْرَاْهُ کَمَا یَقْرَاُ ابْنُ اُمِّ عَبْدٍ]

څوك چه دا خوښوی چه قرآن کریم داسې تازه ووائی لکه څنګه چه نازل شوې نو د عبد الله بن مسعود ﷺ په شان قرآن دې ووائی۔

(د قرآن کریم په لوستو کښې هم مختلفې طریقې دی، څوك ډیر په شوق او خوند سره قرآن کریم لولی او څوك په سستئ سره، ډیر مزیدار کتاب دے لیکن آوریدونکو له مزه نهٔ ورکوی، د هغهٔ د سستوالی د وجه نه)

نو پدې کښې ابوبکر صدیق ﷺ راغې او ما ته ئې زیرے راکړو چه د الله تعالیٰ رسول ستا په باره کښې داسې زیرے ورکړے او دا ئې هم راته وویل چه تا کومه دعاء په مانځه کښې وکړه ؟ نو ما ورته دغه دعاء ذکر کړه۔

نو پدې کښې عمر فاروق ﷺ وویل چه زهٔ به څم او ابن مسعود ﷺ ته به زیرے ورکوم، نو چه راغے وې کتل چه ابوبکر صدیق ﷺ د هغهٔ د کور نه راوتونکے وو، او هغهٔ مخکښې زیرے ورکړے وو۔

(څکه زیرے ورکول او مسلمان خوشحاله کول د الله تعالیٰ د بندګئ یوه غټه بندګی ده، او بیا په دینی خبره باندې زیرے ورکول یوه غټه بندګی ده) نو عمر ﷺ وفرمایل :

[اِنَّكَ لَسَبَّاقٌ بِالْخَیْرِ] اې ابوبکر ! تهٔ خامخا هرې نیکئ ته مخکښې کیدونکے ئې۔

[ابویعلی : رقم ۱۷ قال فی مجمع الزوائد ۲۴۸/۹ رقم :۱۵۵۵۲ : رواه ابویعلی باسنادین ورجال احدهما رجال الصحیح غیر قیس بن مروان وهو ثقة]

(دا حدیثونه زمونږ دپاره ډیره لویه رهنمائی ده، مونږ دپاره د هغوی په سیرت او طرز باندې چلیدل پکار دی)۔

یو ځائې نه د فتح زیرے راغے چه الله تعالیٰ کافران مغلوبه کړی او مسلمانان ئې غالبه کړی، رسول الله ﷺ ته زیرے ورکړے کیدو نو ابوبکر صدیق ﷺ هغه استازی ته وویل چه دا زیرے مالـه راکړه چه زهٔ ئې رسول الله ﷺ ته بیان کړم (دې دپاره چه هغه خوشحاله شی) نو ابوبکر صدیق ﷺ پرې زیرے وکړو نو رسول الله ﷺ په سجده د شکر باندې پریوتو خوشحاله شو۔

Maktaba Tul Ishaat.com

❁ دارنګه وفد ثقیف چه راتللو نو د مغیره بن شعبه ﷺ نه ئې زیرے واخستو او رسول الله ﷺ ته ئې بیان کړو چه دا خلك اسلام کښې داخلیدونکي راروان دي۔
نو ابوبکر صدیق ﷺ ته ددے اعمالو او نیکیانو په وجه عتیق وائي۔
❁ عمر ﷺ یوه ورځ په خپل مجلس کښې د ابوبکر صدیق ﷺ تذکره وکړه نو هغهٔ پسے ئې د مینې د وجه نه وژړل د هغه د وفات نه بعد، او دا ئې وفرمایل چه ارمان دے چه د ابوبکر یوه ورځ او یوه شپه زما د ټول ژوند په عمل باندے راکړے شي، هغه ورځ او شپه چه د رسول الله ﷺ سره ئې په غار ثور کښې تیره کړه۔
دا ډیر ګران کار وو ځکه چه خپل ځان قتل ته وړاندے کول وو، دنیا اعلان وکړو چه وے نیسئ که چا مړهٔ راوړل او که ژوندی، قریشو او د عامو کفارو عربو ورته غاښونه راویستلي وو، خلك ئې هسے هم دشمنان دي او بیا پرے مال هم ګټلے کیږي،
نو پدے کښې ابوبکر صدیق ﷺ د رسول الله ﷺ سره ووتل او دواړه د غار ثور په طرف باندے لاړل، کله چه د غار ثور غر ته ورسیدل (ډیر نیغ غر دے) نو په هغه روایاتو کښې راځي چه ابوبکر صدیق ﷺ نبي ﷺ ته ووئیل چه ته به ما ته په شا کیږے، سره ددے نه چه رسول الله ﷺ قوي او مضبوط هم دے، خپله تللے شي نو پدے شپه باندے ئې د الله تعالیٰ رسول په شا کړو او غار ته ئې خیژولے دے، (ډیر ګران کار دے، که چا دا غار لیدلے وي هغهٔ ته اندازه کیږي) بیا ورسره په دغه غار کښې ناست دے،
مشرکان راغلل او د غار دپاسه ودریدل، ابوبکر صدیق ﷺ سره د خپل ځان غم نهٔ وو بلکه وے فرمایل: یارسول الله! که مشرکان خکته وګوري نو مونږ به ویني، او زهٔ خو یو سړے یم د مسلمانانو نه که ما مړ کړي دومره پرواه نشته لیکن په تا باندے امت خوارېږي، نو نبي علیه السلام ورته وفرمایل:
[يَا اَبَا بَكْرٍ مَا ظَنُّكَ بِاثْنَيْنِ اَللّٰهُ ثَالِثُهُمَا]
اے ابوبکر! ستا په هغهٔ دوه کسانو څه ګمان دے چه الله تعالیٰ ئې دریم ملګرے دے۔
مونږ سره رب ملګرے دے، هیڅوك مونږ ته هیڅ ضرر نشي راکولے، په الله تعالیٰ باندے توکل وکړه۔ ﴿لَا تَحْزَنْ اِنَّ اللّٰهَ مَعَنَا﴾
مهٔ غمجن کیږه یقیناً الله تعالیٰ زمونږ ملګرے دے۔
دلته ئې دا نهٔ دي وئیلي دي چه لَا تَخَفْ۔ مهٔ یریږه۔ بلکه د غم لفظ ئې استعمال کړو،

Maktaba Tul Ishaat.com

ځکه چه حزن او غم په یو شی باندے وی او خوف غالباً په ځان باندے وی۔

نو پدے آیت کښے د ابوبکر صدیق ﷺ فضیلت دے چه د رسول الله ﷺ په وفات کیدو باندے غمجن وو۔

دا هم ډیره عجیبه شپه ده۔ سفیان عیینۃؒ او قُشیریؒ وئیلی دی چه الله تعالیٰ په سورت توبه کښے ټول امت ته عِتاب ورکړیدے (ملامتیا ئے پرے وئیلے ده) چه که تاسو د محمد ﷺ مدد نهٔ کوئ، د هغهٔ د سنتو مدد نکوئ نو الله تعالیٰ ددهٔ شته سوئ د یو ابوبکر صدیق ﷺ نه چه هغهٔ ته ئے عِتاب نهٔ دے ورکړے۔ فرمائیلی ئے دی :

﴿اِلَّا تَنۡصُرُوۡهُ فَقَدۡ نَصَرَهُ اللّٰهُ اِذۡ اَخۡرَجَهُ الَّذِيۡنَ كَفَرُوۡا ثَانِىَ اثۡنَيۡنِ اِذۡ هُمَا فِى الۡغَارِ اِذۡ يَقُوۡلُ لِصَاحِبِهٖ لَا تَحۡزَنۡ اِنَّ اللّٰهَ مَعَنَا﴾ [توبة ٤٠]

نو پدے آیت کښے الله تعالیٰ د ابوبکر صدیق صفت وکړو او ټول امت ته ئے ملامتیا ورکړه او د زورنے شان الفاظ ئے استعمال کړل چه که تاسو ئے مدد نهٔ کوئ مهٔ ئے کوئ، الله تعالیٰ شته او خپل یو ملګرے ئے شته۔

نو پدے آیت کښے د ابوبکر صدیق ﷺ ډیر فضائل راجمع دی،

یو دا چه الله تعالیٰ ورته صاحب وئیلے دے، د رسول الله ﷺ خصوصی ملګرے دے،

دویم د هغهٔ د زړهٔ درد ئے ذکر کړیدے چه د رسول الله ﷺ په باره کښے درمند شویدے او بل ټول امت ته ئے عِتاب او ملامتیا ورکړیده سوئ د ابوبکر صدیق ﷺ نه۔

او بل الله تعالیٰ سکینه په ابوبکر صدیق ﷺ نازله کړیده، ځکه چه نبی ﷺ باندے د مخکښے نه سکینه وه۔

ددے وجه نه اهل علم وائی چه چا د ابوبکر صدیق ﷺ د صحابیت نه انکار وکړو نو دے د اسلام نه مرتد دے، بلکه مونږ لا دا هم وایو چه څوك د نورو صحابه کرامو د صحابیت نه انکار کوی هغه هم کافر کیږی. ځکه چه دا د احادیثو متواترو نه انکار دے، او څوك چه د دغه تواتر نه انکار کوی هم کافر کیږی۔

دا خو د ابوبکر صدیق ﷺ د شپے تذکره وه،

او د ابوبکر صدیق ﷺ ورځ هغه ورځ ده چه کله رسول الله ﷺ وفات شو او عرب مرتد شو او یهود او نصاریٰ او منافقانو سرونه راأوچت کړل او مسلمانان داسے شو لکه باران چه په ژمی کښے ګډے بزے په یو ځائے کښے راګیر کړی وی۔

Maktaba Tul Ishaat.com

او دے وخت کښے ابوبکر صدیق ﷛ کلك ودریدو۔

نو ارمان چه د دغه ورځے اجر ما ته راکړی او زما ټول عملونه د هغے په مقابله کښے لاړ شی نو هم زهٔ پدے خوشحاله یم۔

❁ ابوبکر صدیق ﷛ چه کله وفات شو په هغهٔ باندے یو څادر پروت وو، نو علی ﷛ راغلو او دائے وفرمایل:

[مَا اُحِبُّ اَنْ اَلْقَى اللّٰهَ بِصَحِيْفَةِ رَجُلٍ بَعْدَ صَحِيْفَةِ النَّبِيِّ ﷺ مِنْ هٰذَا الْمُسَجّٰى]

[ابن عساكر، الحاكم: ٤٥٢٣ واحمد: ٨٦٦، اسناد حسن]

زهٔ دا نهٔ خوښوم چه د یو مسلمان عمل دِے زما عمل شی (سوئ د نبی علیه السلام نه) او زهٔ دِے د الله تعالیٰ سره په هغے باندے ملاؤ شم، سوئ ددے سړی نه چه دا څادر پرے پروت دے او وفات شوید ے۔

یعنی ارمان چه ددهٔ عملونه زما وے او زهٔ پرے د الله تعالیٰ سره ملاو شوے وے۔ عامو صحابه کرامو د ابوبکر صدیق ﷛ فضائل پیژندل۔

د صدیق معنیٰ - او وجوهات:

د ابوبکر ﷛ بل لقب وو صدیق:

د صدیق معنیٰ ده ډیر رښتینے، او ډیر تصدیق کونکے د الله تعالیٰ او د هغهٔ د رسول۔ او د تصدیق معنیٰ ده [نِسْبَةُ الصِّدْقِ اِلٰى شَيْءٍ]

یو چا ته د رښتیاو نسبت کول، لکه یو تن خبره وکړی نو تهٔ ورته ووائے چه تا رښتیا وویل۔

نو صِدیق ورته ځکه وائی چه دهٔ به په جاهلیت زمانه کښے هم دروغ نهٔ وئیل بلکه همیشه به ئے رښتیا وئیل، نو دا د جاهلیت د زمانے نوم دے۔

ددے وجه نه په خلکو کښے په صدیق مشهور شوے وو،

دویم دا چه الله تعالیٰ ورته دا نوم ایخودے وو په ژبه د جبریل علیه السلام سره چه ستا په امت کښے دا صِدیق دے۔

وئیلے شی چه کله رسول الله ﷺ معراج ته تلے وو او ذی طُویٰ علاقے ته راورسیدو

Maktaba Tul Ishaat.com

(چه دا په مکه کښې يو ځائے دے قريب دے کعبے ته) نو نبي ﷺ جبريل ته شکايت وکړو چه دا قصه خو تهٔ په ما باندے بيانوے او دا وائے چه د الله رب العالمين حکم دے چه دا امت ته بيانه کړه نو دا به ما سره څوك وومني؟ چه په يوه شپه کښې بيت المقدس پورے تلل او بيا آسمانونو ته ختل او بيا بيرته راواپس کيدل دے خبرے ته خو د چا ذهن نهٔ ور رسيږي، نو جبريل عليه السلام ورته ووئيل چه ستا په امت کښې يو تن شته هغه به ستا تصديق وکړي:

[اَمَا اِنَّ اَبَا بَكْرٍ يُصَدِّقُكَ]

خبر شه چه ابوبکر صديق به ستا تصديق کوي۔

[فضائل الصحابة لاحمد بن حنبل ۱/۱٤۰ رقم ۱۱٦ وفيه ابو وهب مولى ابي هريرة ﷛ لم اعرفه]

❁ دا قصه مونږ مخکښې ليکلے ده چه نبي ﷺ په مسجد حرام کښې ناست وو، ابوجهل ورله راغے چه څنګه ناست يې بيا درته څه وحي شويده او که څه؟ نبي ﷺ ورته وفرمايل: آؤ، زهٔ بيګاه شپه بيت المقدس ته او بيا آسمانونو ته ختلے وم؟ ابوجهل ورته ووئيل: دا قصه د بل چا په مخکښې کولے شے؟ نبي ﷺ ورته ووئيل: آؤ، نو خلك يې ورته راجمع کړل، رسول الله ﷺ ورته دا خبره بيانه کړه،

(په رسول الله ﷺ باندے دا فرض وه چه دا بيانه کړي، دا پريے امتحان وو، کله کله په دين کښې داسے خبرے وي چه د سړي ذهن ورته نهٔ ور رسيږي، ليکن د الله تعالىٰ حکم وي، لهذا بنده به هغے ته تسليميږي، دے ته يقين او ايمان بالغيب وائي)

دا يې چه بيانه کړه نو بعض کسان شکيان شو او مشرکانو خندا شروع کړه، پدے کښې ابوجهل د ابوبکر صديق ﷛ سره ملاؤ شو

(چه هغه لا ددے واقعے نه تر اُوسه نهٔ دے خبر) نو هغهٔ ته يې ووئيل: چه تهٔ خبر يې چه ستا يار نن څه وئيلي دي؟ هغهٔ ورته ووئيل: څه يې وئيلي دي؟

ابوجهل ووئيل: دے وائي چه زهٔ پدے يوه شپه کښې بيت المقدس ته لاړم بيا آسمانونو ته وختلم بيا واپس هم راغلم، تهٔ به دا خبره هم منے۔

نو ابوبکر صديق ﷛ وفرمايل:

[اِنِّيْ لَاُصَدِّقُهٗ بِاَبْعَدَ مِمَّا بَيْنَ السَّمَاءِ وَالْاَرْضِ فِيْ غُدْوَةٍ وَعَشِيَّةٍ]

Maktaba Tul Ishaat.com

کـه هـغـه ووائـي چـه مـا د آسـمـان او د زمـکـې نـه هـم وړاندې علاقې په یو سهار یا یو مازیګر کښې کتلي دي نو هم زۀ ئې تصدیق کوم۔ (شپه خو لا ډیره ده)

او په بل لفظ کښې دي:

[اِنِّيُ لَأُصَدِّقُهٗ فِيُ اَسُرَعَ مِنُ ذٰلِكَ]

زۀ ئې ددې نه هم په لنډه زمانه کښې خبره منم۔

ابـوجـهـل تـعـجـب وکـړو چـه دا څـنـګه شخص دې چه په هره خبره کښې ئې تصدیق کوي، نو ابوبکر ته پدې وجه صدیق ووئیلې شو۔

[مستدرك الحاكم: ۶۲/۳، الکامل فی التاریخ ۲۵۶/۱ وتاریخ الخلفاء واسناده جید، السلسلة الصحیحة للالبانی رقم: ۳۰۶، - ۳۰۵/۱]

ﷺ امـام بـخـاريؒ د ابو الدرداء ﷺ نـه روایت راوړیـدې چـه یوه ورځ د ابوبکر صدیق او عمر فاروق رضي الله عنهما په کومه خبره باندې خبرې اترې واوړیدې،

(دا خبـره یـاده کـړه چـه دا دواړه د رسـول الله ﷺ وزیران وو، ددې وزیرانو به کله خپل مابین کښې بحث هم راتللو ځکه چه انسانان دي، او هغوی خپل مابین کښې یو بل ته سختـه خبره کولې شي، ځکه چه هغوی همزولي دي لیکن مونږه ئې ورته نشو کولې، لهذا اشکال به نۀ کوې)

پـدې کښې ابوبکر صدیق ﷺ عمر فاروق ﷺ تـه تـیـزه خبره وکړه۔ نو عمر فاروق ﷺ ترې په خفګان او غصه کښې واپس شو، بیا ابوبکر صدیق ﷺ خپیمانه شو

(لـکـه دا د نیـکـانـو خـلـکـو طریقه وي چه کله ترې یو بادِره (تیزه خبره) وشي نو زر مـعـافـي غـواړي او ځان ملامته کوي) نو ورپسې ور روان شو چه ما ته بخنه وکړه، هغۀ وویل: نۀ دې معاف کوم، تردې چه هغۀ پسې ئې دروازه بنده کړه، نو ابوبکر صدیق ﷺ ترې رسول الله ﷺ خوا ته راغلو۔

ابو الدرداء ﷺ وائي چه مونږ د نبي ﷺ په خوا کښې ناست وو نو وې فرمایل:

[اَمَّا صَاحِبُكُمُ فَقَدُ غَامَرَ]

ستاسو دې ملګري په کوم کار کښې جګړه کړېده۔

او ابوبکر صدیق ﷺ رسول الله ﷺ ته شکایت وکړو او دا قصه ئې ورته بیانه کړه۔

نـو پدې کښې عمر فاروق ﷺ پـه خـپـل دې کـار خپیمانه شو نو هغه د ابوبکر صدیق

Maktaba Tul Ishaat.com

ﷺ کور تـه ورغـې چـه وګوري، مګر وې نۀ موندو، بیا مسجد ته راغلو سلام ئې وکړو او د نبي ﷺ خوا کښې کیناستو او رسول الله ﷺ ته ئې دا قصه بیانه کړه،

ابوالدرداء ﷺ فرمائي : نبي ﷺ غصه شو، (مخ مبارك ئې متغیر شو) نو ابوبکر صدیق ﷺ پوهه شو چه زما په وجه عمر ﷺ ته څه ونۀ وائي. نو زړئې وویل :

[وَاللّٰهِ يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ لَأَنَا كُنْتُ اَظْلِمُ]

قسم په الله یارسول الله ما ظلم کړیدے. (دۀ ته څه ونۀ وائې لیکن بیا هم) رسول الله ﷺ وفرمایل :

[هَلْ اَنْتُم تَارِكُوْنَ لِيْ صَاحِبِيْ]

اې خلکو : تاسو ما ته دا یو ملګرے پریدئ که نۀ، (ددے نه پورته فضیلت د چا کیدے شي)

[قُلْتُ اَيُّهَا النَّاسُ اِنِّيْ رَسُوْلُ اللّٰهِ اِلَيْكُمْ جَمِيْعًا فَقُلْتُمْ كَذَبْتَ وَقَالَ اَبُوْ بَكْرٍ صَدَقْتَ]

زۀ چه کله امت ته راغلم او دا مې وویل : زۀ تاسو ته د الله تعالیٰ رسول رالیږلے شوے یم نو تاسو وویل چه دروغ وائې، او ابوبکر صدیق ﷺ وویل : تۀ رشتیا وائې.

(یعنی دا یو شخص دے چه دۀ په هر ځائے کښې زما تصدیق کړے او تاسو په اول کښې زما تکذیب کړے)

[فَمَا اُوْذِيَ بَعْدَهَا]

نو ددے نه روستو ابوبکر صدیق ﷺ ته هیڅکله هیڅا ضرر نۀ دے ورکړے.

[بخاري : ٣٦٦١، ٤٦٤٠ ومسند الشاميين٧٨٩]

(ځکه چه رسول الله ﷺ ئې تائید وکړو. او دے ته وائي د احسان شکر ګذاري،

که چا درسره احسان وکړو نو په حق کښې د هغۀ تائید پکار دے، نۀ په باطل کښې، په غلطه کښې به ورسره ملګرتیا نۀ کوے، لکه دلته په عمر فاروق ﷺ باندې واجبه وه چه معافي به کوي، ځکه چه دا قانون دے چه کله تا نه معافي غواړي نو معافي به ورته کوے، سختي به نۀ کوے، لکه عمر فاروق ﷺ زر په خپل کار باندې خپیمانه شو، اُوچت انسان دے،

کـه تـۀ معافي نکوے نو الله تعالیٰ به تا ته معافي نکوي لکه موقوف حدیث د عمر فاروق ﷺ کښې دي :

[مَنْ لَا يَرْحَمُ لَا يُرْحَمُ، وَلَا يُغْفَرُ مَنْ لَا يَغْفِرُ]

څوك چه په بل رحم نهٔ كوي په دهٔ باندے به رحم نشي كيدے، او څوك چه بل ته بخنه نكوي دهٔ ته به بخنه نشي كيدے۔

[صحيح الادب المفرد : ۲۸٦/۳۷۱ حسن]

د صحابه كرامو رضوان الله عليهم اجمعين دا ترتيب او مزاج يادول پكار دي۔

دے ته نزدے بل يو صحيح حديث دے، د فائدے دپاره ذكر كولے شي۔

❁ نبي ﷺ د مدينے په يوه علاقه كښے څه زمكه تقسيم كړے وه نو ابوبكر صديق ﷛ ته ئے هم پكښے لږه زمكه وركړے وه (لكه حكومتِ اسلامي دا كارونه كوي) نو ربيعه اسلمي ﷛ ته ئے هم پكښے وركړے وه۔

نو دواړه خپل پتي ته تلي وو نو هلته په يوه كجوره باندے د دواړو اختلاف راغے، يو وويل چه دا زما په حد كښے ده، او بل وويل چه دا زما په حد كښے ده،

(ابوبكر صديق ﷛ په دنيا كښے انتهائي زاهد صحابي دے ليكن خپل حق غوښتل هم د دين يوه برخه ده، داسے نهٔ چه يو تن زاهد شو نو پيسو او زمكے او جائيداد او دكان سره به هيڅ كار نهٔ لري، دا غلط ذهن دے، متقي او جنتي انسان هم د خپل حق مطالبه كولے شي په ښه اخلاقو سره)

دواړو بحث شو نو ابوبكر صديق ﷛ ربيعه ﷛ ته تيزه خبره وكړه (لكه د نيكانو خلكو په مزاج كښے تيزي وي، ځكه چه زړهٔ ئے صفا وي).

نو ابوبكر صديق ﷛ سمدست خپيمانه شو چه ما خو ورانه خبره وكړه نو ورته ئے وويل :

[يَا رَبِيعَةُ رُدَّ عَلَيَّ مِثْلَهَا حَتّٰى تَكُوْنَ قِصَاصًا]

اے ربيعه ! ما ته زما په شان خبره وكړه چه قصاص ترے جوړ شي۔ ر چه سر په سر شي۔ ددے خلكو په هره خبره كښے آخرت ته فكر وو)،

نو هغهٔ وويل چه زهٔ ئے درته نهٔ وايم۔ ابوبكر صديق ﷛ ورته وويل :

خامخا به ئے وائے گنے زهٔ به رسول الله ﷺ ته ستا شكايت كوم،

(دلته كجوره په ځائے پاتے شوه، پدے خبره بحث شو چه ما ته ددے په شان خبره وكړه)

ربيعه ورته وويل : نهٔ ئے وايم۔ ربيعه ﷛ وائي : نو ابوبكر صديق ﷛ زمكه په ځائے

Maktaba Tul Ishaat.com

پریخوده او روان شو نبی ﷺ ته تللو نو زهٔ وروسے شا ته شا ته روان شوم نو پدے کښے د اسلم قبیلے نه څه کسان راغلل (چه زما قبیله ده) نو ما ته ئے وویل چه ابوبکر باندے دِے الله تعالیٰ رحم وکړی په څه وجه باندے تا باندے شکایت کوی او رسول الله ﷺ ته ورځی او رپورټ درباندے کوی، (یعنی خبره هم هغهٔ سخته کړیده او رپورټ هم هغه کوی) نو ما ورته ووئیل : آیا تاسو ته پته شته، آیا دا پیژنئ دا ابوبکر صدیق ﷺ دے، دا د رسول الله ﷺ دویم ملګرے د غار دے۔

او دا ذُوْ شَيْبَةُ الْمُسْلِمِيْن دے، (مسلمانانو کښے مشر او سپین ګیرے دے) ورانده شئ داسے نهٔ چه دا مو وینی چه تاسو ما سره مدد (او ملګرتوب) کوئ نو غصه به شی نو دهٔ د وجه نه به رسول الله ﷺ غصه شی او د رسول الله ﷺ د غصے د وجه نه به الله تعالیٰ ناراضه شی [فَيَهْلَكَ رَبِيْعَةُ] نو ربیعه به هلاك شی۔ (یعنی زهٔ) نو ځئ تاسو واپس شئ۔

ابوبکر صدیق ﷺ رسول الله ﷺ خوا ته راغلو نو زهٔ وروسے یواځے راروان وم هغهٔ ته ئے ټوله قصه وکړه چه زهٔ د ربیعه نه معافی غواړم او هغه معافی نکوی، نو رسول الله ﷺ ما ته سر راپورته کړو او راته ئے ووئیل :

[يَا رَبِيْعَةُ مَالَكَ وَلِلصِّدِّيْقِ]

اے ربیعه ! صدیق ته ولے بخنه نهٔ کوے۔ نو هغهٔ ورته ووئیل : اے د الله رسوله ! دهٔ سخته خبره وکړه او ما ورته نکوله، نو رسول الله ﷺ وفرمایل :

[اَجَلْ فَلَا تَرُدَّ عَلَيْهِ وَلٰكِنْ قُلْ غَفَرَ اللّٰهُ لَكَ يَا اَبَا بَكْرٍ]

ښهٔ دِے کړی، دهٔ ته جواب مهٔ ورکوه بلکه داسے ووایه : چه الله تعالیٰ دِے تا ته بخنه وکړی اے ابوبکر!۔ (یعنی د کنځلو جواب په کنځلو او د بدے خبرے جواب په بده خبره مهٔ ورکوه بلکه د مغفرت دعاء ورته وکړه، قصاص اخستل خو جائز دی لیکن مغفرت کول ډیر غوره دی، نو نبی ﷺ ورته غوره لاره وخودله) نو هغهٔ ووئیل :

[غَفَرَ اللّٰهُ لَكَ يَا اَبَا بَكْرٍ] الله تعالیٰ دِے تا معاف کړی اے ابوبکر !۔

حسن وائی : هرکله چه ابوبکر ﷺ (دا خبره واوریده) روان شو او وے ژړل (ځکه چه ابوبکر ﷺ ډیر رقیق القلب (نرم زړے) وو، په لږه خبره به ئے هم ژړل)

[مسند احمد : ١٦٦٢٧ وفيه مبارك بن فضالة، قال السيوطي: باسناد حسن]

Maktaba Tul Ishaat.com

ابوبکر ﷺ ولې تصدیق کولو؟

ابوبکر صدیق ﷺ کښې د تصدیق ماده ولې ډیره وه؟۔

نو یو خو دا د الله تعالیٰ ورکړه وی چه بعض انسانانو ته پاك زړونه ورکړی چه شك او تردد پکښې نهٔ وی، نو دهٔ باندې هم الله تعالیٰ دا فضل کړې وو۔

بله وجه دا هم ده چه ابوبکر صدیق ﷺ د رسول الله ﷺ د رشتینوالی نښې د ډیرې پخوا نه لیدلې وې۔ په جاهلیت زمانه کښې هم ابوبکر صدیق ﷺ د رسول الله ﷺ ملګرې وو، ددهٔ سره به کیناستو پاڅیدو او سفرې به ئې ورسره کولې، نو د هغهٔ اخلاق او کردار او کمالات ورته د مخکښې نه معلوم شوی وو، نو کله چه داسې ښکلې کردار والا ملګرې انسان ته یوه خبره وکړی نو د انسان پرې تصدیق زر راځی۔

او ددې نه هم معلومیده چه نبی ﷺ ته به قبل النبوة په نوم باندې آواز کیدو چه شا ته به ئې وکتل نو څه به ئې نهٔ لیدل، دا آوازونه به ورته وخت په وخت کیدل نو هغهٔ ابوبکر صدیق ﷺ ته حال ووئیلو چه ما ته داسې آوازونه کیږی، بیا چه کله ئې د نبوت دعوه وکړه نو د مخکښې نه د هغهٔ یو قسم ذهن سازی شوې وه۔

بله دا چه اهل سیرت لیکی: چه کله نبی ﷺ د خپل تره ابو طالب سره شام ته سفر کولو، نو شام علاقې ته چه قریب شو، د بَحِیرَا الراهب په نوم باندې یو پیر وو په لاره کښې نو دوئ ته ئې دعوت وکړو (مشهوره قصه ده) نو قافلې والا حیران شو چه دې سړی باندې به خو مونږ مخکښې نه بار بار راتیریدو او دهٔ به مونږ ته دعوت نهٔ کولو او دا ځل ئې دعوت وکړو، دا څه وجه ده؟

نو هغهٔ ورته ووېل چه ما تاسو له دا دعوت د دغه هلك د وجه نه کړیدې چه تاسو سره دې چه دا د الله تعالیٰ حق رسول او سید العالمین دې۔

دوئ ورته ووېل چه تا ته څنګه پته ولګیده؟ هغهٔ ووېل: تاسو چه پدې لاره راروان وئ نو هرې ونې او کاڼړی به په سجده پریوتل او دا قانون دې چه دا څیزونه صرف نبی ته سجده کوی، او مونږ دا خبره په خپلو کتابونو کښې مونده کوو چه دا د الله تعالیٰ حق رسول دې او تره ته ئې ورله وصیت وکړو چه دا شام ته مهٔ بوځه، ځکه چه هلته

Maktaba Tul Ishaat.com

یهود عنادګر خلك دی، دا به قتل کړی نو ابو طالب نبی ﷺ بیرته راواپس کړو نو پدے سفر کښے ورسره ابوبکر صدیق ﷛ هم ملګرے وو، هغهٔ دا ټول حالات وکتل۔

ددے وجه نه میمون بن مهرانؒ ـ یو مُحدث دے د هغهٔ ـ نه چا تپوس وکړو چه علی ﷛ مخکښے ایمان راوړے او که ابوبکر صدیق ﷛، او علی ﷛ غوره دے او که ابوبکر او عمر رضی الله عنهما ؟ نو هغه پدے خبره باندے وریپدو او امسا ئے د لاس نه ګوزار شوه، وے فرمایل: زما دا ګمان نهٔ وو چه زهٔ به داسے زمانے ته پاتے شم چه خلك به د ابوبکر او عمر رضی الله عنهما سره نور خلك برابره وی۔

ابوبکر او عمر رضی الله عنهما سره څوك نشی برابریدے،

په اسلام کښے هم ابوبکر صدیق ﷛ مخکښے دے، وجه دا ده چه دهٔ په زمانه د بحیرا الراهب کښے ایمان راوړیدے، د هغهٔ په زړهٔ کښے دا خبره واقع شویده چه دا به د الله تعالیٰ رسول وی۔

ابو الحسن ابن الاثیر الجزریؒ په "اسد الغابة" کښے د ابن عباس ﷛ روایت راوړیدے چه ابوبکر صدیق ﷛ د نبی ﷺ سره شام ته د تجارت دپاره سفر وکړو چه پدے وخت کښے د ابوبکر عمر اتلس (۱۸) کاله وو او د نبی ﷺ شل (۲۰) کاله،

نو کله چه شام ته نزدے شو نو هلته ئے د بیرے یوے ونے لاندے دمه وکړه نو ابوبکر ﷛ بحیرا الراهب خوا ته ورغلو چه د هغهٔ نه ئے یو شے غوښتلو نو هغهٔ ورته وویل: دغه سړے څوك دے چه د بیرے سوری کښے ناست دے؟ ابوبکر صدیق ﷛ وویل: دا محمد بن عبد الله بن عبد المطلب دے۔ نو بحیرا ورته وویل:

[هٰذَا وَاللّٰهِ نَبِیٌّ، مَا اسْتَظَلَّ تَحْتَهَا بَعْدَ عِیْسَی بْنِ مَرْیَمَ اِلَّا مُحَمَّدٌ]

قسم په الله! دا نبی دے، ځکه چه ددے ونے د سوری لاندے د عیسیٰ بن مریم علیه السلام نه روستو سویٰ د محمد نه بل هیڅوك نهٔ دے ناست۔

نو د ابوبکر صدیق ﷛ په زړهٔ کښے یقین او تصدیق واقع شو۔

نو کله چه رسول الله ﷺ د الله نبی جوړ شو نو ابوبکر صدیق ﷛ ئے (اَول) تابعداری وکړه۔

[اخرجه ابن مندة و ابو نعیم- اسد الغابة ۱/ ۱۰٤]

❁ ابوبکر صدیق ﷛ خپله وائی: زهٔ مسجد حرام کښے د کعبے په یو طرف کښے

Maktaba Tul Ishaat.com

ناست وم نو اُمَیه بن ابی الصلت (یو شاعر وو، د پخوانو کتابونو عالم هم وو، رسول الله ﷺ د هغهٔ په باره کښې فرمایلی وو:

[آمَنَ لِسَانُهٗ وَ کَفَرَ قَلْبُهٗ]

په زړهٔ کافر دے او خولے ئے مسلمانه ده، ځکه چه ډیرے نیکے خبرے ئے کړیدی په خپلو اشعارو کښې)

نو هغهٔ زید بن عمرو بن نُفَیل ته وویل چه دا هم دلته ناست وو، (چه دا یو نیك سړے دے او د رسول الله ﷺ د نبوت نه مخکښې وفات شویدے، قبل النبوة مسلمان مُوحد دے)

[کَیفَ اَصبَحتَ یَا بَاغِیَ الْخَیرِ ؟]

تا څنګه صبا کړو اے د خیر طلب کونکیه ! هغهٔ وویل : په خیر سره۔

نو دهٔ ورته وویل : [هَلْ وَجَدتَّ ؟] آیا چه کوم دین دے طلب کولو هغه دے وموندو ؟

هغه وویل : نه، (مونږ پسے شام ته هم لاړو خو صحیح دین مے پیدا نکړو) لیکن لا په طلب کښې مے کوتاهی نهٔ ده کړے۔

نو امیه دا شعر ووئیلو :

کُـلُّ دِیْـنٍ یَـوْمَ الْـقِیَـامَةِ اِلَّا		مَـا قَـضَـی الـلّٰـهُ فِی الْـحَقِیْقَةِ بُوْرُ

هر دین به د قیامت په ورځ په حقیقت کښې هلاك وی (قبول به نهٔ وی) مګر هغه دین چه الله تعالیٰ پرے فیصله کړے هغه به د هلاکت نه بچ وی۔

(یعنی د دین حنیف کوشش کوه)

بیا ئے ورته دا وویل : [هٰذَا النَّبِیُّ الَّذِیْ یُنْتَظَرُ مِنَّا اَوْ مِنْکُمْ اَوْ مِنْ اَهْلِ فِلَسْطِیْنَ]

دغه نبی چه کوم راروان دے دا به زمونږ د قوم نه وی او که ستا د قوم نه او که د فلسطین والو نه۔ (یعنی دا پته نشته)

نو زید بن عمرو ورته څه جواب ورنکړو۔

ابوبکر صدیق ﷛ فرمائی : چه دے وخت پورے زما ذهن کښې دا خبره نهٔ وه او نهٔ ما آوریدلے وه چه ګنے یو نبی راروان دے او د هغهٔ انتظار کیدے شی۔ نو زهٔ لاړم د ورقه بن نوفل خوا ته چه دا د پخوانو کتابونو عالِم وو، هغهٔ نه مے تپوس وکړو او دا قصه مے

Maktaba Tul Ishaat.com

ورته تړوله بیانه کړه نو هغهٔ راته وویل : چه اے ورارهٔ، آؤ دا خبره صحیح ده چه یو نبی به راځی، او هغه نبی چه انتظارئے کیږی نو هغه به د اوسط العرب نسباً نه وی۔

یعنی عربو کښې چه د چا نسب ډیر غوره وی او زهٔ د نسبونو ماهر یم، او ستا قوم چه قریش دی، دا اوسط العرب نسباً دی، (په عربو کښې د دوئ نسب ډیر غوره دے) نو دا نبی په تاسو کښې راتللو والا دے، نو ما وویل : اے ترهٔ : دغه نبی به کومې خبرې کوی؟ هغهٔ وویل : هغه خبرے به کوی کومې چه ورته وئیلے کیږی۔

(یعنی د ځان نه به خبرے نهٔ کوی) او دومره خبره ده چه (د هغه په دین کښې به) ظلم او تظالم نهٔ وی۔

ابوبکر صدیق رضی الله عنه فرمائی : هرکله چه نبی صلی الله علیه وسلم د الله تعالیٰ نبی جوړ شو نو ما ایمان راوړو او ما تصدیق وکړو۔

[ابن عساکر : اسد الغابة ۲/۱۳۹ تاریخ الخلفاء ۱/۳۵]

نو د مخکښې نه ئے توجه پیدا شوے وه او په زړهٔ کښې ئے دننه کمالات هم وو نو پدے وجه صدیق وګرځیدو۔

۳- لقب :

د ابوبکر صدیق رضی الله عنه په لقبونو کښې بل لقب اَوّاه هم راغلے دے، دا پکښې غیر مشهور دے، لکه دا صفت د ابراهیم علیه السلام په قرآن کریم کښې راغلے دے۔

﴿ اِنَّ اِبْرَاهِيْمَ لَحَلِيْمٌ اَوَّاهٌ مُّنِيْبٌ ﴾

[هود:۷۵]

د اَوّاه معنیٰ ده کثیر الرحمة (ډیرے مهربانئ والا)، كَثِيْرُ الدُّعَاء (د الله تعالیٰ نه ډیرے دعاګانے طلب کونکے، كَثِيْرُ التَّاَوُّهِ مِنْ خَوْفِ اللهِ ـ د الله تعالیٰ د یرے د وجه نه په ځان باندے ډیر افسوس کونکے۔

ابوبکر صدیق رضی الله عنه کښې دا ټول صفات موجود وو۔

ولادت :

ابوبکر صدیق رضی الله عنه په مکه مکرمه کښې پیدا شویدے او د رسول الله صلی الله علیه وسلم نه دوه (۲)

Maktaba Tul Ishaat.com

کاله او دریے (۳) میاشتے او بعض پنځه (۵) میاشتے ذکر کوی، دومره زمانه کشر دے۔
څکه چه د رسول الله ﷺ عمر د وفات په وخت دریے شپیته (۶۳) کاله وو، او ابوبکر صدیق ﷺ چه کله وفات کیدو نو د هغهٔ عمر هم دریے شپیته (۶۳) کاله وو۔ او د خلافت زندگی ئے دوه کاله او دریے (۳) میاشتے وه۔
ابن کثیرؒ وئیلی دی چه خلیفه بن الخیاطؒ چه د یزید بن الاصمؒ نه کوم روایت راوړیدے چه نبی ﷺ د ابوبکر صدیق ﷺ نه تپوس وکړو چه تهٔ مشرئے او که زهٔ؟ نو هغهٔ وویل:

[أَنتَ أَكْبَرُ مِنِّي وَأَنَا أَسَنُّ مِنْكَ]

تهٔ زما نه په مرتبه کښے ډیر لوی ئے او زهٔ ستا نه په عمر کښے مشر یم۔
نو دا روایت مرسل غریب جدا دے۔ او د مشهور روایت خلاف دے۔ لیکن دا خبره د عباس ﷺ په باره کښے صحیح ده چه هغهٔ داسے وئیلی وو۔

[تاریخ الخلفاء وسبل الهدی والرشاد]

انس بن مالك ﷺ فرمائی: کله چه رسول الله ﷺ مدینے ته هجرت وکړو نو د نبی ﷺ عام مهاجرین ملګری ځوانان وو سوئ د ابوبکر صدیق ﷺ نه چه د هغهٔ په ګیره کښے سپین ډکی لګیدلی وو نو هغهٔ پرے کتم (توربوټے) او حناء (نکریزے) ولګولے، دا ئے بدل کړو۔

[سبل الهدی والرشاد، والسیرة الحلبیة]

د ابوبکر صدیق ﷺ شکل:

د عائشے رضی الله عنها نه چا تپوس وکړو چه مونږ ته خو د ابوبکر صدیق ﷺ د شکل بیان وکړه: نو هغے وویل: [رَجُلٌ أَبْيَضُ]
سپین سړے وو، په مخ باندے به ئے ښکلے رنړا وه۔
(د تقویٰ او د عباداتو د وجه نه او د ګناهونو د نهٔ کولو د وجه نه په مخ کښے ناشنا رنړا پیدا کیږی)
[نَحِيفُ الْبَدَنِ] (نری بدن والا وو) [خَفِيفُ الْعَارِضَيْنِ] یعنی څنړے او د ګیرے په غاړو

Maktaba Tul Ishaat.com

باندے ئے ډیر ویښته نۀ وو۔

[غَائِرُ الْعَيْنَيْنِ نَاتِیءُ الْجَبْهَةِ]

جورو سترګو والا وو او تندے ئے راوتے وو۔

[مَعْرُوْقُ الْوَجْهِ] په مخ باندے غوښه ډیره نۀ وه۔

[عَارِی الْأَشَاجِعِ]

په ګوتو باندے ئے ویښته هم نۀ وو ولاړ۔ او د قد نه اُوچت سړے وو۔

ابوبکر صدیق ﷛ او عمر فاروق ﷛ دواړه د قد نه اُوږده وو او علی ﷛ لړ شان لنډے وو۔ دوئ به اکثر شریك ګرځیدل، د یو بل سره ئے ډیر محبت وو، لکه د علی ﷛ په اقوالو کښے به ئے مونړ ذکر کړو چه هغۀ د ابوبکر صدیق ﷛ څومره فضیلتونه ذکر کړیدی او هغه چا ته به ئے سزا ورکوله چه د ابوبکر صدیق ﷛ په باره کښے به ئے څه بده خبره کوله۔

لطیفه : د علی ﷛ نه یوه مقوله نقل ده : یوه ورځ درے واړه په لاره روان وو په مینځ کښے ئے علی ﷛ وو، نو عمر ﷛ مزاحی خبره وکړه چه علی ﷛ په مونږ کښے داسے لنډے دے لکه نون په لَنَا کښے چه یو تن لَنَا لفظ ولیکی نو لام هم اُوږد دے او الف هم، او نون لنډ دے، نو علی ﷛ هم ورسره مزاح او خوش طبعی وکړه، وے فرمایل : په لَنَا کښے خو دا یو نون دے، که نون ترے لرے کړے نو (لَا) به جوړ شی نو چه زۀ درسره نۀ یم نو تاسو نشت یئ۔

د ابوبکر صدیق ﷛ کمالات :

په ابوبکر صدیق ﷛ کښے الله تعالیٰ ډیر کمالات اچولی وو۔

یو د هغے نه دا دے : [لَمْ يَسْجُدْ لِصَنَمٍ قَطُّ] په جاهلیت زمانه کښے ئے هم هیڅکله بت ته سجده نۀ ده کړے۔ (دا کارئے فطرةً بد ګنړلو اګرکه ایمان نه لا خبر نۀ دے)

[حَرَّمَ أَبُوْبَكْرٍ وَعُثْمَانُ عَلَيْهِمَا الْخَمْرَ فِی الْجَاهِلِيَّةِ]

ابوبکر صدیق ﷛ او عثمان ﷛ په خپلو ځانونو باندے شراب په جاهلیت زمانه کښے حرام کړی وو۔ [ابن عساکر وابو نعیم]

Maktaba Tul Ishaat.com

ابوبکر صدیق ﷛ نه د رسول الله ﷺ د ملگرو په مجمع کښې تپوس وشو چه آیا تا په جاهلیت کښې شراب څکلی دی ؟ نو هغهٔ وویل : [اَعُوذُ بِاللّٰهِ]
زهٔ په الله تعالیٰ پورې پناه غوارم ددې نه۔

عرض وشو : ولې ؟ هغهٔ وویل : [اَصُونُ عِرْضِیُ وَاَحْفَظُ مُرُوْءَتِیُ]
ما خپل عزت او د خپل سړیتوب حفاظت کولو۔

(دا وجه نهٔ وه چه کښې الله تعالیٰ حرام کړی وو، ددې نه معلومه شوه چه گناهونه د انسان نه سړیتوب ختموی، بیا چه اسلام پرې پابندی پڼې وجه لگوی چه دا ستا عزت ختموی، ستا د الله تعالیٰ سره تعلق خرابوی)

[ابن عساکر، مرسل غریب سندًا ومتنًا]

او د هغهٔ د ښکلو صفاتو نه دا مخکښې تیر شوی وو چه هرکله ابوبکر صدیق ﷛ په مکه کښې تنگ کړې شو نو اول هجرت ئې حبشو ته وکړو کله چه برك الغماد علاقې ته ورسیدو نو د هغه علاقې مشر ابن الدغنه ورسره ملاؤ شو، ورته ئې وویل : څه کوې؟ نو ابوبکر صدیق ﷛ ورته وویل : زهٔ خپل قوم راویستلے یم :

[فَاَنَا اُرِیْدُ اَنْ اَسِیْحَ فِی الْاَرْضِ فَاَعْبُدُ رَبِّیُ]

نو زهٔ په زمکه گرځم دې دپاره چه د الله تعالیٰ بندگی وکړم، نو ابن الدغنه ورته وویل : [مِثْلُكَ لَا یَخْرُجُ وَلَا یُخْرَجُ] ستا په شان سړې نهٔ د خپل کلی نه وځی او نهٔ هغه ویستلے کیږی، ځکه چه ته قوم ته فائده ورکوې۔

دا یو کافر انسان دې ابوبکر صدیق ﷛ ته داسې خبرې کوی، او هغوئ ته هم دا پته وه چه ابوبکر صدیق ﷛ کښې داسې ښکلې صفات لری، نو د ابوبکر صدیق ښهٔ شهرت په دنیا کښې په نیکئ باندې شوې وو۔

او داسې صفات ئې ورله بیان کړل لکه څنگه چه د نبی ﷺ صفات وو۔

[اِنَّكَ لَتَصِلُ الرَّحِمَ وَتَحْمِلُ الْكَلَّ]

تهٔ خو صله رحمی قائمه وې (او دا د قیامت د علاماتو نه دی چه د مؤمنانو به د یو بل سره محبتونه کم شی لکه دا زمانه اُوس شروع ده) او تهٔ د خلکو بوجونه په ځان باندې اچوې۔ [وَتَكْسِبُ الْمَعْدُوْمَ]

Maktaba Tul Ishaat.com

تهٔ هغه شخص ئے چه د فقیرانو دپاره کار پیدا کوے۔
(یا تا کښے هغه صفات دی چه نورو خلکو کښے هغه صفات نشته)

[وَتُعِیۡنُ عَلٰی نَوَائِبِ الدَّهۡرِ]

او په زمانه کښے چه په چا باندے مصیبتونه راشي نو تهٔ ئے مدد کوے۔

[وَتَقۡرِی الضَّیۡفَ]

او میلمنو له میلمستیا ورکوے۔ زهٔ به درله پناهی واخلم بیا راغے او د قریشو مشرانو نه ئے د ابوبکر ﷺ دپاره امان واخستو لکه تفصیل د واقعے مخکښے وګوره۔
دا صفات ئے لا په زمانه د جاهلیت کښے وو او چه کله اسلام راغلو نو بیا خو په هغے کښې سم ورداخل شو، هرڅه ئے پریخودل سوئ د الله تعالیٰ د دین نه۔
امام نوویؒ لیکي: ابوبکر صدیق ﷺ په جاهلیت کښے د قریشو د مشرانو نه وو او د هغوی د مشورے والو نه وو او هغوی کښے ډیر محبوب وو او د هغوئ په حالاتو ډیر عالم وو خو هرکله چه اسلام راغلو نو دا هر څه ئے پریخودل

[وَدَخَلَ فِی الۡاِسۡلَامِ اَکۡمَلَ دُخُوۡلٍ]

نو په اسلام کښے په ډیره کامله طریقه داخل شو۔
الزبیر بن بکارؒ او ابن عساکرؒ لیکلی دی چه ابوبکر صدیق ﷺ په قریشو کښے د جاهلیت په زمانه کښے د هغه یولسو (۱۱) کسانو نه یو تن وو چه دوئ ته د جاهلیت د زمانے او د اسلام شرافت رسیدلے وو، نو دهٔ ته د دیتونو او تاوانونو اداکولو پروګرام سپارلے شوے وو چه دا ډیر لوی عزت وو۔
چا د سعد بن ابی وقاص ﷺ نه د ابوبکر صدیق ﷺ په باره کښے تپوس وکړو چه ابوبکر ﷺ په نیکئ باندے مشهور دے نو دا به اولنے مسلمان وی؟ نو هغهٔ وفرمایل: ددهٔ نه پنځو نه زیاتو کسانو مخکښے اسلام راوړے وو،

[وَلٰکِنۡ کَانَ خَیۡرَنَا اِسۡلَامًا]

لیکن دے زمونږ نه په اسلام کښے غوره وو۔
ابن کثیرؒ وائی: ظاهر دا ده چه اهل بیتو د هر چا نه مخکښے ایمان راوړے وو، یعنی خدیجه رضی الله عنها، او د هغے غلام زید بن حارثه ﷺ او د زید ﷺ ښځه ام ایمن

Maktaba Tul Ishaat.com

رضی الله عنها او علی ﷛ او ورقه بن نوفل ﷛ انتهیٰ۔

د ابوبکر رضی الله عنه صفات :

د ابوبکر صدیق ﷛ ډیر ښکلي صفات او کمالات وو دلته به د هغهٔ د اقتداء په نیت مهم مهم ذکر کړو۔

۱- زیات یقین :

ابوبکر صدیق ﷛ د نورو خلکو نه پدې وجه بهتر شوے وو چه یقین ئې ډیر زیات وو، د الله تعالیٰ او د رسول خبره چه به راغله نو دهٔ به پرې سو فیصد یقین کولو، او دا د کمال خبره وی، یو تن به ډیر عمل والا وی او بل به یقین والا وی، نو یقین والا به غوره وی د ډیر عمل والا نه۔ صحابه کرام رضوان الله علیهم اجمعین ځکه وائی چه ابوبکر صدیق ﷛ مونږ نه د ډیرو عملونو په وجه غوره نهٔ وو، (ځکه چه داسے صحابه کرام هم وو چه د هغوی عملونه د ابوبکر صدیق ﷛ نه زیات وو، ډیرے روژے او ډیر نفلونه او ډیرے صدقے به ئې کولے، په ظاهری اعمالو کښے د ابوبکر صدیق ﷛ نه هم مخکښے وو لیکن د یقین په لحاظ سره دے اُوچت وو۔

[لِمَا وَقَرَ فِیْ قَلْبِهٖ] زړهٔ کښے ئې ډیر اطمینان او یقین زیات وو۔

عمر ﷛ به فرمایل : [لَوْ وُزِنَ اِیْمَانُ اَبِیْ بَکْرٍ بِاِیْمَانِ اَهْلِ الْاَرْضِ لَرَجَحَ بِهِمْ]

که د ابوبکر صدیق ﷛ ایمان د ټولے دنیا والو د ایمان سره اُوتللے شی نو دا به پرے درون شی۔

[شعب الایمان: ۱/۱٤٤ رقم ۳۵]

او مخکښے د هغهٔ د تصدیق واقعات ذکر شو چه رسول الله ﷺ ئې تائید کړے چه تاسو په اول کښے زما تکذیب کړے او ابوبکر زما تصدیق کړے۔

لکه په یو مجلس کښے رسول الله ﷺ د پخوانئ زمانے دوه قصے بیان کړے،

یوه دا چه په یو ځائے کښے یو شپونکے وو چه ګډے بزے به ئې څرولے، یو شرمخ راغے، د ګډو نه ئې یوه ګډه وتښتوله نو شپونکی ورپسے ورمنډه کړه او ګډه ئې ترے خلاصه

کړه، نو هغه شرمخ ګویا شو چه دا د الله تعالیٰ یو رزق وو ما له ئے راکړے وو او تا ما نه خلاص کړو، [فَمَنْ لَهَا يَوْمَ السَّبُعِ يَوْمَ لَا رَاعِيَ لَهَا غَيْرِيْ]

هغه وخت سره به څه کوے چه کومه د درنده ګانو ورځ راروانه ده (دا قیامت ته نزدے یوه ورځ ده چه حیوانات او درنده ګان به یو ځائے کیږی) چه په هغه ورځ به ددے شپونکے صرف زهٔ یم.

(یعنی تاسو به نهٔ یئ او مونږ درنده ګان به یو، بیا به رانه دا ګډه څوك خلاصه کړی). نو خلکو ووئیل: [سُبْحَانَ اللّٰهِ ذِئْبٌ يَتَكَلَّمُ]

تعجب دے، شرمخ څنګه خبرے وکړی!!.

نو نبی ﷺ وفرمایل: [فَإِنِّيْ أُوْمِنُ بِذٰلِكَ وَأَبُوْبَكْرٍ وَعُمَرُ]

زهٔ پدے خبره ایمان لرم او ابوبکر او عمر هم. (او پدے وخت کښے ابوبکر او عمر رضی الله عنهما نهٔ وو موجود) [بخاری: ٢٣٢٤ ومسلم]

دویمه واقعه: یو سړے وو چه په غوا باندے سور شوے وو نو الله تعالیٰ غوا ګویا کړه نو دے سړی سره ئے خبرے وکړے چه [إِنِّيْ لَمْ أُخْلَقْ لِهٰذَا إِنَّمَا خُلِقْتُ لِلْحَرْثِ]

زهٔ خو ددے دپاره نهٔ یم پیدا چه خلك به راباندے سورلی کوی، بلکه زهٔ خو د فصل دپاره پیدا یم.(او د اړتړ دپاره) خلکو ووئیل: [سُبْحَانَ اللّٰهِ بَقَرَةٌ تَتَكَلَّمُ]

تعجب دے، غوا خبرے کوی. (غوا څنګه خبرے وکړی؟!) نو نبی ﷺ وفرمایل:

[فَإِنِّيْ أُوْمِنُ بِذٰلِكَ وَأَبُوْبَكْرٍ وَعُمَرُ].

زهٔ پدے خبره ایمان لرم او ابوبکر او عمر هم. او پدے وخت کښے په مجلس کښے ابوبکر او عمر (رضی الله عنهما) نهٔ وو موجود.

[بخاری: ٣٤٧١ ومسلم: ٦٣٣٤]

مګر نبی ﷺ د دوئ دواړو د ایمان ګواهی ورکړه ځکه چه د نبی ﷺ د هغوی په کامل ایمان باندے پوره یقین وو.

❁ روستو په واقعاتو کښے راځی چه تا باندے دومره سخت واقعات راغلل او تا کښے هیڅ تغیر نهٔ پیدا کیږی، غوږ دِے هم نهٔ رپیږی، دا ولے؟ هغهٔ ووئیل: د غار د ورځے نه روستو په ما باندے رُعب نهٔ دے راغلے.ځکه چه ما ته رسول الله ﷺ دا خبره وکړه:

[مَا ظَنُّكَ بِاثْنَيْنِ اللّٰهُ ثَالِثُهُمَا]

Maktaba Tul Ishaat.com

ستا په هغه دوه کسانو څه گمان دے چه الله تعالیٰ ئے دریم ملگرے دے۔ او دا ئے راته وویل :

[إِنَّ اللّٰهَ تَكَفَّلَ لِهٰذَا الدِّيْنِ بِالتَّمَامِ]

الله تعالیٰ ذمه واری اخستے ده چه دا دین به یو ځل پوره کوی او دا به تهول عالم ته رسوی۔ نو هغه خبره ما آوریدلے ده او زما زړۀ ته کوزه شویده چه دا دین به خامخا کامليږی، هر رنگ حالت چه راځی خو دا دین به غالبه کیږی، که د کفارو هرڅومره غلبه راشی او هرڅومره خلك مرتد شی بیا به هم د دین اسلام غلبه راځی زما پدے خبره یقین دے نو ځکه په ما باندے رعب نۀ راځی۔

په یقین باندے انسان کمال ته رسیږی، صحابه کرام رضوان الله علیهم اجمعین د نور امت نه ولے ډیر غوره دی؟، حال دا چه په تابعینو کښے ډیر داسے خلك وو چه هغوی به د اعمالو په لحاظ سره د صحابه کرامو رضی الله عنهم نه هم زیات وو، لیکن یقین د صحابه کرامو اُوچت دے د تابعینو نه او دغسے پسے ورځه۔

د ډیر یقین سره لږ عمل ډیره فائده ورکوی او د لږ یقین سره ډیر عمل کښے هم دومره طاقت نۀ وی۔

۲- زیاته یره :

د ابوبکر صدیق ﷺ د صفاتو نه بله دا ده چه د الله تعالیٰ یره په کښے ډیره زیاته وه، ددے وجه نه هر وخت به ئے ژړل او د الله تعالیٰ د حدودو به ئے ډیر سخت رعایت کولو۔

یوه ورځ یو باغ ته ننوتو نو په باغ کښے ئے یوه مرغۍ ولیده عربۍ کښے ورته دبسی وائی چه د چینچړے په مقدار ده، نو اُوږده ساه ئے واخسته او دا ئے ورته وویل :

[طُوْبٰى لَكَ يَا طِيْرُ تَأْكُلُ مِنَ الشَّجَرِ وَتَسْتَظِلُّ بِالشَّجَرِ وَتَصِيْرُ إِلٰى غَيْرِ حِسَابٍ يَا لَيْتَ اَبَا بَكْرٍ مِثْلُكَ] [ابواحمد الحاکم عن معاذ بن جبل وابن ابی شیبة ۷/۹۱، رقم : ۳۴۴۳۲ وشعب الایمان ۱/۳۸۵ رقم : ۷۸۷]

تاله خوشحالی ده اے مارغۀ ! تۀ د ونو نه خوراك کوے او د ونو د سورو نه فائده اخلے او بیا صبا تا سره هیڅ حساب نشته، اے ارمان چه ابوبکر هم ستا په شان وے۔

(چه د الله تعالیٰ د حسابونو نه خلاص وے ځکه چه زمونږ مخے ته ډیرے لوی خبرے

Maktaba Tul Ishaat.com

راروانې دي)۔
او دا به ئې هم فرمایل : [يَا لَيْتَنِيْ كُنْتُ شَعْرَةً فِيْ جَنْبِ مُؤْمِنٍ]
ارمان چه زهٔ د يو مؤمن په اړخ باندې يو ويښته وې نو ښه به وه۔

٣- په فتوىٰ کې احتياط :

چه يوه مسئله به ورله راغله نو زر به ئې پکښې فتوىٰ نهٔ ورکوله چه بس جواب دا دې او دا حکم دې، لکه څنګه چه د عامو خلکو دا عادت دې چه د ځان نه فتوې ورکوي حال دا چه فتوې ورکول ډېر ګران کار دې، ډېر علم او خبردارې غواړي، نو چا به چه ترې تپوس وکړو نو اول به ئې قرآن کتلو بيا به ئې د رسول الله ﷺ احاديث ملګرې کول، که پدې کښې به ورته مسئله پيدا نشوه بيا به ئې مسلمانان راجمع کړل او هغوئ ته به ئې دا ووېل چه تاسو د نبي ﷺ نه ددې په باره کښې کومه خبره آوريدلې او که نهٔ، که چا به خبر ورکړو چه مونږ آوريدلې نو شکر به ئې ويستو او وبه ئې وئيل :

[اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ الَّذِيْ جَعَلَ فِيْنَا مَنْ يَّحْفَظُ عَنْ نَبِيِّنَا سُنَّتَهٗ]

الله تعالىٰ لره شکر دې چه په مونږ کښې ئې داسې خلك پيدا کړل چه هغه زمونږ د نبي د سنتو حفاظت کوي، [سنن الدارمی : ١/٧٠ حديث رقم : ١٦١]

(په احاديثو باندې دغسې شکريه ويستل پکار دي، داسې نهٔ چه د يو عالم نه د رسول الله ﷺ سنت قربان کړي)۔

٤- د حلال او حرامو احتياط :

ابوبکر صديق ﷺ د حلالو او حرامو ډېر تمييز کولو، او دې باره کښې به ئې ډېر زيات احتياط کولو، چه د هغهٔ خولې ته يوه نوړئ هم د داسې مال نه داخله نشي چه هغه اشتباه والا وي۔

ددې په باره کښې ډېر واقعات دي :

١- د ابوبکر صديق ﷺ يو غلام وو چه هغهٔ له به ئې ټيکس ورکولو،

Maktaba Tul Ishaat.com

(غلامانو باندے ټیکس مقرریږی چه هغے ته خراج وائی چه د ورځے یو کیلو یا دوه کیلو یا نیمه کیلو کجورے پیدا کوه، ځانله هم خرچه پیدا کوه او ماله به هم دومره راکوے، دا دنده وه د هغهٔ د کسب او د طاقت په اندازه)

نو ابوبکر صدیق ﷛ به د غلام د مال نه خرچه کوله، نو هره ورځ چه به ئے مال راوړو نو دهٔ به ترے تپوس کولو چه دا دِے د کوم ځائے نه پیدا کړو،

یوه ورځ ابوبکر صدیق ﷛ ډیر وږے وو نو دے غلام طعام راوړو نو ابوبکر صدیق ﷛ بغیر د تپوس نه همداسے وخوړو نو غلام ترے تپوس وکړو چه بله ورځ به دِے تپوس کولو او نن دِے تحقیق ونکړو؟ نو هغهٔ روستو تپوس وکړو چه وایه د کوم ځائے نه دِے راوړے؟ نو هغهٔ ووئیل چه دا ما سره څه پیسے وے او ما په کهانت باندے حاصلے کړے وے، [كُنْتُ تَكَهَّنْتُ لِإِنْسَانٍ فِي الْجَاهِلِيَّةِ]

ما په جاهلیت کښے د یو انسان دپاره کهانت کړے وو،

(کهانت ترویتی توب ته وائی چه چا ته د غیبو خبر ورکړی چه صبا به دا دا کار کیږی، او په تا به دا دا احوال راځی او سامان به ارزانیږی، فالګر هم دا کارونه کوی، حال دا چه په راتلونکے زمانه صرف الله تعالیٰ پوهیږی، نور خلك چه ددے په باره کښے بغیر د اسبابو نه کومے دعوے کوی دا دروغ دی، البته کله نا کله یوه یوه خبره ئے رشتینی راوځی هغه پدے وجه چه پیریان ئے تابع وی او هغوی دآسمان نه آوریدلی وی، لیکن دا خلك ورسره یو کم سل (۹۹) دروغ ملګری کوی، ددے وجه نه د هغوی خبرو له اعتبار نشته)

نو ما دا کهانت کړے وو او هغه سړے راسره ملاؤ شو نو ما ته ئے اُجرت راکړو (ځکه چه حاجت ئے پوره شوے وو) او ما په هغے کښے دوه دهوکے کړے وے، یو دا چه کهانت مے کړے، دویم دا چه ما له د کهانت چل هم نهٔ راتلو [إِلَّا أَنِّي خَدَعْتُهُ] دهوکه مے ورکړه چه ما له کهانت راځی۔

نو ابوبکر صدیق ﷛ سخت خفه شو چه حرام خوراك زما تیر شو نو خولے ته ئے ګوته ننویسته او ټول خوراك ئے قے کړو او بیرته ئے ګوزار کړو۔

(حال دا چه دے پدے ګناهګار هم نهٔ دے، ځکه چه څوك په ناپوهئ کښے حرام وخوری نو پدے نهٔ ګناهګاریږی لیکن په باب د حرامو کښے قاعده دا ده چه حرام مال

Maktaba Tul Ishaat.com

ډیر شو که ته ړیرے ګناهګار هم نهٔ ئے البته هغه به په تا باندے بد اثر کوی، لکه ددے مثال دا دے چه یو تن زهر په خطاء سره وخوری نو اګرکه ګناهګار به نهٔ وی لیکن زهر خو به خپل اثر ښکاره کوی۔

او هغه بد اثر دا دے چه زړهٔ به درله خړ کړی، ایمان کښے به درله کمزوری پیدا کړی، عباداتو کښے به ډیر نقصان راولی، دعاء به ډیر نهٔ قبلیږی۔

ددے وجه نه دا ډیره سخته خبره ده، که یو تن کافر وی د هغهٔ دعاء قبلیږی لیکن د حرام خور دعاء نهٔ قبلیږی۔

نو ابوبکر صدیق رضی الله عنه پدے وجه الُټئ کړو چه دے مال نه زما غوښه جوړه نشی۔

او ابو بکر صدیق رضی الله عنه دا طریقه د نبی ﷺ نه زده کړے وه چه رسول الله ﷺ به هم خپله دغه شان احتیاط کولو،

یوه ورځ رسول الله ﷺ ته یوے زنانه (ام عبد الله رضی الله عنها د شداد بن اوس رضی الله عنه خور) پئ راولیږل څکه چه رسول الله ﷺ روژه وو او اوږده ورځ وه او سخته ګرمی وه،

نو رسول الله ﷺ د هغے راوړونکے استازے د پئ سره بیرته ورولیږلو چه دا پئ ډیے د کوم ځائے نه پیدا کړی؟ هغے وویل : زما کور کښے ګډه ده، ورته ئے وویل : ګډه د کوم ځائے نه وه؟ هغے وویل : یارسول الله ! ما په خپل مال باندے د فلانی ځائے نه اخستے وه۔ بیا ئے هغه پئ استعمال کړل۔

صبا له هغه زنانه راغله او دا شکایت ئے وکړو چه یارسول الله ! ما تا ته پئ رالیږلی وو دے دپاره چه په تا مے رحم کولو چه ډیره اوږده ورځ ده او سخته ګرمی ده او رسول الله ﷺ روژه دے او تا دومره تحقیق وکړو چه ماپسے ډیے سرے راولیږلو دا ولے ؟ نبی ﷺ وفرمایل : [وَبِهٰذَا اُمِرَتِ الرُّسُلُ] الله رب العزت تولو پیغمبرانو ته دا امر کړے،

[اَنْ لَا تَأْكُلَ اِلَّا طَيِّبًا وَلَا تَعْمَلَ اِلَّا صَالِحًا]

چه حلاله به خوری او نیک عمل به کوی۔ لکه قرآن کریم کښے دی :

﴿ يَا اَيُّهَا الرُّسُلُ كُلُوْا مِنَ الطَّيِّبَاتِ وَاعْمَلُوْا صَالِحًا ﴾ [المؤمنون : ٥٢]

اے رسولانو ! حلال خورئ او نیک عمل کوئ۔ [اسد الغابة ٣/٤٤٨]

(دا واقعات ددے دپاره ذکر کیږی چه مونږ له هم دغه شان د حلال او حرام تمییز پکار دے)۔

Maktaba Tul Ishaat.com

اُوس زمونږ د زمانې دهوکو او خیانتو ته وګوره چه په څه طریقه سره صرف مال پیدا کوی، پردی مالونه غلا کوی، ډنډې وهی، دو نمبر څیزونه خرڅوی، په دال او کهلولو کښې شړې اچوه د درون والی دپاره، دروغ وائی، انسانیت دِې تباه شی خو چه ددۀ لاس ته یو څو روپیۍ راشی، دا څومره ظلم او زیاتے په عالم کښې شروع دے، او دا خلك به هم بیا د جنت طمعداروی، او بیا وائی چه زما دعاګانې ولې نۀ قبلیږی، او دا احوال ولې خراب دی او خپل عملونو ته نۀ ګوری۔

۲- د حلال خورئ بله واقعه :

کله چه ابوبکر صدیق ﷺ خلیفه شو نو یوه ورځ نیمه پس یا یو څو ورځے پس ئې څادرې راواخستې (چه د کپړو کاروبار ئې کولو) او یو ځائے ته ئې روان کړل چه هغه خرڅې کړی، نو پدے کښې عمر فاروق ﷺ او ابوعبیده بن الجراح ﷺ او عبد الرحمن بن عوف ﷺ ورسره ملاو شو چرته ځې ؟

هغۀ ووئیل : د کور دپاره خرچه پیدا کوم۔ نو عمر بن الخطاب ﷺ ورته ووئیل : آیا تا ته پته شته چه تا ته د مسلمانانو لوی کار حواله شویدے تۀ چه په دے کارونو کښې ولګیږے نو تا نه به مهم مقصد پاتې شی،

نو ابوبکر صدیق ﷺ ورته ووئیل : زما اهل به بیا د کوم ځائے نه خوراك کوی؟ (دنیا خو دار الاسباب دے) نو هغوئ ورته ووئیل چه د مسلمانانو په بیت المال کښې به ستا دپاره څه تنخواه مقرر کړو، ابوعبیده بن الجراح ﷺ ته ئې ووئیل : تۀ ددے امت امین ئې تۀ ورله تنخواه مقرر کړه نو هغۀ ورله د ګوزارے والا تنخواه مقرر کړه چه ایله د کور ګوزاره ئې پرے کیدله۔

نو ابوبکر صدیق ﷺ د خلکو د اُوهامو د ختمولو دپاره او د ځان نه د بد ګمانئ لرے کولو دپاره خلك راجمع کړل او هغوئ ته ئې دا اعلان وکړو چه اے خلکو !

[إِنِّيْ شُغِلْتُ بِأَمْرِ الْمُسْلِمِيْنَ] زۀ د مسلمانانو په کارونو مشغوله شوے یم،

(څکه چه خلافت خو ټول خدمتونه او تکلیفونه برداشت کول دی، څکه چه حکومت خو دے ته نۀ وائی چه انسان خپله خیټه ځربه کړی بلکه دا د عوامو په خدمت کښې خپل ځان ستړے کول، وږے کول، او ځان باندے تکلیف اچول دی چه عوامو ته فائده ورسیږی او دا خلك الله تعالیٰ والا جوړ شی او د دوئ دنیا او آخرت

Maktaba Tul Ishaat.com

دواړه جوړ شي، دے ته خلافت وائي ځکه چه د مشرانو نه به د عوام الناس په باره کښے تپوس کيږي)

[فَسَيَأْكُلُ آلُ اَبِيْ بَكْرٍ مِنْ هٰذَا الْمَالِ وَيَحْتَرِفُ لِلْمُسْلِمِيْنَ فِيْهِ]

نو ابوبکر او د هغهٔ اهل به ددے مال د بیت المال نه خوراك کوی (کوم حاصلات چه حکومت ته راځي د زکاة، او غنیمتونو وغیره نه) او (ددے په بدله کښے به) د مسلمانانو دپاره پدے کښے کار کوی۔ (ددے د زیاتولو کوشش به کوی)

دے ته د بدګمانی زائل کول وائی دا هم ضروری خبره ده۔

ددے حدیث نه دا معلومه شوه چه يو سړے د الله تعالیٰ د دین په مُهم کار باندے مصروف شو نو هغهٔ له د مسلمانانو نه تنخواه اخستل روا دی، دا خبره ددے دپاره کیږی چه زمونږ پدے زمانه کښے هغه څوك چه د الله تعالیٰ په دین باندے صحیح نهٔ پوهیږی نو دین په غلط شکل باندے پیش کوی، او علماؤ او اهل حقو باندے همیشه بدګمانی کوی او دے دپاره د کفارو او ګمراهانو د طرف نه کوششونه شروع دی، په اسلام باندے د بد ګمان پیدا کولو دپاره،

نو بعض خلکو کښے دا خبره ذکر کیږی چه علماء او ملیان تنخواه خوارهٔ دی او د دوئ پسے مونځ نهٔ کیږی، نو دا سو چه د خپل خواهش خبره ده، نهٔ پدے باندے دلیل کوم آیت شته او نهٔ حدیث او نهٔ د یو صحابی قول او نهٔ د یو معتبر عالم اګرکه د علماؤ اقوال حجت نهٔ وی بلکه تائید وی۔

بلکه صحیح خبره دا ده چه څوك چا ته قرآن کریم ښائی (چه دا څه وړه خبره نهٔ ده) یا د رسول الله ﷺ احادیث ښائی، یا د الله تعالیٰ د دین تعلیم ورکوی، د دین په نورو کارونو مصروف دے نو هغهٔ ته د کاروبار کولو موقعه نهٔ ملاویږی نو اسلام وئیلی دی چه هغوی دے هم تنخواه واخلی، د صحابه کرامو مجاهدینو دپاره به پنځه نیم زره (۵۵۰۰) روپئ تنخواه مقرر وه۔ دا د هغوی د کال خرچه وه۔

او دے باره کښے ډیر دلیلونه د جواز موجود دی چه دا ځائے د هغے د بیان نهٔ دے۔

تاریخی روایتونو کښے راغلی دی چه یوه ورځ ابوبکر صدیق ﷺ ته خپل کور والو ووئیل چه زمونږ څه خوږو ته زړهٔ شوے لکه حلواء وغیره۔ نو هغهٔ ووئیل چه ما سره خو نوره خرچه نشته سوئ د دغه خرچے نه کومه چه ستاسو کیږی نو ددے نه زیاته ما

سره نشته، نو ددهٔ بی بی به ددے تنخواه نه معمولی څه بچت شروع کړو تردے چه میاشت نیمه کښے څه بچت وشو نو هغه ئے ابوبکر صدیق ﷛ ته ورکړے چه پدے بانډے مونږ له څه خواږهٔ راوړه نو هغهٔ ورته وویل چه دا د کوم ځائے نه راغلے ؟ هغے وویل چه دا مونږ ددے خپلے تنخواه نه بچت کړی نو ابوبکر صدیق ﷛ راولګیدو او دغه مال ئے هم په بیت المال کښے واچولو او دائے وویل چه معلومیږی چه دا زمونږ د حاجت نه زیاته ده۔

روستو به راشی چه ابوبکر صدیق ﷛ چه کله وفات کیدو نو عمر فاروق ﷛ ته ئے درے څلور څیزونه ولیږل چه دا مونږ د بیت المال نه اخستی وو، پدے به مونږ فائده اخسته، زهٔ چه مړ شوم نو دے کښے د میراث والو حق نشته، دا بیرته بیت المال کښے جمع کړه۔ عمر ﷛ سخت وژړل او دائے وویل : [لَقَدْ أَتْعَبْتَ مَنْ بَعْدَكَ]

تا خو د خپل ځان نه روستو خلك ستړی کړل، هغهٔ به څنګه ژوند تیره وی، چه تهٔ دومره معمولی څیزونو کښے احتیاط کوے نو روستنو خلفاؤ ته خو به ددے تابعداری کول ډیر ګران شی۔

۵- صفت: رازداری :

ابوبکر صدیق ﷛ صاحب السرّ هم وو۔ د نبی ﷺ رازونه به ئے ساتل۔

دا هم په انسان کښے ښکلے صفت دے، یوه ورځ حفصه رضی الله عنها کونډه شوه نو عمر فاروق ﷛ ابوبکر صدیق ﷛ ته پیش کړه چه دا تهٔ په نکاح واخله، نو هغهٔ ورله هیڅ جواب ورنکړو۔ سرئے خکته کړو او غلے شو، عثمان ﷛ ته ئے پیش کړه چه زما دا لور تهٔ وکړه نو هغهٔ وویل : زما ورته حاجت نشته۔

عمر ﷛ وائی چه زما عثمان ﷛ ته دومره غصه نهٔ وه ځکه چه هغهٔ صفا خبره وکړه او ابوبکر ﷛ ته په غصه وم چه ما له هیڅ جواب نهٔ راکوی۔

(ددے روایت نه دا فائده معلومیږی چه خپله خور لور به په نیکانو خلکو باندے پیش کوے، چه لور خور دے غټه شوه نو داسے به نهٔ وائے چه په ما باندے به ډیرے جرګے راځی لکه د پښتنو دا عادت دے چه څلور پنځو جرګو پس ئے ورکوی، دے باندے

Maktaba Tul Ishaat.com

خپله لور درنه وی، نه، بلکه دا د بد اخلاقۍ طریقه ده او دا د سپکولو طریقه ده۔ کمال دا دے چه نیك سړی ته ته خپله خور لور پیش کړے لکه امام بخاریؒ ددے حدیث نه دا فائده راوخکلے ده۔

نو بله ورځ رسول الله ﷺ د عمر ﷛ نه مطالبه وکړه چه ته زما سخر شے نو ښه به وی (د هغهٔ د محبت د وجه نه) نو هغهٔ په نکاح باندے ورکړه، هرکله چه نکاح وشوه نو ابوبکر ﷛ لاړو او د عمر ﷛ سره ملاؤ شو او دائے ورته وویل چه شاید ته به ما باندے غصه شوے ئے چه تا په ما باندے حفصه (رضی الله عنها) پیش کړه او ما تا ته هیڅ جواب درنکړو ؟۔

عمر ﷛ وفرمایل : آؤ، نو صدیق اکبر ﷛ ورته وویل چه ددے وجه دا وه چه ما تا ته څکه جواب درنکړو چه رسول الله ﷺ ددے یوه ورځ تذکره کړے وه نو که ما تا ته څه خبره کړے وے نو یو خو د رسول الله ﷺ په اراده باندے دپاسه بله خبره راتلله،

او بله دا چه رسول الله ﷺ ددے تذکره کړے وه نو که ما تا ته دا حال وئیلے وے چه رسول الله ﷺ ددے تذکره کړے ده نو د هغهٔ راز به خراب شوے وے،

[فَلَمْ اَكُنْ لِأُفْشِيَ سِرَّ رَسُوْلِ اللّٰهِ ﷺ وَلَوْ تَرَكَهَا لَقَبِلْتُهَا]

نو ما د رسول الله ﷺ راز نهٔ ښکاره کولو او که چرے هغهٔ پریخودے وے نو ضرور به ما قبلولے۔ [بخاری ٤٠٠٥]

(پدے طریقه ئے د هغهٔ دلجوئی وکړه، او د مسلمان د زړهٔ خیال ساتل لازم دی، داسے به نهٔ وائے چه خپل کار به کوی، نه، بلکه که یو تقصیر انسان نه وشی نو هغهٔ ته به عذر وکړے شی چه زهٔ پدے فلانی کار کښے معذور وم)

٦- لور ته ادب ورکول :

دا هغه انسان وو چه دهٔ به د نبی ﷺ په باره کښے خپلو لونړو ته هم ادب ورکولو تردے چه عائشه رضی الله عنها وادهٔ شویده هغے له به ئے هم ادب ورکولو چه رسول الله ﷺ ته معمولی شان تکلیف هم ستا د لاس نه ونهٔ رسیږی، د ښځے او د خاوند خپل مینځ کښے آزادی وی نو داسے نهٔ چه ته کشره جینئ ئے او هغهٔ ته تکلیف ورنکړے۔

Maktaba Tul Ishaat.com

یوه ورځ د رسول الله ﷺ او د عائشې رضي الله عنها ترمینځ خبرې وې،
(لکه د ښځې او خاوند ترمینځ داسې خبرې راځي لیکن هغه متقیان وو، داسې غلطې خبرې هم نهٔ وې) نو ابوبکر صدیق ﷺ رانـوتـو او عائشې رضي الله عنها ته په غصه شو او دا ئې ورتـه وویـل چه تهٔ څنګه په نبي ﷺ باندې آواز پورته کوې او لاس ئې اُوچت کړو هغه ئې وهله نو پدې کښې نبي ﷺ ورله لاس ونیولو چه نهٔ به ئې وهې.
ابوبکر صدیق ﷺ ډیر سخت غصه وو او د غصې په حالت کښې بهر ووتو نو نبي ﷺ عائشې رضي الله عنها ته وفرمایل : چه ګوره د سړي نه مې څنګه خلاصه کړې، ګنې تهٔ خو ئې وهلې.
بله ورځ بیا ابوبکر صدیق ﷺ راغلو، د عائشې رضي الله عنها او د رسول الله ﷺ خپل مینځ کښې د مینې محبت خبرې وې، نو ابوبکر صدیق ﷺ وفرمایل: یارسول الله لکه څنګه چه زهٔ مو په جنګ کښې داخل کړې وم نو اُوس مې په صلح کښې هم داخل کړئ نو نبي ﷺ ورته وفرمایل : چه بالکل مونږ دا کار کړې، تهٔ مونږ په صلح کښې هم داخل کړې ئې، راځه.
د عائشې رضي الله عنها نه په غزا د بني المصطلق کښې په لاره کښې امیل ورك شوې وو خلك ورپسې ګرځیدل، نو ابوبکر صدیق ﷺ ته خلکو وویل چه عائشې رضي الله عنها نبي ﷺ او نور مسلمانان بند کړیدي اُوبهٔ پدې ځائې کښې نشته او د مانځه وخت هم دې، نو پریشاني ده،
رسول الله ﷺ د سهار مانځه وخت ته نزدې اُودهٔ شوې وو ځکه چه د شپې ئې تهجد کړي وو، عائشه رضي الله عنها فرمائي : رسول الله ﷺ زما په پتون باندې سر ایخودې اُودهٔ وو، پدې کښې ابوبکر صدیق ﷺ راغې او عائشې رضي الله عنها ته ئې سختې خبرې وکړې او دا ئې وویل :

[حَبَسْتِ رَسُوْلَ اللّٰهِ ﷺ وَالنَّاسَ]

تا رسول الله ﷺ او خلك ټول ایسار کړیدي، تردې چه په ګوتو سره ئې په تشو کښې نیغه نیغه ووهله،
(عائشه رضي الله عنها فرمائي : زهٔ نهٔ خوزیدم ددې وجه نه چه رسول الله ﷺ چرته راویښ نشي نو پدې کښې د سهار مانځه وخت راغې او اُوبهٔ نهٔ وې نو الله تعالیٰ د تیمم

Maktaba Tul Ishaat.com

آیت راولیږلو، نو په دې کښې اُسید بن حُضَیر رضی الله عنه وفرمایل:

[مَا هِيَ بِأَوَّلِ بَرَكَتِكُمْ يَا آلَ أَبِي بَكْرٍ]

اې د ابوبکر کورنئ! دا ستاسو اولنۍ برکت نهٔ دې بلکه ستاسو په وجه الله تعالیٰ امت ته ډیر خیرونه او برکات ورکړیدی. دا یوه پاکه کورنئ او ښکلې کورنئ وه.

ددې وجه نه مور او پلار له پکار دی چه خپلې لور ته د خاوند په باره کښې وصیت وکړی چه د خاوند ادب او احترام به کوی، که کور کښې کومه خبره کیده نو دلته به ئې نهٔ راوړی، جنګ او شرونه به نهٔ جوړه وی، داسې نهٔ چه مور ورسره ملګری شی او شرونه ورته ښائی چه داسې کوه او خوانیې ته داسې جواب ورکوه، نو د هغې زندګی هم خرابه کړی او خپل دین هم تباه کړی، لکه بعض زنانو کښې دا مرض وی.

۷- امر بالمعروف او نهی عن المنکر:

ابوبکر صدیق رضی الله عنه په امر بالمعروف او نهی عن المنکر کښې هم یو ښهٔ ځوان وو، پدې باندې حرصناك وو چه خلك په دین کښې داخل شی،

په یو حدیث کښې راغلی دی چه نبی صلی الله علیه وسلم کله خلکو ته دعوت ورکړو او په مکه کښې اته دیرش (۳۸) کسان مسلمانان تیار شول، نو ابوبکر صدیق رضی الله عنه وویل: یارسول الله! بهر اُوځو، د الله تعالیٰ نبی وفرمایل: مونږ کم یو، نهٔ ووځو، که ځان راښکاره کړو نو مشرکان زیات دی، مؤمنانو ته به تکلیفونه ورکړی، ابوبکر صدیق رضی الله عنه وویل: چه خامخا به اُوځو.

نو مونږ اته دیرش (۳۸) کسان مسجد حرام ته راووتلو، مسلمانان مو تقسیم کړل، څه مو یو ځائے او څه بل ځائے کینول نو پدې کښې ابوبکر صدیق رضی الله عنه پاڅیدو او الله تعالیٰ او رسول الله صلی الله علیه وسلم ته ئې دعوت ورکړو،

وئیلې شی چه دا اولنئ خطبه وه چه ابوبکر صدیق رضی الله عنه ووئیله.

کافرو ته د نن نه مخکښې چرته ښکاره دعوت نهٔ وو ورکړے شوے. تول ناست وو او ښکاره دعوت ئې ورکړو چه په الله تعالیٰ باندې ایمان راوړئ او پدې رسول باندې.

نو خلك راپاڅیدل ابوبکر صدیق رضی الله عنه ئې ډیر ووهلو او نور مسلمانان چه مختلف

Maktaba Tul Ishaat.com

ناست وو، هغوی ئې هم ډیر ووهل لیکن هغوی هم دوئ لره برابر کړل او په مسجد کښې ډیر سخت جنګ وشو.

(الرحیق المختوم ص ۹۷، السیرة الحلبیة ۱/٤۷٥)

ابوبکر صدیق ﷺ د دعوت الی الله سره ډیره مینه وه.

❁ په مدینه کښې به کله کله یهودو خواته ورتللو او هغوئ ته به ئې دعوت ورکولو چه ایمان راوړئ.

تفاسیر وکښې راځی چه یوه ورځ د یهودو بیت الْمِدْرَاس (مدرسې) ته ورغلو، هلته یو ملا ناست فنحاص بن عَازُوْرَاء او بل ملا هم وو اَشْیَع ئې نوم وو، دواړو ته ئې دعوت ورکړو چه تاسو ته ښه پته ده چه محمد ﷺ د الله تعالیٰ رسول دے، او په پخوانو کتابونو کښې ئې هم دا لیکلی دی، نو تاسو راشئ ایمان راوړئ، تاسو ولې کفر کوئ؟،

او الله تعالیٰ درله ډیر مالونه درکړیدی، د الله تعالیٰ په دین باندې دا مالونه ولګوئ، نو دې یهودی ملا ډیره وړانه خبره وکړه

[اِنَّ اللّٰهَ فَقِیْرٌ وَّنَحْنُ اَغْنِیَاءُ] (العیاذ بالله)

چه الله تعالیٰ مونږ ته محتاج دے او زمونږ الله تعالیٰ ته هیڅ حاجت نشته.

دا خبره په ابوبکر صدیق ﷺ باندې ډیره بده ولګیده نو لاس ئې اُوچت کړو او دغه سړی ئې په مخ باندې ووهلو چه ته زما په مخامخ د الله تعالیٰ بے ادبی کوې،

داسې وخت کښې د داسې سړی وهل پکار دی چه کله دې وس کیده.

نو الله عز وجل آیتونه نازل کړل او ددې یهودیانو بدی ئې بیانه کړه.

﴿لَقَدْ سَمِعَ اللّٰهُ قَوْلَ الَّذِیْنَ قَالُوْا اِنَّ اللّٰهَ فَقِیْرٌ وَّنَحْنُ اَغْنِیَاءُ، سَنَكْتُبُ مَا قَالُوْا وَقَتْلَهُمُ الْاَنْبِیَاءَ بِغَیْرِ حَقٍّ وَّنَقُوْلُ ذُوْقُوْا عَذَابَ الْحَرِیْقِ﴾ [آلعمران : ۱۸۱]

یقیناً الله تعالیٰ د هغه کسانو خبره واوریده چه وې ویل : الله تعالیٰ فقیر دے او مونږ مالداره یو. دا خبرې مونږ لیکو، او دوئ پیغمبران وژلی دی، او سخت سوزونکے عذاب به ورکړم. نو دا آیتونه د ابوبکر صدیق ﷺ د دعوت نه بعد نازل شول.

ابوبکر صدیق ﷺ یوه ورځ تقریر کښې وفرمایل :

❁ اے خلکو! تاسو دا آیت لولئ :

Maktaba Tul Ishaat.com

﴿ يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لَا يَضُرُّكُم مَّن ضَلَّ إِذَا اهْتَدَيْتُمْ ﴾ (المائدة: ۱۰۵)

(اې خلکو! تاسو ته هیڅ ضرر نهٔ درکوی هغه څوك چه ګمراه شو کله چه تاسو څپله په هدایت باندې یئ).

نو ددې دا مطلب هیڅ کله نهٔ دې چه امر بالمعروف او نهی عن المنکر مهٔ کوئ (که خلك ګمراه کیږی څپل کار به کوی، بلکه ما د رسول الله ﷺ نه ارشاد آوریدلے چه فرمائیلی ئے دی:

[مُرُوْا بِالْمَعْرُوْفِ وَانهوا عَنِ الْمُنْكَرِ]

د نیکئ دعوت کوئ او د بدئ نه منع کوئ، (نو رسول الله ﷺ د آیت په مقصد ښه پو هیدو دا ئے مراد وو)

او په بل روایت کښې دی: تاسو ددې آیت غلط مطلب اخلئ، حال دا چه ما د رسول الله ﷺ نه آوریدلی دی چه فرمائیلی ئے دی:

[اِنَّ النَّاسَ اِذَا رَاَوُا الْمُنْكَرَ وَلَا يُغَيِّرُوْهُ اَوْشَكَ اللّٰهُ اَنْ يَّعُمَّهُمْ بِعِقَابِهٖ]

[مسند احمد: ۱٦ باسناد صحیح، الترمذی: ۳۰۵۷]

کله چه خلك یو ناروا کار وینی او هغې باندې انکار ونکړی نو نزدې ده چه الله تعالیٰ به دې ټولو خلکو ته سزا ورکړی.

۷- د ابوبکر رضی الله عنه صدقات:

سورة اللیل د ابوبکر صدیق ﷺ په باره کښې نازل دې، روایاتو کښې دی هرکله چه ابوبکر صدیق ﷺ ایمان راوړو نو ډیر مالداره وو، ددهٔ سره څلوېښت زره (۴۰۰۰۰) درهم وو،

بعض روایاتو کښې دی: څلوېښت زره (۴۰۰۰۰) دنانیر وو. (دینار ډیر قیمتی وو) (السیرة الحلبیة)

نو د ایمان د راوړو نه بعد به دهٔ څپل مال په اسلام لګولو، په رسول الله ﷺ باندې به ئے خرچه کوله، او په مکه کښې به چهٔ کوم غلامان وو، او زنانه به وې او اسلام به ئے راوړې وو، او خلکو به ډیر وهل او په عذابول به ئے او ډیر به ئے پریشانه کول، نو دهٔ به په

Maktaba Tul Ishaat.com

خپل مال اخستل او آزادول به ئے، (چه کله به غلام آزاد شو نو وهل تکول به ئے کم شول) نو دۀ اوه (۷) کسان اخستی وو چه څه زنانه وے او څه سړی او د الله تعالیٰ دپاره ئے آزاد کړی وو۔

ددے وجه نه رسول الله ﷺ ارشاد فرمائیلے وو:

[مَا نَفَعَنِيْ مَالُ اَحَدٍ قَطُّ مَا نَفَعَنِيْ مَالُ اَبِيْ بَكْرٍ]

[الترمذی : ۳٦٦۱ صحیح]

ما ته د هیچا مال دومره فائده نۀ ده راکړے څومره چه د ابوبکر صدیق رضی الله عنه مال راکړے ده۔

او ما هرچا ته خپله بدله ورکړیده صرف ابوبکر ته مے نۀ ده ورکړے، الله تعالیٰ به ئے دۀ له په قیامت کښے ورکوی۔

او دا به ئے فرمایل: [رَحِمَ اللّٰهُ اَبَا بَكْرٍ زَوَّجَنِيْ اِبْنَتَهٗ]

الله تعالیٰ دے په ابوبکر باندے رحم وکړی چه ما ته ئے خپله لور په نکاح راکړه (دا د نبی ﷺ شکر ګذاری وه، چه چا به ورسره احسان وکړو نو هغه به ئے یادولو داسے به ئے نۀ وئیل لکه د بعض خلکو په شان چه هسے به ئے هم چا ته ورکوله نو څه وشو چه ماله ئے راکړه، نه بلکه چا چه درله خور لور درکړه نو دا ئے ستا ډیر زیات اکرام وکړو)

[وَحَمَلَنِيْ اِلَى دَارِ الْهِجْرَةِ وَاَعْتَقَ بِلَالًا]

او مدینے ته ئے هم زۀ بوتلم او بلال (رضی الله عنه) ئے هم آزاد کړیدے۔

عائشه رضی الله عنها فرمائی: نبی ﷺ به د ابوبکر صدیق په مال کښے داسے تصرف کولو لکه خپل مال کښے ئے چه کوی۔

(داسے وو لکه ددے دواړو مال چه شریك وی، کله چه به مال ختم شو نو نبی ﷺ به ابوبکر صدیق رضی الله عنه د تجارت پسے هم لیږلو، چه تۀ شام ته لاړ شه تجارت وکړه، هغه چه به مال راوړو نو بیا به ئے په نبی ﷺ هم لګولو او په خپله خرچه کښے هم)۔

ابوبکر صدیق رضی الله عنه خپل مال دومره ولګولو چه د هجرت په وخت کښے ورسره صرف پنځه زره (۵۰۰۰) روپۍ پاتے شوے وے بیا د هجرت په موقعه ئے هغه هم راواخستے او په نبی ﷺ باندے به ئے لګولے او کور ته ئے هیڅ هم پرینښودل لکه په واقعه د هجرت کښے مونږ ذکر کړیدی۔

Maktaba Tul Ishaat.com

۸- د رسول الله ﷺ سره احسانات :

ابوبکر صدیق ﷜ ته الله تعالیٰ ډیر فضیلتونه او خیرونه ورکړی وو، چه انسان ئې د حدیثو د کتابونو نه راجمع کوی نو تعجب کوی۔ او آیا دا فضیلت ئې کافی نهٔ دے څه چه نبی ﷺ ارشاد فرمائیلے دے :

[اِنَّ مِنْ اَمَنِّ النَّاسِ عَلَيَّ فِیْ صُحْبَتِهٖ وَمَالِهٖ اَبُوْبَكْرٍ]

د ټولو خلکو نه زیات احسان کونکے زما په ملګرتیا او مال کښے ابوبکر صدیق ﷜ دے۔

او نبی ﷺ دا هم فرمایلی وو :

[لَيْسَ مِنْ اَحَدٍ اَمَنَّ عَلَيَّ فِیْ اَهْلٍ وَمَالٍ مِنْ اَبِیْ بَكْرٍ]

[السیرة الحلبیة ۲/ ۲۰۰]

په ما باندے د ابوبکر صدیق ﷜ نه په مال او اهل کښے زیات احسان کونکے بل نشته۔

[وَلَوْ كُنْتُ مُتَّخِذًا خَلِيْلًا لَاتَّخَذْتُ اَبَا بَكْرٍ خَلِيْلًا]

که ما چرته خلیل (دوست) نیولے نو ابوبکر به مے خلیل نیولے وے (خلیل هغه دوست ته وائی چه زړهٔ ئې د هغهٔ د محبت نه ډک وی) لیکن د اسلام ورورولی به ورسره کوم او حقیقی دوستی زما د رب العالمین سره ده۔

مطلب دا چه که د الله تعالیٰ نه سویٰ ما بل چا سره دوستی کولے نو ما به ابوبکر صدیق ﷜ په خپل زړهٔ کښے ننویستے وے او زما ټول زړهٔ به دهٔ نیولے وے، لیکن دهٔ سره د اسلام دوستی کوم او همدا کافی ده۔

دے ته فکر وکړه چه د اسلام درے سوه شپیته خویونه ټول په ابوبکر صدیق ﷜ کښے موجود وو، نو دا به کوم کامل انسان وو۔

Maktaba Tul Ishaat.com

۹- د ابوبکر صدیق ﷺ حیاء:

ابوبکر صدیق ﷺ کښې دومره حیاء وه چه په خپل بیان کښې به ئې دا خبره کوله چه ې خلکو! د الله تعالیٰ نه حیاء وکړئ، ځکه چه زهٔ د الله تعالیٰ نه دومره حیاء کوم چه زهٔ کله (قضائے حاجت دپاره) بهر صحراء ته ځم نو په سر باندې څادر اچوم د الله تعالیٰ نه شرمیږم، او چه بیت الخلاء ته ننوځم نو دیوال پورې خپله شا ولګوم د الله تعالیٰ نه حیاء راځی۔

(حال دا چه دا د انسان ضرورت دې، لیکن بعض نفسونه داسې وی چه الله تعالیٰ پکښې ډیره زیاته حیاء اچولې وی او عامو صحابه کرامو رضی الله عنهم کښې همدا صفت ښه په کامله طریقه موجود وو، لکه ابو موسیٰ اشعری ﷺ او نورو صحابه کرامو په باره کښې نقل دی چه هغوئ به وئیل چه مونږ کله غسل کوو نو د الله تعالیٰ نه حیاء راځی۔

سعید بن المسیب یو تابعیؒ دې هغهٔ به فرمائیل: ارمان چه په یو کانړی کښې الله تعالیٰ زمونږ غذاء اچولې وې او ډیر خوراکونه مو نهٔ کولې ځکه چه:

[اِنِّیْ اِسْتَحْیَیْتُ مِنْ رَبِّیْ مِنْ کَثْرَةِ تَرَدُّدِیْ اِلَی الْخَلَاءِ]

ماله د خپل رب نه حیاء راځی چه زهٔ بار بار قضائے حاجت ته ځم۔

(بعض خبرې داسې وی چه زمونږ په شان خلکو ذهنونه هم هغې ته نهٔ رسیږی ځکه چه هغهٔ کښې دا صفتونه نهٔ وی)

په ابوبکر صدیق ﷺ کښې د ټولو صحابه کرامو نه زیات پوهه وه لکه علی بن ابی طالب ﷺ او ابو سعید خدری ﷺ فرمائیلی وو چه ابوبکر ﷺ په مونږ کښې ډیر عالِم وو، لکه چه دا خبره وړاندې ذکر شویده۔

۱۰- صفت: بهادری:

علی ﷺ یوه ورځ بیان کولو نو خلکو ته ئې ووئیل: تاسو نه تپوس کوم

Maktaba Tul Ishaat.com

[مَنْ اَشْجَعُ النَّاسِ؟]

د خلکو نه غټ بهادر څوك دے؟ خلکو ووېل : تهٔ ئے۔ هغهٔ ووېل : ستاسو دا خبره خو صحیح ده چه زهٔ کوم دشمن سره ملاؤ شوے یم نو ضرور ما په هغهٔ باندے غلبه کړېده لیکن زما تپوس دا دے چه اشجع الناس (د ټولو خلکو نه زیات بهادر) څوك دے؟ نو هغوی غلی شو بیا ئے ووېل : د ټولو نه زیات بهادر ابوبکر صدیق ؓ دے،

وجه دا ده چه رسول الله ﷺ یوه ورځ مونځ کولو نو مشرکانو پرے راټوپ کړو چا یو طرف ته راخکلو او چا بل طرف ته، لکه په یو تن باندے چه ډیر دشمنان راجمع شوی وی، او مونږ ټول ولاړ وو، هیڅ مو نشو کولے، داوس مو نهٔ کیده چه دے مجلس ته ورشو او د نبی ﷺ خلاصے وکړو۔

پدے کښے ابوبکر صدیق ؓ راغے، یو تن ئے د مرئ نه ونیولو اخوا ئے گوزار کړو بل ئے ونیولو دے خوا ئے گوزار کړو او دا ئے ووېل :

[اَتَقْتُلُوْنَ رَجُلًا اَنْ يَّقُوْلَ رَبِّىَ اللّٰهُ وَقَدْ جَاءَ كُمْ بِالْبَيِّنَاتِ]

آیا تاسو هغه سړے وژنئ چه هغه وائی رب زما الله تعالیٰ دے او تاسو ته ئے ښکاره دلیلونه او معجزات راوړیدی۔

مشرکانو نبی ﷺ ته وئیلی وو : [اَنْتَ الَّذِىْ جَعَلْتَ الْآلِهَةَ اِلٰهًا وَّاحِدًا]

تهٔ هغه سړے ئے چه د ډیرو معبودانو (باباگانو) نه یو معبود (بابا) جوړه وے۔

نو ابوبکر صدیق ؓ ورته ووېل چه دے یو الله تعالیٰ ته دعوت ورکوی نو پدے کښے څه چل دے، پدے کښے څه نقصان دے؟۔

پدے کښے مشرکان راولگیدل ابوبکر صدیق ؓ ئے دومره ووهلو چه دے هوشئ حالت ته ورسیدو۔

❁ بیا علی ؓ د ابوبکر صدیق ؓ حالت پس د مرگ نه بیانولو یو څادرئے را اُوچت کړو او ډیر ئے وژړل او سترگے ئے پاکے کړے، او دا ئے ووېل :

مؤمن د آل فرعون غوره دے او که ابوبکر صدیق ؟ نو بیا ئے خلکو ته ووېل چه ولے جواب نهٔ راکوئ ؟

نو خپله ئے ووېل : د ابوبکر صدیق ؓ یو ساعت د زرو ساعتونو د مؤمن د آل فرعون نه غوره دے، ځکه چه د هغه په باره کښے ذکر دی، [يَكْتُمُ اِيْمَانَهٗ] یعنی هغهٔ به د

خلکو نه ایمان پټ ساتو۔

[وَهٰذَا قَدْ اَعْلَنَ اِيْمَانَهٗ] او دے شخص خپل ایمان د اولے ورځے نه ښکاره کړو چه زۀ په محمد رسول الله ﷺ باندے ایمان راوړنکے یم۔

(لکه زمونږ پدے زمانه کښے هم بعض خلك يريږی، په يو ځائے کښے هم په سنت طريقه عمل نشی کولے، ځان نشی راښکاره کولے، بيا به راته خلك بد بد نومونه وائی او بيا به څوك دكان ته نۀ راځی يا به راته پۀ علاقه کښے لانجه جوړه شی)۔

❀ يوه ورځ ابوبكر صديق كورته لاړو، وے كتل چه د قريشو څه هلكان ددۀ كورته راغلی وو او هغه ددۀ د بی بی (اسماء بنت عميس رضی الله عنها) خپلوان وو، ابوبكر صديق ﷺ چه كور كښے دا حالت وليدو چه پردی سړی زما كورته راغلی دی او دے نه ځو ستر او پرده پكار ده او زما بے اجازته راننوتی دی نو پدے ډير خفه شو، نو د هغۀ عادت دا وو چه په هره خبره كښے به ئے رسول الله ﷺ ته شكايت كولو (مشر ته به ئے خبره سپارله) نبی ﷺ ورته زيرے وركړو:

[قَدْ بَرَّأَهَا اللّٰهُ] چه ستا زوجه الله تعالىٰ ددے نه بچه ساتلے ده چه څه غلط خيال وكړی۔ (ددے نه خاطر جمع وسيږه) نو هغۀ خوشحاله شو (چه د الله تعالىٰ نبی زما د بی بی پاكی بيانوی نو واقعی همداسے ده)

بيا نبی ﷺ منبرته وختلو او مسئله ئے بيانه كړه (چه د همدے منبر نه د امت اصلاح شويده) وے فرمايل: اے خلكو! هيچا له دا جائز نۀ دی چه په يوه ښځه باندے ورداخل شی مگر كه د ښځے سره محرم موجود وی، (لكه پلار، ورور، بچے، خورئے، وراره او خاوند) لكه ليور د خپل ورندار سره خلوت كوی يا اوښے د خپلے ښينے سره خلوت كوی، يا د تره او ماما ځوی يوائے راځی دا صحيح نۀ ده۔ مگر هله كه نور كسان موجود وی او راننوتو او زنانه ورته بغير د لاس وركولو نه ستړی مشی وكړه نو اسلام كښے ددے ګنجائش راغلے دے،

ليكن پدے كښے به هم احتياط كولے شی ځكه چه زمونږ پدے زمانه كښے بے باكی ډيره ده، او د تقوىٰ ډير كموالے دے، ليكن اسلام مونږ ته ګنجائش راكړيدے نو دے كښے به افراط او تفريط نشی كولے، تساهل هم صحيح نۀ دے، ددے نه فسادونه پيدا كيږی لكه ډير خلك د ورندار سره سفرونه كوی، او مستی ورسره كوی۔

Maktaba Tul Ishaat.com

۱۱- د ابوبکر صدیق ﷛ د الله تعالیٰ سره محبت:

د ابوبکر صدیق ﷛ زړهٔ د الله تعالیٰ د محبت نه ډك وو، ځکه چه د نبی ﷺ په مدرسه کښې د هغهٔ تربیت شوې وو، لکه څنګه چه د هغهٔ ددې خبرې نه معلومیږی چه هغه فرمائی:

[مَنْ ذَاقَ خَالِصَ مَحَبَّةِ اللّٰهِ شَغَلَهُ عَنْ طَلَبِ الدُّنْيَا وَاَوْحَشَهُ عَنْ جَمِيْعِ الْبَشَرِ]

څوك چه د الله تعالیٰ خالص محبت وڅکی

(چه د نورو څیزونو محبت ئې په زړهٔ کښې نهٔ وی لکه زمونږ د نورو انسانانو په محبتونو کښې دنیا پرستی شته، اې الله! دا فلانې شې راکړه مینه به درسره کوم که نهٔ وی نو بیا ئې ورسره دومره مینه نهٔ وی، خالص محبت دې ته وائی چه دنیا وی او که نهٔ، که تهٔ روغ ئې او که ناجوړه، تا باندې راحت دې او که تکلیف، په ټولو حالتونو کښې ستا زړهٔ د هغهٔ د محبت نه ډك وی) نو دا محبت به ئې د دنیا د طلب نه مشغول کړی (دنیا طلبی به پکښې ختمه شی) او د ټولو انسانانو نه به ئې وحشی کړی.

(د خلکو نه به ئې جدا کړی، (کناره کش به ئې کړی)، پدې وجه نهٔ چه ګنې تکبر به کوی او انسانان به بد ګنړی بلکه وحشت دې ته وائی چه یو سړې چا سره مینه لری او بل څوك ئې د دغه محبت نه ورانوی نو دهٔ له قهر ورځی چه دا سړې ما سره دې وخت کښې ولې خبرې کوی، زهٔ د چا سره په مهمو خبرو کښې مصروف یم او دې ترې ما ورانوی)

۱۱- د خوبونو د تعبیر مهارت:

ابوبکر صدیق ﷛ په ډیرو څیزونو کښې ماهر وو لیکن د خوبونو په تعبیر کښې هم ډیر مشهور وو.

ابن سعدؒ د محمد بن سیرین نه نقل کړیدی چه

[كَانَ اَعْبَرَ هٰذِهِ الْاُمَّةِ بَعْدَ نَبِيِّهَا اَبُوْبَكْرٍ]

Maktaba Tul Ishaat.com

پدې امت کښې د نبی ﷺ نه روستو زیات تعبیر ویستونکې ابوبکر صدیق ﷛ وو۔

۱- یو حدیث کښې دی :

رسول الله ﷺ وفرمایل : ما خوب کښې تورې ګډې ولیدلې چه ما پسې روستو رازوانې دی. بیا مې ورپسې سپینې ګډې ولیدلې چه دومره ډیرې وې چه تورې ګډې پکښې ورکې شوې۔

نو ابوبکر صدیق ﷛ وفرمایل : یارسول الله ! ددې تعبیر دا دې چه تورې ګډې عرب دی، چه دا به په تا ایمان راوړی او زیاتیږی به او سپینې ګډې عجم دی، چه د عربو نه پس به دوئ ایمان راوړی او دومره به ډیر شی چه عرب به پکښې ورك شی۔

نو نبی ﷺ وفرمایل : [كَذٰلِكَ عَبَّرَهَا الْمَلَكُ سَحَرًا]

دغه رنګه ددې خوب تعبیر سهار کښې ما ته ملائك هم کړې وو۔

[اخرجه الحاكم : ٤/٤٣٧، رقم : ٨١٩٣، وسعيد بن منصور وابن ابى شيبة رقم : ٣٠٤٧٩- السلسلة الصحيحة ٣/٩٣ رقم : ١٠١٨ حسن]

۲- دویم خوب :

نبی ﷺ وفرمایل : زۀ په یوه پوړئ (اندرپایه) باندې اُوختم چه ابوبکر صدیق ﷛ راپسې دې خو زۀ ترې دوه نیم پاټکی مخکښې شوم، ابوبکر صدیق ﷛ وفرمایل :

یارسول الله ! ددې تعبیر ما ته داسې ښکاره کیږی چه الله تعالیٰ به تا وفات کړی او خپل رحمت ته به دې قبض کړی او زۀ به ستا نه دوه نیم کاله پاتې کیږم او همدغسې وشوه چه د نبی ﷺ د وفات نه څه دپاسه دوه کاله روستو ابوبکر صدیق ﷛ وفات شو۔

[ابن سعد- الخصائص الكبرى والسيرة الحلبية ١/٢٦٦، مرسل الزهرى]

او مخکښې ذکر شوی چه د عائشې رضی الله عنها د درې سپوږمو تعبیرئې دا ورکړې وو چه ستا په کوټه کښې به درې اُوچت خلك دفن کیږی، او همدغه شان وشوه۔

۳- عبد الرزاقؒ په خپل مصنف کښې د ابوقلابه تابعیؒ نه نقل کړیدی چه یو سړی خوب کښې ځان ولیدو چه ما نه په وارۀ بولو کښې وینه روانه وی، نو ابوبکر صدیق ﷛ ورته وفرمایل : تۀ داسې سړې ئې چه خپلې ښځې ته په حالت د حیض کښې راتلل کوې

نو د الله تعالیٰ نه بخنه وغواړه او آینده کښې داسې کار مهٔ کوه۔

(مصنف عبد الرزاق : ۱۲۷۰)

خلافت د ابوبکر ﷛ اتفاقی دے :

ابوبکر صدیق ﷛ چه کله خلیفه شو او په سَقیفه د بنو ساعده کښې د هغهٔ سره بیعت وشو او صبا له ورسره په مسجد نبوی کښې بیعت وشو چه په دغه وخت کښې درې دیرش زره (۳۳۰۰۰) مسلمانانو په اتفاق سره بیعت وکړو۔

نو په اجماع د امت سره د هغهٔ خلافت ثابت دے۔

اول کښې معمولی شان اختلاف راغلو لیکن کله چه ورته ابوبکر صدیق ﷛ او عمر فاروق ﷛ دلائل وړاندې کړل چه نبی علیه السلام فرمائی: ائمه به د قریشو نه وی، او دارنګه عمر فاروق ﷛ وفرمایل: ابوبکر صدیق ﷛ ته څوك جَمعه ورکولے شی چه هغه دې یو ځائے کښې موجود وی او بل څوك دې مخکښې کیږی نو د اختلاف نام ونشان ختم شو۔ بیا پکښې د هیچا چون وچرا نهٔ وه، ځکه چه دا هغهٔ خلك دی چه د رسول الله ﷺ په مدرسه کښې ئې تربیت موندلے دے، دا څه واړهٔ خلك نهٔ دی، دا هغهٔ خلك وو چه دنیا ئې خرڅه کړې وه او آخرت او د دین ئې اخستے وو، او په دین باندې ئې خپل ځانونه قربان کړیٰ او قربانول ئې لیکن هر کار چه به ئې کولو نو د دین د فائدې دپاره، نهٔ د خپلو مفادو دپاره۔ په کائناتو کښې د دوئ نه څوك غوره نهٔ وو پس د نبی ﷺ نه۔

ددې وجه نه علماؤ وئیلی دی چه ابوبکر صدیق ﷛ په اجماع د امت سره خلیفه دے، څوك چه ددې مخالفت کوی نو دوئ د اجماع خلاف کوی بلکه د قرآن کریم خلاف کوی چه د قرآن کریم په ډیرو آیتونو کښې ورته اشاره ده، او په احادیثو کښې تقریباً تصریح راغلې ده چه د نبی ﷺ نه روستو به خلیفه ابوبکر صدیق ﷛ وی۔

لکه لویه اشاره دا وه چه نبی ﷺ کله بیمار شو نو وې فرمایل :

[مُرُوْا اَبَا بَكْرٍ فَلْيُصَلِّ بِالنَّاسِ]

(بخاری ومسلم)

Maktaba Tul Ishaat.com

ابوبکر صدیق ﷺ تـه حـکم وکړئ چه خلکو ته مونځ وکړی. دا ښکاره اشاره وه چه کله ابوبکر صدیق ﷺ ستاسو د جُمات امام شو نو دا به ستاسو خلیفه هم وی.

ددے وجه نه علی بن ابی طالب ﷺ ته بعض منافقانو وویل چه ابوبکر صدیق څنګه خلیفه شو پکار دا ده چه تهٔ ئے مشر کړے وے نو هغهٔ وفرمایل :

[رَضِيَهُ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ لِدِيْنِنَا فَرَضِيْنَاهُ لِدُنْيَانَا]

رسول الله ﷺ هغـه زمـونږ د دیـن دپاره غوره کړے وو (په مانځه کښے) نو مونږه د دنیا دپاره غوره کړو.

ددے وجـه نه علی بن ابی طالب ﷺ به اول ابوبکر صدیق ﷺ او دویم عمر فاروق ﷺ بهتر ګڼړل، او دا به ئے وئیل :

[مَنْ فَضَّلَنِيْ عَلَيْهِمَا فَهُوَ مُفْتَرٍ]

چا چه زهٔ په ابوبکر او عمر (رضی الله عنهما) باندے غوره کړم نو دے دروغجن دے.

او زهٔ به ورله حَدُّ الْفِرْيَه (د دروغو جوړه ولو حد) ورکوم، یعنی اتیا (۸۰) دُرے.

نو دا قوی رد دے په هغه باطل پرسته ډله د روافضو باندے چه هغوی وائی علی ﷺ په ټولو غـوره دے، او ابوبـکر او عمر رضی الله عنهما ته د ظلم نسبتونه کوی. بلکه کـلـه د کفر نسبت ورته کوی او لعنتونه پرے وائی، نو د هغه چا دپاره ئے ځان ګمراه کړو چه هغه ترے خبر هم نهٔ دے، او هغه پرے رضا هم نهٔ دے.

لـکـه دا د ټولو باطل پرستو طریقه ده چه د هغه چا دپاره خواری کوی چه هغه ترے نـهٔ خبـر دے او نهٔ د دوی په خبرو او کارونو رضا دے، او چه ترے خبر شی هیڅ فائده ورته نشی ورکولے، بعض خلك ټوله خواری د امت د یو عالم دپاره کوی، او د الله تعالیٰ او د رسول خبرے روستو کوی.

د ابوبکر صدیق ﷺ زمانه د مشکلاتو وه :

الـغـرض : په ټوله دنیا کښے دا خبره ډیره په جلتئ سره خوره شوه چه رسول الله ﷺ وفـات شـو، نـو دے وخـت کښے غټ امتحانات شروع شو، (او الله تعالیٰ د مؤمنانو سره ابتلاء ات لیکلی دی)

د خلکو ارتداد او د ارتداد وجوهات

یو د هغه مصائبو نه دا وه چه په مدینه کښې کوم منافقان وو هغوی هم لږ سرونه را اُوچت کړل چه مشر مړ شو نو زمونږ به څه لاره پیدا شی، او بهر قبائل العرب کښې څه مسلمانان خلك هم وو لیکن اکثر خلك د دین نه واوړیدل۔

او د دین نه د آوړیدو یو څو اسباب وو:

❁ اوله وجه دا وه چه دا خلك په اسلام کښې په تقلیدی انداز سره داخل شوی وو۔

تقلیدی انداز دے ته وائی چه د بل چا په تابعداریٔ کښې دین ته راغلی وو، خپله ئے کوم بصیرت نهٔ وو، کوم تحقیق ئے نهٔ وو کړے او دلائلو ته ئے نهٔ وو کتلی، بلکه فلانے مسلمان شو نو ځئ چه مونږ هم اسلام راوړو۔ یا دیرے د وجه نه ئے ایمان راوړے وو، نو د نبی ﷺ د وفات په وجه د هغوی د زړونو نه اسلام ووتو۔

❁ بعض خلك په اسلام باندے پوهه شوی نهٔ وو، نو دا شك ئے راغلو چه د امت نبی څنګه وفات کیږی، دا که د الله تعالیٰ نبی وے نو مرګ به پرے نهٔ راتللے، که دهٔ باندے مرګ یا سخته راځی نو دا به د الله تعالیٰ نبی نهٔ وی۔

دا خبره د دویٔ ناپوهی وه، د نبوت په مفهوم او مقصد باندے نهٔ وو پوهه شوی، نبی دے ته نهٔ وائی چه د ملائکو په شان به وی، مرض به پرے نهٔ راځی، لوږه او تنده به ورته نهٔ رسیږی، بلکه نبی خو به د عامو انسانو په شان وی لیکن الله تعالیٰ ته به د ټولو انسانانو نه زیات نزدے وی او الله تعالیٰ به ورته وحی کوی، باقی د عامو انسانو په شان حالات او عوارض به پرے راځی۔

❁ بعض خلکو ته د جاهلیت د زمانے عادات او طرز زندګی خوښه وه، یعنی قتل اوغارت او مطلق العنان زندګی چه د هیچا ماتحت کیدل ئے خوښ نهٔ وو، بلکه خپل من چاهی زندګی ئے غوښته، وجه دا ده چه په اسلام او خلافت کښې خو پابندیانے وی چه دا دا فسادونه به نهٔ کوے، او دا حلال او دا حرام دی، ددے فرق به کولے شی، او ددے خلکو په زړونو کښې فسادونه او غلط خواهشات وو نو دے ته نهٔ تیاریدل، او د الله تعالیٰ محبت او د اسلام خوند ئے زړونو ته نهٔ وو ننوتے نو پدے وجه ئے د ارتداد لاره

اختیار کړه۔

❁ چا د قبائلي تعصب په وجه د ارتداد لاره غوره کړه، دا ئے ووېل چه صحيح ده رسول الله ﷺ په مونږ کښے موجود وو، مونږ د هغهٔ تابعداري کوله، ليکن د ابوبکر (﷛) څه کار چه په مونږ مشر کيږي، نو مونږ ددهٔ مشري نهٔ منو۔

❁ او ډيرو کسانو پکښے دا ووېل چه مونږ دا خليفه هم منو او اسلام او مونځ او عبادات منو ليکن زکاة نشو ورکولے، د زکاة نه انکاري شو۔

(حال دا چه د الله تعالىٰ حکم دے چه لکه څنګه مونځ کوے نو دغه شان به زکاة ورکوے، دواړه د يو بل نه جدا نهٔ دي)

او دا قسم خلك پکښے زيات وو۔

❁ او چا ووېل چه مونږ زکاة هم ورکوو ليکن په خپله طبع به ئے ورکوو، خليفه ته ئے نشو ادا کولے، حال دا چه په اسلامي خلافت کښے دا قانون دے چه زکاة به ټول حکومت ته ورکولے شي، هغوي به ئے په فقراؤ او مساکينو او صحيح ځايونو او جهادونو کښے لګوي، ليکن په هغه مالونو کښے چه حکومت ئے حفاظت کوي لکه ګډے بزے او فصلونه وغيره چه دے ته اموال ظاهره وائي۔

❁ او دے کښے څه ډلے پيدا شوے چه هغوي کاهنان وو نو هغوئ د نبوت دعوے وکړے۔ لکه د نبي ﷺ په ژوند کښے دوه کسانو د نبوت دعوه کړے وه۔ روستو بيا نورو وکړه، دے خبرے ورله خوند ورکړو۔

هغه دوه کسانو کښے يو اسود عنسي وو، دويم مسيلمة الکذاب، چه ددهٔ نوم مسيلمه بن حبيب وو۔

مسيلمه خو د ابوبکر صديق ﷛ په زمانه کښے الله تعالىٰ د مسلمانانو په لاس مردار کړو لکه د هغهٔ د واقعے تفصيل په جنګ يمامه کښے راځي۔

او اسود عنسي د نبي ﷺ په آخري زندګئ (مرض الوفات) کښے الله تعالىٰ مردار کړو۔ لکه واقعه ئے لږ روستو بيانيږي۔

روستو طُلَيحه اَسَدِئ (د بنو اسد قبيلے نه) چه يو کاهن وو چه شيطانان ئے ځانله تابع کړي وو، هغهٔ هم د نبوت دعوه وکړه او يوه زنانه وه چه د هغے سَجَاح التميميه نوم وو، د بنو تميمو نه وه، هغه هم کاهنه وه، هغے هم د نبوت دعوه وکړه چه ما ته

وحی کیږی۔

ددے خلکو کارونه څه وو ؟ صِرف خپل خواهشاتِ نفسانی پوره کول او د خلکو نه عزت او مال حاصلول۔

ددے وجه نه کوم کسان چه ضعفاء وو او د دین بصیرت ورسره نهٔ وو نو ددے خلکو ملګری شو، او هغوی تیاره د نبوت دعوه وکړه او زکاۃ ئے هم ورته معاف کولو، او مونځونه او عبادات ئے پرے آسان کړل چه دا مهٔ کوئ نو آسانه لاره پسے هرڅوك ورځی۔ لکه بعض غلط مذهبونه خلکو جوړ کړیدی چه د تولو خواهشاتو تابعداری کوه او صرف یو څو کارونه د دین کوه او بس تهٔ جنتی ئے۔

او دلته د مدینے نه ګیر چاپیره اعرابو (بانډچیانو) هم د اِرتداد لاره اختیاره کړه،

او مدینے ته دا تهدیدونه او دهمکیانے او چیلنجونه وو چه دا دے نن په مدینه حمله کیږی، او صبا له، او بالفعل د حملے تیاریانے کیدے،

صرف په درے (۳) ځایونو کښے خلك په اسلام باندے علی العموم باقی پاتے شو،

یو طائف والا چه ثقیف قبیله ده، هلته ورته عثمان بن ابی العاص ﷺ او نورو صحابه کرامو وئیلی وو چه تاسو په اسلام کښے روستو داخل شوی یئ نو د اسلام نه اول مهٔ اُوځئ، دا ډیره بده خبره ده، نو هغوئ ئے په اسلام باندے کلك کړل۔

او په مکه کښے سهیل بن عمرو ﷺ بیان وکړو او داسے خبرے ئے وکړے لکه څنګه چه ابوبکر صدیق ﷺ په اوله ورځ د وفات د رسول الله ﷺ کښے کړے وے، او د هغهٔ تقریر یو څو صفحے مخکښے وګوره۔

نو په مکه مکرمه کښے به د جُمعے مونځ کیدو او په طائف کښے به کیدو، او په مدینه کښے به کیدو او باقی عامو علاقو کښے د جُمعے مونځونه هم ختم شو، او مسلمانان په هره قبیله کښے موجود دی، لیکن مشران مشران خراب شو نو کشرانو څه نشو کولے، هغوی باندے هم کمزوری وه، پټ پټ کیدل او د رعب د لاندے راغلل۔

او بل طرفته د رُوم کفار هم لا موجود دی۔

نو د مسلمانانو حالت داسے شو چه لکه د درنده ګانو او لیوانو په علاقه کښے او د باران په شپه کښے ګډے بزے وی۔ نو یو طرف ته د لیوانو یره وی بل طرفته د ژمی یخوالے وی، او بل طرفته باران هم وی، نو د پناه ځائے ئے ورك شی۔

Maktaba Tul Ishaat.com

لیکن ابوبکر صدیق رضی الله عنه الله تعالیٰ انتهائی مضبوط ودرولو او ددے تولو حالاتو مقابلہ ئے په ډیر اطمینان سره وکړه چه دا د هغهٔ ډیره لویه کارنامه یادیږی او د تاریخ پاڼرے پرے مزین او ښائسته شویدی۔

راوئ وائی چه کله به ابوبکر صدیق رضی الله عنه ته خبر راتلو چه فلانی ځائے کښے خلك د دین نه واوړیدل او فلانی خلك په مدینه حمله کول غواړی نو د هغهٔ به هیڅ ځرت (او مزاج) نهٔ خرابیدو،

[وَلَكَأَنَّمَا نُخْبِرُهُ بِمَا لَهُ وَلَا عَلَيْهِ]

گویا که مونږ ورته د هغه څه خبر ورکوو چه ددهٔ په فائده کښے وی (یعنی د فتح) او دهٔ باندے ئے هیڅ ضرر نهٔ وی۔ دے حالاتو ته نهٔ وارخطا کیدو۔

[تاریخ الامم والملوك ۲/۲۶۲ للطبری]

یعنی هره خبره د یرے به ورته داسے ښکاره کیده لکه گویا کښے دهٔ له څوك زیرے ورکوی، ددهٔ د اعلیٰ همت د وجه نه نور ملگری هم راکلك کړل، لکه دا قانون دے چه یو ملگرے مضبوط ودریږی نو نور هم الله تعالیٰ مضبوطوی۔

ابوبکر صدیق رضی الله عنه کوم کارونه وکړل ؟ :

دلته ابوبکر صدیق رضی الله عنه یو څو کارونه وکړل یو دا چه جیش اسامه ئے ولیږلو کوم چه رسول الله صلی الله علیه وسلم مقرر کړے وو۔

دویم ئے دا کار وکړو چه په مدینه باندے ئے حارسان (څوکیداران) مقرر کړل چه دا د یو حکمت ترتیب وو، د مدینے حفاظت کوی ځکه چه دا دار اسلام دے۔

علی بن ابی طالب رضی الله عنه ئے د څه څوکیدارانو مشر کړو چه تهٔ به په فلانی ځائے کښے ناست ئے او عبد الرحمن بن عوف رضی الله عنه له ئے څه کسان ورکړل او زبیر بن العوام رضی الله عنه له ئے څه کسان ورکړل او طلحه بن عبید الله رضی الله عنه له ئے څه کسان ورکړل، او عبد الله بن مسعود رضی الله عنه له ئے څه کسان ورکړل،

دا ئے د څوکیدارانو په شان د مدینے نه گیر چاپیره کینول۔

عامو مسلمانانو مجاهدینو ته ئے وویل چه تاسو به د وسلو په لاس مسجد نبوی ته

راځئ او دلته به شپه کوئ او کورونو ته به نهٔ ځئ ځکه چه د حملے خطره ده۔ که دار اسلام گډوډ شي نو د مسلمانانو به کوم قرارګاه پاتے نشي۔

زنانه او ماشومان ئے څه کندو او قلعه گانو او محفوظ ځایونو ته نقل کړل، ډیرے خطرناکے ورځے دی، داسے سخت حالات راغلل لکه په ابتداء د اسلام کښے چه راغلی وو بلکه د هغے نه هم سخت ځکه چه دلته عرب د مسلمانانو د هر حالت نه خبر وو او دِ کور دشمنان جوړ شوی وو۔

او ابوبکر صدیق ﷺ دوئ ته وویل چه د بهر نه څوك حمله کوی نو مونږ ته سمدستی خبر راکوئ، د مجاهدینو لښکرئے په مسجد نبوی کښے تیار اُودره ولو چه کوم ځائے حمله کیږی تاسو به ځان رسوئ۔ دا خو د مدینے حفاظت شو۔

جیش اسامه رضی الله عنه لیږل :

دویم کار چه ابوبکر صدیق ﷺ وکړو نو هغه دا وو چه د نبی ﷺ د وفات نه یوه ورځ نیمه روستو ابوبکر صدیق ﷺ یو تن ته وویل چه اعلان وکړی راجمع شئ، خلك راجمع شو، صدیق اکبر ﷺ په منبر کیناستو او دائے وویل :

[لِيَتِمَّ بَعْثُ أُسَامَةَ]

د اسامه کوم لښکر چه رسول الله ﷺ تیار کړے وو، هغه دِے بیا تیاری شروع کړی او پوره دِے شی۔ لکه اُوه سوه (۷۰۰) کسان نبی ﷺ مقرر کړی وو چه تاسو بِه بلقاء علاقے (اُردن) ته ځئ او اُسامه ﷺ ته ئے دا وئیلی وو چه ستا پلار په دغه علاقه کښے شهید شویدے، د دغه کافرو مقابله به کوے، او نبی ﷺ ورته امرونه وکړل چه په لاره ځے نو خلکو ته په نرمئ سره دعوتونه ورکړه او قُضاعه قبیله باندے حمله وکړه او فلان فلان باندے، دا ترتیبات ئے ورته وخودل، هلته به ورشے مقابله به وکړے او بیرته به واپس راځے۔

لیکن د اُسامه ﷺ لښکر لا وتلے نهٔ وو چه نبی ﷺ بیمار شوے وو او د پریشانئ حالت وو چه نبی ﷺ نن وفات کیږی او صبا۔ او په دے لښکر کښے ابوبکر صدیق ﷺ هم مقرر وو لیکن رسول الله ﷺ هغه د مانځه دپاره ایسار کړو۔

او عمر فاروق ﷛ هم پکښې وو۔ او عجیبه دا وه چه پدې لښکر ئې داسې کشر هلك امیر مقرر کړو چه د اتلسو (۱۸) کالو په عمر وو، یعنی اسامه بن زید ﷛۔ او مشران صحابه کرام رضوان الله علیهم اجمعین ئې رعیت دې،

(دا هم د نبی ﷺ د تربیت طریقه وه چه کله به ئې کشران په مشرانو باندې امیران مقرر کړل دې دپاره چه دوئ تربیت واخلی او د مشرئ ماده د دوئ د زړونو نه اُوځی،

عمرو بن العاص ﷛ ئې په مشرانو صحابه کرامو امیر مقررولو چه په هغې کښې به د ابوبکر او عمر او ابو عبیده بن الجراح او عبد الرحمن بن عوف او زبیر او علی رضی الله عنهم په شان بهادر او مشران خلك وو، دا به ئې ورله رعیت کښې واچول چه تاسو به ددهٔ تابعداری کوئ۔

لکه دا قصه مخکښې تیره شوې وه چه عمرو بن العاص ﷛ یوه ورځ جهاد ته تلې وو نو ملګروته ئې وویل چه اُور به نهٔ بلوئ، ملګرو عمر فاروق ﷛ ته شکایت وکړو نو عمر فاروق ﷛ ورته غصه شو چه دلته خو سخته یخنی او ملګروته د اُور سخت ضرورت دې او تهٔ وائې چه اُور به نهٔ بلوئ بیا عمر فاروق ﷛ ابوبکر صدیق ﷛ ته ګیله وکړه نو هغهٔ ورته وفرمایل : هر کله دا په مونږ باندې رسول الله ﷺ مشر کړیدې نو هغهٔ ته پته ده چه دې سړی ته د جنګ ترتیب معلوم دې، که د الله تعالیٰ نبی په دهٔ کښې خیر نهٔ لیدلې نو په مونږ به ئې مشر کولې نهٔ۔ نو د امیر خبره ومنه، نو هغهٔ تابعداری وکړه)

الغرض : کله چه نبی ﷺ وفات شو نو ابوبکر صدیق ﷛ امر وکړو چه د اسامه ﷛ لښکر دې پوره شی او جهاد له دې ځان تیار کړی، نو دلته عامو صحابه کرامو دا مشوره ورکړه چه د اسامه ﷛ لښکر دې پاتې شی او تلل نهٔ دی پکار ځکه چه حالات ناسازګار دی، تردې چه اسامه ﷛ خپله هم وویل چه تګ نهٔ دې پکار۔

وجه دا ده چه ما سره اُوه سوه (۷۰۰) مجاهدین دی که دا زهٔ د مدینې نه اُویاسم نو مدینه به بالکل خالی پاتې شی، نو اعراب (باندچیان) کفار ډیر دی، په مدینه به حمله وکړی نو لویه پریشانی به جوړه شی۔

(دا خلك د اسلامی خلافت د حفاظت دپاره پاتې کیدل، د یرې څه خبره نهٔ وه)

عمر فاروق ﷛ هم دا مشوره ورکړه چه دا نهٔ دی لیږل پکار۔

Maktaba Tul Ishaat.com

د ټولو مشوره پدې وه چه دا لښکر دې ونۀ لیږلې شی لیکن د ابوبکر صدیق ﷺ په ذهن کښې الله تعالیٰ دا خبره اچولې وه چه دا به خامخا ځی، مشورې مشورې به کیدلې، ابوبکر صدیق ﷺ د سُنت ډیر زیات پابند وو او په همدې کښې خیر وو او هغه ته به په ذهن کښې د رسول الله ﷺ امر تاویدو راتاویدو نو هغۀ ملګروته یو څو خبرې وکړې،

یوه دا چه اې مسلمانانو ! تاسو دې ته وګورئ چه رسول الله ﷺ حکم کړیدې چه

[أَنْفِذُوا جَيْشَ أُسَامَةَ]

د اُسامه ﷺ لښکر ولیږئ، او تاسو دا مشوره ورکوئ چه واپس ئې کړئ نو دا خو د محمد رسول الله ﷺ مخالفت راځی، نو آیا ستاسو رایه ډیره مضبوطه ده او که د محمد رسول الله ﷺ امر ؟۔

او دا ئې وفرمایل : [وَاللَّهِ لَا أُحِلُّ عُقْدَةً عَقَدَهَا رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ]

قسم په الله تعالیٰ زۀ هغه غوټه نۀ کولاووم چه رسول الله ﷺ غوټه کړیده۔

بیا ئې وفرمایل : [لَوْ أَنَّ الطَّيْرَ تَخْطَفُنَا وَالسِّبَاعُ مِنْ حَوْلِ الْمَدِيْنَةِ]

که مارغان زمونږ غوښې وتښتوی او درنده ګان د مدینې نه ګیر چاپیره راشی او مونږ غوښې غوښې کړی خو بیا به هم زۀ دا لښکر لیږم۔

څلورمه وویل چه دلته د نبی ﷺ بیبیانې دی، د هغوی حفاظت هم پکار دې، نو وې فرمایل :

[وَلَوْ اَنَّ الْكِلَابَ جَرَّتْ بِاَرْجُلِ اُمَّهَاتِ الْمُؤْمِنِيْنَ لَأُجَهِّزَنَّ جَيْشَ اُسَامَةَ]

که چرته سپی راشی او امهات المؤمنین د خپو نه راکاږی نو بیا به هم زۀ د اسامه ﷺ لښکر لیږم۔ (او د رسول الله ﷺ امر به نۀ ماتوم)

دې مضبوطوالی ته وګوره، داسې په حق او سنت نبوی باندې کلك ودریدل پکار دی نو الله تعالیٰ به غلبه او فتح درکوی۔

نو کله چه ملګری پوهه شول چه دا خو د نبی ﷺ امر دې نو هغوی هم ورسره اتفاق وکړو چه بس لیږلو کښې خیر دې۔

بیا بعض ملګرو دا وویل چه اُسامه ﷺ ډیر کشر هلك دې که پدې لښکر باندې یو مشر مقرر کړې شی نو ښه به وی، نو بعض انصارو عمر فاروق ﷺ صدیق اکبر ﷺ ته راولیږلو چه دا هلك بدل کړه نو عمر فاروق ﷺ چه مشوره ورکړه نو ابوبکر صدیق ﷺ

Maktaba Tul Ishaat.com

ناست وو نو په عمر فاروق ﷛ باندې ئې راټوپ کړو او هغهٔ ئې د ګیرې نه ونیولو او دا ئې ورته ووېل :

[ثَكِلَتْكَ أُمُّكَ وَعَدِمَتْكَ يَا ابْنَ الْخَطَّابِ اِسْتَعْمَلَهٗ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ وَتَأْمُرُنِيْ اَنْ اَنْزِعَهٗ]

ستا مور دې په تا باندې بوره شي او تا دې ورك کړي اے د خطاب ځویه ! رسول الله ﷺ یو سړي له جنډه په لاس کښې ورکړیده او هغهٔ له ئې جنډه غوټه کړیده او زهٔ دې هغه غوټه کولاووم۔ (دا چرته کیدې شي)

نو عمر فاروق ﷛ انصارو ته راووتو او دا ئې ورته ووېل چه الله تعالیٰ دې تاسو ته هدایت وکړي زهٔ مو د رسول الله ﷺ په خلیفه باندې ورټلم۔

بیا ابوبکر صدیق ﷛ دوئ روان کړل او دوئ سره جُرف علاقې ته (درې (٣) میله) ورغې او هلته د رخصتولو په وخت ورسره پیاده روان شو، او اُسامه ﷛ ئې په اس باندې سور کړو او عبد الرحمن بن عوف ﷛ دابوبکر صدیق ﷛ اس په لاس کښې نیولے وو نو اسامه ﷛ ورته ووېل : اے د الله د رسول خلیفه ! قسم په الله یا تهٔ سور شه یا به زهٔ درکوزیږم، (دا ما ته مناسبه نهٔ ښکاره کیږي چه تهٔ خکته روان ئې او زهٔ سور یم)

نو ابوبکر صدیق ﷛ ووېل : قسم په الله نهٔ به تهٔ راکوزیږې او نهٔ زهٔ درخیژم،

(دا کار ئې ولې کولو؟ نو یو د نبي ﷺ اتباع ئې غرض وه، ځکه چه دا د رسول الله ﷺ طریقه وه چه کله به ئې مجاهدین لیږل نو هغوی به ئې سوارهٔ کړل او خپله به ورسره پیاده روان وو،) بیا ئې په ترغیب کښې دا هم وفرمایل :

[وَمَا عَلَيَّ اَنْ اُغَبِّرَ قَدَمَيَّ فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ سَاعَةً]

ما باندې به څه تکلیف وي چه زهٔ خپل قدمونه د الله په لار کښې لږ ساعت دپاره خړ کړم۔ او د تاریخ په کتابونو کښې ورسره دا فضیلت هم ذکر شویدې چه (ځکه چه د غازي دپاره په هر قدم باندې چه دې ئې اخلي اوه سوه نیکئ لیکلے کیږي او اوه سوه درې پورته کیږي او اُوه سوه ګناهونه رژیږي۔

[التاریخ للطبری ٢/٢٤٦، غزوة مؤتة والسرایا]

دویم غرض ئې د اسامه ﷛ ملګروته اشاره وه چه زهٔ خلیفه یم او د اُسامه ﷛ سره لاندې لاندې روان یم نو تاسو خو ددهٔ په رعیت کښې یئ نو ضرور به ددهٔ تابعداري کوئ۔

Maktaba Tul Ishaat.com

بیا ئے اسامه ﷺ تـه یـو درخواست وکړو چه که ستا خوښه وی چه ما سره په عمر بن الخطاب ﷺ باندے مدد وکړے او ما سره ئے پریدے نو ښه به وکړے

(خـلیفه یو مجاهد ته داسے سوال کوی، وجه دا ده چه دا رسول الله ﷺ مقرر کړیدے نو ځکه ترے مشوره اخلی) نو اسامه ﷺ په ډیره خوشحالئ عمر فاروق ﷺ ایسار کړو۔

بیا ئے هغوی ته لس (۱۰) وصیتونه وکړل (لکه څنګه چه نبی ﷺ به کول) :

[لَا تَخُوْنُوْا وَلَا تَغُلُّوْا، وَلَا تَغْدِرُوْا، وَلَا تَمْثُلُوْا وَلَا تَقْتُلُوْا طِفْلًا صَغِيْرًا وَلَا شَيْخًا كَبِيْرًا وَلَا امْرَأَةً وَلَا تَعْقِرُوْا نَخْلًا وَلَا تُحَرِّقُوْهُ وَلَا تَقْطَعُوْا شَجَرَةً مُثْمِرَةً وَلَا تَذْبَحُوْا شَاةً وَلَا بَعِيْرًا اِلَّا لِمَأْكَلَةٍ]

خیـانت به نهٔ کوئ، په غنیمت کښے به خیانت نهٔ کوئ، د چا سره به وعده خلافی نهٔ کـوئ، مُثله به نهٔ کوئ، ماشومان، بوډاګان او زنانه به نهٔ وژنئ، کجورے به نهٔ پریکوئ او نـهٔ بـه ئے سیزئ، او میوه داره ونه به نهٔ پریکوئ، او ګډه او اُوښ به نهٔ ذبح کوئ مګر صرف د خوراك دپاره۔

[وَسَوْفَ تَمُرُّوْنَ بِاَقْوَامٍ قَدْ فَرَّغُوْا اَنْفُسَهُمْ فِي الصَّوَامِعِ فَدَعُوْهُمْ وَمَا فَرَّغُوْا اَنْفُسَهُمْ لَهٗ وَسَوْفَ تَقْدَمُوْنَ عَلٰى قَوْمٍ يَّأْتُوْنَكُمْ بِآنِيَةٍ فِيْهَا اَلْوَانُ الطَّعَامِ فَاِذَا اَكَلْتُمْ مِنْهَا شَيْئًا بَعْدَ شَيْءٍ فَاذْكُرُوْا اسْمَ اللّٰهِ عَلَيْهَا]

تـاسـو بـه پـه څـه خـلـکـو ورتیـر شئ چه هغوی په عبادت خانو کښے د عبادت دپاره ځـانـونـه فـارغ کـړیـدی، نـو هغوی همداسے پریدئ پریده چه خپل عبادتونه کوی (څه ورتـه مـهٔ وایـئ او ضرر مهٔ ورکوئ)۔ او تاسو به داسے خلکو باندے راشئ چه هغوی به تـاسـو تـه بـه لـوښی راوړی چه په هغے کښے به قسما قسم خوراکونه وی نو هرکله چه تاسو د هغے نه څه شے پس د شی نه خورئ نو د الله تعالیٰ نوم پرے واخلئ۔

او نـور کسـان ئے ورتـه وخودل چه تاسو به داسے کسانو سره ملاؤ شئ چه هغوی به د سرونـو میـنـځ خـرئیلے وی او غاړے به ئے د پټیو او پټکو په شان پریښے وی دا خلك په توره باندے ووهئ دا لوی مجرمان دی،

(ابوبکر ﷺ ته به ددے کسانو په باره کښے علم وو چه دا ضرری کفار دی)۔

او دا ئے هـم ورتـه وویـل چـه تاسو ته نبی ﷺ کوم حکمونه کړیدی نو په هغے کښے

Maktaba Tul Ishaat.com

ذره برابر تغیر پیدا نکړے۔

اسامه بن زید رضی الله عنهما لاړو او بلقاء ته ورسیدو او په لاره کښے ئے د قُضاعه قبائلو سره جهادونه هم وکړل او بلقاء علاقه کښے رومیان راوتی وو، نو دے اُوه سوه (۷۰۰) کسانو ئے سخته مقابله وکړه، نو الله رب العالمین ورله ناشنا فتح ورکړه، رومیان وتښتیدل، او غلامان ئے ترے ونیول، او غنیمتونه ئے هم ترے واخستل، او په لاره چه به په کومه قبیله ورتیریدل نو هغوی به وئیل چه دا دومره عظیم لښکر روان دے، که په مدینه کښے قوت او طاقت نۀ وے نو دوئ دا لښکر بهر نۀ لیږلو،

نو خپل مینځ کښے به ئے وئیل چه د اسلام نه اَوړیدل نۀ دی پکار او حمله نۀ ده پکار، نو د هغوی زړونه هم په قلار شو، نو ددے لښکر ډیر لوی اثر وو چه په عامه دنیا باندے خور شو۔

او پدے جنګ کښے الله رب العالمین مسلمانان سالمین غانمین راواپس کړل چه روغ رمټ او د غنیمتونو سره راواپس شول، او دوئ پدے جنګ کښے څلویښت (٤٠) ورځے تیرے کړے۔

او بعض روایاتو کښے دی چه اویا (۷۰) ورځے ئے تیرے کړے۔ دا کیدے شی چه د تګ او راتګ ورځے ئے هم ورسره شمارلی وی۔

ابوبکر صدیق ﷛ ورته دا حکم کړے وو چه د اسود عنسی علاقے ته به هم ورشئ د هغه مسلمانانو د تائید او مضبوطولو دپاره کومو چه اسود عنسی وژلے دے۔

اُسامه بن زید رضی الله عنهما چه کله مدینے ته راواپس کیدو نو خلك ورله ملاقات ته وراُووتل او ابوبکر صدیق ﷛ خپله هم وراُووتو، او مسلمانان پدے فتحه باندے ډیر زیات خوشحاله شو چه دا اوله فتح وه پس د وفات د رسول الله ﷺ نه۔

او ابوبکر صدیق ﷛ دوئ ته ووئیل :

[اَرِیْحُوْا وَاَرِیْحُوْا ظُهْرَکُمْ]

تاسو خپله هم راحت وکړئ او خپلے سورلو له هم راحت ورکړئ (ډیر تکلیف مو تیر کړو)

[تاريخ الامم والملوك للطبرى ٢/٢٥٦، ومختصر تاريخ دمشق لابن منظور الافريقى ٤/٦٠]

Maktaba Tul Ishaat.com

د اسود عنسی د قتل واقعه :

د هجرت په نهم او لسم کال کښے بعض خلك پيدا شو چه د هغوی هم د نبوت دعوے ته زړۀ وشو ځکه چه هغوی دا گمان وکړو چه نبی ﷺ ته الله تعالیٰ ډیر عزت ورکړو او په دنيا باندے ئے غالبه کړو نو که مونږه هم دا دعوه وکړو نو داسے کار به مونږ سره هم وشی او دا د هغوئ کم عقلتوب وو، ځکه چه ددے نبی په شا باندے خو الله تعالیٰ دے، هغه ذات ورته وحی کوی، هغۀ د خپل طرف نه دا دعوه نۀ ده کړے بلکه الله تعالیٰ نبی گرځولے دے۔

او هغه کسانو د دروغو دعوه وکړه او د دروغو سره خو د الله تعالیٰ مدد نۀ وی، خو دا شیطان دهوکه کړی وو۔

یو څو کسان چه هغوئ ته د دروغو نبوت دعوه کونکی وائی یعنی متنبیان۔

دوه کسان د نبی ﷺ په زمانه کښے راښکاره شو ، مسیلمة الکذب (چه دا د نبی ﷺ ملاقات ته راغلے وو او د هغۀ نه ئے دا وغوښته چه ما ته نیمه بادشاهی راکړه یا ستا د مرگ نه روستو به زۀ بادشاه یم، نبی ﷺ ورسره دا یوه خبره هم ونۀ منله، او همداسے ترے پاځیدو لکه تفصیل ئے مخکښے په بیان د وفودو کښے تیر شو)

او دویم اسود عنسی وو۔

او نور څه کسانو د نبی ﷺ د وفات نه بعد د نبوت دعوے وکړے او لږه زمانه کښے الله تعالیٰ د هغوی تغر غونډ کړو او هغوی ئے هلاك کړل۔

د باطل نښه دا وی چه هغه زر ختمیږی۔ [اِنَّ الْبَاطِلَ كَانَ زَهُوْقًا] باطل ختمیدونکے وی۔ ځکه چه الله تعالیٰ ورسره ملگرے نۀ وی۔

دلته د اسود عنسی د قتل قصه ذکر کیږی :

اسود عنسی په ظاهره کښے ایمان راوړے او په اوله کښے ئے د رسول الله ﷺ د تابعداریٔ دعوه کړے وه لیکن ایمان ئے زړۀ ته نۀ وو ننوتے نو شیطان ورته وویل چه د نبوت دعوه وکړه۔

نبی ﷺ ته الله تعالیٰ مُسیلمه او اسود عَنْسِی دواړه په خوب کښے ورخودلی وو،

صحیح حدیث کښې دي: نبي ﷺ فرمائي: ما خوب کښې ولیدل (د انبیاء علیهم السلام خوب وحي وي) دوه بنګړي دي د سرو زرو، او زما دواړو لاسونو ته واچولے شو نو پدے زۀ ډیر خفه شوم چه د زنانو لباس ما ته راواچولے شو، نو ماته د الله تعالیٰ د طرف نه ووئیل شو چه دے له پوکے ورکړه نو ما چه پوکے ورکړو دواړه بنګړي زما د لاسونو نه ووتل او والوتل (ختم شو) نو نبي ﷺ فرمائي :

[فَأَوَّلْتُهُمَا كَذَّابَيْنِ يَخْرُجَانِ بَعْدِيْ]

[بخاري : ٣٦٢١ مسلم : ٦٠٧٤]

ما ددے دواړو دا تعبیر وکړو چه دوه دروغجن به زما نه روستو پیدا کیږي، نو یو اسود عنسي صاحب الیمن وو، او بل مسیلمه الکذاب صاحب الیمامه وو۔

ددے خوب تفصیل او پوره تعبیر په حدیث کښې نۀ دے ذکر شوے،

لیکن وضاحت ئے دا دے چه دوه (۲) بنګړي د سرو زرو لاسونو ته اچولے شویدي، پدے کښې اشاره ده چه دا دوه کسان دنیا پرست دي، ځکه چه سرۀ په خوب کښې لیدل دنیا پرستي وي، او د دنیا رونق او چمك ته اشاره ده، نو دا هم دنیا والا خلك دي، د بنګړو سره ئے مشابهت ځکه دے چه دے خلکو د شهواتو او خواهشاتو دپاره دا دعوه کړے وه، دین ئے مقصد نۀ وو۔

لکه بنګړو سره هم زنانه خپل خواهش پوره کوي۔

"بل د لاس نه کلك تاؤ شوي وو"،

پدے کښې اشاره وه چه دا دوه کسان به مسلمانانو ته ضرر ورکوي، ګیره به ترے اچوي او یو زمانے پورے به مسلمانان په تکلیف کښې کوي، بیا چه نبي ﷺ ورله پوکے ورکړیدے نو اشاره ده چه ددے تکلیف به اول کښې ډیر وي لیکن الله تعالیٰ به ئے زر ختموي۔

نو پدے خوب کښې دے خبرو ته اشاره وه، او دا خوب د نبي ﷺ حق او رشتینی وو او د هغے مصداق بالکل په خارج کښې راووتو۔ نو اسود عنسي پیدا شو۔

اسود عنسي په اصل کښې جادوګر (ساحر) وو، او شیطان ئے ځانله تابع کړے وو په څه منترو باندے نو هغۀ به ورله بعض بعض خبرونه راوړل لکه د شیطان چه څومره وس کیږي د خلکو په ګمراه کولو کښې کوشش کوي، نو دۀ د نبوت دعوه وکړه نو د خپل

قوم جاهلانِ خلك ورپسې روان شو۔

او بعض داسې خبرې به ئې کولې چه ناشنا به وې ځکه چه دا سړے فصيح او بليغ هم وو، او د بدن نه ډير سخت وو۔ چا چه به ددۀ خبرې آوريدې نو د هغوی زړونه به ئې قبضه کول۔

دولابیؒ ليکلی دی چه ددۀ دوه شيطانان تابع وو سحيق او شفيق، هغوی به ورته د هر شي خبر راوړو، نو هغه ته شيطانانو د باذان ﷜ د مرګ خبر راورسولو نو هغه په همدغه ساعت راووتو او په صنعاء اليمن باندې ئې غلبه وکړه۔

(امتاع الاسماع)

نُوم ئې عَبْهَله بن کعب بن غوث وو، او اسود ورته ځکه وائی چه مخ کښې ئې تور والے وو او عَنْسِي ورته وائی ځکه چه د عَنْس قبيلې نه وو چه دا يوه قبيله ده په مذحج قبيله کښې۔

نو د اسود عنسی سره اُوه سوه (۷۰۰) کسان شاهسواران جنګيان تيار شو،

په يمن باندے د رسول الله ﷺ لس (۱۰) واليان مقرريدل

پدې وخت کښې د نبی ﷺ د طرف نه په يمن باندې په مختلفو علاقو کښې لس (۱۰) واليان (ګورنران) مقرر وو، د نبی ﷺ عادت مبارك به دا وو چه هغۀ به د دعوت دپاره څه کسان وليږل نو هلته به ئې ديره کړل د هغوی کار به دا وو چۀ خلکو ته به ئې قرآن کريم خودلو او د رسول الله ﷺ د طرف نه چه کوم احکام به وو هغه به ئې خودل او د خلکو تربيت به ئې کولو، او ورسره زکاة به ئې ترے د بيت المال دپاره راټولولو، دا د هغه زمانې د دعوت طريقه وه۔

همدان ته ئې يو صحابی عامر بن شهر الهمدانی ﷜ وليږلو،

او حضرموت ته بل صحابی زياد بن لَبيد ﷜،

او صنعاء کښې بل مشر باذان ﷜ تيار مخکښې نه شته،

او مآرب ته ابو موسیٰ اشعری ﷜،

Maktaba Tul Ishaat.com

او په جُنَد باندے یَعلیٰ بن اُمیه ﷛

او په زُبید باندے خالد بن سعید بن العاص ﷛ او مختلفے نورے علاقے وے لکه سَکاسِكْ باندے عکاشه بن مور بن اخضر ﷛ او سکون علاقه باندے معاویه بن کِنده ﷛ گورنر مقرر کړے وو،

او معاذ بن جبل ﷛ ئے پدے مقرر کړے وو چه تهٔ به په دے مشرانو باندے گرځے او د یو بل سره به ئے رابطه قائمه وے۔ او دا ټول کارونه په لسم کال د هجرت شوی وو۔

نو پدے کښے اسود عنسی راغلو او د نجران علاقے مشر چه عمرو بن حزم ﷛ ئے نوم دے، نبی ﷺ دلته مقرر کړیدے، نو اسود عنسی پرے حمله وکړه او عمرو بن حزم ﷛ کمزورے شو او اسود پرے غالبه شو، دا د الله تعالیٰ امتحان وو، نو عمرو بن حزم ﷛ ورته علاقه پریخوده،

بیا اسود عنسی راغلو تردے چه د همدان علاقه ئے ونیوله، بیا ئے په صنعاء الیمن باندے حمله وکړه چه دا د یمن دار الخلافه وه، او په صنعاء باندے د نبی ﷺ د طرف نه یو صحابی د مخکښے نه مقرر وو د هغه نوم باذان رضی الله عنه وو،

دا د فارس والو د طرف نه په یمن مقرر وو بیا هغهٔ ایمان راوړو نو دلته نبی ﷺ په خپله مشریٔ پریخودو۔

باذام ﷛ نیك عمله سړے وو نو هغه په خپل مرگ وفات شو بیا شهر بن باذان (چه د هغهٔ ځوی وو او هغه هم مؤمن وو) ددے علاقے مشری کوله،

او دا په اصل کښے د فارس نه راغلی وو، او ایمان ئے راوړے وو، نو اسود عنسی په شهر بن باذان ﷛ پسے راغے او مقابله ئے ورله وکړه نو په مقابله کښے شهر بن باذان ﷛ شهید شو او ددهٔ ملگروته هم تکلیف ورسیدو، شکست ئے وخوړو او اسود عنسی صنعاء الیمن علاقه هم په خپله قبضه کښے واخسته،

(دا د الله تعالیٰ امتحان وو او هغه خوب کښے اشاره وه چه نبی ﷺ وائی زما د لاس نه بنگړی تاو شو، نو دا بنگړے دے چه د مسلمانانو ددے علاقونه تاؤ شو)

او په لږه موده (شل پنځه ویشت ورځو) کښے ئے دا علاقے قبضه کړے، او جهال او ناپوهه خلك خو په هره زمانه کښے وی چه د باطل والو ملگرتیا کوی، نو کوم خلکو کښے چه اسلام نشته، کفار دی، هغوی هم ورسره ملگری کیږی۔

او د چا چه اسلام زړۀ ته نۀ دے ننوتے هغه هم ورسره ملګری کیږی، او دا ظالم ډیر لوی قاتل وو او د الله سبحانه د یوے خبرے لحاظ ئے هم نۀ کولو۔

هرکله چه اسود عنسی صنعاء الیمن ونیولو نو د شهر بن باذان ﷺ ښځه چه د آزاد په نوم بانده وه هغه ئے په زوره په نکاح واخسته چه ډیره ښکلے وه، او هغه په الله تعالیٰ او په رسول الله ﷺ باندے صحیح مؤمنه وه، او نیکه ښځه وه خو مجبورًا ددے ظالم په نکاح کښے راغله

(لکه دا اصول مخکښے مونږ لیکلی دی چه کله کفار په یوه مسلمانه زنانه قبضه وکړی نو زنانه له ځان وژل نشته بلکه صبر به کوی)

اسود عنسی به دا کار کولو چه کله به ئے یو تن ولیدو چه د نبی ﷺ د نبوت اقرار به ئے کولو نو دۀ به ډیر سخته سزا ورکوله نو یو صحابی چه د هغه نعمان ﷺ نوم دے، هغۀ ته ئے وویل چه تۀ د نبی ﷺ د نبوت ګواهی ورکوے ؟

هغۀ وویل : آؤ، نو دۀ راونیولو او یو یو اندام ئے ترے پریکړو۔

پدے طریقه ئے مسلمانان یره ول۔ نو هلته چه کوم عوام مسلمانان وو هغوی باندے ډیر رعب راغلو نو مسلمانانو د هغۀ سره په تقیه سره معامله کوله۔

(تقیه دے ته وائی چه یو تن د کافر نه یریږی نو په ظاهره کښے د هغه ملګرتوب اختیار کړی او په زړۀ کښے د هغۀ ملګرے نۀ وی- دا د شیعه ګانو تقیه نۀ ده)

نو ددۀ سره عام مسلمانان ملګری نۀ وو ځکه چه په یمن کښے ډیر اسلام خور شوے وو او په ظاهره کښے د اسود عنسی مخے ته غلی وو۔

د ابو مسلم الخولانی رحمه الله کرامت

نو اسود عنسی یو تابعی ابو مسلم الخولانیؒ ونیولو چه دا یو جلیل القدر تابعی دے، د رسول الله ﷺ په زمانه کښے موجود وو لیکن د رسول الله ﷺ ملاقات له نۀ وو راغلے ځکه چه نبی ﷺ وفات شو او دا لا کشر هلك وو، اراده ئے وه لیکن موقعه ورته نۀ وه ملاؤ شوے۔ اسود دۀ ته وویل : [اَتَشْهَدُ اَنَّ مُحَمَّدًا رَسُوْلُ اللّٰهِ ؟]

آیا تۀ د: ګواهی ورکوے چه محمد ﷺ د الله تعالیٰ رسول دے؟۔ هغۀ وویل : آؤ، بیا

ئے وویل : [اَتَشْهَدُ اَنِّیْ رَسُوْلُ اللّٰهِ ؟] آیا ته ګواهي ورکوے چه زهٔ د الله رسول یم ؟۔
نو هغهٔ وویل : [مَا اَسْمَعُ] دا خبره زهٔ نهٔ آورم۔
بیا ئے ورته وویل : محمد ﷺ رسول منے ؟ هغه وویل : آؤ، بیا ئے وویل : ما رسول منے ؟ هغهٔ به بار بار وئیلے چه دا خبره زهٔ نهٔ آورم۔
نو اسود له غصه ورغله او ددهٔ دپاره ئے په اُور بلولو حکم وکړو، ډیر لرګی ئے راجمع کړل او دا ئے د اُور مینځ ته ګوزار کړو نو په صحیح روایت کښے راځی چه الله سبحانه وتعالیٰ دهٔ له دا کرامت ورکړو چه دغه اُور ئے یخ کړو
[بَرْدًا وَسَلَامًا عَلٰی اَبِیْ مُسْلِمِ الْخَوْلَانِیِّ]
په ابو مسلم خولانی ئے یخ او سلامتیا والا کړو۔ لکه څنګه ئے چه د ابراهیم علیه السلام سره داسے کار کړے وو۔ نو د اُور د مړ کیدو نه پس روغ رمټ راووتو چه یو ویښته ته ئے هم نقصان نهٔ وو رسیدلے۔
(او الله تعالیٰ همغه شان طاقت والا دے، لکه چه مخکښے ئے دعاګانے قبلولے نو اُوس هم هغه شان د بندګانو دعاګانے قبلوی، مخکښے ئے چه کومو دوستانو سره مددونه کول هغه اُوس هم کوی)۔
کله چه دے روغ راووتو نو اسود عنسی ته مشرانو مشوره ورکړه چه دا سړے ددے علاقے نه وشړه، که دے دلته وی نو خلك درله خرابوی، خلك ایمان راوړی او د رسول الله ﷺ تابع کیږی او ستا نه اوړی۔
نو اسود عنسی دهٔ ته وویل چه ته به دے علاقه کښے نهٔ اُوسیږے نو هغه مدینے ته راروان شو، او پدے وخت کښے نبی ﷺ وفات شوے وو، او ابوبکر صدیق ﷺ خلیفه شوے وو، نو هغه مسجد نبوی ته راغلو او د مسجد یوے ستنے ته په مانځه ودریدو، نو عمر فاروق ﷺ ولیدو چه سړے ناشنا شان دے، تپوس ئے ترے وکړو
[مِنْ اَیْنَ الرَّجُلُ ؟]
د کوم ځائے ئے ؟ هغهٔ وویل : د یمن یم۔ ورته ئے وویل : ستاسو په علاقه کښے مشهوره شویده چه یو سړے اسود عنسی اُور ته غورزولے او اُورورله هیڅ ضرر نهٔ دے ورکړے، هغه ته پیژنے ؟
هغهٔ وویل : آؤ، عمر ﷺ وویل: څوك دے ؟ هغهٔ وویل : عبد الله بن ایوب دے۔

Maktaba Tul Ishaat.com

نو عمر فاروق ﷺ ډیر هوښیار انسان وو، الله تعالیٰ ورته په زړهٔ کښې واچوله چه همدا سړے ښکاره کیږی، نو هغهٔ ته ئے ووئیل :

[نَشَدْتُكَ بِاللّٰهِ اَنْتَ هُوَ ؟]

ستا دِ ے په الله تعالیٰ قسم وی چه آیا تهٔ هغه سړے ئے ؟ نو هغهٔ ووئیل :

[اَللّٰهُمَّ نَعَمْ] آؤ، زهٔ همغه یم۔ نو عمر فاروق ﷺ د هغهٔ تندے ښکل کړو او بیا ئے راوستو او د ابوبکر صدیق ﷺ او د خپل ځان مینځ ترمینځ ئے کینولو او دا ئے ووئیل :

[اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ الَّذِیْ لَمْ یُمِتْنِیْ حَتّٰی اَرَانِیْ فِیْ اُمَّةِ مُحَمَّدٍ ﷺ مَنْ فَعَلَ بِهٖ كَمَا فَعَلَ بِاِبْرَاهِیْمَ خَلِیْلِ الرَّحْمٰنِ عَلَیْهِ السَّلَامُ]

شکر دے هغه الله تعالیٰ لره چه زهٔ ئے مړ نکړم تردے چه ما ته ئے په امت د محمد ﷺ کښې هغه څوك راوخودو چه د هغهٔ سره ئے داسے معامله کړیده لکه څنګه ئے چه د ابراهیم خلیل علیه السلام سره کړیده۔

[رواه ابن حبان فی الصحیح ۳۹۲/۱ و ابونعیم فی حلیة الاولیاء ۱۲۸/۲، ۱۲۹، وابن عساکر، و ابن عبد البر فی الاستیعاب ۳۲۰/٤ وابن قدامة فی الرقة ص : ۱٤۷، ۱٤۸ واسناده عند ابن عبد البر متصل ورجاله ثقات سوی اسماعیل بن عیاش الحمصی، فهو صدوق، التقریب : ۱۰۹ وشیخه شرحبیل بن مسلم الخولانی الحمصی صدوق، تقریب : ۲٦۵ ورواه سائر من رواه من طریق اسماعیل به مثله فالأثر حسن وانظر البدایة والنهایة لابن کثیر ۲۹۹/٦]

یعنی زمونږ په دے امت کښې الله تعالیٰ داسے خلك پیدا کړی چه انبیاء علیهم السلام ته الله تعالیٰ کومے معجزے ورکړی نو دغه شان ئے دوئ له کرامتونه ورکړیدی،

د کرامت تشریح

ددے روایت نه دا ثابته شوه چه کرامت د اولیاؤ حق دے، (د کرامت معنیٰ ده عزت ورکول) خو ددے دا مطلب نهٔ دے چه مشرکان ددے نه غلطه فائده واخلی او دا وائی چه د یو ولی کرامت ثابت شو نو بس ورځه او د هغهٔ د قبر نه طوافونه کوه، او هغهٔ ته

Maktaba Tul Ishaat.com

سجدے لګوہ او د قبر کانړي ئے په ځان راکاږه او د هغۀ په نوم نذر او منښتے کوه، او الله تعالیٰ پریده او د یو ولی د قبر نه تاویږه۔ دا خو شرك دے،

نو زمونږ او د مشرکانو د کرامت منلو ترمینځ فرق دا دے چه مونږ کرامت منو نو دا د الله تعالیٰ طاقت او مهربانی ګنړو په خپلو دوستانو چه هغه خپلو بندګانو ته ناشنا کرامتونه ورکوی څوك چه د الله تعالیٰ تابعداری کوی او د هغۀ په دین باندے مضبوط ولاړ وی، او دا د الله تعالیٰ د کمالاتو نښه ده او د نیك اعمالو اثر دے۔ او د ولی په کرامت ښکاره کیدو کښے نورو ته دعوت وی چه تاسو هم ددۀ په شان نیك اعمال کوئ الله تعالیٰ به تاسو سره احسان کوی۔ دے دپاره چه د خلکو د الله تعالیٰ سره محبت پیدا شی، او په خپلو نیکو اعمالو سره د هغۀ د رحمت امید وساتی۔

او د مشرکانو طریقه دا ده چه داسے کرامت وینی نو بیا الله تعالیٰ پریدی او د دغه ولی او بزرګ نه تاویږی، او دا د شرك سبب جوړیږی، بیا ددۀ نه مددونه غواړی او سجدے ورته لګوی، د کوم مقصد دپاره چه کرامت ښکاره شوے وو چه هغه د الله تعالیٰ طاقت او رحمت پیژندل نو دوئ هغه مقصد ضائع کړی او د مخلوق طاقت ئے په ذهن کښے راشی۔

بیا الله تعالیٰ د اسود عنسی د هلاکت اراده وکړه نو ددۀ د فوج څلور (٤) مشران وو، یو ته ئے قیس بن مَکشوح اَلبَجَلِیُ الْمُرَادِیُ وَئیلو،

(د مکشوح نوم هُبَیرہ وو، او د مکشوح د پلار نوم عبد یغوث وو، نو پدے وجه کله ددۀ نسبت نیکۀ ته کیږی، یعنی قیس بن عبد یغوث، او کله قیس بن هبیره وئیلے کیږی) دا د عربو د قبائلو نه یو عزتمن سړے وو،

او زرکلی لیکلی دی چه دا د بهادرانو پهلوانانو شاعرانو صحابه کرامو نه دے، او د خپل قوم سردار وو، او په زمانه د عمر او عثمان رضی الله عنهما کښے ئے په فتوحاتو کښے ډیره قربانی کړیده خاصکر په جنګ یرموك او قادسیه کښے۔

دویم د لښکر مشر فیروز الدیلمی چه دا هم د فارس والو نه دے او د اسود عنسی ددے نوے مؤمنے ښځے (آزاد) د ترۀ ځوی وو، دا ئے د فوج مشر هم وو او ابناء ئے ورته وئیل چه دا یو قوم وو چه په یمن کښے د فارس والو ځامن وو – په هغے باندے هم مشر وو۔

او ددهٔ ځوی معاویه بن قیس ئے هم مشر کړے وو،
او څلورم د ''داذویه'' په نوم یو شخص وو دائے لوی لوی قومندانان او سالاران وو۔
الله تعالیٰ د اسود عنسی او ددے مشرانو په څه خبره باندے اختلاف پیدا کړو،
او ددهٔ کم عقلتوب یوه نښه دا وه چه د خپلو دے مشرانو سپکاوے به ئے کولو او دوئ به ئے سپك گنړل حال دا چه دا هغه خلك وو چه د اسود عنسی سره ئے مدد کړے وو چه په لړه موده کښے ئے ټول یمن ورله قبضه کړے وو،
نو اسود عنسی ته شیطان وویل چه دا کسان وژل پکار دی۔
نو دا کسان په ځانونو پوهه شو چه اسود عنسی مونږ وژنی نو خپل مابین کښے ئے مشوره وکړه چه اسود عنسی وژل پکار دی، مخکښے ددے نه چه دے په مونږ رامخکښے شی نو مونږ له ددهٔ وژل پکار دی۔
لیکن بل طرفته یریدل هم ځکه چه اسود عنسی بادشاه دے او ډیر بد اخلاقه سخت زړے هم دے۔
دلته د نبی ﷺ د طرف نه یو سخت خط لاړو (ځکه چه نبی ﷺ لا دے وخت کښے ژوندے وو) او په دغه خط کښے ئے جدی الفاظ لیکلی وو او ډیر تاکید ئے کړے وو چه په دغه خط کښے هم ډیر زور وو، په هغے کښے ئے لیکلی وو:
چه مسلمانانو په دین باندے کلك شئ او دغه علاقه کښے چه څو مره مسلمانان دی نو تاسو ټول راپاڅیږئ او د اسود عنسی کلکه مقابله وکړئ او په ځانونو رعب مهٔ راولئ۔
دا خط د هغه ځائے مشر معاذ بن جبل ﷛ ته ورسیدو او هغه دا خط په نورو مشرانو وگرزولو او عامو خلکو ته ئے بیان کړو نو خلك په اسلام یو ځائے بل ځائے مضبوط شول، دے خط دومره اثر وکړو لکه چه نبی ﷺ خپله ورغلے وی او د دوئ سره مخامخ شوے وی او خلك ئے کلك کړل۔
نو مسلمانان چه په کومو علاقو کښے وو هغه مضبوط شول او د رسول الله ﷺ والیان (گورنران) ددے علاقے نه نورو علاقو ته تلی دی هلته جمع شویدی لکه په حضرموت کښے او په سکون علاقو کښے دی۔
نو پدے کښے دے مسلمانانو ته پته ولگیده چه ددے مشرانو د خپل مشر اسود

Maktaba Tul Ishaat.com

عـنـسـی سره په څه خبره دشمنی پیدا شویده نو کسان ئے پټ ورولیږل او د هغوی سره ئے پټه خبره وکړه چه د اسود عنسی په باره کښے د رسول الله ﷺ داسے خط راغلے دے، نـو قیس او فیـروز الـدیلمی دومره خوشحاله شول ګویا کښے دا کسان پرے د آسمان نه نـازل شـوی وی، او دا ئے وویـل چـه مونږ هم ددے سړی د قتـل اراده کړیده لیکن یریدو، خو هرکله چه تاسو راسره ملګری کیږئ او دده په قتل کښے شراکت کوئ نو بنه خبره ده نو پدے خبره مضبوط شو۔

بـل طرف ته د اسود عنسی شیطان ددے نه خبر شو نو هغهٔ اسود ته وسوسه واچوله او دا ئے ورتـه وویـل چـه قیـس بن مکشوح خو ستا نه بادشاهی اخلی نو اسود عنسی قیس راوغوښتو او دا ئے ورته وویل : ما ته خپل ملائك وحی وکړه ؟

هـغـهٔ وویل : کومه وحی؟ هغهٔ ورته وویل : ما ته ئے دا وویل چه تا قیس ته ډیر عزت ورکړو او د فـوج مشـر دِے جوړ کړو او په عزت کښے ستا په شان شو نو بیا راولګیدو ستـا سـره دشمنی کوی او ستا د بادشاهئ د اخستو اراده لری، او زړهٔ کښے ئے غداری او دهوکه پټه کړیده نو دے راونیسه او څټ ورله ووهه، که نهٔ وی نو دے به ستا بادشاهی واخلی او ستا څټ به پریکړی۔ نو قیس ورته د دروغو قسم وکړو او داسے ئے وویل :

[وَذِی الْخِمَارِ لَأَنْتَ اَعْظَمُ فِیْ نَفْسِیْ وَاَجَلُّ عِنْدِیْ مِنْ اَنْ اُحَدِّثَ بِكَ نَفْسِیْ]

زما دِے په خادر والا قسم وی (دا د اسود عنسی لقب وو ځکه چه دهٔ به همیشه پټکے وهلے وو چـه مـخ به ئے پکښے پټ کړے وو) خامخا تهٔ زما په زړهٔ کښے ددے نه ډیر لوی مـرتبے والا ئے، او زمـا پـه نیـز ددے نـه ډیر اُوچت ئے چه زهٔ ستا په باره کښے زړهٔ کښے دا خبرے راولم۔

(یعنی مونږ خو ستا تابعداری کړیده او تا نبی ګنړو مونږ به ولے داسے کار کوو)

اسـود ورتـه وویـل : زمـا پـه تـا ګمان نهٔ دے چه تهٔ به د ملائك تکذیب کوے، ملائك رشتیـا وئیـلی دی او پته ولګیده چه تهٔ اُوس توبه وېستونکے ئے د هغه خبرے نه چه ما ته ملائك خبر راکړیدے۔ مګر بیا ئے هم قیس پریخودو۔

نـو قیـس د اسـود عـنـسـی د خوا نه لاړو او خپلو دوارو ملګرو فیروز او داذویه خوا ته راغـے، او هـغـوئ ته ئے د اسود عنسی دغه قصه وکړه چه ما ته ئے داسے وویل او ما ورته داسے وویل۔ نو هغوی ټولو وویل چه مونږ ټول په یره کښے یو نو څه رایه ده۔

Maktaba Tul Ishaat.com

دوئ لا خبرے اترے کولے چه دے وخت کښے د اسود عنسی استازے راغے او دا ئے وویل چه اسود عنسی مو غواړی۔

دے وخت کښے ورته بیا شیطان خبره کړے وه چه دا خلك ستا خلاف راجمع شویدی۔ نو کله چه دوئ راوستے شول نو دا ئے ورته وویل : آیا ما تاسو د قوم مشران کړی نهٔ یئ ؟ هغوی وویل : ولے نه، بیا ئے وویل : نو دا ستاسو د طرف نه ما ته کومے خبرے رارسیږی؟ هغوی وویل : چه دا ځل مونږ معاف کړه، نو هغهٔ ورته وویل : آینده کښے دِے یوه خبره هم ما ته راونهٔ رسیږی گنے زهٔ به تاسو نه دا عُهدے واخلم،

فیروز وائی : مونږ د هغه د خوا نه راووتو او نزدے نهٔ وو چه مونږ بچ شوی وے، او هغه زمونږ نه په ډیر شك کښے وو او مونږ په ډیره خطره کښے وو،

نو دے وخت کښے د عامر بن شهر الهمدانی د طرف نه -کوم چه د رسول الله صلی اللہ علیہ وسلم د طرف نه- د همدان او ذی ظلیم او ذی کُلاع امیر وو،

او دغه شان د هغهٔ د نورو ملکرو امیرانو د یمن د طرف نه خط راغلو چه مونږ ته ئے وئیل چه مونږ به ستاسو مدد کوو د اسود په خلاف باندے، نو مونږ هغوی ته وویل چه تاسو به لا څه نهٔ کوئ تردے چه مونږ خبره مضبوطه کړو۔

قصه اُوږده ده خو لنډو الفاظو کښے دا ده :

چه فیروز الدیلمی لاړو د اسود عنسی د ښځے (آزاد) سره ملاؤ شو ځکه چه دائے د ترهٔ لور ده۔ په کوټه کښے ورسره کیناستو او د هغے سره ئے خبرے کولے، او دغه شان قیس هم ورغلو، دائے ورته وویل چه دے اسود عنسی دومره ظلمونه شروع کړیدی، ستا په قوم فارس والو باندے ئے ظلمونه کړیدی، ستا خاوند ئے مړ کړو او ستا قوم کښے ئے ډیر مرگونه وکړل او زنانه ئے وشرمولے،

پدے خبرو ئے هغے له غیرت ورکړو، نو هغے ورته وویل چه ستاسو څه مقصد دے ؟ نو دوئ ورته وویل چه که تهٔ مونږ سره مدد وکړے او دا سړے ددے علاقے نه اُوباسو۔ نو هغے وویل : د ویستلو غم مهٔ کوئ بلکه ددهٔ قتلول پکار دی، قسم په الله د الله تعالیٰ په مخلوق کښے ما ته ددهٔ نه زیات بل څوك مبغوض نشته۔

[فَإِنَّهٗ لَا يَرٰى لِلّٰهِ عَلَيْهِ حَقًّا]

ځکه چه دے په خپل ځان باندے د الله تعالیٰ هیڅ نهٔ ویني، او د الله تعالیٰ د محرماتو

هیڅ لحاظ نهٔ کوی، په هر حرامو باندې ورځي، شراب څکي، زناګانې کوی، بد بد کارونه کوی او بد اخلاقه او فاسق سړې دې۔

(دا د الله تعالیٰ کاروی چه کله خاوند کښې نقصان وی نو د ښځې په زړهٔ کښې الله تعالیٰ د هغهٔ سره بُغض اچوی، زمونږ د نبی ﷺ نهه (۹) بیبیانې وې او ټولې د هغهٔ نه داسې متأثرې وې چه مثال ئې نشته، او د دروغجن سره الله تعالیٰ خپله ښځه هم خلاف کوی)

نو دوئ وویل چه ښه خبره دې وکړه، طریقه د قتل به ئې څنګه وی؟،

ددهٔ نه خو ګیرچاپیره څوکیداران ولاړ وی، نو ښځې ورته وویل چه طریقه به دا وی چه کومه غټه قلعه ده نو ددې خو هر طرف ته څوکیداران دی سوئ د یو طرف نه یعنی کوم طرفته چه ددهٔ کوټه ده دې طرفته څوکیداران نشته نو دې کوټه کښې به د بهر نه او د دننه سورې وکړو او تاسو به د شپې راننوزئ وسله به ځان سره نهٔ راوړئ، ما به وسله ایخودې وی او ډیوه به مې هم بله کړې وی، سړې هسې هم ماسخوتن کښې شراب څکی تاسو به ئې مړ کړئ۔

هغوی دا مشوره کوله چه ناڅاپه پدې مابین کښې پرې اسود عنسی راننوتو نو فیروز الدیلمي ته ئې وویل چه تهٔ څنګه زما ښځې سره ناست ئې، او په سر باندې ئې ووهلو او نزدې وه چه هغه ئې وژلې وې نو ښځه ورته په قهر شوه چه دا خو زما د ترهٔ ځوی دې، او زما رضاعی وروردې، زما ملاقات ته راغلې دې، دې کښې څه دی، نو هغه د ښځې په خبره لږ راغوند شو۔

او دا ئې ورته ووئیل چه ما دا ستا د وجه نه معاف کړو۔

دې کښې یوه ورځ نیمه تیره شوه دوئ حیران وو چه څه به کوی ؟

نو ښځې ورته جواب ولیږلو چه تاسو کومه اراده کړیده د هغې نه مهٔ شاته کیږئ، نو فیروز هغې ته بیا ورغلو او خبره ئې ورسره مضبوطه کړه او دوئ په څه طریقه دغه کوټې ته ننوتل او د دننه طرف نه ئې د بزګی لاندې څه سورې وکړو دې دپاره چه د بهر نه ورته دیوال سورې کول آسان شی، بیا لږ ساعت د هغې سره کیناستو لکه چه میلمه راغلې وی نو پدې کښې پرې بیا اسود راننوتو او وې وئیل : دا څه دی ؟

نو ښځې وویل چه دا زما رضاعی ورور او د ترهٔ ځوی دې نو اسود هغهٔ لره ورټلو او

بهرئے کړو، نو فیروز خپلو ملګروته واپس شو،

هرکله چه شپه شوه نو دوئ دغه کوټه کښے سورے وکړو او ننوتل نو کوټه کښے ئے د یو خانك لاندے بله ډیوه ومونده، نو فیروز دیلمی ورمخکښے شو، او اسود په خپله بستره باندے اُودهٔ پروت دے، شراب ئے څکلی دی او خنړارئے (خراړے) کوی، او ښځه د هغهٔ په خوا کښے ناسته ده، هرکله چه فیروز د هغهٔ په دروازه باندے ودریدو نو پدے کښے شیطان زر راغلو او اسود ئے کینولو او د هغهٔ په ژبه ئے خبرے وکړے چه اے فیروز! ستا دلته څه کار دے ؟

نو فیروز ووئیل چه زهٔ ویریدم که زهٔ ئے مړ نکړم نو زهٔ به هم هلاك شم او سړے به بچ شی او ښځه به هم هلاکه شی (ګنے ما خو د تړلو اراده کړے وه) نو په جلتئ سره ئے په هغهٔ باندے په توره ګوزار وکړو نو په سر او مرئ باندے ئے ووهلو او سخت ئے زخمی کړو، بیا ئے خپلے ګوټے د هغهٔ په شان باندے کیخودے او قتل ئے کړو۔

بیا راپاڅیدو چه بهر ملګروته خبر ورکړی نو ښځے د لمنے نه ونیولو چه ته لا مهٔ اُوځه۔

د فیروز دا خیال شو چه ښځه وائی چه ما سړے لا نهٔ دے وژلے، نو دهٔ ورته ووئیل چه زهٔ خپلو ملګروته خبر ورکوم چه ما قتل کړیدے، نو هغوی راننوتل او د هغهٔ نه ئے سر پریکړو، نو دے وخت کښے بیا شیطان ورله راغلو او هغه ئے وخوزولو نو هغه وخوزیدو نو بیا دوه کسان د هغهٔ په شا باندے کیناستل او ښځے د هغهٔ ویښته ونیول او سرئے ترے پریکولو، نو دے وخت کښے د هغه د ژبے نه بربر آوازونه شروع شو، نو دریم کس چه ترے سر پریکولو نو دے وخت کښے ئے داسے غړمبارے وکړو لکه د قوی غوائی د رمباړو په شان نو څوکیداران زر په جلتئ کمرے ته راورسیدل او دائے ووئیل :

دا څه دی ؟ دا څه دی ؟ نو ښځے ورته ووئیل : نبی ته وحی کیږی، نو هغوی واپس شول۔ نو بیا فیروز او د هغهٔ دواړو ملګرو مشوره وکړه چه خلکو ته به په کومه طریقه خبر ورکړو ؟ که همداسے وځو نو څوکیداران به مو قتل کړی،

نو پدے ئے مشوره وکړه چه کله صبا راوخیژی نو یو تن به داسے آواز وکړی چه د مسلمانانو او د کافرو ترمینځ شعار او نښه وی، نو کله چه صبا شو نو قیس دغه آواز وکړو نو دے وخت کښے مسلمانان او کافران ټول د قلعه خوا ته راغلل، او بیا قیس د

Maktaba Tul Ishaat.com

قلعه دیوال ته وختلو او په تیز آواز ئے اذان شروع کړو:

[أَشْهَدُ اَنَّ مُحَمَّدًا رَسُوْلُ اللهِ وَاَنَّ عَبهَلَةَ كَذَّابٌ]

زهٔ دا ګواهی کوم چه محمد ﷺ د الله تعالیٰ رسول دے او عبهله دروغجن دے۔

(دے وخت کښے فیروز هم صحیح اسلام قبول کړیدے او قیس هم، کله چه د رسول الله ﷺ د ملګرو سر ملاؤ شوی وو، خو په ظاهره کښے د اسود عنسی ملګری وو)۔

بیا ئے د اسود عنسی سر د کافرانو مینځ ته ورګوزار کړو، نو هغوی پوهه شو چه زمونږ مشرئے وژلے دے نو په هغوی باندے رعب راغے، نو دا مسلمانان ورته تیار ولاړ وو او د مخکښے نه ئے ورته تیارے کړے وو نو د کافرانو پسے شو، وژل او قتلول ئے او څه ئے قیدیان کول او په هره لاره کښے به ورته ناست وو،

نو پدے طریقه الله تعالیٰ په درے میاشتو کښے دننه دننه (یا لږ څه کم څلورو میاشتو کښے) اسود عنسی او د هغهٔ ملګری او نبوت ختم کړو او علاقه بیرته ددے درے کسانو په لاس کښے راغله او اسلام او مسلمانان بیرته رابښکاره شو۔

او د رسول الله ﷺ چه کوم نائبان او ګورنران وو، هغوی بیرته خپلو خپلو کارونو ته راواپس شول،

بیا ددے درے کسانو خپل مینځ کښے په مشرئ باندے اختلاف راغلو خو بیا ئے اتفاق پدے راغلو چه معاذ بن جبل ﷺ به زمونږ مشر وی چه دهٔ به خلکو ته امامت کولو او د علاقے مشر همدے شو او دوئ رسول الله ﷺ ته د اسود عنسی په باره کښے خبر راولیږلو، لیکن الله تعالیٰ د مخکښے نه په همدغه شپه خپل نبی ته خبر ورکړو چه نن شپه الله تعالیٰ اسود عنسی قتل کړو نو هغهٔ خپلو صحابه کرامو ته ددے خبر ورکړو نو چا تپوس وکړو چه چا قتل کړو؟

نبی ﷺ وفرمایل:

[قَتَلَهُ رَجُلٌ مُبَارَكٌ مِنْ بَيْتٍ مُبَارَكِيْنَ]

یو سړی قتل کړو چه برکت (خیر) والا دے، د هغهٔ کورنئ نه دے چه برکت والا دی۔

او بیا ئے وفرمایل: [فَازَ فَيْرُوْزُ] فیروز کامیاب شو۔

او دا خبر په هغه صبا وخت کښے راورسیدو چه په همدے ورځ نبی ﷺ اُوس نزدے وفات کیږی، مرض الوفات کښے دے۔

Maktaba Tul Ishaat.com

[البدایة والنهایة : ۷۰۲/٤، الکامل فی التاریخ : ۲۳۱/۲ لابن الاثیر الجزری]

بیا نبی ﷺ وفات شو،

بیا ابوبکر صدیق ﷛ تـه د اسود عنسی د مرګ تفصیلاتِ راورسیدل په آخر د ربیع الاول کښې کله ئې چه د اُسامه ﷛ لښکر تیاره ولو.

دا هم د رسول الله ﷺ معجزه وه چه ټیلفون او د خبر راوړو بل هیڅ تیزه ذریعه نهٔ وه لیـکـن رسـول الله ﷺ پـه هـغـه شپه دا خبر ورکړو، دیتـه معجزه وائی او دا اجمالی خبر وو.

فیـروز الدیلمی وائی : مونږ په معاذ بن جبل ﷛ بـانـدے اتفاق وکړو نو هغهٔ مونږ ته صـرف درے ورځے مـونـځ وکړو چه دے کښے د رسول الله ﷺ د وفات خبر راورسیدو نو زمـونـږ کـارونـه ګـډوډ شـو او ډیـرے هـغـه خبرے مونږ ناشنا وګڼړلے کومے چه به مونږ پیژندلے، او زمکه په مونږ باندے وخوزیده.

بیا فیروز الدیلمی په خپل اسلام باندے مضبوط پاتے شو.

[البدایة والنهایة ۷۰۳/٤]

ابن اثیر جزریؒ په "اُسد الغابه" کښے لیکی : هرکله چه نبی ﷺ وفات شو نو قیس بن مکشوح دوباره مرتد شو، (والعیاذ بالله)

او د اسـود عـنـسـی چه کوم ملګری پاتی وو د هغوی سره ملاؤ شو چه زهٔ به ستاسو مشـر یم، بیا د "فیروز" او "داذویه" پسے ورغے چه ستاسو د اَسود د ملګرو په باره کښے څـه مشـوره ده؟ نـو دواړو ورتـه اطـمـیـنـان ورکـړو نو دهٔ دواړو له صبا له دعوت وکړو نو "داذویـه" چه راغلو نو قیس هغهٔ لره قتل کړو او "فیروز" ورته راروان وو خو لاره کښے ئے د یوے ښځے نه واوریدل چه دا هم قتل کیدونکے دے لکه چه ملګرے ئے قتل شو نو هغهٔ په اس سور شو او منډه ئے کړه ترے وتښتیدو،

نو لاره کښے ورسره جشنس بن شهر ملاؤ شو (یعنی د باذان نمسے) او هغهٔ ته ئے خبر ورکـړو چـه د سـړی ارادے غـلـطے دی، نو دواړه خَوْلان غرونو ته لاړل او قیس په صنعاء باندے بادشاه شو،

نو دے وخت کښے فیروز الدیلمی ابوبکر صدیق ﷛ ته خط ولیکلو چه مونږ سره په فـوج بـانـدے مـدد وکړه نو هغهٔ ورتـه کسان راولیږل او د قیس سره ئے مقابله وکړه تردے

Maktaba Tul Ishaat.com

چه قیس او د هغهٔ ملګرو شکست وخوړو او قیس پکښې ونیولے شو او قیدی کړے شو، او ابوبکر صدیق ؓ ته راوستے شو نو هغهٔ ورته ډیره رټنه ورکړه او په دغه کارونو ئے سخت ملامته کړو نو هغهٔ انکار وکړو مګر ابوبکر صدیق ؓ هغهٔ لره معاف کړو۔

[اسد الغابة ۱/۳۳٤]

کله چه ابوبکر صدیق ؓ اُسامه ؓ لیږلو نو دائے هم ورته وویل چه کله بلقاء ته او شام ته لاړئ نو بیا به د اسود مقتل (د قتل ځائے) ته هم لاړ شئ دے دپاره چه هلته کوم مسلمانان دی، هغوی ستاسو په لیدو کلك شی، او هغوی ته به دعوت هم ورکړئ، هغوی به مضبوطوئ۔

پدے طریقه سره الله تعالیٰ دا یو شر ختم کړو۔

OOOO

الغرض : ابوبکر صدیق ؓ ته دوه مشکلات راغلل، اول خو د نبوت دعویدار پیدا شو نو د دوئ په باره کښې خو د هیڅ اختلاف رانغلو چه د دوئ وژل پکار دی، ځکه چه د نبی ﷺ نه روستو چه څوك بل نبی منی هغه په اجماع د مسلمانانو کافر او مرتد دے۔

دویم مشکل دا وو چه د عربو عامے قبیلے د زکاة نه منکر شوی وو او چا بیت المال او خلیفه ته زکاة نهٔ ورکولو۔ نو د ابوبکر صدیق ؓ رایه دا وه چه د دوئ سره به قتال کوم، او خبره ئے په جلتئ نافذ کوله، نو ملګرو ورته مشوره ورکړه چه ددے خلکو سره په جلتئ باندے قتال مهٔ کوه، د دوئ سره نرمی پکار ده، ځکه چه دا خلك مونځ کوی، کلمه وائی، نبی ﷺ نبی منی، صرف یو زکاة نهٔ ورکوی نو په قلاره به ښه شی او لږ شان نرمی پکار ده،

عمر بن الخطاب ؓ چونکه د امیر المؤمنین وزیر او مشیر دے نو هغهٔ پدے خبره ډیر ټینګ وو چه دے قسم خلکو سره جنګ نهٔ دے پکار، صرف په زکاة ورسره څنګه جنګ وکړو۔

نو ابوبکر صدیق ؓ قسم وخوړو او دائے وویل :

[وَاللّٰهِ لَأُقَاتِلَنَّ مَنْ فَرَّقَ بَيْنَ الصَّلَاةِ وَالزَّكَاةِ، فَإِنَّهَا شَقِيقَتُهَا فِي كِتَابِ اللّٰهِ]

قسم په الله ! زهٔ به هغه چا سره جنګ کوم چه د مانځه او د زکاة ترمینځ فرق کوی۔

Maktaba Tul Ishaat.com

ځکه چه دا د الله تعالیٰ په کتاب کښې دواړه شریك ذکر کیږی۔
(نو چه مونځ کوی او زکاة خلیفة المسلمین ته نهٔ ورکوی نو زهٔ به ورسره خامخا جهاد کوم) عمر فاروق ﷛ ورته وفرمایل: آیا حدیث کښې نهٔ دی راغلی دی چه نبی ﷺ فرمایلی:

[اُمِرْتُ اَنْ اُقَاتِلَ النَّاسَ حَتّٰی یَشْهَدُوْا اَنْ لَّا اِلٰـهَ اِلَّا اللّٰهُ وَاَنَّ مُحَمَّدًا رَسُوْلُ اللّٰهِ، فَاِذَا فَعَلُوْا ذٰلِكَ عَصَمُوْا مِنِّیْ دِمَائَهُمْ وَاَمْوَالَهُمْ اِلَّا بِحَقِّ الْاِسْلَامِ]

[بخاری رقم: ۲۵، ومسلم: ۱۳۵]

(ما ته حکم شوی چه زهٔ به د خلکو سره جنګ کوم تردی چه دوئ د توحید او د رسالت ګواهی ورکړی نو کله چه دوئ دا کار وکړو نو دوئ زما نه خپلې وینې او مالونه محفوظ وساتل مګر د اسلام په حقوقو به تری مال هم اخستی شی او وینه به هم تری تویږی)۔

نو دی خلکو خو کلمه وئیلې ده او مونځ هم کوی، نو بیا جنګ څنګه وکړی شی، او زکاة هم منی۔

نو ابوبکر صدیق ﷛ الله تعالی پدی وخت کښې ډیر صائب الرأی کړی وو۔ نو هغهٔ دی وخت کښې عمر فاروق ﷛ ته دوه دری خبری وکړی یو دا چه

[اَجَبَّارٌ فِی الْجَاهِلِیَّةِ وَخَوَّارٌ فِی الْاِسْلَامِ]

په جاهلیت کښې جبّار وی (زور به ډی کولو، چا به چه غلطه خبره وکړه تا به ورسره سختی کوله) او په اسلام کښې کمزوری شوی۔

(لکه بعض خلك چه د پوله پټی لانجه راشی نو ځان پری وژنی خو که د اسلام خبره راغله نو بیا وائی چه هر سړی به خپل کار کوی)

دویمه خبره ئې دا وکړه:

[اِنَّهٗ قَدْ تَمَّ الدِّیْنُ وَانْقَطَعَ الْوَحْیُ اَیُنْقَصُ وَاَنَا حَیٌّ]

[قال فی الریاض النضرة فی مناقب العشرة، ۲۴۷، خرجه النسائی بهذا اللفظ ومعناه فی الصحیحین، الفتنة فی عهد الصحابة ص: ۲۹۷]

خبره دا ده چه دین پوره شویدی او وحی منقطع شویده نو آیا دین کښې به کموالی راځی او زهٔ به ژوندی یم۔ (یعنی خلك به زکاة نهٔ ادا کوی او دین کښې به کمی کوی او

زهٔ به ژوندے یم، دا چرته هم نشی کیدے)

(صدیق اکبر ﷺ پدے پو هیدو چه دِ خلیفه دپاره ذمه واری دا ده چه دین به د زیادت او د نقصان نه بچ ساتی، ددے وجه نه ئے داسے استفهام وکړو چه آیا دین به کښے کمے کیږی او زهٔ به ژوندے یم؟ یعنی دا ممکن نهٔ ده او زهٔ دا هیڅکله نهٔ قبلوم ترڅو چه زهٔ ژوندے یم)

دریمه خبره ئے دا وکړه : چه دے حدیث کښے دا خبره راغلے ده :

[عَصَمُوا مِنِّیُ دِمَاءَ هُمُ وَاَمُوَالَهُمُ اِلَّا بِحَقِّهَا]

د دوئ وینه او مالونه به هله محفوظ وی چه د اسلام حق ادا کړی، لکه مثلاً که قتل وکړی نو قصاص به ترے اخستے کیږی او که غلا ئے وکړه لاس به ترے پریکړے کیږی. نو دارنگه که د الله تعالیٰ حکم ئے پریخوستے دے نو قتال به ورسره کیږی نو دے خلکو خو د الله تعالیٰ حکم د زکاة په باره کښے پریخوستے دے (ځکه چه خلیفة المسلمین ته زکاة ادا کول واجب دی) نو د قتال لائق دی۔

نو عمر فاروق ﷺ فرمائی : چه ما سوچ وکړو :

[فَوَاللّٰهِ مَا هُوَ اِلَّا اَنُ رَاَیُتُ اللّٰهَ شَرَحَ صَدُرَ اَبِیُ بَكُرٍ لِلُقِتَالِ، فَعَرَفُتُ اَنَّهُ الُحَقُّ]

[البخاری : ۱۳۹۹، ۱٤٥۷ مسلم : ۱۳۳]

(نو ما ولیده چه الله تعالیٰ د ابوبکر صدیق ﷺ حق ته سینه کولاوه کړے ده نو ما ته یقین وشو چه همدا خبره حقه ده)

نو بیا تول په بهادرئ سره ودریدل او ددے تولو ډلو سره ئے قتال شروع کړو چه هغه اُوږدے واقعے دی چه د خلاصے په طوربه بعض ذکر کړے شی۔

یو د قبائل العرب د مرتدینو سره ابوبکر صدیق ﷺ جنگ وکړو او بیا روستو ئے د عراق والو سره مقابله شروع کړه بیا په هغهٔ باندے وفات راغے او د هغے نه بعد د عمر فاروق ﷺ خلافت راغے نو هغهٔ بیا پوره کار وکړو ځکه چه د ابوبکر صدیق ﷺ د خلافت موده کمه وه، دوه دوه نیم کاله وه۔ عامه دنیا کښے دومره کار ونشو صرف قبائل العرب بیرته اسلام ته واپس کول وشو۔

Maktaba Tul Ishaat.com

ابوبکر صدیق ﷛ ته د وفدونه راتلل :

ابوبکر صدیق ﷛ ته په مدینه منوره کښې کسان راغلل د مختلفو قومونو نه، لکه د بنو اسد او د غطفان نه، د ابوبکر صدیق ﷛ خبرو ته غوږ ږدی چه څه وائی نو هغوی درخواست وکړو چه یا خلیفةَ رسول الله! مونږ تا منو او اسلامی حکومت منو او الله تعالیٰ او د هغهٔ رسول منو، مونځ هم کوو لیکن دومره ده چه تهٔ مونږ ته زکاة معاف کړه۔

نو ابوبکر صدیق ﷛ ورته سخت جواب ورکړو او دائے ورته وویل :

تاسو چه زکاة نهٔ ورکوئ نو حَرْبِ مُجْلِیَه ته تیار شئ۔ یعنی هغه جنګ ته چه ښکاره په ډاګه باندے وی۔ [اَوْ خُطَّةٌ مُخْزِیَةٌ] یا داسے کار درسره کوم چه تاسو به وشرموی – هغے ته تیار شئ۔

نو هغوی وویل چه حرب مُجْلِیَه خو مونږ پیژنو چه د میدان او د ډاګے جنګ وی، خو خطة مُخْزِیَه څه ته وائی ؟ نو ورته ئے وویل : مونږ به تاسو وژنو او تاسو به مونږ سره جنګ کوئ نو تاسو به زمونږ شهداؤ ته جنتیان وایئ او مونږ به ستاسو مړو ته جهنمیان وایو،

دویمه دا چه تاسو زمونږ کوم کسان ووژل نو مونږ به درنه دیت غواړو او تاسو نهٔ چه مونږ مړهٔ کړل د هغے به دیت نهٔ درکوو، او کومے علاقے چه مو درنه ونیولے نو هغه به زمونږ وی او که تاسو مونږ نه ونیولے نو هغهٔ به ستاسو نهٔ وی۔

ستاسو زنانه به زمونږ دپاره حلالے وی (وینځے به وی) او زمونږ زنانه چه تاسو ونیسئ داسے به نهٔ وی۔ (دا خُطه مُخزیه ده) نو خلک ئے پدے خبره سخت ویره ول۔

(ابوبکر ﷛ لکه چه انتهائی نرم سړے دے لیکن پدے وخت کښې ډیر سخت بهادر هم دے، او د الله تعالیٰ د دین دپاره په خپل ځائے کښې سختی ښه ده۔ آؤ، کله چه د انسان د میرې هومره زور نهٔ وی او غټے غټے خبرے کوی دا فائده نهٔ بلکه ضرر کوی)

بیا دغه وفدونه واپس لاړل،

نو ابوبکر صدیق ﷛ خپل ملګری راجمع کړل او دائے وویل چه اے خلکو ! جنګ

Maktaba Tul Ishaat.com

دپاره تیار شئ، وجه دا ده چه ددے خلکو شکلونه ما ولیدل چه ډیر ناولی شکلونه وو نو ما وپیژندل چه دا خلك كافر دی، او دوئ د جنگ اراده لری او ستاسو کموالے ئے هم ولیدو او ستاسو طاقت ئے هم کمزورے ولیدو نو دا خلك به په تاسو باندے د شپے حمله کوی یا د ورځے.

نو بیا ئے هغه ترتیب برابر کړو کوم چه مخکښے مونږ ذکر کړو چه د مدینے نه گیر چاپیره ئے څوکیداران مقرر کړل، او څه کسان ئے په مسجد نبوی کښے تیار ودره ول او زنانه او ماشومان ئے یو طرف ته کړل او سم جنگی حالت ئے جوړ کړو او د اُسامه ﷺ لښکرئے رخصت کړو، هغوی پدے زمانه کښے شام ته تلی دی.

دلته ابوبکر صدیق ﷺ دا کمال وکړو چه کومے لرے علاقے دی او د هغوی نه یره کمه ده نو هغوئ ته ئے تهدیدی (دهمکی والا) خطونه ولیکل چه اے خلکو !

په اسلام کلك شئ او څوك چه آوړیدلی دی نو هغوی بیرته راواوړئ که نهٔ وی نو زما جنگ ته تیار شئ.

او نزدے خلکو ته ئے جواب ولیږلو چه څوك په اسلام باندے باقی دی هغوی مدینے ته راشئ، چا سره چه څه طاقت وی هغه ځان سره راوړئ،

نو پدے کښے کومے قبیلے چه په اسلام باندے ولاړے وے لکه جُهینه قبیله، اسلم، غِفار قبیلے مدینے ته راغلل او په سوو کسان وو، اُوښان ئے هم ځان سره راوستل او مالونه ئے هم راوړل، نو الله تعالیٰ ددے په وجه په مدینه کښے یو قسم طاقت پیدا کړو، ځکه چه ټول خلك خو مرتد شوی نهٔ وو، په هر ځنګل کښے زمرے وی، په هره قبیله کښے مؤمنان صالحین موجود وو اگرکه بعض مشران گمراه شوی وو.

په مدینه باندے حمله او د ذی القصے جهاد

پدے کښے ابوبکر صدیق ﷺ پدے حالت کښے وو نو د ذی القصه علاقے نه څه کسانو - چه د ذُبیَان او عَبس قبیلے نه وو- په مدینه باندے حمله وکړه،

(ذی القصه مدینے ته نزدے ځائے دے د ربذے په لاره دے) هغوی د مسلمانانو لږ والے ولیدو چه دا به وړانه کړو نو د هر څه نه به خلاص شو، د مونځونو او د زکاتونو نه، د

اسلام نه ئے ځان خلاصولو۔

نو پدے کښے ابوبکر صدیق ﷺ تـه خبر وشو، هغه په جلتئ باندے راووتو او مسجد والا ئے راپاخـول چـه پاخیږئ دشمن راغے، په اُوښانو باندے سوارۀ شو نو ورپسے شو، دشمن سره دومره طاقت نۀ وو نو منډه ئے کړه، او ذی حُسَی علاقے ته ورسیدل،

نـو دغـه مشرکانو په دغه علاقه کښے ځانله نور کسان تیار کړي او دغلته ئے کینولی وو چـه کـه مـونږ پسے چرته ابوبکر صدیق (ﷺ) او د هغـۀ مـلـګری راشي نو تاسو به زمـونږ مـدد کـوئ، کـلـه چـه دا مسلمانان هلته ورسیدل نو هغوی دا کار کړے وو چه ګـوډي او شـهـنازونه ئے ډك کړي وو او پړي ئے پکښے اچولي وو او د اُوچتو ځایونو نه ئے د اُوښانو مخے ته راګوزار کړل، او هغه دره زارے کوي، (او شور کوي) او اُوښان د یو شي نه نۀ یریږي صرف د شهناز او ګوډي نه ډیر یریږي چه مخے ته ئے ورله ګوزار کړي،

نو کله ئے چه دا راګوزار کړل او پړي ئے پکښے تړلي وو نو هغه به ئے همداسے راښکل او ګـوډي ئے خـوزه ول نـو پـدے کښے د مسلمانانو اُوښانو سخت نفرت وکړو او ویریدل منډه ئے کړه، نو بیرته په مدینه باندے راننوتل،

د الله تـعـالـیٰ امـتـحـان دے، نـو دے کښے دغه مشرکانو وویل چه مونږ خو مسلمانان ویـره ول، نـو دغـه نـورو کسـانـو تـه ئے جواب ولیږلو کوم چه وړاندے ذی القصه علاقه کښے وو چه راشئ خلك په لړ څه ویریدل راځئ چه پسے ورځو،

نـو هـغـوی چـه کـله دلته راغلل، نو دلته ابوبکر صدیق ﷺ پـه هـمدغه شپه باندے بیـرتـه تیـار کـړل چـه مـونږ ددے خبـرو نه نۀ یریږو راځئ چه بیا پسے ورځو نو په پنځو ګـیـنـتـو کښے دننه بیرته واپس شو نو چه هغه علاقے ته ورسیدل د صبا د راختلو وخت وو نـو مشرکان په دوئ باندے پو هه شوی نۀ وو چه دوئ ورسره په یو میدان باندے ولاړ وو،

نو دلتـه مشرکان او مسلمانان ملاؤ شول او سخت جنګ وشو چه پدے کښے ابوبکر صدیق ﷺ خپله هم حاضر دے، نعمان بن مُقَرِن ﷺ ئے په ښی طرف ودرولے او عبد الله بن مقرن ﷺ ئے پـه ګس طرف باندے او سُوید بن مقرن ﷺ ئے په روستو طرف باندے مـقـرر کـړو چه دا اُوه (۷) وروڼه وو او ټول ډیر اُوچت متقیان او مجاهدین خلك وو او دا ټول ئے پدے جنګ باندے مشران کړي وو،

Maktaba Tul Ishaat.com

او پدې جنګ کښې د ابوبکر صدیق ﷛ سره علي بن ابي طالب ﷛ هم وتلے وو.

چا ابوبکر صدیق ﷛ ته وویل چه ته مونږ سره مهٔ څه ځکه چه ته خلیفة المسلمین ئے نو هغهٔ وویل: زهٔ به ستاسو په خپل نفس سره همدردی کوم.

(الکامل فی التاریخ)

نو نمر لا راختلے نهٔ وو چه الله سبحانه وتعالیٰ دا خلك مردار کړل او لړ شان کسان وتښتیدل، بیا ابوبکر صدیق ﷛ مخکښې لاړو ذی القصه علاقه ئے هم ونیوله او بیا ربذه علاقه ئے هم ونیوله او په بنو ذُبیان باندې ئے غلبه وکړه نو د هغوی علاقے ئے هم ونیولے،

او دا ئے وویل: [حَرَامٌ عَلٰى بَنِیْ ذُبْیَانَ اَنْ یَّتَمَلَّكُوْا هٰذِهِ الْبِلَادَ، اِذْ غَنِمْنَاهَا اللّٰهُ]

په بنو ذبیان باندې حرامه ده چه ددې علاقو مالکان جوړ شی ځکه چه دا الله تعالیٰ مونږ ته په غنیمت کښې راکړې، نو ابرق او د ربذې علاقے ئے د مسلمانانو د اسونو او څاروو دپاره چراګاه جوړه کړه.

[البدایة والنهایة ٦/٣٤٦]

بیا ابوبکر صدیق ﷛ مدینې ته راواپس شو، بیا دوباره قتال دپاره اُووتو نو حملے ئے وکړې تردې چه دغه علاقے ئے نورې هم فتح کړې، پنځوس شپیته ورځې پدې کښې تیرې شوې نو پدې ورځو کښې د اُسامه بن زید رضی الله عنهما لښکر هم روغ رمټ راواپس شو.

او ابوبکر صدیق ﷛ ذی القصّه علاقه مَقَرُّ الْقِیَادة وګرځوله یعنی معسکر ئے ترې جوړ کړو، او د دغه ځائے نه به ئے عامے دنیا ته فوجونه لیږل.

0000

Maktaba Tul Ishaat.com

مرتدینو طرفته فوجونه روانول

شعبان سنة (۱۱ ھ) موافق : اکتوبر سنة ٦٣٢م

په دغه ځائې کښې ابوبکر صدیق ﷛ یولس جنډے تیارے کړے او هره جنډه ئے یو یو امیر لره ورکړه او د عربو مختلفو علاقو ته ئے روان کړل چه څوك به یو طرف او څوك به بل طرف ته ځي،

(۱) نو یوه جنډه ئے خالد بن الولید ﷛ ته ورکړه،

(چه دهٔ ته رسول الله ﷺ د الله تعالیٰ توره وئیلے ده چه الله تعالیٰ په مشرکانو راوخکلے ده۔ دے د سلو نه زیاتو معرکو او جنګونو کښې حاضر شویدے او نهٔ دے شهید شوے بلکه بیا روستو زمانه کښې په خپل مرګ وفات شو)

نو خالد ﷛ ته ئے ووئیل چه تهٔ به د بنو طیء او بنو اسد قبیلے له ورځې هلته یو سړے دے، طلیحه بن خُویلد اسدی چه د نبوت دعوه ئے کړیده او ددهٔ سره قوم او قبیلے ملګرے شویدی لکه بنو عبس او ذُبیان، دوئ سره به قتال کوے۔

او ددے نه چه فارغ شوے نو په بُطاح علاقه کښې به د مالك بن نویره مقابلے ته ورځے۔

(۲) دویمه جنډه ئے عکرمه بن ابی جهل ﷛ ته ورکړه او دهٔ ته ئے حکم وکړو چه تهٔ به یمامے ته ځے او د بنو حنیفه ؤ د مشر مسیلمة الکذاب مقابله به کوے۔

(۳) او دریمه جنډه ئے شرحبیل بن حسنه ته ورکړه چه تهٔ به د عکرمه پسے روستو ورځے، د عکرمه مدد به کوے ځکه چه بنو حنیفه ډیر زوره ور خلك وو۔

(او خالد بن ولید ﷛ ته ئے هم وئیلی وو چه کله ډے دغه قوم ووهلو نو بیا به په بنو حنیفه ؤ باندے راتاویږئ او د دغه قوم مقابله به کوئ ځکه چه دا اُولِیْ بَأْسٍ شَدِیْدٍ وو۔ (سخت جنګیان خلك وو)۔ لکه روستو راځي چه هغوی د مسلمانانو سره ډیر سخت جنګ کړے او ډیر مسلمانان ئے شهیدان کړیدی۔

Maktaba Tul Ishaat.com

او کله چه د هغوی نه فارغ شی نو بیا به اسونه قضاعه قبیله پسے روان کړی۔

(٤) او څلورمه جنډه ئے خالد بن سعید بن العاص ﷺ ته ورکړه چه تۀ به حُمُقَتَیۡن ته ځے چه دا په مشارف الشام کښے یو ځائے دے۔

(۵) او پنځمه جنډه ئے عمرو بن العاص ﷺ ته ورکړه چه تۀ به د قُضاعه او د وَدِیعَه قبیلے مقابلے دپاره ځے۔

(٦) او شپږمه جنډه ئے حُذیفه بن مِحْصَن الْغَلْفَانی ﷺ ته ورکړه چه تۀ به اهلِ دَبَا ته ورځے۔

(۷) او اوومه جنډه ئے عرفجه بن هَرْثَمه ﷺ ته ورکړه چه تۀ به "مَهَرَه" علاقے ته ځے او دے دواړو ته ئے حکم وکړو چه دوئ به یو بل سره جمع کیږی او هر یو تن سره به خپل خپل کسان وی۔

(۸) او اتمه جنډه ئے العلاء بن الحضرمی ﷺ ته ورکړه چه تۀ به بحرین ته ځے دلته مرتدین پیدا شویدی۔

(۹) نهمه جنډه ئے مَعن بن حاجز ﷺ ته ورکړه،

(دا روایت د کامل د ابن الاثیرؒ دے، او د طبری په روایت کښے طرفه بن حاجز ذکر دے) چه تۀ به په بنو سلیمو کښے د مرتدینو مقابله کوے او د دوئ سره چه د هوازن نه کوم خلك ملګری شویدی۔

(۱۰) او لسمه جنډه ئے سُوید بن مقرن ﷺ ته ورکړه چه تۀ به په یمن کښے تِهامَه علاقے ته ځے (دا یوه خکته علاقه وه)

(۱۱) او یولسمه جنډه ئے مهاجر بن ابی امیه ﷺ ته ورکړه او دۀ ته ئے حکم وکړو چه تۀ به د اَسود عنسی د فوجونو او د قیس بن مکشوح مقابله کوے کومو چه په شهر بن باذان ﷺ او فارس والو باندے ظلم کړے وو، نو د دغه فارس والو مسلمانانو مدد به کوے۔

(لکه مخکښے تیر شوی وو چه فیروز الدیلمی د ابوبکر ﷺ نه د قیس په مقابله کښے فوج غوښتے وو نو اُوس وخت راغے چه ابوبکر صدیق ﷺ ئے مدد وکړی)۔

(الکامل فی التاریخ)

نو د ذی القصه نه دغه امیران د خپلو لښکرو سره د مرتدینو د مقابلے دپاره روان شو

Maktaba Tul Ishaat.com

چه دا ټول نیکان صالحین متقین خلك دی، او د قرآن کریم قاریان او علماء دی، د الله تعالیٰ سره تعلق والا دی، او شاته ورپسے دعاګانے دی، او د هغوی دعاګانے هم دی، او د ایمان په بنیاد باندے صرف د الله تعالیٰ د رضا دپاره روان دی،

ابوبکر صدیق ﷺ چه کله دا خلك روانول نو ډیره اعلیٰ خطبه ئے ورته ووئیله، د الله تعالیٰ حمدونه او صفات ئے بیان کړل او د رسول الله ﷺ صفات ئے بیان کړل چه الله تعالیٰ راولیږلو او د الله تعالیٰ امرئے نافذ کړو او خپله ذمه واری ئے ادا کړه،

او بیا ئے د هغهٔ د وفات تذکره وکړه چه ټول پیغمبران دغه شان راغلی دی، او بیا وفات شویدی که څوك د رسول الله ﷺ عبادت کوی نو معبود ئے وفات دے او که د الله تعالیٰ بندګی کوی نو الله تعالیٰ ژوندے دے، ستاسو په سرونو ولاړ دے،

لاړ شئ د هغه چا سره جنګ وکړئ چه کافر شویدی او د شیطان تابعدار شویدی او د الله لاره ئے پریخودے ده، او هغوی ته ئے ښکلے نصیحتونه وکړل چه د خلکو سره د رفق (نرمئ) نه کار واخلئ، چا چه کلمه ووئیله او بیرته دین ته راواپس شو نو تاسو به هغوئ ته پیغورونه نهٔ ورکوئ بلکه نرمی ورسره وکړئ،

او دا ئے هم ورته ووېل چه کوم قوم کښے مو اذان واوریدو نو هغوئ سره جنګ مهٔ کوئ او مخکښے نه ئے دے مرتدینو ته خط لیږلے وو چه زما فوجونه چه درځی نو چا چه اذان کولو نو هغه به محفوظ وی او هغوئ ته به مونږ څه نهٔ وایو، او چا چه اذان نهٔ کولو نو زمونږ جنګ به ورسره وی،

دا اذان به کوی برابره ده د مانځه وخت وی او که نهٔ، یعنی مجاهدین چه درشی نو ستاسو دپاره به نښه دا وی چه تاسو به اذان شروع کوئ نو دا به ستاسو د ایمان نښه وی او که اذان مو نهٔ کولو نو دا به نښه وی چه تاسو مرتد یئ۔

او الله رب العالمین باندے د توکل او هغهٔ نه د مدد طلب کولو امرئے وکړو او دا امید ئے ورکړو چه قرآن کریم کښے الله تعالیٰ مونږ او تاسو ته وئیلی دی :

﴿وَعَدَ اللّٰهُ الَّذِيْنَ آمَنُوْا مِنْكُمْ وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ لَيَسْتَخْلِفَنَّهُمْ فِي الْأَرْضِ كَمَا اسْتَخْلَفَ الَّذِيْنَ مِنْ قَبْلِهِمْ وَلَيُمَكِّنَنَّ لَهُمْ دِيْنَهُمُ الَّذِي ارْتَضٰى لَهُمْ﴾

[النور:۵۵]

الله تعالیٰ ستاسو نه د ایمان والو او نیك عمل والو سره وعده کړیده چه دوئ ته به په

Maktaba Tul Ishaat.com

زمکه کښې خلافت ورکوی لکه څنګه ئې چه مخکښو ته خلافت ورکړے وو او دوئ له به هغه دین مضبوطوی چه کوم ئې ورله غوره کړیدے۔

الغرض: پدے خطبه سره ئې ملګری تازه کړل۔

دا ډیره اُوږده خطبه ده مختصر خلاصه ئې داسے لیکلے شی:

او ما ته دا خبره رارسیدلے ده چه تاسو کښې څه کسان د خپل دین اسلام نه آوړیدلی دی پس د هغے نه چه اقرار د اسلام ئې کړے او په اسلام ئې عمل کړے، دا خلك په الله دهوکه شویدی او د الله تعالیٰ د حکمونو نه ناخبره دی، او د شیطان خبره ئې منلے ده، الله تعالیٰ فرمائی: (ترجمه): او را یاد کړه هغه وخت چه کله مونږ ملائکو ته وویل چه آدم علیه السلام ته سجده وکړئ نو هغوی سجده وکړه سوئ د ابلیس نه، هغه د پیرانو نه وو نو د خپل رب د حکم نافرمانی ئې وکړه، آیا نو تاسو دے او ددهٔ اولاد زما نه سوئ دوستان جوړه وئ حال دا چه دوئ خو ستاسو دشمنان دی، د ظالمانو دپاره شیطان په بدله کښې ډیر بد دے۔

[وَاِنِّیْ اُوْصِیْکُمْ بِتَقْوَی اللّٰهِ وَحَظِّکُمْ وَنَصِیْبِکُمْ مِنَ اللّٰهِ، وَمَا جَاءَ کُمْ بِهٖ نَبِیُّکُمْ ﷺ وَاَنْ تَهْتَدُوْا بِهُدَاهُ وَاَنْ تَعْتَصِمُوْا بِدِیْنِ اللّٰهِ فَاِنَّ کُلَّ مَنْ لَمْ یَهْدِهِ اللّٰهُ ضَالٌّ وَکُلُّ مَنْ لَمْ یُعَافِهٖ مُبْتَلًی، وَکُلُّ مَنْ لَمْ یُعِنْهُ اللّٰهُ مَخْذُوْلٌ، فَمَنْ هَدَاهُ اللّٰهُ کَانَ مُهْتَدِیًا وَمَنْ اَضَلَّهٗ کَانَ ضَالًّا،

وَقَدْ بَلَغَنِیْ رُجُوْعُ مَنْ رَجَعَ مِنْکُمْ عَنْ دِیْنِهٖ بَعْدَ اَنْ اَقَرَّ بِالْاِسْلَامِ وَعَمِلَ بِهٖ اِغْتِرَارًا بِاللّٰهِ وَجَهَالَةً بِاَمْرِهٖ وَاِجَابَةً لِلشَّیْطَانِ، قَالَ اللّٰهُ تَعَالٰی: ﴿وَاِذْ قُلْنَا لِلْمَلٰٓئِکَةِ اسْجُدُوْا لِاٰدَمَ فَسَجَدُوْا اِلَّا اِبْلِیْسَ کَانَ مِنَ الْجِنِّ فَفَسَقَ عَنْ اَمْرِ رَبِّهٖ اَفَتَتَّخِذُوْنَهٗ وَذُرِّیَّتَهٗ اَوْلِیَاءَ مِنْ دُوْنِیْ وَهُمْ لَکُمْ عَدُوٌّ بِئْسَ لِلظّٰلِمِیْنَ بَدَلًا﴾ (الکهف ۵۰)

وَاِنِّیْ بَعَثْتُ اِلَیْکُمْ -فُلَانًا- فِیْ جَیْشٍ مِنَ الْمُهَاجِرِیْنَ وَالْاَنْصَارِ وَالتَّابِعِیْنَ لَهُمْ بِاِحْسَانٍ وَاَمَرْتُهٗ اَنْ لَّا یُقَاتِلَ اَحَدًا وَلَا یَقْتُلَهٗ حَتّٰی یَدْعُوَهٗ اِلٰی دَاعِیَةِ اللّٰهِ فَمَنِ اسْتَجَابَ لَهٗ وَاَقَرَّ وَکَفَّ وَعَمِلَ صَالِحًا قَبِلَ مِنْهُ وَاَعَانَهٗ عَلَیْهِ، وَمَنْ اَبٰی اَمَرْتُ اَنْ یُّقَاتِلَهٗ عَلٰی ذٰلِكَ ثُمَّ لَا یُبْقِیْ عَلٰی اَحَدٍ مِنْهُمْ قَدَرَ عَلَیْهِ وَیَقْتُلَهُمْ کُلَّ قِتْلَةٍ، وَاَنْ یَّسْبِی النِّسَاءَ وَالذَّرَارِیَّ وَلَا یَقْبَلُ مِنْ اَحَدٍ اِلَّا الْاِسْلَامَ، فَمَنِ اتَّبَعَهٗ فَهُوَ خَیْرٌ لَّهٗ وَمَنْ تَرَکَهٗ فَلَنْ یُّعْجِزَ اللّٰهَ، وَقَدْ اَمَرْتُ رَسُوْلِیْ اَنْ یَّقْرَاَ کِتَابِیْ فِیْ کُلِّ

Maktaba Tul Ishaat.com

مَجْمَعٍ لَكُمْ، وَالدَّاعِيَةُ الْأَذَانُ......]

[الرياض النضرة : ص ٣٥٣، تاريخ الطبرى : ٢٥٨/٢]

(د حمد او ثناء او د رسول الله ﷺ د شان ذکر کولو نه پس ئے دا هم وفرمايل) :

او زهٔ تاسو ته په تقویٰ (یعنی د الله تعالیٰ نه په یره) وصیت کوم او پدے خبره چه د الله تعالیٰ نه برخه واخلئ (یعنی تعلق ورسره جوړ کړئ) او د الله نبی ﷺ چه تاسو ته کوم دین او احکام راوړیدی د هغے پابندی وکړئ،

او زما بـل وصیت دا دے چه تاسو د رسول الله ﷺ طریقه راونیسئ او د الله تعالیٰ په دین باندے منګولے ولګوئ، ځکه چه هر هغه څوك چه الله تعالیٰ ورته هدایت ونکړی هغـه ګمراه دے، او چا لره چه الله تعالیٰ (د فتنو نه) بچ ونهٔ ساتی، (هغه په ازمینبت او امتحان کښے اخته شویدے) او چا سره چه الله تعالیٰ مدد ونکړی هغه به شرمولے شی، نـو چا تـه چه الله تـعـالیٰ هدایت وکړی، هغه صحیح هدایت والا دے، او چا لره چه الله تعالیٰ ګمراه کړی هغه حقیقی ګمراه دے۔

او مـا تاسو ته (فلانے امیر) د مهاجرینو او انصارو او تابعینو په فوج کښے در ولیږلو او دهٔ تـه مے دا حـکـم کړے چه دے به هیڅ یو تن سره جنګ نکوی او نهٔ به ئے وژنی تردے چه د الله تـعـالیٰ داعی تـه ئے راوبلی (او د الله تعالیٰ داعی اذان دے) نو چا چه ددهٔ خبره اُومـنله او اقرارئے وکړو او د خپل شرونو نه بند شو او نیك عمل ئے شروع کړو نو ددهٔ نه بـه ئے قبلوی او په هغے به ورسره مدد کوی، او چا چه انکار وکړو نو ما دهٔ ته حکم کړے چه د هغـهٔ سره به پدے کار قتال کوی بیا چه دے په هر چا باندے د هغوی نه قادر شو نو هیڅ رحم به پرے نهٔ کوی، او په پوره طریقے سره به ئے وژنی،

او د هـغـوی زنانه او ماشومان به قیدیان کوی، او د هیچا نه به نهٔ قبلوی مګر صرف اسلام، نـو چـا چه ددهٔ تابعداری وکړه نو دا به ورله غوره وی او چا چه پریخوده نو هغه الله تعالیٰ لره نشی عاجز کولے، (یعنی د الله تعالیٰ نه نشی خلاصیدے)

او مـا خپـل استازی تـه دا حـکـم کړے چه زما دا خط بـه ستاسو په هره مجمع (ډله) کښے لولی۔

نـو کـلـه چـه مسلـمـانـان اذان شروع کړی نو تاسو هم اذان وکړئ دوئ به ستاسو نه بندیږی او که تاسو اذان ونکړو نو په جلتئ به دریاندے حمله کوی۔

Maktaba Tul Ishaat.com

د خالد ﷛ او طُلیحة اسدی مقابله

یا جنګ د بُزاخه:

ابوبکر صدیق ﷛ خالد بن ولید ﷛ ته ووېل چه ته به طیء او اسد او غطفان قبیلې ته ورځې او هغوئ باندې به حمله کوې۔
امام ذهبیؒ په تاریخ الاسلام کښې د امام زهریؒ نه نقل کړیدي چه خالد بن ولید ﷛ ځان سره اووه ویشت سوه (۲۷۰۰) کسانو نه تر درې زره کسانو پورې واخستل او روان شو۔
ځکه چه دا خلك مرتد شویدي او د هغوی د ارتداد وجه دا وه چه هغوی کښې یو سړې پیدا شوې وو چه د هغهٔ طُلَیحه بن خویلد اَسَدی نوم وو،
دې نبی ﷺ ته په وفد کښې هم راغلې وو لیکن روستو ئې د نبوت دعوه کړې وه، او دا ئې د نبی ﷺ په زمانه کښې تقریباً کړې وه چه هغه لا وفات نهٔ دې، نبی ﷺ د هغهٔ پسې یو صحابی ضِرار بن اَزْوَرْ ﷛ ورلیږلې وو چه ددهٔ مقابله وکړی او فوج ئې ورکړې وو، نو هغهٔ لا دا مقابله پوره کړې نهٔ وه چه دلته نبی ﷺ وفات شو نو ضرار بن اَزْوَر بیرته راواپس شو۔
د نبی ﷺ وفات ډیره لویه فاجعه (درد ورکونکې مصیبت) او غټه سانحه وه نو دغه مسلمانان بیرته راواپس شول۔
پدې کښې خالد بن ولید ﷛ د طُلیحه اسدی پسې روان شو۔

طلیحه به خلکو ته دا خبره کوله چه زهٔ نبی یم، الله تعالیٰ ستاسو په مخونو خړ کولو او کُناتو پورته کولو باندې خه کوی، (یعنی مونځونه درته معاف دی) بلکه په ولاړه سره ښهٔ په پاکدامنئ سره د الله تعالیٰ ذکر کوئ۔
(البدء والتاریخ)

Maktaba Tul Ishaat.com

عوام خلك آسانو كارونو ته خوشحاليږي نو پدے وجه دهٔ هم ډير خلك تابع شو چه نبي هم دے او دين ئے هم آسان دے، غلط خواهشات هم پكښے پوره كيږي۔

نو طليحه اسدي ځان سره ډير خلك ملګري كړل، مرتدين ئے ملګري كړل، لكه جديله قبيله او غوث قبيله،

او يو پكښے عُيَينه بن حصن الفزاري هم دے چه د غطفان (بنو فزاره) قبيلے مشر دے، چه دا هم د طليحه ملګرے شويدے او دهٔ مخكښے هم ډير ورانے كړے وو۔

دهٔ هم اسلام سم زړهٔ ته نهٔ دے ننوتے۔

دهٔ د خپل قوم بنو فزاره ؤ نه اُوه سوه (۷۰۰) كسانو فوج راوستے وو او د طليحه ملګرتيا ئے پرے كوله،

او د ابوبكر صديق ﷺ نه ئے انكار كولو چه دهٔ نشو منلے او د استهزاء په طريقه به ئے وئيل چه مونږ د اُوښانو د پلار پسے نشو روانے دے،

(ځكه چه د ابوبكر د لفظ همدا معنیٰ ده يعني پلار د اُوښ، نو دوئ به ورته په استهزاء كښے ابو الْفَصِيْل وئيلو يعني د اُوښ د بچي پلار)

ابوبكر صديق ﷺ چه كله په ذي القصه علاقه كښے وو نو هلته نه ئے عدي بن حاتم بنو طيء پسے ليږلے وو چه دوئ ته د اسلام دعوتِ وركړي نو هغهٔ ورته بار بار دعوت وركړو چه بيرته اسلام ته راشئ او د الله تعالیٰ حكم مات نكړي، او د جنګ نه ئے ويره ول او دا ئے ورته وويل :

[وَاللّٰهِ لَيَأْتِيَنَّكُمْ جَيْشٌ فَلَا يَزَالُوْنَ يُقَاتِلُوْنَكُمْ حَتّٰى تَعْلَمُوْا اَنَّهٗ اَبُو الْفَحْلِ الْاَكْبَرِ]

[البداية والنهاية ۶/۳۴۹]

چه تاسو ته به داسے لښكر راشي او هميشه به درسره جنګ كوي تردے چه تاسو ته به پته ولګي چه ابوبكر كښے د لوي اوښ پلار دے۔ (يعني بيا به درته د هغهٔ عظمت معلوم شي) نو هميشه ورپورے انښتے وو تردے چه هغوی نرم شو۔

كله چه ابوبكر صديق ﷺ خالد بن وليد ﷺ لره روان كړو او سُنح علاقے ته ورسيدو نو پدے وخت كښے عدي بن حاتم ﷺ ورله مخے له راغے، خالد ﷺ ته ئے وويل چه لږ صبر وكړئ زهٔ ځم او خپل قوم (بنو طيء) ته دعوت وركوم كيدے شي چه دا خلك زما

خبره ومنی، نو هغه مخکښې لاړو او قوم ته ئې دعوت ورکړو چه اے خلکو! محمد رسول الله ﷺ د الله تعالیٰ حق رسول دے، ولے تاسو ددے دین نه آوړئ ډیر ښکلے بیان ئې ورته وکړو او د جنګ نه ئې ویره ول،

نو هغوی باندے الله تعالیٰ اثر واچولو نو هغوی ایمان راوړو او دا ئې وویل چه بالکل مونږ ستا خبره منو، لیکن تهٔ داسے وکړه چه خالد بن ولید ﷛ ډے مونږ ته درے ورځے مهلت راکړی او فوج ډے زمونږ نه روستو کړی،

وجه دا ده چه زمونږ د قوم نه پنځه سوه (۵۰۰) کسان د طلیحه سره په بزاخه علاقه کښې ملګری شویدی، هغوی هم مونږ راواپس کوو،

که طلیحه ﷛ زمونږ د اسلام نه خبر شی نو زمونږ دغه ملګری به قتل کړی،

نو عدی ﷛ راواپس شو او خالد ﷛ ته ئې ټوله قصه بیانه کړه او دا ئې وویل چه زهٔ خپله دغه خلکو پسے ورځم او د اسلام دعوت ورکوم نو عدی بن حاتم ﷛ په پټه لاړو او هغوی ته ئې هم په پټه دعوت ورکړو چه تاسو راشئ او د خپلو قومیانو سره یو ځائے شئ، نو هغوی په پټه د طلیحه د خوا نه راووتل او خپل قوم سره یو ځائے شول او اسلام ته بیرته راوګرځیدل۔

ددے نه روستو خالد ﷛ اراده وکړه چه جَدِیله قبیله پسے ورشی کومه چه په اَنسُر علاقه کښې وه، نو دلته هم عدی بن حاتم ﷛ مطالبه وکړه چه ما ته انتظار وکړه، زهٔ ورځم او دوئ سره د اسلام په باره کښې خبرے اترے کوم، او خالد ﷛ ته ئې وویل:

[إِنَّ طَيِّئًا كَالطَّائِرِ وَإِنَّ جَدِيلَةَ أَحَدُ جَنَاحَيْ طَائِرٍ فَأَجِّلْنِيْ أَيَّامًا لَعَلَّ اللّٰهَ أَنْ يَنْتَقِذَ جَدِيلَةَ كَمَا انْتَقَذَ الْغَوْثَ]

طيء قبیله د مارغه په شان ده او جدیله د مارغه د یو وزر په شان ده، نو ما ته یو څو ورځے مهلت راکړه شاید چه الله تعالیٰ به جدیله قبیله د هلاکت نه بچ کړی لکه چه غوث قبیله ئې بچ کړه۔

نو خالد بن ولید ﷛ ورته مهلت ورکړو،

نو عدی ﷛ هغوی ته ورغلو او د اسلام دعوت ئې ورکړو او هغوی پورے کلك ونښتو چه خامخا به اسلام ته راواپس کیږئ نو هغوی ئې خبره ومنله او ددهٔ سره ئې په

اسلام باندے بیرته بیعت وکړو. نو خالد ؓ ته راغلو او د هغوی د اسلام خبرئے راوړو، او د هغوی نه زر (۱۰۰۰) سوارهٔ کسان د خالد ؓ په فوج کښے داخل شول.

[تاریخ الطبری : ۳/۲۵۳-۲۵٤

ددے وجه نه عدی بن حاتم ؓ هغه صحابی دے چه خپل قوم ته ډیره زیاته فائده ورکړیده او ډیر مبارك سړے وو، خپل قوم ته ئے ډیر لوی برکت او خیر ورسیدو، ځکه د جنګ د شر نه بچ شو او اسلام ته رانلوتل او د مسلمانانو لښکر ته ئے هم فائده ورکړه ځکه چه مدد ئے ورله راوستو، او دوئ ئے د قتال نه په راحت کښے کړل، نو په حقیقت کښے دا خدمت چه عدی بن حاتم ؓ دواړو طرفونو ته ادا کړو نو دا ډیر عظیم خدمت دے چه اندازه ئے نشته.

او دهٔ به دا خبره خالد ؓ ته کوله چه لږ صبر وکړه ځکه چه دا خلك اُور ته روان دے، که ته ئے ووهے نو سمدست جهنم ته ځی نو زهٔ ئے د جهنم نه بچ کوم، کیدے شی چه دعوت پکښے اثر وکړی نو په ډیر اخلاص ورغلو نو الله تعالیٰ پکښے اثر واچولو.

(د رسول الله ﷺ طریقه هم دا وه چه خپلو مجاهدینو ته به ئے وئیل چه کله تاسو یو قوم ته ورشئ نو هغوی ته د اسلام دعوت ورکړئ، لیکن د هغه زمانے دعوت زمونږ د زمانے د دعوت نه مختلف دے، د هغوی دعوت دا وو چه ایمان راوړئ او الله تعالیٰ او رسول ومنئ ګنے دا توره به ستاسو په څټونو کیخودلے شی. لهٰذا دعوت وو، او زمونږ د زمانے دعوت خو وعظ او نصیحت دے په چا باندے زور نشو کولے)

خالد بن ولید ؓ چه کله بُزاخه علاقے ته نزدے شو

(بُزاخه د یوے چینے نوم دے چه دلته کښے بنو طیء قبیله وسیدله او دا په نجد کښے یوه علاقه ده، اُوس په حائل سعودی عرب کښے واقع ده).

نو ثابت بن اقرم انصاری ؓ او عُکاشه بن مِحْصَن ؓ ئے د تجسّس دپاره ولیږل چه حالات معلوم کړی، دا دوه کسان ډیر اُوچت صحابه کرام وو، نو د طُلَیحه ورور (د حِبَال په نوم) ورسره ملاو شو نو دواړو پرے حمله وکړه او هغه ئے قتل کړو، نو ددے واقعے خبر طلیحه ته وشو نو طلیحه او د هغهٔ بل ورور سَلمه ورته راووتل او دواړه صحابه کرام ئے شهیدان کړل.

Maktaba Tul Ishaat.com

هرکله چه خالد ؓ د نور فوج سره هلته ور ورسیدو نو وې کتل چه دا دواړه بهترین ملګری ئې په وینو کښې لپ پت شهیدان پراته دی نو ډیر خفه شو او دا ئې وویل چه د مسلمانانو د سردارانو نه دوه سرداران او د هغوی د شاهسوارانو نه دوه عظیم شاهسواران شهیدان شو. نو د طُلیحه پدے کار ورله ډیره غصه ورغله، او حکم ئې وکړو چه په طلیحه او د هغهٔ په ملګرو سخته حمله وکړی.

خالد بن ولید ؓ خو د الله تعالیٰ نهٔ ماتیدونکې توره وه نو دهٔ په طلیحه اسدی او د هغهٔ په ملګرو باندے حمله وکړه،

نو دلته یو بل مشر دے مالك بن نُوَیره چه دا د نبی ﷺ د طرف نه ددے علاقے مشر وو، یعنی نبی علیه السلام د خپل قوم "بنو یربوع" په صدقاتو مشر کړے وو،

لیکن هرکله چه نبی ﷺ وفات شو نو دے هم واوړیدو او د اوریدو نښه ئې دا وه چه د نبی علیه السلام په وفات ئې خوشحالی وکړه نو پدے وجه بعض اهل سیرت لیکی چه دے د اسلام نه مرتد شوے وو. ددهٔ قصه روستو راځی.

دا هم د طلیحه اسدی ملګرے شوے وو او دوئ بیا په شریکه باندے د یوے بلے زنانه ملګری شوی وو چه د هغے سَجاح تمیمیه نوم وو چه هغے هم د نبوت دعوه کړے وه.

خالد بن ولید ؓ ورته په بُزاخه علاقه کښې پړاؤ واچولو او حمله ئې پرے وکړه، نو پدے کښې چه جهاد شروع شو نو سخت جنګ وشو چه د مسلمانانو نه هم کسان شهیدان کیږی او د مرتدینو نه هم ډیر مرداریږی،

د عُیَینَه او طُلَیحَه خبرے اترے

نو طلیحه اسدی یوه خیمه کښې ناست دے او په څان ئې څادر اچولے دے، او خلکو ته د جنګ په موقعه کښې وائی چه ما ته وحی کیږی، او دلته جنګ شروع دے، او اس او اُوښه ئې څان ته ودرولی دی چه که جنګ راتود شو نو زهٔ به تښتم.

نو پدے کښې عُیینه بن حصن فزاری لږ جنګ وکړو بیا ورته ورغلو (عیینه هم د طلیحه سره ملګرتیا اعلان کړیده او د خپل قوم بنو فزاره ؤ نه ئې اوه سوه (۷۰۰)

Maktaba Tul Ishaat.com

کسان راوستی دی)

او دا ئے ورتـه وویل چه څه وحی درته وشوه او که نهٔ، د جنگ ملگری ختم شو، هغهٔ وویل چه لا نهٔ ده شوے،

بیا ئے یو شیبه جنگ وکړو بیا ورله راغلو چه څه وحی وشوه او که نهٔ،

دهٔ وویـل : لا نـهٔ ده شوے، بیا لاړو او سخت جنگ ئے وکړو په دریم ځل ورله راغلو بیا ئے ورته وویل : څه وحی وشوه او که نهٔ ؟ نو هغهٔ ورته وویل : آؤ، دا وحی وشوه چه

[اِنَّ لَکَ رَحًا کَرَحَاهُ وَحَدِیْثًا لَا تَنْسَاهُ]

چـه ددے لـفظی ترجمه دا ده چه ستا دپاره به د هغهٔ په شان ژرنده وی او داسے خبره به وی چه تهٔ به ئے نهٔ هیره وے،

او حـاصـل مـطـلـب ئے دا دے چـه تـاسو ته به هغه څه رسیږی چه څه ئے تقدیر کښے لیکلی وی۔

نو عیینه بن حصن ورته وویل : [قَدْ عَلِمَ اللّٰهُ اَنَّهٗ سَیَکُوْنُ حَدِیْثٌ لَا تَنْسَاهُ]

الله تـعـالـیٰ تـه مـعـلـوم ده چه یوه خبره به راپیښیږی چه تهٔ به ئے همیشه یادِ لرے۔ (یعنی شکست به در رسیږی)

او په یو روایت (د اسد الغابة) کښے دی : هرکله چه طلیحه دوه او درے کرته وویل چه ما ته لا وحی نهٔ ده راغلے نو عیینه ورته وویل :

[لَقَدْ تَرَکَكَ اَحْوَجَ مَا کُنْتَ اِلَیْهِ]

تهٔ خو خپل ملگری په داسے وخت کښے پریخودے چه تهٔ دے وخت کښے وحی ته ډیر محتاجه ئے۔ (یعنی هرکله چه دے وخت کښے وحی نهٔ کیږی نو کله به کیږی)

نو دے وخت کښے طلیحه وویل :

[قَاتِلُوْا عَنْ اَحْسَابِکُمْ فَاَمَّا دِیْنٌ فَلَا دِیْنَ]

د خپـلـو شرافتـونو او (قوم) د طرف نه جنگ وکړئ او هر چه دین دے نو د دین خبره پریدئ۔

نو دے وخت عُیَینه بن حِصن په خپل قوم بنو فزاره ؤ کښے آواز وکړو

[اِنْصَرِفُوْا یَا بَنِیْ فَزَارَةَ ! فَاِنَّهٗ کَذَّابٌ فَانْصَرَفُوْا، وَانْهَزَمَ النَّاسُ]

[البدایة والنهایة ٤/٧١١، سیر اعلام النبلاء : ١/٣١٧، تاریخ الطبری : ٢/٢٦٠، اسد

Maktaba Tul Ishaat.com

الغابة]

ے بنو فزاره ؤ ! واپس شئ سرے دروغجن دے، (په داسے دروغجن نبی باندے مونږ څه کوو) نو هغوی ترے واپس شو او خلکو باندے الله تعالیٰ شکست واچولو۔

نو الله تعالیٰ په دوئ کښے دا اختلاف پیدا کړو او تس نس ئے کړل، او طلیحه په خپله اُوښه باندے کیناستو او خپله ښځه "نوار" هم ورسره وه او شام ته وتښتیدو، او هلته په بنو کلب باندے ورنازل شو۔

هرکله چه طُلیحه د خپلو ملګرو زیات شکست ولیدو نو تپوس ئے وکړو :

[وَيْلَكُمْ مَا يَهْزِمُكُمْ ؟]

تباه شئ، دا تاسو ته څه شے شکست درکوی؟

نو یو سړی پکښے ووئیل چه زهٔ به ددے وجه بیان کړم، هغه دا چه په مونږ کښے هر یو دا خوښوی چه زما ملګرے دِ مخکښے مړ شی، او مونږ داسے خلکو سره ملاؤ شوی یو چه په هغوی کښے هر یو دا خوښوی چه هغه د خپل ملګری نه مخکښے شهید شی۔

[مختصر تاریخ دمشق٤/ ٦٠]

کله چه طلیحه روانیدو خلکو ورته ووئیل چه تهٔ مونږ ته څه حکم کوے ؟ نو هغهٔ ووئیل :

[مَنِ اسْتَطَاعَ مِنْكُمْ اَنْ يَّفْعَلَ كَمَا فَعَلْتُ فَلْيَفْعَلْ]

څوك چه زما په شان كار كولو طاقت لرى نو هغه دِ وكړى۔ یعنی وتښتئ۔

نو فوج ئے درهم برهم شو، څه کسان یو خوا څه بل خوا لاړل او اکثر پکښے ووژل شو۔ (دا جزاء ده د هغه چا چه د هر ګمراه مشر پسے روانیږی)

او هغه علاقه کښے چه کومے زنانه او ماشومان وو هغه ونیولے شو او مالونه راوړے شو نو الله تعالیٰ مسلمانانو ته ډیر غنیمتونه ورکړل۔

ونیلے شی چه خالد بن ولید ﷺ به په صفونو کښے ننوتو راننوتو او د طلیحه صفونه به ئے ماتول۔

نو الله سبحانه وتعالیٰ د طلیحه شر پدے طریقه ختم کړو۔

دلته د دوئ په خوا کښے بنو عامر قبیله او د سلیم او هوازن قبیلے په دغه حال د

Maktaba Tul Ishaat.com

ارتداد باندې وې نو هرکله چه الله تعالىٰ په طليحه او فزاره قبيله باندې دا شکست راوستو او وتښتيدل نو دغه قبيلې (اسد، عامر، غطفان) راروانې شوې او خالد ﷺ ته ئې د خپلې توبې اعلان وکړو او دا ئې وويل چه

[نَدْخُلُ فِيمَا خَرَجْنَا مِنْهُ وَنُؤْمِنُ بِاللّٰهِ وَرَسُوْلِهِ، وَنُسْلِمُ لِحُكْمِهِ فِيْ اَمْوَالِنَا وَاَنْفُسِنَا]

[تاريخ الطبرى ۲۵٦/۳، الخلفاء الراشدون مواقف وعبر ص ٤٥]

مونږ بيرته داخليږو په هغه طاعت او اسلام کښې چه مونږ د هغې نه وتي وو او مونږ په الله تعالىٰ او د هغهٔ په رسول باندې ايمان لرو، او هغه چه زمونږ په مالونو او نفسونو کښې کوم حکم کوى مونږ هغې ته تيار او تسليم يو۔

او کومو قبيلو چه غاړه کيخوده او اسلام ئې راوړو نو د خالد ﷺ سره ئې بيعت وکړو او د هغه بيعت الفاظ دا دى:

[عَلَيْكُمْ عَهْدُ اللّٰهِ وَمِيْثَاقُهٗ، لَتُؤْمِنُنَّ بِاللّٰهِ وَرَسُوْلِهٖ، وَلَتُقِيْمُنَّ الصَّلَاةَ وَلَتُؤْتُنَّ الزَّكَاةَ وَتُبَايِعُوْنَ عَلٰى ذٰلِكَ اَبْنَاءَ كُمْ وَنِسَاءَ كُمْ]

[ابوبكر اول الخلفاء الراشدين، محمد رضا ص ٤٠]

په تاسو باندې د الله تعالىٰ لوظ او مضبوط وعده ده چه تاسو به ضرور په الله تعالىٰ او د هغهٔ په رسول ايمان راوړئ او مونځونه به قائموئ او زکاة به ورکوئ او پدې کارونو باندې به د خپلو زامنو او ښځو سره بيعت کوئ (هغوى نه به هم دا لوظ اخلئ)

او پدې باندې ئې اکتفاء ونکړه بلکه خالد ﷺ په دغه ځائے کښې يوه مياشت پورې وسيدو نو دغه خلکو ته ئې وويل چه تاسو به ما ته هغه کسان راولئ چه هغوى په حالت د مرتد والى کښې په مسلمانانو باندې ظلم او زياتے کړيدے، هغوى ئې سيزلى دى، او د هغوى مُثله ئې کړيده، (لاسونه او خپې او غوږونه او پوزه ئې ترې پرې کړيدى) نو هغوى به دغه کسان راوستل نو خالد ﷺ به ترل نو بعض د هغوى نه ئې په اُور وسيزل او بعض ئې په گرمو کاڼړو وداغل، او بعض ئې د غرونو نه راوړغړول او بعض ئې کوهيانو ته گوزار کړل څکه چه دا برابره بدله وه د هغه کارونو چه دوئ مخکښې د مسلمانانو سره کړى وو، دے دپاره چه د نورو خلکو دپاره عبرت وگرځى۔

او څه کسان ئې ابوبکر صديق ﷺ ته لاس تړلى راوليږل چه په هغوى کښې قره بن

هبیره او د هغهٔ ملګری وو او زهیر هم وو، او ابوبکر صدیق ﷺ ته ئې د خپل کار خبر ورکړو چه ما دوئ سره داسې داسې وکړل۔

[الکامل فی التاریخ ۱/۳۶۸ وتاریخ الطبری ۲/۲۶۵]

(قُرّه بن هُبیره د بنو عامرو مشر وو، د رسول الله ﷺ د وفات نه روستو هرکله چه عمرو بن العاص ﷺ د عُمّان نه راواپس کیدو نو په قره بن هبیره باندې میلمه شو، د هغهٔ نه ګیر چاپیره د هغهٔ فوجیان وو، هغهٔ ورله اکرام وکړو او د رخصتیدو په وخت هغه سره یواځې شو او دا ئې ورته وویل:

[يَا هٰذَا اِنَّ الْعَرَبَ لَا تَطِيْبُ لَكُمْ نَفْسًا بِالْإِتَاوَةِ، فَاِنْ اَعْفَيْتُمُوْهَا مِنْ اَخْذِ اَمْوَالِهَا فَسَتَسْمَعُ لَكُمْ وَتُطِيْعُ، وَاِنْ اَبَيْتُمْ فَلَا تَجْمَعُ عَلَيْكُمْ]

اې سړیه! د عربو نفسونه تاسو ته په ټیکسونو درکولو خوشحاله نهٔ دی، نو که تاسو د دوئ نه دا مالونه معاف کړئ نو ستاسو خبره به ومنی او ستاسو تابعداری به وکړی او که تاسو انکار کوئ نو عرب په تاسو نهٔ راجمع کیږی (یعنی تاسو سره اتفاق نهٔ کوی)

نو عمرو بن العاص ﷺ ورته وویل:

[اَكَفَرْتَ يَا قُرَّةُ؟، اَتُخَوِّفُنَا بِالْعَرَبِ؟ فَوَ اللّٰهِ لَأُوْطِئَنَّ عَلَيْكَ الْخَيْلَ فِيْ حَفْشِ اُمِّكَ-وَالْحَفْشُ بَيْتٌ تَنْفَرِدُ فِيْهِ النُّفَسَاءُ-]

[الکامل فی التاریخ ۱/۳۶۹ وتاریخ الطبری ۲/۲۶۳]

اې قره! تهٔ (هم) کافر شوې، آیا تهٔ مونږ په عربو باندې یره وې؟ قسم په الله! زهٔ به نا ته دومره اسونه (شاهسواران) راولم چه تا به د خپلې مور په کوټنۍ کښې پایمال کړی۔

یعنی دا د عمرو بن العاص ﷺ ډیره لویه بهادری ده چه یو بادشاه او د کلی مشر ته داسې د زړه ورتیا خبره کوی، خو ددې خلکو په الله تعالیٰ باندې یقین وو پدې وجه نور خلك به ترې یریدل۔

بیا عمرو بن العاص ﷺ راغلو او ابوبکر صدیق ﷺ او مسلمانانو ته ئې ددې واقعې خبر ورکړو۔

هرکله چه ابوبکر صدیق ﷺ ته دا خبر راورسیدو چه خالد ﷺ طلیحه ته شکست ورکړو او هغه چا ته هم چه د طلیحه په صف کښې وو او د هغهٔ مدد ئې کړې وو، نو

خالد ﷺ ته ئې داسې خط ولیکلو:

[لِيَزِدْكَ مَا أَنْعَمَ اللَّهُ بِهِ عَلَيْكَ خَيْرًا وَاتَّقِ اللَّهَ فِي أَمْرِكَ، فَإِنَّ اللَّهَ مَعَ الَّذِينَ اتَّقَوْا وَالَّذِينَ هُمْ مُحْسِنُونَ، جِدَّ فِي أَمْرِكَ وَلَا تَلِنْ وَلَا تَظْفَرْ بِأَحَدٍ مِنَ الْمُشْرِكِينَ قَتَلَ مِنَ الْمُسْلِمِينَ إِلَّا نَكَّلْتَ بِهِ، وَمَنْ أَخَذْتَ مِمَّنْ حَادَّ اللَّهَ أَوْ ضَادَّهُ مِمَّنْ تَرَى أَنَّ فِي ذَٰلِكَ صَلَاحًا فَاقْتُلْهُ]

[البداية والنهاية ٦/٣٢٣]

الله تعالیٰ چه تا سره کوم احسان وکړو نو الله تعالیٰ دې پدې سره ستا خیر نور هم زیات کړي، او د الله تعالیٰ نه په خپلو کارونو کښې یره کوه، ځکه چه الله تعالیٰ د تقویٰ والو او د احسان کونکو سره ملګرې دې، په خپل کار کښې کوشش کوه او نرمي (سستي) مه کوه، په هر هغه مشرك چه کامیاب شوې چه هغه د مسلمانانو نه یو تن وژلې وي نو هغهٔ ته عبرتناکه سزا ورکړه، او تا چه کوم د الله تعالیٰ مخالف او ضدي ونیولو او تهٔ د هغهٔ په مرګ کښې فائده وینې نو هغه قتل کړه۔

نو خالد ﷺ یوه میاشت پورې هلته ګرځیدو او دغه کسان به ئې نیول او سزاګانې به ئې ورکولې۔

پدې خط کښې خالد بن ولید ته دعاء وه او د هغهٔ صفت کول وو، لکه څنګه چه هغهٔ ته په تقویٰ باندې امر وو ځکه چه پدې سره انسان د ګناهونو او زلاتو او د خواهش د تابعدارئ نه بچ کیږي، لکه چه هغهٔ ته ئې په کوشش او د دشمنانو سره په هوښیارتیا سره وسیدو باندې حکم وکړو ځکه چه دوئ خو لا اُوس هم د خپلې سرکشئ په جوش کښې دي۔ ددې نه د صدیق اکبر ﷺ کامل بصیرت او هوښیارتیا معلومیږي، ځکه چه دلته داسې قبائل شته چه د حق او د باطل ترمینځ حیران او شکیان دي، که دوئ د باطل نه څه قوت وپیژني نو بیرته باطل ته مائل کیږي، او کوم خلك چه باطل ته مائل شوي وو نو هغوي ادب ورکولو او رټلو ته حاجت لرلو دې دپاره چه د هغوي سرکشي ختمه شي، ددې وجه نه که مونږ فکر وکړو نو د صدیق اکبر ﷺ د مرتدینو په مقابله کښې ډیر قوي او فیصله کُن موقف وو۔ او سره د هغې نه چه صدیق اکبر ﷺ په نرمئ او ترحم باندې مشهور وو، خو دلته د خپل مشهورو اخلاقو نه بهر شو ځکه چه دې مقام کښې سختئ او هوښیارتیا او جلتئ او مضبوط ودریدل کمال وو، لکه د نرمئ په

Maktaba Tul Ishaat.com

مقام کښې نرمي کمال وی۔ لکه دا معنیٰ ابو الطیب متنبی ادا کړیده :

وَوَضعُ النَّدٰی فِیُ مَوْضِعِ السَّیُفِ بِالْعُلٰی	○	مُضِرٌّ کَوَضعِ السَّیُفِ فِیُ مَوْضِعِ النَّدٰی

د تورې د استعمالولو په ځائې کښې سخاوت کول اُوچتو مرتبو ته داسې ضرر ورکوی لکه څنګه چه د سخاوت په ځائې کښې توره کیخودل ضرر ورکوی۔

او کومو کسانو چه مسلمانانو ته سخته سزا ورکړې وه نو خالد بن ولید ﷺ د هغوی سره سختي وکړه۔ دا هم یو اعلیٰ مقام دې، ددې نه معلومه شوه چه اسلام ډیر عزتمن دین دې او د مسلمان ډیر لوی کرامت دې، د مسلمانانو وینې څه ارزانه او سپکې نهٔ دی، هغه خلك خو دِې تباه او هلاك شی چه یو پاك مسلمان ته په قتل او عذاب سره رامخکښې کیږی او د مسلمانانو حکومت دِې موجود او غالب وی۔

[الخلفاء الراشدون مواقف وعبر ٤٩، الدکتور عبد العزیز بن عبد الله الحُمیدی الاستاذ بکلیة الدعوة واصول الدین جامعة ام القری (مکة)]

او دا اسد او غطفان هغه خلك وو چه د رسول الله ﷺ د وفات نه لس ورځې روستو ابوبکر صدیق ﷺ ته راغلی وو او د هغوی نه ئې د زکاة د معاف کولو درخواست کولو او بیا ورته ابوبکر صدیق ﷺ د ښکاره جنګ خبره وکړه یا د شرمونکی کار، او د دوئ په مخونو کښې ئې شر وپیژندلو او ملګروته ئې وویل چه انتظار کوئ دا خلك به جنګ ته تیاریږی۔ نو دلته اُوس الله تعالیٰ مغلوبه کړل او د ابوبکر صدیق ﷺ او د نورو ملګرو په قربانیانو سره بیرته په اسلام مشرف شول۔ (رضی الله عنهم وارضاهم)

د طُلیحه بن خویلد اسدی توبه

په روستو زمانه کښې طلیحه اسدی هم صحیح توبه ویستله او ابوبکر صدیق ﷺ ته ئې شعرونه راولیږل چه په هغې کښې ئې اسلام ته خپله رجوع ذکر کړه او ځان ئې ملامته کړو۔ او دهٔ ثابت بن اقرم او عکاشه بن محصن رضی الله عنهما شهیدان کړی وو څکه چه دا طلیحه په جنګ کښې انتهائیِ سخت وو۔

نو په هغه اشعارو کښې ئې ددې په باره کښې هم خپله ملامتیا ذکر کړه۔ هغه اشعار

Maktaba Tul Ishaat.com

دا دی:

۱: نَدِمتُ عَلٰی مَا کَانَ مِنْ قَتْلِ ثَابِتٍ	❁	وَعُکَّاشَةَ الْغَنمِیِّ ثُمَّ ابْنِ مَعْبَدِ
۲: وَاَعْظَمُ مِنْ هٰذَیْنِ عِنْدِیْ مُصِیْبَةً	❁	رُجُوْعِیْ عَنِ الْإِسْلَامِ رَأْیَ تَعَمُّدِ
۳: فَهَلْ یَقْبَلُ الصِّدِّیْقُ أَنِّیْ مُرَاجِعٌ	❁	وَمُعْطٍ بِمَا احدثت مِن حدثٍ بِیَدِی
٤: وَاَنِّیْ مِنْ بَعْدِ الضَّلَالَةِ شَاهِدٌ	❁	شَهَادَةَ حَقٍّ لَسْتُ فِیْهَا بِمُلْحِدِ
٥: بِاَنَّ اِلٰـهَ النَّاسِ رَبِّیْ وَاَنَّنِیْ	❁	ذَلِیْلٌ وَاَنَّ الدِّیْنَ دِیْنُ مُحَمَّدِ

ترجمه: ۱: زهٔ د ثابت بن اقرم رضی الله عنه او د عکاشه بن محصن رضی الله عنه په قتل ډیر خپیمانه یم۔

۲: او ددے دواړو د قتل نه لوی مصیبت زما په نیز دا دے چه ما قصداً د اسلام نه رجوع کړے وه۔ ۳: نو آیا صدیق (ﷺ) به دا خبره قبوله کړی چه زهٔ بیرته اسلام ته راواپس کیږم او زما لاسونو چه کوم فساد کړے وو د هغے نه لاس اخلم۔

٤: او زهٔ د گمراهئ نه روستو د حق گواهی ورکوم چه پدے کښے ملحد نهٔ یم۔

٥: (پدے خبره گواهی ورکوم) چه بیشکه د خلکو رب زما رب دے او زهٔ ذلیل یم او صحیح دین خو د محمد ﷺ دین دے۔

هرکله چه دا شعرونه ابوبکر صدیق ﷺ ته راورسیدل نو د هغهٔ پرے رحم راغے او جواب ئے ورولیږلو چه مدینے ته راشی نو هغه چه په کومه ورځ مدینے ته راغلو نو په دغه ورځ باندے ابوبکر صدیق ﷺ وفات شوے وو، او عمر فاروق ﷺ د هغهٔ په قبر باندے د دعاء دپاره ولاړ وو، نو بیا عمر فاروق ﷺ طلیحه لره د سعد بن ابی وقاص ﷺ سره عراق ته د جهاد دپاره ولیږلو او دا ئے ورته وویل چه دا به نهٔ مشر کوے، تردے چه د نهاوند په جنگ کښے په سنه (۲۱ هـ) کښے د فارس والو په خلاف شریك شو او داسے سخت جنگ ئے وکړو چه د تاریخ په پاڼړو کښے ولیکلے شو او بیا په آخر کښے شهید شو۔ (رضی الله عنه وارضاه)

[البدء والتاریخ ۱/۳۰۵ لمطهر بن طاهر المقدسی، و تاریخ الیعقوبی ۱/۱۵٦]

(او په قادسیه کښے ئے خپل قوم (بنو اسد) ته ډیر د بهادرئ تقریر وکړو چه د اسلام او

د مسلمانانو د طرف نه سخته دفاع وکړئ او په فارس والو باندے سخته حمله اول وکړئ او د جنګی زمرو په شان پرے ور ودانګئ ځکه چه تاسو ته بنو اسد پدے وجه وائی چه تاسو به د اسد (زمری) په شان کار کوئ۔

دے به په جنګیانو کښے داسے ځایونو ته حاضریدو چه هغے ته به عام خلك نشو حاضریدے او د فارس والو د فوج مینځ ته د خپل اس سره یواځے ننوتو او هغوی کښے ئے درے تکبیرونه وویل چه ټول فارس والا فوج ئے پره ول هغوی ګمان وکړو چه د مسلمانانو فوج د دوئ پسے د شا ته نه راغلو، دے به په جنګونو کښے د هر چا نه مخکښے روان وو او د مرګ نه به نۀ یریدو)۔

بعض وائی: د ابوبکر صدیق ﷛ په ژوند کښے ئے اسلام راوړو او مکے ته د عمرے دپاره لاړو او ددے نه ورله حیاء ورتلله چه د هغۀ سره په ژوند کښے ملاؤ شی۔ هرکله چه د مدینے په اطرافو راتیریدو نو چا ابوبکر صدیق ﷛ ته وویل: چه دلته طلیحه راغلے دے، نو هغۀ وویل: زۀ پرے څه وکړم؟ پریدئ، لاره ئے وزګاره کړئ ځکه چه الله تعالیٰ هغۀ ته اسلام طرف ته هدایت کړے۔

[تاریخ الطبری: ۲/۲۶۱، البدایة والنهایة: ۶/۳۱۸، المنتظم: ٤/٧٧]

بیا به طلیحه ﷛ د خالد بن ولید ﷛ په ملګرتیا کښے د هغه سره جنګیدو او صدیق اکبر خالد ﷛ ته ولیکل چه تۀ ددۀ نه مشرمۀ جوړه وه او صرف جنګی مشورے ترے اخله- یعنی دۀ سره ددۀ د مقصد پۀ خلاف کار کوه چه ددۀ مشری ډیره خوښه وه او دا د صدیق اکبر فقاهت دے، کما قال الحافظ ابن کثیرؒ۔

❁ او کیدے شی چه صدیقِ اکبر ﷛ دا کار د احتیاط په طور د امت د فائدے دپاره کړے وی، ځکه چه څوك په ګمراه کښے مخکښے وی او د مسلمانانو سره ئے چلوته کړی وی نو هغه نه امن نشته چه د هغۀ رجوع اسلام ته پدے وجه وی چه هغه د مسلمانانو قوت ته غاړه ایخودی وی، او د مقابلے نه عاجز شوے وی، اګرکه په ابوبکر صدیق ﷛ دا ګمان نشی کیدے چه هغۀ طلیحه لره پدے خبره متهم کړے وی، بلکه هغۀ د امت دپاره په احتیاط باندے عمل کوی اګرکه پدے کښے به د بعض افرادو د شان کمے هم راځی۔ (انظر الخلفاء الراشدون مواقف وعبر ۱/۵۰)

Maktaba Tul Ishaat.com

او خالد بن ولید ﷺ به د طلیحه بعض ملګرو ته – چه هغوی اسلام راوړے وو او صحیح مسلمانان شوی وو– داوئیل چه تاسو ته طلیحه کومه وحی بیانوله مونږ ته ئے خو لږه ووایئ: نو هغهٔ وویل:

[والحَمَامِ وَالْيَمَامِ وَالصُّرَدِ وَالصَّوَّامِ، قَدْ صُمْنَ قَبْلَكُم بِأَعْوَامٍ لَيَبْلُغَنَّ مُلْكُنَا الْعِرَاقَ وَالشَّام]

[البداية والنهاية٦/٣٥١]

(قسم په کوتره او په قطا مارغه او په تیغکه او په اُوچه زمکه (یا په روژه دار) چه دے ځیزونو ستاسو نه مخکښے ډیر کلونه روژه نیولے ده، (قسم پدے خبره دے) چه زمونږ ملك به عراق او شام ته رسیږی)۔

دهٔ وویل چه زمونږ بادشاهی به عراق او شام ته رسیږی حال دا چه خپله شام ته وتښتیدو او هلته ئے پناه واخسته۔

لغات: حَمَام نر کوتر ته وائی، او یمام: د قطا مارغهٔ یو قسم دے، صرد: تیغکه/ یوه ښکار کونکے حرامه مرغئ ده، صوام: هغه اُوچه زمکه چه په هغے کښے اُوبه نهٔ وی، یا روژه دار ته وائی۔

د عُیینه بن حِصن حالت

پدے جنګ کښے عُیینه بن حِصن ونیولے شو سره د دیرشو (۳۰) کسانو نه او لاس تړلے ابوبکر صدیق ﷺ ته راوستے شو نو مدینے ته چه کله راوستے شو نو د مدینے ماشومانو او هلکانو ورته پیغورونه ورکړل او دائے ورته وویل:

[يَا عَدُوَّ اللهِ ! اَكَفَرْتَ بَعْدَ اِيْمَانِكَ ؟]

چه اے د الله! دشمنه، تهٔ د اسلام نه پس مرتد شوے ئے؟ نو هغهٔ وویل:

[مَا كُنْتُ آمَنْتُ قَطُّ]

ما خو د اول نه هیڅکله ایمان نهٔ دے راوړے۔

نو د ابوبکر صدیق ﷺ مخے ته راوستے شو نو هغهٔ ورته دعوت ورکړو چه ایمان راوړه ګنے اُور دے ځائے دے۔

نو د ابوبکر صدیق ﷺ خبرے پرے اثر وکړو او ایمان ئے راوړو او روستو د هغهٔ اسلام

Maktaba Tul Ishaat.com

ښه شو او صحیح مسلمان ترې جوړ شو۔

حافظ ابن کثیرؒ لیکي چه کله نبی ﷺ وفات شو نو د طلیحه په تائید کښې عیینه بن حصن فزاري راپاڅیدو او خپل قوم ته ئې وویل :

[وَاللّٰهِ لَنَبِيٌّ مِنْ بَنِيْ اَسَدٍ اَحَبُّ اِلَيَّ مِنْ نَبِيٍّ مِنْ بَنِيْ هَاشِمٍ، وَقَدْ مَاتَ مُحَمَّدٌ وَهٰذَا طُلَيْحَةُ فَاتَّبِعُوْهُ، فَوَافَقَ قَوْمُهٗ بَنُوْ فَزَارَةَ عَلٰى ذٰلِكَ]

قسم په الله د بنو اسد نه یو نبي د بنو هاشمو د نبی نه ما ته ډیر محبوب دے، او محمد (ﷺ) خو وفات شو نو دا طلیحه دے ددهٔ تابعداري وکړئ نو ددهٔ قوم بنو فزاره ؤ ددهٔ ددے خبرے موافقت وکړو۔

[البداية والنهاية]

عُیَینه بن حصن هغه سړے دے چه د الله تعالیٰ رسول ئې لیدلے دے، او هغهٔ ورله په غنیمتونو د حُنین کښې سل (۱۰۰) اُوښان هم ورکړي وو، او د هغهٔ ملګرتوب ئې هم اختیار کړے وو، بیا روستو مرتد شوے دے، او بیرته اسلام کښې داخل شوے، او دا د الله رب العالمین لوی فضل او فراخه مهرباني ده چه یو سړے په الله تعالیٰ او د هغهٔ په رسول کافر هم شي او بیرته ایمان راوړي نو الله تعالیٰ ئې قبلوی، بیا به ئې تهٔ هم خپل دوست او ورور ګڼړے چه کله صحیح ایمان راوړي، او د هغهٔ صحابیت هم نهٔ ختمیږي کله چه بیرته په ایمان کښې مړ شوے وي۔

رسول الله ﷺ دے خبرے ته اشاره کړے وه چه د قیامت په ورځ به زهٔ په حوض کوثر ناست یم نو څه کسان به راوستے شي، په ګس طرف به روان کړے شي (چه دا د جهنمیانو لاره ده) نو زهٔ به ملائکو ته وایم :

[أُصَيْحَابِيْ أُصَيْحَابِيْ]

دا خو زما ملګري دي، زما ملګري دي، (ما خو لیدلي وو، زما ملګري ښکاره کیږي)، دوئ ما ته راولئ چه زهٔ ورله اُوبهٔ ورکړم، تاسو ولے په بله لاره روان کړي، نو ملائك به راته وائي چه

[اِنَّكَ لَا تَدْرِيْ مَا اَحْدَثُوْا بَعْدَكَ]

تا ته پته نشته چه دوئ ستا نه روستو کومے خبرے راپیدا کړیدي۔

Maktaba Tul Ishaat.com

او په بل روایت کښې دي:

[فَإِنَّهُمْ لَمْ يَزَالُوا مُرْتَدِّيْنَ عَلَى أَعْقَابِهِمْ مُنْذُ فَارَقْتَهُمْ]

دوئ نه چه ته جدا شوې نو د هغه وخت نه دوئ مرتد شوي وو.

نو نبي ﷺ ددې مرتدینو په باره کښې مخکښې نه پیشنګوئي ورکړې وه.

دا د قرآن او حدیث کمال دې چه هغه احوال چه د ابوبکر صدیق ﷺ په زمانه کښې به پیدا کیږي دوئ مخکښې نه خبر ورکړې، په آیت کښې خبر داسې دې:

﴿يَا أَيُّهَا الَّذِيْنَ آمَنُوْا مَنْ يَّرْتَدَّ مِنْكُمْ عَنْ دِيْنِهِ﴾

[المائدة: ٥٤]

اې ایمان والو! څوك چه ستاسو نه د خپل دین نه واوړیدو نو الله تعالیٰ به داسې قوم راولي چه الله تعالیٰ به دوئ سره مینه کوي او دوئ به د هغهٔ سره مینه کوي.

(دا خبره ئې هغه چا ته کړې وه چه هغوي به منافقت شان کولو چه منافقت مهٔ کوئ او سم په دین باندې عمل کوئ، دین باندې ډې چه قوي عمل نهٔ کولو نو کله چه امتحان راشي نو انسان بیا کافر کیږي او د کافرو ملګرتیا به اختیار کړي.

اُوس به هم ستاسو تجربه کښې راغلي وي چه د کومو خلکو په دین باندې ډیره پرواه نهٔ وي نو هغوي د کفارو ملګري شي، مرتد شي، کله سرهٔ د علم نه مرتد شي.

او چه کله یو تن په دین باندې مضبوط ولاړ وي نو که هر څومره غټه فتنه راشي نو الله تعالیٰ ئې د دین نه نهٔ اړه وي.

او د دغه قوم نه مراد ابوبکر صدیق ﷺ او د هغهٔ ملګري مسلمانان او صحابه کرام او تابعین دي کوم چه په اسلام باندې کلك ولاړ وو،

او بیا تر قیامته پورې مؤمنانو مسلمانانو په باره کښې دې.

او پدې آیتونو کښې دا خبره بیان شویده چه په پنځه اسبابو سره بنده د ارتداد نه بچ کیږي،

یو دا چه د الله تعالیٰ سره خالص محبت کول.

دویم او دریم دا چه د مؤمنانو سره شفقت او نرمي کول او په کافرنو باندې سختي کول، د هغوي سره دشمني کول.

څلورم: د الله تعالیٰ په باره کښې د هیچا د ملامتیا نه نهٔ یریدل چه تفصیل ئې زمونږ

Maktaba Tul Ishaat.com

په تفسیر "حکمة القرآن" کښې کتلې شي۔

او په سورة آل عمران کښې هم الله تعالیٰ آیتونه نازل کړي فرمائي :

﴿ وَلَا تَكُونُوا كَالَّذِينَ تَفَرَّقُوا وَاخْتَلَفُوا مِنْ بَعْدِ مَا جَاءَهُمُ الْبَيِّنَاتُ وَأُولَٰئِكَ لَهُمْ عَذَابٌ عَظِيمٌ ۝ يَوْمَ تَبْيَضُّ وُجُوهٌ وَتَسْوَدُّ وُجُوهٌ ۚ فَأَمَّا الَّذِينَ اسْوَدَّتْ وُجُوهُهُمْ أَكَفَرْتُمْ بَعْدَ إِيمَانِكُمْ فَذُوقُوا الْعَذَابَ بِمَا كُنْتُمْ تَكْفُرُونَ ۝﴾ الآیات۔

د هغه چا پشان مۀ کیږئ چه تفرقې او اختلافات ئې کړي وو پس د هغې نه چه دوئ ته ښکاره دلیلونه راغلل او دا کسان دوئ لره عذاب لوی دے، په هغه ورځ چه بعض مخونه به سپینیږي او بعض مخونه به توریږي۔ د چا مخونه چه تور شي نو دوئ ته به وئیلے شي چه آیا تاسو کفر کړے پس د ایمان ستاسو نه نو عذاب وڅکئ په دے وجه چه تاسو به کفر کولو۔

(دا خبره به یهودو او نصاراؤ او مرتدینو او مشرکانو ته کیږي او هغه کسانو ته چه د رسول الله ﷺ د سنتو دشمنان وي۔

نو پدے آیتونو کښې هم د دغه کسانو حال بیان شویدے۔

الغرض : ابوبکر صدیق ﷺ او د هغهٔ ملګرو صحابه کرامو او تابعینو په ډیر جرأت او مړانه سره د مرتدینو مقابله وکړه، دا ډیر اُوچت مؤمنان وو چه د دوی احوال زمونږ دپاره رهنمائي ده۔

د الله تعالیٰ نبی ﷺ فرمائیلي دي : نجات والا ډله هغه ده [مَا أَنَا عَلَيْهِ وَأَصْحَابِي] چه زۀ په کوم دین باندے روان یم او زما صحابه کرام رضی الله عنهم په کوم دین باندے دي۔ [الترمذي : ۲٦٤١ حسن]

د ابوبکر صدیق ﷺ د مضبوط ودریدو په وجه مدینے ته ډیرو خلکو زکاتو نه رالیږل شروع کړل او ډیر حده پورے فضاء برابره شوه۔

د ابوبکر صدیق ﷺ خپله جهاد ته وتل

د مرتدینو په غزا کښې ابوبکر صدیق ﷺ خپله دریے کرته وتلے وو،

امام دارقطنیؒ د ابن عمر ﷺ روایت راوړیدے چه هرکله ابوبکر صدیق ﷺ ذی

Maktaba Tul Ishaat.com

الـقصه جنگ ته وتلو او ځان سره ئې د مرتدينو د مقابلې دپاره فوج واخستو، او په خپله اُوښه بانـدې کيناستو نو علي بن ابي طالب ﷺ راغے، او د ابوبکر صديق ﷺ د اُوښې مهارئے ونيولو او دا ئې ورته ووئيل :

[اِلٰى اَيْنَ يَا خَلِيْفَةَ رَسُوْلِ اللّٰهِ !]

اے د الله د رسـول خـليفه ! چرته ځې ؟ نو هغۀ ورته ووئيل : د مرتدينو دے قتال ته روان يم، نـو هـغـۀ ورتـه ووئيل : تۀ واپس شه ځکه چه زۀ تا ته هغه خبره کوم کومه چه تا ته رسـول الله ﷺ پـه ورځ د بـدر بـانـدے کړے وه، د بدر په ورځ بانديے د ابوبکر صديق ﷺ ځـوی عبد الرحمن بن ابي بکر کافر وو نو هغه ميدان ته راووتو نو ابوبکر صديق ﷺ د هغۀ د مقابلے دپاره وتلو، نو رسول الله ﷺ ورته وفرمايل :

[لُمَّ سَيْفَكَ وَلَا تُفْجِعْنَا بِنَفْسِكَ]

خپله توره بنده کړه او مونږ په خپل نفس سره مۀ دردمند کوه۔

(د ځـوی مـقابله مۀ کوه ځکه که تۀ چرته خوږ شے نو مونږ ته به درد راورسيږی وجه دا وه چه نبی ﷺ ته ابوبکر صديق ﷺ ډير محبوب او ګران وو)

بيا علی ﷺ هغۀ ته ووئيل : مدينے ته واپس شه

[فَوَ اللّٰهِ لَئِنْ فُجِعْنَا بِكَ لَا يَكُوْنُ لِلْإِسْلَامِ نِظَامٌ اَبَدًا]

قسم پـه الله تـعـالىٰ کـه مـونږ ستا په وجه دردمند شو نو د اسلام دپاره به هيڅکله انتـظـام پـاتـے نشی، راټولول به ئې نۀ وی، وجه دا ده چه ستا په وجه اسلام راټول دے، او داسے څوك نشته چه په هغۀ بانديے ستا نه روستو خلك راټول شی او د الله تعالىٰ داسے کار وشی لکه تۀ ئې چه کوے، ځکه چه ابوبکر صديق ﷺ ډير هوښيار او عقلمند وو او ډير بهادر هم وو، الله تعالىٰ ترے ډير د خير کار اخستو)

هـغـه بيا هم وتلو ليـکن د علي بن ابي طلب ﷺ په اِصرار سره هغه مدينے ته راواپس شو۔

(ددے وجـه نـه د صـحـابـه کرامو رضوان الله عليهم اجمعين په سنت کښے دا دی چه امير به هم قتال کوی ليکن هره يوه معرکه کښے به نۀ حاضريږی ځکه چه که خلفاء او لـوی اميران داسے شهيدان کيږی نو د حکومت نظام ګډوډ کيږی، حکومتونه چه زر زر بدليږی نو نظام خرابيږی، د قتل اوقتال او اختلافاتو ذريعه جوړيږی)۔

Maktaba Tul Ishaat.com

د مالک بن نُویره واقعه :

د طلیحه سره یو بل سړے هم ملګرے شوے وو چه د هغهٔ نوم مالك بن نُویره وو، (ددهٔ واقعه د تاریخ په کتابونو کښے پدے موقعه کښے جدا لیکلے شویده، وجه دا ده چه په هغے کښے د عبرت څه خبرے دی)

مالك بن نویره د بنو یربوع نه یو تن وو او دا په بنو تمیم کښے یوه وړه قبیله ده۔

دا مالك بن نویره د طُلیحه هم ملګرے شوے وو او د سَجاح په نوم باندے یوه زنانه وه هغے سره هم ملګرے شوے وو چه روستو ئے قصه راځی۔

کله چه طلیحه او د هغهٔ فوجونو شکست وخوړو، او طلیحه شام ته وتښتیدو، نو مالك بن نویره بُطاح نومے یوے علاقے ته وتښتیدو چه دا ددے علاقے مشر وو، (وادی البطاح نن صبا د سعوذی عرب په صوبه القصیم کښے واقع ده)

او ددهٔ سره هم فوج او ملګری وو او دے ئے قومندان وو۔

نو خالد بن ولید رضی الله عنه ملګرو ته وویل چه ددهٔ پسے ورځو ځکه چه دے هم غټ سړے دے، خلك ورسره دی، نو انصارو وویل چه مونږ مخکښے نهٔ ځو ځکه چه مونږ ته خلیفه څومره پورے امر کړے نو هغه ځائے پورے راورسیدو، هغه مونږ ته وئیلی وو چه تاسو چه د بزاخه جنګ نه فارغ شوئ او ددے خلکو ښارونه مو د مرتدینو نه صفا کړل نو دلته به وسیږئ تردے چه زهٔ تاسو ته حکم راولیږم۔

لهذا خلیفه مونږ ته د مخکښے تللو حکم نهٔ دے کړے نو د خلیفه خلاف نهٔ کوو۔

نو خالد بن ولید رضی الله عنه ورته وویل : که تاسو ته ئے دغه حکم کړے وی نو ما ته ئے وئیلی دی چه زهٔ به مخکښے ځم، او زهٔ امیر یم او ما ته خبرونه رارسیږی، بیا که ما ته د خلیفه هیڅ خط او امر نهٔ وی راغلے او زهٔ یو فرصت او موقعه وینم نو که زهٔ خلیفه ته خبر ورکوم، ما نه به دغه موقعه فوت شوی وی، دغه شان که مونږ په یوه خبره مبتلا شو (یوه واقعه او حادثه مخے ته راشی) چه په هغے کښے د خلیفه حکم نهٔ وی نو مونږ به په کښے خپله غوره رایه ورکوو او دغه موقعه به د لاس نه نهٔ ورکوو بلکه په دغه رایه به

Maktaba Tul Ishaat.com

عمل کوو،

او تاسو ته پته ده چه دلته مالك بن نویره زمونږ سره نزدے دے، او زما اراده ده چه زۀ ددۀ پسے ورځم او ما سره به مهاجرین او د هغوی تابعین ملګرتیا کوی او تاسو باندے زۀ زور نۀ کوم،

نو پدے کښے خالد بن ولید ﷛ روان شو او یو ځائے ته ورسیدو، دوه ورځے مزل ئے وکړو، نو انصارو خپل مینځ کښے یو بل ملامته کړل او په خپل کار خپیمانه شول او دا ئے وویل چه که دے خلکو دشمن ووهلو نو تاسو به ددے خیر نه محروم شئ او که دوئ ته مصیبت ورسیدو نو خلك به ستاسو نه ډډه کوی او خوا ته به درله نۀ راځی پدے وجه چه دوئ ملګری پریخودی دی،

نو دوئ اتفاق وکړو چه خالد ﷛ سره به یو ځائے کیږو نو پدے کښے ئے یو استازے په منډه ولیږلو او خالد ﷛ ته ئے وویل چه مونږ هم درسره ملګری کیږو او تا یواځے نۀ پریدو، مونږ ته انتظار وکړه۔

هغوی هم ملګری شو، او ټول په شریکه روان شو،

هر کله چه دوئ بُطاح علاقے ته ورسیدل نو دلته مالك بن نویره خپل قوم ته خوارۀ کړی وو چه ډلے به نۀ جوړه وئ، د مسلمانانو د حملے نه یریدو،

نو دلته خالد بن ولید ﷛ خپلے دستے د فوج تقسیم کړے او یو خوا بل خوا ئے ولیږلے چه خلکو ته ئے اول دعوت ورکړو، نو د بنو تمیمو امیران (مشران) د هغوی په سمع او طاعت سره استقبال وکړو او زکاتونه ئے ورکړل۔

صرف مالك بن نویره پاتے شو، هغه په خپل کار کښے حیران او شکی وو، د خلکو نه یو طرف ته جدا شوے وو، نو پدے کښے هغۀ ته د مسلمانانو دستے راورسیدے او هغۀ ئے ونیولو او د هغۀ سره ئے ملګری هم ونیول او دوئ خالد بن ولید ﷛ ته راوستے شو۔

د خالد ﷛ او د مالک بن نویره خبرے اترے

خالد ﷛ ورته وویل چه تا ولے ارتداد اختیار کړے؟ او د رسول الله ﷺ په مرګ دے ولے خوشحالی کړیده؟ او زکاة نه دے ولے انکار کړیدے؟

Maktaba Tul Ishaat.com

[اَلَمْ تَعْلَمْ اَنَّهَا قَرِيْنَةُ الصَّلَاةِ؟]

آیا تا ته دا پته نشته چه زکاة د مانځه سره ترلے حکم دے۔

نو هغه پدے خبرو کښے د نبی ﷺ په باره کښے بُعد او جدا والے اختیاره ولو، داسے ئے وئیل : [صَاحِبُكُمْ يَزْعُمُ ذٰلِكَ]

ستاسو ملګرے داسے خبرے کوی۔ یعنی نبی ﷺ۔

(او په ظاهره کښے دا سرے د اسلام دعویدار هم وو، په نبی ﷺ باندے ئے مخکښے ایمان هم راوړے او نبی ﷺ په دغه علاقه مقرر کړے هم وو، نو هلته د اسلام دعوه کوی او بل طرفته د نبی ﷺ نه جدا والے کوی، (لکه د ډیرو خلکو اسلام خوښ نهٔ وی خو د مجبورتیا د وجه نه د اسلام نعرے وهی)

نو خالد ﷛ ورته ووئیل :

[اَهُوَ صَاحِبُنَا وَلَيْسَ بِصَاحِبِكَ ؟]

چه تا څنګه ووئیل چه ستاسو صاحب، آیا دا نبی تهٔ خپل صاحب او ملګرے نهٔ ګنړے؟ نو ضِرار بن اَزْور ﷛ ته ئے حکم ئے وکړو چه دا مردار کړئ او څټ ورله ووهئ۔

نو څټ ئے ترے ووهلو،

حافظ ابن کثیرؒ او امام ابن جریر طبریؒ لیکی :

خالد بن ولید ﷛ یو بهادر سړے وو نو د اعرابو او نورو مرتدینو دیره ولو دپاره ئے دا کار وکړو چه د مالك سر ئے راواخستو او دپاسه ئے پرے کټوئ کیخوده کړه، یو طرف او بل طرف ته ئے دوه کانړی کیخودل او دریم ئے ورسره سر کیخودو، دے دپاره چه کټوئ ددهٔ په سر باندے پخه کړے شی، دے دپاره چه عام اعراب مرتدین ویریږی۔

وئیلے شویدی چه د مالك دومره ډیر ویښته وو چه دوئ به پرے اُور بله ولو تردے چه په کټوئ کښے غوښه پخه شوه او ویښته لا ختم شوی نهٔ وو۔

[البداية والنهاية ٦/٣٥٤]

نو پدے کښے یو صحابی ابوقتاده انصاری ﷛ پدے کار باندے خفه شو او دا ئے ووئیل چه دا سړے ما ته مسلمان ښکاره کیدو ځکه چه مخکښے نه ئے هم کلمه وئیلے وه او مونږ چه کله ددهٔ علاقے ته ورغلو نو اذان د دوئ د خیمو نه واوریدے شو،

(ځکه چه د مرتدینو په مینځ مینځ کښے مسلمانان هم وو احوال ګډوډ وو)

نو دا سړے د وژلو لائق نۀ وو، خالد ﷺ وویل چه دا مرتد وو ما ځکه مړ کړو نو د دواړو اختلاف شو،

او حافظ ابن کثیرؒ او ابن جریر الطبریؒ دا قصه پدے طریقه هم بیانه کړیده :

چه هرکله د خالد بن ولید فوج بطاح علاقے ته راغلو نو خپل فوج ئے ولیږلو او هغوی ته ئے حکم وکړو چه خلکو ته دعوت ورکړی او چا چه خبره نۀ منله هغه به نیسی او دلته به ئے راولی، او که نۀ راځی نو هغه به وژنی، نو څه کسانو مالك بن نویره او د هغۀ نور ملګری د بنو یربوع نه ونیول او پدے نیونکو کښے ابوقتادهؓ ﷺ هم وو، هغۀ ګواهی وکړه چه دے خلکو اذان کړے او اقامت او مونځ ئے کړے، او نورو ملګرو وویل چه دوئ دا کارونه نۀ دی کړی، هرکله چه د دوئ پدے خبره کښے اختلاف شو نو خالد بن الولید ﷺ ددے کسانو په قید کولو باندے حکم وکړو، نو دوئ په ډیره یخه شپه کښے د لاسونو نه وتړلے شول، د شپے په حصه کښے د خالد ﷺ د طرف نه یو تن آواز وکړو چه :

[اَدْفِئُوْا اَسْرَاكُمْ]

تاسو خپل قیدیان ګرم کړئ۔ او د کنانه په لغت کښے دفء وژلو ته وائی چه دا لغت د خالد بن ولید ﷺ دے۔ نو چا سره چه قیدیان وو هغوی ګمان وکړو چه خالد ﷺ مونږ نه دا مطالبه کوی چه دوئ قتل کړئ نو هغوی ئے قتل کړل، حال دا چه د خالد ﷺ مقصد ګرمول وو، نو پدے کښے ضرار بن ازور ﷺ راولګیدو او مالك بن نویره ئے قتل کړو،

پدے کښے خالد بن ولید ﷺ اذان واوریدو نو بهر راووتو چه وے کتل خلکو خپل قیدیان وژلی وو نو وے فرمایل :

[اِذَا اَرَادَ اللّٰهُ اَمْرًا اَصَابَهٗ]

کله چه الله تعالیٰ د یو کار اراده وکړی نو هغه کیږی۔ (یعنی زما خو د دوئ وژل مقصد نۀ وو)

[تاریخ الطبری : ۲/۲۷۰، البدایة والنهایة : ۶/۳۵۴، الکامل فی التاریخ : ۱/۳۷۲]

(دا واقعه ددے دپاره بیانیږی چه صحابه کرامو کښے د یو شکی سړی په باره کښے هم دومره احتیاط وو)

نو پدے کښے ابوقتاده ﷺ مدینے ته راغے چه ابوبکر صدیق ﷺ ته د خالد ﷺ شکایت

Maktaba Tul Ishaat.com

وکړی، نو اول ئے د عمر فاروق ﷺ سره ملاقات وکړو او هغهٔ ته ئے قصه بیان کړه چه خالد بن ولید ﷺ خو داسے یو مسلمان سړے قتل کړو۔
(غائبانه خبره ډیر سخت اثر کوی) نو عمر فاروق ﷺ پدے باندے ډیر سخت خفه او غصه شو، او ابوبکر صدیق ﷺ ته هم شکایت وشو نو عمر فاروق ﷺ راغے او ابوبکر صدیق ﷺ ته ئے وویل چه خالد بن ولید ﷺ معزول کول پکار دی ځکه چه
[اِنَّ فِیْ سَیْفِهٖ لَرَهَقًا]
ځکه چه ددهٔ په توره کښے ډیره سختی ده (چه په چا ورځی درز ترے وباسی) ابوبکر صدیق ﷺ دے وخت کښے هیڅ ونهٔ وئیل، او د ابو قتاده ﷺ خبره ئے واوریده۔
او بعض ملګرو پکښے لا دا هم وویل چه د خالد بن ولید ﷺ نه قصاص اخستل پکار دی ځکه چه مسلمان ئے د لاس نه وژلے شویدے۔
نو ابوبکر صدیق ﷺ د تحقیق دپاره سړے ولیږلو چه خالد ﷺ ته ووایه چه تهٔ مدینے ته راشه نو خالد ﷺ پدے وخت کښے یو میاشت قتال کړے وو، او مرتدین ئے سم برابر کړی وو، نو پدے کښے خالد بن ولید ﷺ راغی چه جامے ئے د وسپنے په زنګ باندے خیرنے شوے وے، او په سر کښے ئے غشی ایخوستی وو چه هغه هم په وینو ګنده وو۔ (جنګی شان حالت کښے وو) نو کله چه مسجد ته راننوتو،
عمر فاروق ﷺ ورته وویل چه دا غشی ډے سر کښے څنګه ایخودی دی، آیا ریاکاری کوے؟ او تا مسلمان څنګه وژلے دے؟
خالد بن ولید ﷺ ورله هیڅ جواب ورنکړو او هغه ددے نه ویریدو چه ابوبکر صدیق ﷺ خلیفة المسلمین راته چرته په غصه نهٔ وی۔
نو پدے کښے ابوبکر صدیق ﷺ ته ورغے او هغهٔ ته ئے قصه بیانه کړه او ټول حالات ئے ورته بیان کړل، نو ابوبکر صدیق ﷺ هغهٔ لره معذور وګڼړلو او دا ئے وویل چه دهٔ نه د هغهٔ په قتل کښے لږه شان بے احتیاطی شویده لیکن دا اجتهادی خطائی ده نو په دهٔ باندے څه قصاص او دیت نشته۔
عمر ﷺ ورته وویل چه خالد بن ولید ﷺ معزول کړه۔
مګر ابوبکر صدیق ﷺ ورته وفرمایل :
[لَا اَشِیْمُ سَیْفًا سَلَّهُ اللّٰهُ عَلَی الْکُفَّارِ]

زۀ هغه توره نۀ بندوم چه الله تعالیٰ په کافرانو باندے راوخکلے ده.

(پریده چه په کفارو دغسے لوبے وکړی، او د احتیاط په بنیاد او دے دپاره خبره رفع دفع شی نو ابوبکر صدیق ﷺ د بیت المال نه مال راواخستو او د مالك بن نویره وارثانو ته ئے د هغۀ دیت ورکړو)

او معزول ئے نکړو ځکه چه ابوبکر صدیق ﷺ عمل وکړو په عمل د رسول الله ﷺ باندے چه رسول الله ﷺ خالد بن ولید ﷺ لره بنو جذیمه ؤ ته لیږلے وو او هغوی ورته راووتل نو هغوی ایمان راوړو خو کلمه ئے نشوه وئیلے نو داسے ئے ووئیل:

[صَبَأْنَا صَبَأْنَا]

مونږه هم صابیان شو لکه چه تاسو صابیان یئ.

(ځکه چه نبی ﷺ او صحابه کرامو ته به مشرکانو صابیان وئیل)

نو خالد بن ولید ﷺ ووئیل چه دا کسان خو د اسلام پسے توقے کوی، تول قتل کړئ نو تول ئے ووژل حال دا چه دغه کسانو خو ایمان راوړے وو، مقصد ئے صحیح وو لیکن الفاظ ئے خطاء وئیلی وو،

(دے نه دا فائده معلومیږی چه که دیو تن مقصد صحیح وی لیکن د هغۀ نه الفاظ خطاء ووځی نو الله تعالیٰ ئے نۀ راګیره وی، انسان کمزورے دے)

نبی ﷺ ته چه کله خبر راورسیدو چه خالد ﷺ داسے وکړل نو نبی ﷺ خفه شو او لاسونه ئے اُوچت کړل چه.

[اَللّٰهُمَّ اِنِّیْ اَبْرَأُ اِلَیْكَ مِمَّا صَنَعَ خَالِدٌ]

اے الله ! خالد بن ولید (ﷺ) چه کوم کار کړیدے نو زۀ ددے نه بیزاره یم (ما ورته دا امر نۀ دے کړے)

دلته هم خالد بن ولید ﷺ اجتهاد وکړو لیکن ځائے ته ونۀ رسیدو نو رسول الله ﷺ هغه د امارت نه معزول نکړو، او د هغۀ نه ئے دیت او قصاص وانخستو لیکن رسول الله ﷺ د خپل طرفنه بنو جذیمه ؤ ته د بیت المال نه دیتونه ورکړل، او د هغوی چه کوم سامانونه ضائع شوی وو نو د هغے اجرت ئے هم ورکړو تردے چه هغوی سپو ته کومو لوښو کښے خوراك ورکولو نو د هغے بدله ئے هم ورکړه.

ځکه چه د مسلمان په قتلولو کښے د الله رب العالمین په نیز ډیر جرم او وبال دے.

Maktaba Tul Ishaat.com

لیکن خالد ﷺ پرې ګنهګار شوې نهٔ دې بلکه مجتهد دې. او مجتهد که په اجتهاد کښې خطاء هم شي يو اجر ورته ضرور ملاویږي لیکن امت باندې د هغهٔ تابعداري نهٔ وي.

(په کتابونو د تاریخ کښې د مالك بن نویره قصه جدا ولې ذکر کیږي ؟

نو پدې کښې د صحابه کرامو احتیاط او د الله سبحانه وتعالیٰ د حدودو پابندي. معلومیږي، چه هغوی به د قتل وقتال په باب کښې دومره احتیاط کولو چه دا يو سړې دې چه د رسول الله ﷺ په مرګ باندې خوشحالي کړیده او د سجاح مُتَنَبِّيَه سره ئې ناسته او صلح هم کړیده، او د طلیحه اسدي سره هم په ظاهره کښې اوړیدلې دې خو صرف د هغهٔ د خیمې د طرف نه اذان راغلې دې نو پدې يو تکي ئې مسلمان حسابولو، که وکتلې شي نو ددهٔ دا نور کارونه د کفر وو،

لیکن د اذان په وجه او ددهٔ په علاقه کښې د مانځه په وجه صحابه کرامو دا هم مسلمان حساب کړو، او ددهٔ مرګ ئې حرام ګڼړلو، لکه ابوقتاده ﷺ ورسره موافق نهٔ دې، عمر ﷺ ورته په غصه دې، ابوبکر صدیق ﷺ صرف معذور وګڼړلو او د خپل طرف نه ئې دیت ورکړو نو مونږ ته ترې دا فائده راوځي چه د مسلمان د قتل په باره کښې به انتهائي احتیاط کولې شي،

حدیث کښې دي :

[لَزَوَالُ الدُّنْيَا اَهْوَنُ عَلَى اللّٰهِ مِنْ قَتْلِ رَجُلٍ مُسْلِمٍ]

[الترمذي : ۱۳۹۵ النسائي : ۳۹۸۷ صحيح]

د ټولې دنیا ختمیدل د الله تعالیٰ په نیز باندې د يو مسلمان د وژلو نه ډیر معمولي دي.

او بل حدیث کښې دي :

[لَوْ اَنَّ اَهْلَ السَّمٰوَاتِ وَاَهْلَ الْاَرْضِ اِشْتَرَكُوْا فِيْ دَمِ مُؤْمِنٍ لَاَكَبَّهُمُ اللّٰهُ فِي النَّارِ]

[الترمذي : ۱۳۹۸ صحيح]

که اسمانو او زمکې والا (ملائك او انسانان) د يو مسلمان په وینه تویه کولو کښې شریك شي، نو ټول به الله تعالیٰ اُور ته ګوزار کړي، نو د مسلمانانو په قتل کښې به د ډیر احتیاط نه کار اخلې که مسلمان ډې قتل وکړو نو اُور ډې ځائې دې.

Maktaba Tul Ishaat.com

د مالك بن نویره یوه ښځه وه، هغه خالد بن ولید ؓ د مالك د قتل نه روستو په نکاح باندې اخستې وه، ددې وجه نه عمر فاروق ؓ ورته وفرمایل: چه تا مسلمان وژلې دې او ښځه دِې هم ترې اخستې،

مګر روستو پته ولګیده چه خالد بن ولید ؓ پدې باب کښې معذوره وو، او هغهٔ ددې نه دلیل ونیولو چه دې څنګه زمونږ نبی ته زمونږ صاحب وائی او خپل صاحب ئې نهٔ ګڼړی۔

اهل تاریخ لیکی: چه کله خالد بن ولید ؓ مالك بن نویره وژلو نو دې وخت کښې د هغهٔ ښځه ام تمیم بنت مِنهال راغله چه دا ډیره حسینه ښځه وه، او په خپل خاوند باندې راپریوته او د هغې مخ ښکاره وو نو مالك بن نویره خپلې ښځې ته وویل:

[اِلَیْكِ عَنِّیْ فَقَدْ وَاللّٰهِ قَتَلْتِنِیْ]

زما نه جدا شه، قسم په الله چه تا زهٔ مړ کړم۔ (یعنی ستا په لیدو سره به خالد ؓ ما اُوس خامخا وژنی ځکه چه داسې ښکلې ښځه به ورته پاتې شی)۔

نو خالد ؓ ورته وویل: [قَتَلَكَ اللّٰهُ] الله تعالیٰ تا وژنی۔ (یعنی تهٔ د الله تعالیٰ مجرم ئې پدې وجه وژلې کیږې، نهٔ پدې وجه چه مونږ ستا ښځې ته په طمع یو)

بیا کله چه ددې ښځې عدت تیر شو (په یو طهر سره) نو خالد بن ولید ؓ ورسره وادهٔ وکړو۔ (عربو به په جنګونو کښې ودونه بد ګڼړل او دا به ئې عیب ګڼړلو)

[مختصر تاریخ دمشق ۳۸/۳ وتاریخ الطبری ۲۷۳/۲]

(نو پدې نکاح کښې هیڅ ممانعت نشته ځکه چه دا یوه وینځه وه او خالد ؓ له ددې سره نکاح بالکل جائز وه لکه څنګه چه رسول الله ﷺ په غزا د خیبر کښې صفیه رضی الله عنها سره نکاح وکړه)۔

OOO

د مالك بن نویره یو ورور مُتَمِم بن نُویره وو چه دا ډیر ښکلې مسلمان وو او لوی شاعر وو۔ دهٔ د خپل وروړ پسې انتهائی خفګان وکړو چه په تاریخ کښې داسې ژړا او مرثیه هیچا د خپل وروړ پسې نهٔ ده کړې۔

دې یوه ورځ د عمر فاروق ؓ په دور خلافت کښې هغهٔ ته راغلو نو عمر فاروق ؓ

ترے تپوس وکړو:

[مَا بَلَغَ بِكَ الْوَجْدُ عَلَى اَخِيْكَ ؟]

تا خپل ورور پسے څومره خفګان کړے ؟ نو هغهٔ وویل : ما د هغهٔ پسے یو کال وژړل تردے چه زما شیړئ سترګے هم د روغے سترګے مدد وکړو،

(ددهٔ یوه سترګه شیړئ وه او یوه صحیح) او د هغے نه هم اُوښکے روانے شوے۔

او زهٔ چه کله هم چرته اُور وینم نو نزدے یم چه زما جګر مات شی د وجه د خفګان نه د مالك پسے ځکه چه هغهٔ به په خپل کور باندے تر سهاره پورے اُور بل ساتلو پدے یره چه یو میلمه به راشی او د هغهٔ ځائے به ونهٔ پیژنی۔

نو عمر فاروق ﷺ ورته وویل : چه مونږ ته بعض هغه اشعار ووایه چه تا د مالك په مرثیه او غم رازئ کښے وئیلی دی، نو هغهٔ ورته هغه قصیده ولوسته چه کومه ئے د هغهٔ په مرګ کښے لوستلے وه۔

وَكُنَّا كَنَدْمَانَىْ جَذِيْمَةَ حَقْبَةً	❁	مِنَ الدَّهْرِ حَتّٰى قِيْلَ لَنْ يَّتَصَدَّعَا
فَلَمَّا تَفَرَّقْنَا كَاَنِّىْ وَمَالِكًا لِطُوْلِ	❁	اجْتِمَاعٍ لَمْ نَبِتْ لَيْلَةً مَعَا

مونږ دواړه د زمانے په څه موده کښے داسے وو لکه دوه ملګری د جذیمة الابرش بادشاه چه د هغوی په باره کښے دا وئیلے شوی وو چه دواړه به هیڅکله جدا نشی۔

لیکن هرکله چه مونږ جدا شو نو داسے حالت راغے لکه ګویا کښے ما او مالك یوه شپه هم هیڅکله یو ځائے نهٔ ده تیره کړے۔

عمر فاروق ﷺ ورته وویل : که ما چرته شعرونه وئیلے شوے نو ما به هم د خپل ورور زید بن الخطاب ﷺ ستا په شان مرثیه کړے وے۔ (او د هغهٔ په غم رازی کښے به مے شعرونه وئیلی وے) نو متمم ورته وویل :

[وَلَا سَوَاءَ يَا اَمِيْرَ الْمُؤْمِنِيْنَ لَوْ كَانَ أَخِيْ صُرِعَ مَصْرَعَ اَخِيْكَ لما بَكَيْتُهٗ]

اے امیر المؤمنین ! زما او ستا ورور برابر نهٔ دی، که زما ورور ستا د ورور په شان وژلے شوے وے نو ما به ورپسے هیڅکله نهٔ ژړلے۔ (یعنی ستا ورور خو شهید شویدے او زما ورور شك کښے دے) دے نه هم معلومیږی چه د مالك بن نویره په باره کښے شك دے۔

عمر فاروق ﷺ ورتـه وويل چه ما ته هيچا هم داسے ښكلے تعزيه نۀ ده كړے كومه چه تا راته وكړه۔

او پدے معركه كښے د خالد بن وليد ﷺ دوه وريرونه هم شهيدان شول چه دواړه صحابه كرام وو، يو ابوعبيده بن عماره بن الوليد او بل وليد بن عماره بن الوليد۔

[الكامل فى التاريخ لابن الاثير ۲/۳۵۷-۳٦۰، امتاع الاسماع ۱٤/۲٤۰]

او متمم خلكو ملامته كړو چه د ورور پسے دا دومره ژړا ښنګه كوے چه هر ځائے قبر وينے ژړا كوے؟ نو هغۀ جواب وركړو:

لَقَدْ لَامَنِيْ عِنْدَ الْقُبُوْرِ عَلَى الْبُكَا	❁	رَفِيْقِيْ لِتَذْرَافِ الدُّمُوْعِ السَّوَافِكِ
فَقَالَ: أَتَبْكِيْ كُلَّ قَبْرٍ رَأَيْتَهُ	❁	لِقَبْرٍ ثَوٰى بَيْنَ اللِّوٰى فَالدَّكَادِكِ
فَقُلْتُ لَهُ: إِنَّ الْأَسٰى يَبْعَثُ الْأَسٰى	❁	فَدَعْنِيْ فَهٰذَا كُلُّهُ قَبْرُ مَالِكِ

[المفصل فى تاريخ العرب قبل الاسلام للدكتور جواد على۱۸/٤۵۲، وشذرات الذهب فى اخبار من ذهب ۱/۱٦، فوات الوفيات ۳/۲۳۵]

زۀ د قبرونو په خوا كښے ملګرى د اُوښكو په توى كولو ملامته كړم۔

ما ته ئے وويل: آيا تۀ چه هر قبر وګورے نو هغۀ پسے ژاړے هغه قبر رايادوے چه د لِوىٰ او د دكادك په مينځ كښے دے، نو ما ورته وويل: يو غم بل غم راپورته كوى نو ما پريده دا هر يو قبر د مالك قبر دے۔

0000

Maktaba Tul Ishaat.com

د سجاح واقعه:

د مخکنو قصو مینځ مینځ کښې د سجاح اجمالی تذکره شویده، اُوس غواړو چه ددې تفصیلی قصه ذکر کړو دې دپاره چه خبره پوره شي۔

سَجاح بنت حارث بن سُوید بن عقفان د بنو تغلب نه وه چه دا خلك عرب وو لیکن یمن ته نزدې علاقې ته د یو نصرانی د راتګ په وجه دوئ نصاریٰ شوی وو،

او بعض وائی چه دا د پلار د طرف نه د بنو یربوع نه وه نو دا د بنو تمیم قبیلې نه ده، او د مور د طرف نه د بنو تغلب قبیلې نه ده۔ نو ددې وجه نه دا مالك بن نویره الیربوعي ته نزدې ده او د مور د طرف نه بنو تغلب ته کوم چه نصاریٰ وو۔

نو په دوئ کښې یوه زنانه "سَجَاح" راپیدا شوه چه د نبوت دعوه ئې وکړه،

(نبوت خلکو له مزه ورکړه، د الله تعالیٰ کار وو د نبی ﷺ د نبوت نه مخکښې هیڅا د نبوت دعوه نۀ وه کړې خو د رسول الله ﷺ د نبوت نه روستو خلکو وویل چه مونږ به هم د نبوت دعوه وکړو عزت به راته حاصل شي)۔

او دا شاعره ښځه وه چه فصاحت او بلاغت ورته ورکړې شوې وو، مُقفیٰ الفاظ او ښکلي سجعې به ئې جوړه ولې، نو ذې معمولی شان کمال په تکبر کښې راوسته او غټې غټې دعوې ئې شروع کړې، او ذې سره دا کاهنه او جادوګره هم وه، او ددې خاوند ابو ګڅیُله د یمامې کاهن وو۔

دې به شعرونه او مُقفي الفاظ وئیل نو ددې په وجه ورسره خلك ملګری شو لکه نمر بن قاسط قبیلې او د اِیاد قبیلې او د بنو تغلب نه هذیل بن عمران ورسره ملګرې شو چه دا مخکښې نصرانی وو نو خپل دین ئې پریخودو او د سجاح تابعداری ئې شروع کړه، او د سجاح سره د خپل قوم نه څلور زره (۴۰۰۰) کسان ملګری شو،

دا اول کښې د مسیلمه او د طلیحه نه خبره شوه چه هغوی مرتد شول او د نبوت دعوه ئې وکړه نو ذې هم دعوه وکړه۔

Maktaba Tul Ishaat.com

سجاح خپله هم اول کښې نصرانيه وه بيا ئې هغه پريخودو۔

نصارئ او مرتدين خلك ورسره د بنو تغلب او د بنو يربوع نه نور هم ملګرى شو نو سجاح بنو تميمو ته راغله، يعنى د مالك بن نُويره يربوعى علاقې ته راغله، او د خپل فوج سره ئې مشوره وکړه چه اول پدې خلکو حمله کوو او که اول په ابوبکر صديق باندې په مدينه کښې حمله کوو؟،

نو عامو ملګرو ورته ووېل چه اول په مدينه باندې حمله کوو، مګر دې ووېل چه بنو تميمو کښې يوه ډله ده اول به پدې باندې حمله وکړو او دې نورو سره به روستو ګورو، نو لاره کښې ورسره بنو حنظله قبيله ملاؤ شوه نو دې ورته ووېل:

زۀ ستاسو نه يوه زنانه يم او زما بادشاهى ستاسو بادشاهى ده او زۀ پيغمبره راليږلې شوې يم۔ نو هغوى ورته ووېل چه مونږ ته حکم وکړه، نو دې ورته مُقفى الفاظو کښې ووېل:

[اِنَّ رَبَّ السَّمَاءِ وَالتُّرَابِ يَأْمُرُكُمْ اَنْ تُوَجِّهُوا الرِّكَابَ، وَتَسْتَعِدُّوْا لِلنِّهَابِ، ثُمَّ تُغِيْرُوْا عَلَى الرَّبَابِ، فَلَيْسَ دُوْنَهُمْ حِجَابٌ]

د آسمان او د خاورو رب تاسو ته حکم کوى چه تاسو خپل اُوښان متوجه کړئ او د لوټ مار (حملې) دپاره ځانونه تيار کړئ، بيا په رباب قبيله باندې حمله وکړئ ځکه چه د دوئ مخې ته هيڅ مانع او پرده نشته۔

نو بنو حنظله ئې د رَبَاب قبيلې يوې ډلې ته وليږله چه هغه بنو ضبّه دى، نو هغوى له ئې شکست ورکړو او سَجَاح خپله او د بنو تغلب کسانو د رَبَاب قبيلې په نورو ډلو (بنو عدى، ثور او تيم) باندې حمله وکړه او دوئ سره ئې سخت جنګ وکړو تردې چه دوى ئې قتل کړل او د دوئ نه ئې مالونه ونيول او د دوئ کسان ئې ځان سره ملګرى کړل، نو ددې ښځې طاقت زيات شو،

(دلته ئې د نبوت دعوه هم کړېده خلکو ته وائى چه مونځونه هم کوئ او بعض بعض نيك عملونه هم ورته ښائى ځکه چه که دا ونۀ ښائى نو شرميږى)

نو بيا ئې خپلو ملګرو ته ووېل چه ځو به او په بنو حنيفه به حمله کوو (روستو به راشى چه بنو حنيفه ډير غليظ ترين کافر وو چه مرتد شوى وو او د مسيلمة الکذاب سره ملګرى شوى وو)

نو دے اراده وکړه چه د بنو حنیفه سره قتال وکړی نو د هغوی طاقت به هم ځان سره ملګرے کړی بیا به روستو په مدینه باندے حمله کوی۔

نو دے خپلو ملګرو ته ووېل :

[عَلَيْكُمْ بِالْيَمَامَةِ، فَإِنَّهَا دَارُ إِقَامَةٍ، نَلْقَى اَبَا ثُمَامَةَ، فَإِنْ كَانَ نَبِيًّا فَفِي النَّبِيِّ عَلَامَةٌ، وَإِنْ كَانَ كَذُوْبًا فَلَهُ وَلِقَوْمِهِ النَّدَامَةُ، وَلَا يَلْحَقُكُمْ بَعْدُ مَلَامَةٌ]

[الاوائل للعسکری ص : ۱۲۵]

په تاسو لازم دی چه یمامے ته لاړ شئ، ځکه چه هغه د پاتے کیدو (وسیدو) ځائے دے، هلته به د ابو ثمامه (مسیلمه) سره ملاویږو، که هغه نبی وی نو په نبی کښے د نبوت علامه وی او که دروغجن وی نو دے او ددهٔ د قوم د پاره به خپیمانتیا وی، او تاسو ته به ددے نه روستو هیڅ ملامتیا ونهٔ رسیږی۔

نو پدے کښے مسیلمة الکذاب ته پته ولګیده چه سجاح په ما باندے حمله کول غواړی نو هغه ویریدو چه دلته زما (دروغجنو) صحابو سره جنګ شروع دے، (ځکه چه عکرمه بن ابی جهل ﷛ تلے دے او هغه د بنو حنیفه ؤ په مقابله کښے ولاړ دے او هلته ثُمامه بن اُثال ﷛ یو جلیل القدر صحابی دے او د بنو حنیفه ؤ نه دے، او په اسلام باندے کلك ولاړ دے، د مسیلمة الکذاب په مقابله کښے ولاړ دے، دوئ د خالد بن ولید ﷛ د راتللو په انتظار کښے دی لکه روستو به ددے بیان راشی)

نو دهٔ سوچ وکړو که دلته نه راباندے سجاح هم د خپلو فوجونو سره راشی نو مونږ به د دوو جرندو د پلونو په مینځ کښے راګیر کړے شو نو غرق به شو (دنیا پرست سرے وو) نو مسیلمه دے زنانه ته جواب ولیږلو چه جنګ ته څه ضرورت دے، تهٔ ما سره ملاؤ شوه، د خبرو اترو نه به ما او تا مسئله حل کړو،

په فلانئ ورځ به ملاویږو او خبرے اترے به کوو ، که حق ستا په لاس کښے وی مونږ به تا سره بیعت وکړو او که زمونږ په لاس کښے وی نو تهٔ به زمونږ سره بیعت وکړے۔

او دائے هم ورته ووېل چه

[لَنَا نِصْفُ الْاَرْضِ وَكَانَ لِقُرَيْشٍ نِصْفُهَا لَوْ عَدَلَتْ وَقَدْ رَدَّ اللّٰهُ عَلَيْكِ النِّصْفَ الَّذِىْ رَدَّتْ قُرَيْشٌ]

Maktaba Tul Ishaat.com

زمونږ د زمکے نه چه کومه غله راوځی نو نیمه زمونږ او هغه نیمه برخه چه د قریشو دپاره وه او هغوی رد کړه هغه به زهٔ تا ته درکوم۔ او باقی خبرے به د ملاقات نه پس کوو۔

نو دے زنانه د ځان سره څلویښت (۴۰) کسان واخستل او د بنو تمیمو ددے علاقے نه لاړه یمامے علاقے ته، او مسیلمة الکذاب هم د لږو کسانو سره راووتو او په یو ځائے کښے ئے خیمه ولګوله چه هلته ئے ځان له کور هم جوړ کړے وو او خیمه ئے هم وه د خپل کلی په خوا کښے،

نو سجاح د هغهٔ سره یواځے په خیمه کښے ملاؤ شوه او نور فوج ئے بهر پریخودو، هغهٔ هم د نبوت دعوه کړیده او دے هم کړے وه،

(رسول الله ﷺ هیچرے د پردئ زنانه سره لاس هم نهٔ دے لګیدلے او دلته دا دروغجن پیغمبران د یو بل سره یواځے خیمه کښے ملاقات کوی لیکن دا خلك همیشه خواهشاتو والا وی)

نو مسیلمه کذاب سجاح ته وویل : [مَا ذَا اُوْحِیَ اِلَیْكِ ؟]

تاته کومه وحی شویده؟ نو هغے ورته وویل : [وَهَلِ النِّسَاءُ یَبْتَدِءُ نَ ؟]

آیا زنانه ګنے خبره مخکښے شروع کوی؟ نو زهٔ تا نه تپوس کوم چه تا ته کومه وحی کیږی؟ نو هغهٔ ورته د ځان نه څه الفاظ جوړ کړل چه انتهائی فاحش او د بے حیایئ نه ډك دی، لکه ښځه او خاوند چه یواځے ځائے کښے د خواهش حالت کښے وی وے وئیل :

[اَلَمْ تَرَ اَنَّ اللّٰهَ خَلَقَ لِلنِّسَاءِ اَفْرَاجًا وَ جَعَلَ الرِّجَالَ لَهُنَّ اَزْوَاجًا، فَنُوْلِجُ فِیْهِنَّ قَعْسًا اِیْلَاجًا،

ثُمَّ نُخْرِجُهَا اِذَا نَشَاءُ اِخْرَاجًا، فَیُنْتِجْنَ لَنَا سِخَالًا اِنْتَاجًا]

چه زنانو نه مونږ فائدے اخلو او دوئ مونږ دپاره اولاد راوړی۔

نو د هغے هم دا سړے خوښ شو چه دا سړے هم زما په شان فاحش دے، نو دے ورته وویل : چه زهٔ ګواهی ورکوم چه تهٔ نبی ئے،

(یو دروغجن د بل دروغجن تصدیق کوی) نو دهٔ ورته وویل چه بس دا سے وکړه چه ستا قوم او زما قوم به ملګری کړو او دا ټول عرب به پرے وخورو او مزے به وکړو۔

او زهٔ به تا سره نکاح وکړم نو هغے ورته وویل چه زهٔ بیخی دے ته تیاره یم، نو سمدست په همدغه ځائے کښے ئے ورسره (بغیر د مهر او دګواهانو نه) نکاح وکړه۔

Maktaba Tul Ishaat.com

بیا لږ ساعت پس ئے ورته د فحشاء او بے حیایئ دعوت ورکړو او خپله سجع او شعرونو کښې ئے ورته بد بد الفاظ استعمال کړل،

اَلَا قُوْمِیْ اِلَی النَّیْكِ، فَقَدْ هُیِّیءَ لَكِ الْمَضْجَعُ، فَاِنْ شِئْتِ فَفِی الْبَیْتِ، وَاِنْ شِئْتِ فَفِی الْمِخْدَعِ، وَاِنْ شِئْتِ سَلَقْنَاكِ، وَاِنْ شِئْتِ عَلٰی اَرْبَعٍ، وَاِنْ شِئْتِ بِثُلُثَیْهِ، وَاِنْ شِئْتِ بِهٖ اَجْمَعَ، فَقَالَتْ : بِهٖ اَجْمَعَ۔

بیا ئے د هغهٔ سره په دغه یوه خیمه کښې درے ورځے تیرے کړے، بیا د خپلو څلویښتو (٤٠) ملګرو سره راروانه شوه او خپل قوم ته راواپس شوه نو د خپل قوم مشرانو ورته وویل چه تا خو دغه سړی سره نکاح وکړه خو څه مهرئے درکړو او که نهٔ ؟

نو هغوی ملامته کړه چه ته خو یوه عزتمنه او مشره ښځه ئے او بے مهره نکاح ستا د شان سره بے عزتی ده، نو هغے جواب ورولیږلو چه ما له مهر راکړه، نو مسیلمه ورته وویل چه ستا مؤذن راولیږه (ځکه چه دے خلکو به مونځونه هم کول) نو د هغے مؤذن (شَبَث بن ربعی الریاحی) ورغے،

نو مسیلمه د هغے مؤذن ته وویل چه ستا ددے نبیه مهر ما دا مقرر کړو چه محمد رسول الله صلی الله علیه وسلم چه کوم پنځه مونځونه راوړیدی نو دوه مے تا ته معاف کړل، سهار او د ماسخوتن مونځ مهٔ کوئ۔ او ورشه په خپل قوم کښې اعلان وکړه چه مسیلمه بن حبیب رسول الله (دروغجن) تاسو ته دوه مونځونه معاف کړل۔

(د باطل پرستو دین همیشه دا وی چه د خواهشاتو تابعداری هم کوه او ښهٔ په آرام سره به جنت ته هم ځے)

نو سجاح نیمائی غله واخسته او خپلے علاقے ته راواپس شوه او د خپل قوم سره ملګرے شوه۔

بیا هرکله چه خالد بن ولید رضی الله عنه د دوئ د فوج سره مقابله وکړه، نو سجاح پدے مقابله کښې وتښتیده او خپل قوم ته لاړه او په یو کور کښے ننوته او ورکه شوه او ځان ئے ګمنام کړو، سخت رعب پرے راغلو او الله تعالیٰ د هغے فوجونه د خالد بن ولید رضی الله عنه په لاس باندے ووهل او مسلمانانو ته ئے په هغوی باندے هم فتح ورکړه۔

او د سجاح لږه زمانه د نبوت دعوه وه او نور هیڅ کمال پکښې نهٔ وو،

پدے کښے اشاره ده چه حق له الله تعالیٰ بقاء ورکوی تر قیامته پورے او باطل زر

Maktaba Tul Ishaat.com

ختمیدو والا دے۔

﴿ فَاَمَّا الزَّبَدُ فَیَذْهَبُ جُفَاءً وَاَمَّا مَا یَنْفَعُ النَّاسَ فَیَمْكُثُ فِی الْاَرْضِ ﴾

هرکله چه د سجاح په حالت باندے خلك پوهه شو چه دے خو په دروغه د نبوت دعوه کړیده نو پدے کښے شاعرانو شعرونه وویل او ددے نه ئے جدائی اختیار کړه او توبه گار شو:

عطارد بن حاجب ﷺ ووئیل:

اَضْحَتْ نَبِیَّتُنَا اُنْثٰی نُطِیْفُ بِهَا	❁	وَاَصْبَحَتْ اَنْبِیَاءُ النَّاسِ ذُكْرَانًا
فَلَعْنَةُ اللّٰهِ رَبِّ النَّاسِ كُلِّهِمِ	❁	عَلٰی سَجَاحٍ وَمَنْ بِالْاِفْكِ اَغْوَانَا
اَعْنِیْ مُسَیْلَمَةَ الْكَذَّابَ لَا سُقِیَتْ	❁	اَصْدَاؤُهُ غَیْثُ مُزْنٍ حَیْثُ مَا كَانَا

زمونږ پیغمبره ښځه وګرځیده چه مونږه ئے ګرځوو، او د خلکو پیغمبران سړی وی، نو د الله تعالیٰ لعنت دے وی په سجاح باندے او په هغه چا باندے چه مونږه ئے په دروغه گمراه کړی وو۔ یعنی مسیلمه، ددهٔ تنده دے د بارانی وریځے په باران باندے خړوبه نکړے شی هر ځائے کښے چه وی۔

بیا د معاویه ﷺ په دور خلافت کښے بنو تغلب د دغه علاقو نه هم وشړلے شو۔

اهل تاریخ لیکی: بیا په روستو زمانه د معاویه رضی الله عنه کښے سجاح په خپل کار خپیمانه شوه نو توبه ئے ویستله او اسلام ته راواپس شوه او نیکه مسلمانه ترے جوړه شوه او د امیر معاویه ﷺ په دور خلافت کښے په بصره کښے وفات شوه۔

[تاریخ الدولة العلیة العثمانیة ص۲۵، محمد فرید بك، وتاریخ الطبری ۲/۲۷۱، تاریخ ابن خلدون ۲/۷۳]

نو پدے طریقه الله تعالیٰ مسلمانانو ته بیرته دغه علاقے ورکړے او دا ټول جنگی حالات وو۔

Maktaba Tul Ishaat.com

د امِ زِمل هلاکت:

د بُزاخه په جنګ کښې د طلیحه اسدي بعض ملګري تښتیدلي وو کوم چه د بنو غطفان نه وو، هغوی راجمع شو او د یو ے بلے زنانه سره ملګري شو چه د هغے اُم زِمل نوم وو۔ خپل نوم ئے سلمیٰ بنت مالك بن حذیفه وو۔ د عربو د سپداتو نه وه۔
او د عُیَینه بن حِصن فزاري د ترۀ لور وه۔
دغه زنانه په عربو کښے دومره عزتمنه وه چه دا مشهوره شوے وه چه چا ددے اُوښ له ګوتے وروړے نو سل (۱۰۰) اوښان انعام دے، څوك به خوا ته نشو ورتللے۔ ددے د عزت او شرافت د وجه نه۔ ددے مور اُم قِرفه هم دغه شان په شرافت کښے ضرب المثل وه ځکه چه اولاد ئے زیات وو او قبیله ئے مضبوطه او عزتمنه او خاندان ئے عزتمن وو۔
ددے د مور ام قرفه نوم فاطمه بنت ربیعه بن بدر وو، هرکله چه رسول الله صلی الله علیه وسلم زید بن حارثه رضی الله عنه په یوه سریه باندے امیر کړو او بنو فزاره ؤ ته ئے ولیږلو نو دوئ اُم قرفه هم قتل کړه پدے وجه چه دے به د مسلمانانو په جنګ باندے خپل قوم ته تیزي ورکوله نو جنګ وشو په هغے کښے د ام قرفه لور ام زمل ونیوله شوه او د ام المؤمنین عائشے رضی الله عنها په برخه کښے ورسیدله نو هغے آزاده کړه۔
نو دے ام زمل د خپلے مور په غم کښے د مسلمانانو سره ډیره کینه او بغض وو،
نو دے به کوشش کولو چه څه موقعه پیدا کړي او د مسلمانانو نه د خپلے مور بدله واخلي، نو د طلیحه د ملګرو نه تښتیدونکي خلك ددے سره ملګري شو او دوئ دا زنانه ځانله مشره کړه،
نو دا زنانه راولګیده او دا قومونه ئے د خالد بن ولید رضی الله عنه د مقابلے دپاره راتیز کړل نو دوئ د خالد بن ولید رضی الله عنه مقابلے ته راووتل،
او د دوئ سره نور خلك د بنو سلیم او طيء او هوازن او اسد نه ملګري شو نو یو غټ لښکر تر ے جوړ شو او ددے زنانه خبره غټه شوه۔
هرکله چه خالد بن ولید رضی الله عنه د دوئ ددے حالت نه خبر شو نو هغۀ وړپسے راروان شو

او جنګ ئې ورسره شروع کړو، ډیر سخت جنګ وشو،

پدې جنګ کښې مسلمانان هم لږ لږ شهیدان شو او مرتدین ډیر مردار شو، آخر دا چه ام زمل ته ورسیدل، چه د هغې نه ګیر چاپیره سخت جنګیان ولاړ وو، نو دوئ ورپسې ورغلل او د هغې دغه فوجیان ئې ووژل او دا زنانه په اوښ باندې سوره وه نو خالد بن ولید ﷺ د هغې اوښ هم مړ کړو او هغې ئې ترې راکوزه کړه او مرداره ئې کړه چه تۀ څنګه د مسلمانانو په خلاف باندې د مرتدینو سرداری او مشری کوې،

وئیل شویدی چه ددې د اوښ نه ګیر چاپیره سل کسان ووژلے شول، تردې چه الله تعالیٰ مسلمانانو ته فتح ورکړه،

او ددې نه پس ئې ابوبکر صدیق ﷺ ته ددې فتح زیرے راولیږلو۔

[البداية والنهاية ٦/ ٣٥١، تاريخ الطبرى ٢/ ٢٦٥، الكامل فى التاريخ ١/ ٣٦٨]

خالد بن ولید ﷺ د الله تعالیٰ توره وه نو په هر ځائے کښې ئې دغه مرتدین ذلیله کړل۔

OOOO

Maktaba Tul Ishaat.com

جنگِ یَمامه :

یا - مَعرکه د عَقْرَباء

آخر د سنه (۱۱ هـ) او ابتداء د سنه ۶۳۳م

یمامه : د ریاض ښار په شمالي طرف کښې ۳۰ کیلو میټره جدا علاقه ده، او په اَلْجُبَیْلَه منطقه کښې واقع ده، د عُیَیْنَه کلي نه په مشرقي طرف کښې ده. اُوس په ریاض کښې داخله ده.

دلته یو عظیم جنګ شویدے او دا د هغه جنګونو نه یو جنګ دے چه د ابوبکر صدیق ﷛ په دور خلافت کښې راپیښ شویدے او د حروب الردة نه دے، یعني د مرتدینو سره شویدے،

او ددے سبب دا وو چه بنو حنیفه یو قوم وو پدے کښې یو تن وو چه د هغهٔ نوم مسیلمة الکذاب وو هغهٔ د نبوت دعوه وکړه چه زهٔ رسول الله ﷺ ځان سره په نبوت کښې شریك کړے یم او قوم د هغهٔ سره ملګري شو او د زکاة او د طاعت د ابوبکر صدیق نه ئې انکار وکړو.

تفصیل ئے دا دے چه هرکله چه خالد بن ولید ﷛ ددے جنګونو نه فارغ شو نو ابوبکر صدیق ﷛ ددے نه مخکښې د ذي القصه علاقے نه فوجونه لیږلي دي چه یو د عکرمه بن ابي جهل ﷛ فوج دے هغهٔ ته ئے وئیلي وو چه ته به ځے او د مسیلمة الکذاب او د هغهٔ د قوم بنو حنیفه ۇ مقابله به کوے په یمامه علاقه کښې،

او د عکرمه بن ابي جهل ﷛ پسے ئے بله جنډه شرحبیل بن حسنه ﷛ ته ورکړه چه ته به د عکرمه ﷛ مدد کوے ځکه چه بنو حنیفه ډیر قوي کافر او په جنګونو کښې مضبوط او تکړه دي،

نو د روستو نه ئے ورپسے خالد بن ولید ﷛ ورولیږلو، دے وخت کښې خالد بن ولید ﷛ د طلیحه د مقابلے نه هم فارغ شوے، او بیا د مالك بن نویره نه هم او بیا د سجاح نه

Maktaba Tul Ishaat.com

هم۔ او دے وخت کښے مدینے ته ابوبکر صدیق ﷺ راغوښتے وو او هغهٔ ته ئے د مالك بن نویره په باره کښے عذر پیش کړو او ابوبکر صدیق ﷺ ورله عذر قبول کړو،

او د خالد بن ولید ﷺ پسے ئے روستو یوه وړه دسته د فوج ملګرے کړے وه دے دپاره چه هغوی د خالد بن ولید ﷺ او د هغهٔ د ملګرو د شا طرف نه حفاظت کوی، پدے طریقے سره ابوبکر صدیق ﷺ دا ملګری دغه طرف ته ولیږل او څه کسان ئے نورو علاقو ته لیږلی وو لکه چه د هغے بیان اجمالًا مخکښے وشو۔

او خالد بن ولید ﷺ او ددهٔ فوجونو ته ئے امر کړے وو چه کله ددے جنګونو نه فارغ شوئ نو په یمن باندے به راتاویږئ او حضرموت علاقے ته به ځئ او د اسود عنسی علاقے له به ورځئ او په لاره کښے چه کوم مرتدین دی دا به وژنئ۔

د مسیلمة الکذاب قصه دا ده چه دا یو سړے وو په یمامه کښے وسیدو،

(یمامه پدے وخت کښے په ریاض کښے واقع ده او عین ریاض دے چه درعیه، منفوحه او وادی حنیفه او ډیرو ځایونه ئے راګیر کړیدی)

نبی ﷺ چه کله مکه فتح کړه نو په وفدونو کښے په نهم کال باندے د بنو حنیفهٔ وفد کښے مسیلمه کذاب هم راغے (لکه چه د هغے بیان مخکښے وشو)

پدے وفد کښے عامو بنو حنیفهٔ ایمان راوړو او مسیلمه کذاب پکښے نبی ﷺ ته مشروط ایمان پیش کړو چه که ستا نه روستو خپله بادشاهی ما ته پریدے نو زهٔ دِے تابعداری کوم نو د الله تعالیٰ رسول ورته وفرمایل چه که تهٔ ما نه د یو ډکی په اندازه څه شے غواړے نو زهٔ ئے نهٔ درکوم، الله رب العالمین تهٔ ما ته په خوب کښے راخودلے ئے (د بنګرو په واقعه کښے) چه تا به الله تعالیٰ تباه کوی، که تا ایمان رانهٔ وړو نو الله به دِے هلاك کړی۔

دے ددغه تکبر په حالت کښے واپس شو او په خپل قوم کښے ئے کار کولو نو په بله ورځ ئے د نبوت دعوه وکړه دا ئے وویل چه لکه څنګه چه محمد رسول الله ﷺ ته وحی کیږی دغه شان ما ته هم وحی کیږی او د نبی ﷺ سره به ئے ځان مشابه کولو، کله به ئے نیکے نیکے خبرے هم کولے،

(لکه د باطل والو طریقه دا وی چه کله عوام ګمراه کوی نو تولے په غلطو خبرو

باندے نهٔ، بلکه نیکے نیکے خبرے هم کوی او په هغے باندے ئے دهوکه کوی او پټ ورله خپل زهر ورکوی، او د حق او د اهل حقو نه ئے اړه وی، د یهودو او نصاراؤ او اهل بدعو طریقه همدا ده، او همدا طریقه د شیطان هم ده، تا ته شیطان دا نهٔ وائی چه دا فلانئ گناه وکړه بلکه د نیکئ په جامه کښے به درته وښائی)

نو دهٔ به هم د روژے او د عبادتونو حکم کولو۔ او خپل قوم له ئے د جاهلیت غیرت ورکړو چه وګورئ قریشو کښے دے نبی راځی او قریش ستاسو نه د علاقے په لحاظ تنګه علاقه کښے دی، او تاسو فراخه ځائے کښے وسیږئ، د قریشو شمار کم دے او ستاسو شمار زیات دے، د قریشو طاقت کم دے او ستاسو ډیر دے، نو څنګه ډے په هغوی کښے نبی راځی او په مونږ کښے ډے نهٔ راځی، نو زهٔ هم نبی یم،

نو قوم ئے د قومیت او تعصب په بنیاد باندے ځان سره ودرولو، ددے وجه نه ډیرو خلکو ته پته هم وه چه مسیلمة الکذاب دروغجن دے،

لیکن د قومیت د وجه نه ورسره ملګری شوی وو،

ددهٔ د قوم نه یو اعرابی "طلحه النمیری" راغلو او مسیلمه ته ئے وویل چه تا ته څوك وحی راوړی ؟ هغهٔ وویل : [رِجۡسٌ] یو ګنده غونتته شے دے، هغه وحی راوړی۔

(او په روایت د طبری کښے رحمٰن ذکر دے، یعنی د رحمن په نوم باندے یو تن وحی راوړی)

بیا ئے ورته وویل : [اَفِیۡ نُوۡرٍ اَمۡ فِیۡ ظُلۡمَةٍ ؟]

په تیارهٔ کښے وحی راوړی او که په رنړا کښے ؟ هغه وویل : [فِیۡ ظُلۡمَةٍ] په تیارهٔ کښے راځی۔ نو هغهٔ ورته وویل :

[اَشۡهَدُ اَنَّكَ كَذَّابٌ وَاَنَّ مُحَمَّدًا صَادِقٌ،]

زهٔ ګواهی ورکوم چه تهٔ دروغجن ئے او محمد ﷺ رشتینے دے، ځکه چه ګندګی او شیطانان درله راځی معلومیږی چه دروغجن ئے۔

[وَلٰكِنۡ كَذَّابُ رَبِيۡعَةَ اَحَبُّ اِلَيۡنَا مِنۡ صَادِقِ مُضَرَ]

لیکن سره ددے نه زهٔ ستا خبره منم ځکه چه د ربیعه قبیلے دروغجن (ځکه چه مسیلمه د ربیعه نه وو) مونږ ته د مضر قبیلے د رشتینی نه ډیر خوښ دے۔ (یعنی نبی ﷺ ځکه چه نبی ﷺ د مضر قبیلے نه وو)

Maktaba Tul Ishaat.com

بیا دے ناولی اعرابی ورله تابعداری شروع کړه تردے چه د هغهٔ سره د عقرباء د جنګ په ورځ مردار شو۔

[البداية والنهاية]

دے نه معلومیږی چه ډیرو خلکو مسیلمه دروغجن ګنړلو لیکن د قومیت د وجه نه ورسره ولاړ وو، د نبی ﷺ په زمانه کښے هغوی سر ډیر نشو اُوچتولے ځکه چه عامو خلکو اسلام راوړیدے۔

د بنو حنیفه او د مسیلمه د ګمراهئ سبب:

نبی ﷺ دوئ ته یو سړے ورلیږلے وو نو هغهٔ دوئ لره ګمراه کړل د هغهٔ لقب رَجال (یا رَحال) دے او نوم ئے نَهار بن عُنفُوَه بن نَهُشل الحنفی دے چه مونږه ددهٔ لږ وضاحت مخکښے ذکر کړیدے، دا شخص مدینے ته راغلے وو او ایمان ئے راوړے وو، او سورة البقره ئے هم یاده کړے وه، دین کښے ورله الله تعالیٰ څه نا څه پوهه هم ورکړے وه، مدینه کښے وسیدو،

ابو هریره ﷺ فرمائی: یوه ورځ زهٔ په یو مجلس کښے ناست وم چه رجال هم راسره وو او نور کسان هم وو، نو نبی ﷺ په مونږ راتیر شو او وے فرمایل: چه په تاسو کښے یو تن داسے دے چه په جهنم کښے به د هغهٔ غاښ د اُحد د غر په مقدار وی،

نو دغه مسلمانان ډیر یریدل چه دا به څوك وی؟

ابو هریره ﷺ فرمائی: د دغه مجلس ټول کسان د الله تعالیٰ په لاره کښے شهیدان شو، یو زهٔ پاتے شوم او یو دا رجال پاتے شو نو ابو هریره به ډیر زیات یریدو چه هسے نهٔ زهٔ دغه شخص جوړ نشم، نو پدے مابین کښے نبی ﷺ رجال بن عنفوه بنو حنیفه ؤ ته ولیږلو چه تهٔ لاړ شه او هغوئ ته دین ښایه او مسیلمة الکذاب ته دعوت ورکړه چه د فسادونو نه لاس واخله، او په غلطه لاره مهٔ روانیږه، نو دا رجال چه هلته لاړو نو د قومیت نه متأثر شو او د اسلام نه مرتد شو او مسیلمة الکذاب او د هغهٔ قوم ئے راجمعه کړو او دا ئے ورته وویل چه ما د نبی ﷺ نه آوریدلی دی چه الله پاك ما سره مسیلمة الکذاب په نبوت کښے شریك کړیدے۔

Maktaba Tul Ishaat.com

(په نبي ﷺ باندې ئې دروغ وويل دا د هغهٔ ارتداد وو چه نبي ﷺ خبر ورکړې وو چه دا به جهنمي وی نو مرتد شو) او مسيلمة الكذاب په خپلو دروغو كلك كړو او قوم ئې دهوكه كړو او د مسيلمة الكذاب تابعدار ئې وګرځول، ددې خبرې د وجه نه۔

عوام خلك خو دومره تحقيق نهٔ كوى چه دا خبره به رشتيا وى او كه نهٔ خو بس د هر ناعق د آواز پسې روانيږى او اكثر په غلطو خبرو پسې روان وى۔

بيا د مسيلمه خبره په هغه وخت كښې سخته شوه چه كله رسول الله ﷺ وفات شو، ددهٔ سره ډير ملګرى پيدا شو او ډير خلك د اسلام نه واوړيدل او ددهٔ سره ملګرى شول، لږ كسان د بنو حنيفهٔ نه په اسلام پاتې شول، او دا يوه غټه قبيله وه او ډير جنګيان او قوت والا وو۔

نو ابوبكر صديق ﷺ ددې وجه نه د هغوئ د مقابلې دپاره ډير مجاهدين ور وليږل، اول عكرمه ﷺ ورغلو، هغهٔ اراده وكړه چه زهٔ به يوائځې د دوئ مقابله وكړم، چه جنګ ئې شروع كړو نو عكرمه ﷺ او د هغه ملګرو شكست وخوړو، طاقت ئې نهٔ وو چه بنو حنيفه ووهى،

نو هغوى انتظار وكړو چه كله خالد بن وليد او د هغهٔ ملګرى راورسيږى نو بيا به جنګ شروع كړو، دلته شرحبيل بن حسنه ﷺ چه خبر شو چه عكرمه ﷺ شكست وكړو نو هغه هم دا خبره غوره كړه چه په خپل ځائې انتظار وكړى تردې چه هغهٔ ته د خالد بن وليد فوجونه راورسيږى چه ډير عدد مسلمانان صحابه كرام او قاريان د قرآن ورسره دى۔

نو پدې كښې خالد بن وليد ﷺ ددې ځائې نه ځان سره ديارلس زره (۱۳۰۰) فوج روان كړو،

او بل طرفته مسيلمه خبر شو چه خالد زما د مقابلې دپاره رانزدې شويدې نو خلكو كښې ئې اعلان وكړو چه مقابلې دپاره راوځئ نو هغهٔ ځان سره د بنوحنيفهٔ وغيره نه څلويښت زره فوج راروان كړو او عقرباء علاقه كښې ئې پړاؤ واچولو چه دا ټول جنګيان او تير اندازه او د تورو چلولو ماهرين وو۔

او دا په جنګ په حروبو د ردت كښې (يعنى د مرتدينو په جنګونو) كښې دا ډيره ناشنا او ډيره لويه مغركه شويده چه په تاريخ كښې ډيره نمايان واقعه ده او ډير صحابه

Maktaba Tul Ishaat.com

کرام رضی الله عنهم او د قرآن کریم ښکلي قاریان او علماء او فقهاء په کښې شهیدان شویدي.

د خالد ﷛ تجسس

خالد بن ولید ﷛ چه کله هلته ورسیدو نو په یو اُوچت ځائے کښې ئے ځانله معسکر جوړ کړو، او د مخکښې نه ئے څه کسان د کفارو علاقے ته د احوالو د معلومولو دپاره ولیږل دے دپاره چه دۀ ته پوره احوال راوړي چه د هغې مطابق جنګ وکړي.

او حرب نفسی او اعصابی ئے پرے ور واچولو چه بعض کسان ئے ولیږل او د بعض مشرانو سره ئے پټ ملاقات وکړو ځکه چه دا طریقه ده چه دشمن کښې دَرز او پوټ پیدا نکړے نو د هغوئ وهل بیا ډیر سخت وي، او چه کله پکښې اختلاف پیدا شي، نو د هغوئ وهل بیا آسان وي.

نو خالد ﷛ دا طریقه هم اختیار کړه او دوه کسان ئے ددے دپاره منتخب کړل چه د چا د چا سره دوستي وه لکه د بنو حنیفه ؤ یو مشر وو محکم بن الطفیل ئے ورته وئیلو، دا ئے د فوج مشر وو، نو د دغه مشر دلته د یو مسلمان سره دوستانه وه د جاهلیت د زمانے نه، نو دا ئے ورولیږلو چه هغۀ ته ئے ووئیل چه په تا باندے یو عجیب فوج راروان دے، چه تۀ ورته نشے تینګیدے نر د هغۀ په زړۀ کښې ئے رعب اچولو،

دغه شان اَلْیَشْکُری په نوم باندے یو مسلمان وو چه اسلام ئے پټ کړے وو نو هغه ئے ولیږلو چه تۀ لاړ شه او خپل قوم کښې خلك په اسلام باندے راپورته کړه او هغوئ ته دعوت ورکړه. خالد بن ولید ﷛ یو دا کار وکړو.

د شپیته کسانو مقابله

خالد بن ولید ﷛ چه کله دلته معسکر جوړ کړو، نو د شپے د بنو حنیفه ؤ نه شپیته (۶۰) کَسان چه ډیر جنګیان دي، په لاره روان دي، او اسونه او تورے ورسره دي، دوئ پدے اراده راوتي وو چه دوئ د بنو عامرو نه بدله واخلي ځکه چه هغوی د دوئ نه څه کسان وژلي وو،

نو خالد بن ولید ﷺ به تر هغه وخته پورے نهٔ اُودهٔ کیده ترڅو چه به ئے مسلمانان سنبال کړی نهٔ وو دے دپاره چه دشمنان رابانديے په پټه حمله ونکړی، نو هغوئ سمدست ورودانګل او دغه شپیته (۶۰) واړه کسان ئے ونیول نو هغوی ته ئے دعوت ورکړو چه ایمان راوړئ نو هغوی وویل چه موږ دا ګواهی ورکوو چه مسیلمه د الله تعالیٰ رسول دے،

خالد بن ولید ﷺ وویل چه دا شپیته واړه مردار کړئ صرف یو تن ئے ترے پریخودو چه د هغهٔ مجاعه بن مراره نوم وو، وجه دا وه چه دا سړے جنګی او هوښیار سړے وو او د جنګ چلونه ورتلل، او په قوم کښے مشر او شرافت والا وو، نو د مشورو د اخستو دپاره ئے هغه پریخودو نو د لاسونو او خپو نه ئے وتړلو او په خپله خیمه کښے ئے واچولو او د خالد بن ولید ﷺ سره پدے وخت کښے خپله بی بی هم شته چه ام تمیم ئے نوم وو (کومه ئے چه د مالك بن نویره نه نیولے وه)

نو خالد بن ولید ﷺ خپلے بی بی ته وویل چه تهٔ د مجاعه خدمت کوه، احسان ورسره کوه، بیا دا ظاهره خبره ده چه په مینځ کښے به پرده وه)

مجاعه ئے دلته دیره کړو او په هر کار کښے د الله سبحانه وتعالیٰ حکمت وی،

کله چه د راتلونکے ورځے صبا شو نو دواړه ډلے د عقرباء په میدان کښے یو ځائے شوے۔

دلته د مسیلمة الکذاب ځوی شرحبیل بن مسیلمه په بنو حنیفه ؤ کښے پاڅیدو چه هغوی ئے راتیزول نو وے وئیل :

[يَا بَنِيْ حَنِيْفَةَ قَاتِلُوْا فَإِنَّ الْيَوْمَ يَوْمُ الْغَيْرَةِ فَإِنِ انْهَزَمْتُمْ تُسْتَرْدَفُ النِّسَاءُ سَبِيَّاتٍ وَيُنْكَحْنَ غَيْرَ خَطِيْبَاتٍ، فَقَاتِلُوْا عَنْ أَحْسَابِكُمْ وَامْنَعُوْا نِسَائَكُمْ فَاقْتَتَلُوْا بِعَقْرَبَاءَ]

(الطبری : ۲/ ۲۷۸ البداية والنهاية : ۶/ ۳۲۴)

اے بنو حنیفه ؤ! جنګ وکړئ ځکه چه نن ورځ د غیرت ورځ ده، که تاسو شکست وکړو نو مسلمانان به په اُوښانو باندے ځانونو سره ستاسو ښځے قیدیانے بوځی، او هغوی سره به بغیر د جرګے نه نکاح وکړی، نو تاسو د خپلو شرافتونو نه جنګ وکړئ او د خپلو ښځو حفاظت وکړئ۔

بیا خالد بن ولید ﷺ په کفارو باندے د حملے اراده وکړه او خپل دیارلس زره

(۱۳۰۰۰) فوج کښې ئې پنځه (۵) دستې جوړې کړې، ښي طرف او ګس طرف ته او شا ته او مخکښې او مېنځ کښې۔

د مهاجرينو جنډه د سالم مولی ابي حذيفه رضی الله عنه سره وه،

او د انصارو جنډه د ثابت بن قيس بن شماس رضی الله عنه سره وه،

او نور عرب د خپلو خپلو جنډو د لاندې وو،

نو د مسلمانانو او د مرتدينو ترمينځ دا ډېره سخته د هيبت والا ورځ وه، چه بنو حنيفه پکښې ډېر کلك ودريدل او د خپلو ځانونو او د خپلو شرافتونو د طرف نه ئې سخت جنګ وکړو،

اولنې هغه شخص چه مسلمانانو ته د مقابلې دپاره راووتو نو هغه رجال بن عنفوه وو نو دې خوا نه زيد بن خطاب ﷛ ورپسې ورمنډه کړه او هغه ئې قتل کړو۔

بيا سخت جنګ شروع شو نو په مجاهدينو کښې بعض باندو والو شکست وخوړو تردې چه د بنو حنيفه ؤ جنګيان په مسلمانانو کښې دومره مخکښې راننوتل چه د خالد بن وليد ﷛ خيمې ته راورسيدل تردې چه د خالد بن وليد ﷛ خيمې ته راننوتل نو دوئ اراده وکړه چه د خالد بن وليد ﷛ دا ښځه قتل کړي نو مجاعه ورته وويل چه دا مه وژنئ، ما دې لره امان ورکړې ځکه چه دا ډېره شريفه او ښه ښځه ده، زما ئې ډېر خدمت وکړو او ما سره ئې ډېر احسان وکړو نو هغوی ترې خپله توره اُوچته کړه او دې ئې پرېخوسته۔

نو پدې وخت کښې مسلمانانو ته سخته خطره متوجه شوه، نو يو بل ته ئې په قتال باندې تيزي ورکړه او د يو بل همتونو راپورته کولو دپاره ئې د بهادرئ او د جوش خبرې وکړې،

پدې کښې صحابه کرامو آواز وکړو خاصکر ثابت بن قيس بن شماس ﷛ خطيب رسول الله ﷺ، چه دا تاسو څه کوئ:

[بِئْسَمَا عَوَّدْتُّمْ أَقْرَانَكُمْ]

تاسو خو خپلو همزولو ته ډېر بد عادت ورکړو چه هغوئ دې په تاسو کښې راننوزي۔

[وَبِئْسَ مَا عَوَّدْتُكُمْ أَنْفُسُكُمْ يَا مَعْشَرَ الْمُسْلِمِيْنَ]،

Maktaba Tul Ishaat.com

او تاسو خو خپلو ځانونو ته هم ډیر بد عادت ورکړو چه تبنتئ۔
بیا ئے وفرمایل :
[مَا هٰكَذَا كُنَّا نَصْنَعُ مَعَ رَسُوْلِ اللّٰهِ ﷺ]
مونږ خو به د رسول الله ﷺ په ملګرتیا کښې داسې نۀ کول،
او دا ئے هم وفرمایل :
[اَللّٰهُمَّ اِنِّىْ اَبْرَأُ اِلَيْكَ مِمَّا يَصْنَعُ هٰؤُلَاءِ يَعْنِىْ اَهْلَ الْيَمَامَةِ وَاَعْتَذِرُ اِلَيْكَ مِمَّا يَصْنَعُ هٰؤُلَاءِ يَعْنِىْ الْمُسْلِمِيْنَ ثُمَّ قَاتَلَ حَتّٰى قُتِلَ]
اے الله ! زۀ تا تـه ددے کسانو یعنی یمامے والو د کار نه بیزاری کوم او د مسلمانانو د کار نه تا ته عذر پیش کوم،
بیا ئے خالد بن ولید ﷺ تـه وویـل چـه انـصـار جدا کړه او اعراب جدا کړه چه د چا د طرف نه کمزوري وی چه هغه بیل معلوم شی،
نـو خالد بن ولید ﷺ دا کـار وکـړو چـه مهاجرینو او انصار او اعراب ئے جدا کړل او هر یـو قـوم تـه ئے جدا جدا جنده ورکړه چه ددے لاندے به جنګیږی دے دپاره چه په دوئ کښے د غیرت روح راتیز شی۔
د مهاجرینو جنډه ئے زید بن الخطاب ﷺ تـه ورکړه چه دا د عمر بن الخطاب ﷺ ورور دے۔
او دۀ سـخـتـه حمله وکړه چه رجال بن عنفوه ئے مردار کړو، او چه کله هغه شهید شو، نو بیا ئے سالم مولی ابی حذیفه ته ورکړه،
او د انـصـارو جـنـډه ئے ثابت بن قیس بن شماس ﷺ تـه ورکـړه نو پدے کښے ثابت بن قیس ﷺ تر پونډو پورے خپلے خپے په زمکه کښے ښخے کړے وے چه چرته ونۀ تبنتم او جنډه ونۀ غورزیږی، نو پدے کښے سخته حمله شروع شوه چه د هر طرف نه مرګونه شروع دی،
او د الله سبحانه وتعالیٰ نه مددونه طلب کړے شو، د الله تعالیٰ نه دعاګانے طلب کړے شوے او د الله تـعـالیٰ اولیاء دی، پـه مـخ د زمـکـه بهترین خلك دے، نو الله تعالیٰ پرے امتـحـان راولـی، نـو دوئ یو بل ته وصیتونه وکړل او د کلك والی وصیت ئے وکړو او دا ئے وویـل :

Maktaba Tul Ishaat.com

[یَا اَصۡحَابَ سُوۡرَةِ الۡبَقَرَةِ، بَطَلَ السِّحۡرُ الۡیَوۡمَ]

اے د سورة البقرے والو ! نن ورځ به جادو ختمیږی۔

او ثابت بن قیس خوشبوئی ولګوله او کفن ئے د سر نه وتړلو او ځان ئے تر پونډو پورے په زمکه خخ کړو، او کلك ودریدو تردے چه شهید شو۔

او مهاجرینو سالم رضی الله عنه ته وویل چه مونږ یریږو چه دشمنان به په مونږ باندے ستا د طرف نه راشی نو هغهٔ وویل :

[بِئۡسَ حَامِلُ الۡقُرۡآنِ اَنَا اِذًا]

که زما د طرف نه دشمنان راشی نو زهٔ خو به په دغه وخت کښے بد قاری د قرآن یم۔

او زید بن خطاب ﷺ وویل :

[یَا اَیُّهَا النَّاسُ عَضُّوۡا عَلٰی اَضۡرَاسِکُمۡ وَاضۡرِبُوۡا فِیۡ عَدُوِّکُمۡ وَامۡضُوۡا قُدُمًا]

اے خلکو ! په خپلو غاښونو چګونه ولګوئ او په دشمن کښے سخت وهل وکړئ او مخکښے روان اُوسیږئ۔ بیا ئے وویل :

[وَاللّٰهِ لَا اَتَکَلَّمُ حَتّٰی یَهۡزِمَهُمُ اللّٰهُ اَوۡ اَلۡقَی اللّٰهَ فَاُکَلِّمَهٗ بِحُجَّتِیۡ]

قسم په الله ! زهٔ به تر هغه وخته پورے خبرے نهٔ کوم چه الله تعالیٰ دوئ ته شکست نهٔ وی ورکړے یا به د الله تعالیٰ سره ملاؤ شم نو هغهٔ سره به په خپل حجت او دلیل سره خبرے وکړم۔

(چه اے الله ! زما دغه وس وو او ځان مے قربان کړو) نو دے هم شهید شو۔

او ابو حذیفه ﷺ وویل :

[یَا اَهۡلَ الۡقُرۡآنِ زَیِّنُوۡا الۡقُرۡآنَ بِالۡفِعَالِ]

اے قرآن والو ! قرآن کریم په خپل عمل سره ښائسته کړئ، (یعنی قرآن کریم د جهاد حکم کړے او د شا ګرزولو نه ئے منع کړے نو تاسو هم شا مهٔ راړه وئ او په قرآن عمل وکړئ) بیا ورمخکښے شو تردے چه شهید شو۔

نو پدۓ کښے زید بن الخطاب ﷺ هم شهید شو او سالم ﷺ هم شهید شو او ثابت بن قیس ﷺ هم شهید شو۔

نو کله ئے چه دا ترتیب بدل کړو نو الله تعالیٰ فتح ورکړه۔

Maktaba Tul Ishaat.com

مکر اول کښې مسیلمه ډیر کلك ولاړ وو نو د جنګ تول زړنده په هغه باندې چورلیده، نو خالد بن ولید پوهه شو چه دا حالت نهٔ په آرام کیږی مګر هله چه مسیلمه قتل کړې شی نو خالد بن ولید ﷺ په دوئ باندې داسې خطرناکه حمله وکړه چه د دوئ نه بل طرفته ووتو او د مسیلمه شاته غرونه وو هغې ته ورسیدو او هلته ئې انتظار کولو چه اُوس به ورته څوك راشي او قتل به ئې کړی بیا راواپس شو او د دواړو صفونو ترمینځ ودریدو او دا آواز ئې وکړو چه آیا څوك شته چه زما مقابلې ته راوځی او دا ئې وویل :

[أَنَا ابْنُ الْوَلِيْدِ الْعُوْدِ، أَنَا ابْنُ عَامِرٍ وَزَيْدٍ]

زهٔ د ولید څوی یم او زهٔ د عامر او د زید څوی یم۔

بیا ئې د مسلمانانو شعار آواز وکړو، نو هیڅوك به ورته نهٔ راتلو مګر هغه نهٔ به ئې سر غورزولو او دهٔ ته به چه څه شې مخې ته راتللو نو هغهٔ به ئې خوړلو او د مسلمانانو ترمینځ د سخت جنګ زړنده تاو شوه،

بیا خالد ﷺ مسیلمه ته ورنزدې شو نو هغهٔ ته ئې د انصاف دعوت ورکړو او دا ئې ورته وویل چه حق طرف ته راواپس شه لیکن د مسیلمه شیطان د مسیلمه څټ تاوولو او د خالد ﷺ هیڅ خبره ئې نهٔ قبلوله۔ او مسیلمه چه به کله هم اراده وکړه چه د خپل کار نه واوړی نو شیطان به د هغې نه واړه ولو،

بیا خالد بن ولید ﷺ په مسیلمه باندې حمله وکړه مګر هغه وتښتیدو او د هغهٔ ملګری هم په تیښته شو۔

نو خالد ﷺ خپلو ملګرو خواته راغلو او هغوی کښې ئې آواز وکړو چه خلکو پسې ورځئ،

(نو پدې معرکه کښې صحابه کرامو داسې تاریخی صبر وکړو او د ثابت قدمئ اظهار ئې وکړو چه هیڅکله ئې هم داسې نهٔ وو کړې او دوئ به همیشه د دشمنانو په سینو باندې وردانګل)

تردې چه الله رب العالمین په بنو حنیفه ؤ باندې رعب راوستو او شکست ئې پرې ولګولو پس د ډیرې اُوږدې معرکې نه، نو دوئ ورپسې ور روان شو او د شا طرف نه به ئې په څټونو باندې وهل او د هغوی په څټونو باندې ئې تورې کیخودې تردې چه هغوی

Maktaba Tul Ishaat.com

ډیر ترور شو نو د هغوی د فوجیانو مشر مُحَکم بن طفیل - چه دهٔ ته به ئے محکم الیمامه وئیلو- آواز وکړو :

[يَا بَنِىْ حَنِيْفَةَ الْحَدِيْقَةَ، اَلْحَدِيْقَةَ]

چه اے بنو حنیفه ؤ باغ ته لاړ شئ باغ ته لاړ شئ۔

دوئ یو باغ جوړ کړے وو چه ډیر زیات فراخه وو او د هغے نه گیر چاپیره مضبوط او اُوچت دیوالونه وو او د هغے دپاره دروازه. چه دا باغ روستو په حدیقة الموت سره مشهور شویدے، (یعنی د مرګ باغیچه یعنی څوك چه دے باغ ته راځی نو مری به)

هرکله چه محکم بن طفیل دا آواز وکړو نو دلته نه د ابوبکر صدیق ﷺ ځوی عبد الرحمن بن ابی بکر رضی الله عنه مُحکم بن طفیل ته ورنزدے شو او هغه ئے په مرئ کښے په غشی سره ویشتو او قتل ئے کړو۔

نو د مسیلمه ټول ملګری دغه باغ ته ننوتل، او پدے باغ کښے مسیلمة الکذاب هم ښه په جنګی حالت کښے ناست دے، او ددهٔ فوج هم ورسره دے، او دلته دا نور فوجونه هم ورننوتل او ډیر کسان د دوئ بهر ووژل شو۔ لکه روستو راځی۔

نو دے خلکو د ځان پسے د باغ دروازه بنده کړه او دننه پکښے محفوظ شول، او دلته صحابه کرام رضی الله عنهم د هغوی پسے د تیز سیلاب په شان ور ورسیدل، ګوری چه د باغ دروازه بنده ده، نو حیران شو چه څه وکړی،

براء بن مالک ﷺ د قلعه دروازه کولاووی

نو پدے کښے یو عجیب بهادر صحابی براء بن مالك رضی الله عنه (چه د انس بن مالك رضی الله عنه خپل سکه ورور دے) ملګرو ته ووئیل چه زهٔ فدائی حمله کوم،

(فدائی حمله دے ته وائی چه په دشمن باندے ورشی یا به روغ راواپس شی او یا به شهید شی)

ما دے دیوال باندے ور واړه وئ زهٔ به درته دروازه کولاوه کړم او تاسو به راننو ځئ۔

دیوال ډیر اُوچت دے نو څنګه ئے واړه وی نو هغوی نیزے راواخستے او یو ځائے کړے او ډهالونه ئے پرے دپاسه کیخودل او براء بن مالك رضی الله عنه ئے په هغے باندے

Maktaba Tul Ishaat.com

کینولو او نیزے ئے پورته کړے نو ایله د دیوال سر ته ورسیدے نو دۀ سمدست ورودانګل او دۀ سره لاس کښے توره ده، نو لاندے د مسیلمه کذاب فوج ولاړ دے

نو یواځے د هغوی سره په جنګ کښے لګیا شو تردے چه الله تعالیٰ دروازے ته ورسولو او دروازه ئے کولاوه کړه نو پدے کښے صحابه کرام هم ورننوتل او بعض صحابه کرام رضی الله عنهم د نورو طرفونو نه په دیوالونو ورواوړیدل او دننه ئے داسے سخت جنګ شروع کړو چه د هغے مثال نۀ موندے کیږی،

بنو حنیفه مرتدین به ئے وژل او ډیر صحابه کرام هم دننه شهیدان شول،

پدے کښے مشهور پهلوان ابودجانه ﷛ هم په دیوال ورودانګل نو خپه ئے ماته شوه نو هغۀ پدے حالت کښے هم ډیر کفار قتل کړل، او دوئ د مسیلمة الکذاب پسے ګرځیدل چه دا به چرته وی نو دے کښے مسلمانان ور ورسیدل او دے د باغ د دیوال په یو چاودی کښے ناست وو او ددے باغ نه د تښتیدو په تیاریٔ کښے وو،

نو دلته یو مشهور صحابی وحشی بن حرب ﷛ (چه دا د حمزه ﷛ قاتل وو) ولیدو، هغۀ ته پته ولګیده چه دا مسیلمه دے چه د اُوښ په شان وو او خړ پړ او پیته پوزه ئے وه، او دے ډیر زیات غصه وو چه د ډیرے غصے نه په څه نۀ پوهیدو او کله چه به دۀ ته ددۀ شیطان راغلو نو ددۀ د خولے نه به زګونه روان شو،

نو وحشی ﷛ په نیزه ویشتو کښے انتهائی ماهر وو نو هغه ورته رامخامخ شو او د وړاندے نه ئے په نیزه باندے ویشتو نو په خیټه کښے ورننویسته او بل طرفته ئے ترے ویسته، نو سړے سخت زخمی شو،

نو پدے کښے ابودجانه ﷛ – چه پدے حالت کښے ئے خپه ختلے هم ده– راوړاندے شو او په توره باندے ئے ووهلو او سر ئے ترے لرے ګوزار کړو۔

کله چه دا مردار شو نو د هغۀ د بنګلے نه یوے زنانه آواز وکړو چه

[وَا اَمِيْرَ الْوَضَاءَةِ قَتَلَهُ الْعَبْدُ الْاَسْوَدُ]

اے خلکو! زمونږ سپین مخے امیر لره یو تور غلام قتل کړو۔

کله چه دا چغه د بنو حنیفه ؤ غوږونو ته ورسیده نو په هغوئ باندے الله تعالیٰ رعب واچولو نو څه په یو طرف او څه په بل طرف تښتیدو کښے شو،

مسلمانانو ترے دغه حدیقة الموت هم ونیوله او ډیر قیدیان ئے ونیول، او خالد بن

Maktaba Tul Ishaat.com

ولید ﷺ امر وکړو چه کوم ځائے قیدی نیسئ هغه دلته راجمع کړئ او زنانه او مالونه هم دلته راجمع کړئ۔

ابوبکرصدیق ﷺ خالد بن ولید ﷺ ته وئیلی وو چه کوم کسان چه تا د مرتدینو نه نیول نو هغوی قتل کړه، یو هم مهٔ پریده،

پدے معرکه باندے ډیر وخت لګیدلے وو، د نمر خاته نه شروع وه او تر مازیګر پورے جاري وه، چه کله به غلبه د مسلمانانو او کله د بنو حنیفه ؤ وه،

او د کفارو نه پکښے مجموعه یویشت زره (۲۱۰۰۰) کسان مړه شویدی، اُوه زره (۷۰۰۰) کسان په میدان د عقرباء کښے او اُوه زره (۷۰۰۰) کسان په حدیقة الموت کښے او اوه زره (۷۰۰۰) په لاره او په وخت د طلب کښے۔

او بعض وائی: لس زره (۱۰۰۰۰) کسان قتل شویدی۔

حافظ ابن کثیرؒ وائی: او د مسلمانانو نه تقریباً شپږ سوه (۶۰۰) او بعض وائی: پنځه سوه (۵۰۰) کسان شهیدان شوی، او باقی د مرتدینو نه قتل شویدی۔

او امام طبریؒ لیکی چه د مسلمانانو نه ټول شهیدان نهه سوه شپیته (۹۶۰) کسان وو۔ چه پدے کښے د مدینے د خوا و شا مهاجرین او انصار صحابه کرام (۳۶۰) وو او د مدینے نه علاوه مهاجرین صحابه کرامو نه درے سوه (۳۰۰) وو، او د تابعینو نه درے سوه (۳۰۰) وو۔

[الکامل فی التاریخ ۱/۳۷۴، تاریخ الطبری: ۲/۲۸۳ والبدایة والنهایة ۶/۳۵۷]

د بخاري په روایت کښے دی انس بن مالك ﷺ چه یواځے د مدینے د انصارو نه (۷۰) اویا کسان پکښے شهیدان شول۔ [بخاری: ۴۰۷۸]

صاحب د فرسان النهار د ابن جریر او ابن کثیر نه نقل کړی:

د مسلمانانو ټول شهیدان دولس سوه (۱۲۰۰) وو، چه په دوئ کښے پنځه سوه (۵۰۰) د قرآن کریم قاریان او علماء او فقهاء وو۔

[فرسان النهار من الصحابة الاخیار ۲/۵۵۹، فضائل القرآن لابن کثیر ص: ۱۲، تاریخ الطبری ۲/۲۸۴]

دومره سخته معرکه وه چه داسے هیڅکله نهٔ ده راغلے۔ او ډیر اُوچت مؤمنان پکښے شهیدان شویدی تردے چه زیات شمار د قرآن قاریان پکښے شهیدان شویدی لکه

روستو راځي چه ابوبکر صدیق ﷺ چه د قرآن کریم جمعه کړے وه نو ددے واقعے نه روستو، هغهٔ ته فکر ورغلو چه قرآن کریم راجمع کول پکار دي دے دپاره چه اکثره حصه د قرآن لاړه نشي۔

[البداية والنهاية ٦/٣٦٧]

انصارو په دے معرکه کښے ډیره عجیبه مړانه او عجیبه بهادري رابنکاره کړے وه۔ او ډیر شهیدان ئے ورکړل۔

هرکله چه ابوبکر صدیق ﷺ ته خبر راغلو او دا ورته وئیل کیدل چه مسیلمه خو الله تعالیٰ مردار کړو لیکن انصار اُلټه پراتهٔ وو او شهیدان شوي وو، او په داسے حالت کښے وو چه په خاورو او وینو کښے لت پت وو،

نو ابوبکر صدیق ﷺ دومره وژړل چه ګیره مبارکه ئے د اُوښکو نه لمده شوه او دا ئے وویل چه دے مسلمانانو د رسول الله ﷺ په زمانه کښے سختے تیرے کړے او اُوس د مرتدینو په مقابله کښے ئے هم سختے تیرے کړے۔

په داسے واقعه کښے انسان ته دا عبرت راځي چه اسلام همیشه د دعوت او د صحیح جهاد په طریقه راغلے دے، او دے دین اسلام باندے زمونږ مشرانو ډیره زیاته قرباني ورکړے ده، لیکن مونږ ته په تیاره ملاؤ شویدے نو پدے وجه ئے مونږ سره پوره قدر نشته۔

خالد بن ولید ﷺ به وئیل چه زهٔ ډیرو معرکو کښے حاضر شوے یم خو دومره سخت جنګ ما د هیچا نهٔ دے لیدلے لکه څنګه چه بنو حنیفه ؤ کړے وو، چه انتهائي صبرناك او د توړے ګوزار ته ډیر کلك ودریدونکي وو۔

او قرآن کریم کښے هم دے ته په سورة الفتح آیة (١٦) کښے اشاره راغلے وه، الله تعالیٰ فرمائي:

﴿ قُلْ لِلْمُخَلَّفِينَ مِنَ الْأَعْرَابِ سَتُدْعَوْنَ إِلَىٰ قَوْمٍ أُولِي بَأْسٍ شَدِيدٍ تُقَاتِلُونَهُمْ أَوْ يُسْلِمُونَ ﴾

اُووایه! هغه کسانو ته چه د بانډو والو نه روستو پاتے شویدي زر دے چه تاسو به یو داسے قوم ته راوویللے شئ چه ډیر سخت جنګ والا دي، تاسو به ورسره تر هغه وخته پورے جنګ کوئ چه دوئ اسلام راوړي۔ (دا خطاب ئے منافقانو ته کړے وو)

الله تعالیٰ چه دا علاقے فتح کړے نو پدے سره د مرتدینو شوکه (زور او طاقت) خکته

Maktaba Tul Ishaat.com

کړو نو ددے وجه نه الله تعالیٰ د نورو مرتدینو زور هم خکته کولو لکه بعض واقعات به روستو راشي۔

د مجاعه سره صلح :

هرکله چه دا علاقه الله سبحانه وتعالیٰ فتح کړه نو ددے خواو شاته غټے قلعه ګانے وے چه د بنو حنیفه ماشومان او زنانه او بوډاګان په هغے کښے بند وو نو خالد بن ولید ﷺ مجاعه راوستو -کوم چه ئے په خیمه کښے تړلے وو- او هغۀ ئے ددے دپاره راوستو چه مونږ ته مسیلمة الکذاب وښایه چه دا کوم یو دے ؟ نو هغه ورسره روان وو، په مړو به راتیریدو تردے چه په رجال بن عنفوه باندے ورتیر شو،

خالد ﷺ ورته ووئیل : دا مسیلمه دے؟ نو مجاعه ووئیل : دا نۀ دے، دا خو د هغۀ نه ډیر غوره دے، تردے چه په مسیلمة الکذاب باندے ئے ورتیر کړو او ورته ئے وو چه دا ستاسو هغه صاحب دے، چه دا پټ پوزے او زیړ رنګے سړے وو، او ددۀ یوسل شلویښت کاله (۱٤۰) عمر وو۔

خالد بن ولید ﷺ مجاعه ته مخ راواړه ولو او دا ئے ووئیل :

[قَبَّحَكُمُ اللّٰهُ عَلٰى اِتِّبَاعِكُمْ هٰذَا]

الله تعالیٰ دے تاسو تباه کړی، تاسو ددے ناولی تابعداری کوله۔

دۀ کښے کوم کمال وو او تاسو ته ئے څه وئیلی وو چه ددۀ تابعداری مو کوله ؟ نو هغۀ ووئیل چه څه دروغ رشتیا به ئے وئیل او مونږ د هغۀ د قومیت لحاظ کولو نو د هغۀ د قوم د وجه نه مو تابعداری شروع کړے وه۔

لکه روستو به د هغۀ بعض دروغ ذکر شي۔

نو دا مجاعه ډیر چالاك وو نو دۀ د خالد ﷺ سره د خپل قوم د بچ کولو دپاره یوه دهوکه او حیله وکړه۔ دۀ خالد بن ولید ﷺ ته ووئیل چه تا خو زما قوم بنو حنیفه مړ کړو خو دلته نورے قلعه ګانے دي چه هغے کښے مسیلمة الکذاب ډیر غټ فوج ساتلے دے او تا چه څومره مړۀ کړل د هغے نه زیات دغه قلعه ګانو کښے پټ دي، نو پدے وجه د هغوئ مقابله تا ته ډیره سخته ده نو راځه چه صلح وکړو،

دا کسان بـه تا سره جنګ نۀ کوی او اسلام ته به ورله دعوت ورکړو، اسلام به راوړی لیکن تۀ به ما سره صلح کوے،

خالد بن ولید ﷺ د ملګرو سره مشوره وکړه چه صلح پکار ده، ځکه چه مسلمانان د جـنګونو نه ستړی شویدی، او ډیرو متواترو جنګونو کمزوری کړیدی، او په سفر کښې دی (او دا خو ډیر ګران کار دے) نو صلحه به وکړو د دوئ د شر نه به خلاص شو او تیار ایمان هم راوړی او زمونږ خو د دوئ ایمان پکار دے،

او دوئ غـوښتـل چه په کامیابئ سره واپس شی ځکه چه پته نۀ لګی که دے کښې سرې وی او جـنګ ونښلی نو څه به راپیښ شی، هسے نۀ چه په فتح په شکست بدله شی۔

نـو مـجاعـه وویـل چه لږ صبر وکړه زۀ ورځم او هغوی سره مشوره کوم چه هغوی صلح کوی او که نۀ؟ (پدے کښے ئے هم دهوکه غرض وه)

نـو لاړو زنـانـه او ماشومانو ته ئے وویل چه تاسو زغرے وا چوئ او تورے نیغے کړئ او لانـدے جـامـے پتـے کړئ نو زنانه د کورونو سرونو ته وختل او سرونه او تورے ئے راپورته کړے، خالد ﷺ چه وکتـل چه تـوله علاقه د زغرو او تورو نه ډکه ده، نو ګمان ئے وکړو چه دا خـو ټـول فوجیان دی، نو دا ګمان ئے وکړو چه مجاعه رشتیا وائی۔ نو د هغوی د صلح په انتظار کښے شو،

مجاعه د خالد بن ولید ﷺ سره لیکل وکړل چه بس زمونږ او ستا صلح شوه۔

صلح پدے وشوه:

[عَلَى الذَّهَبِ وَالْفِضَّةِ وَالسِّلَاحِ وَنِصْفِ السَّبْيِ وَقِيْلَ: رُبُعِهِ]

چـه سرۀ او سپین او وسله او نیمائی غلامان او وینځے به راکوئ، یا څلورمه حصه د هغے کوم چه په دغه قلعه کښے وو۔

خـو هرکله چه خالد بن ولید ﷺ ورغـلـو او قلعه ګانے کولاوے شوے نو وے کتل چه هغـه ټـول مـاشـومـان او زنـانـه او بـوډاګان وو، (نو هغوئ ته ئے د اسلام دعوت ورکړو، هغوی اسلام راوړو)،

او یـو ځـل د صـلـح وعـده شـوے وه نو هغۀ ئے نشوه ماته ولے اګرکه په دهوکے سره دا وعـده شـوے وه لیکن خالد ﷺ بیا هـم مـاتـه نـکړه ځکه چه اسلام کښے د وعدے ډیره

Maktaba Tul Ishaat.com

زیاته پابندی ده۔

(لیکن نن صبا زمونږ مسلمانان ئے په یوه پیاله چائے باندے ماتوی)

دے وخت کښے خالد بن ولید ﷺ مجاعه ته وویل : [وَيُحَكَ خَدَعْتَنِيْ ؟!]

هلاك شے ! تا خو ما سره دهوکه وکړه۔

مجاعه وویل :

[قَوْمِيْ، وَلَمْ اَسْتَطِعْ اِلَّا مَا صَنَعْتُ]

دا زما قوم وو، زما د دوئ سره د احسان نور طاقت نهٔ وو مګر دغه کار وو چه ما وکړو۔

او هرکله چه دا صلح پوره شوه نو دے وخت کښے د ابو بکر صدیق ﷺ خط (پیغام) راورسیدو چه ”هر بالغ انسان د دوئ نه دِے قتل کړے شی“۔

لیکن خالد بن ولید ﷺ د بنو حنیفه ؤ سره په دغه وعده باندے مضبوط پاتے شو او غدرئے ونکړو۔

[الطبری ۲/۵۱۶، وابن الاثیر ۲/۱۳۹۔۱۴۰، فرسان النهار من الصحابة الاخیار المجلد الثانی ۲/۵۵۹ الدکتور سید بن حسین العفانی]

بنو حنیفه چه کله په اسلام کښے داخل شول نو بعض قیدیان ئے هغوی ته واپس کړل، او لږ شان قیدیان (زنانه وغیره) ئے ابوبکر صدیق ﷺ ته رالیږلی وو۔

چه د هغے نه یوه وینځه علی بن ابی طالب ﷺ ته ورکړے شوه چه د هغے نه بیا د علی ﷺ یو ځوی محمد پیدا شو پدے وجه هغهٔ ته محمد ابن الحنفیه وائی۔

یعنی ددے حنیفے قبیلے زنانه ځوی۔او دا بیا ډیر لوی محدث او عالم ګرځیدلے دے چه ډیر حدیثونه ترے نقل دی۔

او د باقی مالونو نه خمس ابوبکر صدیق ﷺ ته ولیږلے شو او باقی په مجاهدینو باندے تقسیم شول۔

او دا علاقه دار اسلام شوه، ټول خلك په اسلام کښے داخل شو، او خالد ﷺ ټول معاف کړل او دا علاقه فتح شوه۔

(دا قانون دے چه کله یو تن ووائی چه زهٔ مسلمان یم او کلمه وائی نو بیا به دا تحقیق نهٔ کوے چه دے منافق دے او که د زړهٔ نه کلمه وائی، پدے باندے مونږ مکلف نهٔ یو،

Maktaba Tul Ishaat.com

شریعت ظاهر ته ګوري)

د خالد بن ولید ﷺ دویم ځل واده او مجاعه :

او پدې کښې مجاعه هم ایمان راوړو او بیا خالد بن ولید ﷺ ددهٔ نه مطالبه وکړه چه تهٔ ما له خپله لور په نکاح راکړه۔

(پدې کښې هم د خالد ﷺ ډیره ښه فائده غرض وه چه دا سړے په جنګي امورو ډیر ښه پوهیږي او د قوم د مشرانو نه دے، نو ددے خلکو سره چه مونږ خپلولي وکړو نو بیا به زمونږ د لاس د لاندے راشي، او د خپلولۍ لحاظ به کوي، آینده کښې به شر نهٔ پیدا کوي ځکه چه د عربو طریقه دا وه چه چا ته به ئے خور لور ورکړه نو د هغهٔ د طرف نه به ئے سخته دفاع کوله۔

د خالد بن ولید ﷺ دے وخت کښې ښځو ته هیڅ حاجت نشته بلکه بیشماره وینځے ورسره دی، د هغے نه فائده اخستے شی، خپله ښځه ام تمیم په شان ښکلے عقلمنده هم ورسره ده، لیکن دلته ئے غرض دے خلکو باندے اثر کول وو)۔

دا وجه ده د ام تمیم سره د نکاح کولو نه روستو ابوبکر صدیق ص مدینے ته راوغوښتو او هغهٔ ته ئے سختے خبرے وکړے مګر بیا ئے هم د مجاعه د لور سره نکاح وکړه د دغه غرض دپاره او خالد ﷺ ته الله تعالیٰ ډیر لوی بصیرت ورکړے وو)۔

نو مجاعه ورته وویل :

[مَهْلًا اِنَّكَ قَاطِعٌ ظَهْرِیْ وَظَهْرَكَ مَعِیَ عِنْدَ صَاحِبِكَ]

دا اراده پریده ځکه که زهٔ لور درکړم نو ما به ټوك ستا د خلیفه ابوبکر صدیق ﷺ نه خلاص کړي، زما ملا به ماته کړي او ستا هم۔ نو خالد ﷺ ورته وویل چه تهٔ د خلیفه نه خلاص شوے خو لور راکړه، نو هغهٔ وویل چه ما درکړه۔ نو خپلولي وشوه۔

کله چه ابوبکر صدیق ﷺ ته غنیمتونه ورسیدل او ورسره دا خبره هم ورسیده چه خالد ﷺ د مجاعه د لور سره نکاح کړے،

نو دلته ابوبکر صدیق ﷺ او عمر فاروق او بعض صحابه کرام په مدینه کښے یو خوړ ته راوتي وو نو پدے کښے د ابو خیثمه په نوم یو استازے راغے،

نو ابوبکر صدیق ورته وویل : [مَا وَرَاءَ كَ ؟] ستا نه روستو څه حال دے ؟

نو هغهٔ وویل چه الله رب العالمین مونږ ته فتح راکړه او پدے طریقه ئے غلبه راکړه او ټوله واقعه ئے ورته بیانه کړه او د مسلمانانو د شهادتونو خبرئے ورکړو چه دومره دومره مسلمانان شهیدان شو، او دومره کفار ووهلے شو،

نو ابوبکر صدیق ﷺ په سجده پریوتو او سجده د شکر ئے وکړه،

بیا ئے ورته دا خبره هم وکړه چه خالد بن ولید ﷺ د مجاعه د لور سره نکاح هم کړیده نو ابوبکر صدیق ﷺ ددے ځائے نه خط ولیږلو او دا ئے پکښے ولیکل :

[يَا ابْنَ أُمِّ خَالِدٍ اِنَّكَ لَفَارِغٌ تَنْكِحُ النِّسَاءَ وَبِفِنَاءِ بَيْتِكَ دَمُ اَلْفٍ وَمِائَتَىْ رَجُلٍ مِنَ الْمُسْلِمِيْنَ لَمْ يُجَفَّفْ بَعْدُ]

اے د خالد د مور ځویه ! (دا د زورنے لفظ دے) ته وزګار سړے ئے د زنانو سره نکاحونه کوے او دے ته نهٔ ګورے چه ستا سره پدے معرکه کښے دولس سوه (۱۲۰۰) کسان شهیدان شوی او دوئ ستا خواته پراتهٔ دی او د هغوی وینے لا وچے شوی نهٔ دی۔

او دارنګه ما درته دا حکم کړے وو چه د مرتدینو نه یو تن هم مهٔ پریده او تا ورسره صلح کړیده۔

هرکله چه خالد ﷺ ته خط ورسیدو نو خالد بن ولید ﷺ ورته ډیر مزیدار جواب راولیږلو چه ما چه کومه نکاح کړے ده نو دا پس د هغے نه چه زهٔ بنه مطمئن شوے یم او پس د هغے نه چه الله تعالیٰ مونږ ته فتح او خوشحالی راکړه او دین ئے غالبه کړو۔

(په داسے حالت کښے مے نهٔ دے کړے چه صرف خواهشات پوره کوم)۔

او که زهٔ د مدینے نه راغلے وے او خِطبه مے کړے وے نو هم پکار وه ځکه چه دا سړے د قوم په مشرانو کښے دے او ددهٔ وجه د اسلام غلبه راځی نو دا د اسلام د غلبے یوه لاره وه چه ما اختیاره کړه،

او هر چه دا خبره ده چه ستا خوا کښے مسلمانان شهیدان پراتهٔ دی، نو که زما خفګان فائده ورکوی او پدے باندے مړی بیرته راژوندی کیږی چه مونږ خفګان وکړو او که الله تعالیٰ پرے مړی نهٔ راواپس کوی بلکه هغه الله تعالیٰ جنت ته رسولی دی نو خفګان ته ضرورت څه دے۔

بلے دا چه زهٔ فارغ نهٔ یم بلکه زهٔ په هره معرکه کښے دننه ننوتے یم او هغه ځائے ته

Maktaba Tul Ishaat.com

ورغلے یم چه هلته زما یقین دے چه زهٔ اُوس مړ کیږم،

او یقیناً دے خالد بن ولید ﷺ همدا کار کړے چه کله حدیقة الموت ته ننوتو نو یو لوی پهلوان فارس (شاهسوار) سره مخامخ شو چه دهٔ په هغهٔ ورودانګل او هغهٔ په دهٔ باندے او دواړو یو بل لره غاړه ورکړه او خالد ﷺ هغه لره راڅملولو او هغه خالد بن ولید ﷺ لره اُوه (۷) ځائے زخمی هم کړو او وینه هم ترے ډیره روانه وه لیکن الله تعالیٰ پرے دے غالبه کړو او هغه ئے مردار کړو۔

(خالد بن ولید ﷺ به خپله حاضریدو او اول به میدان ته دا وړاندے کیدو او د مقابلے اعلان به ئے کولو، داسے پهلوان د اسلام دے)

کله چه دا خط راغلو نو ابوبکر صدیق ﷺ نرم شو او ملګرو هم ورته وویل چه خالد بن ولید ﷺ په شجاعت او بهادرئ کښے هیڅ شك نشته، په هر میدان کښے اول دهٔ راټوپ کړیدی او د مرګ ځائے ته ئے ځان غورزولے دے، پدے وجه په هغهٔ باندے ډِے اعتراض نهٔ وی۔

نو ابوبکر صدیق ﷺ وویل چه هر کله خبره داسے وی نو تا صحیح کار کړیدے۔

د مجاعه مخالفت

هر کله چه مجاعه دغه قلعه ګانو ته ورغلو او هغوی ته ئے وویل چه مونږ د خالد ﷺ سره په دغه مخکنو خبرو صلح کول غواړو چه نیمائی سبی (قیدیان به ورکوو) او سرهٔ او سپین او وسله به ورکوو او دے چه پدے علاقه کښے کوم باغونه او فصلونه غواړی هغهٔ به ورکوو۔ نو خالد ﷺ ورته درے ورځے مهلت ورکړو چه ستاسو اختیار دے که تاسو چرته مخالفت وکړو نو بیا به درپسے فوجونه راولم او بیا به ستاسو نه هیڅ کله هیڅ یوه خبره نهٔ قبلوم سویٰ د قتل نه۔

نو پدے کښے سلمه بن عمیر الحنفی وویل :

[لَا وَاللهِ لَا نَقبَلُ، نَبعَثُ اِلٰی اَهلِ القُرٰی وَالعَبِیدِ فَنُقَاتِلُ وَلَا نُقَاضِیُ خَالِدًا فَاِنَّ الحُصُوْنَ حَصِینَةٌ وَالطَّعَامُ کَثِیرٌ وَالشِّتَاءُ قَد حَضَرَ]

قسم په الله مونږ دا خبرے نهٔ قبلوو، مونږ به کلو والو او غلامانو ته استازی لیږو او

Maktaba Tul Ishaat.com

هغوی به راضي او په شریکه به بیا جنګ کوو او د خالد ﷛ سره مونږ دا یوه فیصله نهٔ منو، ځکه چه زمونږ قلعه ګانې مضبوطې دي، او طعام ښه ډیر دے او دا دے د ژمي موسم مخې ته حاضر دے۔ (یعني د خالد ملګری به د یخنئ د وجه نه دلته نه لاړ شي او مونږ به محفوظ یو)

او خلکو ته ئے وویل : [يَا بَنِيْ حَنِيْفَةَ ! قَاتِلُوْا عَنْ اَحْسَابِكُمْ وَلَا تُصَالِحُوْا عَلٰى شَيْءٍ]

اے بنو حنیفه ؤ ! د خپلو شرافتونو د طرف نه جنګ وکړئ او په هیڅ خبره صلح مهٔ کوئ۔

نو مجاعه ورته وویل :

[إِنَّكَ امْرُؤٌ مَشْؤُوْمٌ وَغَرَّكَ اَنِّيْ خَدَعْتُ الْقَوْمَ حَتّٰى اَجَابُوْنِيْ اِلَى الصُّلْحِ]

تهٔ سپیرهٔ انسان ئے، تهٔ پدے دهوکه شوے چه ما خلکو سره دهوکه وکړه او هغوی مے صلحے ته آماده کړل۔

او خلکو ته ئے وویل :

[يَا بَنِيْ حَنِيْفَةَ ! اَطِيْعُوْنِيْ وَاعْصُوْا سَلَمَةَ فَاِنَّهٗ رَجُلٌ مَشْؤُوْمٌ قَبْلَ اَنْ يُّصِيْبَكُمْ مَا قَالَ شَرَحْبِيْلُ بْنُ مُسَيْلَمَةَ قَبْلَ اَنْ تُسْتَرْدَفَ النِّسَاءُ غَيْرَ رَضِيَّاتٍ وَيُنْكَحْنَ غَيْرَ خَطِيْبَاتٍ]

[تاریخ الطبری : ۲/۲۸۳]

اے بنو حنیفه ؤ! زما خبره ومنئ او د سلمه سپیرهٔ انسان خبره مهٔ منئ ځکه چه هسے نهٔ تاسو باندے هغه خبره واقع شي کومه چه شرحبیل بن مسیلمه وئیلے وه چه مسلمانان به ځان سره ستاسو ښځے په زوره بوځي او په زوره به ورسره نکاح وکړي۔

نو خلکو د مجاعه خبره ومنله او د سلمه نافرماني ئے وکړه او د مجاعه په فیصله راضي شو۔

نو مجاعه د اُوه (۷) کسانو سره راغلو او دغه صلح ئے وکړه او خالد بن ولید ﷛ سره په اسلام باندے بیعتونه وشو۔

د خالد بن ولید ﷛ د قتل اراده :

هرکله چه بنو حنیفه د خالد ﷛ سره د بیعت دپاره راجمع شو نو سلمه بن عمیر

Maktaba Tul Ishaat.com

مجاعه ته وویل چه زما دپاره د خالد ﷛ نه اجازه واخله چه زۀ ورسره خبرے اترے وکړم په یو حاجت کښے چه د هغۀ ما سره دے او د یوے خیرخواهی ورله کوم او ددۀ اراده وه چه خالد ﷛ په پټه او چل سره قتل کړی نو خالد ﷛ ورته اجازه وکړه۔

نو پدے کښے سلمه بن عمیر رامخامخ شو چه توره ئے څان سره د شړئ لاندے پټه راوړے وه، د قتل اراده ئے وه، خالد ﷛ چه کله ولیدو نو وے ویل :

[مَنْ هٰذَا الْمُقْبِلُ ؟]

دا څوک راروان دے ؟ مجاعه وویل : دا هغه سړے دے چه ما تا سره ددۀ په باره کښے خبره وکړه او تا دۀ ته اجازه ورکړه۔

خالد ﷛ وویل : دا اُویاسئ نو خلکو بهر ویستلو او ددۀ تالاشی ئے واخسته نو ددۀ سره ئے توره ومونده، نو خلکو په هغه لعنتونه ووئیل او رد بد ئے ورته وویل او هغه ئے وتړلو، او دا ئے ورته وویل :

[لَقَدْ اَرَدْتَّ اَنْ تُهْلِكَ قَوْمَكَ، وَاَيْمُ اللّٰهِ مَا اَرَدْتَّ اِلَّا اَنْ تُسْتَأْصَلَ بَنُوْ حَنِيْفَةَ، وَتُسْبَى الذُّرِّيَّةُ وَالنِّسَاءُ]

تا ضرور دا اراده کړے چه خپل قوم هلاکوے او قسم په الله تا د بنو حنیفه ؤ د بیخکنئ اراده کړے، او ددے چه د هغوی ماشومان او زنانه قیدیان شی،

او قسم په الله تعالیٰ که خالد ﷛ ددے نه خبر شی چه تا څان سره توره راخستے ده نو هغه به دِے ضرور وژنی، او مونږ سره دا خطره ده چه که خالد ﷛ ستا ددے کار نه خبر شی نو ستا پدے کار سره به سړی قتل کړی او زنانه به قید ته واچوی (چه تاسو خو صلح ماته کړه)

نو خپل قوم کلك وتړلو او په یوه قلعه کښے ئے بند کړو، او بنو حنیفه ټولو د خپلو زړونو کارونو نه بیزاره شو او د اسلام په بیعت باندے پرله پسے راغلل۔

او سلمه د دوئ سره وعده وکړه چه ما پریدئ زۀ به بیا هیڅ فساد نۀ کوم، مگر خلکو انکار کولو، ددۀ په بی وقوفئ باندے ئے اعتماد نۀ وو چه ددۀ نه دا لوظ قبول کړی،

نو دے د شپے وتښتیدو او د خالد بن ولید ﷛ فوج طرفته ورغلو نو څوکیدارانو پرے آواز وکړو، نو دلته بنو حنیفه اُوریدل نو ورپسے ور روان شو تردے چه هغه ئے په بعض باغونو کښے وموندلو، نو هغۀ په دوئ باندے په توره سره حمله وکړه،

Maktaba Tul Ishaat.com

نو دوئ په کانړو ویشتو او هغهٔ ئې په کانړو کښې راګیر کړو نو هغه سوچ وکړو چه ددهٔ مخې ته تولې دروازې بندې شوې، دې خالد بن ولید ﷺ هم نشی وژلے نو د ډیرې غصې او ضد نه ئې خپله توره راواخسته او په خپله مرئ باندې ئې رابنکله او د مرئ رګونه ئې پریکړل تردې چه یو کوهی ته وغورزیدو او مردار شو۔

[تاریخ الطبری : ۲/۲۸۶]

ددې معرکې نه روستو په جزیرة العرب کښې د عربو طاقتونه زائل شو چه د مسلمانانو مقابله وکړی۔

د بنو حنیفه وفد راتلل او د مسیلمه قرآن :

هرکله چه دا معرکه ختمه شوه نو د مسیلمة الکذاب د قوم (بنو حنیفه ؤ) نه ابوبکر صدیق ﷺ ته یو وفد راغې دې دپاره چه دوئ نوې اسلام راوړی نو د خپل قوم د طرف نه د ابوبکر صدیق ﷺ سره بیعت تازه کوی، نو پدې کښې ابوبکر صدیق ﷺ دوئ ته ووېل چه تاسو ته به مسیلمة الکذاب څه وئیل او کومه وحی به ئې درته بیانوله چه تاسو په هغهٔ پسې روان شوئ هغه مونږ ته هم راواوره وئ،

نو هغوئ ورته قصې بیان کړې اول ئې ورته ووېل :

[اَوَ تُعْفِیْنَا یَا خَلِیْفَةَ رَسُوْلِ اللّٰهِ]

اې خلیفه ! مونږ معاف کړه، مونږ اُوس ایمان راوړیدې او هغه شر مو پریخوستې دې، نو ابوبکر صدیق ﷺ ورته ووېل چه خامخا به ئې ما ته وایئ۔

نو هغوی ورته ووېل یو څو خبرې وکړې یو دا چه د مسیلمه نبوت یو داسې کار وو چه الله تعالیٰ په کښې خیر او برکت نهٔ وو اچولے نهٔ د هغهٔ دپاره او نهٔ د هغهٔ د قبیلې دپاره، (یعنی یو شری بې خیره انسان وو، قوم ته ئې ضرر ورکړو)

او بیا ئې ووېل چه هغهٔ به مونږ ته کله نا کله دا وئیل چه ما ته وحی شویده او په هغې به ئې خلك دهوکه کول، او په وحی کښې دا دی :

[وَالْمُبَذِّرَاتِ زَرْعًا وَالْحَاصِدَاتِ حَصْدًا، وَالذَّارِيَاتِ قَمْحًا، وَالطَّاحِنَاتِ طَحْنًا، وَالْخَابِزَاتِ خُبْزًا، وَالثَّارِدَاتِ ثَرْدًا، وَاللَّاقِمَاتِ لَقْمًا إِهَالَةً وَسَمْنًا]

Maktaba Tul Ishaat.com

چه پدے تـولـو کښے د خیتے نـه علاوه بله هیڅ خبره نشته۔ ددے ټولو معنیٰ دا ده فـصـلـونه کړل، غنم رارېبل او دانے وره کول او وړه اغړل او ډوډئ ترے پخول او په کاسه کښے ماتول او نوړئ راخستل د وازدے سره۔

(عقلمندو ته دا خبرے ګپ شپ ښکاره کیږی)

کله به ئے ورته داسے وئیل :

[يَا ضِفْدَعُ بِنْتُ الضِّفْدَعَيْنِ نَقِّي نَقِيٌّ لَا الشَّارِبَ تَمْنَعِيْنَ وَلَا الْمَاءَ تُكَدِّرِيْنَ، رَأْسُكِ فِي الْمَاءِ وَذَنَبُكِ فِي الطِّيْنِ، لَنَا نِصْفُ الْاَرْضِ وَلِقُرَيْشٍ نِصْفُهَا وَلٰكِنَّ قُرَيْشًا قَوْمٌ يَعْتَدُوْنَ]۔

اے چـنـدخـه ! تهٔ بیخی پاك ئے، نهٔ څکونکے منع کوے او نهٔ اُوبهٔ خړه وے، ستا سر په اُوبـو کښے دے او لـکـئ دِے پـه خټـو کښے ده، زمونږ دپاره نیمائی زمکه ده او د قریشو دپاره نیمائی ده لیکن قریش یو قوم دے چه زیاتے کوی۔

نو ابوبکر صدیق ﷛ ورته وویل :

[وَيْحَكُمْ وَاَيْنَ يَذْهَبُ بِعُقُوْلِكُمْ ؟!]

هلاك شئ ستاسو عقلونه ئے چرته تښتولی وو،

(تاسو خو د لغت عربئ ماهرین وئ نو تاسو ولے داسے بے هوده خبرو پسے روان وئ)

بیا ئے وویل : [اِنَّ هٰذَا الْكَلَامَ لَمْ يَخْرُجْ مِنْ اِلٍّ وَلَا بِرٍّ]

دا کـلام خـو نـهٔ د الله تعالیٰ نه راوتے دے او نهٔ پکښے څه خیر شته۔ (بلکه د ځان نه ئے جوړے کړیدی او تاسو پدے نهٔ پو هیدئ) نو هغوی ئے ملامته کړل۔

[تاریخ الطبری : ۲/۲۸۵ البدایة والنهایة :۶/۳۵۹]

داسے کـلامـونـه نـور هم شته چه په دغه کتابونو کښے موجود دی، حافظ ابن کثیرؒ فـرمـائی : ابوبکر الباقلانی رحمه الله په اعجاز القرآن کښے د هغے نه د مسیلمه او د طلیحه اسدی او د اسود عـنـسـی او سجاح وغیره ډیر کلامونه ذکر کړیدی چه هغه دلالت کوی په ضعف د عقلونو د دوئ او په ګمراهئ د تابعدارو د دوئ۔

Maktaba Tul Ishaat.com

د مسیلمة د نبي علیه السلام سره مشابهتونه

مسیلمة الکذاب به د رسول الله ﷺ سره مشابهت کولو۔

یوه ورځ رسول الله ﷺ اودس اُوکړو او په یو کوهي کښې ئې اُوبه واچولې نو هغې کښې الله تعالیٰ ډیرې او خوږې اُوبه پیدا کړې نو مسیلمه ته چا وویل چه ته هم داسې کار وکړه نو هغهٔ اودس وکړو، کله ئې چه کوهي ته اُوبه واچولې نو الله تعالیٰ دغه کوهې اُوچ کړو۔

بل یو کوهي کښې ئې لاړې واچولې نو د هغې اُوبه ترخې شوې۔

او دهٔ یوې کجورې ته دخپل اوداسه اُوبهٔ واچولې نو هغه اُوچه شوه او ختمه شوه۔

دارنګه یو سړی له نبي ﷺ په سترګو لاس راښکلې وو نو الله تعالیٰ روغ کړو لکه د ابو قتاده ﷛ سترګه په غزا د اُحد کښې ختلې وه نو رسول الله ﷺ ورله بیرته کیخوده نو روغه سترګه شوه۔

نو د یو سړي سترګې خوږیدلې چا مسیلمة الکذاب ته راوستو نو هغهٔ پرې لاس راښکلو نو هغه ړوند شو۔

چا ورله ماشومان راوستل چه د دوئ په سر باندې لاس راکاږي او د برکت دعاء ورته وکړي لکه نبي ﷺ چه به څنګه کول نو د هغوی په سرونو ئې لاس راښکل نو څوك پکښې ګنجي شو او څوك پکښې چاړاګان شو۔

الله تعالیٰ د هغهٔ په لاس کښې زهر اچولي وو۔

او دې جادوګر وو او خلك ئې ځان سره د جادو په څه طریقو تابع کړي وو،

او بله دا چه بنو حنیفه ورسره پدې وجه ولاړ وو چه د قومیت لحاظ ئې کولو۔

[البدایة والنهایة :۶/۳۵۹]

پدې طریقه په بنو حنیفه ؤ کښې الله تعالیٰ څه کسانو ته د ایمان توفیق ورکړو او اکثر پکښې مردار کړې شول او مشر مسیلمه ئې هم مردار شو او د هغهٔ ځوی شرحبیل بن مسیلمه هم، او علاقه دار اسلام وګرزیدو،

Maktaba Tul Ishaat.com

خالد بن ولید ﷺ چه د هغه ځائے نه روانیدو نو هلته ئے پدے خلکو باندے یو نائب پریخودو دے دپاره چه هغه پرے ولایت کوی او دا خلك بیرته ګلوډ نشی، ځکه چه د نوی خلکو همداسے پریخودل جائز نهٔ دی ترڅو چه یو مشر پرے مقرر نشی۔

پدے معرکه او ددے نه مخکښے معرکو کښے ډیر ښکلے صحابه کرام شهیدان شویدی چه قراء د قرآن وو، د قرآن عالمان او قاریان وو۔

ددے وجه نه ابوبکر صدیق ﷺ د قرآن د جمع کولو اراده وکړه او قرآن ئے راجمع کړو۔ لکه دلته دوه واقعے دی، یو په معرکه د یمامه کښے کوم صحابه کرام شهیدان شو د هغوی بعض حالات او بل د قرآن کریم جمع او تدوین:

په حروبو د ردت کښے د شهیدانو تذکره:

د عکاشه بن محصن ﷺ فضیلت او شهادت:

پدے معرکه کښے په ابتداء کښے عُکاشه بن محصن ﷺ شهید شویدے، دا هغه شخص دے چه یوه ورځ رسول الله ﷺ وفرمایل: چه اویا زره (۷۰۰۰۰) کسان به زما د امت نه جنت ته بے حسابه بے کتابه داخلیږی او د هر یو زرو (۱۰۰۰) سره به اویا زره کسان وی، او په یو روایت کښے دی چه د هر یو کس سره به اویا زره (۷۰۰۰۰) کسان وی، (نو اویا زرو له په اویا زرو کښے ضرب ورکولو سره څلور ارب او نوے کروړ کسان جوړیږی)

نو پدے کښے عکاشه بن محصن ﷺ راپاڅیدو چه یارسول الله! د الله تعالیٰ نه وغواړه چه ما پدے کسانو کښے داخل کړی، نو رسول الله ﷺ وفرمایل: اے الله! دا د هغوی نه وګرځوه۔ او په بل روایت کښے دی: تهٔ د هغوی نه ئے۔

(ډیر بختور صحابی دے په ژوندی جنتی وو)

بیا نبی ﷺ کور ته ننوتو، نو د صحابه کرامو خپل مینځ کښے اختلاف شو چه دا به کوم خلك وی چه بے حسابه جنت ته داخلیږی، چا وویل چه دا به هغه کسان وی چه په اسلام کښے پیدا وی او شرك ئے نهٔ دے کړے یعنی زمونږ اولاد۔

Maktaba Tul Ishaat.com

او هر چه مونږ یو نو مونږ خو اول کښې شرك کړیدے۔ او چا وویل چه ددے نه مراد همدا مونږ صحابه یو، چا پیغمبران یاد کړل، چا نور۔

پدے کښې نبی ﷺ پرے راووتو او ورته ئے وفرمایل: تاسو څه خبرو کښې ننوتی وئ؟ وے فرمایل: مونږ د دغه کسانو په باره کښې خبره کوله چه دا به کوم خلك وی؟ نو نبی ﷺ د دغه کسانو صفات بیان کړل چه دا صفات چا کښې کامل مکمل موجود وی نو هغوی به پدے کسانو کښې داخل وی۔ وے فرمایل:

[هُمُ الَّذِيْنَ لَا يَرْقُوْنَ وَلَا يَسْتَرْقُوْنَ وَلَا يَكْتَوُوْنَ وَلَا يَتَطَيَّرُوْنَ وَعَلٰى رَبِّهِمْ يَتَوَكَّلُوْنَ]

دا هغه خلك دی چه (غلط) دمونه نهٔ اچوی، او دوئ د بل نه دمونه نهٔ طلب کوی (چه ما باندے درد دے په ما دم واچوه) او په خپلو ځانونو باندے داغونه نهٔ لګوی۔

(داغ لګول انسان ته ډیر تکلیف ورکوی نو پدے وجه نبی ﷺ ددے نه منع کړیده) او دوئ بد فالی نهٔ نیسی، او دوئ په خپل رب باندے کامل توکل او اعتماد کوی (په دین کښې هم او په دنیا کښې او د راتلونکی زمانے نه)

[بخاری:۵۷۰۵، مسلم:٥٤ مستخرج ابی عوانة:۱۸۸]

او په یو حدیث کښې دی: [مَنِ اكْتَوٰى اَوِ اسْتَرْقٰى فَقَدْ بَرِئَ مِنَ التَّوَكُّلِ]

[الترمذی: ۲۰۵۵ صحیح، احمد: ۱۸۲۰۵]

څوك چه داغ لګوی یا دم طلب کوی نو دے د توکل نه بری دے۔

دم طلب کول انسان د اُوچتے مرتبے نه خکته راغورزوی۔

او عام انسانان پریشانه دی، څوك د فقر نه پریشانه او څوك د مرض نه چه دا راباندے راشی نو څه به کوو، څوك وائی چه که پلار مے مړ شو بل وائی که خاوند مے مړ شو نو زهٔ به څه کوم او څه به کیږی، هر انسان سره فکرمندی وی،

یو تن وائی چه زما دا کارخانه ده که دا خرابه شی نو رزق به د کوم ځائے نه خورم، څوك وائی که دا دکان او کاروبار خراب شی نو زهٔ به څه کوم، دا فکرونه به دِے د وخت نه مخکښې بوډا او هلاك کړی نو ددے فائده مند علاج دا دے چه په الله تعالیٰ توکل وکړه او الله تعالیٰ ته ځان وسپاره چه خپل لوی الله تعالیٰ مے شته، هغهٔ اُوسه پورے زهٔ ساتلے یم، رزق ئے راکړے نو زما ټول پروګرامونه به کوی، ځکه چه هغه په ما باندے زما د ځان او زما د مور او پلار او ښځے او خاوند او بچو نه زیات مهربانه دے، او دا

یقیني خبره ده. مونږ ډیر کرته ځان هلاکوو او الله تعالیٰ مو رابچ کوي.
ددې صفاتو کوشش پکار دې، کیدې شي چه دا خلك مخکښې پوره شوي وي، لیکن کیدې شي چه لا نۀ وي پوره شوي، او نبي ﷺ فرمائي :
زما اُمت د باران په شان دې چه پته ئې نۀ لګي چه اول ئې خیر دې او که آخر.
یعني په روستنو کښې هم ډیر اهل او صلاحیت والا خلك شته لهذا دا مۀ وایه چه مونږ پدې کسانو کښې هسې هم نشو داخلیدې نو عمل پرې نۀ کوې بلکه ددې صفاتو کوشش وکړه نو الله تعالیٰ به تا هم پکښې داخل کړي.
اې الله! تا نه غواړو او ستا رحمت ډیر فراخه دې چه مونږ هم دغه خلکو کښې شامل کړه، آمین یا رحمن یا رحیم.
دارنګه دا هغه عکاشه ﷺ دې چه رسول الله ﷺ ورته په غزا د بدر کښې یو لرګے ورکړو چه پدې باندې د کفارو سره جنګ کوه نو هغۀ چه لاس کښې واخستو او کفارو طرفته ورغلو نو الله تعالیٰ ترې توره جوړه کړې وه، او بیا به ورسره همیشه په جنګونو کښې وه تردې چه پدې جنګونو کښې د طلیحه اسدي د لاس نه شهید شو.

۲- **طفیل بن عمرو** دوسي ﷺ :

بل کس چه په جنګ یمامه کښې شهید شو، یو مشهور پخوانې مسلمان صحابي دې چه هغه طفیل بن عمرو الدوسي ﷺ دې.
دا هم د مسیلمه کذاب په مقابله کښې پدې جنګ کښې شهید شو.
ددۀ په باره کښې دا راغلي دي چه دۀ د شپې خوب ولیدو، فرمائي :
ما خوب ولیدو چه سر مې وخرئیلے شو او د خولے نه مې مارغه ووتو او یوه زنانه زۀ ونیولم او په خپله شرمګاه کښې ئې ننویستم، او زما ځوی ما پسې رامنډې وهي خو ما ته راونۀ رسیدو، روستو راپسې راوسیدو.
سهار ئې ملګرو ته دا خوب بیان کړو او خپله ئې تعبیر هم ورکړو چه ددې خوب معنیٰ دا ده چه زما سر وخرئیلے شو نو زۀ به شهید کیږم، سر به مې غوڅیږي او مارغه چه زما د خولے نه وتلے دې، دا زما روح دې، او د زنانه مراد زمکه ده چه دا به مې په خپله خیټه کښې ننباسي قبر ته به لاړ شم.
او زما ځوی به في الحال نۀ شهید کیږي روستو به راپسې شهید کیږي، نو هغه بیا

Maktaba Tul Ishaat.com

په نورو جهادونو کښې شهید شو۔

دا ددې صحابي ډیر کرامتونه وو چه مخکښې مونږ ددهٔ د اسلام په تذکره کښې راوړیدی، او دلته ئې دا کرامت هم ښکاره شویدې چه خوب ئې لیدلې او همغه شان راوختلو۔

۳- دریم ثابت بن قیس ﷺ :

په جنګ کښې ثابت بن قیس بن شماس ﷺ شهید شو، دهٔ سره د انصارو جنډه وه او په یو لاس به ئې توره چلوله او ددهٔ د لاس نه الله تعالیٰ ډیر مرتدین جهنم ته ورسول۔

او دا هغه صحابي دې چه د رسول الله ﷺ خطیب وو، نورو خلکو ته به دهٔ جوابونه ورکول، لکه دا طریقه ده چه هر څوك بهر نه راځي او مشر ورسره خبره کوی او بحثونه هم کوی نو پدې سره هغه تنګیږی نو رسول الله ﷺ دې مقرر کړې وو۔

او دا هغه سړې دې چه ددې مسیلمة الکذاب سره دهٔ په مدینه کښې هم بحث کړې وو کله چه مسیلمه په وفد د بنو حنیفه ؤ کښې راغلې وو۔

او دا هغه جنتي صحابي دې چه په دنیا کښې ورته د جنت زیرې ورکړې شویدې لکه دا خبره مونږ مخکښې لیکلې ده چه ددهٔ آواز غټ وو او چه کله آیتونه نازل شو چه تاسو ددې نبي په مجلس کښې آواز مهٔ پورته کوئ ګنې عملونه به مو برباد شي،

نو دې کور کښې کیناستو چه زما عملونه برباد شویدی،

نو بیا رسول الله ﷺ سړې د زیری سره ورولیږلو چه

[اِنَّكَ لَسْتَ مِنْ اَهْلِ النَّارِ اَنْتَ مِنْ اَهْلِ الْجَنَّةِ اِنَّكَ تَعِيْشُ حَمِيْدًا وَتَمُوْتُ شَهِيْدًا وَتَدْخُلُ الْجَنَّةَ]

ته د اُور والو نه نهٔ ئې، بلکه تهٔ د جنت والو نه ئې، تهٔ به ښائسته او مزیدار ژوند تیره وې او د شهادت مرګ به در نصیب کوی او جنت ته به ډې بوځي۔

دا ډیر عجیب زیرې دې۔

او دارنګه بله واقعه کښې راځي چه کله دا آیت نازل شو

﴿اِنَّ اللّٰهَ لَا يُحِبُّ كُلَّ مُخْتَالٍ فَخُوْرٍ﴾

[لقمان : ۱۸]

Maktaba Tul Ishaat.com

الله تعالیٰ هر متکبر او فخر کونکے نۀ خوښوی۔ نو دے کور ته لاړو او د کور دروازه ئے څان پسے بنده کړه او ژړل ئے، چا ورته وویل چه دا کار ولے کوے؟

هغۀ وویل : دا آیت نازل شوے او زما رنګ تور دے او زما جمال او ډول خوښ دے، او الله تعالیٰ فرمائی : زۀ د متکبرانو سره مینه نۀ لرم، نو زۀ هلاك یم۔

نبی ﷺ راطلب کړو او دا ئے ورته وویل چه تۀ پدے آیت کښے داخل نۀ ئے بلکه

[اِنَّ اللّٰهَ جَمِيْلٌ يُحِبُّ الْجَمَالَ]

الله تعالیٰ ښکلے ذات دے او ډول خوښوی، تکبر خو دے ته وائی :

[بَطَرُ الْحَقِّ وَغَمْصُ النَّاسِ] حق له دیکه ورکول او خلك سپك ګڼړل۔

ثابت بن قیس بن شماس ﷺ چه کله شهید شو او په یو څائے کښے پروت وو نو ددۀ په بدن باندے ډیره ښکلے زغره وه نو یو مسلمان راغے او دا ئے وویل چه دا خو هسے هم شهید شو، دا زغره به ئے زۀ واخلم، نو د هغۀ نه ئے زغره اُوویستله او لاړو د معسکر په هغه سر کښے ددۀ د ناستے څائے وو، هلته ئے زغره کیخوده او دپاسه ئے پرے کټوئ اُلټه کیخوده، او د اُوښے پالان ئے پرے دپاسه کیخودو، پټه ئے کړه،

نو پدے کښے یو صحابی خوب ولیدو چه ثابت ﷺ ورله خوب کښے راغے چه زما ډیره ښکلے او قیمتی زغره ده، او یو مسلمان اخستے ده او د معسکر په هغه سر کښے د هغۀ خیمه لګیدلے ده او د کټوئ د لاندے ئے ایخودے ده او دپاسه ئے پرے د اُوښے پالان اچولے دے،

خالد ﷺ ته ووایه چه څوك ورولیږی او هغه زغره راواخله او خالد بن ولید ﷺ له ئے ورکړه چه هغه ئے څائے ته ورسوی،

او بله دا چه ابوبکر صدیق ﷺ ته ووایه ! چه زما د غلامانو نه فلانے فلانے غلام آزاد دے، او ما سره دومره دومره مال دے، او په ما باندے دومره دومره قرضونه دی، او دا ئے هم ورته وویل : چه [وَاِيَّاكَ اَنْ تَقُوْلَ : هٰذَا حُلْمٌ فَتُضَيِّعَهُ]

دا خبره چرته ونکړے چه دا شیطانی خوب دے او ضائع ئے کړے،

دغه سړے لاړو خالد بن ولید ﷺ ته ئے دا خوب ووئیلو نو هغۀ سړی مقرر کړل او سیده همغه څائے ته ورغلو او همدغه حالت کښے ئے زغره وموندهٔ او خالد ﷺ ته ئے راوړه،

بیا ابوبکر صدیق ﷺ تـه چه کله دا خبره ورسیده نو هغهٔ د ثابت بن قیس بن شماس ﷺ وصیت پس د مرگ نـه نافذ کړو، غلامان ئې ورله آزاد کړل د کومو نو مونه ئې چه اخستي وو، او کوم قرض چه وو نو هغه ئې ورله ادا کړو.

علماء فرمائي : دا عجیبه خبره ده چه د هیڅ وصیت د هغهٔ د مرگ نه روستو داسې نهٔ دې نافذ شوې لکه څنگه چه د ثابت ﷺ وصیت نافذ شو.

او دا ددې صحابي کرامت دې.

[رواه البغوی فی معجم الصحابة والحاکم فی المستدرک ۲۳۵/۳ ومجمع الزوائد ۳۲۲/۹ وقال رواه الطبراني وبنت ثابت بن قیس لم اعرفها والظاهر انها صحابیة لانها قالت سمعت ابی وبقیة رجاله ثقات آه]

بیا دا خبره زده کړه چه خوبونو سره دین نهٔ ثابتیږي لکه دلته ابوبکر صدیق ﷺ صرف په خوب باندې اعتماد نهٔ دې کړې بلکه دلته ددې خوب د رشتینوالی نښې او قرینې موجودي دي او هغه دا چه په خوب کښې چه کومې نښې خودلې شوې وې هغه صحیح راوختې، او د کومو خلکو چه قرضونه وو، هغه ئې راوغوښتل نو هغوی اقرار وکړو چه آؤ زمونږ په ثابت ﷺ باندې دومره دومره قرضونه دي، نو پدې وجه ابوبکر صدیق ﷺ ددې دلائلو په بنیاد د ثابت دا وصیت نافذ کړو.

نو ددې قصې په بنیاد باندې دا قانون دې چه که یو انسان ته خوب کښې راغلل چه مړي ورته په څه خبرو حکم کړې وو نو په هغې باندې عمل کول لازم نهٔ دي مگر که شواهد حسیّه موجود شي لکه چه دلته موجود شویدي نو بیا پرې عمل کول پکار دي. قاله ابن عثیمین رحمه الله وشیخ الاسلام ابن تیمیه رحمه الله فی الفتاوی الکبریٰ (۵۱۹/٤).

٤- عبد الله بن سهیل بن عمرو ﷺ :

بل صحابي عبد الله بن سهیل بن عمرو رضی الله عنهما دې، دا د سهیل بن عمرو ﷺ ځوی دې، دا هغه صحابي دې چه په مکه کښې ئې ایمان راوړې او خپل دې پلار به هم ډیر په عذابولو او خلکو به ترلو راترلو چه زمونږ نه ونهٔ تښتي لکه ابوجندل ﷺ هم د سهیل ﷺ ځوی وو، دا ډیر پخوانې مسلمان دې، د بدر غزا له راغلې وو په ظاهره کښې د مشرکانو ملگرې وو کله چه مسلمانانو او د کافرو صفونه وتړلې شو نو دهٔ

رامنده کړه او د مسلمانانو صفونو کښې ئې ځان داخل کړو، هغوی بیرته نشو واپس کولے، نو د هغه وخت نه د مسلمانانو سره پاتے شو،

د الله تعالیٰ په دین داسے مئین وو چه د خپل پلار سره راغلے دے لیکن د پلار نه راوتښتیدو او د مسلمانانو په ډله کښې شامل شو. ایمان ئې د زړهٔ کومې ته ننوتے وو.

دے هم پدے غزا کښې شهید شو، رضی الله عنه وارضاه.

ابوبکر صدیق ﷺ چه په دغه کال حج له تللو نو په مکه کښې ئې سهیل بن عمرو ﷺ ته ددے ځوی تعزیه کوله چه تهٔ مهٔ خفه کیږه، ستا ځوی د الله تعالیٰ په لاره کښې شهید شو نو سهیل بن عمرو ﷺ ډیر هوښیار سړے وو،

واقعی ددے خلکو په قرآن او حدیث باندے ډیر مضبوط یقین وو، او یقین ډیر ښکلے شے دے، هغهٔ وویل : ما د رسول الله ﷺ نه ارشاد آوریدلے چه فرمایل ئې : چه یو سړے د الله تعالیٰ په لاره کښې شهید شو نو اویا کسانو خپلوانو له شفاعت کوی.

[يُشَفَّعُ فِي سَبْعِينَ مِنْ أَهْلِ بَيْتِهِ]

[ابوداود : ۲۵۲٤ : واسناده صحيح، صحيح الجامع الصغير : ۳۷٤۷ من رواية ابى الدرداء]

(یعنی د شهید شفاعت قبلولے شی په باره د اویا خپلوانو کښې)

نو زما د الله تعالیٰ د ذات نه امید دے چه زما ځوی شهید شو چه اول به زما شفاعت کوی، ځکه چه زهٔ ئې د اولنو اقرباؤ نه یم، دے خپله اُوچت صحابی دے او بیا هم د خپل ځوی د شفاعت امید لری ځکه چه دے خلکو کښې تکبر نهٔ وو، دا به ئې نهٔ وئیلے چه زهٔ به په خپل عمل باندے جنت ته ځم.

۵- زید بن الخطاب ﷺ :

پدے غزا کښې د عمر بن الخطاب ﷺ ورور چه د پلار د طرف نه ئې دے او د مور نه ئې نهٔ دے، او د عمر فاروق ﷺ نه په عُمر کښې مشر دے، هغه هم شهید شو،

دے د قد نه ډیر زیات اُوږد وو،

دهٔ سره د مهاجرینو جنډه په لاس کښې وه، نو همداسے به مخکښې روان وو نو ددهٔ د

لاس نه رجال بن عُنْفُوَه لوی مرتد هم هلاك شو،

او بیا ابو مریم الحنفی په نوم باندے په دهٔ باندے حمله وکړه او دے ئے شهید کړو۔ نو جنډه ترے سالم مولیٰ ابو حذیفه واخسته۔

کله چه عمر فاروق رضی الله عنه ته ددے خبر راورسیدو نو وے فرمایل:

[سَبَقَنِیْ اِلَی الْحُسْنَیَیْنِ]

دا ورور زما نه دوه نیکو ته مخکښے شویدے، یو دا چه زمانه ئے مخکښے ایمان راوړیدے، او دویم دا چه شهادت ئے هم زمانه مخکښے وموندو۔

دا پخوانے مسلمان دے چه بدر غزا ته هم حاضر شویدے او روستنو غزواتو ته هم۔

او رسول الله صلی الله علیه وسلم ددهٔ او د معن بن عدی انصاری رضی الله عنه ترمینځ ورور ولی قائمه کړے وه۔ او دواړه پدے جنګ یمامه کښے په یو ځائے باندے شهیدان هم شول۔ رضی الله عنهما وارضاهما۔

او پدے غزا کښے عبد الله بن عمر رضی الله عنهما هم حاضر وو، دے چه کله مدینے ته راغلو نو عمر فاروق رضی الله عنه ورته وویل:

[اَلَّا هَلَکْتَ قَبْلَ زَیْدٍ ؟ هَلَكَ زَیْدٌ وَاَنْتَ حَیٌّ، اَلَّا وَارَیْتَ وَجْهَكَ عَنِّیْ ؟]

تهٔ د زید نه مخکښے ولے مړ نشوے؟ زید مړ شو او تهٔ ژوندے ئے، تا ولے زما خپل مخ نهٔ پټولو۔

نو هغهٔ ورته وویل:

[سَأَلَ اللّٰهُ الشَّهَادَةَ فَأُعْطِیَهَا (وَفِیْ رِوَایَةٍ : فَاَکْرَمَهُ اللّٰهُ بِالشَّهَادَةِ) وَجَهَدْتُ اَنْ تُسَاقَ اِلَیَّ فَلَمْ اُعْطَهَا]

[الکامل فی التاریخ: ۱/۳۷۵، تاریخ الطبری: ۲/۲۸۰]

هغهٔ د الله تعالیٰ نه شهادت غوښتے وو، بل روایت کښے دی، الله تعالیٰ هغهٔ ته په شهادت عزت ورکړو۔ نو الله تعالیٰ ورته ورکړو او ما کوشش وکړو چه ما ته به شهادت ملاؤ شی لیکن ما ته رانکړے شو۔

او مخکښے تیر شو چه مُتَمِّم بن نُویره ته ئے وویل چه که ما له اشعار راتللے نو ما به د خپل ورور پسے ستا په شان اشعار وئیلی وے نو هغهٔ ورله ښه تعزیه وکړه چه ستا ورور خو د الله تعالیٰ په لاره کښے شهید شویدے، ستا څه پرواه ده، او زما ورور خالد بن ولید

ﷺ په شك كښې وژلے دے كیدے شي چه كافر مړ وي۔
عمر فاروق ﷺ د خپل ورور پسے ډیر زیات خفه وو او دا به ئے وئیل چه کله د نجد د طرف نه بادِ صبا راوالوزی نو ما ته زید بن الخطاب ﷺ رایاد شي چه زما یو قیمتی ورور وو او د الله تعالیٰ په لاره کښې شهید شو او پدے خوشحاله یم۔
[اسد الغابة ۱/۳۹۸]
او کله چه ابو مریم الحنفی مسلمان شو نو عمر فاروق ﷺ سره ملاؤ شو او دا ئے وویل:
[يَا اَمِيرَ الْمُؤْمِنِينَ اِنَّ اللّٰهَ اَكْرَمَ زَيْدًا بِيَدِیْ، وَلَمْ يُهِنِّیْ بِيَدِهٖ]
اے امیر المؤمنین! یقیناً الله تعالیٰ زما په لاس سره زید ﷺ ته عزت ورکړو او د هغهٔ په لاس ئے زما بیعزتی ونکړه۔
[البداية والنهاية: ۳٦۹/٦، الاوائل للعسكرى ۱/۱۱۱، اسد الغابة: ۱/۳۹۸]
او زید بن الخطاب ﷺ ته د جنګ یمامه په ورځ صَقَر وئیلے کیدو۔ یعنی باز چه په دشمنانو پسے ور الوزی۔

٦- سالم مولیٰ ابی حذیفة ﷺ:

پدے شهداؤ کښې یو عظیم قاری د قرآن سالِم هم وو۔
سالم بن عبید بن ربیعة۔ (قاله ابن مندہؒ)
او بعض وائی: سالمؒ بن معقل ئے نوم دے۔ ابو عبد الله ئے کنیه وه،
دا د ابو حذیفه بن عتبه ﷺ آزاد شوے غلام وو، ددهٔ خصوصیت دا دے چه دا د قریشو مهاجرینو نه هم دے، او د انصارو نه هم او د عجمو نه هم دے۔
دا د بهترینو صحابه کرامو او غلامانو نه دے، په مهاجرینو کښې پدے وجه شمار دے چه دا کله د ابو حذیفه ﷺ ښځې "ثُبَيْتَه (او بعض وائی بُثَيْنَه) بنت یعار" انصاریه رضی الله عنها آزاد کړو، نو ابو حذیفه ﷺ ددهٔ تربیت کولو او دے ئے متبنیٰ جوړ کړو نو ددے وجه نه په مهاجرینو کښې شمار شو،
او انصارو کښې پدے وجه شمار شو چه ددهٔ مولاګئ د ابو حذیفه ﷺ ښځه د انصارو نه

Maktaba Tul Ishaat.com

وه، او هغې آزاد کړے وو، او د عجمو نه ځکه وو چه دے د ایران والو نه د اِصطَخر علاقے نه نیولے شوے وو۔ اصل ئے عجمی وو۔

او دا په لویو قاریانو کښې شمار وو رسول الله ﷺ وفرمایل :

[خُذُوا الْقُرْآنَ مِنْ اَرْبَعَةٍ]

تاسو قرآن کریم د څلورو کسانو نه زده کړئ۔ یو د هغوی نه سالم مولی ابی حذیفه ﷺ دے۔

او دا هغه جلیل القدر صحابی دے چه دِ نبی ﷺ نه ئے مخکښې مدینے ته هجرت کړیدے نو دهٔ به په مدینه کښې مهاجرینو ته مونځونه کول چه په هغوی کښې عمر فاروق ﷺ هم وو، هغه به ورپسے روستو ولاړ وو، ځکه چه ډیر قرآن کریم ئے یاد وو۔

عائشه رضی الله عنها یوه ورځ لږ ناوخته کړو، رسول الله ﷺ ورته وفرمایل :

څنگه ناوخته راغلے ؟ هغے ووېل : ما د یو قاری نه واوریدل چه ډیر ښکلے قراءت ئے کولو نو زهٔ هغے آوریدو ایساره کړم نو رسول الله ﷺ خپل څادر راواخستو او بهر راووتو چه وے کتل سالم ﷺ په مسجد نبوی کښې ولاړ دے نو وے فرمایل :

[اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ الَّذِیْ جَعَلَ فِیْ اُمَّتِیْ مِثْلَكَ]

الله تعالیٰ لره شکر دے چه زما په امت کښې ئے ستا په شان خلك راوستل۔

سیدنا عمر بن الخطاب ﷺ به دهٔ ډیر زیات صفتونه کول، او دهٔ کارنامے به ئے ذکر کولے، تردے چه کله ئے د خپل مرگ په وخت وصیت کولو نو وے فرمایل :

[لَوْ كَانَ سَالِمٌ حَیًّا مَا جَعَلْتُهَا شُوْرٰی]

که سالم ﷺ ژوندے وے نو ما به د هغهٔ په مشوره کار کړے وے او د بل چا مشورے ته به مے خلافت نهٔ سپارلے۔

مطلب دا چه هغه چه مشوره راکړے وے چه فلانے خلیفه جوړ کړه نو ما به هغه جوړ کړے وے۔ دومره صائب الرأی وو۔

او ددے دا مطلب هم دے چه ما هغه خلیفه جوړه ولو او د هغهٔ سره مے هیڅوك نهٔ برابرول۔

رسول الله ﷺ ددهٔ او د معاذ بن ماعض ﷺ ترمینځ ورور ولی جوړه کړے وه کله چه مدینے ته راغلو۔

Maktaba Tul Ishaat.com

[أسد الغابة ١/٤٠٩ الوافي بالوفيات ٥/٢٥]

ابوحذیفه ﷛ دهٔ لره خپل مُتَبَنّٰی جوړ کړے وو، نو پدے وجه ئے دا د خپل ځوی په شان گنړلو نو دهٔ دپاره ئے د خپل ورور ولید بن عتبه لور فاطمه رضی الله عنها په نکاح واخسته. او دا د مهاجراتو نه وه. او د قریشو بهترینه جینۍ وه.

دا هم پدے جهاد کښے شهید شو دهٔ جنډه اخستے وه نو ښے لاس ئے پریکړے شو بیا ئے په گس لاس کښے جنډه واخسته نو هغهٔ هم ترے پریکړے شو بیا ئے په غیږه کښے ونیوله او دا به ئے وئیل :

[وَمَا مُحَمَّدٌ اِلَّا رَسُوْلٌ] [آل عمران : ١٤٤]

(نهٔ دے محمد ﷺ مگر د الله رسول دے).

او دا آیت ئے هم تلاوت کولو :

﴿ وَ كَاَيِّنْ مِنْ نَبِيٍّ قٰتَلَ مَعَهٗ رِبِّيُّوْنَ كَثِيْرٌ ﴾ [آل عمران : ١٤٦]

(ډیر د پیغمبرانو نه وو چه د هغوی په ملگرتیا کښے الله والا خلکو جنگ کړے)

هرکله چه راپریوتو نو تپوس ئے وکړو چه د ابوحذیفه ﷛ څه حال دے ؟ وویل شو چه هغه شهید شو. بیا ئے وویل : د فلانی څه حال دے ؟ (د یو تن نوم ئے واخستو) وویل شو چه هغه هم ووژل شو. نو دهٔ وویل : ما دِ دوئ دواړو ترمینځ خخ کړئ.

دے چه هرکله شهید شو نو عمر فاروق ﷛ ددهٔ میراث ددے مولاگئ ثُبیته انصاریه رضی الله عنها ته ولیږلو نو هغے قبول نکړو او دا ئے وویل چه ما دے د الله تعالیٰ دپاره آزاد کړیدے. نو عمر فاروق ددهٔ میراث په بیت المال کښے واچولو.

[اسد الغابة : ١/٤١٠]

مسئله : کله چه یو تن یو غلام آزاد کړی بیا غلام مالداره شی او وفات شی او د هغهٔ خپل میراث خوارهٔ نهٔ وی نو دغه میراث به ئے آزادونکی شخص ته راواپس کیږی. لیکن دلته د ډیرے اعلیٰ تقویٰ د وجه نه ثبیته انصاریه رضی الله عنها دغه میراث هم وانخستو.

او د یو مرسل روایت مطابق دا هغه سړے دے چه کله رسول الله ﷺ په هغه کنده کښے راپریوتو چه ابوعامر الفاسق کنستے وه او بے هوشه شو نو دے وخت کښے ورته سالم رضی الله عنه راورسیدو او هغه ئے راپورته کړو او د هغهٔ د مخ مبارك نه ئے وینه

صفا کوله۔ نو نبی ﷺ رابیدار شو او دائے وویل :

[كَيفَ يُفْلِحُ قَوْمٌ فَعَلُوا هٰذَا بِنَبِيِّهِمْ]

هغه قوم به څنګه کامیاب شی چه دا کارئے د خپل نبی سره وکړو۔

[البداية والنهاية ٤/٢٧]

۷- ابوحذیفه ﷺ :

پدئے شهداؤ کښے بل عظیم شهید ابوحذیفه ﷺ دے۔

دا د عتبه بن ربیعه ځوی دے، کوم چه په غزا د بدر کښے د کفارو په مشرانو کښے وو او بیا د صحابه کرامو د لاس نه قتل شوے وو۔

ابوحذیفه ﷺ د قریشو د سردارانو نه دے، او اسلام ته د سابقینو اولینو نه دے، او دهٔ حبشو ته هجرت کړے بیائے مدینے ته هم۔ (دوه هجرتونو والا دے)

دهٔ چه کله حبشو ته هجرت وکړو نو هلته ورسره خپله ښځه سهله بنت سهیل بن عمرو رضی الله عنها هم وه۔ یعنی د سهیل بن عمرو ﷺ لور۔

نو د هغے نه ددهٔ یو ځوی پیدا شو چه محمد بن ابی حذیفه ئے نوم وو چه بیا ددهٔ نه هیڅ اولاد پیدا نشو۔

او ابوحذیفه ﷺ د فضلاء الصحابه نه وو، الله تعالیٰ ددهٔ دپاره شرافت او فضیلت دواړه راجمع کړی وو۔

او دهٔ دومره پخوا ایمان راوړے چه رسول الله ﷺ لا دارِ ارقم ته نهٔ وو داخل شوے۔

رسول الله ﷺ ددهٔ او د عباد بن بشر انصاری ﷺ ترمینځ وروری جوړه کړے وه۔ او دے ټولو غزواتو ته حاضر شویدے او په جنګ یمامه کښے پس د ډیرے بهادرئ نه د ۵۳ یا ۵٤ کالو په عمر باندے شهید شو۔ او ددهٔ دا ملګرے عباد بن بشر ص هم پدے غزا کښے ورسره شریك شهید شو۔

د ابوحذیفه ﷺ نوم مُهْشَم، یا هُشَیم یا هَاشِم وو۔ دے اُوږد قد والا، ښائسته مخ والا وو، او اثعل وو، یعنی زیاتی غاښ ئے لرلو، چه د عامو خلکو نه ئے غاښونه زیات وو۔ په سترګو کښے ئے لږ شان کوږ والے وو۔

Maktaba Tul Ishaat.com

کله چه دے په غزا د بدر کښې مقابلے ته راووبللے شو نو نبی ﷺ منع کړو چه ته مه ور اوځه۔

او دهٔ په بدئ کښې ددهٔ خور هند بنت عتبه (د ابوسفیان ﷺ ښځې) شعرونه وویل :

فَمَا شَكَرْتَ أَبًا رَبَّاكَ مِنْ صِغَرٍ	❁	حَتَّى شَبَبْتَ شَبَابًا غَيْرَ مَحْجُونِ
الْأَحْوَلُ الْأَثْعَلُ الْمَشْؤُومُ طَائِرُهُ	❁	أَبُو حُذَيْفَةَ شَرُّ النَّاسِ فِي الدِّيْنِ

(تا د خپل پلار شکریه ونکړه چه تا ته ئے د وړوکوالی نه تربیت درکړے وو، تردے چه ته ځوانئ ته نیغ ورسیدئے۔ (اے) کوږ سترګے، ډیرو غاښونو والا او بد نصیبه ابوحذیفه چه د ټولو خلکو نه د دین په لحاظ ډیر ناکاره دے۔

(نه، بلکه د ټولو خلکو نه بهترین دین والا دے، خو باطل والا حق ته باطل وائی)

په غزا د بدر کښې ددهٔ پلار عتبه بن ربیعه د مسلمانانو د لاس نه ووژل شو، او بیا د نورو کافرانو سره قلیب بدر (کوهی) ته راخکلے شو نو دهٔ چه دا حالت ولیدو نو په رنګ کښې ئے تغیر پیدا شو، رسول الله ﷺ ورته وفرمایل :

ابوحذیفه ﷺ شاید چه ستا په زړهٔ کښې به د پلار په باره کښې کوم خفګان راغلے وی؟ دهٔ وویل، نه، اے د الله رسوله ! زما د پلار د شرك او د مرګ په باره کښې هیڅ شك نشته لیکن ما ته د خپل پلار رأیه او عقلمندی او هوښیارتیا او فضیلت معلوم وو نو ما امید ساتلو چه دے به خپل عقل اسلام ته راولی لیکن هرکله چه ما ددهٔ دا حالت ولیدو نو زهٔ خفه شوم چه دے ولے په کفر باندے مړ شو، پس د هغې نه چه ما ددهٔ دپاره د اسلام امید کولو۔

نو رسول الله ﷺ ابوحذیفه ﷺ ته د خیر دعاء وکړه، او دهٔ له ئے تسلی ورکړه۔

[اسد الغابة ۳/۱۵۹۰]

۸- عباد بن بشر ﷺ :

پدے معرکه کښې یو بل جلیل القدر صحابی عباد بن بشر بن وقش الانصاری الاوسی الاشهلی ﷺ شهید شو، ددهٔ کنیه ابو بشر یا ابو الربیع وو۔

دهٔ په مدینه کښې د مصعب بن عمیر ﷺ په لاس د سعد بن معاذ ﷺ او د اُسید بن

حُضیر ﷺ نه مخکښې ایمان راوړی، او بیا بدر او اُحد او ټولو غزواتو ته د رسول الله ﷺ سره حاضر شوی، او دا هغه شخص دی چه د کعب بن اشرف یهودی په قتل کښې شریك شوی وو کوم چه به رسول الله ﷺ ته ضررونه ورکول نو بیا په پټه سره عباد بن بشر او محمد بن مسلمه او ابو عبس بن جبر او ابو نائله وغیره رضی الله عنهم قتل کړو. او ددې په باره کښې ئې شعرونه هم وویل.

او دا د صحابه کرامو د فضلاو (غوره خلکو) نه وو،

عائشه رضی الله عنها فرمائي: درې کسان د انصارو داسې وو چه د هغوی سره په فضیلت کښې هیڅوك برابر نهٔ وو، او ټول د بنو عبد الاشهل نه دی، سعد بن معاذ، اُسید بن حضیر او عباد بشر رضی الله عنهم.

او عائشې رضی الله عنها روایت کړیدې چه یوه ورځ نبی علیه السلام د عباد بن بشر رضی الله عنه آواز واوریدو نو وې فرمایل: [اَللّٰهُمَّ ارْحَمْ عَبَّادًا]

اې الله! په عباد باندې رحم وکړه.

انس بن مالك رضی الله عنه فرمائي: اُسید بن حُضیر او عَباد بن بشر رضی الله عنهما دواړه د نبی علیه السلام سره په یوه تیارهٔ والا شپه کښې ناست وو، بیا د هغهٔ د خوا نه راووتل نو په دواړو کښې د یو امسا رنړا وکړه، نو دواړه به د هغې په رنړا کښې روان وو بیا هرکله چه دواړه د یو بل نه جدا کیدل نو د هر یو په امسا کښې رنړا بله شوه.

[بخاری باب مناقب الانصار حدیث: ٣٨٠٥]

عباد بن بشر ﷺ په جنگ یمامه کښې ډیره لویه پهلوانی ښکاره کړه چه د ډیرو کافرانو وژلو نه روستو شهید شو او ددهٔ عمر پدې وخت کښې (٤٥) کاله وو، او ددهٔ هیڅ اولاد نهٔ وو.

[اسد الغابة: ٢/٧٠]

Maktaba Tul Ishaat.com

۹- عبد الله بن عبد الله بن ابی ابن سلول رضی الله عنه

دا د رئیس المنافقین ځوی دے، ددهٔ خپل نوم الحُباب وو نو رسول الله ﷺ ورته عبد الله نوم کیخودو، دے د انصارو نه خزرجی صحابی دے، او د صحابه کرامو د ساداتو او فضلاؤ نه دے، بدر او د هغې نه روستو تولو غزواتو کښې شریك شوید ے،

او دے په خپل پلار باندے ډیر سخت وو، که رسول الله ﷺ دهٔ ته د هغهٔ په باره کښې اجازه ورکړے وے نو د هغهٔ څټ ئے هم وهلو، لکه دهٔ ترے په غزا د بنی المصطلق کښې اجازه غوښتے وه مګر رسول الله ﷺ اجازه ورنکړه۔ دے هم په جنګ یمامه کښې شهید شو۔

۱۰ – سائب بن عثمان بن مظعون ﷺ :

دا بدری صحابی دے، او د غشو په ویشتو کښې انتهائی تکړه وو، دهٔ ته په جنګ یمامه کښې غشے ورسیدو نو دے پرے شهید شو او دے ځوان وو، حافظ ابن عبد البرؒ او ابن حجرؒ وائی چه د دیرشو کالو نه لږ څه دپاسه عمرئے وو۔

۱۱ – سائب بن العوام رضی الله عنه :

دا د زبیر بن العوام رضی الله عنه ورور دے، دے هم پدے جنګ کښې شهید شو۔ رضی الله عنه۔

۱۲- معن بن عدی البلوی رضی الله عنه۔

دا د عاصم بن عدی رضی الله عنه ورور دے، عقبے ته او بدر ته او احد او خندق او تولو غزواتو ته د رسول الله ﷺ سره حاضر شوید ے، رسول الله ﷺ ددهٔ او د زید بن الخطاب رضی الله عنه ورور ولی قائمه کړے وه او دواړه په دے جنګ یمامه کښې شهیدان شول۔

او دا هغه شخص دے چه کله رسول الله ﷺ وفات شو نو خلکو ژړل او دا ئے ووېل

Maktaba Tul Ishaat.com

ارمان چه مونږ د رسول الله ﷺ نه مخکښې مړهٔ وے، او مونږ پرېږو چه د هغهٔ نه روستو به په فتنه کښې پرېوزو، نو دهٔ وفرمايل: ليکن زهٔ دا نهٔ خوښوم چه زهٔ د نبی ﷺ نه مخکښې مړ وے، دے دپاره چه زهٔ ئے پس د مرګ نه هم داسے تصديق وکړم لکه څنګه مے چه په ژوند کښې تصديق کړے وو.

۱۳- د بُطاح په جنګ کښې د طليحه اسدی په مقابله کښې د خالد بن وليد رضی الله عنه دوه ورورونه شهيدان شو يو وليد بن عماره بن الوليد او بل ابو عبيده بن عماره بن الوليد رضی الله عنهما وو،

داسے نور شهيدان چه په اختصار سره حافظ ابن کثير په شش "البدايه والنهايه" ذکر کړيدی.

۱٤- ضرار بن الازور رضی الله عنه:

کوم چه مالك بن نويره لره د خالد بن وليد رضی الله عنه په امر سره وژلے وو.

دے شاهسوار، بهادر او شاعر وو، هرکله چه دے رسول الله ﷺ ته راغے نو دهٔ زر (۱۰۰۰) اوښان او د هغے سره شپونکيان وو هغه ټول ئے پرېخودل او رسول الله ﷺ ته ئے هجرت وکړو او په دے باره کښې ئے اشعار وويل، نو رسول الله ﷺ وفرمايل:

[مَا غَبِنَتَ صَفقَتَكَ يَا ضِرَارُ]

تا په خپله سودا کښې تاوان او نقصان نهٔ دے کړے اے ضرار!

دے هم په جنګ يمامه کښې شهيد شو او ډيره لويه قربانی ئے ورکړه، تردے چه دهٔ دواړه پونډۍ پرېکړے شوے، نو بيا په زنګنونو باندے توليدو سره به ئے جنګ کولو او اسونو به پرے خپے کيخودے تردے چه مرګ پرے غلبه وکړه او شهيد شو قاله الواقدی رحمه الله. او بعض وائی چه دا غزا په د اجنادين کښې په شام کښې شهيد شويدے.

[اسد الغابة :۲/۳۱]

۱۵- عبد الله بن عتيک انصاری رضی الله عنه:

دا هغه صحابی دے چه د ابو رافع يهودی د قتلونکو ډلے مشر وو، او په نظر کښې ئے کم والے وو نو کله ئے چه ابو رافع قتل کړو او د کور نه رابهر کيدو نو په پوړۍ کښې ئے خپه وخوئيده او ماته شوه. بيا رسول الله ﷺ ته راوړے شو نو هغهٔ ورله پرے لاس راخکلو نو بيخی روغه شوه.

۱۶- ابو حبه بن غزیة الانصاری ﷺ
۱۷- ابو عقیل البلوی ﷺ
۱۸- ابو قیس بن الحارث بن قیس بن عدی السهمی ﷺ
۱۹- زرارة بن قیس الانصاری ﷺ۔
۲۰- جناده بن عبد الله المطلبی القرشی ﷺ۔
۲۱- شجاع بن وهب الاسدی ﷺ۔
۲۲- سعد بن جماز الانصاری ﷺ۔
۲۳- سلمه بن مسعود بن سنان الانصاری ﷺ۔
۲۴- صفوان بن عمرو ﷺ۔
۲۵- عباد بن الحارث الانصاری ﷺ۔
۲۶- عبد الله بن مخرمه بن عبد العزی العامری ﷺ۔
۲۷- علی بن عبید الله بن الحارث ﷺ۔
۲۸- عماره بن حزم الانصاری ﷺ۔
۲۹- عمیر بن اوس بن عتیك الانصاری ﷺ۔
۳۰- فروه بن النعمان ﷺ۔
۳۱- قیس بن الحارث بن عدی الانصاری ﷺ۔
۳۲- مالك بن امیه السلمی ﷺ۔
۳۳- مالك بن عمرو السلمی ﷺ۔
۳۴- مسعود بن سنان الاسود ﷺ۔
۳۵- النعمان بن عصر بن الربیع البلوی ﷺ۔
۳۶- هریم بن عبد الله المطلبی القرشی ﷺ۔
۳۷- ورقه بن ایاس بن عمرو الانصاری ﷺ۔
۳۸- الولید بن عبد شمس المغیرة المخزومی ﷺ، د خالد ولید ﷺ د ترهٔ خوی دے۔
۳۹- یزید بن اوس ﷺ۔
۴۰- یزید بن ثابت ﷺ د زید بن ثابت رضی الله عنه ورور دے۔

[ابو بکر الصدیق : محمد رضا ص : ۵۰، واسد الغابة والبدایة والنهایة]

Maktaba Tul Ishaat.com

د قرآن کریم جمع او تدوین :

هرکله چه په حروب الردة کښې د قرآن کریم ډیر قاریان شهیدان شو، یواځې په حدیقة الموت او ددې په خوا و شا کښې شپږ سوه (۶۰۰) کسان او مخکښې روستو چه ورسره واخلې نو دولس سوه (۱۲۰۰) کسان شهیدان شویدی، چه ډیره حصه پکښې د قاریانو هم وه، او بیا روستو نور هم شهیدان کیدل،

نو ددې وجه نه الله تعالیٰ د عمر فاروق ﷛ په ذهن کښې یوه خبره واچوله څکه چه هغه مُحَدَّث انسان وو چه الله تعالیٰ به ورته په زړهٔ کښې ډیرې ښُکلې خبرې اچولې،

ددهٔ په زړهٔ کښې دا خبره راغله چه که دا قاریان هم داسې شهیدان کیږی او قاریان ختم شی نو بیا به چا ته قرآن کریم یاد نهٔ وی نو هسې نهٔ چه قرآن کریم د مینځ نه لاړ شی،

(دا خو زمونږ اساسی او د ژوند بنیادی کتاب دے، قرآن کریم چه ترڅو وی جهاد به جاری وی، مسلمانان به موجود وی، او د حق کار به کیږی، د انسانانو زړونه به ژوندی ری، کافران څکه ددې ډیره مقابله کوی)

نو پدې کښې لاړو ابوبکر صدیق ﷛ ته ئې وویل چه زما ذهن کښې داسې خبره راغلې ده چه ډیر قاریان شهیدان شو نو قرآن کریم راجمع کوو هسې نهٔ چه قرآن ختم شی،

نو هغهٔ ورته وویل چه دا کار خو رسول الله ﷺ نهٔ دے کړے نو ما او تا ئې څنګه وکړو؟ چرته بدعت کښې واقع نشو۔

(د صحابه کرامو تقویٰ ته وګورئ، خلفاءِ راشدین دی لیکن ددې نه یریږی چه د الله تعالیٰ نبی دا کار نهٔ دے کړے که مونږه ئې وکړو نو هسې نهٔ چه ګناهګار شو)،

نو هغهٔ ورته دلیلونه شروع کړل چه دې کښې خیر او فائده ده او بعض احادیث ئې ورته وویل چه د هغې نه معلومیږی چه د قرآن کریم جمع جائز ده،

لکه یو حدیث کښې دی :

[اَوْ مُصْحَفًا وَرَّثَهٗ]

یو انسان قرآن ولیکی او په میراث کښې ئې روستو خلکو ته پریدی نو دا به ددهٔ صدقه جاریه وی ترڅو چه دا قرآن وی او تلاوت پکښې کیږی ددهٔ به اجر کیږی۔

Maktaba Tul Ishaat.com

یا علم د خان نه روستو پریدی، یا نیکان بچی ترې روستو پاتې شي، یا یو مسجد یا یوه لاره جوړه کړي نو دائې صدقه جاریه جوړیږي،

(خو افسوس چه زمونږ په مسلمانانو کښې دا جذبه نشته چه مړۀ به شو او عمل به مو ختم شي بیا به څه کوو، دا درد مونږ سره نشته، پکار دا ده چه ددې خبرې درد پیدا کړو چه مونږ مړۀ شو او زمونږ د مرګ نه پس هم د عمل میټر جاري وي، او نیکی راپسې لیکلې کیږي، یوه لاره جوړه ول او پُل جوړه ول او طلاب العلم او علماؤ له کتابونه اخستل، مسجد جوړه ول، شاګردان پیدا کول پکار دي چه هغوی به ستا د مرګ نه پس د دین کار کوی الله تعالیٰ به تا ته اجر رسوی)۔

داسې بل حدیث کښې دي:

[مَنْ سَرَّهُ اَنْ يُّحِبَّ اللّٰهَ وَرَسُوْلَهُ فَلْيَقْرَأْ فِي الْمُصْحَفِ]

[صحيح الجامع رقم: ٦٢٨٩ عن ابن مسعود مرفوعاً باسناد حسن]

څوك چه پدې خبره خوشحالیږي چه د الله تعالیٰ او د هغهٔ د رسول سره مینه وکړي نو هغهٔ دې په لیکلې شوي قرآن کښې لوستل کوی۔

(دې نه معلومه شوه چه په قرآن کریم کښې دننه تلاوت کول ډیر اجر دې او په یادو باندې یادول ئې ډیر ثواب لري لیکن روستوئې په قرآن کښې لوستل بهتر دي ځکه چه دې کښې دوه عبادتونه راجمع کیږي، یو قرآن لوستل او بل قرآن ته کتل)

نو پدې خبره باندې د ابوبکر صدیق ﷺ ذهن کولاؤ شونو بیا ئې ووېل چه دا کار به څوك وکړي،

(مونږ خو په جهادونو باندې مصروف یو او کتاب لیکل خو څه توقے نهٔ دي، دا خو انسان سپین ګیرې کوي)

نو دې دپاره ئې زید بن ثابت ﷺ راوغوښتو، عمر فاروق ﷺ هم ناست دې، ابوبکر صدیق ﷺ زید ﷺ ته ووېل چه دا عمر ﷺ راغے او ما ته ئې ووېل چه قرآن کریم راجمع کوو ځکه چه قاریان شهیدان کیږي نو پدې طریقه به ډیره برخه د قرآن ضائع شي، نو ته په قرآن راجمع کولو باندې حکم وکړه نو ما ورته ووېل چه (پدې کار کښې چرته ګناه نهٔ وي) څنګه مونږ هغه کار وکړو چه رسول الله ﷺ نهٔ دې کړې؟ نو دهٔ ما ته دلائل وئیل تر دې چه الله تعالیٰ پرې زما ذهن کولاؤ کړو نو ما ته هم پدې کښې خیر

Maktaba Tul Ishaat.com

ښکاره کیږي او دلائل شرعیه ددې ګواهي ورکوي چه قرآن لیکل پکار دي، او ته هوښیار ځوان سړے ئې او تا د رسول الله ﷺ په زمانه کښې هم وحي لیکلې ده، مونږ په تا باندې تهمت نهٔ لګوو، نو ته داسې وکړه چه قرآن کریم راجمع کړه، (یعنی یو جلد کتاب کښې)

زید بن ثابت ﷺ وائي چه قسم په الله تعالىٰ دوئ زهٔ په یو داسې کار باندې مکلف کړم چه که چرته زهٔ ئې د غرونو نه په یو غر باندې مکلف کړے وے نو دا به په ما باندې دومره ګرانه نهٔ وے ددې نه چه دوی ما ته کوم امر وکړو په راجمع کولو د قرآن.

(زید ﷺ هم په سنتو مئین او ډیر تابعدار دے، په پټو سترګو خبره نهٔ مني بلکه د بدعت نه یریږي او داسې نهٔ وائي چه دا ابوبکر ﷺ او عمر ﷺ دي اُوچت خلك دي، بس خبره ئې منل پکار دي، بلکه داسې ئې وویل)

[كَيْفَ تَفْعَلُوْنَ شَيْئًا لَمْ يَفْعَلْهُ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ]

تاسو څنګه هغه کار کوئ چه رسول الله ﷺ نهٔ دے کړے؟.

نو هغوی ورته شرعي دلیلونه وویل او داسې ئې ورته ونهٔ ویل چه بس مونږ پسې په پټو سترګو راروان شه،

(دے نه معلومیږي چه د لوی عالم نه هم دلیل تپوسل عیب نهٔ دے بلکه زمونږ دین د بصیرت نوم دے، بغیر د بصیرت او دلیل نه د هیڅ تابعداری نشته)

زید ﷺ وائي چه دوئ ما ته دلیلونه وئیل وئیل نو زما ذهن هم الله تعالىٰ کولاؤ کړو هغې خبرې ته چه ددې دواړو ذهن ئې کولاؤ کړے وو،

(دے خلکو به دلیلونو ته غوږ کیخودو)

زید ﷺ فرمائي : نو بس زهٔ شروع شوم، قرآن کریم مې راجمع کولو د هډوکو (چارې ګانو) او څرمنو او بعض کاغذونو او د قاریانو د سینو نه، او چا له چه به ورغلم او آیت به ورسره پروت وو نو دوه ګواهان به مې پرې پیش کول چه تاسو راشئ ګواهي وکړئ چه د رسول الله ﷺ مخامخ دا قرآن لیکلې شوید ے، هغوی به وویل چه مونږ ګواهي ورکوو چه آؤ، دا آیت د رسول الله ﷺ مخامخ ولیکلې شو. دا ګواهي ئې د ډیر احتیاط په بنیاد کوله.

(زید بن ثابت ﷺ ته خپله هم په یادو قرآن یاد دے لیکن په یادو باندې اکتفاء نهٔ کوي

Maktaba Tul Ishaat.com

بلکه دے کښې کله نا کله تقدیم او تاخیر واقع کیږی نو د لیکلو نه ئے ولیکل)۔

(او زید بن ثابت ﷺ هغه ذهین صحابی دے چه رسول الله ﷺ ورته یوه ورځ وویل چه د یهودو د طرف نه مونږ ته په عبرانئ ژبه کښې خطونه راځی او مونږ په هغے نهٔ پوهیږو، بیرته ئے یهودو له ورو او هغوی راته ترجمانی کوی نو داسے نهٔ چه غلطه ترجمه وکړی نو تهٔ لاړ شه عبرانی ژبه یاده کړه،

زید ﷺ وائی: زهٔ لاړم د یهودیانو خوا ته او د هغوی نه مے په پنځلسو ورځو کښې عبرانی یاده کړه۔

په پنځلسو ورځو کښې پردئ ژبه زده کول انتهائی ذهانت او لویه کارنامه ده چه ددے مثال نهٔ ملاویږی، دا د صحابه کرامو رضوان الله علیهم اجمعین کمال ذهانت وو)

زید ﷺ وائی چه ما قرآن پدے طریقه راجمع کولو تردے چه ما د سورت توبے آخری آیت د ابوخزیمه انصاری صحابی ﷺ سره وموندو چه هغهٔ سره لیکلے شوے وو د بل هیچا سره نهٔ وو۔

(ددے دا مطلب نهٔ دے چه ګنے دغه آیت نور چا ته نهٔ وو یاد بلکه مطلب دا دے چه د لیکلو شکل کښې صرف د هغهٔ سره پروت وو او نور آیتونه ډیرو خلکو سره پراتهٔ وو)

هغه آیت دا دے: ﴿لَقَدْ جَاءَكُمْ رَسُولٌ مِنْ أَنْفُسِكُمْ عَزِيزٌ عَلَيْهِ مَا عَنِتُّمْ حَرِيصٌ عَلَيْكُمْ بِالْمُؤْمِنِينَ رَؤُوفٌ رَحِيمٌ﴾ تر آخر د سورت براءت پورے۔

نو قرآن کریم په دغه زمانه کښې صرف راجمع شو او ترتیب ئے ورله نهٔ وو ورکړے، اګرکه ترتیب د سورتونو د مخکښې نه معلوم وو، خو دلته صرف ددے دپاره راجمع شو چه قرآن ضائع نشی،

دغه صحیفے د ابوبکر صدیق ﷺ په کور کښې پرتے وے، بیا چه کله عمر فاروق ﷺ خلیفه شو نو د هغهٔ په کور کښې وے، عمر ﷺ چه کله شهید شو نو بیا د هغهٔ د لور ام المؤمنین حفصه رضی الله عنها سره پرتے وے،

بیا چه کله عثمان ﷺ خلیفه شو نو په هغه زمانه کښې یو بل اختلاف پیدا شو چه قرآن کریم کښې به مختلف قراء تونه کیدل نو کیدے شی چه د امت پکښې اختلافات راشی نو هغهٔ قرآن کریم په یو قراء ت باندے ولیکلو۔

او داسے ترتیب ئے ورله ورکړو کوم چه نن زمونږ په لاسونو کښې موجود دے، ددے

Maktaba Tul Ishaat.com

صحابه کرامو د لیکلو د وجه نه قرآن کریم کښې څه تغییر او تبدیل نهٔ دے راغلے بلکه دوئ کمال کړیدے، او امت ته ئے ډیر خیر رسولے دے،

که دا ئے نهٔ وے کړے نو قرآن به ضائع شوے وے، یا به د خلکو ډیر اختلافات پیدا کیدلے، په دغه طریقه باندے قرآن کریم په امت کښې پاتے دے، او تر قیامته پورے به باقی پاتے وی، قیامت ته نزدے زمانه کښې به ئے الله تعالیٰ بیرته خپل ځان ته اُوچتوی چه انسانان به سهار راپاڅیږی یو آیت به هم ورته یاد نهٔ وی، د سینو نه به ئے هم واخلی او د پاڼړو نه هم، نو ځکه حدیث کښې راځی چه دا قرآن ډیر وایئ داسے ورځ به راشی چه بیا به درنه هیر شی)

نو ابوبکر صدیق ﷛ په خپل دور خلافت کښې د مرتدینو سره جنګونه او هغوی بیرته اسلام ته راواپس کړل او د قرآن جمعه کولو په شان لوئی کارنامے وکړے.



د عَمَان او مَهَرَه والو سره جنګونه

د لَقِيط بن مالک سره جنګ :

هرکله چه ابوبکر صدیق ﷛ خالد بن ولید ﷛ لره د بنو حنیفه ؤ د جنګ نه فارغ کړو نو عکرمه بن ابی جهل ﷛ ئې عُمان ته ولیږلو او بیا ئې مهره علاقې ته ولیږلو،
(عُمان نن صبا په اردن کښې واقع دے او مَهَرَه په سلطنت د یمن کښې چه دا د یمن آخری حدودو کښې واقع دے، د یمن نه په مشرقی طرف کښې واقع دے، او د عمان سره په غربی حدودو پیوسته دے، او عمان د مدینې منورې نه (۹۰۸) کیلو میټره جدا دے).
د عُمان او بحرین خلك په اتم (۸) کال د هجرت کښې د رسول الله ﷺ په دعوت او ډیر خلك د هغۀ د استازی علاء بن حضرمی ﷛ په دعوت باندے اسلام ته بغیر د جنګ نه راغلی وو، او د هغه ځائے باقیمانده خلك چه زردشتیان او یهودیان وو په جزیه ورکولو سره په خپل دین باندے پاتې وو.
نو د رسول الله ﷺ د وفات نه روستو د عمان او د بحرین خلك کښې په فتنه د ارتداد کښې اخته شول نو ډیرے قبیلې د عربو چه اسلام ئې قبول کړے وو بیرته خپل دین ته واپس شوے.

[ابن کثیر ٥/٦٩ و٦/٣٢٩، ابن خلدون ١/٤٩٠] .

او عمان والو ته رسول الله ﷺ عمرو بن عاص ﷛ په اتم کال د هجرت لیږلے وو نو د هغه ځائے بادشاه جَیْفَر او عبد ځامن د جُلَندی دواړو ایمان راوړو او نورو خلکو هم، دلته د اَزْد قبیلے خلك او نور عرب وسیدل چه د حجاز او نور عربستان نه شمالی حجاز او عربستان یعنی سواحل او جزایر د خلیج فارس ته ئې هجرت کړے وو او په عمان کښې وسیدل. (ابن اثیر ۱۳۷۱/۷).
په عمان کښې یو سړے پیدا شوے وو د اَزْد قبیلے نه چه د هغۀ لقیط بن مالك الازدی

نوم وو، ذو التاج (تاجدار بادشاه) ئے لقب وو، دۀ به په جاهلیت کښے د جَیُفَر بن الُجُلَنُدی سره مقابله او مفاخره او سیالی کوله، یعنی دِ هغۀ په شان تاجدار بادشاه وو، او جیفر جلندی د عمان علاقے بادشاه وو،

نو پدے کښے لقیط بن مالك د نبوت دعوه وکړه او د اسلام نه مرتد شو او په جیفر بن جلندی ئے حمله وکړه نو هغۀ ترے غرونو او دریاب غاړے ته وتښتیدو نو دۀ په عمان غلبه وکړه۔

جیفر ابوبکر صدیق ﷛ پسے استازی ولیږل چه د هغۀ نه ئے په جلتئ سره مدد طلب کولو،

نو ابوبکر صدیق ﷛ حُذیفه بن مِحُصَن الُغَلُفَانی ﷛ ولیږلو، کوم چه د حِمُیر قبیلے نه وو،

او دلته ئے عَرُفَجَه بارقی اَزُدِی رضی الله عنه "مَهرَه" علاقے ته ولیږلو او دواړو ته ئے وویل چه تاسو کله عُمان ته نزدے شوئ نو د جیفر سره به ملاویږئ او د هغۀ سره به مدد کوئ نو دواړه خپل خپل کار طرف ته روان شو، یعنی حذیفه ﷛ "عمان" ته او عرفجه ﷛ "مَهرَه" ته روان شو۔

او ددے نه وړاندے ابوبکر صدیق ﷛ عکرمه ﷛ لره مسیلمه الکذاب پسے "یمامے" ته لیږلے وو او د هغۀ پسے ئے شرحبیل بن حسنه رضی الله عنه لیږلے وو او دواړو ته ئے دا حکم کړے وو چه کله تاسو د "یمامے" نه فارغ شوئ نو یمن ته به ورځئ،

نو حذیفه او عرفجه رضی الله عنهما لا عمان ته نۀ وو رسیدلی چه دلته ورته عکرمه ﷛ راورسیدو، نو ټول په شریکه روان شو، هرکله چه "رَجَام" علاقے ته ورسیدل چه دا عمان ته نزدے ځائے دے، نو دوئ د "جیفر" او د هغۀ د ورور "عبد" پسے کسان ولیږل چه مونږ ستا مدد ته راغلی یو۔

نو دلته لقیط بن مالك ته پته ولګیده چه ما پسے لښکر راغلے دے نو هغۀ خپل فوجونه راجمع کړل او "دَبَا" علاقے ته راووتو او هلته ئے فوجونه کینول۔

(دَبَا په عمان کښے یوه قصبه (علاقه) ده، ددے ځائے خلکو یو وفد رسول الله ﷺ ته راغلے وو او هغوی ایمان راوړے وو او رسول الله ﷺ په هغوی باندے حذیفه بن محصن غلفانی ﷛ والی مقرر کړو، بیا د رسول الله ﷺ د وفات نه پس ددے ځائے

Maktaba Tul Ishaat.com

خلك مرتد شول)

او دلتـه "جیـفـر" او "عبد" د خپلو ځایونو نه راروان شو نو "صُحار" علاقه کښې ئے فوجونه ځائے په ځائے کړل،

او دواړو د حـذیـفه او عکرمه او عرفجه رضی الله عنهم پسے جواب ولیږلو نو هغوی دے دواړو تـه راغـلـل، او دویٔ د لـقیط سره چه کوم بعض مشران وو هغوی ته ئے د مدد درخواست وکړو نو هغوی قبول نکړو۔

نـو دلته په "دَبَا" کښے دواړو ډلو سخت جنګ وکړو چه په هغے کښے لقیط او د هغهٔ ملـګـری په مسلمانانو باندے غالبه راغلل او مسلمانانو په ځان کښے نقصان ولیدو او مشـرکـانـو کـامیـابـی، نزدے وه چه مسلمانان په شا تلی وے لیکن الله تعالیٰ دویٔ ته دا مدد راولیږلو، چه د یو ځائے نه بل ځائے نه مسلمانان راغلل لکه دلته بنو ناجیه د خپل مشر خِرّیت بن راشد ﷺ سره پـه تیـزیٔ سره د مسلمانانو مدد ته راغلل او عبد القیس قبیله راغلله چه د هغوی مشر سَیحان بن صُوحان ﷺ وو،

هـرکـلـه چـه دویٔ راورسیـدل نـو الله تـعـالیٰ مسلمانان قوی کړل نو دویٔ په مرتدینو بـانـدے سـخـتـه حـمله وکړه چه الله تعالیٰ په هغوی باندے رعب راوستو او شا ئے راواړه ولـه، مسـلـمـانانو د هغوی نه پدے معرکه کښے تقریباً لس زره (۱۰۰۰۰) کسان قتل کـړل او د هـغـوی نـه ئـے مـاشـومـان او زنانه ونیولے او د هغوی مالونه ئے تقسیم کړل او خُـمـس (پـنـځـمـه حصه غنیمت) ئے ابوبکر صدیق ﷺ تـه د عرفجه ﷺ سره ولیږلو، د خُمس اندازه اته سوه (۸۰۰) کسان وو۔

بیا عکرمه ﷺ د هغوی نه راواپس شو۔ او حذیفه بن محصن غلفانی ﷺ هلته کښے پاتے شو چه خلك ئے په آرام کول او د نظام حفاظت ئے کولو۔

[تاریخ الطبری : ۲/۲۹۲، البدایة والنهایة : ٦/۳۳۰، الاصابة : ۲/٤٥]

Maktaba Tul Ishaat.com

د مهره والو سره جنگ

بیا هرکله چه عکرمه بن ابی جهل ﷺ د عمان نه فارغ شو نو د هغه ځائے نه "مَهَره" علاقے ته لاړل چه دا د یمن (حضرموت) او د عُمان ترمینځ د بحر هند په غاړه واقع دے، او د بنو ناجیه او عبد القیس او راشد او سعد قبیلو فوجونه ورسره وو،

هلته په مَهَرَه علاقه کښے دوه کسان وو، یو مُصبح او بل شَخُرِیت، دواړو سره دوه غټ غټ فوجونه وو، د مُصبح فوج ډیر زیات وو،

د دے دواړو خپل مابین کښے اختلافات وو، نو د جنگ نه مخکښے عکرمه ﷺ شخریت ته دعوت ورکړو نو هغهٔ خبره ومنله او اسلام ئے قبول کړو او شخریت راغے د عکرمه ﷺ سره ملگرے شو، الله تعالیٰ پرے د دوئ فوج قوی کړو،

بیا ئے مُصبح پسے کسان ولیږل چه هغهٔ ته ئے د اسلام دعوت ورکولو او سمع او د طاعت، لیکن هغهٔ خبره نهٔ منله، په ډیروالی د خپل فوج باندے دهوکه وو، او دارنگه د شخریت د دشمنئ د وجه نه هم۔

نو بس عکرمه ﷺ او شخریت دواړو په خپلو فوجونو سره د مصبح او د هغهٔ د فوج سره داسے جنگ شروع کړو چه هغه د مخکښے "دبا" د جنگ نه هم زیات سخت وو، بیا الله تعالیٰ فتح راولیږله،

نو مرتدینو شکست وکړو او مصبح الله تعالیٰ هلاك کړو، او د هغهٔ څه ملگری ووژل شول او زیات پکښے وتښتیدل، او مسلمانانو د دوئ نه ډیر غنیمتونه ونیول چه دوه زره (۲۰۰۰) پکښے کرهٔ اُوښے وے، او ددے نه عکرمه ﷺ خُمس ابوبکر صدیق ﷺ ته د شخریت سره ولیږلو نو پدے طریقه سره د عکرمه ﷺ دبدبه زیاته شوه او مرتدین بیرته په اسلام کښے داخل شول۔

[تاریخ الطبری : ۲۹۳/۲، البدایة والنهایة : ۲۳۱/٦]

دا ټولے علاقے فتح شوے او د رسول الله ﷺ په زمانه کښے چه کوم امیران وو هغوی بیرته خپلو خپلو ځایونو ته واپس شو،

Maktaba Tul Ishaat.com

د عربو علاقه تهوله هموار شوه او تهول د الله تعالیٰ او د رسول الله ﷺ تابعدار وګرځیدل، که څوك دننه په زړهٔ کښې خراب وو نو هغوی ښکاره نهٔ وو، لیکن د ارض العرب عام خلك د خلافتِ اسلامیه د لاندې راغلل، تر یمن، تر یمامه او تر بحرین او عمان پورې خلك په اسلام کښې داخل شول۔

پدې کښې بیا د ابوبکر صدیق ﷛ د طرف نه دوه امرونه وشو، یو علاء بن الحضرمی ﷛ ته چه تهٔ بحرین ته لاړ شه، او هغه چه بحرین ته تلے دے او هلته د هغهٔ کوم عجیبه کرامتونه ښکاره شویدی، بیا ئے خالد بن ولید ﷛ ته حکم کړیدے چه د عراق والو سره مقابله وکړه۔

د عراق نه چه فارغ شو نو بیا ئے شام ته لیږلے دے چه په هغے کښې د یرموك غزا راغلے ده، او د دُومة الجَندل غزاګانے راغلی دی چه د هغے خلاصه به په آینده صفحو کښې پیش کولے شی، ان شاء الله تعالیٰ۔

ابوبکر صدیق ﷛ کومو حالاتو سره مخامخ وو؟

مخکښې بیان شو چه ابوبکر صدیق ﷛ جنډے جوړے کړے او مختلفو علاقو ته ئے مجاهدین ولیږل او دا جنډے ئے ورله ورکړے، د ابوبکر صدیق ﷛ په خلاف کښې مختلف قسم خلك وو، یو مرتدین عن الاسلام وو، (هغه خلك چه اول ئے اسلام منلے وو بیا ترے آوړیدلی وو یا کلًا یا بعضًا)۔

دویم نمبر د مسلمانانو په مقابله کښې رومیان نصاریٰ دی چه اصل مرکز ئے روم دے لیکن تر شام پورې دوئ رارسیدلی دی او د شام علاقے هم د دوئ په قبضه کښې دی،

دریم: نصاریٰ العرب۔ په عربو کښې هغه خلك چه د رومیانو د اثر د وجه نه نصاریٰ شویدی، د هغوی مقابله هم وه، ګویا که تهوله دنیا ورته سور اُور شویدے۔

دے خوا په عراق کښې تر بصرے او اُبله علاقے پورې د ایرانیانو (فارس والو) چه مجوسیان (آتش پرست) دی د دوئ حکومت دے، او دا په هغه زمانه کښې ډیر لوی طاقت والا وو لکه رومیان چه څنګه طاقت والا وو،

لکه پدے زمانه کښې د امریکه او د روس په شان۔ څکه چه د روم او فارس ملکونه

هم غټ وو او الله رب العالمین ورله طاقتونه هم ډیر ورکړی وو۔

نو ددے تولو خلکو مقابله کول وو په لږو صحابه کرامو باندے چه په مدینه او ددے په ماحول کښے یا په جزیرة العرب کښے وسیدل۔

د ظاهری حالاتو مطابق د دغه سُپر طاقتونو وهل په داسے کمو او لږو وسائلو والا خلکو باندے ډیره گرانه خبره بلکه ناممکن ته نزدے وه۔

لیکن الله رب العالمین غوښتل چه زۀ به خپل دین غالبه کوم نو دا مسلمانان چه به کوم ځائے ته لاړل نو الله تعالیٰ به ورله فتح ورکوله ددے وجه نه که په حروب الردة کښے گورے نو د مرتدینو سره چه کوم جنگونه شویدی نو هر ځائے ته چه صحابه کرام ورغلی دی نو الله تعالیٰ ورله فتح ورکړیده اگرکه لږ شان تکلیف به وو، بیا به غلبه وه، سم کرامتی احوال دی،

که په عراق کښے په فارس والو باندے ورغلی دی، نو هر ځائے کښے ئے فتح موندلے ده او که بیا د رومیانو مقابله ئے کړیده نو هلته هم ورله الله تعالیٰ ناشنا فتحے ورکړیدی، ددے وجه نه د ابوبکر صدیق ﷺ خلافت ډیر لږ وخت وو، (دوه دوه نیم کاله) لیکن پدے کښے الله عز وجل ورله ډیرے فتحے ورکړیدی چه مختلف ځایونه ئے فتح کړل۔

Maktaba Tul Ishaat.com

د بحرین والی علاء بن الحضرمی رضی الله عنه قصه او د بحرین والو ارتداد:

الله تعالیٰ خو د خالد بن ولید رضی الله عنه په وجه بنو حنیفه ووهل او دغه مرتدین څه مردار شو او لږ خلك او خاصکر کشزان او زنانه الله تعالیٰ اسلام ته راوستل۔

خالد بن ولید رضی الله عنه لا په دغه ځائے کښې دے چه دلته یو بل صحابی دے، علاء بن الْحَضْرَمِی رضی الله عنه مشهور صحابی دے د نبی صلی الله علیه وسلم په زمانه کښې به هم په بحرین باندے امیر مقرر وو، مخکښې تیر شو چه بحرین والو بغیر د جنګ نه ایمان راوړے وو۔

په حدیث کښې راغلی دی چه په یو وخت کښې علاء بن الحضرمی رضی الله عنه د بحرین نه جزیه راتوله کړه کوم کسان چه پکښې کافر وو او زکاۃ ئے هم راوړو د مسلمانانو نه۔

یو لاکهـ (۱۰۰۰۰۰) درهم ئے راولیږل۔ مسجد نبوی کښې نبی صلی الله علیه وسلم دا پیسے واچولے ځکه چه په دغه زمانه کښې بیت المال نۀ وو چه په هغے کښې ئے کیږدی،

نو سهار مانځه له نبی صلی الله علیه وسلم راووتو او دے پیسو ته ئے ونۀ کتل او همداسے پرے تیر شو او په مانځه باندے ودریدو، جُمعے نه چه فارغ شو،

نو وے کتل چه پدے ورځ باندے ډیر خلك مانځه له راغلی دی، نورو جُماتونو نه هم ملګری دلته جُمعے له راغلی دی، رسول الله صلی الله علیه وسلم مُسکے شو او وے فرمایل: شاید چه تاسو د علاء بن الحضرمی رضی الله عنه په باره کښې آوریدلی دی چه دۀ مالونه راوړیدی نو ځکه داسے ډیر راغلی یئ (او دا د انسانانو مزاج دے چه کوم ځائے پیسے تقسیمیږی نو هلته ډیر ځی اګرکه مسلمان وی، مسلمان هم د پیسو سره مینه لری، نو هغوی به دروغ نۀ وئیل) نو انصارو ورته ووېل چه [اَجَلْ یَا رَسُوْلَ اللّٰهِ]

آؤ اے د الله رسوله! مونږ همدے له راغلی یو۔

(مال راغلے دے او د الله تعالیٰ نبی ئے تقسیموی چه مونږ هم پکښې برخه واخلو)

نو رسول الله صلی الله علیه وسلم (به همیشه ذهن سازی کوله) وے فرمایل:

[اَبْشِرُوْا فَوَ اللّٰهِ لَا الْفَقْرَ اَخْشٰی عَلَیْکُمْ]

خوشحاله شئ زما امته، قسم په الله تعالیٰ زهٔ په تاسو باندے د فقر نه نهٔ یریږم، (چه زما امت به د غریبئ نه مړ شی، لکه اُوسه پورے الله تعالیٰ چا لره د لوږے نه نهٔ دے وژلے مګر دا چه الله تعالیٰ عذاب راوستے وی، هغه جدا مسئله ده)

[وَلٰکِنِّیْ اَخْشٰی اَنْ تُبْسَطَ عَلَیْکُمُ الدُّنْیَا فَتَنَافَسُوْهَا کَمَا تَنَافَسُوْهَا فَتُهْلِکَکُمْ کَمَا اَهْلَکَتْهُمْ] [الترمذی : ۲٤٦۲، ابن ماجه : ۳۹۹۷، صحیح]

لیکن زهٔ ددے نه یریږم چه په تاسو به دنیا فراخه شی نو تاسو به د دنیا سره داسے مینه وکړئ لکه چه پخوانو (یهودیانو) چه ورسره مینه کړے وه، نو تاسو به داسے تباه کړی لکه څنګه ئے چه هغوی تباه کړی وو۔

(دے حدیث کښے یوه عجیبه خبره ده چه د دنیا د فراخئ باره کښے به سړے وائی چه دا پوره نعمت دے لیکن مینځ کښے هغه یو مصیبت هم دے، دنیا چه درباندے فراخه شوه نو زړهٔ به دِے سخت شی او تکبر به درکښے پیدا شی، خواهشات به دِے زیات شی او د دنیا سره به دِے مینه پیدا شی، د بنګلے، نیے سورلئ، د یو وادهٔ په ځائے به د دوو او د دریو او څلورو کوشش کوے، یو ځائے بل ځائے به ګرځے نو قیمتی اوقات به دِے ضائع کیږی، د غلطو خلکو سره به دِے ناسته پاسته جوړیږی نو اکثر خلك د دنیا په فراخئ سره هلاکیږی۔

د عمر فاروق ﷺ په زمانه کښے چه کله فتحے وشوے او د کسریٰ مالونه او خزانے راوړے شوے نو هغهٔ وژړل او وے فرمایل :

[لَا یَفْتَحُ اللّٰهُ هٰذَا عَلٰی قَوْمٍ اِلَّا جَعَلَ اللّٰهُ بَأْسَهُمْ بَیْنَهُمْ]

کله چه الله تعالیٰ په کوم قوم باندے دا مالونه رافراخی کړی نو بیا د دوئ خپل مابین کښے جنګ جګړے پیدا کړی۔

د دنیا مثال داسے دے لکه دوه سپی په لاره روان وی، یو بل ته څه نهٔ وائی خو کله چه مینځ ته هډوکے راشی نو یو وائی چه دا زما دے او بل وائی چه دا دِے زما شی نو یو په بل غږم وکړی، دنیا چه کله مینځ ته راشی نو بیا د ښو مسلمانانو هم د یو بل سره بے محبتی او د یو بل غیبتونه او سپکاوے پیدا شی۔

Maktaba Tul Ishaat.com

ددے وجه نه د شیطان کوشش په موحدینو باندے دا وی چه د دنیا په محبت کښے ئے ورننباسی، ځکه چه دویٔ خو هسے هم شرك نهٔ کوی نو دِ شیطان کوشش دا وی چه دویٔ د دنیا په محبت کښے ورننباسی چه ددے په وجه به د الله تعالیٰ نه لږ جدا شی اګرکه ډیر جدا نشی، او شیطان پدے هم خوشحالیږی چه سړے د الله تعالیٰ نه لږ غونته جدا شی۔

بیا رسول الله ﷺ دغه جزیه او مالونه په صحابه کرامو رضوان الله علیهم اجمعین باندے تقسیم کړل او لږ ساعت لا تیر شوے نهٔ وو چه په همدغه ځائے ئے ټول ختم کړل۔



د بحرین والو د ارتداد قصه

د بحرین والو د ارتداد قصه دا ده چه رسول الله ﷺ د بحرین بادشاه (مُنْذِر بن سَاوِیٰ الْعَبْدِی) ته علاء بن الحضرمی ﷛ ور لیږلے وو نو هغهٔ د علاء ﷛ په لاس ایمان راوړو او علاء ﷛ په هغوی کښے وسیدو، اسلام او عدل ئے په هغوی قائم کړو، بیا هرکله چه رسول الله ﷺ وفات شو نو منذر د هغهٔ پسے نزدے وخت کښے وفات شو۔

د منذر د مرض الوفات په وخت کښے د هغهٔ سره عمرو بن العاص رضی الله عنه حاضر وو، نو منذر د هغهٔ نه تپوس وکړو چه اے عمرو!

[هَلْ كَانَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ يَجْعَلُ لِلْمَرِيْضِ شَيْئًا مِنْ مَالِهِ ؟]

آیا رسول الله ﷺ مریض دپاره د خپل مال نه د څه وصیت حق مقرر کړے؟ یعنی آیا مریض په خپل مال کښے د مرض الوفات په وخت تصرف کولے شی؟ عمرو بن العاص ﷛ ورته ووئیل: آؤ، دریمه برخه مال کښے تصرف کولے شی۔

منذر ووئیل: زهٔ به په دریمه برخه مال څه وکړم؟ عمرو بن العاص ﷛ ورته ووئیل:

[إِنْ شِئْتَ تَصَدَّقْتَ بِهٖ عَلٰى أَقْرِبَائِكَ وَإِنْ شِئْتَ عَلَى الْمَحَاوِيْجِ]

که ستا خوښه وی نو په خپلو خپلوانو ئے صدقه کړه او که خوښه دِے وی نو محتاجو غریبانو ته ئے ورکړه۔

Maktaba Tul Ishaat.com

او که ستا خوښه وي نو د خپل ځان نه روستو وقف وګرځوه چه بل څوك پکښې تصرف نشي کولے۔ نو منذر ووئیل : زۀ دا بده ګنړم چه زۀ دا مال د بحیرې او سائبې او وصیلې او حام په شان وګرځوم (یعنی لکه څنګه چه مشرکانو دا څاروي د بتانو په نوم وقف کړیدي چه څوك پرې سورلي وغیره نشي کولے) لیکن زۀ به دا صدقه کړم۔

نو هغه دریمه حصه مال صدقه کړو۔

او بیا مړ شو۔ (رضی الله عنه) نو عمرو بن العاص رضی اللہ عنہ به د هغۀ ددې کار نه تعجب کولو۔

نو هرکله چه مُنذر مړ شو نو بحرین والا مرتد شو او ځانله ئې خپل مشر منذر بن نعمان بن مُنذر مقرر کړو چه ددۀ لقب "غرور" وو۔

(کله چه دۀ روستو ایمان راوړو نو دۀ به وئیل زۀ غرور نۀ یم بلکه مغرور یم، یعنی دهوکه کړے شوے وم)

او ددې ځائے خلکو هم دا خبره وکړه چه که محمد (ﷺ) نبي وے نو نۀ به مړ کیدے۔

د بحرین عام کلي مرتد شو سوئ د یو کلي نه چه هغې ته جُواثیٰ وائي،

په صحیح بخاري کښې راغلي دي چه د مرتدینو په زمانه کښې یو مسجد نبوي کښې د جُمعې مونځ کیدو او بل په جُواثیٰ کښې کیدو، او عامو عربو کښې نۀ کیدو، ځکه چه عام خلك آوړیدلي وو او کوم کسان چه مسلمانان وو نو د هغوي وس نۀ کیدو چه د جُمعې مونځ وکړي،

وجه دا ده چه مشران اکثر کافران شوي وو، د جُمعې مونځ چا نشو کولے۔

او د جُواثیٰ والا په ایمان باندې د باقي پاتې کیدو وجه دا وه چه په جواثیٰ کښې یو سړے وو چه د هغۀ علاء بن الجارود رضی اللہ عنہ نوم وو، دا مخکښې زمانه کښې رسول الله ﷺ ته راغلے وو او ایمان ئې راوړے وو او هوښیار (حکیم) انسان وو، دۀ جواثیٰ والا راجمع کړل چه دلته عبد القیس قبیله اُوسیدله۔

(پکار دا ده چه مشر خپل قوم ته هغه خبرې وښائي چه هغه ئې جنت ته راکاږي، او هغه ډیر غلط مشر وي چه خپل قوم داسې خبرو ته راکاږي چه اُور ته ئې بوځي، قیامت کښې به پرې لعنت وائي)

دهٔ خپل قوم ته ووېل چه زهٔ تاسو ته یوه خبره کوم که پو هیدئ نو جواب به راکوئ او که نهٔ پو هیدئ جواب به نهٔ راکوئ، (هسې د ځان نه به خبره نهٔ کوئ)

(د عامو خلکو د ارتداد وجه دا وه چه دائې ووېل چه نبی ﷺ وفات شو که دا نبی وے نو نهٔ به وفات کیدے نو دهٔ هم ددے متعلق خبره وکړه) : دائې ووېل :

آیا د محمد رسول الله ﷺ نه مخکښې پیغمبران راغلی دی او که نهٔ ؟

هغوی ووېل : آؤ، راغلی دی، نو دهٔ ترے تپوس وکړو،

[تَرَوْنَهٗ اَمْ تَعْلَمُوْنَهٗ ؟]

هسې رایه مو ده او که په حقیقت کښې پدے خبره پو هیږئ ؟۔

هغوی ووېل : [نَعْلَمُهٗ] مونږ دا خبره د خپل علم نه کوو چه پیغمبران راغلی دی۔

د آدم علیه السلام د زمانے نه الله تعالیٰ سلسله د نبوت شروع کړیده۔

هغهٔ ترے بیا تپوس وکړو چه هغوی څه وکړل؟ (هغوی څه شو؟)

هغوی جواب ورکړو چه هغوی مرهٔ شویدی، نو دهٔ ورته ووېل چه بس د همدغه خبرے نه عبرت واخلئ،

[فَاِنَّ مُحَمَّدًا ﷺ كَانَ رَسُوْلًا]

نو دغه شان محمد ﷺ د الله تعالیٰ رسول وو او الله تعالیٰ وفات کړو۔

(یعنی وفات په پیغمبر باندے راځی او دا مهٔ وایه چه دا څنګه مړ شو، دے خو څه رب نهٔ دے چه همیشه به ژوندے وی، مرګ الله تعالیٰ په ټول مخلوق لیکلے دے)۔

نو پدے خبره د هغوی ذهن کولاؤ شو، نو دهٔ دا خبره وکړه چه اے خلکو ! تاسو پو هه شئ : [اَنَا اَشْهَدُ اَنْ لَّا اِلٰـهَ اِلَّا اللّٰهُ وَاَنَّ مُحَمَّدًا رَسُوْلُ اللّٰهِ]

چه زهٔ ګواهی ورکوم چه د الله تعالیٰ نه سویٰ بل لائق د عبادت نشته او محمد ﷺ د الله تعالیٰ رسول دے۔

نو دوئ ورته ووېل : [وَنَحْنُ نَشْهَدُ اَنْ لَّا اِلٰـهَ اِلَّا اللّٰهُ وَاَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُهٗ وَرَسُوْلُهٗ]

مونږ هم دغه ګواهی ورکوو۔ بیائې ووېل : [اِنَّكَ سَيِّدُنَا وَاَفْضَلُنَا]

تهٔ زمونږ سردارئې او تهٔ په مونږ کښې غوره يې۔

نو دا خلک په دین اسلام باندے ددے مشر په وجه مضبوط پاتے شول۔

(پدے خبره باندے د ډیرو مرتدینو ذهن خراب شوے وو چه که محمد ﷺ د الله

تعالیٰ نبی وي نو نهٔ به مړ کیدي، لکه پدې خبره باندې زمونږ د زمانې مبتدعین اشاعره او ماتریدیه (حیاتیان) هم نهٔ پو هیږي چه دویٔ دا عقیده لري چه پیغمبران نهٔ مري، او نبي ﷺ په دنیا کښې ژوندي دي خو مونږ ته نهٔ ښکاري، پرده ئې کړیده،

او دا هم وائي چه کله کله زمونږ د بزرګانو سره ملاویږي، بیا هر سړي په وَهُم کښې وي چه کیدې شي ما سره ملاؤ شي او چه کله داسې وهمي شي نو بیا شیطان په داسې خلکو کښې ډیر کار کوي، یو ځائې کښې ورله شیطان په ښکلې شکل او جامو کښې راشي چه اُوږده چوغه ئې اچولې وي او تسبیح ورسره وي

(لکه شیطان سره اویا (۷۰) جالونه د نُور دي) او ځان باندې د پیغمبر نوم کیدی چه زهٔ د الله رسول یم (اګرکه شیطان د رسول الله ﷺ په خپل اصلي شکل کښې نشي راتللې لیکن ځان ته خو رسول وئیلې شي)

نو پدې کښې دا بزرګ راشي او خپلو شاګردانو او مریدانو ته وائي چه ما نبي ﷺ په ویښه باندې ولیدو او لاس ئې راسره ملاؤ کړو، خوله کښې ئې راته لاړې واچولې، نو پدې طریقه به ځان غټ بزرګ ګنړي او مینځ کښې به ورسره بل خوك ملاؤ شوې وي، وجه دا ده چه عقیده ئې غلطه ده، د وهم او شکونو نه جوړه ده، او شیطانانو ته ډیر عجیب چلونه ورځي،

شیخ الاسلام ابن تیمیہؒ لیکي : په بهر لرې ملکونو کښې زما شاګردان وو هغوي ما له راغلل چه مونږ په فلاني یو ځائې کښې بند شوي وو او لاره رانه ورکه شوې وه نو الله تعالیٰ تهٔ مخې ته راوستې او تا مونږ ته هغه لاره راوخودله نو الله دې تا له جزائې خیر درکړي، نو ما ورته وویل چه قسم په الله که زهٔ دغه ځائې ته تلې یم، یا ما تاسو ته لاره خودلې وي، دا شیطان وو زما په شکل راغلې وو، تاسو ئې زما په باره کښې ګمراه کولئ چه ستاسو د استاذ په باره کښې دا عقیده جوړه شي چه دا حاضر ناظر دې او هر ځائې ته حاضریږي، او خلکو سره مددونه کولې شي۔

الغرض د انبیاؤ علیهم السلام په باره کښې داسې عقیده ساتل چه دویٔ په دنیاوي ژوند سره ژوندي دي او په دنیا کښې ګرځي راګرځي او خلکو سره مددونه کوي، دا شرکي او بدعي عقیده ده۔

کتاب او سنت او مشاهده او تاریخ پدې ګواه دې چه رسول الله ﷺ وفات شویدې۔

Maktaba Tul Ishaat.com

او د برزخ جدا ژوند دے، په هغې کښې خو د انبیاء علیهم السلام او شهیدانو ناشنا ژوند دے چه د نورو خلکو نه جدا دے، ډیرے مزے حاصلوی۔ انسانان د هغوی په ژوند نهٔ پو هیږی۔ که د یو سړی عقیده خرابه وی نو اعمال ئے نهٔ قبلیږی)

الغرض: علاء بن الجارود ﷺ خلك بیرته په اسلام باندے کلك کړل نو بیا په دوئ امتحان راغے او هغه دا چه د بحرین نورو مرتدینو په دوئ باندے حمله وکړه او دوئ ئے ډیر سخت محاصره کړل، تردے چه په دوئ باندے خرچه بنده شوه، او د طعام راتلل او هر څه پرے بند شو او د قتال په حالت کښے شو، نزدے وه چه د لوږے نه دا خلك مړهٔ شوی وے، لیکن الله تعالیٰ پرے لږ وخت پس آسانی راوسته۔

ابوبکر صدیق ﷺ ته ئے جواب ولیږلو او شعرونه ئے هم ورولیږل چه مونږه محاصره شوی یو او مونږ نزدے ده چه د لوږے نه مړهٔ شو او بیرته په اشعارو کښے ئے خپل ځان ته د صبر تلقین هم وکړو چه مونږ صبرناك خلك یو او د الله تعالیٰ مدد د صبرناکو سره وی،

د بنو بکر بن کلاب قبیلے یو تن عبد الله بن حذف داسے اشعار ووئیل :

اَلَا اَبْلِغْ اَبَا بَكْرٍ رَسُوْلًا	۞	وَفِتْيَانَ الْمَدِيْنَةِ اَجْمَعِيْنَا
فَهَلْ لَّكُمْ اِلٰى قَوْمٍ كِرَامٍ	۞	قُعُوْدٍ فِىْ جُوَاثٰى مُحْصَرِيْنَا
كَاَنَّ دِمَائَهُمْ فِىْ كُلِّ فَجٍّ شُعَاعُ	۞	الشَّمْسِ يُغْشِى النَّاظِرِيْنَا
تَوَكَّلْنَا عَلَى الرَّحْمٰنِ اِنَّا	۞	وَجَدْنَا الصَّبْرَ لِلْمُتَوَكِّلِيْنَا

[تاریخ الامم للطبری : ۲/۲۸٦]

خبردار، ابوبکر صدیق (ﷺ) ته استازے ولیږه او د مدینے ټولو ځوانانو ته، آیا ستاسو پدے خبره کښے مینه شته چه د هغه عزتمن قوم مدد وکړئ چه په جواثا علاقه کښے بند کړے شوی ناست دی۔

ګویا که د هغوی وینه په هره لاره کښے د نمر د شعاعو (پلوشو) په شان ده چه کتونکی شبکور کوی (ړندوی)۔ مونږ په رحمن ذات توکل کړے ځکه چه مونږ موندلی دی چه توکل کونکی صبرناك وی۔

نو لږ وخت روستو الله تعالیٰ دوئ ته مدد راولیږلو او هغه پدے طریقه :

Maktaba Tul Ishaat.com

چه علاء بن الحضرمی ﷺ ته ابوبکر صدیق ﷺ جنډه ورکړه چه ته لاړ شه او د بحرین والو مقابله وکړه تردې چه دوئ بیرته اسلام ته واپس شی، علاء ﷺ جنډه راواخسته او خپلو ملګرو سره بحرین ته روان شو،

هرکله چه بحرین ته ورنزدې شو نو دهٔ ته ثُمامه بن اثال ﷺ په یو لوی لښکر کښې راغلو، ثمامه بن اثال ﷺ د بنو حنیفهٔ نه یو صحابی دې چه پخوانې مسلمان دې، او د بنو حنیفهٔ مشر دې نو هغه هم د علاء بن الحضرمی ﷺ سره ملګرې شو او د هغهٔ قوم هم ورسره ملګرې شو،

او د دغه علاقو او اطرافو امیران هم ورته راغلل او د علاء ﷺ په فوج کښې داخل شول لکه عمرو، او ابناء، او سعد بن تمیم او رباب قبیلې۔

نو پدې سره الله تعالیٰ د علاء بن الحضرمی ﷺ فوج نور هم مضبوط کړو،

نو علاء ﷺ د دوئ ډیر اکرام وکړو او دوئ ته ئې مرحبا ووئیله، او دوئ سره ئې احسان وکړو، او دا علاء ﷺ خپله د سردارانو علماو او عابدانو صحابه کرامو نه وو چه مستجاب الدعوات هم وو۔

د علاء بن حضرمی ﷺ کرامت

هرکله چه دوئ بحرین طرفته روان شو نو په لاره کښې ئې په یو ځائې کښې پړاؤ واچولو چه هلته ئې دمه کوله او شپه ئې تیره وله نو یو امتحان پرې راغې، دوئ چه کله د اُوښانو نه کوزیدو کښې شو چه د دوئ سامانونه، خیمې او خوراکونه او اُوبهٔ لا په اُوښانو باندې دی نو دې وخت کښې اُوښانو منډه کړه چه دوئ بالکل قادر نهٔ وو د هغوی په رانیولو، او اُوښان د دوئ د سترګو نه غائب شو، ورك شو۔

یو اُوښ هم پکښې نهٔ ښکاره کیدو، داسې ورك شو لکه پیریان چه ورك شی، پدې کښې شپه تیره شوه چه خلکو سره نهٔ سامان شته او نهٔ اُوبه شته او نهٔ خوراك، په خلکو داسې پریشانی او غم راغلو چه د هغې انتهاء نهٔ وه، او چه د هغې بیان نشی کیدې، (دا ډیر سخت حالت دې، داسې دې لکه یو تن چه خپل ځان د دشمن په لاس کښې ورکړی)

Maktaba Tul Ishaat.com

ددې وجې نه خلك شروع شو چه یو بل ته ئې وصیت کولو چه که ته ژوندې پاتې شوې نو زما دا وصیت دې، او دا وصیت دې، تردې چه دوئ مرګ ته نزدې شو ځکه چه غم او پریشانی او لوږه او تنده ده، او ډیره لویه صحراء ده چه کلو ته هم نزدې نهٔ دی، نو پدې کښې خلکو خپل مشر علاء بن الحضرمی ﷺ ته شکایت وکړو چه حالت ډیر سخت دې څه وکړو؟

نو هغهٔ د سهار اذان وکړو او د سهار مونځ ئې وکړو او د مانځه نه بعد ئې ملګری راجمع کړل او هغوی ئې الله تعالیٰ طرفته متوجه کړل،

(او په تکلیف کښې همیشه همدا لاره اختیارول پکار دی چه بنده صرف الله تعالیٰ ته متوجه شي)

نو دوئ ته ئې ووېل چه [اَلَسْتُمْ مُسْلِمِيْنَ، اَلَسْتُمْ فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ ؟ اَلَسْتُمْ اَنْصَارَ اللّٰهِ؟]

آیا تاسو مسلمانان نهٔ یئ؟ آیا تاسو ګڼې د الله تعالیٰ په لاره کښې نهٔ یئ؟ آیا تاسو د الله تعالیٰ د دین مددګار نهٔ یئ؟ نو دوئ ووېل : مونږ خو دا درې واړه یو، نو هغهٔ ډیر یقین او اطمینان والا وو او ډیرو کرامتونو والا وو، هغهٔ ورته ووېل چه

[اَبْشِرُوْا فَوَاللّٰهِ لَا يُخذِلُ اللّٰهُ مَنْ كَانَ عَلٰى مِثْلِ حَالِكُمْ]

خوشحاله شئ قسم په الله، الله تعالیٰ هغه څوك نهٔ شرموی او مدد ئې نهٔ پریدی چه ستاسو په شان حالت ئې وی،

(او دا خبره زمونږ دپاره هم سبق دې چه یو تن دې د الله تعالیٰ په لاره کښې راوتې وی او د الله تعالیٰ د دین مدد دې کوی او بیا دې الله تعالیٰ د هغهٔ سره مدد ونکړی، دا نشی کیدې، او ددې نه دا غلطه فائده مهٔ اخله چه بیا مسلمانان ولې شهیدان کیږی؟

جواب دا دې چه شهادت هم یو مدد دې، او د الله تعالیٰ د طرف نه اکرام دې، چه د دنیا د فتنو نه ئې بچ کړی او سیده ئې جنت ته ورسوی)

بیا ئې ووېل : داسې وکړئ راځئ ټول په شریکه د الله تعالیٰ نه مدد غواړو نو په شریکه ئې دعاء شروع کړه،

(اجتماعی دعاء ګانې بدعت نهٔ دې لیکن د فرض مونځونو یا سنتو نه روستو وخت ورله مقررول او په هغې باندې همیشوالې کول بدعت دې، د اجتماعی دعاګانو په ثبوت باندې دیارلس روایات موجود دی، خو چه کله ورله وخت مقرر نکړی، بلکه کله

Maktaba Tul Ishaat.com

چه ضرورت راغے نو انسان په شریکه دعا کولے شی، نبی ﷺ به دعاء د استسقاء کښے په شریکه باندے لاسونه اُوچتول)

او دا ددے جلیل القدر صحابی او د هغهٔ سره د الله تعالیٰ نور اولیاؤ دعاء ده نو دے دعاء ته به سیده د آسمان دروازے کولاویږی،

او د علاء بن الحضرمی ﷺ طریقه دا وه چه دهٔ به د الله تعالیٰ څه خصوصی نومونه اخستل او د هغے په واسطه به ئے دعاء کوله چه احادیثو کښے دریے څلور نومونه راغلی دی چه داسے به ئے وئیل :

[يَا عَلِيمُ يَا حَلِيمُ، يَا عَلِيُّ، يَا عَظِيمُ]

اے الله ! چه تهٔ په هر څه پوهه ئے، یا اے الله ! چه ډیر صبرناك ئے، اے الله ! چه تهٔ په هرڅه باندے پورته ئے او تول مخلوق ستا نه خکته دے، اے الله ! چه تهٔ د تول مخلوقاتو نه ډیر زیات لوی ئے مونږ ستا نه دا دعا غواړو۔

[اِنَّا عَبِيُدُكَ وَفِيُ سَبِيُلِكَ]

مونږ ستا بندگان یو او ستا په لاره کښے راوتی یو نو مونږ سره مدد وکړه۔

کله به ئے داسے وئیل : [يَا اَرْحَمَ الرَّاحِمِيُنَ]

دے نوم ته هم بعض علماؤ اسم اعظم وئیلے دے چه ددے په وجه خامخا دعاء قبلیږی۔

[يَا حَكِيُمُ يَا كَرِيُمُ، يَا اَحَدُ يَا صَمَدُ، يَا ذَا الْجَلَالِ وَالْاِكْرَامِ، يَا حَيُّ يَا قَيُّوُمُ]

اے الله ! چه ستا په هر کار کښے حکمتونه دی، اے د عزت او شرافت والا ربه !، اے یواځے ربه !، اے بے حاجته ! او د بندگانو حاجتونه پوره کونکیه !، اے د عظمت او عزت والا ذاته !۔ اے ژوندے ذاته ! اے د عالم تدبیر کونکیه !۔

(فائده : د الله رب العالمین په نومونو کښے ډیر لوی طاقت دے او الله رب العالمین ددے په واسطه دعاگانے قبلوی، او احادیثو کښے هم بعض نومونو ته اسم اعظم وئیلے شویدے چه د هغے په ذریعه دعاء وغوښتے شی نو قبلیږی، خو د هغے دپاره شرطونه شته، د هغے پابندی چه انسان وکړی نو بیا ئے دعاء قبلیږی لکه دے صحابی په دغه شرطونو سره دعاء کړیده نو الله تعالیٰ ورله دعاء سمدست قبوله کړیده،

مونږ به اُوس دغه دعاء وکړو لیکن شرطونه به پکښے نهٔ وی نو سمدست به قبوله

نشی نو پدے نو مونږ به بدګمانه کیږے نهٔ، بلکه په ځان به بد ګمانه شے،

یو شرط دا دے چه انسان به انتهائی توجه او اضطرار سره دعاء وکړی چه د الله رب العالمین نه سویٰ هیڅوك دهٔ ته نهٔ ښکاره کیږی، صرف یو الله باندے ئے نظر لګیږی لکه د یونس علیه السلام د ماهی په خیټه کښے صرف په یو الله نظر لګیدو نهٔ په نورو وسائلو او اسبابو۔ نو ددے وجه نه ئے لَا اِلٰــهَ اِلَّا اَنْتَ سُبْحَانَكَ اِنِّیْ کُنْتُ مِنَ الظَّالِمِیْنَ دعاء سمدست قبوله شوه۔

اُوس به مونږ دغه الفاظ ووایو او خیټے به مو ښیے مړے وی او خوب نه به راپاځیدلی یو، نو قبوله به نشی، وجه دا ده چه هغه جذبه او محبت به ستا په دعا کښے نهٔ وی، ځان به دے د دعاء په وخت پریشانه کړے نهٔ وی۔

بل شرط دا دے چه بار بار ئے وغواړه، تهٔ یو حاجت تقریباً درے میاشتے د الله تعالیٰ نه بار بار وغواړه پریده چه تا ته ئے درنکړی بلکه الله تعالیٰ ئے ددے نه هم مخکښے قبلوی)

الغرض علاء بن الحضرمی ﷺ دا دعاء دومره اُوږده کړه چه نمر راوختو، او درے کرته ئے وکړه،

نو دلته الله تعالیٰ د دوئ دوه کرامتونه راښکاره کړل، یو دا چه کوم اُوښان چه تښتیدلی وو نو الله سبحانه تول راوستل، چه هیڅ سامان ترے نے ځائے شوے نهٔ وو، داسے وو لکه پیریان چه ورك شوی وی او بیا راپیدا شی، نو دوئ ډیر خوشحاله شو، او د الله تعالیٰ شکر ئے ادا کړو لیکن دلته د اُوبو کموالے دے،

نو بیا ئے دعاء وکړه چه اے الله ! مونږ له اُوبه راکړه نو دوئ لا لاسونه ختکته کړی نهٔ وو چه وے کتل خوا کښے میدانی علاقه کښے یو غټ حوض جوړ شو،

(او دے ته کرامت وائی)

علاء بن الحضرمی ﷺ امر وکړو چه ورځئ نو په هغے باندے ئے اودسونه وکړل او اُوبه ئے ډکے کړی او خپل تول حاجتونه ئے پرے پوره کړل، او اُوښان ئے پرے بار بار خړوبه کړل۔

پدے جهاد کښے ابو هریره ﷺ هم شامل وو۔

هرکله چه دوئ ددے ځائے نه روان شو نو ابو هریره ﷺ مجاب بن راشدؓ ته وویل :

آیا تهٔ به ددغه اُوبو ځائے وپیژنے؟ هغهٔ وویل : زهٔ ئے پیژنم، ابو هریره ﷺ ورته وویل : ما

Maktaba Tul Ishaat.com

سره ملګرے شه تردے چه ما په هغه ځائے باندے ودروے۔

هغه فرمائي: ما دغه ځائے ته راوستو نو مونږ صرف د باقیمانده ولاړو اُوبو حوض ولیدو، (کوم باندے چه دوئ اودسونه کړی وو او ضائع اُوبه وے او د اُوبو اصلی ځائے ورك شوے وو) نو ما ووئیل قسم په الله که دا ډنډ نۀ وے ما به تا ته خبر درکړے وے چه دا ځائے دے، او ما پدے مکان کښے د نن ورځے نه مخکښے هیڅکله اُوبه نۀ دی لیدلی، او دلته یو تیکه پرته وه، ابو هریره ﷛ ووئیل: قسم په الله دا ځائے دے، او ددے وجه نه ما تۀ راواپس کړے، چه ما دا تیکه ډکه کړے وه بیا مے ددے کنډے په غاړه ایخودے وه، ما ووئیل: که دا د الله تعالیٰ د طرف نه نوے احسان وی نو ما ته به پته ولګی او که دا چینه وی نو هم ما ته به معلومه شی، نو پته ولګیده چه دا د الله تعالیٰ د طرف نه احسان وو۔ نو هغۀ د الله تعالیٰ حمد ووئیلو۔

بیا علاء بن الحضرمی ﷛ په دغه مقام کښے دریمه دعاء د دشمن د ذلیله کولو دپاره وکړه چه اے الله! دشمن ډیر سخت دے مونږ له پرے غلبه راکړه۔

نو ددے ځائے نه چه روان شو مزل ئے کولو تردے چه بله شپه پرے راغله نو "هَجَر" علاقه کښے راکوز شو۔

دلته علاء بن الحضرمی ﷛ د جارود بن العلاء ﷛ پسے کسان ولیږل چه تۀ عبد القیس قبیله ځان سره راروانه کړه او د خپل طرف نه په حُطَم بن ضبیعه باندے راشه او خپله دے د فوجونو سره ددے طرف نه ورغلو نو دلته یو ځائے کښے راکوز شو، لیکن دا پته ورته نۀ وه چه دے علاقه کښے مرتدین دشمنان دی او نزدے دی،

دلته حطم بن ضبیعه ډیر لوی فوجونه راجمع کړی وو، چه دا د قیس بن ثعلبه قبیلے مشر او د سردارانو نه دے، تول مشرکان ورسره ملګری شوی وو سوئ د دارین والو نه۔ (لکه چه روستو راځی)

او دلته د علاء بن الحضرمی ﷛ سره تول مسلمانان یو ځائے شول۔

هرکله چه یو بل ته نزدے شول نو دواړه ډلے د یو بل نه بریدلے، نو مسلمانانو د ځانونو مخے ته خندق وکنستو او مشرکانو خپلے مخے ته خندق وکنستو او دلته به دوئ نوبت په نوبت جنګ کولو او بیرته به خپلو خندقونو ته واپس کیدل، دوئ تر یوه میاشت پورے دلته پدے حالت کښے اُوسیدل۔

نو یوه شپه داسې وشوه چه د ماسخوتن نه روستو وخت شو،
نو علاء بن الحضرمي ﷺ د مرتدینو په لښکر کښې ناکاره آوازونه واوریدل چه تیزې چغې وهلې کیږي نو دهٔ وویل : کوم سړې به مونږ له ددې کسانو خبر راوړي ؟
نو عبد الله بن حذف وویل : زهٔ، نو دې لاړو وې کتل چه دشمنان دی شراب ئې څکلی دی او په دغه حالت کښې خپل مابین کښې خبرې اترې کوي او شوک پکښې تیزې چغې وهي، د نشې په حالت کښې دي، او شوك اُودهٔ پراتهٔ دي،
هغه راغې او علاء بن الحضرمي ﷺ ته ئې حال ووئیلو نو هغهٔ ملګروته وویل چه سمدست تیار شئ نو په اسونو او ښانو باندې کیناستل او په دشمن ئې حمله وکړه او په هغوی کښې ورننوتل او د نشې په حالت کښې ئې په هغوی کښې کوتره ماري وکړه او د ګازرو او د مولو په شان ئې پریکړل، کومو کسانو چه شراب نهٔ وو څکلی نو هغوی په تښتیدو شو، د دوئ مشر، شریف او سردار اَلْحُطَم بن ضبیعه اُودهٔ وو نو هرکله چه په دوئ باندې مسلمانان ناګهانه راننوتل نو هغهٔ په دهشت کښې رابیدار شو نو هغهٔ هم منډه کړه، او اس ته وختلو نو دې وخت کښې رکاب ئې مات شو،
(یعنی کوم څائې باندې چه خپه ږدي او اس ته خیژي هغه مات شو) نو دهٔ خیال وکړو چه دا نزدې خلك زما ملګري دي نو آواز ئې وکړو چه
[مَنْ يُّصْلِحُ لِيْ رِكَابِيْ ؟]
څوك نشته چه ما لره دا رکاب جوړ کړي؟، نو یو صحابي (عفیف بن المنذر التمیمي ﷺ) په شپه کښې ورغې ورته ئې وویل چه زهٔ به ئې درله جوړ کړم نو چه ورنزدې شو نو خپه ئې ورله په توره اُووهله او خپه ئې ترې لرې ګوزار کړه نو هغه خکته راپریوتو، نو دهٔ ورته وویل :
[اَجْهِزْ عَلَيَّ] اُوس مې پوره مړ کړه۔ هغهٔ ورته وویل : دا کار نهٔ کوم۔
بیا به صحابه کرام یو یو په دهٔ ورتیریدل نو دهٔ به ورته وئیل چه ما مړ کړئ نو هغوئ نهٔ وژلو او دا به ئې ورته وئیل چه پریده چه پدې حالت کښې خپله مردار شې،
پدې کښې یو مسلمان پرې ورتیر شو قیس بن عاصم ﷺ نو هغهٔ ته دا پته نهٔ وه چه دا ګنې زخمي دې، نو دهٔ ورته وویل : زهٔ حُطم یم، ما قتل کړه نو هغهٔ قتل کړو،
نو کله ئې چه په څټ ووهلو او مردار ئې کړو نو روستو ئې وکتل چه سړې خو زخمي

وونو بیا ئے وویل چه که ما ته پته وے چه دے زخمي دے نو ما به نهٔ وژلے، پریده چه په خپلو زخمونو کښے مړ شوے وے۔

بیا عفیف بن المنذر ﷺ په دغه خلکو کښے د دوئ بادشاه منذر بن نعمان بن المنذر چه غرور ئے لقب وو ونیولو، نو هغهٔ ته ئے د اسلام دعوت ورکړو هغهٔ اسلام قبول کړو۔

نو دا یوه فتح ورله الله تعالیٰ ورکړه او ددے سبب دا دعا. وه کومه چه علاء رضی الله عنه کړے وه، او دشمن چه کله په ګناه باندے ویني نو داسے حالت کیږي۔

بیا علاء بن الحضرمی ﷺ حکم وکړو چه غنیمتونه راغونډ کړئ نو د هغوی په ټولو مالونو او سامانونو او بوجونو باندے ئے قبضه وکړه او هغه راجمع کړے شول نو ډیر لوی غنیمت جوړ شو، بیا ئے هغه تقسیم کړو، په غنیمت کښے جامے هم نیولے شوے وے نو هغه ئے د نفل (غنیمت نه علاوه برخے) په طریقه هغه مجاهدینو ته ورکړه چه هغوی ډیر تکلیف برداشت کړے وو، او ډیر مصیبت ورته رسیدلے وو۔

پدے کښے ئے ثُمامه بن اثال حنفی ﷺ ته یوه شرئ ورکړه چه پټیداره وه چه هغه به حُطم بن ضبیعه اغوستله او پدے به ئے فخر کولو، بیا هرکله چه ثمامه ﷺ د دارین علاقے د فتح کولو نه راواپس شو (لکه روستو راځي) نو د قیس بن ثعلبه قبیلے خلکو دغه شرئ ولیدله نو ثمامه ﷺ ته ئے وویل : چه تا حطم وژلے دے ؟ هغهٔ وویل : ما نهٔ دے وژلے لیکن ما د غنیمت نه دا شړی اخستے ده۔ نو هغوی پرے راټوپ کړل او ثمامه رضی الله عنه ئے شهید کړو۔

[الکامل فی التاریخ : ۱/۲۷۷، البدایة والنهایة :۶/۳۶۱]

دلته علاء ﷺ دا کار وکړو چه د بکر بن وائل قبیلے نه کوم کسان په اسلام باندے ثابت قدم ولاړ وو چه د هغوی نه عُتَیْبَه بن النهاس او مُثنیٰ بن حارثه الشیبانی ﷺ او نور کسان دی، دوئ ته ئے یو خط ولیکلو چه تاسو د دغه شکست خورده کسانو او مرتدینو دپاره په هره لاره کښے کینئ چه هغوی راځي او تاسو سره په اسلام باندے بیعت کوی (ځکه چه علاء ﷺ خو خپله په جهاد مصروف دے)

نو هغوی دغسے کار وکړو، ډیر خلك راغلل او دین اسلام کښے داخل شول، نو هغوی استازی راولیږل او علاء حضرمی ﷺ ته ئے خبر ورکړو چه مونږ دغسے کار وکړو،

نو هرکله چه علاء ﷺ په امن شو ددې نه چه مرتدین پرې د شا ته نه حمله وکړی نو هغهٔ حکم وکړو چه مونږ به بحرین ته ورځو۔ [تاریخ الطبری : ۲/۲۸۹]

دویم جنگ

ددې نه بعد علاء بن الحضرمی ﷺ اراده وکړه چه د دغه شکست خوړلی دشمنانو پسې همداسې مخې ته ورځو، نو دوئ د دغه مخکنی ځائې نه د غنیمت سامانونه نقل کول شروع کړل،

او بیا مسلمانان د دشمنانو پسې راروان شول، هر ځائې او هره لاره کښې به ئې چه موندل نو قتلول به ئې، نو څه کسان خو خپلو خپلو ښارونو ته وتښتیدل او ډیر کسان د دوئ نه په کشتو کښې دارین علاقې ته واوړیدل، دارین د فارس والو علاقه وه نو دا مرتدین د فارس والو سره ملګری شول۔

دلته د یو نهر نه یو غټ سیند بهیږی چه ددې نه اخوا ددوئ علاقې وې، نو دوئ په کشتو کښې کیناستل او اخوا ته ور واوړیدل، او د کشتو مزل دغه علاقې ته یوه ورځ او یوه شپه وو، دغه مجرمانو ټولې کشتئ وتښتولې او مسلمانان دې خوا پاتې شول۔

اُوس که دوئ پسې ورځی او کشتئ پیدا کوی او اسباب برابره وی نو دشمن به د هغه ځائې نه هم تښتیدلې وی، نو نشی ورپسې رسیدلې،



د علاء بن الحضرمی ﷺ بل کرامت:

نو دلته د علاء بن الحضرمی ﷺ یو بل کرامت ښکاره کړے شو، هغه دا چه ملګرو ته ئے خطاب وکړو:

[قَدُ اَرَاكُمُ اللّٰهُ مِنُ آيَاتِهٖ فِي الْبَرِّ لِتَعْتَبِرُوُا بِهَا فِي الْبَحْرِ، فَانُهَضُوُا اِلَى عَدُوِّكُمُ وَاسُتَعُرِضُوُا الْبَحْرَ]

الله تعالیٰ تاسو ته په اُوچه کښے د خپل قدرت نښے وخودلے دے دپاره چه تاسو ددے نه په دریاب کښے عبرت واخلئ نو خپل دشمن ته راپورته شئ او په دریاب ورداخل شئ۔

او دے نهر ته ئے د نطفے نسبت وکړو او دا ئے ووېل چه دا به مونږ لره څنګه د دشمن پسے د ورتګ نه مانع وګرځیږی، نو په الله تعالیٰ باندے د اعتماد او د توکل د وجه نه ئے دعاء وکړه او هغه دعاګانے ئے وکړے کومے چه مونږ مخکښے ذکر کړے

داسے ئے ووېل: [يَا اَرُحَمَ الرَّاحِمِيُنَ يَا كَرِيُمُ يَا حَلِيُمُ، يَا اَحَدُ يَا صَمَدُ يَا حَيُّ يَا مُحُيِيَ الْمَوُتٰى يَا حَيُّ يَا قَيُّوُمُ لَا اِلٰـهَ اِلَّا اَنُتَ يَا رَبَّنَا]

او ملګرو ته ئے هم ووېل چه تاسو هم دا دعاګانے وکړئ، بار بار ئے دعاګانے وکړے، او د هغے نه بعد ئے ووېل چه زۀ خو پدے دریاب ورپورے وځم۔

(کرامت هم دے ته وائی چه الله تعالیٰ د یو تن په زړۀ کښے ناڅاپی یوه خبره واچوی او الله تعالیٰ ورسره پکښے مدد وکړی دا هر وخت نۀ وی بلکه بعض اوقاتو کښے وی او خاصکر د جهادونو په موقعو کښے کیږی)

نو پدے کښے العلاء بن الحضرمی ﷺ په دریاب باندے خپل اس واچولو نو نورو ملګرو هم چا اسونه او چا اُوښان او چا خپل خرۀ وروا چول او څوک پیاده روان شو تر دے چه په نیمائی ورځ کښے اخوا پورے وتل، نو په اُوبو باندے داسے روان دی لکه د شړو په یوه ډیره کئ چه روان وی چه د هغے نه لاندے اُوبه وی او دغه اُوبو د اسونو او اُوښانو صرف خپے پتے کړے وے، او زنګنونو ته ئے نۀ رسیدلے۔

او د دریاب دے غاړے نه تر دارین پورے د کشتو په مزل سره یوه ورځ او یوه شپه

مسافت وو۔

نو هلته ئې په دشمن باندې حمله وکړه، سخت جنګ وشو نو هغوی باندې سخت رعب راغې نو الله تعالیٰ پرې مسلمانانو ته غلبه ورکړه او مشرکانو شکست وخوړلو نو د هغوی نه څه کسان وتښتیدل او اکثر کسان ووژلې شو او د هغوی نه مالونه پاتې شول، او ډیر غلامان ونیولې شول، او الله تعالیٰ ترې دغه علاقه پاکه کړه،

هرکله چه دوئ ددې جنګ نه فارغ شول نو دوئ بیرته په نیمائی ورځ کښې ماښام ماښام ته واپس خپلې علاقې ته راپورې وتل۔

(دا عجیب کرامت دې، په یوه ورځ کښې دا دومره کارونه وشول) او دوئ د دشمن نه یو تن خبر ورونکې هم پرینخودو۔

دوئ د هغوی نه دومره ډیر مالونه ونیول چه د خُمس ویستو نه بعد د هر یو شاهسوار شپږ زره (۶۰۰۰) درهم او د پیاده انسان دوه زره (۲۰۰۰) درهم ورسیدل۔ سره ددې نه چه دا ډیر لوی فوج وو۔

[تاریخ الطبری :۲/۲۸۹، البدایة والنهایة : ۶/۳۶۲، الکامل فی التاریخ : ۱/۳۷۷]

د سیرت په کتابونو کښې دا واقعه ډیر په زبر او زیر سره لیکلې شویده، او عامو کتابونو لیکلې ده، دا څه موضوعي او منکرت واقعه نهٔ ده۔

[حلیة الاولیاء۱/۸، الزهد لاحمد : ۹٤٤، کتاب الدعاء لمحمد بن فضیل الضبی المتوفی : ۱۹۵هـ ص : ۱/۸۱ رقم : ۸۰، مجابوا الدعوة رقم : ٤۰، لیوسف بن شاهین سبط ابن حجر العسقلانی، وکرامات الاولیاء ص : ۱۵۰، هبة الله اللالکائی، والطبری وابن کثیر]

کله چه بیرته راپورې وتل نو ملګرو ته ئې ووېل چه د چا نه خو کوم شې ضائع شوې نهٔ دې؟، نو یو شې هم د دوئ نه نهٔ وو غورزیدلې، صرف یو ملګری ووېل چه ما نه عَلِیقَةُ الْفَرَس غورزیدلې یعنی د اس په شا باندې مې یوه توبره شانه زوړنده کړې وه هغه رانه په اُوبو کښې غورزیدلې ده۔

او علاء بن الحضرمي ﷛ ورغلو او د دریاب نه ئې ورله دغه توبره هم کرامةً راوخکله۔ دشمنانو چه کله دا کسان ولیدل چه د اُوبو په سرونو راروان دی نو یو بل ته ئې ووېل چه دا کسان خو دیوان دی، (دا خلك ایرانیان وو او د هغوی په ژبه کښې دیوان

Maktaba Tul Ishaat.com

لیونو ته وائی)

او پدې باره کښې عفیف بن المنذر ﷛ داسې فرمائی :

اَلَمْ تَرَ اَنَّ اللّٰهَ ذَلَّلَ بَحْرَهٗ	۞	وَاَنْزَلَ بِالْكُفَّارِ اِحْدَى الْجَلَائِلِ
دَعَوْنَا الَّذِیْ شَقَّ الْبِحَارَ فَجَاءَنَا	۞	بِاَعْجَبَ مِنْ فَلْقِ الْبِحَارِ الْاَوَائِلِ

آیا تهٔ نهٔ ګورې چه الله تعالیٰ دریاب تابع کړو او په کافرانو باندې ئې یو د لویو مصیبتونو نه ورنازل کړو۔ مونږ د هغه ذات نه دعاء وکړه چه هغه دریابونه څیرې کوی نو مونږ ته د پخوانو خلکو د دریاب چولو نه هم زیات عجیبه کارنامه راغله۔

هرکله چه دا حالت د "هَجَر" علاقې یو راهب ولیدو نو هغهٔ اسلام راوړو نو دهٔ ته چا ووئیل چه تهٔ اسلام ته کومې خبرې مجبوره کړې ؟

هغهٔ ووئیل : [ثَلَاثَةُ اَشْيَاءَ خَشِيْتُ اَنْ يَّمْسَخَنِیَ اللّٰهُ بَعْدَهَا]

درې څیزونه مې ولیدل نو ویریدم چه که ددې نه روستو هم ایمان رانهٔ وړم نو الله تعالیٰ به مې شکل مسخ (بدل) کړی، (الله تعالیٰ به وائی چه دومره ناشنا حالت دې ولیدو او بیا هم اسلام نهٔ راوړې)

[فَيْضٌ فِی الرِّمَالِ، وَتَمْهِيْدُ اَثْبَاجِ الْبَحْرِ وَدُعَاءٌ سَمِعْتُهٗ فِیْ عَسْكَرِهِمْ فِی الْهَوَاءِ سَحَرًا]

یو د شږو روانیدل۔ او دویم د دریاب چپې هواریدل (او د مسلمانانو پورې وتل) او دریم : ما د دوئ په فوج کښې د هواء نه د دوئ په سهار کښې دعاء واوریده چه داسې ئې وئیل :

[اَللّٰهُمَّ اَنْتَ الرَّحْمٰنُ الرَّحِيْمُ لَا اِلٰهَ غَيْرُكَ وَالْبَدِيْعُ فَلَيْسَ قَبْلَكَ شَیْءٌ، وَالدَّائِمُ غَيْرُ الْغَافِلِ، الْحَیُّ الَّذِیْ لَا يَمُوْتُ، وَخَالِقُ مَا يُرٰى وَمَا لَا يُرٰى، وَكُلَّ يَوْمٍ اَنْتَ فِیْ شَاْنٍ، عَلِمْتَ كُلَّ شَیْءٍ بِغَيْرِ تَعَلُّمٍ]

اې الله ! تهٔ رحمن او رحیم ئې، ستا نه غیر لائق د عبادت نشته، تهٔ ناشنا پیدا کونکې ئې، ستا نه مخکښې هیڅ نشته او همیشه ئې چه غفلت درباندې نهٔ راځی، همیشه ژوندې ئې چه مرګ درباندې نهٔ راځی، د هغه څیزونو خالق ئې چه لیدلې کیږی او نهٔ لیدلې کیږی، تهٔ هره ورځ په یو کار کښې ئې، تهٔ بغیر د زده کړې نه په هر شی باندې

Maktaba Tul Ishaat.com

پو هه دے۔

نو ما ته پته ولګیده چه دے خلکو سره په ملائکو مدد نهٔ کیږی مګر پدے وجه چه دوئ په حقه دی،

نو دے ډیر ښکلے مسلمان شو چه بیا به صحابهٔ کرامو د هغهٔ نه قصے آوریدلے۔

[البدایة والنهایة٦/٣٦٢ تاریخ الامم: ٢/٢٩٠ ومختصر سیرة الرسول ١/٢١٩ لسلیمان بن سحمان النحدی والمنتظم: ٤/٨٣ والکامل فی التاریخ ١/٣٧٧]

بیا علاء بن الحضرمی ﷺ ابوبکر صدیق ﷺ ته خط ولیږلو چه الله تعالیٰ مرتدینو ته شکست ورکړو، د هغوی عقلونه ئے واخستل او د هغوئ دبدبه د شرابو څکلو په وجه لاړه کوم چه دوئ په سهار کښے څکلی وو نو مونږ په هغوی باندے د هغوی خندقونو ته ورداخل شو نو مونږ په نشه حالت کښے وموندل نو مونږ قتل کړل مګر هغه خلك پاتی شول کوم چه وتښتیدل او الله تعالیٰ حُطم هم قتل کړو۔

[البدایة: ٤/٧٢٢، تاریخ الطبری ٢/٢٩١]

نو پدے طریقه دغه علاقے الله تعالیٰ د العلاء بن الحضرمی ﷺ او د ثُمامه بن اثال ﷺ په وجه فتح کړل او د یو بل نیك انسان چه هغه مثنی بن حارثة الشیبانی ﷺ دے چه ابوبکر صدیق ﷺ د مخکښے نه په عراق باندے مقرر کړے وو، هغه هم د دوئ سره ملګرے وو۔

او تر ډیر حده پورے د اسلام غلبه راغله، مرتدین پدے طریقه باندے د عربو د زمکے نه الله تعالیٰ ختم کړل۔ ددے مجاهدینو په خواریٔ او تکلیفونو او شهادتونو باندے ئے ختم کړل۔

ابن ابی الدنیاؒ په کتاب "مجابی الدعاء" کښے یو العلاء بن الحضرمی ﷺ هم راوړیدے (یعنی هغه خلك چه د هغوی دعاګانے زر قبلیږی) دهٔ باندے به په هر جهاد کښے داسے حالت راتللو چه دعاء به ئے زر قبلیده او کرامتونه به ئے ښکاره کیدل۔

ابو هریره ﷺ فرمائی: چه ما د العلاء بن الحضرمی ﷺ نه درے ناشنا څیزونه ولیدل [لَا اَزَالُ اُحِبُّهٗ اَبَدًا] چه زهٔ به د هغهٔ سره همیشه مینه کوم،

[قَطَعَ الْبَحْرَ عَلٰی فَرَسِهٖ یَوْمَ دَارِیْنَ]

Maktaba Tul Ishaat.com

یو ئے د دارین په جنگ کښے خپل اس په دریاب باندے ور واچولو۔

[وَقَدِمَ يُرِيْدُ الْبَحْرَيْنِ فَدَعَا اللّٰهَ بِالدَّهْنَاءِ فَنَبَعَ لَهُمْ مَاءٌ فَارْتَوَوْا]

دویم : راغلو چه د بحرین ته د جهاد دپاره د تللو اراده ئے وه نو په شاړه صحراء کښے ئے د الله تعالیٰ نه دعاء وکړه نو خلکو ته د اُوبو چینه را اُووته چه هغوی پرے بنهٔ ماړهٔ شول۔

او دریم دا چه دا چه د الله تعالیٰ نه ئے دعاء وکړه چه اے الله ! زهٔ چه کله وفات شم نو زما قبر په خلکو باندے پټ کړه، او د خلکو نه ئے ورك کړه، نو الله تعالیٰ ئے دا دعاء قبوله کړه، هغه پدے طریقه چه

په روستو زمانه کښے عمر فاروق ﷺ علاء بن الحضرمی ﷺ ته خط ولیکلو کله چه هغه په بحرین باندے والی وو چه تهٔ لاړ شه ما تهٔ د عُتبه بن غزوان ﷺ په ځائے په بصره باندے والی مقرر کړے خو د هغهٔ د حقوقو لحاظ وساته۔

نو علاء بن حضرمی ﷺ د خپلو ملګرو سره د بحرین نه بصرے طرف ته روان شو چه په هغوی کښے ابو هریره او ابوبکره رضی الله عنهما هم وو هرکله چه دوئ "نیاس" علاقے ته ورسیدل، (چه دا یو شاړه علاقه ده) د بنو تمیمو زمکه ده، "صعاب" علاقے ته نزدے ده، نو دلته په علاء بن الحضرمی ﷺ باندے مرګ راغلو۔

ابو هریره ﷺ فرمائی : پدے شاړه کښے اُوبه نهٔ وے نو ناڅاپه الله تعالیٰ مونږ ته وریځه راښکاره کړه نو د هغے نه په مونږ باران وشو، نو مونږ هغه له غسل ورکړو او په خپلو تورو سره مونږ د هغهٔ دپاره قبر وکنستو، او د لارے په یو طرف کښے مو خخ کړو دے دپاره چه قبر ئے معلوم وی،

لیکن دهٔ دا دعاء کړے وه چه اے الله ! زما قبر خلکو نه ورك کړه، او دا دعاء ترے بعض خلکو آوریدلے وه نو کله چه مجاهدین ددے ځائے نه تیر شو نو بعض کسانو وویل چه بیرته ورځو ددهٔ قبر ګورو چه څه حالت دے؟، نو چه راغلل د هغهٔ قبر هموار شوے وو، الله تعالیٰ ترے ورك کړو۔

(بیا ابو هریره ﷺ بیرته بحرین ته واپس شو او ابوبکره ﷺ بصرے والو ته د هغهٔ د مرګ خبر ورسولو)

بیا عمر فاروق ﷺ په بحرین باندے ابو هریره ﷺ والی مقرر کړو۔ (اسد الغابة)

په ۱٤ هجری کښې وفات شو، او بعض وائی چه روستو زمانه کښې په (۲۱ هـ) کښې وفات شویدے۔

[سیر اعلام النبلاء : ۱/۲٦٥، تاریخ الاسلام للذهبی : ۳/۲۳۸ البلاذری، فتوح البلدان ص ۹۲]

او بعض روایتونو کښې داسے دی چه العلاء بن الحضرمی ﷛ داسے وئیلی وو چه اے الله ! ما د خلکو نه پټ کړه،

هرکله چه دے مونږ دفن کړو نو یو سړے راغلو او دا ئے وویل چه دا څوك مو خخ کړو مونږ وویل دا یو بهترین انسان دے علاء بن الحضرمی ﷛، هغهٔ وویل : دا یوه داسے زمکه ده چه مړی راغورزوی نو که تاسو دا یو میل یا دوه میله لرے ویسئ او هلته ئے خخ کړئ نو ښه به وی، مونږ خپل مینځ کښې وویل چه راځئ چه راوے باسو، ځکه چه زمونږ ددے ملګری څه سزا ده چه مونږه ئے درندګانو ته پیش کړو۔

نو مونږ اتفاق وکړو د هغهٔ په راویستلو نو هرکله چه مونږ لحد ته ورسیدو نو مونږ په قبر کښې هغه ونهٔ موندو، او ددے لحد نه د نظر د اُوږدوالی په اندازه رڼړا ختله نو مونږ قبر ته بیرته خاورے واپس کړے بیا د دغه ځائے نه روان شو۔

دا مختلف روایتونه دی۔ [دلائل النبوة للبیهقی : ٦/٥٣]

الغرض : د صحابه کرامو دعاګانے الله تعالیٰ داسے ښے قبلولے۔

دا خو د بحرین او د عربو د علاقو فتح کیدل او د مرتدینو ختمیدل او د عامو خلکو په اسلام کښې داخلیدل وو۔



Maktaba Tul Ishaat.com

د حضرموت والو او کِنْدَه قبیلو مرتد کیدل

هرکله چه ابوبکر صدیق ﷛ د بحرین والو د جنگ نه فارغ شو، نو اراده ئے وکړه چه په "حضرموت" کښے د کِنده قبیلے مرتدینو سره مقابله وکړی،

حضرموت د یمن په غربی طرف کښے او د عُمان نه په شرقی طرف کښے او د دهناء نه په شمالی طرف کښے واقع دے،

یاقوت حمویؒ وائی : دا فراخه طرف دے، د عدن مشرقی طرف ته د دریاب غاړے ته واقع دے، او ددے نه ګیر چاپیره د شګو ډیرے ډیره کیٔ (او غرونه) دی چه هغے ته احقاف وائی ۔(او دے ځائے کښے پخوا عادیان آباد وو)۔

(معجم البلدان : ۲/۲۷۰)

قصه دا وه چه اشعث بن قیس چه د کِنده قبیلے سردار وو، دے د حضرموت نه د یو وفد سره چه اتیا (۸۰) کسان وو، رسول الله ﷺ ته راغلو او ایمان راوړو او د رسول الله ﷺ نه ئے وغوښتل چه دوئ سره یو سړے ولیږی چه دوئ ته د اسلام احکام وښائی او د دوئ زکات راټول کړی، نو رسول الله ﷺ دوئ سره زیاد بن لبید البیاضی الانصاری ﷛ ولیږلو چه دا په حضرموت باندے والی مقرر شو، نو دهٔ به خلکو ته مونځونه هم کول، او زکاتونه به ئے هم ترے د بیت المال دپاره اخستل،

داسے وخت تیریدو تردے چه رسول الله ﷺ وفات شو او ابوبکر صدیق ﷛ خلیفه شو، نو اشعث بن قیس الکندی د ابوبکر صدیق ﷛ د بیعت نه انکاری شو، او زیاد ﷛ ته ئے وویل چه تهٔ خو ابوبکر ﷛ طرف ته دعوت ورکوے او د هغهٔ دپاره بیعتونه اخلے لیکن کله چه نور خلك ددے موافقت وکړی نو مونږ به هم موافقت وکړو۔ (یعنی زهٔ بیعت نکوم)

زیاد ﷛ ورته وویل : اے سړیه ! مهاجرینو او انصارو په ابوبکر صدیق ﷛ باندے اتفاق کړیدے۔ اشعث وویل : تا ته پته نشته چه ددے نه پس به خبره کوم ځنګه وی او کوم ځائے ته به رسیږی، نو پدے کښے زیاد ﷛ غلے شو او هیڅ ئے ونهٔ وٙئیل،

نو د اشعث پسے د هغهٔ د ترهٔ څوی (امرؤ القیس بن عابس) د کِنده قبیلے نه راپاڅیدو او دا ئے ورته وویل اے اشعث! زهٔ تا ته ستا په الله قسم درکوم، چه تا ایمان راوړیدے او رسول الله ﷺ ته ورغلے ئے، که تهٔ انکاری شوے او د دین اسلام نه واوړیدے نو نور خلك ستا سره اوړی او دے دین (او خلافت) باندے یو تن ضروری دے چه پدے باندے اُودریږی او ددے مخالف قتل کړی او تا ته معلومه شوه چه چا د ابوبکر صدیق ﷛ خلاف کړے او زکاة ئے منع کړے په هغوی باندے کوم مصیبتونه راغلل،

اشعث وویل: محمد ﷺ وفات شو او عرب بیرته د خپلو بتانو عبادت ته واپس شول. نو هغهٔ ورته وویل: مونږ د عربو نه د علاقے په لحاظ وړاندے یو نو ابوبکر صدیق ﷛ به لښکر راولیږی لکه چه نورو خلکو ته ئے لښکرے لیږلی دی،

او بله خبره دا ده چه دلته مونږ سره زیاد بن لبید ﷛ د هغهٔ د طرف نه په مونږ باندے عامل (گورنر) دے، او هغه به تا چرته د ایمان نه پس کفر کولو ته پریدی،

نو پدے کښے اشعث وخاندل بیا ئے وویل: چه آیا زیاد ﷛ پدے خوشحاله نهٔ دے چه دے زمونږ ترمینځ موجود دے، (هیڅ پرواه نشته)،

امرؤ القیس ورته وویل: فکر وکړه چه ددے نه روستو به کوم حالات راپیښیږی، بیا امرؤ القیس خپل کور ته واپس شو او دے په باره کښے ئے څه اشعار وویل.

نو پدے کښے خلك په دوه ډلو تقسیم شول، یوه ډله په اسلام باندے مضبوطه اُودریده او کلك عزم ئے وکړو په مونځونو قائمولو او په زکاة ورکولو، او بلے ډلے عزم وکړو چه مونږ زکاة نهٔ ورکوو او مونږه ابوبکر صدیق ﷛ نهٔ منو.

نو پدے کښے زیاد بن لبید ﷛ خپل کور ته په غم کښے واپس شو، څه ورځے روستو زیاد بن لبید ﷛ را اُووتو او حضرموت والو کښے ئے آواز وکړو او هغوی ئے راجمعه کړل او دا ئے ورته وویل: چه ستاسو د صدقاتو (زکاتونو وخت پوره شویدے) زکاتونه راجمع کړئ ځکه چه زما اراده ده چه زهٔ دا ابوبکر صدیق ﷛ ته ولیږم ځکه چه خلکو هغهٔ لره خلیفه منلے دے، او الله تعالیٰ مرتدین هلاك کړل او مسلمانان ئے پرے قادر کړل،

نو څه خلك شروع شو چه په خپله خوښه سره ئے زکاتونه ورکول او څه خلکو په ناخوښئ سره ورکړل، او زیاد بن لبید ﷛ ښه په کلکه سره هغوی ته خپله اراده خودله،

Maktaba Tul Ishaat.com

یوه ورځ هغهٔ د صدقاتو یوه اُوښه راونیوله او یوه نښه ئے پرے ولګوله او د هغه اُوښانو سره ئے یو ځائے کړه کوم ئے چه ابوبکر صدیق ﷺ ته لیږل او دا اُوښه د کنده قبیلے د یو ځوان وه چه د هغه نوم زید بن معاویه القُشَیری وو د بنو قُشَیر نه، نو دغه هلك د کِنده قبیلے یو سردار ته ئے ګیله وکړه چه د هغهٔ نوم (حارثه بن سراقه) وو، ورته ئے وویل : اے د ترهٔ ځویه ! زیاد بن لبید ﷺ زما اُوښه اخستے او هغه ئے د صدقے د اُوښانو سره یو ځائے کړیده او زما ډیره خوښه ده، نو تهٔ زما دپاره د هغهٔ سره خبره وکړه کیدے شی چه هغه دغه اُوښه پریدی او ددے په ځائے زما د اُوښانو نه بله واخلی زهٔ ئے نهٔ منع کوم۔

نو حارثه بن سراقه زیاد ﷺ ته راغلو او دا ئے ورته وویل چه دا هلك دا مطالبه لری چه تهٔ ورته دا اُوښه پریده او بله واخله نو زیاد ﷺ وویل : دا اُوښه د الله تعالیٰ په حق کښے داخله شویده او پدے باندے د صدقے د اُوښانو نښه لګیدلے ده او زما نهٔ ده خوښه چه بله واخلم، نو حارثه بن سراقه پدے خبره غصه شو، بیا ئے وویل : دا اُوښه په خوښه پریده ګنے په زوره به ئے پریږدے، نو زیاد ﷺ پدے خبره غصه شو او دا ئے وویل : قسم په الله دا زهٔ نهٔ پریدم او زهٔ ګورم چه زما او ددے ترمینځ څوك حائل واقع کیږی، او دا څوك منع کوی۔

نو حارثه مسکے شو او څه شعرونه ئے وویل چه یو شعر ئے دا دے :

يَمْنَعُهَا شَيْخٌ بِخَدَّيْهِ الشَّيْبُ	❁	يَلْمَعُ كَمَا يَلْمَعُ الثَّوْبُ

دا به یو داسے بوډا منع کوی چه د اننګو ویښته ئے داسے پرقیږی لکه چه جامه پرقیږی۔

بیا راغلو او د زکاة د اُوښانو نه ئے دغه اُوښه راوخکله او مالك ته ئے وویل : دا اُوښه دِے واخله که چا درته څه وویل نو د هغهٔ پوزه په توره ماته کړه۔

مونږ د رسول الله ﷺ تابعداری کوله کله چه هغه ژوندے وو او که یو تن د هغهٔ د اهل بیتو نه د هغه په ځائے ولاړ وے نو مونږ به ئے تابعداری کولے او هرچه د ابو قحافه ځوی دے نو قسم په الله د هغهٔ زمونږ په څټونو کښے هیڅ طاعت او بیعت نشته۔

بیا ئے څه اشعار وویل چه یو د هغے نه دا دے :

Maktaba Tul Ishaat.com

اَطَـعْـنَـا رَسُوْلَ اللّٰهِ اِذْ كَـانَ بَيْنَـنَـا	فَيَـا عَـجَبًـا مِـمَّـنْ يُطِيْـعَ اَبَـا بَـكْـرٍ

مـونږ د رسـول الله ﷺ تـابـعـداري كـوله كله چه هغه زمونږ ترمينځ موجود وو نو اُوس تعجب دے په هغه چا چه د ابوبكر صديق ﷺ تابعداري كوي۔
هـر كـلـه چه زياد ﷺ دا شـعـرونـه واوريـدل نـو د زكات په اُوښانو ويريدو چه دا به رانه واخستے شي، نو د شپے د شپے را اُووتو چه اراده ئے وه چه ابوبكر صديق ﷺ ته ورشي او د هغۀ سره څه كسان خپل ملګري هم وو هركله ئے چه دوه شپے مزل وكړو نو حارثه بن سراقه او د هغۀ ملګرو ته ئے شعرونه راوليږل چه يو پكښے دا دے :

نُـقَـاتِـلُهُـمْ فِى اللّٰهِ وَاللّٰـهُ غَـالِـبٌ	عَـلٰـى اَمْـرِهٖ حَتّٰـى تُـطِيْـعُوْا اَبَـا بَـكْـرٍ

مـونږ به دوئ سره د الله دپاره جنګيږو او الله تعالىٰ په خپل كار باندے غالبه دے تردے چه تاسو د ابوبكر صديق ﷺ تابعداري شروع كړئ۔
هـر كـلـه چه دا شعرونه راورسيدل نو دلته د كِنده قبيلے خاندانونه پدے باندے سخت پـه غـضـب شـول او اشـعـث بـن قـيـس تـه راغـلل، نو هغۀ ورته وويل : اے د كنده ډلے ! هـر كـلـه تاسو د زكاة په منع كولو او د ابوبكر ﷺ په جـنـګ مو بيعت كولو نو زياد ﷺ مـو ولے نۀ وژلو چه تول خبره يوه شوے وے، ليكن تاسو هغۀ ته څه نۀ وئيل تردے چه هـغـۀ ستـاسـو نـه ستـاسـو د مـالـونـو زكاتونه واخستل او بيا ستاسو نه خپل صاحب (ابوبكر ﷺ) تـه روان شـو او تـاسـو تـه ئے خط وليكلو چه تاسو ته په قتل سره دهمكي دركوي،
نو دۀ ته ددۀ د ترونو ځامنو نه يو تن وويل چه [صَدَقْتَ وَاللّٰهِ يَا اَشْعَثُ !]
قـسـم پـه الله اے اشـعـث ! تـا رشتيا وويل۔ صحيح خبره دا وه چه زياد ﷺ قتل شوے وے، او د هغۀ نه اُوښان راواپس كړے شوي وے۔
قسـم پـه الله مـونږ خـو داسے يـو لكه د قريشو غلامان!، كله مونږ ته مهاجر بن ابي اميه ﷺ راليږي او زمونږ د مالونو نه چه څه غواړي هغه اخلي او كله په مونږ باندے د زياد بن لبيد ﷺ پـه شـان خـلـك واليـان جوړوي، نو زمونږ د مالونو نه زكاتونه اخلي او مـونږ تـه د قـتـل دهـمـكـي راكـوي، قـسـم پـه الله، قـريـش دِے زمـونږ پـه مالونو كښے

هیڅکله طمع ونکړی. بیا ئے څه شعرونه وویل :

إِذَا نَحْنُ أَعْطَيْنَا الْمُصَدِّقَ سُؤْلَهُ	فَنَحْنُ لَهُ فِيمَا يُرِيدُ عَبِيدُ

(کله چه مونږ د زکاة عامل ته د هغهٔ غوښتلے شوے څارویے ورکړو نو مونږ خو به د هغهٔ غلامان یو هغه چه څه غواړی هغه به راباندے کوی).

او دهٔ هم د مخکنی سړی په شان خپل ترونو څامن په عصیان او منع د زکاة باندے تیز کړل.

بیا اشعث خبرے وکړے وے وئیل: اے د کنده ډلے ! که تاسو زما خبره منئ نو ستاسو خبره ډِیرے یوه شی، خپل ښارونه کلک ونیسئ او د خپلو زنانو او ماشومانو حفاظت وکړئ او د خپلو مالونو زکاة منع کړئ ځکه چه ما ته عرب معلوم دی چه د بنو تمیم بن مره په طاعت باندے اقرار نکوی چه د مکے بنو هاشم پریدی، (یعنی ابوبکر صدیق ﷺ ته ئے اشاره کوله چه دا د تمیم بن مره قبیلے نه دے)

او طاعت خو مونږ سره ډیر لائق او مناسب دے ځکه چه مونږ مخکښے نه بادشاهان راروان یو، مخکښے ددے نه چه په مخ د زمکه یو قریشی یا ابطحی پیدا شی.

بیا زیاد بن لبید ﷺ په لاره کښے دا سوچ وکړو چه په جلتئ سره ابوبکر صدیق ﷺ ته نهٔ ورځم بلکه ددغه ځائے نه ئے د زکاة اُوښان د یو معتمد سړی سره روان کړل او دا حکم ئے ورته وکړو چه ابوبکر صدیق ﷺ ته ددهٔ د واقعے او د قوم د مخالفت هیڅ خبر ورنکړی.

او دلته زیاد بن لبید ﷺ د کنده نه یوے بلے قبیلے ته ورغلو چه هغوی ته ئے بنو ذهل بن معاویه وئیل، زیاد ﷺ هغوی لره خبرے منلو او طاعت کولو ته راوبللل نو د بنو تمیمو یو سړے ورته رامخکښے شو چه هغهٔ ته ئے حارث بن معاویه وئیلو، نو هغهٔ زیاد ﷺ ته وویل : تهٔ د یو داسے سړی طاعت ته دعوت ورکوے چه مونږ ته د هغے په باره کښے هیڅ حکم او وصیت نهٔ دے شوے، او نهٔ تاسو ته د هغے په باره کښے وصیت شوے،

زیاد ﷺ ورته وویل : صحیح ده لیکن مونږ مسلمانانو هغه د خلافت دپاره غوره کړے،

هغهٔ وویل : دا خلافت تاسو د رسول الله ﷺ اهل بیتو ته ولې ورنکړو حال دا چه هغوی ئې ډیر حقدار وو؟، نو زیاد ﷛ ورته وویل : مهاجرین او انصار د خپلو ځانونو دپاره ستا نه ډیر هوښیار دی، هغوی داسې فیصله کړیده۔

حارث بن معاویه ورته وویل : تاسو د هغه د کورنۍ سره حسد وکړو او زما په زړهٔ کښې دا خبره نهٔ کینې چه رسول الله ﷺ دې د دنیا نه تلې وی او هغهٔ دې خلکو ته یوه خبره نهٔ وی پریخې چه خلك ئې تابعداری وکړی،

(مطلب ئې دا وو چه رسول الله ﷺ به ضرور خپلې کورنۍ نه څوك مقرر کړې وی لیکن تاسو ورسره حسد کړې) نو اې سړیه ! تهٔ زمونږ نه لاړ شه،

نو پدې کښې عرفجه بن عبد الله الذُهلی راتوپ کړل چه حارث بن معاویه رشتیا وائی، دا سړې د ځان نه وشړئ، ځکه چه ددهٔ صاحب (ابوبکر صدیق ﷛) د خلافت اهل نهٔ دې او په هیڅ طریقه ئې مستحق نهٔ دې، او مهاجرین او انصار ددې امت دپاره د نبی نه زیات فکر مند نهٔ دی۔

پدې کښې بل یو تن راتوپ کړل چه هغه هم د کنده قبیلې نه وو، د هغهٔ نوم دې عدی بن عوف، هغهٔ وویل : اې زما قومه ! تاسو د عرفجه بن عبد الله خبرې ته غوږ مهٔ اږدئ او ددهٔ تابعداری مهٔ کوئ ځکه چه دې تاسو کفر ته رابلی او د حق نه مو اړه وی، بلکه د زیاد ﷛ خبره قبوله کړئ او په هغه څه راضی شئ چه مهاجرین او انصار پرې راضی شویدی، ځکه چه هغوی ستاسو نه د ځانونو دپاره ډیر خیرخواه دی،

نو پدې کښې د هغهٔ د ترهٔ ځامنو په هغهٔ ورتوپ کړو او عدی بن عوف ئې ووهلو او وینه ئې پرې روانه کړه او سختې بدې ردې ئې ورته ووئیلې، بیا ئې په زیاد بن لبید ﷛ باندې ورتوپ کړل او هغه ئې د خپلو علاقو نه اُوویستلو، او د هغهٔ د وژلو اراده ئې وکړه۔

نو زیاد ﷛ به د کنده هیڅ یوې قبیلې ته نهٔ ورتللو چه طاعت ته به ئې رابلل مګر هغوی به سخت جواب ورکولو،

هرکله چه زیاد ﷛ پوهه شو نو مدینې ته د ابوبکر صدیق ﷛ خوا ته راروان شو او هغهٔ ته ئې دا ټوله قصه وکړه او دا ئې ورته وویل چه کنده قبائلو په ارتداد او عصیان باندې کلك عزم کړیدې،

Maktaba Tul Ishaat.com

نو پدې کښې ابوبکر صدیق ﷛ سخت غمژن شو،

نو بعض مسلمانانو ورته وویل چه اې د رسول الله ﷺ خلیفه ! هلته خالد بن الولید ﷛ د یمامه په زمکه کښې دې، او تا ته د هغهٔ پهلوانی معلومه ده، نو دا ورپسې ورولیږه، ابوبکر صدیق ﷛ ورته وفرمایل : چه ستاسو خبره صحیح ده، خالد ﷛ دغه شان دې لکه څنګه چه تاسو وویل او ددې نه هم ډیر اعلیٰ دې لیکن د دوئ هغه امیر چه دوئ د دغه علاقې نه راوخکلې دې، هغه ډیر لائق دې چه د دوئ سره جنګ وکړي په نسبت د نورو خلکو۔

بیا ابوبکر صدیق ﷛ یو لښکر راجمع کړو او زیاد بن لبید ﷛ سره ئې یو ځائې کړو او دا ئې ورته وویل چه د دغه قوم پسې ورشه۔

نو زیاد بن لبید ﷛ ځان سره څلور زره (٤٠٠٠) کسان د مهاجرینو او انصارو نه حضرموت ته روان کړل۔

دلته د کنده قبائلو ته خبر ورسیدو نو ګویا که هغوی په خپل کار خپیمانه شو،

بیا د هغوی د بادشاهانو د ځامنو نه یو سړي راتوپ کړل چه د هغهٔ اَبْضَعَه بن مالك نوم وو، هغهٔ وویل : اې د کنده ډلو ! مونږ په خپلو ځانونو باندې خپله اُور بل کړو، زما ګمان نهٔ دې چه دا به مړ شي یا دا چه زمونږ نه به ډیر خلك وسیزي۔

زما رایه دا ده چه مونږ ددې خپل کار تدارك وکړو او دا فتنه په آرام کړو کومه چه په مونږ راپورته شویده نو مونږ به ابوبکر صدیق ﷛ ته ولیکو او خبر به ورکړو چه مونږ ستا په طاعت کښې داخل یو او زکاة به ښه په خوشحالئ ادا کوو او مونږ به تا خپل خلیفه او امام منو۔ بیا ئې وویل : دا زما مشوره ده او ددې سره زهٔ ستاسو د رأی نه نهٔ بهر کیږم خو صرف ما ته دا معلومه ده چه صبا به ستاسو کار څه نتیجه ورکوي !۔

بیا ئې شعرونه وویل چه یو د هغې نه دا دې :

اَرٰی اَمْــرًا لَــکُــمْ فِیْــهِ سُــرُوْرٌ	❁	وَآخِــرُهٗ لَــکُــمْ فِیْــهِ نَــدَامَة

زهٔ یو کار وینم چه ستاسو په هغې کښې خوشحالي ده لیکن په آخره کښې ئې ستاسو خپیمانتیا ده۔

هرکله چه د کنده قبائلو دا شعر واوریدو نو هغوی دې خبرې ته مائل شو او یو بل ئې

ملامته کړل، نو یو قوم وویل : مونږ د خپل کار نه رجوع کوو او زکاة به ادا کوو،
او بل قوم وویل : مونږ دے ته نهٔ یو تیار، مونږ زکاة نهٔ ورکوو او د ابوبکر ﷛ د طرف نه چه مونږ ته څوك راځی هغهٔ سره به جنګ کوو۔
بیا هرکله چه د کنده قبائلو د حارثه بن سراقه نه شعرونه واوریدل نو د هر طرف نه ئے په هغهٔ راټوپ کړو او دا ئے ورته وویل : قسم په الله تا مونږ پدے مصیبت کښې اخته کړو، او تهٔ په هر حال کښې سپیرهٔ انسان ئے !
بیا اشعث بن قیس الکندی ورته رامتوجه شو او دا ئے ورته وویل : اے ابن سراقه ! زهٔ به تا صبا زیاد بن لبید ﷛ ته حواله کړم هغه به په تا کښې چه څه غواړی فیصله وکړی، ځکه چه دا د کنده دپاره ددے نه غوره ده چه د ابوبکر ﷛ په شان سری جنګ ته تیار شی په سبب د یوه اُوښه کښې چه هیڅ حیثیت ئے نشته۔
نو حارثه بن سراقه وویل : اے اشعث ! ستا دا خبره پدے دلالت کوی چه تهٔ صبا له خپل قوم شرموے کله چه دوئ ته د ابوبکر صدیق ﷛ فوجونه راورسیږی،
اشعث وویل : زهٔ تا ددے نه بغیر نهٔ پریدم نو تهٔ زما په خبره یقین وکړه۔
نو دلته زیاد بن لبید ﷛ او د هغهٔ ملګرو مسلمانانو ته خبر ورسیدو چه اشعث په خپل کار خپیمانه شویدے، نو هغوی ورته جزاءِ خیر ووئیله، او د هغهٔ ترهٔ ځامنو کوم چه د زیاد ﷛ سره ملګری وو د هغهٔ صفت ئے په اشعارو کښې وکړو۔
بیا د کنده یو سری چه د هغهٔ عفیف بن قیس بن معدی کرب (یا عفیف بن معدی کرب) نوم وو، دا د کنده د سردارانو او د نسب دارو نه دے، هغه وویل : اے بنو کنده ! تاسو ته معلومه ده چه زمونږ او د مَذحِج قبیلے دشمنی ده، او دا دے د ابوبکر صدیق ﷛ اسونه ستاسو مقابلے ته راروان دی، نو ما ته اُوس خبر راکړئ چه تاسو به د خپلو ځانونو نه کوم اسونه اړه وئ، اسونه د ابوبکر ﷛ او که اسونه د مذحج ؟،
زهٔ تاسو ته دا خبره کوم او زهٔ ستاسو نه یو تن یم، لیکن ستاسو بادشاهان او سرداران دے جنګونو هلاك کړیدی کوم چه بلیږی او مونږ په داسے مصیبت کښې اخته شوی یو، چه زمونږ د خلاصی بله هیڅ چاره نشته مګر دا چه خبره اُومنو او طاعت ته غاړه کیږدو۔ والسلام۔
دلته د مسلمانانو اسونه د حضرموت ښارونو او د کنده علاقو او قلعه ګانو ته نزدے

شو نو د ثور بن مالك ﷜ په نوم یو شخص وو چه دهٔ پخوا اسلام راوړے وو کله چه معاذ بن جبل ﷜ د دوئ علاقو ته راغلے وو،

نو دهٔ کنده قبائلو ته وویل چه تاسو د بادشاهئ په نشه کښے راغلی یئ، دا بادشاهی الله تعالیٰ د محمد ﷺ په رالیږلو ختمه کړیده او په تورو سره مرتدین قتل کړے شول نو دغه تورے صبا له ستاسو مقابلے ته راروانی دی، نو د خپل ځانونو غم وکړئ،

نو کنده قبائل په هغهٔ باندے د هر طرف نه ردونه وکړل او رد بد ئے ورته وویل چه تهٔ د بادشاهانو مخے ته داسے خبرے کوے۔

د کنده په علاقو کښے څلور بادشاهان وو، هر یو ځان ځان له د خپلو علاقو مشری کوله او څلور واړه ورونه وو، مُخَوّص، مِشْرَح، جَمْد او اَبْضَعَه او د دوئ یوه خور وه عَمْرَدَه ئے ورته وئیله،

هرکله چه د مسلمانانو اسونه کنده علاقو ته راورسیدل نو وے کتل چه دا څلور واړه ورونه په شرابو اخته دی، (بعض وائی : د زیاد ﷜ غلام ورته خبر ورکړو)

او د دوئ مخے ته باجے او سرونئ وهلے کیږی او ډمے گډیږی نو دوئ د ځان نه خبر نهٔ وو چه د مسلمانانو اسونه د هغوی په سرونو باندے ودریدل نو مسلمانانو په هغوی کښے تورئ کیخودے او تول ئے قتل کړل او د هغوی خور عمرده ئے هم قتل کړه،

او د هغوی نه ئے مالونه لړ او ډیر تول ونیول۔

بیا دا خبر سکاسك او سکون قبیلو ته ورسیدل چه دا هم د کنده قبائل وو، نو هغوی په ځانونو ویریدل او د شپے راروان شو او د زیاد بن لبید ﷜ نه ئے امن واخستو او د هغهٔ سره ئے د مدد عزم وکړو،

بیا زیاد ﷜ د کنده یوے قبیلے ته راغلو چه هغوی ته ئے بنو هِند وئیل، نو هغوی باندے ئے ناڅاپی حمله وکړه او د هغوی سره ئے جنگ وکړو تردے چه الله تعالیٰ هغوی له شکست ورکړو او د هغوی نه څه کسان قتل شو او باقی وتښتیدل او مسلمانانو د هغوی زنانه او ماشومان او مالونه ونیول۔

بیا زیاد بن لبید ﷜ روان شو د کنده یوه بله قبیلے ته چه هغے ته ئے بنو العاقل (یا بنو العاتك) وئیل، نو هغوی ته داسے حالت کښے ورسیدل چه هغوی په غفلت کښے وو،

هرکله چه اسونه په هغوی باندے ورښکاره شول نو د هغوی زنانه او ماشومانو

Maktaba Tul Ishaat.com

چغې کړې نو د هغوی سرې جنګ ته راووتل، لږ ساعت ئې جنګ وکړو بیا ئې شکست وکړو او خپل کورونه او زنانه او مالونه ئې مسلمانانو ته پرېخودل۔

مسلمانانو دا ټول راجمع کړل۔

بیا زیاد بن لبید ﷺ د کنده بلې قبیلې ته ورغې چه هغوی ته ئې بنو حِجر وئیل، چه دوئ په دغه زمانه کښې د کنده قبیلې سکروټې او د هغوی شهسواران وو، هغوی پوهه نهٔ وو چه د شپې په حصه کښې اسونه په هغوی ناګهانه ورننوتل نو دې خلکو لږ ساعت جنګ وکړو چه پدې کښې د بنو حجر نه دوه سوه (۲۰۰) سړی قتل کړې شول او پنځوس (۵۰) کسان ونیول شول او باقي کسان وتښتیدل او مسلمانانو د هغوی لږ او ډیر ټول راجمع کړل۔

بیا زیاد بن لبید ﷺ یوې بلې قبیلې د کنده ته ورغې چه هغوی ته ئې بنو حِمُیَر (او بعض وائي: بنو جَمُر) چه دا هم شاهسواران او پهلوانان وو، چه پدې کښې د مسلمانانو نه شل (۲۰) کسان شهیدان شول او د بنو حِمُیَر نه هم دې ته نزدې ووژل شول۔

دوئ هم شکست وخوړو او وتښتیدل او مسلمانانو ته ئې علاقه پرېخوده او مسلمانانو د هغوی زنانه او اولاد ونیول۔

بیا اشعث بن قیس ته دا خبره ورسیده چه زیاد بن لبید ﷺ د بنو هند، او بنو عاقل او بنو حجر او بنو حمیر سره داسې کار کړې، نو پدې باندې غصه شو،

بیا ئې ووېل: د زیاد بن لبید ﷺ هیڅ کرامت او عزت نشته چه زما قوم او زما د ترونو ځامن وژني او زنانه او ماشومان قیدیان کوي او مالونه د هغوی نه نیسي، او زهٔ به د هغهٔ نه ناست یم (هیڅ به ورته نهٔ وایم)

بیا اشعث خپلو ترونو ځامنو ته آوازونه وکړل، بنو مُرّه او بنو عدی او بنو جَبَله ته او ځان سره ئې زر (۱۰۰۰) شاهسواران واخستل او د زیاد بن لبید ﷺ پسې روان شو، او د زیاد بن لبید ﷺ سره څلور زره (۴۰۰۰) مهاجرین او انصار دی او پنځه سوه (۵۰۰) د سکاسك او سکون قبیلې دی،

د "یَرِیُم" ښار محاصره

دوارہ ډلے د یو بل سره د حضرموت په یو ښار کښې ملاؤ شول چه هغې ته ئې "یَرِیُم" وئیلو، (چه دا اُوس د یمن د صوبه اِبّ یوه ضلع ده)

نو دلته ئې لږ ساعت جنګ وکړو چه په زیاد ﷺ او مسلمانانو باندې شکست واقع شو او د دوئ نه څه دپاسه درې سوه (۳۰۰) سړی شهیدان شول، او ډیر ناکاره شکست ورته ورسیدو آخر دا چه دغه ښار ته ننوتل،

نو اشعث دغه مالونه او غنیمتونه او ماشومان بیرته ونیول او خپلو خپلو علاقو ته ئې واپس کړل،

او اشعث بن قیس او د هغهٔ ملګری راغلل تردې چه د "یریم" ښار نه ئې محاصره واچوله او زیاد ﷺ او د هغهٔ مسلمانان ملګری ئې پکښې ډیر سخت راګیر کړل،

نو دلته زیاد ﷺ د ابوبکر صدیق ﷺ پسے جواب ولیږلو چه مونږ ډیر سخت راګیر شوی یو، نو هغهٔ یو بل عظیم مجاهد مهاجر بن ابی امیه ﷺ ته خط ولیکلو چه دے تر اُوسه پورے په صنعاء الیمن کښې دے پس د قتل د اسود عَنسِی مُتَنبّی نه،

چه تهٔ فوراً د زیاد بن لبید ﷺ خپله هم او په خپل فوج سره هم مدد وکړه، نو هغهٔ ځان سره د خپل سرحد نه زر (۱۰۰۰) شاهسواران راروان کړل،

او دا خبره اشعث بن قیس ته ورسیده نو هغهٔ خپلو ملګرو ته حکم وکړو چه د "یَریم" دروازه کولاوه کړی۔ (مقصد ئې دا وو چه مهاجر بن ابی امیه ﷺ سره د ملګرو نه دغه علاقې ته ننوځی نو دوئ به پرے بیا محاصره وکړی)

نو دلته مهاجر بن ابی امیه ﷺ سره د خپلو زرو کسانو نه راغلو او "یریم" ښار ته ننوتل او د زیاد ﷺ سره یو ځائے شول،

نو اشعث بیرته راغلو او د "یریم" په دروازه کښې کیناستو او تولو قبائلو د کنده ته ئې جواب ولیږلو۔ نو جَبْر بن قَشْعَم د خپل قوم بنو الارقم سره راغلو او ابو قُرّه الکندی د خپل قوم بنو حجر سره راغلو او ابوشمر الکندی د خپل قوم بنو حمیر سره راغلو، او خنفشیش بن عمرو د خپل قوم بنو هند سره راغلو،

Maktaba Tul Ishaat.com

نو دلته د اشعث سره هم د خپل قوم ډیر زیات خلك راجمع شول، او ټول په دروازه کښې کیناستل نو زیاد بن لبید ﷺ او مهاجر بن ابی امیه ﷺ دواړه ئې د مسلمانانو سره سخت محاصره کړل او سخته تنګی ئې پرې راوسته،

نو زیاد بن لبید ﷺ ابوبکر صدیق ﷺ ته خط ولیکلو چه ددې واقعې خبر ئې ورکولو، هرکله چه د زیاد ﷺ خط ابوبکر صدیق ﷺ ته راورسیدو چه په هغې کښې د کنده دا خبر وو چه هغوی په اتفاق سره د مسلمانانو جنګ دپاره راغلی دی، نو سخت غمژن شو او نور مسلمانان هم ډیر غمژن شول۔

نو ابوبکر صدیق ﷺ ضروری وګنړله چه یو خط ولیکی چه په هغې کښې اشعث بن قیس رضا کړی۔

د ابوبکر صدیق ﷺ کِنُدَه قبائلو ته خط

خط کښې ئې دا آیت ولیکلو :

﴿ يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا اتَّقُوا اللَّهَ حَقَّ تُقَاتِهِ وَلَا تَمُوتُنَّ إِلَّا وَأَنْتُمْ مُسْلِمُونَ ﴾ وَأَنَا آمُرُكُمْ بِتَقْوَى اللَّهِ وَحْدَهُ، وَأَنْهَاكُمْ أَنْ لَا تَنْقُضُوا عَهْدَهُ وَأَنْ لَا تَرْجِعُوا عَنْ دِيْنِهِ إِلَى غَيْرِهِ، فَلَا تَتَّبِعُوا الْهَوَى فَيُضِلَّكُمْ عَنْ سَبِيْلِ اللَّهِ۔

د الله تعالیٰ نه ویریږئ او مه مرئ مګر په داسې حال کښې چه تاسو مسلمانان یئ، او زهٔ هم تاسو ته د الله تعالیٰ په یره امر کوم او ددې نه مو منع کوم چه تاسو د هغهٔ لوظ مات کړئ او د هغهٔ د دین نه بل طرف ته مهٔ اوړئ او د خوا هشاتو تابعداری مهٔ کوئ د الله تعالیٰ د لارې نه به مو واړه وی۔

بیا ئې ولیکل : که تاسو د دین اسلام نه اوړئ او زکاة منع کوئ پدې وجه چه زما عامل زیاد بن لبید ﷺ تاسو سره څه زیاتے کړے نو زهٔ به دے ستاسو نه معزوله کړم او په تاسو به هغه څوك والی جوړ کړم چه ستاسو خوښ وی، او ما ددې خط ورونکی ته دا حکم کړے چه که تاسو حق قبلوئ نو دے به زیاد ﷺ ته حکم وکړی چه تاسو نه به واوړی، [فَرَاجِعُوا وَتُوبُوا مِنْ قَرِيْبٍ- وَفَّقَنَا اللَّهُ وَإِيَّاكُمْ لِكُلِّ مَا فِيْهِ رِضَا !]

نو دین ته راواپس شئ او نزدې توبه وباسئ- الله دې مونږ او تاسو ته د هغه څه

Maktaba Tul Ishaat.com

توفیق راکړی چه په هغې کښې د هغهٔ رضا وی۔

والسلام۔

دا خط حسان بن ثابت ﷺ ولیکلو، پدې خط ئې مهر ووهلو او د قیس عیلان نه یو سړی ته ئې ورکړو چه د هغهٔ مسلم بن عبد الله ﷺ نوم وو۔

هرکله چه دا خط اشعث بن قیس ته ورسیدو او په هغهٔ باندې ئې ولوستلو نو هغهٔ استازی ته ووئیل: ستا صاحب (ابوبکر ﷺ) مونږ باندې کفر لازموی پدې وجه چه مونږ د هغهٔ مخالفت کړیدې، او په خپل صاحب (ملګری) باندې کفر نهٔ لازموی، چه هغهٔ زما قوم او زما ترهٔ ځامن قتل کړل،

نو استازی ورته ووئیل: اې اشعث! تا باندې کفر ځکه لازمیږی چه الله تعالیٰ په تا باندې کفر لازم کړیدې ځکه چه تا د مسلمانانو د جماعت مخالفت کړیدې۔

(یعنی د ابوبکر صدیق ﷺ په خلافت باندې خو د صحابه کرامو (مسلمانانو) اجماع ده او د اجماع منکر کافر کیږی)

نو دلته یو د بنو مُره قبیلې یو سړی چه د اشعث بن قیس ترهٔ ځوی وو پدې استازی باندې راټوپ کړل او په توره باندې ئې ووهلو او سرئې ورله دوه چنډې کړو، نو استازې مړ راپریوتو۔ رضی الله عنه وارضاه۔

اشعث ورته ووئیل: ډیر بنه کار دې وکړو، پلار دې سړې دې۔

[وَلَقَدْ قَصَرْتَ الْعِتَابَ وَاَسْرَعْتَ الْجَوَابَ]

ملامتیا دې کمه کړه او جواب دې زر ورکړو۔

نو د اشعث نه د هغهٔ د قوم خلك متنفر شو او ورته غصه شو، لکه ابو قره الکندی خپل قوم ته ووئیل چه ددې سړی نه روان شئ ځکه چه دهٔ ظلم وکړو چه یو استازې ئې بغیر د جرم او ګناه نه قتل کړو، زما په نیز حقه دا ده چه ددې سړی نه لاړ شو ورنه په تاسو به عذاب نازل شی۔

بیا ابو شمر الکندی هم دغه خبره وکړه چه استازې خو مامور وی، د هغهٔ وژل غلط دی،

اشعث ورته ووئیل: ما باندې جلتی مهٔ کوئ دې سړی ما باندې او تاسو باندې د کفر ګواهی وکړه۔ او ما ددهٔ په قتل امر نهٔ دې کړې لیکن خفه هم پرې نهٔ یم۔

Maktaba Tul Ishaat.com

نو جبر بن قَشْعَم الکندي وویل: زمونږ امید وو چه تهٔ به مونږ ته معقول عذر وکړې مګر تا مونږ ته داسې جواب راکړو چه مونږ ستا نه متنفره شو۔

بیا جبر بن قشعم خپل قوم بني الارقم ته آواز وکړو چه ددې ظالم نه جدا شئ چه الله تعالیٰ ته معلومه شي چه تاسو ددهٔ په کار باندې راضي نهٔ یئ۔

نو د اشعث نه د هغهٔ عام ملګري لاړل تردې چه دوه زره (۲۰۰۰) کسان ورسره پاتې شول۔

او دلته د سکاسك او سکون قبیلو خلك زیاد بن لبید ﷛ او مهاجر بن ابی امیه ﷛ ته د "یریم" ښار نه راغلل چه ټول مسلمانان د پنځه زرو نه زیاتیدل نو دواړه ډلې په یوه وادی کښې د یو بل سره ملاؤ شولې چه هغې ته "زُرْقَان" وائي۔

چه دا "یریم" ښار ته نزدې علاقه ده، نو دلته ئې لږ ساعت جنګ وکړو،

اشعث بن قیس د زیاد بن لبید ﷛ یو ملګري ته وکتل چه د هغهٔ جَفْنَه بن قَتِیْرَه السکوني نوم وو چه سخت جنګ کوي، نو ورپسې ورغلو او په سر باندې ئې پرې په نیزه داسې سخت ګوزار وکړو چه د اس نه ئې راګوزار کړو او خپله ئې اراده وکړه چه ورپسې راکوز شي لیکن د هغهٔ ترهٔ ځوی د اشعث نه بچ کړو۔

بیا اشعث بن قیس په یو بل سړي باندې حمله وکړه چه د هغهٔ نوم السمط بن الاسود السکوني وو، نو هغهٔ باندې ئې هم ګوزار وکړو چه زخمي ئې کړو، نو سمط ترې په تیښته خلاص شو۔

بیا اشعث په میدان د جنګ کښې ولاړ وو چه په توره ئې اشارې کولې،

بیا مهاجر بن ابی امیه ﷛ په اشعث باندې حمله وکړه دواړو په یو بل باندې ګوزارونه وکړل خو د اشعث ګوزار د مهاجر ﷛ په توپئ باندې ولګیدو او تقریباً سر ته ورسیدو نو هغه ترې جدا شو۔

بیا د مسلمانانو او د هغوی شریك جنګ ونښتو تردې چه مسلمانان ترې بیرته "یریم" علاقې ته لاړل او د دوئ نه څه کسان شهیدان شو او ډیر پکښې زخمیان شو۔

بیا اشعث دوباره د دغه ښار نه ګیره واچوله او مسلمانان ئې محاصره کړل،

زیاد ﷛ بیا خبر ابوبکر صدیق ﷛ ته ولیږلو، او په آخر د خط کښې ئې دا شعر ولیکلو:

مَنْ رَاكِبٌ نَحْوَ الْمَدِيْنَةِ مُخْبِرًا	رَهْطَ الرَّسُوْلِ وَسَادَةَ الْأَنْصَارِ

Maktaba Tul Ishaat.com

څوك سور انسان به مدينې طرف ته لاړ شي چه د رسول الله ﷺ ډلې او سردارانو انصارو ته خبر ورکړي۔

د ابوبکر صدیق رضي الله عنه مشوره د اشعث او د هغه د ملګرو په باره کې

هرکله چه خط مدينې ته راورسيدو نو ابوبکر صدیق رضي الله عنه مېلګري مشورې دپاره راجمع کړل، چه ما ته د کنده په باره کښې مشوره راکړئ چه څه وکړو؟

ابو ايوب انصاري رضي الله عنه ووېل: زما مشوره دا ده چه ددې خلکو شمار زيات دې او په دوئ کښې د بادشاهئ نشه او کبر دې او که دوئ اراده وکړي چه فوجونه راجمع کړي نو ډير مخلوق به راجمع کړي نو که تهٔ سږ کال د دوئ نه خپل اسونه راواپس کړې او د دوئ د مالونو نه اعراض وکړې نو زما اميد دې چه دوئ به حق ته انابت وکړي او تا ته به زکات ددې کال نه روستو په خپله خوښه راوړي، نو دا ما ته خوښه ده ددې نه چه تهٔ هغوي سره جنګ وکړې، ځکه چه تا ته معلومه ده چه هغوي شاهسواران او پهلوانان دي، د هغوي مقابله د هغوي په شان خلك کولې شي،

نو ابوبکر صدیق رضي الله عنه د ابو ايوب رضي الله عنه په وينا آوريدو سره مُسکے شو بيا ئې ووېل: اے ابو ايوب! که دوئ زما نه يو پړے منع کړي کوم چه به دوئ رسول الله ﷺ ته ادا کولو نو زهٔ به ورسره په هغې باندې قتال کوم، يا به دوئ حق ته راواپس شي په ذلت او سپکاوي سره۔ نو ابو ايوب انصاري رضي الله عنه غلے شو۔

بيا ابوبکر صدیق رضي الله عنه خپل کور ته لاړو او د عمر فاروق رضي الله عنه پسې ئې جواب وليږلو، هغه ئې راوغوښتو چه زهٔ علي بن ابي طالب رضي الله عنه دې خلکو ته ليږم ځکه چه ددې لائق دے،

عمر بن الخطاب رضي الله عنه ورته وفرمايل: ستا خبره صحيح ده، دے بيخي لائق دے ليکن زما مشوره دا ده چه علي رضي الله عنه خپلې مشورې ته پريده ځکه چه تهٔ ددهٔ نه مستغني نهٔ ئې۔

او عکرمه بن ابي جهل رضي الله عنه پسې خط وليږه چه هغه اشعث او د هغهٔ د ملګرو د مقابلې دپاره لاړ شي، ځکه چه هغه جنګي سړے دے او دے آواز ته تيار ناست دے،

Maktaba Tul Ishaat.com

ابوبکر صدیق ﷛ وفرمایل : همدا رایه صحیح ده۔

د ابوبکر صدیق ﷛ عکرمه ﷛ ته خط

امابعد : تاته د اشعث او د کنده د قبائلو خبر رسیدلے دے، او ما ته زیاد بن لبید ﷛ خط راغلو چه کنده قبائل په هغهٔ او د هغهٔ په ملګرو راجمع شویدی او هغوی ئے په "یریم" ښار کښے په حضرموت کښے راګیر کړیدی نو کله چه تهٔ دا خط ولولے نو د زیاد ﷛ مدد دپاره ټول ملګری واخله او کوم خلك چه په مکه کښے دی هغه ځان سره روان کړه۔ (په روایت دطبری کښے دی چه دے وخت کښے عکرمه په آبین ښار کښے وو چه دا د یمن یو صوبه ده)

او د عربو چه په کومه قبیله ورتیریږے نو ځان سره ئے راپاڅوه او د اشعث بن قیس او د هغهٔ د ملګرو د جنګ دپاره ئے روان ګړه۔ والسلام۔

هرکله چه عکرمه ﷛ ته خط راورسیدو او هغهٔ ولوستلو نو په خپلو ملګرو کښے ئے آواز وکړو او کومو خلکو چه د هغهٔ خبره ومنله د مکے والو نه (یا د ابین والو نه او ابین د صنعاء الیمن نه (۴۲۷) کیلو میټره جدا دے)

نو هغهٔ دوه زره (۲۰۰۰) شاهسواران د قریشو او د هغوی د غلامانو او احلافو نه ځان سره روان کړل۔

د عکرمه ﷛ اشعث طرف ته روانیدل :

عکرمه ﷛ روان شو تردے چه نجران ته ورسیدو چه دا د مدینے نه (۹۰۷) کیلو میټره جدا علاقه ده، چه په نجران باندے پدے وخت کښے جریر بن عبد الله البجلی ﷛ د خپلو ترونو ځامنو سره والی دے، نو عکرمه ﷛ ورته دعوت ورکړو د اشعث او د هغهٔ د ملګرو د جنګ دپاره نو جریر ﷛ د هغهٔ خبره ونهٔ منله۔

بیا د نجران نه لاړو مأرب ته چه دا په یمن کښے لوی ښار دے، (د نجران او د مأرب ترمینځ (۷۴۸) کیلو میټره فاصله ده)

Maktaba Tul Ishaat.com

نو هلته ئے پړاؤ واچولو،
نو "دَبَا" والو ته دا خبر ورسیدو۔
(دَبَا د عربو یو بازار دے په عمان کښې، د "دبا" او د "نجران" ترمینځ (۱۹۵٤) کیلو میټره فاصله ده او د "دبا" او د "مأرب" ترمینځ (۱٦۰۳) کیلو میټره فاصله ده)
نو "دبا" والا د عکرمه بن ابی جهل ﷺ د کنده قبائلو د جنګ دپاره په راتللو په غصه شول او یو بل ته ئے وویل:
[تَعَالَوا حَتّٰی نُشْغِلَ عِكْرِمَةَ وَاَصْحَابَهٗ عَنْ مُحَارَبَةِ بَنِیْ عَمِّنَا مِنْ كِنْدَةَ وَغَيْرِهِمْ مِنْ قَبَائِلِ الْيَمَنِ]
راځئ چه مونږ عکرمه او د هغهٔ ملګری د خپلو ترونو ځامنو د کنده وغیره یمنی قبائلو د جنګ نه مشغول کړو، او پدے خبره ئے پوره عزم وکړو،
بیا دوئ راغلل او د ابوبکر صدیق ﷺ په یو عامل باندے ئے راتوپ کړل کوم چه د دوئ په ښار باندے مقرر وو چه د هغهٔ نوم حُذیفه بن محصن الغلفانی ﷺ دے۔
نو هغه ئے د خپلے علاقے نه وشړلو نو د هغوی عامل د هغوی نه اُووتو تردے چه د عکرمه بن ابی جهل ﷺ خواته راغلو او د هغهٔ سره ئے پناهی واخسته۔

د اهل "دَبَا" عامل حذیفه ﷺ ابوبکر ﷺ ته خط لیکی:

نو حذیفه بن مِحْصَن غلفانی ﷺ ابوبکر صدیق ﷺ ته خط ولیږلو چه هغهٔ ته ئے د اهل "دبا" د اسلام نه د ارتداد او د هغهٔ د شړلو خبر ورکولو، او دا ئے هم ورته ولیکل چه زهٔ اُوس عکرمه بن ابی جهل ﷺ خواته راغلے یم،
نو ابوبکر صدیق ﷺ پدے کار باندے سخت غصه شو او عکرمه ﷺ ته ئے خط ولیږلو:
اما بعد: ما تا ته خط لیږلے وو او ما تا ته حضرموت ته د تللو حکم کړے وو نو هرکله چه تهٔ زما دا خط ولولے نو د الله تعالیٰ په برکت باندے "دبا" والو پسے لاړ شه او هغوی باندے هغه څه نازل کړه چه هغوی ئے لائق دی، او زما پدے حکم کښے کوتاهی مهٔ کوه، نو هرکله چه تهٔ د هغوی د کار نه فارغه شوے نو ما ته د هغوی قیدیان راولیږه او

Maktaba Tul Ishaat.com

بیا د زیاد بن لبید ﷺ د مدد دپاره لاړ شه، امید دے چه الله تعالیٰ به ستا په لاسونو باندے ان شاء الله د حضرموت ښارونه فتح کړی، ولا حول ولا قوة الا بالله العلی العظیم۔

هرکله چه د ابوبکر صدیق ﷺ خط عکرمه بن ابی جهل ﷺ ته راورسیدو نو هغهٔ په خپلو ملګرو کښے آواز وکړو او هغوی ته ئے حکم وکړو چه "دَبَا" والو ته به ورځو۔

نو دواړه قومونه یو بل ته نزدے شو او جنګ شروع شو، نو عکرمه بن ابی جهل ﷺ هغوی ته شکست ورکړو تردے چه "دبا" والا ئے د هغوی آخری سر د ښارونو ته ورسول، او د هغوی نه ئے تقریباً سل (۱۰۰) کسان قتل کړل۔

بیا عکرمه بن ابی جهل ﷺ د هغوی پسے روان شو دوے ځلی ئے د هغوی د قتال اراده وه، نو دغه خلك په خپل ښار کښے ننوتل او قلعه کښے پټ شول نو عکرمه بن ابی جهل ﷺ د ملګرو سره ورغلو د هغوی ئے محاصره کړل او تنګی ئے پرے راوسته۔

نو هغوی باندے محاصره ډیره سخته شوه ځکه چه هغوی ددے دپاره تیاری نهٔ وه کړے، نو حذیفه بن محصن ﷺ پسے ئے سړے ولیږلو چه د هغهٔ نه ئے صلح غوښتله پدے شرط چه دوئ به زکاة ادا کوی او د هغهٔ محبت ته به راواپس کیږی، او د دوئ نه به عکرمه بن ابی جهل ﷺ واپس کیږی۔

نو دوئ ته د دوئ عامل (حذیفه ﷺ) جواب ولیږلو چه زمونږ او ستاسو ترمینځ هیڅ صلح نشته، مګر هله چه تاسو دا اقرار وکړئ چه مونږ په حقه یو او تاسو په باطله وئ، او زمونږ مړی په جنت کښے او ستاسو مړی په جهنم کښے دی، او پدے شرط چه مونږ به په تاسو کښے فیصله کوو څنګه چه مونږ وغواړو، نو هغوی دے خبرے منلو ته تیار شو،

نو دوئ ته ئے جواب ولیږلو چه تاسو اُوس د خپل ښار نه بغیر د وسلے نه بهر شئ، نو هغوی راووتل، او مسلمانان د هغوی قلعه ته ورننوتل، نو د هغوی اشراف ئے قتل کړل او زنانه او اولاد ئے قیدیان کړل او د هغوی نه ئے مالونه واخستل،

بیا عکرمه بن ابی جهل ﷺ د هغوی د ښار ته راکوز شو،

دارنګه د هغوی سړی ئے لاس تړلی ابوبکر صدیق ﷺ ته راولیږل چه هغوی درے

سوه (۳۰۰) جنګیان وو او څلور سوه (۴۰۰) زنانه او ماشومان وو. څنګه چه خلګ وئیلی وو همغه شان کار وشو.

نو دلته ابوبکر صدیق ﷺ اراده وکړه چه جنګیان قتل کړی او د هغوی زنانه او ماشومان تقسیم کړی، لیکن عمر فاروق ﷺ ورته ووېل: اې د رسول الله ﷺ خلیفه! دا خلك په دین اسلام باندې دی، ځکه چه زه دوئ وینم چه په الله تعالیٰ باندې کلك قسمونه کوی، چه مونږ د دین اسلام نه نۀ یو اوړېدلی، لیکن دوئ په خپلو مالونو باندې بخل کړیدې، نو ځکه ئې داسې فساد کړیدې،

نو دوئ باندې جلتی مۀ کوه، او ځان سره ئې تر هغه وخته پورې وساته چه د دوئ په باره کښې بله رایه اختیار کړې.

نو ابوبکر صدیق ﷺ د دوئ په باره کښې حکم وکړو چه دوئ د رمله بنت الحارث انصاریه رضی الله عنها په کور کښې جیل ته واچوئ، نو هلته دوئ په جیل کښې وو تردې چه ابوبکر صدیق ﷺ وفات شو،

او خلافت عمر فاروق ﷺ ته ملاؤ شو نو هغۀ راوغوښتل او دا ئې ورته ووېل چه تاسو ته معلومه ده چه د ابوبکر صدیق ﷺ رایه او زما رایه ستاسو په باره کښې څه وه، اُوس ابوبکر صدیق ﷺ وفات شو او واك ما ته راوسپارلے شو نو بس تاسو لاړ شئ هر ښار ته چه مو خوښه وی، تاسو د الله تعالیٰ د مخ د خاطره آزاد شوئ، په تاسو هیڅ فدیه نشته، نو خلك په خپلو مخو لاړل څوك خپل ښار ته لاړل او څوك بصرې ته لاړل پس د آبادئ د هغې نه، چه په هغې کښې مهالبه ؤ (یعنی د ابو المهلب اولاد) ځانونو له ئې آبادیانې وکړې.

د اشعث قصې ته رجوع

نو عکرمه بن ابی جهل ﷺ لاړو چه د زیاد بن لبید ﷺ د مدد اراده ئې وه، نو دا خبره اشعث بن قیس ته ورسیده نو هغه لاړو او د حضرموت په یوه قلعه کښې ئې ځان محفوظ کړو چه هغې ته نُجیر وائی (دا حضرموت ته نزدې قلعه ده) نو هغه ئې جوړ کړه او برابره ئې کړه او په هغې کښې ئې د خپل قوم زنانه او ماشومان جمعه کړل،

Maktaba Tul Ishaat.com

ددې قلعه دپاره په يو طرف کښې يوه دروازه وه چه د هغې نه به دوئ ته خوراك څکاك راتللو۔

نو دلته زياد بن لبيد ﷺ په خپلو ملګرو کښې آواز وکړو، نو هغوی ئې راجمع کړل بيا ئې ووېل : اې خلکو! پدې خبره پوهه شئ چه تاسو د ارتداد او کفر والو سره جنګ کوئ نو خپلې وسلې رابښکاره کړئ او خپلې توری تيرې کړئ او خپلې نيزې برابرې کړئ ځکه چه زهٔ به صبا له ان شاء الله دوئ پسې ورځم۔

او دا عکرمه بن ابی جهل ﷺ ان شاء الله تعالیٰ تاسو ته په يو لوی لښکر کښې راروان دې چه ستاسو مدد له راځی، نو په مدد او کاميابئ باندې خوشحاله شئ، نو دلته زياد بن لبيد ﷺ خپل ملګری د دشمنانو په جنګ باندې زړه ور کول او هغوی ته ئې تيزی ورکوله

نو اشعث بن قيس ته ورسيدل چه زياد بن لبيد ﷺ خپل ملګری په جنګ باندې زړه ور کوی، نو هغهٔ هم خپل ملګری راتيز کړل او دا ئې ورته ووېل : اې د کنده ډلې ! تاسو پدې مهٔ پريشانه کيږئ چه ستاسو دشمنانو ته د ملګرو مدد راروان دې، ځکه چه فتح د صبر سره وی او چه تاسو لږ مضبوط شوئ نو دوئ نشی ټينګيدې، نو دوئ سره د ثواب په نيت جنګ وکړئ او نيزې پکښې ورننباسئ او په تورو ئې مقابله وکړئ، او د عزت نه روستو مهٔ ذليله کيږئ او د قوت نه روستو مهٔ کمزوری کيږئ،

نو پدې کښې د کنده هر مشر خپل ترونو ځامن په جنګ باندې راتيز کړل او په کوتاهی نهٔ کولو ئې ورته حکم وکړو۔

نو سهار کښې زياد بن لبيد ﷺ خپل ملګری تيار کړل په ښی طرف ئې مهاجر بن ابی اميه المخزومی ﷺ مقرر کړو او په ګس طرف ئې وائل بن حُجر الحضرمی ﷺ او په غاړه باندې ئې ابن قُتيره السکونی ﷺ مقرر کړو۔

او اشعث بن قيس هم خپل ملګری تيار کړل په ښی طرف ئې خَنُفَشِيُش بن عمرو مقرر کړو او په ګس طرف ئې عبد الرحمن بن مُحرز الُحَطُحَمِی او په غاړه ئې مُرّه بن امرئ القيس الذهلی مقرر کړو او اشعث بن قيس د فوج په مينځ کښې روان شو چه وسله ئې اغوستې وه او د خپل نيکه يزيد بن معدی کرب تاج ئې په سر وو،

نو زياد بن لبيد ﷺ رامخکښې شو تردې چه د خپلو ملګرو مخامخ ودريدو په مينځ

Maktaba Tul Ishaat.com

د خپل فوج کښې په يو تور اس باندې چه دوه زغرې ئې اغوستې وې چه دپاسه پرې زيږ وريښم وو او توره ئې په اُوګه باندې وه،

نو خپل مينځ کښې جنګ شروع شو، مهاجر بن ابی اميه المخزومی ﷺ مخکښې شو نو په ميدان د جنګ کښې تاويدو نو دلته نه پرې خنفشيش بن عمرو حمله وکړه چه دا د اشعث بن قيس په فوج کښې ډير لوی پهلوان او شاهسوار وو، نو دواړو په يو بل باندې ادل بدل ګوزارونه وکړل، مهاجر بن ابی اميه ﷺ پرې ورمخکښې شو ليکن په هغۀ کښې ئې هيڅ کار ونکړو، نو خنفشيش پرې ګوزار وکړو چه د مهاجر ﷺ د وسپنې توپۍ ئې څيرې کړه او نزدې وه چه دماغو ته ئې رسيدلې وې، نو مهاجر ﷺ د هغۀ د اس مرئ ونيوله او په طريقه ئې ځان د ميدان نه يو طرف ته کړو،

بيا خنفشيش د زياد بن لبيد ﷺ په يو بل ملګری وائل بن حُجر ﷺ باندې حمله وکړه نو هغه ئې په نيزه سره د اس نه ګوزار کړو نو زخمی شو،

نو وائل بن حُجر ﷺ په ميدان د جنګ کښې تاؤ شو۔

نو دواړه ډلې په يو بل کښې سخت ګډوډ ورننوتل،

اشعث بن قيس د زياد بن لبيد ﷺ په ملګرو کښې يو سړی ته وکتل چه ډير سخت جنګ ئې کولو، نو سيده ورغلو او په هغۀ باندې ئې حمله کوله چه په توره ئې ووهی ليکن د دغه سړی ځوی په اشعث باندې حمله وکړه، اشعث بن قيس چه وکتل هغه وړوکې هلك وو، نو په هغۀ باندې ورمخکښې نشو ليکن په ميدان د جنګ کښې اُودريدو او زياد ﷺ طرف ته ئې اشارې ورکولې، نو دې وخت کښې ورته زياد بن لبيد ﷺ رامنده کړه او دواړو په يو بل باندې حمله وکړه، يو يو ګوزار ئې په خپل ملګری وکړو، خو د اشعث داسې ګوزار وو چه د زياد ﷺ ډهال پرې ولګيدو نو هغه ئې څيرې کړو او د هغۀ د لاس نه ئې ګوزار کړو نو زياد ﷺ د هغۀ د مخې نه اخوا شو، نو اشعث بن قيس ورپسې ورمنده کړه نو د شا ته نه ئې په کوتك د سر باندې ووهلو نو د سر توپۍ ئې څيرې کړه، او بل ګوزار ئې پرې په ګس طرف باندې وکړو او زياد ﷺ دوه زغرې اغوستې وې او دوه د وريښمو کپړې سِوئ د خپلو کپړو نه نو اشعث دا ټولې څيرې کړې تردې چه توره د زياد ﷺ مټ ته ورسيده نو زياد په جلتئ ودانګل او خلاص شو۔

بيا اشعث په ټولو مسلمانانو باندې حمله وکړه نو په هر شی چه به ورتيريدو هغه

Maktaba Tul Ishaat.com

به ئے ماتولو،

نو پدے کښے په زیاد ﷺ او د هغهٔ په ملګرو باندے شکست راغلو تردے چه دوئ د "حضرموت" ښار ته ننوتل او هلته ئے ځانونه محفوظ کړل،

دا خبر عکرمه بن ابی جهل ﷺ ته ورسیدو نو هغهٔ زیاد ﷺ ته خط راولیږلو چه هغهٔ ته ئے وخت وربښودلو چه زهٔ به په فلانئ ورځ او په فلانی وخت کښے د فوج سره دررسیږم نو زیاد ﷺ د عکرمه ﷺ په راتللو ډیر خوشحاله شو۔

هرکله چه هغه ورځ راغله کومه چه عکرمه ﷺ وعده کړے وه چه په هغے کښے به رارسیږی نو زیاد ﷺ په خپلو ملګرو کښے آواز وکړو نو هغوی په اسونو باندے سوارهٔ شول او هغهٔ د "بریم" ښار نه اُووتل پداسے حال کښے د هغهٔ لاسونه تړلے شوی وو د وجه د هغهٔ ګوزارونو نه چه دهٔ ته د اشعث د وجه نه رسیدلی وو تردے چه په اس باندے کیناستو۔

نو دلته د ښار د دروازے د طرف نه د اسونو غبار راپورته شو نو اشعث بن قیس پو هه شو چه زیاد ﷺ سره د بیماریٔ نه دهٔ طرف ته راووتو نو هغهٔ په خپلو ملګرو کښے آواز وکړو نو هغوی هم سوارهٔ شول،

بیا اشعث بن قیس زیاد بن لبید ﷺ طرف ته په غیر د تیاریٔ نه راروان شو، هرکله چه دواړه اسونه یو بل سره مخامخ شول نو دلته اشعث په میدان د جنګ کښے په اس ګرځیدو نو زیاد ﷺ ورته هیڅ جواب ورنکړو۔

نو تول یو بل کښے ننوتل او لږ ساعت جنګ وشو، د زیاد بن لبید ﷺ اسونه نزدے وه چه تښتیدلی وے لیکن زیاد بن لبید ﷺ به ملګرو ته تسلی ورکوله چه نزدے ده چه د عکرمه بن ابی جهل ﷺ اسونه به رابښکاره شی او د لږ ساعت د صبر تلقین بهٔ ئے ورته کولو،

پدے مابین کښے مسلمانان وو چه ناګهانه د عکرمه بن ابی جهل ﷺ اسونه په دوئ باندے په ډیره ښکلے تیاریٔ کښے رابښکاره شول چه ډیر کره اسونه او پوره وسلے ورسره وے او کلک مضبوط پهلوانان سړی ورسره وو۔

نو دلته د کنده قبائلو د عکرمه بن ابی جهل ﷺ اسونه ولیدل چه دوئ باندے رابښکاره شول نو دوئ اشعث ته چغه کړه، چه ستا څه رایه ده، دا ګرم اسونه راورسیدل

او مونږ ستړي شوي يو، او اسونه مو نږدې ده چه کار پريدي، او زمونږ عام خلك زخميان دي،

نو اشعث بن قيس دوئ لره تيزي او بهادري ورکوله او د صبر امر ئې ورته کولو او د عجز او کمزورئ نه ئې منع کول.

نو پدې کښې د عکرمه بن ابی جهل ﷺ اسونه د زياد بن لبيد ﷺ د اسونو سره يو ځائې شول او په يو ځائې کښې شول، بيا ئې په شريکه په اشعث او د هغهٔ په ملګرو باندې حمله وکړه نو دهغوی نه يو تن هم په شا لاړ نشو ليکن ددې خلکو مخونو ته ئې تورې مخامخ کړې، نو هغوی ترې واپس لاړل.

بيا اسونه يو بل پسې وګر ځيدل، نو د اشعث بن قيس د شاهسوارانو او بهادرانو نه يو سړې چه نوم ئې عَرْفَجَه بن عبد الله الذهلي وو، هغه رامخکښې شو،

بيا عرفجه د مسلمانانو په اسونو باندې حمله وکړه نو همداسې لګيا وو چه جنګ به ئې کولو تردې چه مسلمانان د هغهٔ د نيزې او د تورې نه پريشانه شول،

نو پدې کښې د مکې والو نه يو سړي غشې راويشتو او د عرفجه په زرهٔ باندې ولګيدو نو قتل ئې کړو.

نو زياد بن لبيد ﷺ چغه کړه :

[يَا مَعْشَرَ الْمُسْلِمِيْنَ ! اَبْشِرُوْا فَقَدْ اَخْمَدَ اللّٰهُ عَزَّ وَجَلَّ جَمْرَةَ كِنْدَةَ بِقَتْلِ عَرْفَجَةَ الذُّهْلِيِّ]

اې د مسلمانانو ډلې! خوشحاله شئ، الله تعالیٰ د کِنده قبيلې سکروټه د عرفجه ذهلي په مرګ سره مړه کړه.

پدې کښې اشعث بن قيس سر تور سر رامخکښې شو تردې چه د دواړو ډلو په مينځ کښې اُودريدو نو عکرمه بن ابی جهل ﷺ ورته اُووتو، نو دواړه د يو بل سره په يو يو ګوزار مخامخ شو، نو دواړو يو بل زخمي کړو، او دواړه د يو بل نه جدا شو او هيڅ ئې ونکړل.

نو هر يو نيزه د خپل لاس نه ګوزار کړه او په توره ئې جنګ شروع کړو.

بيا د يو بل سره مخامخ شو، چه اشعث بن قيس پرې ورمخکښې شو او ګوزار ئې پرې وکړو چه په هغې سره ئې د عکرمه بن ابی جهل ﷺ د وسپنې توپئ ځيرې کړه.

بيا دلته نه يو سړي چه هغهٔ ته ئې نُعمان بن الحارث وئيلو په اشعث باندې ورمنده

Maktaba Tul Ishaat.com

کړه او هغهٔ ئې په نيزه په داسې ناکاره ګوزار سره ووهلو چه نزدې وه چه اشعث بن قيس د اس نه راګوزار کړي، بيا نعمان بن الحارث په ميدان کښې وګرځيدو،

نو پدې کښې د اشعث د ملګرو نه ورته يو تن راووتو چه هغهٔ ته ئې مُره بن امرؤ القيس وئيلو، هغهٔ په نعمان بن حارث باندې حمله وکړه نو په نيزه باندې ئې په سخت ګوزار سره ووهلو چه په زمکه ئې شهيد راګوزار کړو،

او اشعث بن قيس به همدغه شان په ميدان د جنګ کښې جنګيدو، پدې کښې هوا راوالوته او غبار راپورته شو نو خلکو يو بل نهٔ ليدل، خلکو اشعث کتلو نو پيدا ئې نکړو نو کِنده قبيلو ګمان وکړو چه هغهٔ به وژلې شوې وي،

لږ ساعت روستو غبار ختم شو نو خلکو وکتل چه اشعث بن قيس سر تور سر آوازونه کوي چه [اَلصَّبْرُ اَلصَّبْرُ يَا مَعْشَرَ كِنْدَةَ ! فَإِنَّ الْقَوْمَ قَدْ صَبَرُوْا لَكُمْ]

لږ صبر وکړئ اې د کنده ډلې ! ځکه چه دې خلکو تاسو ته صبر کړيدې۔

دا خلك په همدې حالت کښې وو تردې چه ماښام شو۔

بيا ټول مسلمانان په يو ځائې کښې راجمع شول، او په تکبير سره ئې آوازونه پورته کړو، بيا ئې په اشعث بن قيس او د هغهٔ په ملګرو حمله وکړه لکه د يو سړي د حملې په شان نو هغوی ټولو ته ئې شکست ورکړو تردې چه هغوی ئې يوې لوی قلعه ته مجبوره کړل۔

نو اشعث او د هغهٔ قوم دغه قلعه ته ورننوتل او په ځانونو پسې ئې دروازه بنده کړه او زياد ﷺ او عکرمه بن ابی جهل ﷺ او مهاجر بن ابی اُميه ﷺ او ټول مسلمانان راغلل تردې چه دغه قلعه ته راکوز شول او د هغې نه ئې ګير چاپيره ګيره واچوله او د کِنده په قبائلو باندې دا محاصره ډيره سخته شوه،

نو اشعث بن قيس ورته ووئيل : ائې د ترونو ځامنو ! ستاسو څه مشوره ده؟

هغوی ووئيل : قسم په الله رائې دا ده چه مونږ عزتمن مره شو، اشعث بن قيس ورته ووئيل : که تاسو دا عزم کړې وی نو بيا داسې کار وکړئ لکه چه زهٔ ئې کوم، تردې چه ما ته معلومه شي چه تاسو رشتينې يئ،

بيا اشعث بن قيس د خپل تندی ويښته راپريکړل او د خپلې نيزې په سر کښې ې وتړل نو ټول قوم دغه شان کارونه وکړل او په مرګ باندې ئې يو بل سره بيعت وکړو۔

هرکله چه صبا شو نو اشعث بن قیس امر وکړو چه د قلعه دروازه کولاوه کړئ هغه کولاوه شوه، او اشعث بن قیس په خپل اس باندے کیناستو او د خلکو نه مخکښے اُووتو او د هغهٔ پسے روستو خنفشیش بن عمرو وو او د هغهٔ کمڅئ د نیزے په سر کښے تړلے شوے وه، بیا د هغهٔ نه روستو سعید بن معدیکرب راووتو، نو هرکله چه به یو مشر راوتو نو د هغهٔ سره به خپله قبیله راوتله،

نو دلته دواړه ډلے د یو بل سره ګډوډے شوے، نو د قلعه په دروازه باندے ئے داسے سخت جنګ وکړو چه د هغے په شان جنګ ددے ورځے نه مخکښے هیڅکله نهٔ وو شوے، تردے چه د دواړو ډلو نه ډیر زیات خلك قتل شول۔

او اشعث بن قیس باندے هم ډیر زخمونه راغلل، چه د هغے په وجه دے او ددهٔ فوجونه په شا باندے وتښتیدل تردے چه قلعه ته بیرته ننوتل نو مسلمانانو هغوی لره ډیر سخت محاصره کړل۔

راوی وائی : ددے حالت نه د کِنده هغه قبیلے خبرے شوے چه هغوی اشعث نه جدا شوی وو هرکله چه هغهٔ د ابوبکر صدیق ﷛ استازے وژلے وو، نو یو بل ته ئے وویل : اے قومه زمونږ !

[اِنَّ بَنِیْ عَمِّنَا قَدْ حُصِرُوْا فِیْ حِصْنِ النُّجَیْرِ وَهٰذَا عَارٌ عَلَیْنَا اَنْ نُّسْلِمَهُمْ فَسِیْرُوْا بِنَا اِلَیْهِمْ]

زمونږ د ترونو ځامن د نُجَیر په قلعه کښے راګیر کړے شویدی، او دا مونږ له د شرم خبره ده چه مونږه ئے دشمن ته پریدو، نو راځئ چه د هغوی مدد دپاره ورشو۔

نو د کِنده قبائل راروان شول چه د مسلمانانو سره ئے د جنګ اراده وه، او د دوئ نه مخکښے جبر بن قَشْعَم اَرْقَمِیْ راروان وو، چه په وسلو کښے پټ وو، او ابو قُرّه الکندی د خپل قوم بنو الحارث سره او ابو شمر الکندی د خپل قوم بنو حمیر سره راغلل۔

نو زیاد بن لبید ﷛ ته دا خبره راورسیدله چه دا خلك راروان شویدی نو د دوئ پدے کار خفه او پریشانه شو، بیا عکرمه بن ابی جهل ﷛ ته متوجه شو چه ستا ددے په باره کښے څه رایه ده ؟ عکرمه ﷛ وویل : تهٔ د قلعه په دروازه کینه او ددے خلکو محاصره وکړه او زهٔ به لاړ شم او د دغه خلکو سره به مخامخ شم، زیاد ﷛ ورته وویل : ډیره ښه خبره دِے وکړه، لیکن اے عکرمه ! وګوره که الله تعالیٰ په دوئ باندے کامیاب کړے نو د دوئ نه توره پورته نکړے تردے چه دوئ تر آخره پورے هلاك کړے۔

عکرمه بن ابی جهل ﷺ وویل : زهٔ به خپل کوشش کنبے کوتاهی نکوم څومره چه زما قدرت وی،

بیا عکرمه بن ابی جهل ﷺ خپل ملګری راجمع کړل او روان شو تردے چه د دغه خلکو سره مخامخ شو، بیا ئے د جنګ تیاری وکړه نو عکرمه ﷺ په دوئ باندے په ټولو ملګرو سره حمله وکړه نو دلته سخت جنګ وشو، چه د عکرمه ﷺ په ملګرو باندے شکست واقع شو نو د دوئ نه لږ کسان اُووژل شول، او عکرمه ﷺ هم په سر باندے ناکاره اُووهلے شو، نو شپه راغله چه د دواړو ډلو ترمینځ مانع واقع شوه۔

صبا له چه شو نو یو بل ته نزدے شول او جنګ ئے شروع کړو تردے چه ماښام شو۔

او پدے وخت کنبے اشعث بن قیس ته هیڅ خبر نشته چه ددهٔ د ترونو ځامن ددهٔ مدد دپاره راروان دی۔

البته په اشعث بن قیس او د هغهٔ په ملګرو باندے محاصره اُوږده شوه او لوږه او تنده پرے سخته شوه،

نو اشعث بن قیس زیاد بن لبید ﷺ پسے جواب ولیږلو چه مونږ به درسره صلح وکړو خو ټول نُجَیر والو ته امان ورکړه نو زیاد ﷺ دا نهٔ منله، بیا اشعث وویل چه اویا (۷۰) کسانو خپلو خپلوانو ته امان راکړه او په باقی کسانو کنبے به ستا حکم نافذ وی (چه د هغوی سره هرڅه کوے ستا خوښه ده) نو زیاد ﷺ ورسره دا اُومنله۔

(په طبری کنبے ددهٔ کورنئ او نور لس (۱۰) کسان ملګری ذکر شویدی)

او زیاد ﷺ پدے باندے ورسره یو خط ولیکلو، نو دلته قلعه والو دا ګمان وکړو چه اشعث بن قیس دوئ ټولو لره امان واخستو نو دوئ ټول غلی شول او هیڅ ئے ونهٔ وئیل،

او دا خبر عکرمه بن ابی جهل ﷺ ته ورسیدو نو هغهٔ دغه قومونو ته وویل چه تاسو مونږ سره په څه خبره جنګیږئ ؟ هغوی وویل : مونږ تاسو سره د اشعث بن قیس او د هغهٔ په ملګرو جنګیږو چه تاسو محاصره کړیدی، نو عکرمه ﷺ ورته وویل : ستاسو صاحب (اشعث) امان طلب کړے او دا د زیاد بن لبید ﷺ خط دے چه ما ته ئے پدے باندے خبر راکړیدے،

بیا ئے خط هغوی ته وروغورزولو، هرکله چه هغوی خط ولوستلو نو دا ئے وویل :

اے سریه ! څه لاړ شه نن ورځے نه روستو زمونږ تا سره د قتال هیڅ ضرورت نشته، بیا دغه خلك د عکرمه بن ابی جهل ﷛ د جنګ نه ستانهٔ شول او دوئ پدے حالت کښے اشعث ته کنځل کول او په هغهٔ باندے ئے لعنت وئیلو۔

نو اشعث بن قیس د قلعه نه راکوز شو د خپل اهل بیتو سره او ددهٔ د ترونو ځامنو سره کوم چه د قوم مشران وو هغوی هم سره د خپل خاندانونو او مالونو او اولاد نه راکوز شول،

نو زیاد ﷛ اشعث ته ووئیل : اے اشعث ! آیا تا ما نه د لسو (۱۰) کسانو امان سره د اهل او اولادو نه نهٔ وو غوښتے ؟ او پدے ډے ما سره خط لیکلے وو ؟ اشعث ووئیل : ولے نهٔ، همداسے وه، زیاد ﷛ ووئیل : الحمد لله ! تا خو د خپل ځان دپاره امان نهٔ دے اخستے، په خط کښے ستا نوم نشته نو زهٔ به ډے اُوس وژنم۔

اشعث ورته ووئیل : دا چرته کیدے شی چه زهٔ د بل دپاره امان اخلم او ځان پریږدم، او هر چه تهٔ دا خبره کوے چه زهٔ ډے وژنم نو که زهٔ ډے قتل کړم نو ټول یمن والا به په تا باندے او ستا په ملګرو باندے خپل اسونه او پیاده خلك راخکاږی او مخکنے حالت به درنه هیر کړی،

نو زیاد ﷛ ورته ووئیل : قسم په الله زما امید دے چه تا به ابوبکر صدیق ﷛ وینی چه ستا څټ به وهلے شی، څکه چه تهٔ ددے لائق ئے (یعنی ستا په باره کښے به ابوبکر صدیق ﷛ فیصله کوی) نو اشعث ووئیل : ما ابوبکر ﷛ ته ولیږه هغه چه په ما کښے څه غواړی فیصله به وکړی۔

بیا زیاد ﷛ د اشعث او د هغهٔ د ملګرو نه اعتماد واخستو او قلعه ته داخل شو، نو شروع شو چه جنګیان به ئے رانیول او د هغوی څټونه به ئے وهل،

خلکو ورته ووئیل : اے سریه ! تهٔ مونږ څنګه وژنے، مونږ چه د قلعه دروازه کولاوه کړه څکه چه مونږ ته اشعث خبر راکړے چه تا مونږ ته امان راکړے، نو مونږ ولے وژنے؟

زیاد ﷛ ووئیل : اشعث دروغ وائی۔ هغه خو په خط کښے صرف خپل اهل او د خپل کور لس (۱۰) کسان لیکلی دی، نو خلك غلی شول، او پو هه شول چه اشعث خپله دوئ لره قتل ته سپارلی دی۔

نو دے وخت کښے زیاد ﷛ د دوئ څټونه وهل چه پدے کښے د ابوبکر صدیق ﷛

Maktaba Tul Ishaat.com

خط راورسیدو چه په هغے کښے ئے لیکلی وو،

امّا بعد : ما ته دا رارسیدلی دی چه اشعث بن قیس امان غوښتے دے، او هغه به زما په حکم باندے راکوزیږی نو کله چه تا ته زما دا خط درشی نو اشعث ما ته په عزت سره راورسوه او د کِندہ د اشرافو نه یو تن هم مهٔ وژنه، نهٔ غټ او نهٔ وړوکے۔ والسلام۔

هرکله چه زیاد ﷺ دا خط ولوستلو نو وے وئیل :

[اَمَا اِنَّهٗ لَوْ سَبَقَ هٰذَا الْكِتَابُ قَبْلَ قَتْلِيْ هٰوُلَاءِ مَا قَتَلْتُ اَحَدًا مِنْهُمْ، وَلٰكِنْ قَدْ قُضِيَ فِيْهِ الْقَضَاءُ وَالْقَدَرُ]

که دا خط ما ته ددے خلکو د وژلو نه مخکښے رارسیدلے وے نو ما به د دوئ نه یو تن هم نهٔ وے وژلے لیکن پدے کښے د الله تعالیٰ فیصله او تقدیر نافذ شو۔

نَهِیك بن اوس الانصاری ﷺ فرمائی : ما د کِندہ وژلی شوی خلك داسے پراتهٔ ولیدل لکه بنو قریظه چه څنګه وژلے شوی وو کله چه هغوی د سعد بن معاذ ﷺ په حکم راکوز شوی وو۔

بیا زیاد بن لبید ﷺ د کِندہ د بادشاهانو نه باقیمانده خلك - چه دوئ اتیا (۸۰) کسان وو- په وسپنو کښے وتړل (هتکړو کښے) او ابوبکر صدیق ﷺ ته ئے روان کړل۔

نو قیدیان راوستے شول تردے چه مدینے ته داخل کړے شول، او د ابوبکر صدیق ﷺ مخے ته ودرولے شول، هرکله چه ابوبکر صدیق ﷺ اشعث بن قیس ته وکتل نو وے فرمایل :

[اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ الَّذِیْ اَمْکَنَ مِنْكَ یَا عَدُوَّ نَفْسِهٖ]

الله تعالیٰ لره شکر دے چه زۀ ئے په تا قادر کړم اے د ځان دشمنه !۔

نو اشعث بن قیس ووئیل : قسم په الله چه الله تعالیٰ تهٔ په ما باندے قادر کړے۔ او بیا دا چه زما قوم زما په مخالفت کښے تابعداری وکړه او زۀ چه کله جنګیدم نو زما نافرمانی ئے وکړه، او زما نه هم هغه کار وشو چه زما نه د غیر وو۔

او ددے وجه دا وه چه ستا صاحب زیاد (ﷺ) زما قوم په ظلم او زیاتی سره ووژلو نو ما نه هغه حالت راپیښ شو چه تا ته معلوم دے۔

نو دے وخت کښے عمر بن الخطاب رضی الله عنه راتوپ کړل وے وئیل : اے د رسول الله ﷺ خلیفه ! دا اشعث بن قیس مسلمان وو، په نبی ﷺ ئے ایمان راوړے وو او قرآن

Maktaba Tul Ishaat.com

کریم ئې لوستلې دې او د بیت الله حج ئې کړیدې، بیا د خپل دین نه واوړیدو او دین ئې بدل کړو او زکاة ئې منع کړو او نبي علیه السلام فرمایلي دي:

[مَنْ بَدَّلَ دِيْنَهُ فَاقْتُلُوْهُ] [بخاری: ۳۰۱۷]

چا چه دین بدل کړو نو هغه قتل کړئ.

او الله تعالیٰ تا ته ددۀ په باره کښې فراخي درکړیده، نو دې قتل کړه ځکه چه ددۀ وینه حلاله ده.

نو اشعث ووئیل: اې د رسول الله خلیفه! ما دین نۀ دې بدل کړې او نۀ مې پکښې تغییر راوستې او نۀ ما په خپل مال باندې بخل کړیدې، لیکن ستا عامل (زیاد) زما په قوم باندې ظلم وکړو نو د هغوی نه ئې هغه څوک قتل کړل چه د هغۀ هیڅ ګناه نۀ وه، نو ما ته پدې خبره غیرت راغلو، او د خپل قوم دپاره مې بدله واخسته، نو ما ددۀ سره جنګ شروع کړو، او زما نه غلطي شویده او زۀ د خپل ځان او ددې بادشاهانو او په یمن کښې د هر قیدي آزادولو فدیه دا ګرځوم چه تۀ به ما ته خپله خور ام فَرْوَه بنت ابي قُحَافه په نکاح راکوې نو زۀ به تول عمر ستا مددګار او مُعَاوِن یم، ځکه چه زۀ ستا دپاره بهترین زوم (اوښې) یم، دا غوره ده د هغې خبرې نه چه عمر بن الخطاب ووئیله.

(او دا خبره ئې ځکه وکړه چه اشعث چه کله په وفد کښې رسول الله ﷺ ته راغلې وو، په اُمِ فَرْوَه ئې جرګه کړې وه نو هغۀ ورته په نکاح ورکړې وه لیکن وادۀ ئې روستو کړې وو دې ته چه دویاره به راځي، نو پدې کښې رسول الله ﷺ وفات شو او اشعث هغه کارونه وکړل کوم ئې چه وکړل، نو دلته اشعث ویریدو چه دغه ښځه به ورته واپس نکړي. (دا روایت د ابن جریر طبريؒ دې)

او دا ئې هم ووئیل چه ما د خپل جنګ دپاره وساته،

راوي وائي: ابوبکر صدیق ﷛ زمکې ته لږ ساعت سر خکته کړو بیا ئې پورته کړو، او وې وئیل: ما دا کار وکړو.

نو ابوبکر صدیق ﷛ ددۀ وینه محفوظ کړه پس د هغې نه چه د هغۀ مخامخ ئې اسلام قبول کړو،

بیا ابوبکر صدیق ﷛ د هتکړو نه کولاو کړو او ددۀ سره چه د کِنده کوم بادشاهان وو هغوی ئې هم کولاو کړل، بیا ئې هغۀ ته د کیناستو حکم وکړو نو هغه کیناستو او

Maktaba Tul Ishaat.com

ابوبکر صدیق ﷺ ورته خپل خور ام فروه بنت ابی قُحَافه ورواپس کړه او هغهٔ سره ئې ډیر احسان وکړو۔ او هغهٔ ته ئې دا وویل :

[اِنطَلِقُ فَلْيَبْلُغْنِیْ عَنْكَ خَیرٌ]

لاړ شه، ما ته دې ستا د طرف نه د خیر خبره راورسیږی۔

نو بیا اشعث بن قیس د ابوبکر صَدیق ﷺ سره په ډیرو غوره مرتبو او اُوچتو درجو باندې وو۔

هرکله چه اشعث بن قیس ام فروه رضی الله عنها په نکاح کړه نو توره ئې راوخکله او د اُوښانو بازار ته ورغلو نو هر اُوښ او اُوښه به ئې چه لیدله نو هغهٔ به ئې ذبح کوله، نو خلکو چغه کړه چه اشعث (بیرته) کفر وکړو، هرکله چه فارغ شو نو توره ئې گوزار کړه او دا ئې وویل : قسم په الله ! ما کفر نهٔ دې کړې، لیکن ما ته دې سړی (خلیفه) خپله خور په نکاح راکړه او که دا کار زمونږ په ښارونو کښې شوې وې نو زمونږ به ددې نه غیر ډیره لوېه ولیمه وې، اې مدینې والو ! اُوښان ذبح کړئ او خورئ، او اُوښانو والو ته ئې وویل : چه راشئ ددې قیمت واخلئ،

راوی وائی : ددې په شان ولیمه هیڅکله نهٔ وه لیدلې شوې۔

[سیر اعلام النبلاء : ۲/ ۳۹، الاصابة : ۱/ ۸۸، ابوبکر الصدیق اول الخلفاء : محمد رضا]

وئیلې شی چه ددې ام فروه رضی الله عنها نه د اشعث اولاد پیدا شول لکه محمد بن الاشعث، اسحاق بن الاشعث، جَعْدَة بنت الاشعث۔ اسحاق بن الاشعث د عبد الملك بن مروان په زمانه کښې په بعض جنگونو کښې قتل شو، او محمد بن الاشعث د عمر فاروق ﷺ او عثمان ﷺ او علی ﷺ په دور خلافت کښې وو او د حسین بن علی د مرگ په زمانه کښې هم ژوندې وو تردې چه د مختار بن ابی عبید په زمانه کښې قتل شو۔

او بیا اشعث بن قیس الکندی په مدینه کښې وسیدو تردې چه عمر فاروق ﷺ خلك د فارس والو د جهاد دپاره دعوت کړل نو اشعث هم په هغوی کښې اُووتو، او بیا د علی رضی الله عنه د شهادت نه څلویښت (۴۰) ورځې روستو وفات شو، او بعض وائی په سنه (۴۲ هـ) کښې وفات شو۔ او دهٔ درې شپیته (۶۳) کاله عمر وو۔

[کتاب الفتوح لاحمد بن اعثم الکوفی المتوفی حوالی عام ۹۲۶-۹۲۷، (۳۱۴هـ) ج۱/ ۴۵-۶۹، وتاریخ الطبری : ۳/ ۳۳۶، و کتاب الردة للواقدی متوفی (۲۰۷هـ) ص :

Maktaba Tul Ishaat.com

[۱۶۷-۲۱۵]

اشعث ﷛ د عثمان بن عفان ﷛ په دور خلافت کښې د آذربیجان والي (ګورنر) جوړ شوې او په جنګ یرموك کښې ئې سترګه وتلې وه، او په قادسیه او اصفهان جنګونو کښې د نعمان بن مقرن رضي الله عنه ملګرې وو، او په معرکه د مدائن او جلولاء او نهاوند کښې حاضر شویدې، او په کوفه کښې ئې په کِنده علاقه کښې ځان له کور جوړ کړې وو، او په هغې کښې به وسیدو او په جنګ صفین کښې د علي بن ابي طالب ﷛ د فوج د امیرانو مشر وو۔

دا وو د مرتدینو سره د ابوبکر صدیق ﷛ او د صحابه کرامو قربانیانې۔

ooo

اُوس دولسم (۱۲) کال داخل شو، پدې کښې کوم کارونه وشو؟ دا د ابوبکر صدیق ﷛ د خلافت دویم کال دې۔

د خالد بن ولید عراق ته تلل او د حیرې د صلح مقدمه

سنه ۱۲ هـ ۶۲۲م

ددې نه بعد ابوبکر صدیق ﷛ خالد بن ولید ﷛ ته امر وکړو چه هغه لا په یمامه کښې دې چه د همدغه ځائې نه سیده عراق ته لاړ شه او په عراق والو باندې حمله وکړه، د عراق ډیر ناشنا جنګونه دي چه مسلمانانو پکښې ډیرې زیاتې سختې تیرې کړیدي، خالد بن ولید ﷛ مدینې ته هم رانغلو او د همدغه ځائې نه همداسې روان شو، دې مسلسل جنګونو ته ګوره چه د څه وخت نه وتلې دې، او همداسې په جهاد کښې روان دې او روان دې، تر د مرګ ورځو پورې لګیا دې، لږ وخت له چرته مدینې ته راغلې دې، نور غالباً په همداسې سفرونو کښې دې، او پرله پسې جهاد ډیر ګران کار وی، چه یو طرف ته سفر هم مشکل وی، او بیا د تورو جهاد هم وی او بیا د لارو مشقتونه او یرې هم دی، دا ډیر د خواهشاتو خلاف دې څکه دې خلکو له الله تعالیٰ نومونه ژوندي

کړیدئ چه انسانان د هغوی د نومونو سره د رضی الله عنهم دعاء کوی۔

هرکله چه ابوبکر صدیق ﷺ د مرتدینو د قتال نه فارغ شو او عامے علاقے بیرته په اسلام کښے داخلے شوے، نو ابوبکر صدیق ﷺ خپلے سرایا او فوجونه بنی او کس طرفته خوارهٔ کړل دے دپاره چه اسلام ته لاره همواره شی، او تول خلك په دین اسلام کښے داخل شی او سرکشان خلکو سره جنګونه وکړے شی، نو دائے زړهٔ کښے راغله چه د عجمو (یعنی فارس والو او رومیانو) سره جنګ پکار دے، او ددے دپاره ډیر فکرمند وو۔

نو اول ئے په فارس والو باندے جنګونه شروع کړل۔

واقعه دا وه چه مثنی بن حارثه الربعی الشیبانی ﷺ رسول الله ﷺ ته په وفد کښے په نهم کال راغلے وو، (اسد الغابة)

دے د عربو او د عجمو سره په جنګونو باندے اموخته وو، لړے قصه دا وه چه ربیعه قبیله چه دا په بنو شیبان کښے یوه قبیله ده، دوئ ته او داسے نورو خلکو ته په زمکه د عربو (یعنی حجاز او تهامه وغیره) کښے قحط ورسیدو نو دوئ جزیره او یمامے ته لاړل او د هغهٔ ځائے نه بیا عراق ته ورسیدل،

هرکله چه دوئ عراق ته لاړل نو دلته په عراق باندے د فارس والو بادشاهی وه، د فارس والو بادشاه کِسریٰ دوئ پسے کسان راولیږل، او دوئ ئے راوغوښتل او دا ئے ورته وویل: چه اے عربو! تاسو زما دے ښار ته کومے خبرے راوستئ،

هغوی ووېل: اے بادشاه! مونږ ته په خپلو ښارونو کښے قحط او تکلیف رسیدلے دے، نو زمونږ شوق پیدا شو چه د بادشاه په ګاونډ کښے به پاتے شو، او د هغهٔ خوا ته به نزدے شو، که هغهٔ اجازه وکړی، دلته به اُوسیږو او که اجازه نهٔ وی نو بیرته به لاړ شو۔

نو کِسریٰ ورته ووېل چه تاسو ما سره پدے شرط پاتے کیدلے شئ چه دلته به فسادونه نکوئ او ما سره به ښائسته ګاونډتوب کوئ، نو دے خلکو بادشاه تهٔ ددے خبرے ضمانت ورکړو، نو ربیعه او بنو شیبان وغیره په زمکه د عراق کښے پاتے شول، نو دوئ به د فارس والو نه هیڅ ته هیڅ تکلیف نهٔ ورکولو، او دغه شان فارس والو به

Maktaba Tul Ishaat.com

هیڅ عربو ته تکلیف نهٔ ورکولو، پدے طریقه باندے ډیره موده وسیدل څو مره چه الله تعالیٰ غوښتل۔

بیا فارس والو په عربو باندے ظلمونه شروع کړل او هغوی ته ئے تکلیفونه ورکول شروع کړل، پدے وجه چه دوئ سره بادشاهی ده، تردے چه د عربو او د فارس والو ترمینځ بُغض او دشمنی پیدا شوه۔

نو پدے کښے مثنی بن حارثه الشیبانی رضی الله عنه به د فارس والو په څه کسانو حملے کولے چه هغوی ته ئے اَسَاوِرَه وئیل د کوفے د اطرافو او د بانډو نه، او هغوی ئے ډیر په تکلیف کښے کړی وو، او دے پدے وخت کښے په دین اسلام باندے کلك ولاړ وو، مرتد شوے نهٔ وو۔

نو ابوبکر صدیق ﷺ ته ددهٔ ددے کارونو خبر ورسیدو چه دے په فارس والو باندے حملے کوی نو مسلمانانو ته ئے ووئیل : دا سړے څوك دے چه مونږ ته ددهٔ خبر او واقعے رارسیږی او مونږ ددهٔ نسب او پوره حالت نهٔ پیژنو۔

نو پدے کښے قیس بن عاصم المنقری ﷺ راتوپ کړل چه اے د رسول الله ﷺ خلیفه ! دا یو سړے دے چه

[غَیْرُ خَامِلِ الذِّکْرِ وَلَا مَجْهُوْلُ النَّسَبِ وَلَا بِقَلِیْلِ الْعَدَدِ وَالْمَدَدِ، هٰذَا الْمُثَنّٰی بْنُ حَارِثَةَ الشَّیْبَانِیُّ]

ورك سړے نهٔ دے، (یعنی مشهور دے) او نامعلوم نسب والا نهٔ دے، او د شمار (نفرئ) او مددګارو په لحاظ هم کم نهٔ دے، دا مثنی بن حارثه شیبانی ﷺ دے۔

نو ابوبکر صدیق ﷺ د هغهٔ پسے جواب ولیږلو او هغه ئے په خپل قوم باندے مشر مقرر کړو، او هغهٔ ته ئے یو انعام او یوه جنډه ورولیږله او د فارس والو په قتال ئے ورته حکم وکړو۔

او په یو بل روایت کښے دی چه بیا مُثنیٰ بن حارثه ﷺ ابوبکر صدیق ﷺ ته راغلو او دا درخواست ئے ترے وکړو چه په عراق کښے زما قوم دے او هغوی زما تابعداری کوی، دوئ په اسلام باندے باقی دی نو په هغوی باندے مشر وګرځوه، زهٔ به په دوئ سره د فارس والو مقابله وکړم او د خپل طرف دشمن به درله زهٔ کافی شم، ځکه چه

Maktaba Tul Ishaat.com

مونږ د فارس والو په جنګ کښې ډیر ماهر یو، د دوئ د وهلو طریقې مو زده دی، نو ابوبکر صدیق ﷺ دا کار وکړو۔ (الاکتفاء)

ابوبکر صدیق ﷺ به سړی ډیر ښهٔ پیژندل نو وے پیژندل چه دا سړے صادق دے، او کمالات پکښې موجود دی، او نیك او صالح انسان دے او دنیا پرستی ئے غرض نهٔ ده نو دهٔ ته ئے وویل چه صحیح ده چه تهٔ ما مقرر کړے،

نو دلته مثنی بن حارثه ﷺ شروع شو چه د کوفے او ددے د خوا وشا نه به ئے د فارس والو سره جنګونه کول، او د هغې په اطرافو به ئے لوټ مار (حملے) کولے، نو د فارس والو ګډے بزے او قافلے به ئے نیولے، پدے طریقه یو کال یا کال ته نزدے لګیا وو،

بیا ئے خپل ترهٔ څوی (سُوید بن قُطبه عجلی رضی الله عنه) راوغوښتو او هغهٔ ته ئے یو لښکر ورکړو او دا ئے ورته وویل چه تهٔ د بصرے د طرف نه جنګ شروع کړه نو سُوید بن قطبه ﷺ شروع شو چه د بصرے والا او د اُبله والو او هغوی ته نزدے فارس والو سره به ئے جنګونه کول۔

نو مثنیٰ به د کوفے او حیرے د طرف نه او د هغې د ماحول نه او سُوید بن قطبه ﷺ د بصرے او د هغې د ماحول نه د فارس والو سره قتال کولو، او پدے کښې به ئے هیڅ سستی نکوله۔ او دا دواړه د بکر بن وائل قبیلے نه دی،

او دے دواړو به په د فارس والو په دهقانانو باندے حملے کولے، په څه چه به قادر شو هغه به ئے واخستل، نو کله چه به د فارس والو فوجونه د دوئ په طلب پسے روان شول نو دوئ به په دشتو کښې ترے خوارهٔ شول او لرے به لاړل چه هیڅوك به ورپسے نشو ورتللے، نو دوئ ته د فارس والو بزدلی او د هغوی د وهلو طریقه معلومه شوه،

نو مثنیٰ بن حارثه ﷺ ابوبکر صدیق ﷺ ته خپل ورور مسعود بن حارثه ﷺ راولیږلو چه د هغهٔ نه ئے مدد غوښتو، او دا ئے ورته وویل: که تا ما ته مدد راولیږلو او عرب ددے نه خبر شی نو ما طرف ته به په جلتئ راشی او ما سره به ملګری شی او الله تعالیٰ به مشرکان ذلیله کړی۔

او ددے سره ایے د رسول الله خلیفه! زهٔ تا ته دا خبر درکوم چه عجم (فارس والا) زمونږ نه یره کوی او زمونږ نه ډړه کوی، نو دلته ابوبکر صدیق ﷺ پدے خبره ډیر غمجن او فکر مند شو چه څه چل وکړی؟، نو عمر فاروق ﷺ مشوره ورکړه چه زما رایه دا ده چه

تهٔ خالد بن ولید ﷺ مثنیٰ بن حارثه ﷺ ته د مدد دپاره ولیږه ځکه چه خالد بن ولید ﷺ باندے الله تعالیٰ یَمامه فتح کړے او تیار هلته ناست دے، د بنو حنیفه ؤ زوم ګرځیدلے دے، نو هغهٔ ته خط ولیکه او دا حکم ورته وکړه چه عراق ته لاړ شی، هغه به ستا دپاره فارس والا په اسونو والو او پیاده خلکو باندے د مثنیٰ بن حارثه ﷺ او د هغهٔ د ملګرو په واسطه پائیمال کړی، شاید چه الله تعالیٰ به د خالد ﷺ په وجه ستا دپاره د فارس والو د کار نه کافی وګرځی۔ سیدنا صدیق اکبر ﷺ وفرمایل : همدا رأیه صحیح ده۔

د صدیق اکبر ﷺ خط خالد بن ولید ﷺ ته

نو ابوبکر صدیق ﷺ خالد بن ولید ﷺ ته یو خط ولیکلو چه ډیر جامع وو، چه په هغے کښے د الله تعالیٰ د وعدے یقین ورکول او جهاد ته کامل ترغیب وو، او د شهادت فضیلتونه وو، او په مشقتونو او درودونو باندے د صبر کولو امر وو،

او په هغے کښے ډیر حکمونه وو،

❁ یو دا چه تهٔ فوراً عراق ته روان شه او د مثنیٰ بن حارثه ﷺ ملګرتیا وکړه هلته څه مسلمانان دی چه د عجمو (فارس والو) سره جنګونه کوی، او هغوی د بنو ربیعه بن شیبان قوم دے، چه دا جنګیان او تکړه او شرافت او شمار والا خلك دے، که تهٔ د دوئ سره د عجمو په خلاف ملګرے شے نو زما امید دے چه الله تعالیٰ به عراق ستا په لاسونو فتح کړی او که زهٔ تا ته محتاج شوم نو په یو وقت د اوقاتو کښے تا بل ځائے ته هم لیږلے شم،

❁ او دائے هم ورته وویل چه تهٔ ما په مثنیٰ ﷺ او د هغهٔ په ملګرو باندے امیر مقرر کړے او د فارس والو سره جهاد شروع کړه۔

❁ خالد بن ولید ﷺ ته ئے دا وصیت وکړو چه کله تهٔ ځے نو یو به دا کار کوے چه ځان سره به په زور باندے خلك نهٔ بو ځے، خپل فوج کښے به په زوره خلك نهٔ داخلوے بلکه د هر سړی خپله خوښه ده چه جهاد له ځی نو لاړ دے شی او که کور ته واپس کیږی نو واپس دے شی۔ دا دے دپاره چه خپله خوښه باندے جهاد کښے ډیر برکت او خیر وی، او

دبل په زور بانددے انسان تيښتنه کوي۔ نو دا ئے ورته وويل :

[وَلَا تُقَاتِلَنَّ بِمُتَكَارِهٍ]

د ناخوښه انسان په وجه قتال مهٔ کوه۔

❁ دويم ئے ورته دا وويل چه مرتدين ځان سره في الحال مهٔ بوځه اگرکه بيرته اسلام ته راواپس شويدي ځکه چه دوئ يو ځل د اسلام نه نفرت کړيدے نو پته نهٔ لګيږي چه د دوئ په زړونو کښے بيرته اسلام راغلے دے او که نهٔ ؟،

❁ بل دا چه خپلو ملګرو کښے به اجنبي سړے نهٔ پريدے، ځکه چه پردي خلك راننوزي نو هغوي د جاسوسئ کار کوي۔

(ابوبکر صديق ﷺ ډير ماهر او هوښيار خليفه وو)

❁ ورسره دا ئے ورته وويل :

[اَنْ يَّتَاَلَّفَ النَّاسَ]

خلکو سره به نرمي کوے۔ خلکو سره به اخلاق چلوے ځکه چه په اسلام کښے خلك په اخلاقو سره ډير داخليږي په نسبت د د زوره داخلولو نه۔

❁ او کوم خلك چه فلاحين (دهقانان) دي، خپلو پټو او باغونو کښے لګيا دي، او د جنګ سره ئے څه کار نشته نو د هغوي سره به کار نهٔ لرے۔

او د درے خبرو دعوت به جاري ساتے، يو دا چه خلك به اسلام ته دعوت کوے چه تاسو زمونږ ورونه يئ، ستاسو هيڅ مال او دولت ته مونږ څه نهٔ وايو خو اسلام ته راننوزئ، او ددے علاقي مشري ډے هم ستاسو وي۔

او که دا ئے نهٔ قبلولو نو بيا ورته ووايه چه تاسو اهل ذمه جوړ شئ، دے ملك کښے به اُوسيږئ او مونږ به ستاسو حفاظت کوو مشري به زمونږ وي، او تاسو به جزيه ورکوئ، او که دا نهٔ وي نو بيا قتال ته تيار شئ۔

او ابوبکر صديق ﷺ خالد ﷺ ته حکم وکړو او ترتيب ئے ورته وخودلو چه د مثنیٰ ﷺ سره به ملګرے شے اول به اُبله علاقے ته ورشے چه دے ته فرج الهند وائي۔

(يعني ددے نه هندوستان ته لاره کولاوه شويده چه دا ډ کولاوه کړه نو هند ته لاره کولاوه شوه) او د عراق د لاندے شمال شرقي طرف نه به راشے، بيا چه د هغے نه فارغ شوے نو حِيره طرفته به ورشے،

د ابوبکر صدیق ﷛ بل فوج تیارول

او دلته ابوبکر صدیق ﷛ یو بل فوج تیار کړو او په هغوی باندې ئې یو صحابی عیاض بن غنم ﷛ امیر مقرر کړو (چه دا د مدینې نه بهر حجاز کښې وسیدو، او دا هم مجاهد او مهاجر صحابی دے)، نو دهٔ ته ئې وویل چه تهٔ به لاړ شې او په عراق باندې به د بَره طرفنه یعنی د جنوب د طرف نه حمله وکړې، په مصیخ باندې به شروع وکړې،

او دا ئې ورته وویل چه تهٔ به هم حیره ته ځان رسوے۔

او ابوبکر صدیق ﷛ عیاض ﷛ او خالد ﷛ دواړو ته وئیلی وو چه ځان سره به مرتد جنگ ته نهٔ بوځئ۔

او عیاض ئې اول کښې دُوْمَةُ الْجَنْدَل ته روان کړو چه دا د خلیج فارسی او خلیج العقبه ترمینځ دے، او بیا ئې ورته حکم وکړو چه تهٔ به هم حیره ته ځان رسوے،

او دا ئې وویل چه تاسو دواړه چه په حیره علاقه باندې جمع شئ نو کوم یو چه مخکښې ورغے نو هغه به په بل باندې امیر وی (دے دپاره چه امارتونو باندې اختلاف پیدا نشی) که تهٔ مخکښې ورسیدے نو تهٔ به په خالد باندې امیر ئې او که خالد مخکښې ورسیدو نو هغه به امیر وی نو پینبه دا شوه چه خالد مخکښې ورسیدو او عیاض په دومة الجندل کښې د سخت جنگ سره مخامخ شو چه ددے تفصیل روستو په معرکه د دُوْمَةُ الْجَنْدَل کښې راځی، ان شاء الله تعالیٰ، انتظار وکړه۔



نو ابوبکر صدیق ﷛ دا خط ابوسعید خدری ﷛ ته ورکړو، هغه لاړو یمامه ته ئې ځان ورسولو او خالد بن ولید ﷛ ته ئې دا خط ورکړو،

او دواړو ته ابوبکر صدیق ﷛ په خپل وصیت کښې دا هم وویل: کله چه تاسو حیره علاقه کښې جمع شوئ او د فارس والو کمینونه مو ووهل او په امن کښې شوئ ددے نه چه مسلمانانو پسے کافران د شا طرف نه راشی نو بیا دے یو تن د بل دپاره مددګار جوړ شی او په حیره علاقه کښې دے د مسلمانانو حفاظت ته پاتے شی، او بل دے د الله تعالیٰ په دشمنانو (فارس والو) باندې حمله وکړی د هغوی په کور کښې او د هغوی د عزت

Maktaba Tul Ishaat.com

په ځائے کښیے (یعنی دار الحکومت) کښیے چه مدائن دے۔

او دا ئے هم ورته ولیکل :

د الله تعالیٰ نه مدد غواړئ او د هغهٔ نه یره کوئ او د آخرت کارونه په دنیا باندے غوره کړئ، الله تعالیٰ به تاسو ته په خپل طاعت سره دنیا او آخرت دواړه درکړي، او دنیا مهٔ غوره کوئ ورنه دنیا به مو عاجز کړي، او الله تعالیٰ به ستاسو نه د نافرمانئ په وجه دنیا او آخرت راخکاري، [فَمَا اَهْوَنَ الْعِبَادَ عَلَى اللّٰهِ اِذَا عَصَوْهُ]

بندګان الله تعالیٰ ته ډیر سپك وي کله چه د هغهٔ نافرمانی کوي۔

د خالد ﷺ اعلان

خالد بن ولید ﷺ په ملګرو کښیے اعلان وکړو او ملګري ئے راجمع کړل او هغوی ته ئے تقریر وکړو او په هغوی باندے ئے د ابوبکر صدیق ﷺ دا خط ولوستلو، چه مونږ ته ئے په خپل طاعت باندے امر کړیے او د جهاد ترغیب ئے ورکړیے چه پدے سره الله تعالیٰ مونږ ته عزت راکړیے او زمونږ اتحاد ئے پیدا کړیے او زمونږ دعوت ئے مضبوط کړیے، او مونږ ته ئے امن راکړیے، نو خبر شئ چه زهٔ د یمامے نه وتونکے یم، او صبا له عراق ته روانیږم ان شاء الله تعالیٰ، څوك چه په دنیا کښیے د غنیمت او په آخرت کښیے د بخنیے اراده لري نو هغهٔ دے د تللو دپاره ځانونه تیار کړي۔

نو خلکو ورته وویل : [سَمِعْنَا وَاَطَعْنَا] مونږ بالکل تیار یو۔

د خالد ﷺ عراق ته روانیدل :

نو خالد بن ولید ﷺ د خپلو ملګرو سره په جلتئ د یمامے نه راووتو او عراق ته روان شو۔

چه ددهٔ نه زبرقان بن بدر التمیمی ﷺ مخکښیے روان وو او شعرونه ئے وئیل چه په هغے کښیے ئے د خالد ﷺ په زړه ورتیا سره د یمامے نه روانیدل ذکر کړي، او دا ئے وئیلي

Maktaba Tul Ishaat.com

چه الله تعالیٰ به تا ته فتح درکوی،

دلته ابوبکر صدیق ﷺ مثنیٰ ﷺ ته خط ولیږلو، اما بعد :

ما تا ته خالد بن ولید ﷺ در ولیږلو نو تهٔ ددهٔ په خپل ټول قوم او قبیلې سره ددهٔ استقبال وکړه او ددهٔ سره تعاون او ملګرتیا وکړه او ددهٔ د هیڅ امر مخالفت مهٔ کوه۔

ترڅو چه خالد تا سره په عراق کښې وی نو دے به په تا باندے امیر وی، که دا نهٔ وی نو تهٔ په خپل زوړ حالت باندے ئے۔

هرکله چه دا خط مثنیٰ ﷺ ته راورسیدو نو هغه خپل فوج ته ولوستلو چه پدے وخت کښې د هغوی تعداد اته زره (۸۰۰۰) کسان وو۔ او دا ئے ورته ووېل چه ما ته ابوبکر صدیق ﷺ د خالد ﷺ د استقبال حکم کړے لیکن ما ته پته نشته چه خالد ﷺ په کومه لاره باندے راځی چه زهٔ ئے استقبال ته اُوځم، لیکن مونږ له پکار دی چه ددے عجمو د مخے نه لاړ نشو هسے نهٔ چه د دوئ په مونږ کښې طمع پیدا شی، بیا چه کله مونږ ته پته ولګی چه خالد ﷺ رانزدے شوے نو مونږ به ئے استقبال وکړو ان شاء الله۔

هرکله چه خالد بن ولید ﷺ د یمامے نه روانیدو نو لاره ښودونکی ئے راطلب کړل نو څه کسان راوستے شول نو د هغوی نه د درے کسانو د نومونو نه ئے نیك فالی ونیوله یو ظفر بن عمرو السعدی وو، او بل رافع بن عمیرة الطائی وو، او بل مالك بن عباد الاسدی وو۔

(ظفر کښې کامیابئ ته اشاره وه او په رافع کښې پورته والی او غالب والی ته او په مالك کښې د علاقے مالك کیدو ته، او نیك فال نیول سنت طریقه ده)

خالد ﷺ سره په لاره کښې د باندو والو نه ډیر خلك ملګری شول نو پدے باندے ډیر قوی شو، او لښکر ئے زیات شو تردے چه لس زره (۱۰۰۰۰) کسان جنګیان تیار شو، دا ماسوئ وو د لښکر د مثنیٰ نه کوم چه اته زره (۸۰۰۰) وو،

دلته ابوبکر صدیق ﷺ مثنیٰ ﷺ ته او حَرمَله او مذعور او سلمی ته حکم وکړو چه تاسو به د خالد ﷺ سره په اُبله کښې ملاویږئ، دا څلور واړه د عراق د فوجونو مشران وو۔

خالد بن ولید ﷺ ځان سره فوجونه روان کړل، کله چه عراق ته نزدے شو نو خپل فوجونه ئے درے حصے کړل، یوه حصه ئے مخکښې ولیږله او بله حصه ئے وروستو صبا له

ولیږلـه دیے دپاره چه خلکو باندیے رعب پریوزي چه د مسلمانانو دا څومره دستے راروانیے دي، بیا ئیے یو ځائیے ورسره وعده کړو چه هلته به ټول راجمع کیږو یعني اُبله علاقه۔

هلته چه ورسیدو نو هلته دوه کلي وو چه په هغے باندیے رعب راغیے نو هغوی د خالد بن ولید ﷺ سره په جزیه باندیے صلح وکړه چه مونږ به جنګ نهٔ کوو او تا له به جزیه درکوو۔ دا اوله فتح وه۔

خالد بن ولید ﷺ د یمامیے نه مزل تیز کړو تردیے چه د بصریے حدودو ته ورسیدو چه هلته سُوید بن قطبه السدوسی ﷺ موجود دیے، هرکله چه سُوید وکتل چه خالد ﷺ د مهاجرینو او انصارو سره د دوئ خوا ته راغلو نو ډیر زیات خوشحاله شو، او ملا ئیے مضبوطه شوه او خبره ئیے کلکه شوه، بیا د خپلو ترونو ځامنو سره د خالد بن ولید ﷺ ملاقات ته را اُووتو،

نو خالد ﷺ ورتـه وویـل : اے سُویـد ! ددیے عـلاقیے نه تا ته کوم ځائیے معلوم دیے چه د فـارس والـو پـه هغیے باندیے ډیره شوکه (دبدبه) او قوت دیے، او سخت جنګ والا دي، نو سُویـد ورتـه وویـل : زهٔ صرف د اُبـله والو نه یریږم ځکه چه د دوئ سره ډیر زیات فوج دیے، او د بهادرانو خلکو نه ډکه ده۔

خالد ﷺ ورتـه وویـل : هیـڅ پرواه مهٔ کوه، دا خلك زما نه خبر شویدي چه زهٔ د دوئ دیے ښارونو ته راغلیے یم، زهٔ به دوئ باندیے شروع وکړم چه دوئ د نورو عربو دپاره عبرت وګرځي چه بیا سرونه نهٔ راپورته کوي۔

نـو یـو چـل بـه وکـړو هـغـه دا چه زهٔ به ستا نه بادیه (باندیے) ته لاړ شم، نو کله چه زهٔ روان شـم تـهٔ بـه خپـل فـوج تیـار کـړیے او د دوئ پسیے به ورشیے او د جنګ اعلان به ورته وکـړیے، ځـکه چه دوئ به په تا کښیے طمع لري، (چه سرے یواځے دیے) نو کله چه ستا او د هغوی ترمینځ خبره ګرمه شي نو زهٔ به درته ان شاء الله راواپس شم۔

نـو دلته خالد بن ولید ﷺ پـه خپـلـو مـلـګرو کښیے آواز وکړو نو د بصریے نه بادیه ته روان شو،

نو پدیے کښیے فارس والا خبر شو چه خالد ﷺ د دوئ نه لاړو نو د سُوید په وهلو کښیے

Maktaba Tul Ishaat.com

ئے طمع پیدا شوه او دا اراده ئے وکړه چه صبا سهار به پرے جنګ شروع کوو،

نو خالد ﷛ په نیمه شپه کښے په آرام آرام سره بیرته راواپس شو تردے چه سُوید سره یوځائے شو او خپل ملګری ئے د کجورو د ونو په مینځ مینځ کښے پټ کړل او فارس والو ته پته نۀ وه۔

هرکله چه سهار شو سُوید بن قطبه ﷛ خپل ملګری تیار کړل او اُبله طرف ته روان شو نو دلته فارس والا هم ورته راووتل لکه چه مخکښے به ددۀ مقابلو ته راوتل، نو هرکله چه خلك یو بل کښے ننوتل او جنګ شروع شو،

نو دے وخت کښے خالد بن ولید ﷛ د مهاجرینو او انصارو سره میدان ته ورودانګل، پدے وخت کښے فارس والو اسونو ته وکتل چه دوئ پسے راووتل نو شاګانے ئے واړه ولے، او په تیښته شو، نو مسلمانان ورپسے شول او په تورو به ئے وهل تردے چه سم ئے برابر کړل، د څلورو زرو (٤٠٠٠) نه زیات کسان ئے ووژل او مخے ته یو نهر راغلو نو په هغے ئے ورودانګل نو په هغے کښے هم تقریباً څلور زره (٤٠٠٠) کسان غرق شول، او باقیمانده کسان په خپلو مخو یو طرف او بل طرف ته محفوظو ځایونو ته وتښتیدل چه الله تعالیٰ د هغوی جرړه ویستله او په زړونو کښے ئے ورله رعب واچولو۔

بیا خالد ﷛ د سُوید سره ملاؤ شو او دا ئے ورته ووئیل: اے سوید! خوشحاله شه! مونږ دا خلك داسے اُومړل چه همیشه به په یره کښے وی او ستا نه به خوف کښے وی تر څو چه تۀ دلته پدے ښار کښے وسیږے۔



Maktaba Tul Ishaat.com

د خالد ﷺ د بصرې نه کوفې ته تلل او قصه د اَبجَر

بیا خالد بن ولید ﷺ د خپلو فوجونو سره د بصرې (اُبله) نه راروان شو چه د کوفې اراده ئې وه نو په لاره کښې په ډیرو علاقو راتیر شو تردې چه "نباج" علاقه کښې ئې دمه وکړه چه دلته د بنو بکر بن وائل یوه چینه وه نو دلته د یو عربی سره ملاؤ شو چه د هغهٔ نوم اَبْجَرُ بن بُجَیْر بن حجار العجلی وو،

هرکله چه دهٔ خالد ولید ﷺ ولیدو چه دلته ئې فوجونه کینول نو د هغهٔ مخې ته راغلو او دا ئې ورته وویل چه اے امیر صاحب! په خیر راغلې، الله تعالیٰ دې ستا په وجه غنیمتونه زیات کړی او همتونه دې دیکه کړی او تا سره دې د عجمو په خلاف مدد وکړی۔ نو خالد ﷺ ورته وویل : زما گمان دے چه تهٔ شاعر ئې۔

هغهٔ وویل : آؤ زهٔ شاعر یم، که ستا خوښه وی څه شعرونه به ووایم۔

بیا ورته خالد ﷺ وویل : سلام دې ولے وانچولو، هغهٔ وویل : زما په دین کښې سلام نشته۔

خالد ﷺ تکیه لگولے وه نو کیناستو او ورته ئې وویل : ستا کوم دین دے؟

هغهٔ وویل : زهٔ د عیسی ابن مریم علیه السلام په دین یم، خالد ﷺ ورته وویل : زهٔ هم د عیسی علیه السلام په دین باندے یم، لیکن دا راته ووایه چه تهٔ د محمد ﷺ په نبوت باندے ایمان لرے، اَبجر وویل : نه، زهٔ صرف د عیسی علیه السلام په دین یم۔

خالد ﷺ ورته وویل : زهٔ به دې څټ اُووهم،

اِبجر وویل : ولے زما څټ وهے، پدې وجه چه زهٔ ستا دین پسے نهٔ ځم او ستا په نبی ایمان نهٔ لرم۔

خالد ﷺ ورته وویل : آؤ، زهٔ تا په همدغه سبب قتل کوم، آیا تهٔ عربی نهٔ ئې ؟ هغهٔ وویل : ولے نهٔ،

خالد ﷺ ورته وویل : مونږ عربی نهٔ پریدو چه زمونږ په دین نهٔ وی مگر هغه مونږ وژنو یا به په دین اسلام کښې داخلیږی، یا به جزیه ادا کوی۔

Maktaba Tul Ishaat.com

ابجر ووېل : اے سرېه ! تاسو دا دین د کوم وخت نه راوړیدے؟ او مونږ خو دین د ډیر پخوا نه راوړیدے، [اِنَّمَا هُوَ دِیْنٌ مُحْدَثٌ] نو ستاسو دین خو نوے دے،

خالد ﷛ ورته ووېل : صحیح ده، زمونږ دین نوے دے، دغه شان عیسی علیه السلام چه کوم دین راوړو هغه هم په اول کښې نوے وو، بیا الله تعالیٰ په خلکو کښې خور کړو او ورځ په ورځ به خوریدو، تردے چه الله تعالیٰ کامل کړو، او خامخا به یا تهٔ اسلام قبلوے یا به ډیے څټ وهم۔

ابجر ووېل : ما ته درے ورځے مهلت راکړه چه زهٔ پدے باره کښې سوچ وکړم۔

خالد ﷛ ورته ووېل : ما مهلت درکړو،

بیا خالد ﷛ حکم وکړو چه دے وتړئ او په یوه خیمه کښې ئے بند کړئ نو دغه ورځ ئے په خیمه کښې تیره کړه۔

دے وخت کښې مثنی بن حارثه ﷛ د خپل اته زره (۸۰۰۰) فوج سره د خالد بن ولید ﷛ ملاقات ته راوتے وو نو دلته ورسره ملاؤ شو۔

هرکله مثنی ﷛ راغلو او په خالد ﷛ ئے سلام واچولو او هغهٔ ورته مرحبا ووئیله داسے ئے ورته ووېل :

[مَرْحَبًا بِفَارِسِ الْعَرَبِ، وَخَيْلِ كُلِّ مُسْلِمٍ، اِلَيَّ هَا هُنَا عِنْدِيْ]

مرحبا ډیے وی د عربو شا هسوار لره، او د هر مسلمان شا هسوار لره، راشه دلته زما خوا کښې کینه۔

بیا ورسره خالد ﷛ ډیر په مینه محبت خبرے اترے شروع کړے او د هغهٔ ئے ډیر اکرام وکړو او د هغهٔ د حال او د هغهٔ د خاندان حال ئے وتپوسلو، نو لږ وخت ئے خبرے اترے وکړے بیا خالد ﷛ طعام راوغوښتو نو دواړو په یو ځائے خوراك وکړو،

خالد او مثنیٰ رضی الله عنهما دواړه ناست وو چه پدے وخت کښې د بلے خیمے نه آواز راپورته شو چه داسے ئے وئیل :

مَتٰى تُنْجِنِيْ يَا رَبِّ مِنْ سَيْفِ خَالِدٍ	❁	فَأَنْتَ الْمُرَجّٰى فِى الْأُمُوْرِ الشَّدَائِدِ
فَلَيْتَ الْمُثَنّٰى كَلَّمَ الْيَوْمَ خَالِدًا	❁	فَيُطْلِقُ اَسْرِيْ اِنَّهٗ خَيْرُ وَافِدِ

اے الله ! تهٔ به ما کله د خالد د تورے نه خلاصوے، ځکه چه تا نه په مشکلاتو کښې

Maktaba Tul Ishaat.com

امید کیدے شی۔ زما ارمان دے چه نن ورځ مثنیٰ د خالد سره خبرے اترے وکړی چه ما د قید نه آزاد کړی ځکه چه دا ډیر غوره میلمه دے۔

مثنیٰ ﷺ ووپل : اے امیر صاحب ! دا څوك دے چه ستا د تورے نه نجات طلب کوی او په ما باندے مدد طلب کوی ستا په خلاف ؟،

نو خالد ﷺ ووپل : دا یو سړے دے د عربو نه اَبجَر بن بُجَیر نوم ئے دے، مګر دے په نصرانیت دین باندے دے، او ما دده د قتل اراده کړیده خو ما نه ئے د خپل سوچ دپاره مهلت اخستے دے، او په اسلام کښے نهٔ داخلیږی نو وژل ئے ضروری دی،

مثنیٰ ﷺ ووپل : اے امیر صاحب ! زما مشوره دا ده چه تهٔ اُوس دے پریده، او کله چه تهٔ د عربو د نصاراؤ نه فارغ شوے نو زهٔ دده ذمه واریم چه تا ته به ئے راولم بیا پکښے د خپلے خوښے فیصله وکړه۔

نو خالد ﷺ د مثنیٰ ﷺ سفارش اُومنلو او ابجر ته ئے ووپل : اے د الله دشمنه ! که ددے امیر سفارش نهٔ وے نو تهٔ به یا مسلمان خلاصیدے یا به قتل کړے شوے وے۔

ابجر ووپل : اے امیر صاحب ! که دده دین زما د دین نه غوره وے نو ما به ئے تابعداری کولے، نو خالد ﷺ ورتلو او د خپلے مخے نه ئے وشړلو۔

بیا ئے په ملګرو کښے آواز وکړو چه روانیږو نو د مثنیٰ ﷺ د فوج او د خپل فوج سره چه دا ټول اتلس زره (۱۸۰۰۰) فوج دے د "نباج" علاقے نه روان شو د کوفے په اراده باندے۔

دلته فارس والا خبر شو چه خالد بن ولید ﷺ مونږ طرف ته راروان دے،

او مثنیٰ بن حارثه ﷺ هم ورسره خپل فوج یو ځائے کړیدے، نو الله تعالیٰ د هغوی په زړونو کښے رعب واچولو نو هغوی شروع شو چه د هغهٔ د مخے نه نقل کیدل او دلته نه ئے خپل فوج پورته کړو او خالد ﷺ ته ئے لاره کولاوه کړه چه کوفے ته ننوځی، نو خالد ﷺ ددے لشکر جرار سره کوفے او د هغے ماحول ته ننوتو او هلته ئے فوجونه ځائے په ځائے کړل۔

د خالد ﷺ د فارس بادشاهانو ته خط

او د هغـه ځائے نه ئے د فارس (ایران) والو بادشاهانو ته یو خط ولیکلو : (چه هغه په مختلفو الفاظو سره نقل شویدے، بعض الفاظ ئے دا دی :)

[بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ، مِنْ خَالِدِ بْنِ الْوَلِيْدِ اِلٰى مَرَازِبَةِ الْفُرْسِ اَجْمَعِيْنَ، سَلَامٌ عَلٰى مَنِ اتَّبَعَ الْهُدٰى، اَمَّا بَعْدُ : فَالْحَمْدُ لِلّٰهِ الَّذِىْ فَضَّ جَمْعَكُمْ وَهَدَمَ عِزَّكُمْ (وَاَوْقَعَ الْخِلَافَ بَيْنَكُمْ وَبَدَّلَ شَجَاعَتَكُمْ خَوْفًا) وَاَوْهَنَ كَيْدَكُمْ وَكَسَرَ شَوْكَتَكُمْ، وَفَلَّ حَدَّكُمْ، وَشَتَّتَ كَلِمَتَكُمْ، اِعْلَمُوْا اَنَّ مَنْ صَلّٰى صَلَاتَنَا وَتَحَرَّفَ اِلٰى قِبْلَتِنَا وَاَكَلَ ذَبِيْحَتَنَا وَشَهِدَ شَهَادَتَنَا وَآمَنَ بِنَبِيِّنَا عَلَيْهِ السَّلَامُ، فَنَحْنُ مِنْهُ وَهُوَ مِنَّا، وَهُوَ الْمُسْلِمُ الَّذِىْ لَهٗ مَا لَنَا، وَعَلَيْهِ مَا عَلَيْنَا، وَاِنْ اَبَيْتُمْ ذٰلِكَ فَقَدْ وَجَّهْتُ كِتَابِىْ هٰذَا اِلَيْكُمْ، نَذِيْرًا وَمُحَذِّرًا، فَابْعَثُوْا اِلَىَّ الرَّهَائِنَ وَاعْتَقِدُوْا مِنِّى الذِّمَّةَ وَاَدَاءَ الْجِزْيَةِ وَاِلَّا فَاِنِّىْ سَائِرٌ اِلَيْكُمْ بِقَوْمٍ يُحِبُّوْنَ الْمَوْتَ كَمَا تُحِبُّوْنَ الْحَيَاةَ، وَقَدْ اَعْذَرَ مَنْ اَنْذَرَ، وَالسَّلَامُ] [كتاب الردة للواقدى ص ٢٢٥]

دا خط د خالد بن ولید د طرف نه د فارس (ایران) ټولو مشرانو ته دے، ...... اما بعد :
الله تعالیٰ لره شکر دے چه ستاسو ډلے ئے تقسیم کړے او ستاسو عزت ئے ختم کړو او ستاسو ترمینځ ئے اختلاف پیدا کړو او ستاسو بهادری ئے په یره بدله کړه، او ستاسو مکرونه او چلونه ئے کمزوری کړل او ستاسو وسله او دبدبه او شان او شوکت ئے مات کړو او ستاسو وسله ئے پڅه کړه (او ستاسو جوش ئے کمزورے کړو) او ستاسو اجتماعیت ئے تس نس کړو.

پدے خبره پوهه شئ چه څوك زمونږ د مونځ په شان مونځ کوی، او زمونږ قبلے طرف ته مخ اړه وی، او زمونږ ذبیحه خوری او زمونږ په شان د توحید ګواهی کوی او زمونږ په نبی علیه السلام باندے ایمان لری نو مونږ د هغهٔ ملګری یو او هغه به زمونږ ملګرے وی، او هغه به مسلمان وی، د هغهٔ دپاره به هغه څه وی چه مونږ لره دی او هغه باندے به هغه ذمه واری وی کومه چه په مونږ باندے ده، او که تاسو ددے نه

Maktaba Tul Ishaat.com

انکار کوئ نو ما دا خط تاسو ته یره درکونکے او خبر درکونکے در ولیږلو، نو ماته گانړے راولیږئ او ما سره لوظ مضبوط کړئ او جزیه قبلولو ته تیار شئ او که جزیه هم نهٔ ادا کوئ نو ما تاسو پسے داسے قوم راوستے دے چه مرگ داسے خوښوی لکه چه تاسو ژوند خوښوئ، او ما تاسو ته پوره خبره واضحه کړه خپله غاړه مے آزاده کړه۔ والسلام۔ (کتاب الردة وکتاب الفتوح)

هرکله چه د فارس والو مشرانو ته د خالد ﷺ دا خط راورسیدو نو ډیر په غصه شو او پریشانه شو چه دهٔ سره څهٔ وکړو (ډیر رعب والا خط وو) نو خالد ﷺ ته ئے هیڅ جواب ورنکړو۔

نو خالد ﷺ شروع شو چه په دغه ځائے کښے ئے دستے د فوج یو طرف او بل طرف ته ولیږلے نو هغوی به حملے کولے او د فارس والو نه به چه په څه باندے قادر شول هغه به ئے رانیول او خالد ﷺ ته به ئے راوړل نو ډیرے وسلے او مالونه او گڈے بزے ئے ترے خالد ﷺ ته راوستے، او هغهٔ ځان سره جمعه کړے۔

فتح او صلح د حیرے

بیا خالد بن ولید ﷺ ځان سره د مسلمانانو دغه فوجونه روان کړل او حیرے علاقے ته ورغلو چه هلته ئے د فارس والو ډیر مضبوطے قلعه گانے ولیدلے، او داسے سړی چه په جنگ کښے انتهائی ماهر وو او وسلے هم ورسره بیشماره زیاتے وے،

د فارس والو دلته څلور لویی قلعه گانے وے چه دوئ پکښے پناهی نیولے وه، چه نومونه ئے دا دی:

۱- **القصر الابیض**: سپینه قلعه، او پدے کښے ایاس بن قبیصه الطائی وو او دا د خالد په ملگرو کښے ضرار بن الازور ﷺ محاصره کړه۔

۲- **قَصْرُ الْغَرِيِّيْن**: د غریینو قلعه او پدے کښے عدی بن عدی وو او دا ضرار بن الخطاب ﷺ محاصره کړه۔

۳- **قَصْرُ ابْنُ مَازِن**: د ابن مازن قلعه: او پدے کښے ابن اکال وو، او دا ضرار بن مقرن المزنی ﷺ محاصره کړه۔

Maktaba Tul Ishaat.com

٤- قَصْرُ ابْنِ بُقَيْلَه : د عبد المسيح بن بُقيله قلعه چه مثنى بن حارثه رضی اللہ عنہ ددے محاصره کونکے وو۔

هر کله چه خالد بن وليد د "اميغشيا" نه حِيره ته روان شو او سړی او پالانونه او سامانونه ئے په کشتو کښے بار کړل دے دپاره چه حيره ته واوړی نو د حيره علاقے فارسی خوان حاکم چه هغهٔ ته ئے "ازاذبه" وئيلو راووتو او خپل ځوی ئے راوليږلو چه د فُرات نهر بند کړی نو دوئ بانديے ئے اُوبهٔ بندے کړے نو کشتئ په زمکه بانديے پاتے شوے، نو خالد بن وليد په اسونو سره د "ازاذبه" ځوی پسے ورغلو او هغه ئے د فُرات په خوله کښے په "بادقلى" علاقه کښے قتل کړو او د هغهٔ ملګری ئے هم قتل کړل۔

هر کله چه خالد رضی اللہ عنہ حيره ته راغلو او دلته ئے پړاؤ واچولو، دا ښار په دغه ځلورو قلعه ګانو بانديے محفوظ وو، نو فارس والو د قلعه ګانو نه د خالد رضی اللہ عنہ په فوج بانديے شروع وکړه چه په غشو بانديے به ئے ويشتل او په کاڼرو بانديے ئے ګوزارونه کول،

نو خالد بن وليد رضی اللہ عنہ پديے کار بانديے غصه شو او اراده ئے وکړه چه په جلتئ سره په هغوی بانديے جنګ شروع کړی،

(او په يو روايت کښے دی چه په هغوی بانديے ئے جنګ شروع کړو تر دے چه د جنګ بټئ ګرمه شوه نو دے وخت کښے يو صحابی، (د واقدیؒ د روايت مطابق ضرار بن الازور رضی اللہ عنہ) ورته مشوره ورکړه۔

(او اکثر علماء وائی چه ضرار بن الازور رضی اللہ عنہ په يمامه کښے شهيد شوے وو، دا بل يو تن وو)

مشوره ئے دا ورکړه چه اے امير صاحب ! دے خلکو بانديے په جنګ کښے جلتی مهٔ کوه، ځکه چه دوئ داسے خلك دے چه عقلونه ئے نشته او د خپلو ځانونو دشمنان دی، او دوئ سره د غشی او د کاڼرو ويشتو نه غير بل څه حيله او چل نشته۔ ليکن دوئ ته ځوك وليږه او حکم ورته وکړه چه تا ته را اُوځی چه تهٔ دوئ سره خبرے اترے وکړے او د دوئ دپاره خير خواهی وکړے (او د اسلام دعوت ورکړے) شايد چه دا خبرے اترے به کاميابی شی او بهترينه نتيجه به راوځی۔

نو خالد رضی اللہ عنہ دوئ پسے کس وليږلو چه تاسو مونږ ته يو داسے سړے راوباسئ چه په تاسو کښے عقلمند او علم او پوهے والا وی، چه څه وائی په هغے پو هيږی او چه څه

ورته وئیلي کیږي په هغې هم پوهیږي چه زهٔ ورسره خبرې اترې وکړم، او زما پیغام تاسو ته در ورسوي او شاید چه زهٔ به ورسره صلح وکړم،

نو هغوی ورته یو سړې راولیږلو چه هغهٔ ته ئې عبد المسیح بن عمرو بن حیان بن بُقیله الشیباني وئیلو، (او بعض وائي عمرو بن عبد المسیح بن بقیله نوم ئې وو)

دا ډیر رعیب داب والا وو او ډیر وقار والا وو او عمر ئې د دوه سوه (٢٠٠) کالو نه اوږدلې وو،

دهٔ ته فارس والو وویل چه ته خالد ته ورشه او وګوره چه دې مونږ نه څه مطالبه لري، او که په صلح ډې قدرت او وس وشو نو زمونږ د طرف نه ورسره صلح وکړه۔ (د فارس والو په زړونو کښې د خالد بن ولید ﷺ نه سخته یره وه)

دا عبد المسیح په اصل کښې عَرَبِيُّ النَّسل وو لیکن د نصاراؤ د ګاونډ د وجه نه نصراني شوې وو،

نو هغه چه کله راغلو او د خالد ﷺ مخې ته ودریدو نو د آل غسان په مدح کښې ئې اول څه شعرونه وویل بیا ئې وویل:

دلته داسې چراګاهونه دي، زمرو هم پکښې ښکار نهٔ دې کړې، او پړانګانو د تقوىٰ دوائي څکلې ده، او حیوانات پدې چمنونو کښې په امن او اطمینان سره څرېږي او مارغان طاقت لري چه د "خورنق" د قلعه لاندې آلوتل وکړي۔

هر کله چه عبد المسیح د شعرونو نه فارغ شو نو خالد بن ولید ترې تپوس وکړو چه ته څوك ئې؟ هغهٔ وویل: زهٔ د خپل رب بنده یم،

خالد وویل: د کوم ځائې نه ئې؟ هغهٔ وویل: د دنیا نه۔

خالد وویل: د کوم ځائې نه راغلې ئې؟ هغه وویل: د پلار د شا نه۔ د کوم ځائې نه راوتې ئې؟ هغهٔ وویل: د مور د خیټې نه، نو خالد ﷺ مسکې شو او وې فرمایل: په کوم شي کښې راغلې ئې؟ هغهٔ وویل: په جامو کښې۔

خالد ﷺ وویل: خوار شې ته په کوم شي باندې ئې؟

هغهٔ وویل: په زمکه باندې یم۔

خالد ﷺ ورته وویل: زما خیال دې چه زهٔ درته ړوند ښکاره شوم۔ آیا په خبره پوهیږې او که نهٔ؟

Maktaba Tul Ishaat.com

هغهٔ وویل : آؤ پو هېږمه هم او فائده هم ورکوم۔
خالد ﷺ ورته وویل : زهٔ درسره د خلکو په خبرو خبرے کوم،
هغهٔ وویل : زهٔ درته د خلکو په جواب سره جواب درکوم۔
خالد ﷺ ورته وویل : تاسو څوك يئ؟ هغهٔ وویل : مونږ اولاد د آدم علیه السلام۔
خالد ﷺ ورتهٔ وویل : آیا تهٔ صلح له راغلے ئے او که جنګ له؟
هغهٔ وویل : صلحے لره۔
خالد ﷺ ورته وویل : تاسو عرب يئ او که عجم؟ عبد المسیح وویل :

[عَرَبٌ اُسْتُنْبِطْنَا وَسُطَ الْعَجَمِ]

مونږ عرب یو لیکن د عجمو په مینځ کښے عجم جوړ شو۔
خالد ﷺ ورتـه وویـل : الله اکبـر ډیـر وخت پس زما په خبره پو هه شوے، اُوس راته دا روایه چه

[هٰذِهِ الْجُدُرَانُ لِمَاذَا رَفَعْتُمُوْهَا ؟]

(د قلعه) دا دیوالونه تاسو ولے پورته کړیدی؟
عبد المسیح وویل : [كَـیْ یَسْتَتِـرَ وَرَاءَ هَـا نَـاقِـصُـو الْعُقُوْلِ وَلِكَیْ یَسْتَطِیْعَ الْعُقَلَاءُ اَنْ یَّسْمَعُوْا كَلَامَنَا، وَیَمْنَعُوْهُمْ عَنْ اِیْقَاعِ الظُّلْمِ بِنَا]
دا مـونـږ ددے دپاره جـوړ کړیدی چه کم عقل خلك ددے نه شا ته پټ شی او عقلمند خـلك راشـی زمونږ خبرے واوری او دا کم عقل خلك زمونږ د ظلم نه منع کړی، چه په مـونـږ ظـلـم ونـکـړی۔ (یـعـنـی کـم عـقـلـو تـه مو دیوالونه وهلی دی چه ناڅاپی حمله ونکړی)

دوه واقعات

ځیـره کښے دوه ناشنا واقعے راغلے (۱) یو دا چه د غزا د تبوك نه په واپسئ کښے نبی عـلـیـه الـسـلام د مـخـکښے نه پیشنګوئی ورکړے وه چه ګویا که زهٔ ځیرے ته ګورم چه فتـح کـیـږی او د هـغـے د قلعه نه یوه زنانه راوځی چه شیماء د هغے نوم دے چه دا واقعه مخکښے مونږ لیکلے وه۔
نو ددے پیشنګوئی د رشتینوالی وخت اُوس راورسیدو،

Maktaba Tul Ishaat.com

هر کله چه صحابه کرام - رضوان الله علیهم اجمعین - او تابعین عظام - رحمهم الله - حیرې علاقې ته راورسیدل او د دغه قلعه نه تاو شول نو اول پکښې دغه زنانه راووته کوم چه نبي ﷺ خودلې وه او لوپټه ئې اچولې وه نو دوئ ونیوله او بیا ورپسې خُرَیم بن اوس صحابي ﷛ راغلو چه دا ما ته راکړئ، ځکه چه دا ما له نبي ﷺ راکړیده، نو د ګواهئ نه پس ورته خالد بن ولید ﷛ ورکړه.

نو حِیره علاقه فتح شوه او د مسلمانانو یو مرکز وګرځیدو.

د زهرو خوړل

پدې کښې دویمه واقعه دا راغله چه دغه عبد المسیح بن بُقیله ددهٔ یو خادم وو، هغهٔ شا ته یوه توبره شان راړه ولې وه، خالد بن ولید ﷛ ورته وویل چه دا څه شے دے راړولی دی؟ هغهٔ ورته وویل چه دے کښې زهر دی، [سُمُّ سَاعَةٍ] داسې زهر دی چه انسان په یو ساعت باندې سمدستي وژني.

خالد ﷛ ورته وویل: چه دا دے ولې راخستي دی؟ نو پدے کښې عبد المسیح بن بُقیله وویل چه دا ما ځکه راخستي دی چه ما وویل که مسلمانان راشي او زما د قوم بې عزتي کوي او غلط خلك وي (لکه مونږ ستاسو په باره کښې غلطې خبرې آوریدلې وې چه دا سرې خوارهٔ دی، او شریان او مفسدان دی)، نو زهٔ به دا زهر وخورم او مړ به شم، (ځکه چه زما قوم به ذلیله کیږي او زهٔ ورته ګورم نو دا ما نه نهٔ برداشت کیږي نو زهر به خورم) خو هر کله چه ما تاسو ولیدئ چه ښه خلك یئ، او تاسو کښې اخلاق او دینداري او تقویٰ ده، نو هغهٔ ډیر سخت متأثر شو.

نو خالد بن ولید ﷛ زړهٔ کښې وویل چه دهٔ ته بل تاثیر خودل پکار دی نو هغهٔ ته ئې وویل چه دا زهر راکړه چه زهٔ ئې وګورم، نو زهر ئې راواخستل او په لاس کښې ئې واچول او دا ئې وویل:

[بِسْمِ اللّٰهِ خَيْرِ الْأَسْمَاءِ، رَبِّ الْأَرْضِ وَالسَّمَاءِ الَّذِیْ لَا يَضُرُّ مَعَ اسْمِهٖ شَیْءٌ فِی الْأَرْضِ وَلَا فِی السَّمَاءِ]

د الله په نوم باندې چه غوره نوم د الله تعالیٰ دے، او رب د آسمان او د زمکې دے، چه د

Maktaba Tul Ishaat.com

هغهٔ نوم سره هیڅ شے په زمکه او په آسمان کښې تکلیف نشی ورکولے۔ او اراده ئے وکړه چه دا زهر وخوری نو ملګرو منع کړو چه دا مهٔ خوره،
مګر خالد بن ولید ﷜ وخوړل،
(دے تـه کرامت وائی چه په زړهٔ کښې ورته الله تعالیٰ واچوی چه داسے کار وکړه، مګر دا کار صحیح نـهٔ وی ځکـه چه د الله تعالیٰ امر به وی زهروته نو هغهٔ به خپل تاثیر وکړی او انسان بـه قتـل کړی نو دے کښې به د ځان وژل راشی، مګر د کرامت یو خاص حالت وی چه انسان په هغه وخت کښې په خپل ځان باندے پو هیږی او بل څوك پرے نهٔ پو هیږی)
کله چه خالد ﷜ زهر وخوړل نو د هغهٔ نه لړه شان خوله لاړه او هیڅ ضرر ئے ورته ونکړو۔
بیا خالد ﷜ هغهٔ ته دعوت ورکړو:
[اِتَّقُوا رَبَّكُمُ الَّذِیْ خَلَقَكُمْ، وَاِلَیْهِ مُنْقَلَبُكُمْ وَمَعَادُكُمْ وَادْخُلُوْا فِیْ دِیْنِ الْاِسْلَامِ، فَاِنَّكُمْ قَوْمٌ عَرَبٌ وَقَدْ جِئْتُكُمْ بِقَوْمٍ هُمْ اَحْرَصُ عَلَی الْمَوْتِ مِنْكُمْ عَلَی الْحَیَاةِ]
د هغـه رب نـه ویریږئ چه تاسو ئے پیدا کړی یئ او هغهٔ ته به ستاسو واپسی وی او په دیـن اسلام کښې داخـل شـئ ځـکـه چـه تـاسو خو عرب یئ، او ما تاسو ته داسے خلك راوستـی دی چـه دوئ مـرګ بـانـدے داسے حـرص کـوی لـکـه چه تاسو په ژوند باندے حرص کوئ۔
هر کـلـه چه خالد زهر وخوړل نو ټول خلك ورته په تعجب کښې شو او حیران شو نو پدے وخت کښې عبد المسیح بن بُقیله وویل:
[مَا رَاَیْتُ الْیَوْمَ اَمْرًا اَوْضَحَ اِقْبَالًا مِنْ هٰذَا الْیَوْمِ]
د نـن ورځے پـه شـان مـا داسے واضحه کار نهٔ دے لیدلے۔ چه مسلمانان په حقه باندے دی، او د الله رب العالمین ورسره داسے مددونه دی،
بیا ئے وویل:
[وَاللهِ یَا مَعْشَرَ الْعَرَبِ لَتَمْلِكُنَّ مَا اَرَدْتُّمْ مَا دَامَ مِنْكُمْ اَحَدٌ اَیُّهَا الْقَرْنُ]
قسم پـه الله! اے د عـربو ډلے! تاسو به خامخا د هغه شی مالکان کیږئ د کومو اراده چه تاسو کړیده ترڅو چه په تاسو کښې داسے کامل خلك موجود وی۔

بیا عبد المسیح وویل : ما ته مهلت راکړه چه زهٔ خپل قوم ته لاړ شم او خبر ورته ورکړم چه ما څه ولیدل بیا به تا ته راواپس شم۔
خالد ﷛ ورته وویل : تا ته مهلت دے،
نو هغه لاړو او د خپل قوم سره ملاؤ شو او هغوی ته ئے خبر ورکړو چه اے زما قومه! هلاك شوئ، دا خلك چه تاسو نه څه غواړی هغه ورته ورکړئ ځکه چه زما په نیز دا څه عام خلك نهٔ دی بلکه دوئ ته مرگ ډیر معمولی او سپك شے ښکاره کیږی تردے چه زهر قاتل په دوئ باندے اثر نکوی، او دوئ مرگ داسے خوښوی لکه چه تاسو ژوند خوښوئ۔
نو دے وخت کښے قوم په صلح باندے راضی شول نو خالد ﷛ ورسره صلح وکړه پدے شرط چه یو لاکھ (۱۰۰۰۰۰) درهم به ورکوی، او د شیرویه بن کسریٰ بادشاه طیلسان (شین څادر (شړئ)) به ورکوی چه دا به دغه بادشاه په خپلو اوگو باندے اچولو او په قره قوره کښے به راوتلو) چه د هغے قیمت دیرش زره (۳۰۰۰) درهم دے۔
نو خالد بن ولید ﷛ دغه مال او د شیرویه بادشاه طیلسان ابوبکر صدیق ﷛ ته د هذیل الکاهلی سره راولیږلو،
دا اولنے غنیمت وو چه د عراق نه مدینے ته راغے، نو ابوبکر صدیق هغه قبول کړو او بیرته ئے څه مالونه خالد ته ولیږل چه تهٔ پدے سره خپل فوجونه مضبوط کړه۔
او خالد بن ولید ﷛ هغوی دپاره پدے صلح باندے خط ولیکلو او هغوی ته ئے ورکړو۔
او بیا خالد بن ولید ﷛ د فوجونو سره بیرته ددے ځائے نه خپل زوړ ځائے ته واپس شو۔
دا وه صلح د حیرے علاقے۔
د خالد ﷛ د زهرو خوړلو دا روایت طبریؒ نقل کړے او دے ته ئے صحیح وئیلے دے، او ابن کثیرؒ ورته صحیح وئیلے او دکتور محمد بن علی الصلابیؒ ورته صحیح وئیلے دے۔
کوم کسان چه پدے وخت کښے کرامتونه نهٔ منی نو هغوی دا هسے ډکوسله گنړی، نه، بلکه کرامهٔ دا کار کیدے شی، زمونږ په زمانه کښے داسے کارونه شویدی نو پاتے لا

د صحابه کرامو په زمانه کښې۔ خو دا یاد کړه چه کرامت د ولی په طاقت کښې نهٔ وی، دا د الله تعالیٰ خوښه وی چه کله ئے د انسان نه ښکاره کړی، کله ددے شخص ورته فکر هم نهٔ وی او داسے یو ناشنا حالت ترے ښکاره شی۔

او بیا ددے دا مطلب نهٔ دے چه د یو تن نه کرامت ښکاره شو نو بس خلك ورځي او د هغهٔ نه تاویږی او د هغهٔ عبادتونه شروع کړی، بلکه د کرامت فائده دا ده چه الله تعالیٰ ته متوجه شه چه الله تعالیٰ په خپلو بندګانو او دوستانو باندے څومره مهربانه دے چه د خپل دوست څنګه حفاظت کوی او د هغهٔ څنګه دعاء قبلوی، که زهٔ د خپل رب بندګی وکړم ما سره به هم داسے معامله وکړی، دنیا کښې هم او په آخرت کښې هم، نو پدے طریقه د الله تعالیٰ سره مینه پیدا شی او په الله تعالیٰ باندے اعتماد پیدا شی، چه الله تعالیٰ د بنده سره مینه کوی، ودود ذات دے، او د بنده حفاظت کوی۔ لیکن د مشرکانو طریقه دا ده چه د هغوی توجه توله ولی طرفته لاړه شی او د الله تعالیٰ نه ئے ذهن بل طرفته واوړی۔

د "بَانُقِیَا" فتح کیدل او صلح

خالد بن ولید ﷺ چه بیرته په عراق کښې خپل ځائے ته راواپس شو نو جریر بن عبد الله بن الْبَجَلی ﷺ ئے راوغوښتو او هغهٔ ته ئے زر (۱۰۰۰) کسان مجاهدین د مهاجرین او انصارو نه ورکړل او په عراق کښے یو بل ځائے ته ئے روان کړل چه هغے ته "بَانُقِیَا" علاقه وائی چه دا د کوفے د نواحي نه یوه ناحیه (طرف) دے، د فُرات په غاړه واقع ده۔ (معجم البلدان)

هرکله چه جریر بن عبد الله ﷺ "بانقیا" علاقے ته ورسیدو چه ددے ځائے مشر (داذویه بن فرخان) وو، او طبریؔ وائی چه (صلوبا بن نسطونا) وو۔ نو د جریر ﷺ فوج د نهر غاړے ته ورسیدو او اراده ئے وکړه چه نهر باندے اخوا واوړی نو دلته د "بانقیا" نه یو سړے راغلو، دویٔ ته ئے آواز وکړو چه تاسو مهٔ راوړیٔ زهٔ در پورے وځم، هغه راغلو او په جریر بن عبد الله ﷺ باندے ئے صلح پیش کړه په مقابله د یو لاکهـ (۱۰۰۰۰۰) درهم باندے او د بادشاه په طیلسان (یعنی څادر) باندے، نو جریر ﷺ پدے باندے راضی

Maktaba Tul Ishaat.com

شو۔

او په "فتوح" د آزدی کښې دی چه ددې نه مخکښې خالد بن ولید ﷛ بشیر بن سعد ﷛ په دوه سوه (٢٠٠) کسانو کښې ور لیږلې وو، نو په هغه خلکو باندې ئې حمله وکړه او د هرمز قومندان څوی فرخزاد بن هرمز ئې قتل کړو او په هغې کښې بشیر بن سعد ﷛ په غشي باندې ولګیدو نو زخمي شو او بیرته خالد بن ولید ﷛ ته زخمي راواپس شو او په "عین التمر" علاقه کښې شهید وفات شو۔

نو دغه وخت خالد بن ولید ﷛ جریر بن عبد الله ﷛ ته زر (١٠٠٠) کسان ورکړل او د دوئ د ذلیله کولو دپاره ئې ولیږلو نو هغوی صلحې ته تیار شو۔

او دوئ دغه مالونه هم ابوبکر صدیق ﷛ ته راولیږل، او خالد بن ولید ﷛ د "بانقیا" والو دپاره د صلح خط ولیکلو۔

بیا "داذویه بن فرخان" د دغه ځائے نه "یزدجرد" بادشاه ته وتښتیدو او هغۀ ته ئې ټوله قصه بیان کړه چه مسلمانانو په مونږ باندې حمله وکړه او مونږ ورسره صلح وکړه نو "یزدجرد" بادشاه پدې خبره آوریدو سره انتهائی دردمند شو۔

بیا خالد بن ولید ﷛ د خپل طرف نه راروان شو او په "عین التمر" ښار باندې ئې حمله وکړه نو هغۀ ئې په زور سره ونیوله،

(عین التمر د أنبار خوا ته یو ښار دې، مغربی طرف د کوفه کښې واقع دې)

او د هغه ځائے ډیر خلك ئې غلامان کړل او ډیر مالونه او ګډې بزې ئې ونیولې،

او خالد بن ولید ﷛ به هم دغه شان د عراق په ډیرو ښارونو حملې کولې او په هر یو کښې به کامیابیدو او غنیمتونه به ئې راجمع کول او د هغې نه به ئې خمس (پنځمه برخه) ابوبکر صدیق ﷛ ته رالیږله او باقي غنیمتونه به ئې په مجاهدینو تقسیمول۔

کتاب الردة ص ٢١٧ - ٢٣١) والبداية والنهاية ٦/ ٣٢٧٧)

د "عین التمر" معرکې تفصیل روستو ذکر کیږی انتظار وکړه۔

Maktaba Tul Ishaat.com

د ذات السلاسل جنګ
یا معرکة د کاظمه
یا معرکه د ابله
یا د هرمز قتل:

ددې نه بعد د ایرانیانو یو مشر وو چه د هغهٔ هرمز نوم وو، د ایران بادشاه ورله ډیر فوجونه ورکړی وو، او په عراق ئې حکومت کولو، او د خالد بن ولید ﷛ په باره کښې ئې آوریدلی وو او تیار پدې علاقه کښې اُوسیدو ځکه چه دا ټولې علاقې د ایران دلاس د لاندې وې، نو هغهٔ راوتے وو۔

نو پدې کښې خالد بن ولید ﷛ ته خبره شوه چه دغه شے راوتے دے او ډیر فوجونه ورسره دی،

او دے هرمز یو ځائے قبضه کړے وو چه هغے ته ئې فرج الهند (اُبله) وئیلو، چه دا فارس والو ته ډیر لوی شان والا ځائے وو، او ډیره دبدبه ئې لرله، او ددے ځائے بادشاه به د عربو سره په اُوچه کښې جنګ کولو او د هندستان او سند والو سره به ئې په دریاب کښې جنګ کولو۔

نو خالد بن ولید ﷛ هرمز ته یو خط ولیږلو په هغهٔ باندې ئې رعب اچولو، دا ئې ورته وویل چه ایمان راوړه، تاسره به هغه کارونه کیږی کوم چه مونږ سره کیږی، که نهٔ وی نو جزیه قبوله کړه، او که دا نهٔ قبلوې نو پدې خبره پوهه شه:

[جِئْتُكُمْ بِقَوْمٍ يُحِبُّوْنَ الْمَوْتَ كَمَا تُحِبُّوْنَ الْحَيَاةَ، وَيَرْغَبُوْنَ فِي الْآخِرَةِ كَمَا تَرْغَبُوْنَ فِي الدُّنْيَا]

ما تاسو ته داسې خلك راوستے دے چه مرګ داسې خوښوی لکه ځنګه چه تاسو ته ژوند خوښ دے، او هغوی په آخرت کښې داسې مینه لری لکه ستاسو ته چه دنیا

Maktaba Tul Ishaat.com

خوښه ده۔

او بل روایت کښې دی: [كَمَا تُحِبُّوْنَ الْخَمْرَ] لکه چه تاسو شراب خوښوئ۔

د دوئ سره ډیر جنګونه شوی وو نو په مختلفو جنګونو کښې به ئې ورته داسې دعوتونه کول۔

لیکن هغهٔ پدې خط باندې هیڅ پرواه ونکړه نو خالد بن ولید ﷛ ملګروته حکم وکړو چه "حَفِيْرَ" علاقې ته به جمع کیږو،

دلته "هرمز" "اَردشیر بن کسریٰ" ته خط ولیکلو نو هغهٔ ورته فوجونه راجمع کړل نو دشمن ته پته ولګیده چه خالد خو "حفیر" ته ځان رسوی نو هغوی دغه علاقې ته د خالد ﷛ نه مخکښې لاړل، او هلته ئې خپل فوجونه تیار کړل دوه حصو ته ئې تقسیم کړل په ښی اړخ فوج باندې ئې دوه ورونه مقرر کړل چه یو ته ئې اَنُوشجان وئیلو او بل ته قُباذ۔

خالد بن ولید ﷛ د هغه ځائې نه "کاظمې" علاقې ته لاړو، مقصد ئې دا وو چه دشمن سره ډیرې وسلې دی پریده چه پدې وسلو راښکلو راښکلو باندې ښهٔ ستړی او ستومانه شی نو بیا به په جنګ کښې ناراسته وی۔ دا هم د جنګ یو تدبیر دې۔

(کاظمه اُوس په شمالی طرف د کویت کښې داخله ده)

نو دشمن ته پته ولګیده چه خالد ﷛ خو "کاظمه" ته لاړو نو هغه هم په غصه کښې د خالد ﷛ نه "کاظمې" ته مخکښې ورسیدو، مګر هرمز ډیر ستومانه وو، (د خالد بن ولید ﷛ نه په ډیر رعب کښې وو)

خالد بن ولید ﷛ په داسې صحراء کښې واقع شو چه هلته اُوبه نشته او دشمن طرف ته اُوبهٔ دی، نو امتحان راغې، ملګرو وویل چه اُوبهٔ نشته، او د دشمن خوا ته اُوبهٔ دی، خالد بن ولید ﷛ ملګروته وویل چه الله تعالیٰ به اُوبهٔ هغه چا ته ورکوی چه د دواړو ډلو نه ډیر صبرناک وی، یعنی دشمن ته کلك ودریږئ او حمله پرې وکړئ نو الله تعالیٰ به تاسو ته اُوبهٔ درکړی،

نو د الله تعالیٰ د طرفنه سمدست مدد وشو چه وریځه راپورته شوه او د خالد ﷛ د فوج نه شا ته باران شروع شو نو دوئ پرې قوی شو ځکه چه باران هسې هم رحمت وی او په داسې وخت کښې خصوصی مدد هم دې۔ شا ته زمکه کښې ډنډونه ډك شو۔

Maktaba Tul Ishaat.com

دلته هرمز رارسیدلے وو هغه خپل فوجونه برابرول نو فوجونه ئے د یو بل سره په زنځیرونو باندے وتړل دے دپاره چه ونۀ تښتي، د فوج نورو کسانو ورته وویل: چه تاسو خو دشمن ته ځانونه وتړل او دا خو ډیر بد فال دے،

نو هغوئ ورته وویل: دا ددے دپاره کوو چه چرته تاسو په مونږ دا گمان ونکړئ چه مونږ به وتښتو، مونږ د تیښتے والا نۀ یو۔

ددے وجه نه دے جنگ ته ذات السلاسل وائی یعنی د زنځیرونو والا جنګ چه په دے کښے د فارس والو فوجیانو ځانونه یو بل سره په زنځیرونو تړلی وو۔

هرمز د دغه علاقے ډیر ناکاره امیر وو ځکه چه د عربو سره ئے انتهائی خراب ګاوندوو، ټول عرب دۀ ته غصه وو، او دے به ئے په خباثت کښے مثال ذکر کولو، عربو به وئیل:

[فُلَانٌ اَخۡبَثُ مِنۡ هُرۡمُزَ]۔

فلانے سړے د هرمز نه ډیر خبیث او ناکاره دے۔

هرمز د جنګ نه مخکښے د کِسریٰ نه نور امدادی فوجونه وغوښتل نو هغۀ ورته نور فوج راولیږلو چه د هغوی مشر قارن (یا قاران) بن قریاس (یا قریانس) وو، هغوی هم ورته راروان شوی وو، او هغوی د اُبله علاقے په حفاظت باندے مامور وو۔

نو دلته معسکر ولګیدو او فوجونه یو بل ته مخامخ شو،

نو خالد بن ولید ﷺ ته اول هرمز را اُووتو چه ما ته دِے خالد ﷺ مقابلے ته راوځی، او دا شے په خُبث او کیدونو او چلونو مشهور وو چه په جنګونو کښے به ئے کول،

نو دۀ داسے مکر جوړ کړے وو چه زۀ به میدان ته اُووځم او خپل باډی ګاډانو (چه عربئ کښے ورته حامیه وائی) ته ئے وئیلی وو چه هرکله زۀ د خالد دپاره میدان ته را اُوځم نو تاسو به پټ ځائے کښے کینئ چه کله خالد (ﷺ) میدان ته راغے نو تاسو به پرے ناګهانه د شا ته نه حمله وکړئ نو مشر به ورله ختم کړئ، چه دا خَتم شو نو د نورو وهل آسان دی۔

مګر خالد بن ولید ﷺ ته به څوك تیښګ شی چه دا د الله تعالیٰ نۀ ماتیدونکے توره ده، ددۀ مخ چه څوك وینی نو منډے وهی۔

پدے کښے خالد بن ولید ﷺ چه کله میدان ته را اُووتو نو خپله وړاندے شو او دومره

Maktaba Tul Ishaat.com

خوشحالئ کښې د يو چا شعرونه په مثال کښې ولوستل۔

او خالد بن وليد ﷺ د هرمز نه يو فيل (هاتي) هم نيولے وو، نو دا ئے هم ابوبکر صديق ﷺ ته راوليږلو او د غنيمت خُمس هم، او دوئ سره ئے زر بن كُليب وليږلو۔

هركله چه فيل مدينے ته راورسيدو نو په مدينه كښے وګرځولے شو دے دپاره چه خلك ئے ويني۔ نو كمزورو زنانو به وئيل چه

[اَمِنْ خَلْقِ اللّٰهِ اَمْ مَصْنُوْعٌ ؟]

آيا دا دُ الله تعالىٰ مخلوق دے او كه چا په لاسونو جوړ كړيدے؟۔ (الاكتفاء)

بيا ابوبكر صديق ﷺ بيرته ور وليږلو۔

د زنانه قلعه او د سړی قلعه

هركله چه خالد بن وليد ﷺ د صحابه كرامو سره د كفارو د طلب نه راستانۀ شول نو دے وخت كښې خالد بن وليد ﷺ يو تن وليږلو چه آواز وكړی چه ځئ چه روانيږو او سامانونه راواخلئ نو راروان شول تردے چه دوئ يو لوی جسر (پُل) ته راغلل كوم چه نن صبا په بصره كښے واقع دے۔

نو دے ځائے كښې خالد بن وليد ﷺ مثنىٰ بن حارثه ﷺ د دغه خلكو په نقش قدم پسے وليږلو تردے چه نهر المرأه (د ښځے نهر) ته ورسيدو او هغه قلعه ته چه په هغے كښے يوه ښځه وه نو دلته مثنىٰ بن حارثه ﷺ خپل ورور پريخودو ددے د محاصره كولو دپاره او مثنى ﷺ خپله مخكښے روان شو ددے د خاوند د محاصره كولو دپاره چه هغه په يوه بيله قلعه كښے وو چه هغے ته ئے حِصْنُ الرجل وئيله۔ (يعنى د سړی قلعه) تردے چه هغه ئے محاصره كړو او په زوره ئے راكوز كړل او هغوی ئے قتل كړل او د هغوی مالونه ئے غنيمت كړل، او هركله چه ښځے ته دا خبر ورسيدو نو هغے د مثنىٰ ﷺ سره مصالحت وكړو او اسلام ئے قبول كړو نو مثنىٰ ﷺ په نكاح باندے واخسته،

او دا قلعه يوه لويه بنګله وه او ددے ښځے نوم لكه په تاريخ د بلاذری كښے راغلی دی "كامور زاد بنت نرسی" وو، او دا د انوشجان قائد د ترۀ لور وه، او دے قلعه ته ئے د ښځے قلعه وئيله پدے وجه چه ابو موسی اشعری ﷺ پدے باندے ميلمه شوے وو نو هغے

ورته حلواء په توښه کښې ورکړې وه نو هغۀ به بیا وئیل چه مونږ باندې د دغه ښځې حلواء وخورئ نو دا نوم پرې غالبه شو۔

[تاريخ الطبرى : ٢/٣١١، البداية والنهاية : ٦/٣٤٥، البدء والتاريخ : ٥/١٦٦، تاريخ اليعقوبى : ٢/١٣٣]

أطلس الخليفة
أبي بكر الصديق
معركة المذار
أول صفر من السنة الثانية عشرة من الهجرة المباركة
أرض العراق
المذار
الحيرة
الأهواز
الأبلة
المناذرة
بنو شيبان
بكر بن وائل
أرض الكواظم
إلى المدينة النبوية

د مَذار او ثِنیٰ جنگ
(د فارس والو دوباره شکست)
صفر سنه ١٢ هـ سنه ٦٣٣م

کوم کسان چه د هرمز د لښکر نه وتښتیدل چه په هغوی کښې انوشجان او قباذ هم وو، نو هغوی لاړل اُبله علاقې ته ئې ځانونه ورسول، او د هرمز د شکست خبر مدائن ته ورسیدو چه دا د فارس والو دار الحکومت وو، نو د هغوی بادشاه (اَردشیر) یو بل فوج راولیږلو چه د هغوی مشر قارن بن قرباس (یا قریانس) وو، او دا اصل کښې هغه فوج وو چه بادشاه د هرمز د مدد دپاره رالیږلے وو او بیا ئې پدې مکلف کړے وو چه تاسو به د اُبله علاقې حفاظت کوئ ځکه چه دا د دوئ سیاسی او مرکزی ځائے دے، نو هرمز جنګ وکړو او قارن په دغه ځائے کښې پاتے وو.

هرکله چه دغه شکست خوړونکی "قارن" ته صورتِ حال بیان کړو نو هغهٔ ملګرو سره مشوره وکړه او پدې خبره ئې اصرار وکړو چه د مسلمانانو مقابلې دپاره به د ښار نه بهر اُوځو چه هغه د "مذار" په نوم علاقه ده،

او همدا علاقه ئې د جنګ دپاره مقرر کړه ځکه چه دا د دَجله نهر په غاړه باندې واقع وه، چه دې ځائے ته ثَنِیُ هم وائی، (ثَنِیُ معنیٰ ده د نهر غاړه، او دا نهر د دجله نه رابیل شوے وو) ځکه چه قارن مخکښې نه د نهر په غاړه باندې کشتئ (بحری بیړئ) تیاره کړې وه ددې غرض دپاره که چرته مونږ ته شکست راورسیږی نو پدې کښې به تښتو،

دلته خالد بن ولید ﷺ به ډیر زیات سخت تجسس کولو او مختلف ملګری ئې د استخباراتو دپاره خوارهٔ کړی وو، نو استخباراتو ورته خبر راوړو چه فارس والا په "مذار" علاقه کښې راجمع شویدی او هلته ئې فوجونه جمعه کړیدی،

نو د همدغه ځائے نه ئې ابوبکر صدیق ﷺ ته خط ولیږلو چه هغهٔ ته ئې اطلاع

Maktaba Tul Ishaat.com

ورکوله چه زهٔ "مذار" ته حرکت کوم، دے دپاره چه د فارس والو معسکرات اُووهلے شي او د هغه ځائے نه اُبله (فَرجُ الهند) علاقے ته لاره کولاوه شي،

بیا خالد بن ولید ﷺ په ډیره جلتئ سره فوجونه رااروان کړل د فارس والو د مقابلے دپاره،

او د خپل ځان نه مخکښے ئے ماهرین شاهسواران د تجسس دپاره ولیږل چه د هغوی قیادت ئے د عراق زمری مُثنیٰ بن حارثه ﷺ ته ورکړو چه تهٔ مخکښے لاړ شه۔

او بالفعل مسلمانان په داسے جلتئ سره ورسیدل چه د دوئ دشمنانو نه هیڅا هم ددے توقع نهٔ ساتله۔

دلته په "مذار" او "ثنی" علاقه کښے د مُثنیٰ بن حارثه ﷺ نه د فارس والو فوج گیره واچوله نو ډیر د خطرے سره مخامخ شو، مگر لږ وخت پس ورپسے ډیر په مناسب وخت کښے د خالد ﷺ فوجونه راورسیدل۔

جنگ شروع کیدل

هرکله چه مسلمانان "مذار" علاقے ته راورسیدل نو خالد بن ولید ﷺ لاړو د هغوی معسکر ئے کتلو نو په خپل جنگی قیادت او مهارت سره ورته پته ولگیده چه د فارس والو زړونه د یرے نه ډك دی، ځکه چه دهٔ کشتئ ولیدلے چه د فرات نهر په غاړه باندے تړلے شوے ولاړے وے،

نو مسلمانانو ته ئے د صبر او ثبات تلقین ورکړو او دا ئے ورته وویل چه مخکښے به ځو او د واپسئ خیال به نهٔ کوو،

د فارس والو فوج اتیا زره (۸۰،۰۰۰) وو او بعض وائی چه یو لاکھ (۱۰۰،۰۰۰) وو او د مسلمانانو فوج اتلس زره (۱۸۰۰۰)،

په دے کښے د فارس والو قائد او پهلوان قارن بن قریاس راووتو او دا ډیر بهادر وو، نو دهٔ د مسلمانانو نه مبارزه طلب کړه چه زما مقابلے ته به څوك راوځی ؟

نو دوه سړی ورته راووتل یو خالد بن ولید ﷺ او بل یو باندے والا معقل بن اَعشی چه لقب ئے اَبَیَضُ الرُّکبَان وو۔ نو د خالد ﷺ نه مخکښے په قارن باندے معقل ور

Maktaba Tul Ishaat.com

ودانګل او سمدست ئے په اول ګوزار سره قتل کړو۔

د هغۀ نه روستو د فارس والو د فوج نه ډیر پهلوانان او مشران را اُووتل، لکه انوشجان او قباذ، نو دلته نه عاصم بن عمرو (چه د قعقاع بن عمرو التمیمی ﷺ ورور دے) دۀ د اَنوشجان سره مقابله وکړه نو هغۀ ئے مردار کړو،

او عدي بن حاتم رضی الله عنه د قباذ پسے ور اُووتو نو هغه ئے سمدستي مردار کړو۔

نو د فارس والو فوج په غیر د قیادت او مشرئ نه پاتے شو، او طبعي خبره ده چه کله مشران قتل شي نو بیا د فوج نظام خرابیږي لیکن د فارس والو زړونه مسلمانانو ته د کینے او حسد او غصے او جوش نه ډک وو، نو په جنګ کښے ئے ځانونه مرګ له ورکول، سخت جنګ ئے وکړو لیکن په آخر کښے الله تعالیٰ شکست پرے راوستو او مسلمانانو ته الله تعالیٰ ښکاره فتح ورکړه او دوئ لاړل اُبله ښارئے فتح کړو،

او دا جنګ یوه لویه کړئ وه د هغه جنګونو نه چه د فارس والو او د مسلمانانو ترمینځ د عراق په زمکه باندے واقع شویدی چه الله تعالیٰ پکښے فتح مسلمانانو ته ورکړیده۔

دشمنان څه په دریائے دجله کښے غرق شول او څه په کشتو کښے وتښتیدل، دا نهر د مسلمانانو دپاره د دشمن پسے د ورتللو نه مانع وګرځیدو، البته مسلمانانو ته ډیر زیات غنیمتونه ملاو شول،

د کفارو نه دیرش زره کسان (۳۰,۰۰۰) ووژل شول سوئ د هغه چا نۀ چه په اُوبو کښے غرق شول۔

پدے جنګ کښے هر هغه څوك اُووژل شو چه په جنګ باندے قادر وو، او زنانه پکښے ونیولے شوے، او دغه علاقه کښے فلاحین (دهقانانو) نه جزیه واخستے شوه او زمکے ئے هغوی ته پریخودلے او هغوی اهل ذمه جوړ شول۔

په دغه قیدیانو کښے د حسن بصری رحمه الله پلار هم وو، او هغه نصرانی وو،

په قیدیانو باندے ئے سعید بن نعمان ﷺ امیر مقرر کړو او په جزیه باندے ئے سُوید بن مقرن مُزنی رضی الله عنه مقرر کړو۔ او ددے غنیمت خمس ئے د سعید بن نعمان په قیادت کښے ابوبکر صدیق ﷺ ته راولیږل۔

په "ذات السلاسل" او "مذار" دواړو جنګونو کښے دومره غنیمت ونیول شو چه د

Maktaba Tul Ishaat.com

هر شاهسوار زر (١٠٠٠) درهم ورسیدل او د پیاده انسان ددې دریمه برخه.

پدې جنګ کښې د مسلمانانو قائدین ١ - خالد بن ولید " ٢ - معقل بن الاعشی " ٣ - عدی بن حاتم " ٤ - او عاصم بن عمرو " وو.

او د فارس والو مشران: ١ - قارن بن قریانس ٢ - انوشجان ٣ - او قباذ وو.

ددې نه روستو خالد بن ولید " په بصره کښې بیرته خپل ځائې ته راواپس شو.



معركة الوَلَجه

٢٢- صفر سنه (١٢ هـ) اپریل سنه ٦٣٣م

"وَلَجه" علاقه "گسُکر" ته نژدے علاقه ده په اُوچه کښے.

هرکله چه د فارس والو مشر اردشیر ثالث ته د قارن او د اهل مَذار شکست او هلاکت خبر ورسیدو نو خپل مابین کښے ئے مشوره وکړه چه پکار دا ده چه د عربو مقابله په عربو سره وکړی کوم چه د هغوی جنګی چلونه او پروګرامونه پیژنی، او ورسره خپل فارس والا هم وی.

نو دوه لوی فوجونه ئے نور تیار کړل، د تولو ښارونو او علاقونه ئے فوجونه راجمع کړل سوئ د هغه حامیه (یعنی څوکیدارانو) نه چه د بیزنطی (رومی) حکومت په غربی حدودو کښے واقع وو، هغه ئے پریخودل.

د فارس والو اول لښکر مشر ئے اَنْدَرزَغَر مقرر کړو چه دے د "خراسان" حاکم وو، او دے فوراً د "مدائن" نه "وَلَجه" علاقے ته راروان شو چه دویم فوج به ورپسے نژدے رارسیږی،

د فارس والو د فوج قائدینو دا توقع وکړه چه مسلمانان به د "فُرات" سره شمال مغربی طرف ته په عراق کښے تلل کوی، ځکه چه هغوی ته دا خبره معلومه وه چه د عربو خلکو دا تاریخ راروان دے چه د صحراء نه بهر نهٔ اُوځی، او د شکست په وخت کښے هم دغه دشتے استعمالوی، نو دے وخت کښے "اردشیر" بادشاه د خپلو فوجونو دپاره "وَلَجه" علاقه منتخب کړه چه پدے کښے د خالد بن ولید رضی الله عنه سره جنګ وکړی او پدے کښے د هغهٔ فوجونو ته شکست ورکړی او د مخکښے تللو نه ئے ایسار کړی،

او اَنْدَرزَغَر ځان سره د "گسُکر" او "حِیره" نه کسان راروان کړل،

او دارنګه د اطرافو عرب او دهقانان او دواړه فوجونو یو بل ته نژدے په "وَلَجه" علاقه کښے پړاؤ واچولو.

Maktaba Tul Ishaat.com

او د دویم فوج مشر "بَهْمَن جَاذویه" وو۔

دلته خالد بن ولید ﷺ عاملان خوارۀ کړل چه هغه نږدے عرب خبر کړی چه هغوی د فارس والو سره دشمنی لری، نو عاملانو ورته خبر راوړو چه ایرانی فوجونه "وَلَجَه" علاقے ته رارسیدلی دی، او هغه ډیر لوئی فوج دے،

نو دلته د خالد بن ولید ﷺ مخے ته بغیر ددے نه هیڅ چاره نهٔ وه چه دا معرکه وکړی دے دپاره چه "حیره" علاقے ته څَن ورسوی نو په خلکو کښے ئے د روانیدو آواز وکړو او ځان سره ئے پنځلس زره (۱۵۰۰۰) فوج راروان کړو او "وَلَجَه" علاقے ته ئے ځان ورسولو۔

او سُوید بن مقرن ﷺ ئے د خپل ځان نائب پریخودو، او هغهٔ ته ئے حکم وکړو چه تهٔ په "حَفِیُر" علاقه کښے مضبوط وسیږه، او د احتیاط نه کار اخله او د غفلت او غرور نه ځان ساته، او دا حکم ئے هم ورته وکړو چه هغه پُلونه او لارے څاره او څوکۍ ئے کوه چه ګمان کیدے شی چه فارس والا به په هغے باندے راتیر شی او د شمال او مشرق طرف نه به ناڅاپی حمله وکړی، او دا ئے هم ورته وویل چه کله د دشمن نوی فوجونه دے طرفونو ته راځی نو د هغے هم خیال کوه۔

دلته خالد بن ولید ﷺ یو ناشُنا کارنامه وکړه او خپل عظیم مهارت ئے استعمال کړو د دشمن د دواړو فوجونو سره ئے دا کار وکړو چه په جلتۍ سره خپله "وَلَجَه" علاقے ته ورسیدو او هلته ئے سمدستی د اَنْدَرُزَغر سره مقابله شروع کړه، دے دپاره چه د معرکے میدان ته د دوئ لا دویم فوج رارسیدلے نهٔ وی چه دوئ دا فوج ختم کړی، او د مسلمانانو مخه ونهٔ نیسی،

دویم کار ئے دا وکړو چه تکتیك ئے وکړو پدے طریقه چه د دشمن جنګیان خلك د معرکے په مینځ کښے راګیر کړی او د دوئ نه هیڅوك هم ونهٔ تښتی، او د شا ته نه په دوئ باندے فیصله وکړی چه هغه صورت د ګُمَاشه دے۔

او هغه صورت ئے پدے طریقه جوړ کړو چه خالد بن ولید ﷺ په هغه شپه -چه د هغے په سهار ئے معرکه کوله- خپل فوج ته ئے وویل چه تاسو کښے به څه کسان اسونو والا دوه ډلے جوړ شئ او د فارس والو د فوج بنی او ګس طرف ته به وړاندے (لرے) د ډیرکو شا ته پټ ودریږئ چه دا طریقه فارس والو نهٔ پیژندله، او اندرزغر ددے

Maktaba Tul Ishaat.com

طریقې توقع هم نۀ ساتله۔

میدان جنګ

د جنګ میدان ډیر فراخه هموار میدان وو، د دوه میلو په اندازه د دوه اُوچتو ځایونو ترمینځ وو، چه یو طرف ته ئې یوه ډیره شاړه اُوچه دشته وه، او ددې سره نزدې د فُرات نهر نه یو بل نهر راوتې دې چه هغې ته "نهر خاسف" وائي۔ ددې خوا ته دا میدان لګیدلې وو۔

جنګ شروع کیدل:

اَنْدَرُزغر په ځان باندې ډیر مغرور وو، او په غلبه او فتح ئې پوره اعتماد وو، ددې وجه نه د یو میل په اندازه نزدې نهر ته ئې ځان نزدې نکړو دې دپاره چه د خپل لښکر د حفاظت دپاره دغه نهر استعمال کړي، پدې کښې وتښتي که چرې شکست راشي۔

نو دواړو ډلو خپل فوجونه د جنګ دپاره راخوارۀ کړل او هر یو فوج کښې خپلې خپلې دستې وې، ښې طرف او ګس طرف او مینځ وغیره۔

د مسلمانانو دواړو طرفونو ته هم امیران مقرر وو په یو طرف عاصم بن عمرو ﷺ او په بل طرف باندې عدي بن حاتم ﷺ مقرر وو،

فارسي لښکر د هموار میدان په مینځ کښې راخور شو، او ددۀ مخه مشرق او جنوب مشرقي طرف ته وه، او په جنوب غربي کښې ددې فوج نه شا ته د شګو ډیره کئ وې،

میدان د معرکې دوه میله جنوب مشرقي طرف ته وړاندې وو،

دلته خالد بن ولید ﷺ خپل لښکر د دشمن مخامخ کړو،

د فارس والو دا ګمان وو چه د خالد بن ولید ﷺ فوج به ډیر زیات وي،

یوه شپه مخکښې خالد بن ولید ﷺ دوه کسان مشران مقرر کړل،

، یو بُسر بن ابی رُهم ﷺ او بل سعید بن مُره العجلي ﷺ او هر یو ته ئې دوه زره (٢٠٠٠) شاهسواران ورکړل او په راتلونکو خبروئې ورته حکم وکړو:

١- هر یو د دواړو قائدینو نه به خپل شاهسواران واخلئ د شپې په مینځ کښې او جنوب طرف ته به د فارس والو د خیمو نه شا ته په جلتئ ورشئ۔

٢- هر کله چه د فارس والو شا طرف ته ورسیدئ نو د اُوږدو ډیرکو د شړو نه به خپل شاهسواران شا ته په ښي او ګس طرف کښې پټ کړئ لیکن دوئ به ډیر تیار وسیږي

چه په لنډ وخت کښې حرکت وکړې شي او د مسلمانانو د مدد دپاره زر راورسیږي.

۳- سهار وختی به معرکه شروع کیږي، خو دغه سړي به د ډیرکو نه شاته همدغه شان باقي وي، او دلته به څه کسان مقرر کړي دې دپاره چه د خالد بن ولید ﷺ د اشارې انتظار کوي چه دوئ کله میدان ته ورودانګي.

٤- کله چه خالد بن ولید ﷺ اشاره وکړي نو دا دواړه طرفونه مسلمانان به د فارس والو په فوجونو باندې د شا ته نه حمله وکړي او هره ډله به په خپل خپل طرف باندې حمله وکړي، (یعني مخامخ خلك به په مخامخ او ښي او ګس طرفونو والا به په خپلو مخامخ فوجونو د فارس باندې حمله وکړي، او دغه شاته کمین والا به د فارس والو په شاتنو کسانو حمله وکړي).

نو دلته خالد بن ولید ﷺ خپل باقي لس زره (۱۰۰۰۰) فوج ایراني فوج ته مخامخ کړو،

د ایرانیانو قائد اَنْدَرزَغر په دفاع باندې ډیر باور وو نو اول ئې مسلمانان پریخودل چه دوئ حمله وکړي دې دپاره چه کله د دوئ حمله سړه شي نو دوئ به پرې حمله شروع کړي نو مسلمانانو ته به شکست ورکړي، او همدغه شان وشوه چه اول خالد بن ولید ﷺ مسلمانانو ته حکم وکړو چه عمومي حمله شروع کړئ،

دلته ایراني قائد څه فوجونه احتیاطي طور سره یو طرف ته پریخودل دې دپاره چه دوئ په مناسب وخت کښې په جنګ کښې شریك شي کله چه مسلمانان په جنګ کښې ستړي شوي وي،

پدې مینځ کښې خالد بن ولید ﷺ یو لوی پهلوان ته د مقابلې دپاره را اُووتو چه هغهٔ ته ئې "هزار مرد" وئیلو، یعني هغه سړې چه د زرو (۱۰۰۰) کسانو مقابله کوي، نو خالد بن ولید ﷺ هغهٔ لره قتل کړو نو دا هم د مسلمانانو دپاره یوه لویه فتح وګرځیده.

دا خو یوه مرحله وه.

ددې نه روستو دویمه مرحله شروع شوه چه اَنْدَرزَغر ولیدل چه مسلمانانو فوجیانو باندې د ستړي والي علامات ښکاره شول، نو دا ئې مقرر کړه چه همدا وخت د حملې دپاره مناسب دې، نو د فارسي فوج وسلو والو په مقدمة الجیش (ابتدائي دسته) د مسلمانانو باندې حمله وکړه،

Maktaba Tul Ishaat.com

مسلمانان د څه وخت دپاره د هغوی مخنیوے وکړو او هغوی ئے ایسار کړل لیکن فارس والو زور زیات کړو نو مسلمانان لږ شان شا ته راغلل، دے دپاره چه د خالد بن ولید ﷛ نورو تعلیماتو ته منتظر شی او خالد ﷛ دوئ ته اشاره ورکړے وه چه لږ راروستو شئ دے دپاره چه فارسی فوج مینځ ته رانនوزی او پیاده مسلمانان او شاهسواران ټول د فارسی فوج نه ګیر چاپیره راتاو شی۔

نو خالد بن ولید ﷛ په آخره کښې اشاره وکړه چه بیا مخکښې ورشئ نو پدے وخت کښې د مسلمانانو شاهسوارانو دواړه ډلے (کوم چه په کمین کښې وو) په فارس والو باندے د شا طرف نه راوالوتلې او مخے ته پیاده مسلمانان جنګیان وو، نو ایرانیان ئے د مخے او شا ته نه داسے سخت راګیر کړل چه د تیښتے لاره ترے ورکه شوه،

او لږ وخت لا تیر نۀ وو چه په ایرانیانو باندے د شکست آثار راښکاره شول نو دے طرف نه خالد بن ولید ﷛ په پیاده مسلمانانو باندے ایرانیانو ته ورمخکښې شول تردے چه دوئ د خپلو مسلمانانو دواړو کمین والو ډلو ته ورسیدل او فارسی فوج ئے پوره راګیر کړو۔

نو فارسی فوج په لنډ او تنګه ساحه کښې راګیر شول چه په آزادئ سره ئے خپلے وسلے هم نشوے استعمالولے، او نۀ ئے ځانونه د حمله آورو مسلمانانو د ګوزارونو نه ساتلے شول، نو معرکه په ډیرو خسارو باندے ختمه شوه،

د ایرانیانو ډیر زیات فوج اُووهلے شو او یو څو زره کسان وتښتیدل او اَنْدَرْزَغَر هم وتښتیدو لیکن هغۀ د فُراتِ په نهر باندے د تللو په ځائے عربی دشتے طرف ته متوجه شو او همداسے روان وو روان وو تردے چه د تندے نه په دشته کښې مردار شو۔


پدے معرکه کښې د مسلمانانو نه تقریباً دوه زره (۲۰۰۰) کسان شهیدان شول او د کفارو نه تقریباً شل زره (۲۰۰۰۰) کسان مردار شول۔

او خالد بن ولید ﷛ دهقانانو ته امان ورکړو نو هغوی راواپس شول او اهل ذمه شول او د جنګی خلکو او د هغوی سره تعاون کونکو خلکو اولاد ئے غلامان جوړ کړل۔

او پدے معرکه کښې د کفارو تعداد د (۲۵۰۰۰) نه تر (۳۰۰۰۰) زرو پورے وو او د مسلمانانو تعداد تقریباً (۱۵۰۰۰) هزار وو۔

(الطبری ۲/۲۱۲، البدایة والنهایة: ۳٤٥/٦، والمنتظم: ٤/۱۰۲)

Maktaba Tul Ishaat.com



الفراض
جلولاء
المصيخ
الثني
الزميل
الأنبار
بغداد
قطيسفون
عين التمر
الحيرة
أليس
الولجة
مزار
الأبلة
كاظمة
الإمبراطورية الفارسية
الإمبراطورية البيزنطية
الخلافة الراشدة
مسار خالد بن الوليد
حصار
معركة
0
ميل
125

معرکه د اُلّیس
یا معرکه د نهر الدم

ربیع الاول سنه (۱۲ هـ)

دا معرکه هم په عراق کښې د فُرات نهر په غاړه باندې راغلې ده په اُلَّیس علاقه کښې، په قیادت د خالد بن ولید ﷛ کښې، د فارس والو مشر "جابان" وو او نتیجه ئې دا شوه چه فارس والو سخت شکست وخوړلو۔

ددې معرکې سبب دا وو چه هرکله خالد بن ولید په "وَلَجَه" علاقه کښې فارس والا اُووهل دغه شان هغه عرب چه د بکر بن وائل نه وو او نصاریٰ شوی وو، او د فارس والو سره ملګری شوی وو، دوئ هم وهل وخوړل، خاصکر پدې معرکه کښې د عربو د دوه مشرانو د اَبُجَر بن بُجَیر او عبد الاسود عِجلِی ځامن هم قتل شوی وو، نو د دوئ د قوم نور نصاریٰ په غصه شول نو هغوئ عجمو ته خطونه ولیږل او عجمو دوئ ته راولیږل،

نو پدې کښې د بنو عِجل نصاریٰ او د تیم اللات او د ضُبَیْعَه او د حِیرې علاقې د اطرافو عرب راجمع شول، او هغوئ د کسریٰ نه مدد وغوښتو او د هغوئ نه ئې فوجونه او وسلې طلب کړې، نو پدې کښې د کسریٰ بادشاه امیدونه راپورته شول او پدې خبره ډیر خوشحاله شو چه د اُلیس علاقې نه نصاراؤ دهٔ ته خط رالیږلې دې، نو هغهٔ فوراً خپل یو لوی فوجی جرنیل "بهمن جاذویه" ته - کوم چه د وَلَجَه علاقې په جنګ کښې شکست خوړلې راتښتیدلې وو، امر وکړو چه دې په "اُلیس" کښې د نصاراؤ سره یو ځائې شی، (اُلیس د انبار یو کلې دې چه په فُرات باندې واقع دې) او د مسلمانانو د لښکر سره وجنګیږی،

نو "بهمن جاذویه" اُلیس علاقې ته روان شو، نو په لاره کښې بهمن جاذویه بیرته

Maktaba Tul Ishaat.com

راستون شو او د خپل ځان په ځائے ئے یو بل فوجی جرنیل مقرر کړو چه د هغهٔ نوم "جابان" وو، هغهٔ ته ئے حکم وکړو چه ترڅو زهٔ درته بیرته رارسیدلے نهٔ یم نو د جنګ نه خپل ځان او خپل لښکر وساته مګر که مسلمانانو درسره په جلتئ جنګ شروع کړو نو بیا ورسره شروع شه۔

او خپله بیرتهٔ دے دپاره ستون شو چه د کسری (اردشیر) سره ملاقات وکړی او د هغهٔ نه مشورے واخلی، نو کله چه "بهمن" بادشاه "اردشیر" ته ورسیدو نو هغه ئے مریض وموندو، نو هغهٔ سره ایسار شو. او بعض وائی چه په مدائن (دار الحکومة) کښے څه اضطرابات او اختلافات پیدا شوی وو نو پدے وجه بهمن واپس بادشاه خوا ته ورغلو۔

دلته "جابان" یو هوښیار تجربه کار فوجی جرنیل وو لیکن شخصیت ئے ضعیف وو۔

او دلته د عربو نصاراؤ دوه مشران جابر بن بُجیر او عبد الاسود عجلی هم راغلل۔

بل طرف ته خالد بن ولید ﷺ ته خبر راورسیدو چه عبد الاسود او ابجر او زهیر فوجونه راجمع کړیدی نو دوئ طرف ته راووتو او هغهٔ ته د "جابان" د رانزدے کیدو علم نهٔ وو، او د خالد ﷺ د بل هیڅ اراده نهٔ وه مګر صرف عرب نصاراو سره جګړه کول وو،

معرکه شروع کیدل :

د فارس والو امدادات اُلیس علاقے ته د مسلمانانو نه زیات نزدے وو،

دلته خالد بن ولید ﷺ په داسے حال کښے د فارس والو فوجونو ته ورسیدو چه هغوی د خوراک دپاره طعام تیار کړے وو، او طعام ته ناست وو، دغه وخت کښے دوئ ته خپل قائد جابان حکم کړے وو چه طعام پریدئ او د مسلمانانو مقابلے ته تیار شئ لیکن هغوی دیر په غرور او تکبر کښے راغلی وو پدے وجه چه د هغوی فوجونه د یو نیم لاکهـ (۱۵۰۰۰۰) نه زیات وو، مګر هغوی د خپل اعلیٰ قائد د حکم مخالفت وکړو، او دائے وویل چه ښه په آرام به جنګ کوو، کله چه د طعام نه فارغ شو۔

جابان ورته وویل چه زما ګمان دا دے چه تاسو به لا طعام ختم کړے نهٔ وی چه هغوی به دربانده په جلتئ حمله وکړی او طعام به درنه پاتے کړی لیکن هغوی خبره ونهٔ

Maktaba Tul Ishaat.com

منله، او دسترخوانونه ئے خوارهٔ کړل او طعامونه ئے پرے کیخودل او یو بل ئے هغے ته را اُوبللل او تول ورته کیناستل،

"جابان" ورته بیا راغلو دویم حکم ئے ورته دا وکړو چه په طعام کښې زهر واچوئ که چرے مسلمانانان غلبه وکړی او دا طعام وخوری نو مړهٔ به شی، لیکن هغوی بیا هم تکبر او غرور کښې وو او دا ګمان ئے وو چه مونږ نشو مغلوبه کیدے، او دا ډیره کامیابه حربه وه لیکن د دوئ د تکبر په وجه ناکامه شوه او شیطان ورته خپل عملونه ښائسته ښکاره کړل۔

هرکله چه خالد بن ولید ﷛ ددے فوجونو دا غرور او تکبر ولیدو نو خپل فوج ته ئے حکم وکړو - چه هغه پنځلس زره (١٥٠٠٠٠) فوج وو- چه خپل بوجونه کیږدئ او ځانونه سپك کړئ بیا هغوی طرف ته متوجه شو، او د ځان نه روستو ئے ساتونکی مقرر کړل چه ددهٔ شا طرف محفوظ وساتی، بیا د کفارو د صف مخامخ راووتو او آواز ئے وکړو چه٠

[اَیْنَ اَبْجَرُ ؟، اَیْنَ عَبْدُ الْاَسْوَدِ ؟، اَیْنَ مَالِكُ بْنُ قَیْسٍ ؟]

اَبْجَر چرته دے؟، عبد الاسود چرته دے؟، مالك بن قیس چرته دے ؟ تول د خالد ﷛ نه روستو شو سوئ د مالك بن قیس نه چه هغه ورته را اُووتو نو خالد ﷛ ورته ووئیل :

[یَا ابْنَ الْخَبِیْثَةِ ! مَا جَرَّاَكَ عَلٰی مَنْ بَیْنَهُمْ وَلَیْسَ فِیْكَ وَفَاءٌ ؟]

اے د خبیثے ښځے ځویه !، تهٔ کومے خبرے په ما باندے د تولو ترمینځ زړه ور کړے، او تا کښې هیڅ وفاء نشته، او بیا ئے په هغهٔ باندے حمله وکړه او هغه ئے قتل کړو،

بیا ئے په فارس والو باندے حمله وکړه نو هغوی نه ئے طعامونه پاتے کړل، هغوی لا خوړلی نهٔ وو،

نو "جابان" ورته ووئیل چه آیا ما تاسو ته دا خبره نهٔ وه کړے، قسم په الله زما په مشرئ کښې ما هیڅکله داسے وحشت نهٔ وو لیدلے کوم چه ما نن ورځ ولیدو،

نو هغوی ورته ځانونه په زوره بهادر ښکاره کړل او دا ئے ورته ووئیل چه اُوس به مونږ دا طعامونه دوئ ته پریدو تردے چه د دوئ نه فارغ شو او دوئ تول ختم کړو نو بیرته به ورته راشو نو جابان ورته ووئیل چه قسم په الله زما ګمان دے چه تاسو دا طعامونه خاص هم دوئ ته ایخودی دی، او تاسو نهٔ پوهیږئ نو اُوس هم موقعه شته زما تابعداری

Maktaba Tul Ishaat.com

وکړئ هغه دا چه پدے کښے زهر واچوئ که غلبه مونږ ته ملاؤ شوه نو طعامونه ضائع کیدل معمولي خبره ده او که مونږ شکست وخوړو نو مونږ به یو کار کړے وی او عذر به مو ښکاره کړے وی، مګر خلکو بیا هم نهٔ منله او خپل ځانونه ئے په مسلمانانو باندے قادر ګڼړل۔

نو جابان په ښی او ګس طرفونو باندے عبد الاسود او ابجر مقرر کړو او خالد بن ولید ﷺ خو ددے ورځو نه مخکښے خپل فوجونه تیار کړی وو، نو دلته فوجونو د حملے آوازونه وکړل نو سخت جنګ شروع شو چه د یو حال نه بل سخت حالت ته نقل کیدو او مشرکان پدے وجه ډیر کلك ولاړ وو چه د هغوی طمع وه چه "بهمن جاذویه" د مدائن نه د مددونو سره رارسیدونکے دے، نو د مسلمانانو په مقابله کښے ډیر مضبوط اُودریدل،

تردے چه مسلمانان هم د هغوی په جنګ ستړی شول نو پدے وخت کښے خالد بن ولید ﷺ نذر وکړو :

[اَللّٰهُمَّ اِنَّ لَكَ عَلَيَّ اِنْ مَنَحْتَنَا اَكْتَافَهُمْ اَلَّا اَسْتَبْقِيَ مِنْهُمْ اَحَدًا قَدَرْنَا عَلَيْهِ حَتّٰى اُجْرِيَ نَهْرَهُمْ بِدِمَائِهِمْ]

اے الله ! ستا دپاره په ما دا نذر شو چه که تا مونږ ته د دوئ اُوګے راکړے نو زهٔ به د دوئ نه یو تن هم نهٔ پریدم چه زهٔ پرے قادر شم تردے چه د دوئ په وینو باندے د دوئ دا نهر روان کړم۔

نو دلته د مسلمانانو قوت په جنګ کښے زیات شو خاصکر د بکر بن وائل چه کوم مسلمانان وو ځکه چه دوئ د خپلے قبیلے نصاراؤ په خلاف ډیر سخت وو،

ډیر اُوږد وخت لا تیر نهٔ وو چه الله تعالیٰ مسلمانانو ته فتح ورکړه، او د هغوئ اُوګے ئے د مسلمانانو په لاسونو کښے ورکړے نو خالد بن ولید ﷺ یو آواز کونکی ته آواز وکړو چه خلکو کښے آواز وکړی چه دشمنان قیدیان کړئ مګر کوم خلك چه ځان نهٔ ورکوی نو هغه اُووژنئ،

نو اسونو والو دغه خلك ډلے ډلے قیدیان کړل چه خالد بن ولید ﷺ طرف ته ئے ډله ډله راروان کړل، خالد بن ولید ﷺ دا خلك د الیس نهر په خوا کښے ودرول، د نهر اُوبهٔ ئے بندے کړے او په دوئ باندے ئے څه کسان مقرر کړل چه هغوی به د مشرکانو څټونه

Maktaba Tul Ishaat.com

وهل او نهر ته به ئے غورزول يوه ورځ او يوه شپه ئے دا كار وكړو دے دپاره چه د دوئ په وينو باندے نهر روان شي او نذر ئے پوره شي،

ليكن هر كله چه د دوئ په وينو باندے نهر روان نشو نو قعقاع بن عمرو تميمي ﷺ خالد بن وليد ﷺ ته ووئيل : كه ته ټول زمكے والا قتل كړے نو د دوئ په وينو به دا نهر روان نشي، نو داسے وكړه چه پدے نهر كښے د شا ته نه اُوبۀ هم راپريده چه د هغے په وجه دا نهر روان شي نو د اُوبو د راپريخودو په وجه د د وينو نهر روان شو، د هغه ورځے نه دغه نهر ته نهر الدم وائي۔ (يعني د وينے نهر) او په دغه ورځ باندے د فارس والو د لښكر نه د اُوه زره (۷۰۰۰) كسانو نه زيات اُووژل شول۔

(بعض مستشرقينو په دے كار سره په خالد بن وليد باندے تنقيد كړيدے چه د يو فاتح قائد دپاره دا كار مناسب نۀ وي ليكن دا خبره نورو اهل علمو عين د حكمت مطابق ګنړلے ده، او دا ئے وئيلي دي چه دا د جنګ د ترتيبلتو نه يو ترتيب دے او دے ته حربِ اعصابي او نفسي وائي او دے كار د فارس والو او د هغوي د ملګرو عربو په نفسونو ډير لوي اثر وكړو۔

بلـه دا چه د بعض رواياتو مطابق اويا زره (۷۰۰۰۰) كسان پدے معركه كښے قيد شوي وو نو ددے كسانو حفاظت به څوك كوي، د مسلمانانو ټول فوج (۱۵۰۰۰۰) زره كسان وو، پدے كښے په مسلمانانو باندے ډيره لويه خطره وه چه دوئ به پرے بغاوت وكړي نو كامله فتح دا ده چه دا خلك اُووژلے شي۔

ددے وجه نه عمر فاروق ﷺ امر كړے وو چه قيديان وژنئ دے دپاره چه د فارس والو مټ كمزورے كيږي ځكه چه دے ظالمانو سره انتهائي زيات نفري او فوجونه وو چه يو فوج به ئے اُووهلے شو نو بل فوج به په بل مقام كښے تيار ولاړ وو، ځكه چه په مخ د زمكه باندے د فارس او روم والو نه زيات طاقتور نۀ وو، او فارس د عراق د غرب طرف نه خور وو او ددے حدود تر مشرقي چين پورے اُوږده شوي وو نو د دوئ سره ډير زيات انسانان وو، نو مسلمانانو د داسے قيديانو ساتنه نشوه كولے۔

او ددے نه دا فائده معلوميږي چه بادشاه او امير له دا جائز دي چه د محاربينو (جنګيانو) قيديان قتل كړي كله چه پدے كښے د مسلمانانو دپاره فائده وي او په هغوي باندے صرف زړۀ يخوالے مقصد نۀ وي،

Maktaba Tul Ishaat.com

هرکله چه مسلمانان د کفارو د طلب نه راواپس شول او خپل فوجونو ته راغلل نو خالد بن ولید ﷛ په دغه طعام باندې اُودریدو کوم چه مشرکانو د خپل خوراك دپاره تیار کړے وو لیکن د خوراك زیاته موقعه ورته ملاؤ نشوه،

نو دے وخت کښې خالد بن ولید ﷛ مسلمانانو ته وفرمایل : ما دا ستاسو دپاره نفل (زیاتی غنیمت) وګرځولو دا ستاسو شو، ځکه چه دا د رسول الله ﷺ طریقه وه چه کله به ئے د مشرکانو نه تیار طعام ونیولو نو ټولو خلکو ته به ئے د هغې اجازه ورکړه۔

نو خلك د شپې په دسترخوانونو کیناستل او خوراك ئے شروع کړو نو کومو خلکو چه سپینه نرمه ډوډئ نۀ وه لیدلے نو هغوی وویل چه دا سپین نرم څیزونه څه شے دے؟ نو چا چه لیدلی وو هغوی به جواب ورکولو چه آیا تاسو نرم ژوند په باره کښې آوریدلی دی؟، هغوی وویل : آؤ، نو دوئ ورته وویل : همدا نرم ژوند دے۔

د خالد ﷛ په باره کی د ابوبکر صدیق ﷛ رایه :

او خالد بن ولید ﷛ یو تن مقرر کړو چه د هغۀ نوم جَنْدَل وو او د بنو عجل نه وو، او دا ډیر تیز لاربنود وو، نو هغۀ ابوبکر صدیق ﷛ ته خبر راوړو، د اُلیس فتح او د مال فیء اندازه او د قیدیانو شمار ټول هر څه ئے ورته بیان کړو او خُمس ئے ورته راوړو او د خلکو تکلیفونه او مصیبتونه ئے ورته بیان کړل۔

هرکله چه ابوبکر صدیق ﷛ ته د جَنُدل د خبرو حقیقت واضح شو نو هغۀ ته ئے د قیدیانو نه یوه زنانه ورکړه چه بیا د هغۀ ترے اولاد پیدا شو۔

او هرکله چه ددے واقعې خبر ابوبکر صدیق ﷛ ته راورسیدو نو هغۀ خپله مشهوره خبره وکړه :

[یَا مَعْشَرَ قُرَیْشٍ ! عَدَا اَسَدُکُم (یَعْنِیْ خَالِدًا) عَلٰی اَسَدِهِمْ (یَعْنِیْ کِسْرٰی وَالْفُرُسَ) فَغَلَبَهٗ عَلٰی لَحْمِهٖ (اَیْ عَلٰی فَرِیْسَتِهٖ) عَقِمَنَ النِّسَاءُ اَنْ یَّلِدْنَ مِثْلَ خَالِدٍ]

اے قریشو ! ستاسو زمرے (خالد) د کسریٰ او ایرانیانو په زمری باندے حمله وکړه نو د هغۀ په ښکار باندے ئے غلبه وکړه، زنانه شنډے دی ددے نه چه د خالد ﷛ په شان څوی راوړی۔

خالد بن ولید ؓ او د هغهٔ ملګرو د فارس والو خُوله او داړے ماتے کړےاو ددے واقعے نه روستو همیشه مرعوبه شو او تس نس شول او دومره کوشش او صبر سره بیا د مقابلے دپاره نۀ دی راغلی تردے چه خالد بن ولید ؓ ترے شام ته لاړو۔

او د مشرکانو نه اویا زره (۷۰۰۰۰) کسان اُووژل شول۔ چه اکثر په کښے د امیغیشیا وو۔ او د مسلمانانو نه تقریباً دوه زره (۲۰۰۰) کسان شهیدان شول۔

خالد بن ولید ؓ چه هرکله په روستو وخت کښے حیره فتح کړه نو وے فرمایل : ما په غزا د مُؤته کښے قتال وکړو تردے چه نهه تورے زما په لاس کښے ماتے شوے او زۀ د یو قوم سره نۀ یم ملاؤ شوے چه هغه د فارس والو نه زیات مضبوط وی، او په فارس والو کښے بیا د اُلیس والو په شان ما نۀ دی لیدلی۔



معركة الانبار

یا معرکه د ذات العیون

دا معرکه هم د خالد بن ولید ﷺ په قیادت کښې د فارس والو سره شوې وه او مسلمانانو ته الله تعالیٰ غلبه ورکړې وه۔

انبار ته "فیروز سابور القدیمه" وائی۔ دا په عراق کښې مشهور ښار دې د بغداد په صوبه کښې دې، ددې او د بغداد ترمینځ لس فرسخه مسافت دې، او دې د بغداد په غربی طرف کښې په فُرات باندې واقع دې، د نهر عیسیٰ د راوتو ځائے ته نزدې دې، او بابل ښار ددې نه په شمالی طرف کښې دې، د بابل نه اتیا (۸۰) میله وړاندې دې۔

خالد بن ولید ﷺ فوجونه تیار کړل او انبار طرف ته روان شو او د لښکر په اولنئ دسته باندې ئے اقرع بن حابس رضی الله عنه امیر کړو، نو دوئ انبار محاصره کړو او انبار والا خپلو قلعه ګانو ته ننوتل او د خپلو قلعه ګانو مخې ته ئے خندقونه کنستلی وو،

د فارس والو په لښکرو باندې "شیرزاد" په نوم مشر وو چه دې د "ساباط" ګورنر وو،

خالد بن ولید ﷺ چه راورسیدو نو د خندق نه ګیر چاپیره وګرځیدو او جنګ ئے شروع کړو خو خپلو ویشتونکو ملګروته ئے وویل چه د دشمنانو سترګې په نخه کړئ نو دوئ دشمنان په یو دم سره په سترګو ویشتل شروع کړل تردې چه د زرو (۱۰۰۰) کسانو سترګې ئے ړندې کړې ددې وجه نه دې واقعې ته معرکه د ذات العیون هم وائی۔ یعنی د سترګو والا معرکه۔


دلته خلکو آوازونه وکړل [ذَهَبَتْ عُيُوْنُ اَهْلِ الْاَنْبَارِ] چه د انبار والو سترګې لاړې، هرکله چه "شیرزاد" دا حالت ولیدو نو کسان ئے راولیږل چه د خالد ﷺ نه ئے په یو داسې کار باندې صلح طلب کوله چه خالد ﷺ په هغې باندې راضی نۀ وو، نو د هغۀ

Maktaba Tul Ishaat.com

او خالد بن ولید رضی الله عنه پدې کار باندې اکتفاء ونکړه بلکه په خندق کښې ئې تنګ ځائې وکتلو او د خپل فوج کمزوری اُوښان ئې راونیول او هغه ئې ذبح کړل او د هغې په جُثو باندې ئې خندق ډك کړو او مسلمانان په خندق باندې ورداخل شول نو د کفارو سره ئې په خندقونو کښې دننه جنګ شروع کړو نو مشرکانو خپلو قلعه ته پناهي ویوړه۔

او د فارس والو مشر ''شیرزاد'' په دغه وخت کښې ډیر عقلمند سړې وو او ډیر سردار وو چه عربو او عجمو په هغهٔ باندې قناعت کولو، نو خالد بن ولید رضی الله عنه ته ئې د هغهٔ د خوښې مطابق د صلح پیغام ولیږلو نو خالد رضی الله عنه هغه قبول کړو پدې شرط چه دې به د اسونو په یوه ډله کښې د خپل امن ځائې ته رسوی چه هیڅ سامان او مالونه به ورسره نهٔ وی، نو خالد '' ورسره وفاداری وکړه، نو ''شیرزاد'' ''بهمن جاذویه'' ته را اُووتو بیا خالد بن ولید '' د اَنبار نه ګیرچاپیره خلکو سره او ''کلواذئ'' والا سره صلح وکړه۔

[الطبری : ۲/۳۲۲،۳۲۳، البدایة والنهایة : ۴/۷۴۳]



Maktaba Tul Ishaat.com

معرکه د "عين التمر"

هركله چه خالد بن وليد ﷺ د اَنبار نه فارغ شو نو په هغې باندې ئې زِبرِقان بن بدر رضی الله عنه نائب جوړ کړو او خپله "عين التمر" علاقې ته روان شو،

"عين التمر" يوه قلعه ده په حدودو د صحراء کښې مغربی طرفته درې ورځې مزل دې، او د انبار نه مغرب طرف ته واقع ده، دا علاقه فارس والو ددې دپاره آباده کړې وه چه پدې سره د خپلو حدودو حفاظت وکړي (بونډری وه)۔

هرکله چه حِيره علاقې د خالد بن وليد ﷺ په لاس سقوط وکړو په سنه (٦٣٣ ميلادی) کښې نو خالد بن وليد ﷺ د فارس والو حفاظتی فوج پسې روان شو کوم چه په "عين التمر" کښې پروت وو، او عين التمر د "دُومة الجندل" په لاره کښې دې، ددې نه دُومة الجندل ته لاره وتلې ده،

پدې علاقه کښې دوه قسمه خلك اُوسيدل، يو هغه عرب نصارىٰ چه د فارس والو ملګری وو، او بل فارس والا، د فارس والو قائد **مهران بن بَهرام جُوبين** وو، او ددهٔ سره يو لوی فوج وو، او دويم عرب وو د نَمِر او تَغْلِب او اِيَاد قبيلې وې چه مشرئې عَقّه بن ابی عقه وو، ددې معرکې خاصيت دا دې چه دا ډيره په جلتئ باندې سر ته رسيدلې ده ځکه چه عرب نصاراؤ پکښې د جنګ شروع کيدو نه مخکښې تيښته وکړه۔

قصه دا وه چه عقه بن ابی عقه ډير مغرور سړې وو، او د فخر او مشرئ ډير شوقين وو، دهٔ دا غوښتل چه زهٔ يواځې مسلمانانو سره جنګ وکړم دې دپاره چه زما نوم وشی نو پدې وجه ئې فارسی قائد (مهران) ته ووئيل چه عرب د عربو په قتال ښه پوهيږی نو مونږ او خالد پريده چه وجنګيږو۔

هرکله چه مهران دا خبره د عَقه نه واوريده نو وې وئيل چه تا بالکل صحيح خبره وکړه بيشکه چه تاسو د عربو په قتال ښهٔ پوهيږئ، او تاسو زمونږ په شان يئ په قتال د عجمو کښې (يعنی د عجمو په قتال کښې هم ښه ماهر يئ) نو پدې خبره ئې عقه

Maktaba Tul Ishaat.com

دھوکه کړو او هواء ئې ترې لاندې کړه۔

او دا ئې ورته وویل چه که تاسو مونږ ته محتاج شوئ نو مونږ به تاسو سره مدد وکړو۔

مهران غوښتل چه د مسلمانانو د جنګ نه ځان وساتي ځکه چه هغه پدې خبره پوهیدو چه مسلمانانو باندې غلبه نشي کیدې، ځکه چه پدې وخت کښې پرله پسې غلبې مسلمانانو په عراق کښې وکړلې،

مګر فارس والو مهران پدې خبره باندې ملامته کړو چه تا ولې عَقه ته داسې خبره وکړه؟ نو هغهٔ ورته وویل : ما پریدئ، ما ستاسو دپاره د خیر اراده کړې او د هغوی دپاره د شر، ځکه چه تاسو ته داسې سړې راغلې دې چه ستاسو بادشاهان ئې قتل کړل او ستاسو طاقت ئې کمزورې کړو نو زهٔ خالد ﷛ په عربو سره وهم، که دوئ په خالد ﷛ باندې غلبه وکړه نو فائده ئې ستاسو ده، او که دوئ مغلوبه شو نو مونږ به د خالد ﷛ سره جنګ شروع کړو په داسې حال کښې چه هغوی به کمزوری شوی وی او مونږ به مضبوط یو، نو ملګروئې اعتراف وکړو چه دا بهترینه رایه ده۔

عقه مغرور د خپلو عربو نصاراؤ سره د عین التمر نه را اُووتو دې دپاره چه مسلمانانو سره جنګ وکړی نو صحراء کښې ئې په تیزئ مزل وکړو او یوې علاقې ته راورسیدو چه هغې ته "اَلْکَرُخ" وئیلو او هلته ئې خپل فوج تیار کړو او دلته مسلمانان د معرکې ځائې ته ورسیدل، او خالد بن ولید ﷛ خپل فوج په جلتئ سره تیار کړو او جنګ ته چمتو شو۔

خالد بن ولید ﷛ عقه لره ددې نه مخکښې نهٔ وو لیدلې لیکن د یو خبردار او تالاش کونکی په نظر ئې هغهٔ ته کتل، نو پوهه شو چه دا سړې ډیر غرور والا دې، نو یو بهادرانه چل ئې جوړ کړو هغه دا چه د فوج دا قائد راوتښتوی چه په فوج باندې یو تندر پریوزی او همدغسې وشوه چه خالد بن ولید ﷛ د مسلمانانو د پهلوانانو نه څه کسان منتخب کړل او ددې طریقې نه ئې خبر کړل۔

نو طریقه دا وه چه اول د مسلمانانو د فوج دواړو طرفونو په معمولی شان جنګ باندې شروع وکړه بغیر د غټ هجوم نه، دې دپاره چه د عربو نصاراؤ مقابل دواړه طرفونه مشغول کړی او مینځنئ حصه د فوج په خپل ځائې بنه په سکون کښې ولاړه

Maktaba Tul Ishaat.com

وه تردے چه خالد بن ولید ﷺ ورته د یو ځل هجوم کولو اشاره ورکړی،

او فعلًا پدے کار باندے عقه هم تعجب کولو چه قلب الجیش (مینځنئ حصه د لښکر) څنګه د حملے کولو نه روستو کیږی، او خالد بن ولید ﷺ او د هغهٔ مددګار ملګری په اولنئ حصه د لښکر کښے وو،

هرکله چه وړوکے مجموعے د مسلمانانو حمله وکړه نو د عربو نصارئ حیران شو چه دا لړ شان فوج په دوئ باندے حمله کوی حال دا چه دوئ د زرګونو په تعداد کښے دی لیکن وخت لا تیر نهٔ وو چه خالد بن ولید ﷺ ورمنده کړه او عقه ئے په غیږ کښے ونیولو او په جلتئ سره ئے راوتښتولو لکه د یو ماشوم بچی په شان، لکه څنګه چه ئے په مخکښے معرکه د ذات السلاسل کښے هُرمز رانیولے وو،

هرکله چه ئے دا د مسلمانانو صفونو ته راوړسولو نو دغه وخت د عرب نصاراؤ په رګونو کښے وینه ودریده او سخت ګبراهټ کښے واقع شول او رعب پرے راغلو نو د معرکے د میدان نه وتښتیدل بغیر ددے نه چه یوه توره هم را اُوباسی۔

شکست

هرکله چه مهران ته خبر ورسیدو چه عقه او د هغهٔ فوج شکست وخوړلو او دهٔ جاسوسان لیږلی وو چه د معرکے حالات وګوری نو مهران د قلعه نه راکوز شو او په جلتئ سره د خپلو باډی ګاډانو سره قطسیفون یا مدائن علاقے ته وتښتیدو او خپله قلعه ئے بغیر د ساتونکو نه پریخوده۔

پدے کښے شکست خورده تښتیدونکی عرب راروان وو تردے چه دغه خالی قلعه (چونړئ) ته راورسیدل نو هغه ئے ومونده چه کولاوه وه نو هغے ته ننوتل او ځانونه ئے پکښے محفوظ کړل، نو خالد ﷺ راغے او د دوئ نه ئے ګیره واچوله او دوئ ئے سخت محاصره کړل،

هرکله چه دوئ دا حالت ولیدو چه مونږ خو راګیر شولو نو د خالد ﷺ نه ئے صلح او امان وغوښتو مګر خالد ﷺ انکار وکړو مګر دا چه زما په حکم به راکوزیږئ او زما چه څه خوښه وه هغه به په تاسو کوم، نو هغوی دا خبره اُومنله نو دوئ په زنځیرونو وتړل شول او قلعه ئے قبضه کړه۔

بیا خالد بن ولید ﷺ امر وکړو نو د عقه بن ابی عقه او د هغهٔ سره د نیول شوی

Maktaba Tul Ishaat.com

ملګرو څټونه ئې وهل او هغه کسان چه د خالد ﷺ په حکم راکوز شوی وو، د هغوی څټونه ئې هم اُووهل او په چونړئ کښې چه څه وو هغه ټول ئې غنیمت جوړ کړل.

څلویښت هلکان

پدې چونړئ کښې یوه کنیسه (ګیرجه) وه چه په هغې کښې څلویښت هلکان وو، او هغوی پسې دروازه بنده وه نو خالد ﷺ هغه ماته کړه او د هغه هلکانو نه ئې تپوس وکړو چه تاسو ولې دلته بند شوی یئ؟ نو هغوی وویل: چه مونږ "عین التمر" والو سره په ګانړه کښې پراته وو.

یا دې خلکو به انجیل زده کولو په مذهب د نسطور باندې.

نو خالد بن ولید ﷺ دا په خپلو هغه ملګرو باندې تقسیم کړل چه هغوی ته ډیر مصیبتونه رسیدلی وو او ډیره کارنامه ئې کړې وه. نو چا خپل غلام واخستو او تربیت ئې ورکړو او چا په دغه ښار والو باندې خرڅ کړل.

دغه هلکانو کښې چه خالد بن ولید ﷺ موندلی وو په کنیسه د عین التمر کښې یو هلك "سیرین" وو چه دا انس بن مالك انصاری ﷺ په پیسو اخستې وو او بیا ئې آزاد کړې وو، او دا د مشهور تابعی فقیه محمد بن سیرین پلار دې، کوم چه د خوبونو د تعبیرونو ډیر لوی عالم دې، او دغه شان یو بل هلك نصیر وو چه دا د یو مشهور اسلامی فاتح او مشهور قائد موسی بن نصیر پلار دې، او دغه شان په دغه هلکانو کښې د محمد بن اسحاق د سیرت او مغازی لیکونکی نیکه هم وو چه د هغهٔ نوم "یسار" دې.

او خالد بن ولید ﷺ ولید بن عقبه رضی الله عنه ابوبکر صدیق ﷺ ته راولیږلو چه هغه له خبر ورکړی او خُمس ورته وسپاری.

پدې طریقه خالد بن ولید ﷺ نور جنګونه وکړل، فِراض علاقه ئې فتح کړه، مصیخ ئې فتح کړو، مدائن ئې فتح کړو.

Maktaba Tul Ishaat.com

معركة الفراض:

ذی قعده ۱۲ هـ جنوری ٦٣٤م

دا معرکه هم د خالد بن ولید ﷛ په قیادت کښې د فارس والو د امپراطورئ سره واقع شویده او د هغوی د عربو مسیحینو حلفاؤ سره۔

خالد بن ولید ﷛ فِراض علاقې ته اراده وکړه چه دا د شام او د عراق او جزیرة العرب سرحدی علاقه ده۔

هرکله چه مسلمانان په فراض علاقه کښې راجمع شول نو رومیان په جوش کښې راغلل او غصه شول او دوئ ته چه نزدې د فارس والو کوم حفاظتی چونړئ والا وو د هغوی نه ئې مدد طلب کړو او هغوی هم په جوش کښې راغلل او غصه شول چه مسلمانان څنګه دلته راغلی دی؟،

او دارنګه د عربو قبیلو نه ئې مدد وغوښتو لکه بنو تغلب او اِیَاد او نَمر قبیلې، نو هغوی ټولو ورسره مدد وکړو او ټول په یوه خبره راجمع شول چه د خالد ﷛ مقابله به کوی، بیا د خالد ﷛ مقابلې ته راپورته شول۔

هرکله چه د خالد ﷛ او د دوئ ترمینځ فُرات نهر واقع شو نو دوئ وویل چه یا تاسو دې طرف ته راواوړئ یا به مونږ در واوړو؟،

خالد بن ولید ﷛ ورته وویل چه بلکه تاسو راپورې وځئ، هغوئ ورته وویل چه تاسو جدا شئ چه مونږ در پورې وځو۔

خالد ﷛ وویل: دا کار مونږ نهٔ کوو، لیکن تاسو زمونږ نه لاندې پورې وځئ۔

نو رومیانو او فارس والو یو بل ته وویل چه خپله بادشاهی ثواب وګنړئ، دا سړې دې چه په دین باندې جنګ کوی، او دهٔ سره عقل او علم دې، قسم په الله چه الله تعالیٰ ددهٔ سره مدد کوی او مونږ به شکست خورو،

لیکن دې خلکو ددې خبرې نه فائده وانخسته۔

نو دوئ د خالد ﷛ نه لاندې په نهر راتیر شول، هرکله چه پوره راواوړیدل نو رومیانو

Maktaba Tul Ishaat.com

وویل : تاسو جدا شئ دے دپاره چه نن مونږ بنه او بد وپیژنو چه د کوم یو د طرف نه مونږ شکست خورو، نو هغوی دا کار وکړو او بیا سخت او اُوږد جنګ وشو، په آخر کښې الله تعالیٰ هغوی ته شکست ورکړو،

او په فراض معرکه کښې او د هغوی پسے په طلب کښې یو لاکهـ (١٠٠،٠٠٠) کسان قتل شول او بعض اهل سیرت لیکی چه یو لاکهـ ته نزدے وو، لکه چه طبریؒ دا روایت ذکر کړیدے۔

او خالد ﷺ چه کله د فراض جنګ وکړو نو هلته کښې لسو (١٠) ورځو پورے ایسار شو، بیا ئے خلکو ته اجازه ورکړه چه حیره علاقے ته واپس شئ چه پدے وخت کښې د ذی القعدے پنځه ورځے پاتے وے۔

قعقاع بن عمرو التمیمی ﷺ هم پدے جنګ کښې شریك وو نو هغهٔ ددے جنګ نه روستو داسے اشعار وویل :

لَقِيْنَا بِالْفِرَاضِ جُمُوْعَ رُوْمٍ	۞	وَفُرْسٍ غَمُّهَا طُوْلُ السَّلَامِ
اَبَدْنَا جَمْعَهُمْ لَمَّا الْتَقَيْنَا	۞	وَبَيَّتْنَا بِجَمْعِ بَنِي رِزَامِ
فَمَا فَتِئَتْ جُنُوْدُ السِّلْمِ حَتّٰى	۞	رَاَيْنَا الْقَوْمَ كَالْغَنَمِ السَّوَامِ

مونږ په فِراض علاقه کښې د رومیانو او د فارس والو د فوجونو سره ملاو شو چه د هغوی غم دا وو چه اُوږده سلامتیا ورته ملاؤ شی۔

مونږ د هغوی ډلے تباه کړے هرکله چه مونږ د هغوی سره ملاؤ شو او د بنو رزامو (عربو) په ډله مو د شپے حمله وکړه۔ د مسلمانانو لښکرے د هغوی په وهلو باندے همیشه لګیا وے تردے چه مونږ دغه قوم ولیدو چه د څریدونکو ګډو بزو په شان وو۔

خالد بن ولید ﷺ عاصم بن عمرو تمیمی ﷺ ته حکم وکړو چه دا فوجونه حیرے علاقے ته روان کړی، او شجره بن الاعز ﷺ ته ئے حکم وکړو چه د دوئ پسے روستو نه روان شی۔

Maktaba Tul Ishaat.com

د خالد بن ولید ﷺ حج له تلل

بیا د ذی القعدې پنځه ورځې پاتې دی او دولسم کال دے نو د حج موسم حاضر شو نو پدے کښې ئے د فِراض علاقے نه په واپسئ کښې یو څو مجاهدین ځان سره پټ راواخستل او حج ته راغے، په لړو ورځو کښې په شاړو شاړو لارو راغلو او حج کښې شامل شو او بیرته عراق ته لاړو،

ابوبکر صدیق ﷺ چه د حج امیر دے، هغهٔ ته ئے هم ځان ښکاره نکړو ځکه چه د هغهٔ نه یریدو چه زهٔ پټ راغلے یم۔

واپس چه لاړو خلکو ته پته ولګیده چه خالد ﷺ خو حج له تلے وو،

ابوبکر صدیق ﷺ ورته خط راولیږلو او پدے کارئے ملامته کړو چه یو ډیرے اجازته کار کړیدے، دا کار مهٔ کوه، او بله دا چه تا عراق شاړ پریخودے دے او حال دا چه الله تعالیٰ ستا توره په دے خلکو راوینستلے ده نو تهٔ چه دا ځائے خالی کوے نو مسلمانانو ته تکلیف جوړیږی، داسے بیا مهٔ کوه۔


لیکن حج کول د الله تعالیٰ د محبت نښه وی کله چه دا ورځے راشی نو مومن ډیر پریشانه وی چه کله به کعبے ته حاضری ورکوی۔

لیکن د امیر او خلیفة المسلمین د اجازے نه بغیر دا کار مناسب نهٔ وی نو ځکه خلیفة المسلمین هغهٔ لره ملامته کړو۔ مګر د خالد بن ولید ﷺ زړهٔ د الله تعالیٰ د محبت نه ډک وو او حالات ئے مناسب وګنړل۔

خالد بن ولید ﷺ دا جنګونه وکړل او الله تعالیٰ ورته اکثرے علاقے د عراق فتح کړے، تقریباً کال یو نیم ئے مسلسل دا جنګونه وکړل۔

او په عراق باندے ئے مثنی بن حارثه شیبانی رضی الله عنه پریخودو چه پدے دور کښې ډیر خلك مسلمانان شویدی۔

Maktaba Tul Ishaat.com


مسجد عمرؓ دومة الجندل

معرکه د دُومة الجندل
سنه ۱۲ هـ اګست ۶۳۳م

هرکله چه ابوبکر صدیق ﷜ د فارس والو سره د جهاد کولو اراده وکړه، نو دوه فوجونه ئې تیار کړل، د یو امیر ئې خالد بن ولید ﷜ جوړ کړو او هغه ئې عراق ته ولیږلو چه حیرې ته به ځان رسوي او بل فوج ئې عیاض بن غنم الفهري ﷜ ته ورکړو چه دا به هم عراق کښې حِیره علاقه کښې د خالد ﷜ سره یو ځائې کیږي خو اول به دومة الجندل ته ځي، هلته به جهاد کوي او بیا به د خالد ﷜ سره په حیره علاقه باندې یو ځائې کیږي۔

دُومة الْجَنْدل په اطرافو د جزیرة العرب کښې یو تجارتي مُهم مرکز دے، ددے بازار په ګڼړ والي او مالدارئ باندې مشهور وو، دا علاقه د جزیرة العرب او عراق او سوریا د تجارتي لارو د راجمع کیدو مرکز وو۔ دا ټولے علاقے ورسره لګیدلے وے نو خلکو به پکښې پوره تجارتونه کول۔

دُومة الجندل اُوس په سعودئ عرب کښې په "الجوف" علاقه کښې واقع دے، او د سکاکا صوبے نه (۵۰) کیلو میټره جدا علاقه دے۔ دلته ډیر تاریخي مواقع دي، لکه قلعهٔ مارد او مسجد د عمر بن خطاب رضی الله عنه۔

د دومة الجندل دینونه او ابتدائی تاریخ

په دومة الجندل کښې به خلکو په اوله زمانه کښې د مختلفو بتانو عبادت کولو، لیکن د اسلام د ښکاره کیدو نه لږ وړاندے زمانه کښې پدے علاقه کښې دوه دینونه ښکاره شول چه یو نصرانیت وو او بل یهودیت، او ددے سره سره تر د اسلام د زمانے پورے به خلکو د مختلفو بتانو عبادت هم کولو،

د رسول الله ﷺ په ابتدائي زمانه کښې په دومة الجندل کښې د مشرکانو یو بت وو د

(وَدّ) په نوم باندې د هغې عبادت به کیدو، او دلته یوه قبیله وه د بنوکلب په نوم چه دا وړوکې قبیله وه د قُضاعه قبیلې نه دوئ به د (وَدّ) بت عبادت کولو۔
بیا کله چه رسول الله ﷺ ته الله تعالیٰ غلبه ورکړه او د نصاراو د مقابلې دپاره تبوك ته ورسیدو نو د هلته نه ئې خالد بن ولید ﷺ د وَدّ بت د ماتولو دپاره دومة الجندل ته ولیږلو چه دا قصه مونږ مخکښې جلد کښې لیکلې ده۔

دومة الجندل کښې څلور کرته غزا شویده

مسلمانانو په اصل کښې دومة الجندل کښې څلور کرته غزا کړیده۔
یو په پنځم هجری کښې کله چه نبي ﷺ په نفس نفیس سره دومة الجندل غزا دپاره اُووتو نو دلته چه راغلو، دا علاقه ئې د وسیدونکو نه خالي ومونده۔
دویم: په شپږم هجری (٦٢٦ میلادی) کښې نبي ﷺ عبد الرحمن بن عوف ﷺ دُومة الجندل ته ولیږلو ځکه چه ددې ځائې وسیدونکو به په تجارتي لارو باندې حملې کولې، نو رسول الله ﷺ عبد الرحمن ﷺ ته حکم وکړو چه دوئ ته د اسلام دعوت ورکړي او د هغوی د بادشاه د لور سره نکاح وکړي۔
نو عبد الرحمن بن عوف ﷺ لاړو او د هغوی بادشاه اَصبغ بن عمرو الکلبي ته ئې دعوت ورکړو، هغهٔ اسلام قبول کړو، بیا ئې د هغې د لور د نکاح مطالبه وکړه چه د هغې تماضر بنت اصبغ نوم وو۔
دریم په نهم (٩) هجری کال (٦٣٠م) کښې نبي ﷺ خالد بن ولید ﷺ دومة الجندل ته ولیږلو او هغهٔ ته ئې (٤٢٠) کسان ورکړل چه د دومة الجندل بادشاه اُکیدر بن عبد الملك الکندي ونیسي او هغهٔ ته ئې راولي نو هغهٔ په دغه وخت کښې د نبي ﷺ مخې ته اسلام راوړو، بیا نبي ﷺ د دومة الجندل والو دپاره یوه عهدنامه ولیکله۔
څلورم کرت دا جهاد دې چه د ابوبکر صدیق ﷺ په خلافت کښې واقع شویدې۔
واقعه دا وه چه په دولسم (١٢) هجری کښې (٦٣٣ میلادی) کښې ابوبکر صدیق ﷺ خالد بن ولید ﷺ ته حکم وکړو چه د یمامې نه عراق ته لاړ شي او عیاض بن غنم رضی الله عنه ته ئې حکم وکړو چه دومة الجندل فتح کړي او شمالي قبائل بیرته د اسلام

Maktaba Tul Ishaat.com

کرخې ته راواړه وي.

عیاض بن غنم رضی الله عنه څان سره فوج واخستو او دومة الجندل طرفته روان شو، عیاض بن غنم رضی الله عنه چه دومة الجندل ته ورسیدو نو دا ئې وموندلو چه د کلب قبیلې -کوم چه عرب مسیحیین دی او د سوریا په مشرقی جانب کښې وسیږی- هغوی دا علاقه په قلعه ګانو باندې مضبوطه کړې وه،

نو عیاض بن غنم رضی الله عنه خپل فوجونه په جنوبی جهت کښې واچولو چه ددې نه داسې حالت پیدا شو چه دا په عسکری اعتبار سره د نشت حساب وو، دلته عربو مسیحینو خپل ځانونه محاصره کړې شوی وموندل سره ددې نه چه شمالی طرف ته لاره کولاوه وه،

عیاض بن غنم رضی الله عنه په خپل فوجونو سره د قلعه ګانو خوا ته راغلل او دلته ورته کیناستل مګر دوئ خو دلته ډیر وخت نشو تیره ولې نو د قلعه په سر باندې چه کوم ساتونکی خلك وو هغوی غشی ویشتل شروع کړل، او دا حالت تر ډیرو هفتو پورې اوږد شو بلکه ډیره موده ئې عیاض بن غنم ﷛ ایسار کړو، تردې چه دواړه طرفونو والا ستړی شول او یو شان تکلیفونه دواړو ډلو برداشت کړل،

نو دلته د عیاض بن غنم رضی الله عنه ته د خپل فوج یو ملګری مشوره ورکړه چه خالد ﷛ په عراق کښې دې هغهٔ ته به خط ولیږو چه مدد ترې طلب کړو، نو عیاض ﷛ خبره اومنله او خط ئې ولیږلو چه په هغې کښې ئې د دومة الجندل وضع او حالت تفصیل سره ولیکلو.

دا خط خالد بن ولید ﷛ ته په داسې وخت کښې ورسیدو چه هغهٔ "د عین التمر" غزا کړې وه او حیرې علاقې ته د واپس کیدو اراده ئې وه. او په عراق کښې اوضاع برابر شوی وو او جنګونه تقریباً په آرام شوی وو.

نو هرکله چه خالد بن ولید ﷛ خط ولوستو نو په راتلونکی ورځ باندې خالد بن ولید ﷛ په خپلو ملګرو کښې اعلان وکړو چه د همدې "عین التمر" علاقې نه به سیده دومة الجندل ته د عیاض رضی الله عنه د مدد دپاره ځان رسوو او ځان سره ئې شپږ زره (٦٠٠٠) فوج راروان کړو.

دلته په دومة الجندل کښې څوکیدارانو ته پته ولګیده چه خالد بن ولید ﷛ دومة

Maktaba Tul Ishaat.com

الجندل ته راروان دے، او دے وخت کښې د دومة الجندل دوه بادشاهان وو يو اُکيدر بن عبد الملك الکندی، چه دے د اسلام نه مرتد شوے وو، او بل جُودی بن ربيعه وو، او دواړه عربيان وو،

نو د دواړو مشرانو اختلاف شو چه پدے کښې اُکيدر، جُودی ته د مشرئ نه راخکته شو۔

او امام طبریؒ په خپل تاريخ کښې ليکی چه هرکله دوئ ته د خالد بن وليد ﷺ د رانزدے کيدو خبر ورسيدو نو اکيدر بن عبد الملك ووئيل :

[اَنَا اَعۡلَمُ النَّاسِ بِخَالِدٍ، لَا اَحَدَ اَيۡمَنُ طَائِرًا مِنۡهُ فِیۡ حَرۡبٍ وَلَا اَحَدٌ مِنۡهُ، وَلَا يَرٰی وَجۡهَ خَالِدٍ قَوۡمٌ اَبَدًا، قَلُّوۡا اَمۡ كَثُرُوۡا اِلَّا انۡهَزَمُوۡا عَنۡهُ]

اے خلکو ! زهٔ د ټولو خلکو نه خالد بن وليد ښه پيژنم، په جنګ کښې هيڅوك د هغهٔ نه ډير برکتی برخے والا او خوش نصيبه نشته، او په جنګ کښې د هغهٔ نه څوك تيز نشته، او د خالد ﷺ مخ چه هر قوم وينی لړ وی که ډير مګر هغوی خامخا شکست خوری، نو زما خبره اُومنئ او ددے خلکو سره صلح وکړئ،

نو خلکو د اُکيدر خبره رد کړه او دائے ورته ووئيل چه مونږ تا سره پدے خبره کښې ملګرتيا نهٔ کوو چه خالد ﷺ سره صلح وکړو، نو اُکيدر د هغوی نه په يو طرف اُووتو، نو خالد بن وليد ﷺ ته دا خبر راورسيدو چه اکيدر د دوئ نه راوتے دے، نو د هغهٔ د مقابلے دپاره ئے عاصم بن عمرو التميمی ﷺ وليږلو نو هغه ئے ونيولو او خالد ﷺ ته ئے راوستو نو د هغه څټ ووهل شو، ځکه چه مرتد شوے وو۔

دلته په قلعه کښې په خلکو باندے پريشانئ حالت راغے ځکه چه د قلعه څوکيداران خو د عياض ﷺ د مقابلے دپاره کلك ولاړ وو ليکن کله چه خالد بن وليد ﷺ راشی نو بيا دوئ ته تينګيدل ګران دی،

نو پدے وخت کښې په جلتئ سره دوئ نزدے ګاونډی عربی قبائلو ته استازی وليږل چه د دوئ سره مدد وکړی، نو دغه عربی مسيحی قبائل په ډير غيرت سره دا آواز او فرياد قبول کړو، نو غسانينو او کلب قبيلو ددے قلعه د دفاع او حفاظت دپاره خپل فوجونه راجمعه کړل او راغلل، او د ځائے د تنګوالی د وجه نه ئے د قلعه د ديوالونو لاندے فوجونه واچول۔

Maktaba Tul Ishaat.com

هرکله چه خالد بن ولید ﷺ عیاض بن غنم ﷺ ته ورسیدو نو خپل فوجونه ئې ورسره یو ځائے کړل چه ټول مسلمانان پدے وخت کښې تقریباً لس زره (١٠,٠٠٠) جوړیدل او مقابل کښې فوجونه د دولسو (١٢) زرو نه تر پنځلسو (١٥) زرو پورے جوړیدل۔

د جنګ ترتیب

خالد بن ولید ﷺ د جنګ ترتیب داسے مقرر کړو چه د عیاض بن غنم ﷺ د فوج نه ئې څه کسانو ته دا حکم وکړو چه دوئ د قلعه جنوبي طرف لاره بنده کړي، او خپل فوج ئې مشرقي او شمالي او غربي جهاتو باندے واچولو دے دپاره چه پدے کار سره عراق او اُردن طرفته لاره بنده کړي، او بعض کسان د فوج ئې د احتیاط په طور په لرے مسافت کښې کینول دے دپاره چه دوئ کله د قلعه (چونړئ) په څوکیدارانو باندے په یو ځل حمله کوي نو پدے سره به دشمن ته ډیر زیات تاوان ورسیږي، او خپل فوجونه ئې د قلعه نه جدا ځائے په ځائے کړل۔

د عربو مسیحینو قائد جُودي بن ربیعه مسلمانانو ته انتظار وکړو چه دوئ اول جنګ شروع کړي لیکن مسلمانان په خپل حالت باندے په آرام ولاړ وو،

لږ وخت روستو چه کله جودي وکتل چه مسلمانان حمله نکوي نو خپله ئې حمله شروع کړه، او دهٔ دوه دستے د فوج تیارے کړے وے،

اولے دستے د عیاض بن غنم ﷺ په دسته باندے حمله وکړه کوم چه په عربي لاره باندے واقع وو، او خپله ئې د دویمے دستے مشري کوله چه هغه ډیر شمار والا وه او خپله قبیله (ودیعه) ئې ځان سره یو ځائے کړے وه دے دپاره چه د خالد ﷺ په دسته باندے حمله وکړي کوم چه شمالي طرف کښې وه۔

عیاض بن غنم ﷺ خو د خپلے مقابلے دستے مقابله وکړه او د هغوی حملے ئې شا ته بوتلله۔ او جودي د خالد بن ولید ﷺ دستے ته مخامخ شو هرکله چه دواړه فوجونه یو بل ته ډیر نزدے شول، خالد ﷺ خپلو مسلمانانو ته حکم وکړو چه ناڅاپي حمله شروع کړئ نو د الله تعالیٰ زمرو داسے تیزه حمله وکړه چه په سختي او تیزئ سره جودي ووهلے شو او په یو څو منټونو کښې د جُودي لښکر هلاك کړے شو۔

Maktaba Tul Ishaat.com

او جودي د خپل قوم د سلګونو خلکو سره ونیول شو او قیدي کړے شو، او باقي لښکرئے په ګډوډ شکل سره په شبکورئ سره قلعه طرف ته وتښتیدل۔

کوم عرب چه په قلعه کښے دننه پاتے وو هغوی ولیدل چه دستے د خلکو قلعه طرف ته راروانے دي چه نیمائي د هغوی نه مسلمانان دي، نو ویریدل نو د خپلو ملګرو په مخ کښے ئے د قلعه دروازے بندے کړے،

نو دلته ورپسے مسلمانان راورسیدل نو په سلګونو خلك د دوئ نه قیدیان شول او باقي د دوئ نه په سخته تښتونکي مقابله کښے قتل کړے شول، او بعض د دوئ د معرکے نه روستو کله ئے چه د قلعه د دروازے په خوا کښے قتال کولو په هغے کښے دهنیا شول۔

خالد بن ولید ﷺ جودي او د هغهٔ سره قیدیان ملګري د قلعه مخامخ راوستل دے دپاره چه ټول خلك د دوئ سرونه پریکیدل وینی۔

او ددے نه روستو څو ورځو پورے دا محاصره جاري وه،

او ددے نه روستو خالد ﷺ په قلعه باندے په یو دم حمله وکړه، څوکیدارانو د خپل وس مطابق څه وخت پورے مقاومت او مقابله جاري وساتله، لیکن د خالد بن ولید ﷺ د لښکر مجاهدین ډیر تیز او هوښیار او د جنګ انتهائي ماهرین وو نو نصاراؤ ته هیڅ فرصت او موقعه ورنکړے شوه نو اکثر څوکیداران ذبح کړے شول، او قلعه کښے دننه زنانه او ماشومان او ځوانان قیدیان کړے شول، او دا د اګست میاشتے آخري هفته وه په کال ٦٣٣ میلادي کښے وو۔

خالد ﷺ د جنګ نه روستو څو ورځو پورے په دومة الجندل کښے وسیدو او ددے نه روستو بیا حیره علاقے ته روان شو او ځان سره ئے عیاض بن غنم رضي الله عنه هم په خپل قیادت کښے روان کړو۔

هر کله چه حیره ته ورسیدل نو هلته په عراقي جبهه کښے تازه حالات نور خراب شوي وو۔



Maktaba Tul Ishaat.com

په عراق کې د مثنیٰ بن حارثه ﷛ حال پس د تللو د خالد بن ولید ﷛ نه

هرکله چه خالد بن ولید ﷛ شام ته روانیدو نو مثنیٰ بن حارثه ﷛ ورسره تر "قراقر" علاقې پورې د رخصتولو دپاره لاړو، او خالد بن ولید ﷛ ځان سره شام ته څه فوج روان کړو، نو مثنیٰ بن حارثه ﷛ بیرته حیره (عراق) علاقې ته راواپس شو او کوم ځایونو نه چه حفاظتي کسان د خالد بن ولید ﷛ سره تلې وو نو د هغې په ځائې ئې نور ملګری مقرر کړل او جاسوسان ئې راتیز کړل.

نو هرکله چه خالد بن ولید ﷛ د حیره نه لاړو نو لږ وخت روستو په دیارلسم (۱۳) کال کښې فارس والا په شهربراز بن اردشیر باندې راجمع شول او هغه ئې خپل بادشاه جوړ کړو، نو هغهٔ لس زره (۱۰۰۰۰) لښکر تیار کړو د مثنیٰ بن حارثه ﷛ د مقابلې دپاره او په هغوی باندې ئې "هُرمز جاذویه" امیر مقرر کړو نو دلته مثنیٰ بن حارثه ﷛ خبر شو نو هغهٔ ورپسې د حِیره علاقې نه ور اُووتو او فوج ئې تیار کړو چه په ښي او ګس طرف باندې ئې خپل دوه ورونه مُعَنّی بن حارثه ﷛ او مسعود بن حارثه ﷛ مقرر کړل نو بابل کښې ئې پړاؤ واچولو او هرمز هغهٔ طرف ته راروان شو، او دې وخت کښې شهربراز مثنیٰ بن حارثه ﷛ ته خط راولیږو چه سخته دهمکي ئې پکښې لیکلې وه:

[اِنِّیْ قَدْ بَعَثْتُ اِلَیْکُمْ جُنْدًا مِنْ وَحْشِ اَهْلِ فَارِسَ اِنَّمَا هُمْ رِعَاءُ الدَّجَّاجِ وَالْخَنَازِیْرِ وَلَسْتُ اُقَاتِلُكَ اِلَّا بِهِمْ]

چه تا نه خو خالد بن ولید ﷛ تلې دې خو مونږ به په تا باندې داسې فوج درواچوو چه صحرائي ځناور دي (یعنې کمانډوز دي) او د چرګانو او د خنزیرانو څرونکي دي، نو زهٔ تا سره په همدوئ باندې جنګ کوم. (رانه خلاصیدې نشې)

نو مثنیٰ بن حارثه ﷛ ورته واپس خط ولیږلو چه یا خو تهٔ غټ دروغجن ئې، او په ټولو خلکو کښې او د الله تعالیٰ په نیز د بادشاهانو دروغ ډیر بد او د شرم والا وي، او یا دا چه تهٔ به پدې باب کښې باغي ئې او باغي چه وي نو ظلم د هغهٔ دپاره هم شر وي او د

Maktaba Tul Ishaat.com

قوم دپاره ئې هم شروی او زمونږ دپاره پکښې خیر دے، او ما ته خپله رایه وائی چه ستا تول فوجونه ختم شویدی او صرف په کماندوز باندے باور او اعتماد کوے،

[فَالْحَمْدُ لِلّٰهِ الَّذِیْ رَدَّ کَیْدَکُمْ اِلٰی رُعَاةِ الدَّجَاجِ وَالْخَنَازِیْرِ]

نو الله تعالیٰ لره شکر دے چه ستاسو چل او مکرئې د چرګانو او خنزیرانو څرونکو ته واپس کړو نو ان شاء الله چه دا به هم درله اُووهو،

کله ئې چه دا خط ورولیږلو نو فارس والا پدے خط سره ډیر پریشانه شو او خپل بادشاه شهربراز ئې ملامته کړو چه تا ولے داسے خط ورلیږلو؟۔

او په هغهٔ باندے ئې بدفالی ونیوله چه "شهربراز" په سپیرهٔ ځائے کښے پیدا شوے او په سپیرهٔ ځائے کښے لوی شویدے ځکه چه هغه په مَیْسَان علاقه کښے پیدا شوے وو، او دا علاقه به خلکو سپیره ګڼړله۔

او دا ئے ورته وویل چه تا ددے خط په وجه په مونږ باندے دشمن زړه ور کړو، هرکله چه یو تن ته خط لیږے نو اول مشوره کوه۔

بیا دواړه فوجونه په "بابل" کښے یو بل سره ملاؤ شول او سخت جنګ وشو په "عُدْوَةُ الصَّرَاة" علاقه کښے په اوله لاره باندے۔

د فارس والو سره یو غټ هاتی وو چه ډیر سخت جنګ ئې کولو نو مثنیٰ بن حارثه ﷺ او شاهسوارانو مسلمانانو مشوره وکړه چه دا ورله وژنو نو فیل پسے ورغلل او د هغهٔ نه تاؤ شول او د مرګ په ځائے باندے ئې ووهلو، نو هغه ئې قتل کړو،

نو پدے کښے جنګ شروع شو نو الله تعالیٰ په فارس والو باندے شکست واچولو او مسلمانان ورپسے شول چه هغوی ئې وژل او دومره ئې لرے پورے لغط کړل چه د خپلو سرحداتو او فوجی چونړونه ئې هم ور واړه ول، او په دغه ځایونو کښے دوئ کیناستل او کومو خلکو چه شکست خوړلے وو نو د هغوی پسے تر مدائن پورے روان وو چه فارس والا به ئې وژل او مدائن د دوئ دار الحکومة وو۔

هرکله چه "هرمز بن جاذویه" شکست وخوړو نو ددے نه "شهربراز" خبر شو نو زړهٔ ئې تق وچودو او مړ شو۔

نو ددے نه روستو د فارس والو خپل مینځ کښے اختلافات پیدا شو۔

نو پدے طریقه د دریائے دجله نه راپدے خوا علاقے د مثنیٰ بن حارثه ﷺ په لاس کښے

Maktaba Tul Ishaat.com

راغلے۔

د کسریٰ د لور مشري

بیا فارس والا د کسریٰ بادشاه په لور باندے راجمع شول او هغه ئے خپله مشره جوړه کړه چه د هغے نوم "بُوُرَان بنت کسریٰ" وو، نو هغے عدل قائم کړو او ډیر ښکلے انتظام ئے وکړو او د هغے حکومت نولس (۱۹) میاشتے وو، بیا مړه شوه،

نو فارس والو د هغے خور "آزرمیدخت زنان" خپله مشره جوړه کړه نو هغه په حکومت چلولو کښے ناکامه شوه، نو هغے نه حکومت واخستے شو،

او بیا "سابور بن شهربراز" بادشاه جوړ شو، او د هغهٔ سیکرټری ئے "فرخزاذ بن بندوان" جوړ کړو نو هغهٔ د سابور نه مطالبه وکړه چه ماله د کسریٰ بادشاه لور "آزر میدخت" په نکاح راکړه، نو هغهٔ ورله په نکاح ورکړه،

نو هغے دا شخص بد وګنړلو چه دا خو زمونږ د غلامانو نه یو غلام دے، زهٔ ددهٔ سره نکاح کول نهٔ غواړم، نو څه کسان ئے تیار کړل چه د وادهٔ په شپه دے قتل کړی نو هرکله چه د وادهٔ شپه شوه نو "فرخزاذ" راغلو، نو دلته پرے دا کسان راووتل نو اول ئے فرخزاذ قتل کړو بیا د "آزرمیدخت" په ملګرتیا کښے ئے "سابور" محاصره کړو او هغه ئے هم قتل کړو۔

ډیره موده وشوه چه د مثنیٰ ﷺ ته د ابوبکر صدیق ﷺ د طرف نه هیڅ خبر رانغلو نو هغهٔ اراده وکړه چه مدینے ته لاړ شی، نو په مسلمانانو باندے ئے خپل نائب بشیر بن الخصاصیه ﷺ مقرر کړو، او دا په حفاظتی سرحد باندے مقرر وو، نو ددهٔ په ځائے ئے په سرحد باندے سعید بن مره العجلی ﷺ مقرر کړو، او مثنیٰ ﷺ ابوبکر صدیق ﷺ طرف ته راروان شو دے دپاره چه هغهٔ ته د مسلمانانو او مشرکانو د حالاتو خبر ورکړی او دے دپاره چه د هغهٔ نه اجازه واخلی چه څان سره هغه خلك جهاد کښے استعمال کړی چه هغوی د ارتداد نه صحیح توبه ویستلے ده، ځکه چه دویٔ د نورو په نسبت د فارس والو سره د جهاد کولو دپاره ډیر سرګرم او تیار دی۔

او دا ځکه چه ابوبکر صدیق ﷺ دهٔ لره منع کړے وو چه هر هغه څوك چه مرتد شوے وو د هغوی نه به په جنګ کښے هیڅ قسم مدد نهٔ اخلے،

Maktaba Tul Ishaat.com

هرکله چه مثنیٰ ﷺ مدینے ته راورسیدو نو دے وخت کښے ئے ابوبکر صدیق ﷺ وموندو چه هغه د مرض الوفات په بیماریٔ باندے مریض وو،

نو هغهٔ ته ئے خبر ورکړو نو هغهٔ عمر فاروق ﷺ راوغوښتو او دا ئے ورته ووئیل :

[اِنِّیْ لَاَرْجُوْ اَنْ اَمُوْتَ یَوْمِیْ فَاِذَا مِتُّ فَلَا تُمْسِیَنَّ حَتّٰی تُنْدِبَ النَّاسَ مَعَ الْمُثَنّٰی وَلَا تُشْغِلَنَّکُمْ مُصِیْبَةٌ عَنْ أَمْرِ دِیْنِکُمْ وَوَصِیَّةِ رَبِّکُمْ]

زما امید دے چه زهٔ نن ورځ مرم نو کله چه زهٔ مړ شم نو تا باندے دِے بیګاه رانشی تردے چه تهٔ خلك د مثنیٰ بن حارثه ﷺ سره د تللو دپاره رادعوت کړے، او تاسو دِے د خپل دینی کار او د خپل رب د حکم نه مصیبت مشغوله نکړی ځکه چه تا زهٔ لیدلے یم چه د رسول الله ﷺ د وفات په وخت ما څه کړی وو، حال دا چه په خلقو باندے د هغه د مرګ د مصیبت په شان بل مصیبت نهٔ دے راغلے،

او کله چه الله تعالیٰ شام والو ته فتح ورکړې، نو عراق والا عراق ته ولیږه ځکه چه دویٔ د عراق وسیدونکی دی، او د عراق د کارونو مشران دی او په عراق والو باندے جرأت والا دی۔

بیا ابوبکر صدیق ﷺ د شپے مړ شو نو عمر بن خطاب ﷺ هغه دفن کړو او خلکو ته ئے د مثنیٰ ﷺ سره د تللو دعوت ورکړو۔

ابوبکر صدیق ﷺ چه وفات کیدو نو د عراق یو طرف د هغهٔ په سلطنت کښے داخل شوے وو، او اکثر لښکر د عراق والو نه په حِیره علاقه کښے وو او د هغوی فوجی چونړیٔ (حفاظتی سرحد) په "سیب" علاقه کښے وو، او د هغوی حملے به د دریائے دجلے غاړو پورے رسیدلے او دجله د عربو او د عجمو ترمینځ یوه پرده ده۔

دا وو د عراق تفصیل په خلافت د ابوبکر صدیق ﷺ کښے او د عمر فاروق ﷺ په زمانه کښے د هغے باقی تفصیل روستو راځی، دے نه روستو د رومیانو سره د جنګ ترتیب بیانیږی۔

[الاکتفاء بما تضمنه من مغازی رسول الله : ٤/٩٧]

Maktaba Tul Ishaat.com

د رومیانو سره جنګ :

غزوة الشام

یا

غزوة الیرموک

سنه ١٢-١٣ هـ- ٦٣٤م

هرکله چه ابوبکر صدیق رضی اللہ عنہ د حج نه راواپس شو نو دے وخت کښې ابوبکر صدیق رضی اللہ عنہ اراده وکړه چه د شام والو د رومیانو مقابله وکړی ځکه چه عراق تر ډیره حده پورے د مسلمانانو لاس ته راغلے دے، او رومیان نصاریٰ وو او دوئ هم د اسلام سره ډیره لویه دشمنی کړیده، او همیشه ئے د مسلمانانو سره جګړے کړیدی.

او حدیث کښې دی چه [هَلَكَتُهُمْ مَعَ السَّاعَةِ]

کله چه قیامت رانزدے شی نو دوئ به هلاکیږی.

[مسند احمد رقم: ١٨٠٥٢ وَفِيهِ ابْنُ لَهِيعَةَ سَيِّءُ الْحِفْظِ]

دا خلك ډیر لوی حیله ګر او چلباز دی، نو په حیلو او چلونو باندے کار کوی.

نبی ﷺ د رومیانو په باره کښې پیشنګویانے ورکړے وے او د هغوی جنګ ئے خپله هم خوښ کړے وو ځکه چه تبوك ته د رومیانو مقابلے دپاره تلے وو، او غزا د مُؤته هم د رومیانو سره شوے وه.

نو د ابوبکر صدیق رضی اللہ عنہ هم ذهن کښې راغله چه د کفر یو وزر چه فارس دے تقریباً ماتیدو والا دے، نو بل وزر د کفر چه رومیان دی، دا هم ماتول پکار دی، ځکه چه په دغه زمانه کښې د کفر همدا دوه (٢) وزرے وے.

ابوبکر صدیق رضی اللہ عنہ فکر کولو چه دے له به څه ترتیب برابر کړی نو پدے کښې یو صحابی راغے چه هغه د مرتدینو په جنګ کښې مشر وو، چه د هغهٔ نوم دے شرحبیل

Maktaba Tul Ishaat.com

معرکه د یرموك

مسلمانان
رومیان بیزنطین
معسکر
پیاده خلك
اسونووالا
داسونوا حتیاطی دسته

سور رنګ مسلمانان
نیلارنګ: رومیان

دمسلمانانو پیاده دسته
پیاده دسته
دمسلمانانواسونو دستې
تل الجمعه
اسونووالا
مینخنۍ دسته داسونو په قیادت دخلدبن ولیدکښې۔
عین ذکر
وادی الرقاد
رومی معسکر
نهر الیرموك
وادی الیرموك
وادی العلان

Maktaba Tul Ishaat.com

بن حسنه ﷛ چه دا ابوبکر صدیق ﷛ یمن ته لیږلے وو چه د مرتدینو مقابله وکړی۔
هغه راغے ابوبکر صدیق ﷛ ته ئے وویل چه تهٔ خو څه خبره کښے فکر مند نهٔ ئے؟ هغهٔ ورته وویل چه دے باره کښے فکر مند یم او لا چا ته مے خال نهٔ دے وئیلے چه د رومیانو د قتال ترتیب به څنګه جوړ کړو؟ نو هغهٔ ورته وویل چه دا خبره بعینهٖ ما په خوب کښے لیدلے ده (او د نیکانو خوبونه خو مُبشرات وی او خاصکر پداسے مقاماتو د جهاد کښے)

ما خوب ولیدو چه تهٔ ئے او مونږ یو او تا مونږ د رومیانو د مقابلے دپاره جهاد ته روان کړی یو، مونږ روان وو چه د یو غر سر ته وختلو خو د غر سر ته په ختلو کښے تکلیف راباندے ډیر تیر شو مګر پس د ډیر تکلیف نه سر ته ورسیدو۔

د هغے نه بعد د غرهٔ نه خکته کوز شو، هوارو علاقو ته لاړو چه په هغے کښے باغونه او فراخیانے وے، تا ما ته امر وکړو چه فلانئ قلعه باندے ورشه او جنډه دِے راته راکړه نو زهٔ چه ورغلم نو الله تعالیٰ هغه زما په لاس فتح کړه، هغه خلکو ما نه امان وغوښتو او صلح ئے رانه وغوښته۔

پدے کښے یو تخت راغلو نو تهٔ په هغے باندے اُوچت کیناستے، یو سړے راغے تا ته ئے دا سورت ولوستلو چه [اِذَا جَاءَ نَصۡرُ اللّٰهِ وَالۡفَتۡحُ] او اے ابوبکر صدیق ﷛! تا ته ئے دا وویل چه

[اَبۡشِرۡ بِالۡفَتۡحِ وَاشۡكُرۡ رَبَّكَ وَاعۡمَلۡ بِطَاعَتِهٖ]

چه په فتح باندے خوشحاله شه، (فتح راتللو والا ده) او د خپل رب شکر وکړه او د هغهٔ په طاعت باندے عمل کوه۔ او ورسره دا سورت ئے درته ولوستلو۔
دا خوب وو۔

کله چه ابوبکر صدیق ﷛ دا خوب واوریدو نو په ژړا شو (زړهٔ ئے نرم وو) بیا ئے د خوب تعبیر وکړو چه تا خیر لیدلے دے، زمونږه غرهٔ ته د ختلو نه مراد د دشمن مقابله ده، او سخت دشمن دے نو لږ تکلیف به اول کښے مونږ ته رسیږی بیا به الله تعالیٰ آسانی راولی، نرمو علاقو کښے آسانی راتللو ته اشاره ده، هر تکلیف نه روستو آسانی وی،

تا له چه جنډه درکړے شویده نو تهٔ به یو امیر ئے د اُمراؤ ددے جنګ نه، (تا به زهٔ امیر

Maktaba Tul Ishaat.com

کوم) هرچه زما په تخت باندے کیناستل دی نو دا زما اُوچتوالے دے چه الله تعالیٰ به ما له عزت راکوی، او دا زیرے د فتح چه راکړے شویدے نو الله تعالیٰ به فتح‌راولی او ما ته امر دے چه د الله تعالیٰ طاعت او شکر وکړه،

او اِذَا جَاءَ نَصۡرُ الله کښے ما ته الله تعالیٰ خبر راکوی چه ته‌ٔ وفات کیږے ځکه چه دا سورت د نبی ﷺ د وفات په باره کښے الله تعالیٰ رالیږلے وو، چه تاسو ته به د الله تعالیٰ رسول وفات کیږی، نو ما باندے چه دا سورت لوستلے شویدے نو ما ته هم اشاره راکوی چه ستا مرگ رانزدے دے۔

نو د ابوبکر صدیق ﷛ د مخکښے نه د رومیانو د قتال اراده هم وه او دا خوب ورله زیرے شو نو ددے نه پس ئے سمدست د مسلمانانو مشران د مهاجرینو او انصارو نه راطلب کړل، لکه عمر فاروق ﷛ ، علی بن ابی طالب ﷛ ، ابوعبیده بن الجراح ﷛، اُسید بن حُضیر ﷛، سعد بن ابی وقاص ﷛ ، دے دپاره چه مشوره وکړی۔

اول ئے خپله خبره وکړه چه زما په زړهٔ کښے د شام والو رومیانو سره د مقابلے اراده ده، او د هغے د مقابلے دپاره د فوج دستے لیږل غوارم، که الله تعالیٰ شهیدان کړل نو جنت ته به لاړ شی، اِحۡدَی الۡحُسۡنَیَیۡن (یو د دوو خوشحالو) ته به لاړ شی، او که په دنیا کښے ژوندی پاتے شو نو الله تعالیٰ به د دین غلبه راولی او خلافت اسلامی به غالبه شی۔ دواړو حالتونو کښے فائده ده، نو ستاسو څه مشوره ده؟،

هر یو ډے خپله رایه ورکړی، نو عمر فاروق ﷛ پاڅیدو او حمد او ثناء ئے ووئیله او بیا ئے وویل چه الله تعالیٰ په خیر باندے چا له چه‌وغواړی خاص کوی (د خیر دپاره ئے استعمالوی نو الله تعالیٰ تا هم په خیر کښے استعمالوی)

[وَاللّٰهِ مَا اسۡتَبَقۡنَا اِلٰی شَیۡءٍ مِنَ الۡخَیۡرِ اِلَّا سَبَقۡتَنَا اِلَیۡهِ]

مونږ هیڅ خیر ته منډه نهٔ ده وهلے مگر تهٔ زمونږ نه هغے ته مخکښے شوے ئے، ستا زړهٔ کښے چه دا کومه خبره راغلے ده نو الله تعالیٰ دا زما په زړهٔ کښے هم بار بار اچولی ده، او ما تا له دا مشوره درکوله لیکن ما نه به هیریدله تردے چه تا دا خبره وکړه،

نو ستا خبره ډیره حقه ده او داسے کار پکار دے چه دوئ پسے یو ځل اسونه او شاهسواران ولیږه، بیا ئے ورپسے نور اسونه او شاهسواران ولیږه،

او دارنگه سرې ولیږه روستو د نورو سرو نه او بیا ورپسے لښکرے یو بل پسے روستو

Maktaba Tul Ishaat.com

ولیږه، الله تعالیٰ به د خپل دین مدد کوی او اسلام او اهل اسلام به مضبوطوی او د خپل رسول ﷺ سره کړې وعده به سر ته رسوی. بیا کیناستو.

بیا عبد الرحمن بن عوف ﷺ راپاڅیدو او دا ئے وویل: اے د رسول الله ﷺ خلیفه!

[اِنَّمَا الرُّوْمُ بَنُو الْاَصْفَرِ حَدٌّ حَدِيْدٌ وَرُكْنٌ شَدِيْدٌ]

رومیان زیړ مخی ډیره تیره وسپنه ده او مضبوط قوم دے نو زما مشوره دا چه ته دوئ پسے همداسے په یو ځل دستے د فوج مه لیږه هسے نه چه اُووهلے شی. (بیا به د مسلمانان طاقت کمزورے شی) بلکه ته په دوئ باندے چیلکی جنګ وکړه، چه لړ لړ مجاهدین ورځی او په نزدے نزدے علاقو باندے حمله کوی او بیرته راتبنتی، نو پدے طریقه به رومیان پریشانه او کمزوری شی (ځکه چه کافران د چیلکی جنګونو نه ډیر تنګیږی او ذلیله کیږی) او د هغوی د نزدے زمکو نه به غنیمتونه هم نیسی نو پدے سره به مسلمانان هم د هغوی په قتال قوی کیږی، دا ئے د خبرے حاصل وو.

[ثُمَّ تَبْعَثُ اِلٰى اَقَاصِىْ اَهْلِ الْيَمَنِ وَاَقَاصِىْ رَبِيْعَةَ وَمُضَرَ فَتَجْمَعُهُمْ اِلَيْكَ جَمِيْعًا]

بیا ته د یمن وړاندے علاقو ته او د ربیعه او مضر وړاندے علاقو والو ته کسان ولیږه نو دوئ راجمع کړه بیا ستا خوښه ده. چه ته د دوئ سره خپله جنګ ته حاضریږے او که په بل چا باندے دا غزا کوے (نو رومیان به ورته د مخکښے نه کمزوری شوی وی نو فتح به ملاؤ شی) بیا کیناستو، او غلے شو او نور خلك هم غلی کیناستل.

بیا ابوبکر صدیق ﷺ وفرمایل: الله تعالیٰ دے په تاسو رحم وکړی ستاسو (د نورو ملګرو) څه رایه ده؟.

نو پدے کښے عثمان ﷺ پاڅیدو او د الله تعالیٰ حمد او په پیغمبر باندے درود وئیلو نه پس ئے وویل:

[نَرٰى اَنَّكَ نَاصِحٌ لِاَهْلِ هٰذَا الدِّيْنِ شَفِيْقٌ عَلَيْهِمْ، فَاِذَا رَاَيْتَ رَاْيًا تَرَاهُ لِعَامَّتِهِمْ رُشْدًا وَصَلَاحًا فَاعْزِمْ عَلٰى اِمْضَائِهٖ فَاِنَّكَ غَيْرُ ضَنِيْنٍ عَلَيْهِمْ وَلَا مُتَّهَمٍ]

زمونږ دا یقین دے چه ته پدے دین اسلام والو باندے شفقت لرے او د دوئ خیر خواه ئے، نو کله چه ته یوه رائے ورکړے چه تا ته پکښے د عامو مسلمانانو کامیابی او فائده ښکاره کیږی نو هغه سر ته ورسوه ځکه چه ته په خلکو کښے مُتهم نهٔ ئے. (یعنی مونږ په تا باندے بدګمانه نهٔ یو)

Maktaba Tul Ishaat.com

نو طلحه ﷛ او زبیر ﷛ او سعد ﷛ او ابو عبیده ﷛ او سعید بن زید ﷛ او ټول د دغه مجلسو حاضرینو انصارو او مهاجرینو وویل چه عثمان ﷛ صحیح خبره وکړه۔ چه تا چه کومه رأیه ورکړه نو هغه سر ته ورسوه، او مونږ به ستا تابعدار یو، ستا د امر خلاف به نهٔ کوو، او مونږ تا باندے هیڅ تهمت نهٔ لګوو او ستا د دعوت لو د اجابت نه روستو نهٔ پاتے کیږو۔ او داسے نورے خبرے ئے وکړے۔

بیا علی ﷛ ته ئے وویل چه ستا څه مشوره ده؟ او هغه غلے ناست وو چه خبرے ئے نهٔ کولے نو هغهٔ وویل: زما رایه دا ده چه ستا مشری ډیره برکت والا ده، او الله تعالیٰ دے په کارونو کښے برکت اچوی، که تهٔ دویٔ ته خپله ورځے یا فوجونه لیږے نو په دواړو حالتونو کښے به ان شاء الله تعالیٰ تا سره مدد کوی او فتح به ملاویږی۔

ابوبکر صدیق ﷛ ورته وفرمایل: الله تعالیٰ دے تا ته په خیر باندے زیرے درکړی دا خبره دے د کوم ځائے نه معلومه کړه؟ نو هغهٔ وویل چه ما د رسول الله ﷺ نه آوریدلی چه فرمایل ئے:

[لَا يَزَالُ هٰذَا الدِّيْنُ ظَاهِرًا عَلٰى كُلِّ مَنْ نَاوَاْهُ حَتّٰى تَقُوْمَ السَّاعَةُ وَاَهْلُهٗ ظَاهِرُوْنَ]

دا دین به همیشه غالب وی په هر هغه چا باندے چه ددے مقابله کوی تردے چه قیامت قائم شی په داسے حالت کښے چه ددے اهل به غالب وی۔

نو ابوبکر صدیق ﷛ ورته وفرمایل:

[سُبْحَانَ اللّٰهِ مَا أَحْسَنَ هٰذَا الْحَدِيْثَ لَقَدْ سَرَرْتَنِيْ بِهٖ سَرَّكَ اللّٰهُ فِي الدُّنْيَا وَالآخِرَةِ]

څومره ښکلے حدیث دے راته ووئیلو، تا زهٔ ډیر خوشحاله کړم الله تعالیٰ دے تا په دنیا او آخرت کښے خوشحاله کړی۔

بیا ابوبکر صدیق ﷛ پاڅیدو او د حمد او ثناء نه روستو ئے وفرمایل:

اے خلکو! الله تعالیٰ په تاسو باندے په اسلام سره احسان کړے او په جهاد سره ئے عزت درکړے، او د دین په وجه ئے په ټولو دینونو والو باندے ئے غوره والے درکړے،

زما رایه دا ده چه دواړه کارونه کوو، لږ لږ کسان به هم لیږو او غټ فوجونه به هم لیږو،

چونکه ابوبکر صدیق ﷛ ډیر ښکلے خطیب وو په خبرو کښے ئے ډیر طاقت او برکت وو چه یواځے د هغهٔ په خبرو به هم ډیر کار کیدو۔

Maktaba Tul Ishaat.com

بیا ابوبکر صدیق رضی الله عنه یو خط ولیکلو او یمن والو ته ئے ولیږلو چه پدے سره ئے د یمن والو استنفار کولو، یعنی یمن والا ئے ددے جهاد دپاره راپاڅول چه تاسو به هم دے جنګ کښے شاملیږئ ځکه چه صرف مدینے او خوا او شا والا خلك خو کم دی، یوائے پدے باندے کار نۀ کیږی،

خط کښے ئے د الله تعالیٰ حمد او ثناء ولیکله او بیا ئے وفرمایل:

جهاد فریضه مفروضه ده په بندګانو باندے، او ددے د الله تعالیٰ په نیز ډیر ثواب دے او مونږ د خپل طرف نه مسلمانان د شام رومیانو سره د قتال دپاره راوخکلی دی، او د هغوی نیتونه ښائسته دی، او اراده ئے ډیره اُوچته ده، نو تاسو هم د خپل رب فریضے او د نبی سنت ته جلتی وکړئ، یو د دوو خوشحالو نه به حاصلیږی یا به شهادت ملاؤ شی یا به فتح او غنیمتونه،

[اِنَّ اللّٰهَ لَمْ يَرْضَ مِنْ عِبَادِهٖ بِالْقَوْلِ دُوْنَ الْعَمَلِ وَلَا بِتَرْكِ الْجِهَادِ فِيْهِ اَهْلَ عَدَاوَتِهٖ حَتّٰى يَدِيْنُوْا بِالْحَقِّ وَيُقِرُّوْا بِحُكْمِ الْكِتَابِ، حَفِظَ اللّٰهُ لَكُمْ دِيْنَكُمْ وَهَدٰى قُلُوْبَكُمْ وَزَكّٰى اَعْمَالَكُمْ وَرَزَقَكُمْ اَجْرَ الْمُجَاهِدِيْنَ الصَّابِرِيْنَ وَالسَّلَامُ عَلَيْكُمْ]

الله تعالیٰ د بندګانو نه نۀ راضی کیږی په خبرو سره بغیر د عمل نه او نۀ د الله تعالیٰ د دشمنانو سره په جهاد پریخودو تردے چه دوئ حق ته غاړه کیږدی، او د الله تعالیٰ د کتاب د حکم اقرار وکړی، الله تعالیٰ دِے ستاسو د دین حفاظت وکړی، او ستاسو زړونو ته دِے هدایت وکړی او ستاسو عملونه دِے پاك کړی او تاسو ته دِے د صبرناکو مجاهدینو اجر درکړی...... والسلام علیکم.

[الاکتفاء ۳/۱۱۳]

او دا خط ئے انس بن مالك رضی الله عنه ته ورکړو او هغه لاړو او د یمن په یوه یوه قبیله باندے به ئے دغه خط لوستلو، تردے چه د هغوئ نه به خلك بهر راوتل تردے چه ذی الکُلاع الحمیری رضی الله عنه ته ورغلو نو کله ئے چه په هغۀ باندے خط ولوستلو، هغۀ سمدست خپل اس او وسله راواخسته او خپل قوم کښے راپاڅیدو او امر ئے وکړو چه راجمع شئ نو د هغۀ سره ډیر فوجونه راووتل کله چه یو ځائے کښے راجمع شول، نو هغوی ته ئے تقریر وکړو او د الله تعالیٰ حمد او ثناء وئیلو نه پس ئے ووئیل چه الله تعالیٰ نبی رالیږلے دے چه تاسو ته ئے هر د خیر خبره وخودله او د شر نه ئے منع کړئ نو تاسو خپلو نیکانو

Maktaba Tul Ishaat.com

وروښو د مشرکانو سره د جهاد دپاره راغوښتي يئ نو څوك چه ما سره في الحال تيار وي نو هغه دې روان شي،

نو ډيره نفري ئې ځان سره رارواڼه کړه تردې چه هغوی ځان سره پوره پوره ګډې رارواڼې کړې، زنانه او ماشومان ټول راغلل، ډيره لويه تياري ئې وکړه۔

د علاقې مشران او ځوانان ټول راغلل۔

او دا بادشاهي شان قوم وو نو دوئ جواهرات او ګانړې او وريښم اچولي وو او په هغې کښې ئې سرۀ زر اچولي وو، ډير مُزَيَّن راغلل، کله چه مدينې ته راورسيدل او مسجد نبوی کښې ئې د ابوبکر صديق ﷺ او نورو ملګرو نه قرآن کريم واوريدو نو قرآن کريم پرې انتهائي اثر وکړو، ځکه چه دا نوي مسلمانان وو چه لا اُوسه ئې د ابوبکر صديق ﷺ سره ملاقات هم نۀ وو شوې،

(او کله چه يو سړې نوې مسلمان شي يا حقې عقيدې ته راواوړي، او بيا د علماؤ سره ملاؤ شي نو زړۀ ئې ډير نرم شي) اودوئ ډير وژړل نو ابوبکر صديق ﷺ هم ورسره وژړل او وې فرمايل: [هٰكَذَا كُنَّا] دغه شان مونږ هم په اوله زمانه کښې وو چه کله به مو قرآن کريم آوريدو نو مونږ به ژړل بيا زمونږ زړونه سخت شو۔

ددې وجه دا وي چه انسان عادت شي، بله دا چه د مخلوق سره ئې تعلق ډير شي۔

دې کسانو چه کله ابوبکر صديق ﷺ وليدو نو هغۀ زړې شان جامې اچولې وې او نرې کمزورې بدن ئې وو او د ډيرو جهادونو د وجه نه ئې د بدن نه غوښه کمه شوې وه،

او بله دا چه د نبي ﷺ پسې خفه هم زيات وو، نو اُوچ کلك شوې وو، ليکن په مخ کښې ئې د تقوىٰ او ورع يوه ناشنا رنړا وه (چه د الله تعالىٰ د بندګئ په وجه د بنده په مخ کښې دا رنړا پيدا کيږي)

نو هغوی باندې رعب راغلو او دا ئې وويل چه دا خو د رسول الله ﷺ خليفه دې او داسې جامې اغوندي! نو دوئ راولګيدل د ابوبکر صديق ﷺ سره ئې مشابهت اختيار کړو او خپلې جامې ئې بيت المال کښې داخلې کړې، ځکه چه ډيرې قيمتي جامې وې، او ساده جامې ئې واچولې تردې چه د ذی الْكَلاع حِمْيَری (چه د علاقې مشر دې) يوه ورځ په بازار کښې روان وو او د ګډې څرمن ئې اچولې وه، دا ئې قميص جوړ شوې وو، نو خپل قوم ورته وويل :

Maktaba Tul Ishaat.com

[لَقَدْ فَضَحْتَنَا بَيْنَ الْأَنْصَارِ وَالْمُهَاجِرِيْنَ]

تا خو مونږ د انصارو او د مهاجرینو ترمینځ وشرمولو۔

بازار کښې ګرځې او داسې جامې دې اچولې دی او حال دا چه ته د علاقې مشر او ملك ئې۔ نو هغهٔ وفرمایل : الله تعالیٰ ته د رسیدو دوه خبرې مونږ معلومې کړیدی، یو په تواضع سره، او بل په زهادة (بې رغبتئ) سره۔

(تواضع معنیٰ ده الله تعالیٰ ته عاجزی کول په خبرو اترو او لباس او کیناستو او پاڅیدو کښې۔ تواضع پدې وخت کښې انتهائی کمه ده، بلکه کبر په نفسونو کښې ډیر دے، چه خبره ورته وشی نو منلو ته تیار نهٔ وی، ځان لوی ګڼړی، تواضع یو بیل علم دے ددے زده کول پکار دی، او حدیث کښې دی چه دا به ددې امت نه اول اُوځی)۔

زهادة دے ته وائی چه بنده دنیا لره سپکه وګنړی، ځوك چه د دنیا پورې زړهٔ وتړی نو داسې به سپك شی لکه څنګه چه دنیا سپکه ده۔ دا د الله تعالیٰ اصول دی، او چا ته چه دنیا وړه او سپکه ښکاره کیږی او د الله تعالیٰ دین او د هغهٔ بندګی ورته غټه ښکاره کیږی نو د الله تعالیٰ په نیز باندې درنیږی۔

دوئ چه کله حاضر شول مسلمانان ډیر خوشحاله شول۔

نو ابوبکر صدیق ﷺ د فوجونو دستې تیارې کړې، اول ئې څلور تیارې کړې او بیا ئې درې ورپسې روستو ورولیږلې۔

(۱) اوله دسته د یزید بن ابی سفیان ﷺ وه۔

دا د رسول الله ﷺ ډیر ښکلے صحابی دے، او د معاویه ﷺ ورور دے۔ او بل یزید د معاویه ﷺ ځوی دے، هغه دلته نهٔ دے مراد۔

اهل سیرت لیکی چه دا یزید ﷺ د خپل پلار او د خپل ورور (معاویه ﷺ) نه هم په تقویٰ او فضیلت کښې زیات وو۔

دا یو بهادر ځوان او په جنګونو کښې انتهائی ماهر وو، دا ئې امیر مقرر کړو او دهٔ له ئې تقریباً اُوه زره (۷۰۰۰) کسان فوج ورکړو چه دا ځان سره واخله او خط السیر (د مزل لاره) دې د مدینې نه شام دے، او دمشق ته به ځان رسوې۔

(دمشق د شام بهترین ښار دے او دا د رومیانو جرړه او مرکز وو)

Maktaba Tul Ishaat.com

د ابوبکر صدیق ﷺ نصیحتونه

کله ئې چه دا رخصتولو نو ابوبکر صدیق ﷺ ورته ډیر ښکلې نصیحتونه وکړل (چه دا نصیحتونه او ترتیبونه د هر کامیاب جهاد دپاره په هره زمانه کښې د کامیابیدو اسباب دی، ضرور به فتحې راځي خو که هغه شان اهل خلك موجود شي چه د طاعت ماده پکښې وی)

ډ هغه وصیتونو حاصل دا دې چه د الله تعالیٰ د تقویٰ امرئې وکړو، تقویٰ چه کله بندګانو کښې نهٔ وی نو د الله تعالیٰ مدد ورسره نهٔ وی۔

دویم ئې دا حکم وکړو چه د مونځونو پابندی به کوئ او په مانځه کښې د رکوع او د خشوع د برابرولو امرونه ئې وکړل، (دا وړې خبرې نهٔ دی، دا اَساسي خبرې دی چه ددې په وجه د اسلام غلبه راځي) او په خپلو اوقاتو کښې به د مونځونو پابندی کوئ۔

او دا ئې ورته وویل چه مسلمانان تا سره امانت دې نو د دوئ سره به ښهٔ سلوك او ښکلې اخلاق کوې،

او پدې کسانو کښې به حَرَس (څوکیداران) په مختلفو ځایونو مقرر کړې، او وخت په وخت به د دغه څوکیدارانو ځایونو نه ناڅاپې ورځې او ګورې به چه په خپله ډیوټئ باندې ولاړ دی او که نهٔ۔ که تا څوك وموندل چه د خپلې څوکئ نه غافل دې نو هغهٔ ته ښهٔ ادب ورکړه او بغیر د زیاتئ نه هغهٔ ته سزا ورکړه۔

او څوك چه د سزا مستحق وی نو د هغهٔ د سزا نه مهٔ یریږه، او په سزا کښې ډیره سختي مهٔ کوه او مهٔ په کښې جلتي کوه،

او تهٔ خپله هم د خپل فوج نه غفلت مهٔ کوه ورنه درنه خراب به شي، او د هغوی جاسوسي هم مهٔ کوه ورنه هغوی به وشرموې،

او د خلکو رازونه مهٔ لټوه بلکه د هغوی په ظاهر باندې اکتفاء کوه،

او د عبث او فضول کار کونکو سره ناسته مهٔ کوه بلکه اهل صدق او اهل وفاء سره کینه،

او جنګ ډیر په رشتیني زړهٔ سره کوه، او تهٔ بزدلي مهٔ کوه ورنه نور خلك به هم

Maktaba Tul Ishaat.com

بزدله شی،

او په غنیمت کښې د غلول (خیانت) نه ځان وساته ځکه چه دا فقر رانزدې کوی او مدد دفع کوی،

او تاسو به داسې خلك وینئ چه هغوی ځانونه په ګیرجو کښې بند کړیدی نو هغوی خپل کار ته پریده، هیڅ ورته مۀ وایه۔

او دۀ ته ئې دا هم وویل چه زۀ تا امارت له نۀ لیږم چه تۀ به امیر شې بلکه زۀ تا تجربې له لیږم چه تۀ پابندی کوې او که نۀ، که پابندی دِې کوله نو مزید به تا ته مشری درکوو او که نۀ وی نو تا به معزوله کوم او بل څوك به مقرروم۔

او د پهرې طریقه ئې هم ورخودله چه په اول د شپه کښې اُوږده پهره مقرر کړه او په آخر د شپه کښې لنډه، ځکه چه په اول کښې پهره آسانه وی۔

او د دشمن نه چه کوم استازی راشی نو د هغوئ به اکرام کوې، (داسې به نۀ وائې چه کافر دې او طاغوت راغلې دې ورك ئې کړه، نه، بلکه) د هغوی سره به احسان کوې۔

او دغه کسانو له به وخت کم ورکوې دې دپاره چه د مسلمانانو کمزوری ونۀ وینی،

او هغه ځائې کښې دا کسان نازل کړه چه کوم ځائې کښې مالداره او غټ (صاحب حیثیت) ملګری دی، او اسونه او ثَرُوَه ورسره ده، دې دپاره چه په دشمن باندې رعب راشی (ځکه چه د دنیا مالونه او خپلې وسلې او طاقتونه دشمن ته خودل هم ښه وی چه په هغوی باندې رعب راشی ځکه چه دنیا دار الاسباب ده)۔

او هغوئ سره به تۀ خپله خبرې کوې، داسې به نۀ وی چه هر یو تن خبرې کوی (دې سره ګړبړیشن جوړیږی)

او دا ئې هم ورته وویل چه زۀ درته کوم امر کوم نو د هغې تابعداری به کوې۔

نو هغۀ وویل چه بالکل زۀ به دغه شان کوم۔

نو یزید بن ابی سفیان ﷺ د خپل فوج سره د مدینې نه اُووتو او د شام په طرف په اُوږد سفر روان شو۔ دۀ ته ئې حکم کړې وو چه تۀ به دمشق ته ځې،

(۲) په دریمه ورځ ئې ورپسې بله دسته روانه کړه، چه هغه د شرحبیل بن حسنه رضی الله عنه په قیادت کښې وه، چه دې وخت کښې شرحبیل بن حسنه ﷺ د خالد بن ولید ﷺ نه ابوبکر صدیق ﷺ خواته راغلې وو، دۀ له ئې درې زره فوج ورکړو او زرئې

Maktaba Tul Ishaat.com

ورسره نور ملګري کړل نو څلور زره (٤٠٠٠) فوج شو۔

دهٔ ته ئې وويل چه ته به په شام کښې بلقاء علاقې ته ځې کوم ځائې کښې چه غزا د مؤته شوې وه (جدا جدا لارې ئې ورله مقرر کړې ځکه چه دې کښې فائده وه، هغه وخت د جهاد ترتيب همداسې بهترين معلوميدو)

(۳) بله دسته ئې مقرر کړه چه په هغوی باندې اَمِيْنُ هٰذِهِ الْاُمَّة ابوعبيده بن الجراح ﷺ مقرر کړو او هغهٔ له ئې څلورو زرو (٤٠٠٠) نه تر اُوه زره (٧٠٠٠) کسانو پورې ورکړل او هغهٔ ته هم ئې دغه نصيحتونه وکړل کوم ئې چه يزيد بن ابی سفيان ﷺ ته وکړل او دهٔ ته ئې دپاسه نور هم وکړل:

يو ئې ورته دا وويل چه زهٔ تا سره قيس بن هُبيره المرادی ﷺ ليږم چه دا په جاهليت کښې عجيب شاهسوار وو، چه دا يواځې د زرو (١٠٠٠) نه زياتو کسانو سره برابريدو،

نو ددې تکړه مجاهد نه به کار اخلې او ددهٔ سره به مشورې کوې او ددهٔ د مشورې نه بغير به کار نهٔ کوې او ددهٔ د عزت خيال به ساتې ځکه چه دا د اسلام اصول دی چه [اَكْرِمُوْا كَرِيْمَ كُلِّ قَوْمٍ] د هر قوم د عزتمن شخص به اکرام کوئ۔

(چا ته چه الله تعالیٰ علم، چا ته شجاعت ورکړې نو پکار ده چه د هغهٔ عزت وکړې شی، کله ته وائې چه دا دې د نورو په شان جوړ شی او تواضع دې اختيار کړی او هر څه الله تعالیٰ کوی نو پدې سره به د هغهٔ زړهٔ ته درد ورسيږی)

ابوبکر صديق ﷺ چونکه ډير هوښيار انسان وو نو قيس بن هُبيره ﷺ ئې جدا راوغوښتو او دا ئې ورته وويل چه تهٔ يو هوښيار سړې ئې او په قوم کښې عزتمن ئې او تا په جاهليت کښې دومره بهادريانې کړيدی، مخکښې د جاهليت دپاره لګيا وې نو اُوس د الله تعالیٰ دپاره لګيا ئې نو تهٔ به د ابوعبيده بن الجراح ﷺ د رائې خلاف نکوې، دا ما په تا باندې امير مقرر کړې او هغهٔ ته ما وصيت کړيدې چه تا نه به خبره آوری۔

او ابوعبيده ﷺ ئې حِمُص ته وليږلو۔

هر کله چه دا مسلمانان ئې رخصتول نو دوئ ته ئې هم دا نصيحت وکړو چه خپل نيت به برابروئ او خپل سيرت به نهٔ خرابوئ،

د جاهليت دپاره به ستاسو جنګونه نهٔ وی،

په کومو خلکو چه ورتيريږئ نو د هغوئ سره به احسان کوئ او اخلاق به چلوئ۔

Maktaba Tul Ishaat.com

(٤) څلورم **جماعت** ئې د عمرو بن العاص ﷺ تیار کړو، دا په بله علاقه کښې وو نو دهٔ ته ئې جواب ولیږلو چه دلته راشه نو بیا ئې اختیار ورکړو چه تهٔ دلته پاتې کیږې او که زهٔ دې فلسطین ته لیږم هلته ځې؟، نو هغهٔ ووېل چه زهٔ یو غشې یم،

[اِنَّمَا اَنَا سَهْمٌ مِنْ سِهَامِ الْإِسْلَامِ وَاَنْتَ الرَّامِیُ بِهٖ بَعْدَ اللّٰهِ وَالْجَامِعُ لَهٗ]

زهٔ خو د اسلام یو غشې یم او تهٔ د الله تعالیٰ نه روستو زما ویشتونکې ئې او ما لره راجمع کونکې ئې. نو ستا خوښه ده زهٔ تیار یم، نو دهٔ له ئې د څلورو زرو (٤٠٠٠) نه زیات کسان ورکړل او دا ئې ورته ووېل چه تهٔ به فلسطین ته ځې او دشمن کښې به ډیر دننه نهٔ ننوزې چه بیرته نشې راوتلې، او په لاره په آرام آرام ځئ او احتیاط کوئ.

دا څلور دستې د فوج لاړې او یوه او دوه ورځې پس به ئې لیږلې، ددې وجه دا وه چه پدې وجه سره په مختلفو علاقو کښې رعب هم پریوتو، خلکو ته پته ولګیده چه دا څومره مسلمانان دی چه په هر طرف روان دی، پدې سره په دشمن باندې هم رعب راځی.

او دې ټولو فوجونو ته ئې ووېل چه تاسو به خپلو خپلو طرفونو ته ځئ او جنګونه به کوئ او هر یو شخص به په هغه علاقه امیر وی چه کومه فتح کوی، البته که راجمع کیدو ته ضرورت راپیښ شو نو بیا به ستاسو د ټولو فوجونو امیر ابوعبیده بن الجراح ﷺ وی،


نو دوئ لاړل خپلو خپلو علاقو ته، پدې کښې لږ لږ شان جنګونه هم وشو چه هغه د سیرت په کتابونو کښې ډیر معمولی ذکر شویدی.

د شام پدې لښکر کښې زر (١٠٠٠) کسان صحابه کرام رضی الله عنهم وو او سل (١٠٠) کسان پکښې بدریان صحابه کرام رضی الله عنهم هم وو، په خلاف د عراق د لښکر نه چه په هغوی کښې مهاجرینو قتال نهٔ دې کړې.

پدې کښې مسلمانانو به د رومیانو احوال هر وخت کشف کول چه دشمن کوم ځائے دې؟ او څه ترتیب ئې دې؟،

ابوعبیده ﷺ د بلقاء دروازې ته ورسیدو نو د هغه ځائے خلکو سره ئې جنګ وکړو بیا ورسره هغوی په جزیه ورکولو باندې صلح وکړه نو دا اولنئ صلح وه چه په شام کښې وشوه، او اولنئ علاقه وه چه په صلح سره فتح شوه.

Maktaba Tul Ishaat.com



Maktaba Tul Ishaat.com

دا واقعات مختصر لیکلے کیږی ورنه دے کنبے ډیر تفصیلات دی،

د هرقل تأثر او د رومیانو رد عمل

هرکله چه د شام په زمکه باندے د مسلمانانو فوجونو قدم کیخودو نو د روم قائدینو او وزیرانو او گورنرانو هرقل ته خبر ولیږلو چه ستا زمکے ته اجنبی فوجونه راغلی دی چه تا سره جنگ کوی، نو د داسے لوی مملکتونو بادشاه سره مناسب دی چه د غصے نه تهق وچوی او سمدست فوجونه تیار کړی چه څنگه اجنبی فوجونه زما په زمکه قدم اړدی حال دا چه زهٔ لا په تخت باندے فائز یم، لیکن د هرقل موقف ددے برعکس وو، هغه دا چه خپلو قائدینو ته ئے وویل چه :

[صَالِحُوا الْمُسْلِمِينَ، فَوَاللّٰهِ لَاَنْ تُصَالِحُوْهُمْ عَلٰى نِصْفِ مَا تُنْتِجُهُ الشَّامُ وَيَبْقٰى لَكُمْ نِصْفُهُ الآخَرُ وَبَاقِيْ اَرْضِ الرُّوْمِ اَحَبُّ اِلَيْكُمْ مِنْ اَنْ تَكْسِرُوْا اَرْضَ الرُّوْمِ كُلَّهَا]

د مسلمانانو سره صلح وکړئ! قسم په الله که تاسو د مسلمانانو سره د شام په نیمائی آمدنئ باندے صلح وکړئ او بله نیمائی تاسو ته پاتے شی او د روم زمکه هم تاسو ته پاتے شی نو دا ډیر تاسو ته ددے نه محبوبه وی چه تاسو ټول روم دړے وړے کړئ۔

هرقل ته پوره پوره معلومه وه چه اسلام به غالبه کیږی، او دے به خوریږی،

او دا خبره هرقل د هغه وخت نه پیژندله چه کله رسول الله ﷺ هغهٔ ته خط راولیږلو چه د اسلام دعوت ئے ورکولو نو پوهه شو چه دے د الله تعالیٰ حق نبی دے، او ددهٔ ملك به هغه ځائے ته رسیږی کوم ته چه نمر رسیږی، نو ځکه ئے خپلو قائدینو ته د مصالحت حکم وکړو، لیکن هغوی سخت غصه شول، او دا گمان ئے وکړو چه د دوئ امپراطور (بادشاه) ته وهن (کمزوری) او نا امیدی لګیدلے، او دے غواړی چه اجنبی فوجونو ته خپل ملك وسپاری، هرکله چه هرقل د دوئ په غصه پوهه شو، او هغه یقیناً د معرکے په نتیجه پوهیدو نو هرقل دوئ راجمع کړل او حِمص ته ئے بوتلل نو هلته کنبے ئے مشورے وکړے او هرقل په انطاکیه کنبے اُوسیدو چه دا شمالی طرف د

سوریا دی، او لښکرې او فوجونه ئې تیار کړل، د شام او د رومیا او د قسطنطینیه (استنبول/ ترکیا) او ارمینیا نه ئې فوجونه راطلب کړل تردې چه د هر طرف نه ورته په زرګونو او لکهونو تعداد کښې فوجونه راغلل چه دوئ سره شپیته زره (٦٠,٠٠٠) د عرب مسیحینو نه هم وو چه د هغوی مشر جبله بن اَیُهَم الغسانی وو۔

هرقل ددې ټولو فوجونو مشر خپل یو تن مقرر کړو چه د هغهٔ نوم باهان یا ماهان وو، چه دا په اصل کښې د فارس والو نه وو بیا نصرانی شوې وو او د رومیانو سره پیوسته شوې وو۔ (تاریخ الاسلام للذهبی ٣/ ١٤٠)

چه ددې فوجونو اندازه په مشهور قول سره دوه لاکهه څلویښت زره (٢٤٠٠٠٠) وه، او بعض وائی چه د درې لاکهو (٣٠٠٠٠٠) نه تر څلور لاکهو (٤٠٠٠٠٠) پورې وو۔

دا فوجونه د مختلفو قبیلو نه جوړ وو لکه سُلاف، فرنجه، جُوْرجِیُون، اَرْمَن او عرب مسیحین۔

او هرقل خپل دا فوجونه څلور حصې کړل څکه چه ابوبکر صدیق ﷺ چه کوم امیران د شام د حملې دپاره لیږلی وو، نو هغه څلور وو، د هر امیر د مقابلې دپاره ئې د زرګونو په تعداد کښې خلك ولیږل چه دا فوجونه د مسلمانانو دستې کمزورې کړی او مخې ته لاړې نشی، نو د عمرو بن العاص ﷺ د مقابلې دپاره ئې فلسطین ته خپل سکه ورور تَذَارُق مقرر کړو او دهٔ ته ئې نوی زره (٩٠٠٠٠) فوجیان ورکړل تردې چه دا فوج "جَلق" علاقې ته ورسیدو چه دا بَره طرف د فلسطین دې۔

او "جَرجَه بن توذرا" ئې د یزید بن ابی سفیان ﷺ پسې ولیږلو او دهٔ له ئې هم دغه شان فوج ورکړو او "دُرَاقِص" ئې د شرحبیل بن حسنه رضی الله عنه مقابلې ته وړاندې کړو، او "فیقار بن نسطوس" ئې د شپیته زره (٦٠٠٠٠) لښکر سره د ابوعبیده بن الجراح رضی الله عنه د مقابلې دپاره روان کړو،

او روستو ئې ماهان د قسیسینو او رهبانو سره ولیږلو،

د هرقل فوجونو کښې اتیا زره (٨٠٠٠٠) کسان مقیّد وو یعنی ځانونه ئې مرګ ته تړلی وو، او څلویښت زره (٤٠٠٠٠) کسان هغه وو چه هغوی د مرګ دپاره ځانونه په زنځیرونو تړلی وو چه نهٔ به تښتو، او اتیا زره (٨٠٠٠٠) کسان پکښې شاهسواران وو،

Maktaba Tul Ishaat.com

او اتیا زره (۸۰۰۰۰) پیاده خلك وو۔

لیکن مسلمانانو ټولو په زړه کښې کلك عزم کړے وو چه نۀ به تښتی، فتح به ملاویږی یا شهادت، ظاهری ټرلو ته هیڅ ضرورت نۀ وو۔

دلته د مسلمانانو تعداد په مشهور روایت سره شپږ دیرش (۳۶۰۰۰) نه تر (۴۵۰۰۰) پورے وو۔ کوم چه روښتو ورغلی دی او کوم چه مخکښې تلی دی، اُوه ویشت زره (۲۷۰۰۰) د دغه څلورو فوجونو کسان وو، او نهه زره (۹۰۰۰) د خالد بن ولید ﷺ سره ورغلل او شپږ زره (۶۰۰۰) کسانو سره روستو عکرمه بن ابی جهل ﷺ راورسیدو، او درے زره (۳۰۰۰) پکښې هغه مجاهدین وو چه د خالد بن سعید بن العاص ﷺ د شکست نه پاتے شوی وو، دا هم ددے مسلمانانو سره یو ځائے شول نو ټول پنځه یا شپږ څلویښت زره مجاهدین شول۔

او د رومیانو فوجونه تقریباً دوه نیم لاکهه (۲,۵۰۰۰۰) دی۔ دا عجیبه مقابله ده۔

نو مسلمانانو ته پته ولګیده چه مونږ خو ډیر کم یو او د دشمن فوجونه د شمار نه بهر دی، نو دوئ عمرو بن العاص ﷺ ته خط ولیږلو چه څه مشوره ده ؟

هغۀ ورته جواب ورکړو چه صحیح رایه زمونږ په شان خلکو دپاره دا ده چه مونږ ټول مسلمانان په شریکه راجمع شو، ځکه چه کله مونږ راجمع شو نو د کم والی په وجه به نۀ مغلوبه کیږو، او که مونږ خوارۀ واره یو نو هره دسته د فوج به د خپلو دشمنانو مقابله ونکړے شی ځکه چه زمونږ دشمن په شمار کښې ډیر زیات دے،

بیا د فوجونو ټولو مشرانو خطونه د رسول الله ﷺ خلیفه ابوبکر صدیق ﷺ ته راولیږل، یزید بن ابی سفیان ﷺ هم خط راولیږلو چه دشمن زیات دے او ابوعبیده ﷺ او عمرو بن العاص ﷺ او شرحبیل ﷺ ټولو۔

لیکن ابوبکر صدیق ﷺ ټولو ته جواب ورکړو او هر یو له به ئے تسلی او اطمینان ورکولو چه تاسو مطمئن اُوسیږئ ان شاء الله، الله تعالیٰ به خپل دین ته غلبه ورکوی او دشمن ستاسو نه یریدلے دے، ځکه ستاسو د مخے نه آوریدلے دے او انطاکیه ته تلے دے، زۀ د الله تعالیٰ نه امید لرم چه بس فتح راغلے ده۔

د ابوبکر صدیق ﷺ دا خبرے به د یو لاکهه (۱۰۰۰۰۰) مجاهدینو نه زیات قوی وے، او د زړونو اطمینان به پرے راتللو، او دا به ئے هم ورته وئیل چه د الله تعالیٰ نه به

Maktaba Tul Ishaat.com

مدد غواړئ څکه چه نصرت په ډیر والی باندے نهٔ راځی۔

عمرو بن العاص ﷺ ته ئے ولیکل چه همیشه چه مونږ مدد حاصل کړیدے نو دا په کثرت باندے نهٔ بلکه دا د الله تعالیٰ په طاقت باندے مونږ حاصل کړے، نو ددے وجه نه [اِسۡتَعِيۡنُوۡا بِاللّٰهِ] د الله تعالیٰ نه مدد وغواړئ، او هغه ذات ته متوجه شئ او د خپلو ملګرو اصلاح وکړئ، او دا ئے هم ورته وویل چه مونږ چه همیشه غالبه شوی یو نو په اعمالو سره، نهٔ په ظاهری طاقتونو سره۔ نو اعمالو لره ډیر زور ورکړئ، او الله تعالیٰ ته هغه بنده ډیر نزدے دے چه د الله تعالیٰ طاعت کوی۔

او دا مشوره ئے ورکړه چه تاسو له یو ځائے ته جمع کیدل پکار دی، داسے مشوره ئے ورکړه کومه چه عمرو بن العاص ﷺ ورکړے وه،

او "یرموك" ئے ورته وخودو چه هلته جمع شئ او د یو بل مدد وکړئ او ستاسو هر یو تن ډیے د خپلو ملګرو سره یو ځائے شی۔

نو دا خطونه چه به په مسلمانانو ولوستلے شو نو هغوی به ډیر خوشحالیدل او زړونو ته به ئے تسلی حاصلیده۔

او دا ئے هم ورته وویل چه زهٔ روستو مدد هم درلیږم۔

کله چه مسلمانانو ولیدل چه د دشمن جموع ډیر زیات دی، او مونږ په دوئ باندے بیل بیل نشو کامیابیدے، نو امیرانو خپل مینځ کښے مشوره وکړه چه ټول یو ځائے ته غونډیږو، او په شریکه حمله کوو دے دپاره چه بیل بیل ونهٔ وهلے شو۔

(د هغه زمانے د حالاتو مطابق هغوی ته پته لګیده چه دا ترتیب پکار دے)

نو پدے کښے دوئ هم یرموك علاقه مقرر کړه چه هلته به راجمع کیږو۔

نو ټولو امیرانو خپل فوجونه هغه ځائے ته رااروان کړل که څوك مخکښے تلی وو نو هغوی راروستو شول۔

نو پدے کښے عمرو بن العاص ﷺ فلسطین ته رسیدلے وو او دشمن ترے د هر طرف نه موجود وو نو د هغهٔ راوتل د هغه ځائے نه ډیر سخت وو، ګیر شوی شان وو۔

نو پدے کښے ابوبکر صدیق ﷺ درے دستے ورپسے نورے ورولیږلے،

یو د هاشم بن عتبه بن ابی وقاص رضی الله دسته،

(چه دا هم جلیل القدر پهلوان صحابی دے او دا هغه شخص دے چه فارس والو د

مسلمانانو مخې ته زمرې راپريخودو چه منع شي ليکن هاشم د فوج نه مخکښې روان وو او زمرې ئې په توره ووهلو او قتل ئې کړو، نو سعد بن ابی وقاص ددې خپل ورارهٔ د محبت نه سر خکل کړو، او دا هغه شخص دے چه په دے يرموك معركه كښې ئې سترگے وتلے وه او په قادسيه جنگ کښې سبب د فتح گرځيدلے وو، په دے يرموك كښے ابوعبيده په پياده خلکو باندے مقرر کړو او ددهٔ ئے ډير صفت وکړو او دا ئے وويل : چه زهٔ به په پياده خلکو باندے هغه ځوان مقرروم چه د جنگ په وخت د هغهٔ واپس کيدل او اوړيدلو نه يره نشته چه هغه هاشم بن عتبه رضی الله عنه دے، دا د بهترينو فضلاؤ نه وو، وَكَانَ مِنَ الْاَبْطَالِ الْبُهَمِ، كَانَ مَوْصُوْفًا بِالشَّجَاعَةِ وَالْإِقْدَامِ، او دے د انتهائی پهلوانانو او بهادرانو نه وو، په بهادرئ او حملو باندے متصف وو)

صديق اكبر رضی الله عنه هغهٔ ته وويل چه تهٔ يو ځوان سړے ئے او الله تعالىٰ تا او ستا ځوانئ ته مسلمانان محتاج کړيدی، زهٔ تا له يوه دسته د فوج درکوم او تهٔ به سيده لاړ شے او دغه مسلمانانو ته به ځان ورسوے نو هغهٔ له ئے د زرو (۱۰۰۰) کسانو يوه دسته ورکړه۔

هغه لاړو نو د هغه ځائے مسلمانان پرے ډير زيات خوشحاله شو۔

پدے کښے سعيد بن عامر رضی الله عنه ته ئے اُوه سوه (۷۰۰) کسان ورکړل هغه هم ورپسے ورغلو۔

د خالد بن وليد رضی الله عنه شام ته روانيدل

دلته صديق اكبر رضی الله عنه خالد بن وليد رضی الله عنه ته امر وکړو چه (دے وخت کښے خالد بن وليد رضی الله عنه په عراق کښے دے) چه تهٔ به سيده شام ته ځان ورسوے او ځان سره د عراق نيمائی فوج راواخله، او تهٔ ما په هغه ټولو اميرانو باندے امير مقرر کړے (ابوبکر صديق رضی الله عنه په دهٔ ډير ښهٔ گمان وو) او دهٔ ته ئے هم د الله تعالىٰ نه په تقوىٰ او په عاجزئ کولو باندے امر وکړو۔

پدے کښے خالد بن وليد رضی الله عنه سمدست خبره اُوومنله او د هغه ځائے نه د صفر مياشت په اتم (۸) تاريخ سنه (۱۳ هـ)، اپريل ۱۴، ۶۳۴م کښے ځان سره نهه زره (۹۰۰۰) فوج راواخستو او د شام په طرف روان شو، او د عراق نه شام ته ځان رسوی، او په ډيره جلتئ

سره، نو هغهٔ ډیره ناشنا لاره اختیار کړے وه چه په داسے شاړو لارو باندے راخطا شو چه په تاریخ کښے دا ډیره عسکری زړه ورتیا یادیږی او ډیرو خطرو والا کار دے ځکه چه د زرو (۱۰۰۰) کیلو میټرو نه زیاته مسافه ئے په اته (او بعض وائی چه په پنځه) ورځو کښے اُووهله په هلاکونکی صحراء کښے چه دا په "صحراء السماوه" باندے یادیږی۔

او د بعض ملګرو نه ئے پدے باره کښے استفاده کړے وه (لکه د رافع بن عمیره الطائی نه) چه په څه طریقه سره مونږ زر شام ته ورسیږو نو هغوئ ورته چل خودلے وو چه یو څو اُوښان به په اُوبو باندے ډیر زیات ماړهٔ کړے (ځکه چه اُوښ تر لسو ورځو پورے په خیټه کښے اُوبهٔ ساتلے شی) او بیا ئے ورته وویل چه ددے اُوښانو نه به شونډے پریکړے او په اسونو باندے به سور شے او ځان به رسوے،

دوئ دا کار وکړو چه یو ځائے ته ورسیدل نو تږی شو او اسونه هم تږی شو نزدے وه چه مړهٔ شوی وے، نو هغه ملګری ورته وویل چه شونډے ما ددے دپاره پریکولے چه اُوس اُوښان حلال کړئ نو د هغے د لری نه به ئے اُوبه راخستے او اسونو له ئے ورکړے، او دا ئے وویل چه د عَوسَج په نوم باندے ونه وګورئ بیا دغه ځائے وکنئ نو هلته اُوبه نزدے وی، نو دوئ د عوسج ونه هلته وکتله نو نزدے اُوبهٔ راوختلے۔

نو په منډه منډه شام ته ورسیدل لیکن د رسیدو نه مخکښے ئے ابو عبیده بن الجراح ﷺ ته یو خط ولیکلو چه زهٔ شام ته در روان یم او تهٔ یو بهترین انسان ئے خو ما ته د رسول الله ﷺ خلیفه امر کړے چه تهٔ به پدے امیرانو امیر ئے۔

(غرض ئے د دغه خلکو دلجوئی کول وو چه دا ملګری خفه نشی) نو هغهٔ ورته واپس جواب راولیږلو چه تهٔ د رسول الله ﷺ خلیفه مقرر کړے ئے، نو په تا دِے سلام وی او تهٔ مونږ ته راشه، تهٔ زمونږ ورور ئے۔ (دیته رُحَمَاءُ بَیۡنَهُمۡ وائی)،

نو ټولو امیرانو په ډیره خوشحالئ سره خپل امارت خالد بن ولید ﷺ ته ورکړو۔

(بُغض ئے ونکړو چه ولے ګنے زهٔ بهادر نهٔ یم چه ما خکته کوی او بل مشر کوی، بلکه په منلو کښے خیر وو او پدے سره مددونه راځی)

خالد بن ولید ﷺ شام ته ور ورسیدو او امیرانو خپل امارت دهٔ ته حواله کړو او دا سران د خالد بن ولید ﷺ قومندانان شول۔

لیکن دلته عمرو بن العاص ﷺ ډیر جدا دے، نو که خالد بن ولید ﷺ دا کسان د هغه

Maktaba Tul Ishaat.com

ځائے نه راواپس کوی نو هلته دشمن ورپسے ور روان دے، نو هغوی وهی نو خالد بن ولید ﷛ ورپسے دے طرف نه ورغلو او اَجنادین ته ئے ځان ورسولو، چه دا فلسطین ته قریبه یوه علاقه ده چه دے وخت کښے د خالد بن ولید ﷛ او د عمرو بن العاص ﷛ ملګری دیرش زره (۳۰۰۰) دی، نو دغه علاقه کښے جنګ وشو، نو الله تعالیٰ خالد بن ولید ﷛ له فتح ورکړه، اول ئے ورله مشر اُووژلو نو نورو باندے رعب راغلو او وتښتیدل نو دا مسلمانان الله تعالیٰ را خلاص کړل او ټول یرموك ته راواپس شول۔

د سیرت په کتابونو کښے یرموك یوه غټه غزا ده لکه د بدر او د اُحد په شان چه د هغے خلاصه دا ده چه:

میدان طرف ته راروانیدل

هرقل ته خبر ورسیدو چه مسلمانان خو یو ځائے ته غونډیږی نو خپلو قائدینو او جنرالانو ته ئے ولیکل چه د مسلمانانو د مقابلے دپاره تاسو هم یو ځائے ته جمع شئ،

د کافرانو فوجونه هم "یرموك" ته راغلل، او صحابه کرام رضی الله عنهم هم په یرموك کښے د نهر نه اخوا واوړیدل او شا طرف ئے یو میدان ته کړو دے دپاره چه د مدینے نه مدد ورته په آسانئ رارسیږی۔

د رومیانو د فوج مشری "تذارق" کوله، په مقدمة الجیش کښے ئے "جَرْجَه" وو، او په دواړو طرفونو ښی او ګس طرف کښے دُراقص او ماهان وو، او دے وخت کښے لا ماهان نۀ وو رارسیدلے، ماهان هغه وخت راورسیدو چه خالد بن ولید ﷛ دے صحابه کرامو ﷛ ته د عراق نه راورسیدو۔

رومیان راغلل او د یرموك په وادی کښے ئے په خندق (کندو) کښے فوجونه واړه ول ځکه چه دا ځایونه د دوئ د لوی فوج دپاره فراخه وو،

او هرچه مسلمانان وو نو هغوی د نهر الیرموك نه ښی طرف ته واوړیدل او خپل معسکرئے رومیانو ته مخامخ په داسے میدان کښے ووهلو چه دا د رومیانو لاره وه او د رومیانو دپاره ددے نه سوئ بله لاره نۀ وه، د تیښتے لاره ئے هم بنده شوه،

نو دے وخت کښے عمرو بن العاص ﷛ مسلمانانو ته زیرے ورکړو وے فرمایل:

Maktaba Tul Ishaat.com

[اَيُّهَا النَّاسُ اَبشِرُوا حُصِرَتْ وَاللّٰهِ الرُّوْمُ، وَقَلَّ مَا جَاءَ مَحْصُوْرٌ بِخَيْرٍ]

[البداية والنهاية : ٦/٧]

اے مسلمانانو ! خوشحاله شئ قسم په الله تعالیٰ رومیان راګیر کړے شول، او راګیر کړے شوے خیر نهٔ شی راوړے۔ (دا هم یو قسم فتح وه)

خالد بن ولید ﷺ فوځونو له ترتیب ورکوی

خالد بن ولید ﷺ دے فوځونو ته په داسے وخت کښے راورسیدو چه دوئ دشمن ته صفونه تړلی وو، او دا جمادی الآخره وه، نو دلته خالد بن ولید ﷺ پاڅیدو او تقریر ئے وکړو، د الله تعالیٰ د حمد او ثناء نه روستو ئے وفرمایل :

[اِنَّ هٰذَا يَوْمٌ مِنْ اَيَّامِ اللّٰهِ، لَا يَنْبَغِيْ فِيْهِ الْفَخْرُ وَلَا الْبَغْيُ، اَخْلِصُوْا جِهَادَكُمْ وَاَرِيْدُوا اللّٰهَ بِعَمَلِكُمْ، وَاِنَّ هٰذَا يَوْمٌ لَهُ مَا بَعْدَهُ لَوْ رَدَدْنَاهُمُ الْيَوْمَ اِلٰى خَنْدَقِهِمْ فَلَا نَزَالُ نَرُدُّهُمْ، وَاِنْ هَزَمُوْنَا لَا نُفْلِحُ بَعْدَهَا اَبَدًا]

دا د الله تعالیٰ د ورځونه د امتحان یوه ورځ ده، په دے کښے فخر او ظلم نهٔ دے پکار، په خپل جهاد کښے اخلاص پیدا کړئ، او په خپل عمل سره صرف د الله تعالیٰ اراده وکړئ او دا یوه داسے ورځ ده چه ددے دپاره روستو اثر شته، که نن مونږ رومیان د هغوی خندق ته واپس کړل نو همیشه به ئے واپس کوو او که دوئ مونږ ته شکست راکړو نو هیڅکله به ددے نه روستو کامیاب نشو۔

بیا ئے وفرمایل : داسے به وکړو چه نمبر په نمبر به مشری کوو، نن به یو امیر وی او صبا به بل وی او بله ورځ به بل وی، او که ستاسو خوښه وی نو نن ورځ به زهٔ امیر یم، نو خلکو هغهٔ ته إمارت وسپارلو،

نو دلته خالد بن ولید ﷺ خپل فوځونو له ناشنا ترتیب ورکړو چه داسے ترتیب ئے مخکښے هیڅکله نهٔ وو ورکړے، او دا ترتیب عربو په جنګونو کښے نهٔ پیژندلو، هغه دا چه ټول فوځ نه ئے څلویښت (٤٠) دستے جوړے کړے چه دے ته په عربئ کښے

Maktaba Tul Ishaat.com

کرادیس وائي، (مفرد ئې کُرْدُوس دې) او هریو له ئې یو یو امیر مقرر کړو او زر زر (۱۰۰۰) کسان ئې ورکړل۔

بیا ئې هغه په پنځو باندې تقسیم کړل، مقدمة الجیش، میمنة الجیش، میسرة الجیش، خلف الجیش، او قلب الجش

په مینځ کښې ئې اتلس زره (۱۸۰۰۰) کسان مقرر کړل چه دا به د پیاده خلکو مقابله کوی، او د دوئ مشر ئې ابوعبیده بن الجراح ﷛ مقرر کړو،

او ښی طرف ته ئې لس زره (۱۰۰۰۰) کسان وگرځول، او د دوئ امیر ئې عمرو بن العاص ﷛ مقرر کړو چه ددهٔ سره به شرحبیل بن حسنه رضی الله عنه ملگرې وی، او گس طرف ته ئې لس زره (۱۰۰۰۰) کسان مقرر کړل او د دوئ امیر ئې یزید بن ابی سفیان رضی الله عنه مقرر کړو، او په هر کردوس باندې ئې یو یو امیر مقرر کړو، چه د بعضو نومونه دا دی:

۱- مذعور بن عدی العجلی البکری ﷛۔

۲- عیاض بن غنم الفهری القرشی ﷛۔

۳- قباث بن اَشیم اللیثی الکنانی رضی الله عنه چه دا مخضرم صحابی دې، د رسول الله ﷺ نه ډیره مخکښې زمانه کښې پیدا شوې وو، او د اصحاب الفیل واقعې په وخت په خبره پوهیدو۔ د خندق نه روستو ئې ایمان راوړې او غزا د حنین ته حاضر شویدې، او دلته په غزا د یرموك کښې یو قومندان او امیر دې۔

۴- هاشم بن عتبه بن ابی وقاص الزهری القرشی رضی الله عنه۔

۵- سهیل بن عمرو بن العامری القرشی ﷛۔

۶- عکرمه بن ابی جهل المخزومی القرشی ﷛۔

۷- عبد الرحمن بن خالد بن الولید المخزومی القرشی رحمه الله۔

۸- حبیب بن مسلمه الفهری القرشی رضی الله عنه ۔

۹- صفوان بن امیه الجمحی القرشی ﷛۔

۱۰- سعید بن خالد بن العاص الاموی القرشی رضی الله عنه۔

۱۱- خالد بن سعید بن العاص الاموی ﷛۔

۱۲- عبد الله بن قیس (ابوموسی الاشعری) ﷛۔

Maktaba Tul Ishaat.com

۱۳- معاویه بن حدیج التجیبی الکندی ﷺ۔

۱٤- الزبیر بن العوام الاسدی القرشی ﷺ۔

او په دوئ کښې ئې لس زره (۱۰۰۰۰) کسان اسونو والا شاهسواران وګرځول او د دوئ مشری خپله خالد بن ولید ﷺ کوله۔

او د خلکو د کتنې دپاره ئې لږ شان شاهسواران مقرر کړل چه دښمن کوزي ... کوزي چه په کوم طرف کښې دی، او کوم طرف ته روان دی، او د هغوی د احوالونه خان خبروی، او د دوئ مشرئې قُبَاث بن اَشْیَم ﷺ مقرر کړو،

او شاته ئې پنځه زره (۵۰۰۰) کسان مقرر کړل چه هغوی اداری امور سنبال کړی، یعنی خرچه، خوراك او څکاك رَسَول، او زخمیان رادیخوا کول او که غنیمتونه حاصلیږی نو هغه ځائے په ځائے کول څکه چه جنګیان خو دا کارونه نشی کولے، او په جنګ کښې خوراك څکاك ته هم سخت ضرورت وی، اُوبهٔ رارسول وغیره، او پدے خلکو باندے ئې عبد الله بن مسعود ﷺ مقرر کړو۔

او یو ئې قاری مقرر کړو مقداد بن الاسود ﷺ هغهٔ ته ئې وویل چه تهٔ به ګرځے او خلکو باندے به قرآن کریم لولے، لکه سورة الانفال او نور جهادی آیتونه۔

وجه دا ده چه کله په جهاد کښې هغه آیتونه اُوئیلے شی چه په هغې کښې د جهاد ترغیب وی نو پدے سره مسلمانان په جذبه کښې راځی، زمونږ پدے زمانه کښې ورته شعرونه او نعتونه وائی۔

دا هم په جهادونو کښې جائز دی لیکن دا په عامو حالاتو کښې آوریدل او قرآن کریم شاته کول د زړهٔ خرابولے دے، په زړهٔ کښې یو قسم نفاق وی چه د هغې په وجه سړے ددے شعرونو او نعتونو سره مینه ډیره لری او د قرآن کریم سره ئې مینه کمه وی۔

او ابوسفیان بن حرب ﷺ (زوړ مشهور جنګی سالار) ئې خطیب مقرر کړو چه وخت په وخت به ډلو ته ورتللو او هغوی ته به ئې بیانات کول او تیزی به ئې ورکوله چه کلك شئ۔

د جنګ نه مخکښې صحابه کرامو یو بل لره ترغیبات ورکړل، یو صحابی ابوعبیده بن الجراح ﷺ پاځیدو او ملګرو ته ئې ډیر ښکلے بیان وکړو وے فرمایل:

[عِبَادَ اللّٰهِ اُنْصُرُوا اللّٰهَ يَنْصُرْكُمْ وَيُثَبِّتْ اَقْدَامَكُمْ، يَا مَعْشَرَ الْمُسْلِمِيْنَ ! اِصْبِرُوْا فَاِنَّ الصَّبْرَ

Maktaba Tul Ishaat.com

مَنۡجَاةٌ مِنَ الۡكُفۡرِ وَمَرۡضَاةٌ لِلرَّبِّ وَمُدۡحِضَةٌ لِلۡعَارِ، وَلَا تَبۡرَحُوۡا مَصَافَّكُمۡ، وَلَا تَخۡطُوۡا اِلَيۡهِمۡ خَطۡوَةً، وَلَا تَبۡدَأُوۡهُمۡ بِالۡقِتَالِ وَاَشۡرِعُوۡا الرِّمَاحَ وَاسۡتَتِرُوۡا بِالدَّرَقِ وَالۡزَمُوۡا الصَّمۡتَ اِلَّا مَنۡ ذِكۡرِ اللّٰهِ فِيۡ اَنۡفُسِكُمۡ حَتّٰى آمُرَكُمۡ اِنۡ شَاءَ اللّٰهُ]

چه اے د الله بندګانو! د الله تعالیٰ د دین مدد وکړئ الله تعالیٰ به تاسو سره مدد کوی او ستاسو قدمونه به مضبوط کړی، اے د مسلمانانو ډلے! صبر کوئ ځکه چه صبر د کفر نه خلاصیدل راولی او رب رضا کوی، او شرم ختموی، او د خپلو صفونو نه مهٔ خوزیږئ او هغوی طرفته یو قدم هم مهٔ ورمخکښے کیږئ، او دوئ باندے اول قتال مهٔ شروع کوئ او نیزے رابنکاره کړئ او په ډهالونو ځانونه پټ کړئ او غلی ودریږئ مګر ځانونو سره د الله تعالیٰ ذکر کوئ تردے چه زهٔ به تاسو ته ان شاء الله امر وکړم۔ دائے خپلے دستے ته وویل۔

او معاذ بن جبل ﷺ خلکو ته راووتو داسے ئے وفرمایل:

[يَا اَهۡلَ الۡقُرۡآنِ وَمُتَحَفِّظِيۡ الۡكِتَابِ وَاَنۡصَارَ الۡهُدٰى وَالۡحَقِّ اِنَّ رَحۡمَةَ اللّٰهِ لَا تُنَالُ وَجَنَّتَهٗ لَا تُدۡخَلُ بِالۡاَمَانِيۡ، وَلَا يُؤۡتِي اللّٰهُ الۡمَغۡفِرَةَ وَالرَّحۡمَةَ الۡوَاسِعَةَ اِلَّا الصَّادِقَ الۡمُصَدِّقَ اَلَمۡ تَسۡمَعُوۡا لِقَوۡلِ اللّٰهِ: ﴿ وَعَدَ اللّٰهُ الَّذِيۡنَ آمَنُوۡا مِنۡكُمۡ وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ لَيَسۡتَخۡلِفَنَّهُمۡ فِي الۡاَرۡضِ كَمَا اسۡتَخۡلَفَ الَّذِيۡنَ مِنۡ قَبۡلِهِمۡ ﴾ (النور: ۵۵) فَاسۡتَحۡيُوۡا رَحِمَكُمُ اللّٰهُ مِنۡ رَّبِّكُمۡ اَنۡ يَّرَاكُمۡ فِرَارًا مِنۡ عَدُوِّكُمۡ وَاَنۡتُمۡ فِيۡ قَبۡضَتِهٖ وَلَيۡسَ لَكُمۡ مُلۡتَحَدٌ مِنۡ دُوۡنِهٖ وَلَا عِزٌّ بِغَيۡرِهٖ]

[البداية والنهاية: ۱۲/۷]

اے قرآن والو! او د الله تعالیٰ د کتاب یادونکو او د هدایت او حق مدد ګارو! یقیناً رحمت د الله تعالیٰ نهٔ حاصلیږی او د هغهٔ جنت ته په ارزګانو باندے داخلیدل نشی کیدے، او الله تعالیٰ بخنه او فراخه رحمت صرف هغه چا ته ورکوی چه رشتینی وی او یقین کونکے وی، آیا تاسو د الله تعالیٰ دا قول نهٔ دے آوریدلے: الله وعده کریده د هغه خلکو سره چه ایمان ئے راوړے ستاسو نه او نیك عملونه ئے کریدی چه خامخا به ورته په زمکه کښے خلافت ورکوی لکه څنګه ئے چه د دوئ نه مخکنو خلکو ته ورکړے

نو د خپل رب نه حیاء وکړئ ددے نه چه تاسو د دشمن نه په تیښته وینی او حال دا چه تاسو د هغهٔ په قبضه کښې یئ او ستاسو دپاره د هغهٔ نه سوئ بل ځائے د پناهئ نشته او د هغهٔ نه بغیر عزت نشته۔

عمرو بن العاص ﷺ راپاڅیدو او وے فرمایل :

[يَا أَيُّهَا الْمُسْلِمُوْنَ ! غُضُّوا الْأَبْصَارَ، وَاجْثُوْا عَلَى الرُّكَبِ وَاَشْرِعُوا الرِّمَاحَ، فَإِذَا حَمَلُوْا عَلَيْكُمْ فَأَمْهِلُوْهُمْ حَتّٰى إِذَا رَكِبُوْا أَطْرَافَ الْأَسِنَّةِ فَثِبُوْا إِلَيْهِمْ وَثْبَةَ الْأَسَدِ، فَوَالَّذِيْ يَرْضَى الصِّدْقَ وَيُثِيْبُ عَلَيْهِ وَيَمْقُتُ الْكَذِبَ وَيَجْزِيْ بِالْإِحْسَانِ إِحْسَانًا، لَقَدْ سَمِعْتُ أَنَّ الْمُسْلِمِيْنَ سَيَفْتَحُوْنَهَا كَفْرًا كَفْرًا وَقَصْرًا وَقَصْرًا فَلَا يَهُوْلُكُمْ جُمُوْعُهُمْ وَلَا عَدَدُهُمْ، فَإِنَّكُمْ لَوْ صَدَقْتُمُوْهُمُ الشَّدَّ تَطَايَرُوْا تَطَايُرَ أَوْلَادِ الْحَجَلِ]

اے مسلمانانو ! سترگے خکته کړئ او په زنگنونو باندے پریوزئ او نیزے راوباسئ، نو کله چه دوئ په تاسو باندے حمله وکړی نو لږ وخت ورته وگورئ تردے چه کله دوئ ښهٔ رانزدے شی، او د نیزو په اطرافو باندے سوارهٔ شی نو بیا پرے د زمری په شان ورتهوپ کړئ، قسم په هغه ذات چه رشتیا خوښوی او په دے باندے بدله ورکوی او دروغ باندے غصه کیږی او په نیکئ باندے نیکه بدله ورکوی، یقیناً ما آوریدلی دی چه مسلمانان به دا علاقه فتح کوی، یو یو کلے او یوه یوه بنگله به نیسی نو تاسو د دوئ د ډلو او شمار نه مهٔ پریشانه کیږئ، ځکه چه که تاسو رشتینی حمله په دوئ باندے وکړئ نو دوئ به داسے آلوزی لکه د زرکے په بچی چه یو گوزار وکړے نو تول والوزی۔

بیا لاړو او په صف کښې ودریدو۔

ابو سفیان رضی الله عنه وفرمایل :

[يَا مَعْشَرَ الْمُسْلِمِيْنَ ! أَنْتُمُ الْعَرَبُ وَقَدْ أَصْبَحْتُمْ فِيْ دَارِ الْعَجَمِ مُنْقَطِعِيْنَ عَنِ الْأَهْلِ نَائِيْنَ عَنْ أَمِيْرِ الْمُؤْمِنِيْنَ وَأَمْدَادِ الْمُسْلِمِيْنَ، وَقَدْ وَاللّٰهِ أَصْبَحْتُمْ بِإِزَاءِ عَدُوٍّ كَثِيْرٍ عَدَدُهُ، شَدِيْدٍ عَلَيْكُمْ حَنَقُهُ، وَقَدْ وَتَرْتُمُوْهُمْ فِيْ أَنْفُسِهِمْ وَبِلَادِهِمْ وَنِسَائِهِمْ، وَاللّٰهِ لَا يُنْجِيْكُمْ مِنْ هٰؤُلَاءِ الْقَوْمِ وَلَا يَبْلُغُ بِكُمْ رِضْوَانَ اللّٰهِ غَدًا إِلَّا بِصِدْقِ اللِّقَاءِ وَالصَّبْرِ فِي الْمَوَاطِنِ الْمَكْرُوْهَةِ، أَلَا

Maktaba Tul Ishaat.com

وَاِنَّهَا سُنَّةٌ لَازِمَةٌ وَاِنَّ الْاَرْضَ وَرَاءَ كُمْ، بَيْنَكُمْ وَبَيْنَ اَمِيْرِ الْمُؤْمِنِيْنَ وَجَمَاعَةِ الْمُسْلِمِيْنَ صَحَارِىْ وَبَرَارِىْ، لَيْسَ لِاَحَدٍ فِيْهَا مَعْقِلٌ وَلَا مَعْدِلٌ اِلَّا الصَّبْرُ وَرَجَاءَ مَا وَعَدَ اللّٰهُ فَهُوَ خَيْرُ مُعَوَّلٍ، فَامْتَنِعُوْا بِسُيُوْفِكُمْ وَتَعَاوَنُوْا بِهَا وَلْتَكُنْ هِىَ الْحُصُوْنَ]

اے د مسلمانانو ډلے ! تاسو عرب يئ او د عجمو علاقو ته راغلي يئ، د خپل اهل او د امير المؤمنين او د مسلمانانو د مددونو نه راجدا شوی يئ، او تاسو قسم په الله د داسے دشمن سره مخامخ شوی يئ چه شمار ئے زيات دے، او په تاسو باندے سخت غصه دی، ځکه چه تاسو دوئ لره په نفسونو او ښارونو او زنانو کښے پريشانه کړيدی، قسم په الله تعالیٰ تاسو ددے خلکو نه نشئ خلاصيدے، او تاسو د الله رضا ته صبا له نشی رسولے مگر دا چه رشتينی جنگ وکړئ او په سختو ناگواره ځايونو کښے صبر وکړئ، خبر شئ ! دا لازمی سنت او طريقه ده، زمکه ستاسو نه روستو ده او ستاسو او د امير المؤمنين او د مسلمانانو د جماعت ترمينځ دشتے او صحراگانے دی چه په هغے کښے نۀ د حفاظت قلعه شته او نۀ د آوړيدو ځائے مگر صبر دے او د الله تعالیٰ د وعدے اميد دے،

بس همدا ستاسو دپاره د اعتماد غوره ځائے دے، نو په خپلو تورو سره ځانونه محفوظ کړئ، او يو بل سره پدے باندے تعاون وکړئ، او همدا تورے به ستاسو دپاره د حفاظت قلعه گانے جوړيږی۔

بيا زنانو خوا ته ورغلو او هغوی ته ئے هم وصيت وکړو، بيا راواپس شو او آواز ئے وکړو:

[يَا مَعَاشِرَ اَهْلِ الْاِسْلَامِ ! حَضَرَ مَا تَرَوْنَ فَهٰذَا رَسُوْلُ اللّٰهِ وَالْجَنَّةُ اَمَامَكُمْ، وَالشَّيْطَانُ وَالنَّارُ خَلْفَكُمْ]

اے د مسلمانانو ډلو ! هغه شے حاضر شويدے چه تاسو ئے وينئ، دا رسول الله ﷺ او جنت ستاسو مخے ته دی او شيطان او اُوز ستاسو نه شا ته دے۔ (يعنی رسول الله ﷺ راياد کړئ چه هغۀ دغسے جهادونه کړيدی او مخے ته جنت ته روان يئ، د هغے استحضار وکړئ)

ددے نه پس خپل د ودريدو ځائے ته واپس لاړو۔

دلته ابو هريره رضی الله عنه پاڅيدو او ښکلے نصيحت ئے وکړو: او د جنت فضائل او د

حورعین صفات ئے بیان کړل، او شهادت سره سمدست ته جنت ته رسیدل ئے بیان کړل، وے فرمایل :

[سَارِعُوْا اِلَى الْحُوْرِ الْعِيْنِ وَجِوَارِ رَبِّكُمْ عَزَّ وَجَلَّ فِيْ جَنَّاتِ النَّعِيْمِ، مَا اَنْتُمْ اِلٰى رَبِّكُمْ فِيْ مَوْطِنٍ بِاَحَبَّ اِلَيْهِ مِنْكُمْ فِيْ مِثْلِ هٰذَا الْمَوْطِنِ، اَلَا وَاِنَّ لِلصَّابِرِيْنَ فَضْلَهُمْ]

په جلتئ سره راپورته شئ هغه حوروته چه غټو سترګو والا دی، او د خپل رب ګاونډ ته په جنتونو د نعمتونو کښے، تاسو خپل رب ته په هیڅ موقعه کښے دومره محبوب نهٔ یئ لکه ددے موقعے په شان، خبر شئ چه د صبرناکو خلکو ډیر لوی فضیلت دے۔

او ابوسفیان ﷺ به هرے دستے مخے ته راتللو او داسے به ئے وئیل :

[اَللّٰهَ، اَللّٰهَ اِنَّكُمْ دَارَةُ الْعَرَبِ وَاَنْصَارُ الْاِسْلَامِ، وَاِنَّهُمْ دَارَةُ الرُّوْمِ وَاَنْصَارُ الشِّرْكِ، اَللّٰهُمَّ اِنَّ هٰذَا يَوْمٌ مِنْ اَيَّامِكَ، اَللّٰهُمَّ اَنْزِلْ نَصْرَكَ عَلٰى عِبَادِكَ]

د الله لحاظ وکړئ، تاسو د عربو دارو مدار یئ او د اسلام مددګار یئ، او دا خلك د رومیانو دارومدار دی او د شرك مددګار دی، اے الله ! دا د امتحان یوه ورځ ده ستا د ورځو نه، نو اے الله ! په خپلو بندګانو باندے مدد نازل کړه۔

زنانه هم پدے جهادونو کښے وے، هغوی ئے شا ته په خیمو کښے کینولے، د مهاجراتو مسلمانانو زنانو ډیر لوی شمار پدے معرکه کښے حاضر وو، هغوی د خپلو خاوندانو او ځامنو سره راغلے وے،

دا ئے ددے دپاره راوخکلے وے چه کله به هغوی هم جهاد کولو لکه پدے معرکه کښے مسلمانانو زنانو هم ډیره قربانی ورکړیده۔ دا زنانه ئے د مسلمانانو د صفونو شا ته کینولے وے، او د دوئ مخے ته ئے کانړی اچولی وو،

ابوسفیان ﷺ دوئ ته وویل چه کله د مسلمانانو سرو نه څوك تاسو ته راروستو کیدو نو تاسو به ئے پدے کانړو سره ولئ او بیرته به ئے مخکنو صفونو ته واپس کوئ، نو کله چه به مسلمانان د دوئ خوا ته راغلل نو دوئ به ورته وئیل چه آیا تاسو د اسلام او د مسلمانانو نه تیښته کوئ او مونږ د دشمنانو په زمکه کښے یو؟۔

دویمه وجه د زنانو د راوخکلو دا وه چه دا مسلمانان ابوبکر صدیق ﷺ د ډیرے مودے

Maktaba Tul Ishaat.com

دپاره د مدینې او د مختلفو علاقونه د متواترو جنګونو دپاره راوخکلی وو نو د دوئ تول ژوند په جهاد کښې وو نو پدې وجه د دوئ کور او اهل به د دوئ سره ګرزیدو۔

هرکله چه رومیان په خپل تکبر او فخر کښې رامخامخ شول چه د دغه علاقې اطراف ئې پټ کړی وو، غونډئ او هوارې زمکې، ګویا که یوه توره وریځ ده، چه ګړزارې کوی، (یعنی په اُوچتو آوازونو او چغو کښې راروان وو)

او د دوئ اساقفه او راهبانو انجیل لوستلو او صلیبونه ورسره وو، او خپلو فوجونو ته په قتال باندې تیزی ورکوی،

او خالد بن ولید ﷺ د خپلو تولو فوجونو مخې ته د اسونو والو سره وو، نو خپل اس ئې ابوعبیده بن الجراح ﷺ ته وروستو او دائې ورته وویل چه زۀ یوه مشوره کوم، هغه وویل :وایه، زۀ به ئې آورم او منم به،

خالد ﷺ ورته وویل : ما ته اندازه لګی چه دا خلك به په یو ځل ډیره لویه حمله کوی چه د هغې نه د دوئ خلاصے نشته، نو زۀ د خپل فوج په ښی او ګس طرف باندې یریږم چه دوئ به شکست وخوری، نو زما رایه دا ده چه زۀ دا اسونو والا دوه ډلے جوړ کړم او دوئ د ښی او ګس طرف والا دستو شا ته ودریږی نو کله چه رومیان دوئ لره په حملے سره شا ته کوی نو دا اسونو والا شاهسواران به ورته د شا ته نه راځی۔

نو ابوعبیده ﷺ ورته وویل ډیره ښه رایه دې ورکړه۔ همداسې پکار ده۔

نو په یوه دسته د اسونو کښې خالد بن ولید ﷺ د ښی طرف والو شا ته شو او په بله دسته د شاهسوارانو باندې ئې قیس بن هُبیره رضی الله عنه (مشهور پهلوان) مقرر کرو،

او ابوعبیده ﷺ ته ئې حکم وکړو چه د قلب الجیش (مینځنی حصے لښکر) نه روستو شی او د ټول لښکر شا ته آخر ته لاړ شی دې دپاره چه کله شکست خوړونکے دۀ لره وینی نو حیاء به ورشی نو بیرته به قتال ته راواپس شی،

نو ابوعبیده ﷺ په قلب الجیش (مینځ د لښکر) کښې د خپل ځان په ځائې سعید بن زید ﷺ (کوم چه عشره مبشره ؤ کښې دې) ودرولو۔

او خالد بن ولید ﷺ د فوج نه شاته زنانو طرفته ورغلو چه د هغوی سره یو شمیر

تورے وغیره وے، نو دائے ورته ووئیل چه تاسو کوم مسلمان لیدو چه شائے راړه وله نو په توروئے اُوهیٔ بیا خالد ﷺ خپل ځائے ته بیرته راواپس شو.

تذارق ته د اسلام دعوت

هرکله چه دواړه ډلے یو بل ته رانزدے شوے نو پدے کښے مسلمانانو (لکه ابوعبیده بن الجراح ﷺ، یزید بن ابی سفیان ﷺ، ضرار بن الازور ﷺ، حارث بن هشام ﷺ او ابوجندل بن سهیل ﷺ)، اوله یوه طریقه ئے داسے اختیاره کړه چه د نصاراؤ یو مشر "تذارق" نه ئے مطالبه وکړه (چه دا د هرقل بادشاه ورور وو) چه مونږ سره ځانله کینه تا سره زمونږ څه خبرے اترے دی،

خالد بن ولید ﷺ راطلب کړو چه ته راشه، دلته خالد ﷺ هم ورغے د څه کسانو سره نو د هغهٔ یوه خیمه وه چه د وریښمو نه ئے جوړه کړے وه، نو دوئ منع وکړه چه مونږ دے ته نهٔ درننوزو، مونږ اسلام ددے نه منع کړی یو،

بیا هغهٔ ووئیل چه دے بلے خیمے ته راشئ، دوئ چه هلته وکتل نو د وریښمو بسترے ئے اچولے وے، دوئ ورته ووئیل چه مونږ خپل دین ددے نه هم منع کړی یو، پدے مونږ نهٔ کینو، دا لرے کړئ،

(په داسے مقاماتو کښے هم د الله تعالیٰ د دین داسے پابندی کوی، غلط سیاست نه کار نهٔ اخلی چه خیر دے، شرم دے) نو هغوی خبره اُومنله، هغه ئے لرے کړل، بیا د هغوی سره د صلح خبرے اترے وشوے، جانبینو د صلح مطالبه وکړه، خو اتفاق پرے رانغے، او الله تعالیٰ طرف ته ئے دعوت ورکړو لیکن هغوی ونهٔ منلو نو دوئ ترے بیرته راواپس شول.

پدے کښے د دوئ یو بل مشر راووتو چه ماهان ئے نوم وو، هغه د مسلمانانو پسے توقے وکړے، خالد بن ولید ﷺ او د هغهٔ ملګروته ئے ووئیل چه تاسو راشئ، هرکله چه دوئ ورغلل نو هغهٔ ووئیل:

[إِنَّا قَدْ عَلِمْنَا اَنَّ مَا اَخْرَجَكُمْ مِنْ بِلَادِكُمُ الْجَهْدُ وَالْجُوْعُ، فَهَلُمُّوْا اِلَيَّ اَنْ اُعْطِيَ كُلَّ رَجُلٍ مِنْكُمْ عَشْرَةَ دَنَانِيْرَ وَطَعَامًا وَتَرْجِعُوْنَ اِلٰى بِلَادِكُمْ، فَاِذَا كَانَ الْعَامُ الْمُقْبِلُ بَعَثْنَا لَكُمْ

بِمِثْلِهَا]

چه مونږ ته یقینی پته ده چه تاسو چه زمونږ د جنګ دپاره د خپلو علاقو نه راغلي یئ نو تاسو لوږے او مشقت راخستی یئ، (دلته د ډوډئ پسے راغلی یئ) نو داسے وکړئ چه ستاسو هر یو مجاهد ته بهٔ لس لس دنانیر او یوه یوه جوړه جامے ورکړو، او ځئ واپس شئ او جنګونه مونږ سره مهٔ کوئ او کال چه تیر شو بیا به لس لس دنانیر درکړو- دا د توقو نه ډک الفاظ ئے وویل-

نو خالد بن ولید ﷺ ورته وویل :

[اِنَّهٗ لَمْ يُخْرِجْنَا مِنْ بِلَادِنَا مَا ذَكَرْتَ، غَيْرَ اَنَّا قَوْمٌ نَشْرَبُ الدِّمَاءَ، وَاِنَّهٗ بَلَغَنَا اَنَّهٗ لَا دَمَ اَطْيَبَ مِنْ دَمِ الرُّوْمِ فَجِئْنَا لِذٰلِكَ]

چه مونږ هغه خلك یو چه وینے سکو، مونږ عرب یو، او مونږ آوریدلی دی چه د رومیانو وینی ډیرے خوږے دی، نو مونږ دے لره راغلی یو چه ستاسو وینی وڅکو،

نو پدے کښے د رومیانو نورو خلکو چه دا خبره واوریده چه دا خو رشتیا ده چه مونږ به آوریدل چه عرب آدم خوارهٔ دی، وینی څکی، دا خو رشتیا شوه دوئ خپله هم وائی چه مونږه وینے سکو، نو یو قسم رعب پرے راغے-

د قتال شروع

بیا خالد بن ولید ﷺ عکرمه بن ابی جهل ﷺ او قعقاع بن عمرو تمیمی ﷺ ته حکم وکړو (چه دواړه د قلب الجیش په اړخونو کښے وو) چه قتال شروع کړئ نو دواړو قتال شروع کړو او شعرونه ئے وئیل، قعقاع وویل :

يَا لَيْتَنِيْ اَلْقَاكَ فِي الطِّرَادِ	قَبْلَ اعْتِرَامِ الْجَحْفَلِ الْوَرَّادِ
وَاَنْتَ فِيْ حَلْبَتِكَ الْوِرَادِ	

اے ارمان چه زهٔ تاسو سره د اسونو په زغلولو کښے ملاؤ شم مخکښے د راتلونکی فوجونو د جنګیدو نه په داسے حال کښے چه تهٔ د خپلو راتلونکو اسونو په دسته کښے

Maktaba Tul Ishaat.com

ئې۔

او عکرمه ﷺ وویل :

قَدُ عَلِمَتُ بَهُكَنَةُ الْجَوَارِیْ	اَنِّیْ عَلٰی مَکْرُمَةٍ اُحَامِیْ

یقیناً عزتمنې ښځې ته معلومه ده چه زهٔ د عزتونو مدافعت کوم او د هغې دپاره جنګیږم۔

نو قتال شروع شو او خلك یو بل کښې ننوتل، او اسونو والو هم اسونه وزغلل، نو دې وخت کښې یو شخص مَحمیه بن زنیم ﷺ د مدینې نه راغلو او د هغهٔ سره خط وو، خالد بن ولید ﷺ ته ئې پدې میدان د معرکه کښې ورکړو چه په هغې کښې ئې د ابوبکر صدیق ﷺ د مرګ اطلاع ورکړې وه، او د عمر بن الخطاب رضی الله عنه د خلیفه کیدو او د ابوعبیده بن الجراح ﷺ د ټول شام امیر جوړه ول، او د خالد بن ولید ﷺ معزول کولو حکم وو، او خالد ته ئې وویل چه ما نه خلکو تپوسونه وکړل چه ما چا ته حال نهٔ دې بلکه د سلامتیا خبره مې ورته کړیده۔

نو خالد بن ولید ﷺ دغه خط د هغهٔ نه واخستو او په خپله غاړه کې کښې ئې کیخودو او هغهٔ ته ئې د خلکو په مخامخ وویل چه [اَحْسَنْتَ] چه ښهٔ کار دې وکړو۔

د خلکو نه ئې خبره پټه وساتله دې دپاره چه مسلمانان کمزوری نشی تردې چه الله تعالیٰ دشمنانو ته شکست ورکړو او د هغوی نه یو لاکھ کسان مردار شول۔

بیا د ابوعبیده ﷺ خوا ته ورغلو او هغهٔ ته ئې امارت وسپارلو۔

[تاریخ الطبری : ٢/٤٤٥، البدایة والنهایة : ٧/٥٣]

او خالد بن ولید ﷺ د پهلوانانو بهادرانو شاهسوارانو سره د صفونو مخې ته وو، او پهلوانانو به د خالد ﷺ مخامخ د دواړو فریقینو نه حملې کولې، او هغهٔ به ورته کتل او هر قوم ته به ئې د خپلو ملګرو نه کسان لیږل چه د هغوی به ورته ضرورت وو، او د جنګ پوره تدبیر او پروګرام به ئې کولو۔

دلته رومیانو اول کښې د عرب مسیحینو مشر جبله بن ایهم د خپل عربی فوج سره مسلمانانو ته هر طرف ته ورخور کړو دې دپاره چه اول کښې دوئ لږ جنګ وکړی چه مسلمانان ووهی بیا به رومیان ورپسې حمله شروع کړی مګر د الله تعالیٰ په مدد سره د

Maktaba Tul Ishaat.com

خالد بن ولید ﷛ او نورو شاهسوارانو اسونو هغوی لره وزغلول او ډیر کسان ئې د هغوی نه مردار کړل،

د جرجه اسلام قبلول

نو د رومیانو نه یو بل تن راووتو چه د هغهٔ جَرجَه (یا جرجیس) نوم وو، او خالد ﷛ ته ئې وویل چه زهٔ تا سره یوائې ودریږم، او خبره درته کوم، هغه هم په اس سور او خالد ﷛ هم په اس سور راغلو، او د یو بل سره داسې نزدې شول چه د یو بل سره ئې د اسونو څټونه ولګیدل نو جرجه وویل چه یو آزاد سړې دروغ نهٔ وی او کریم (شریف) سړې دهوکه نهٔ کوی، نو زهٔ تا نه یو څو تپوسونه کوم، صحیح جواب به راکوې، خالد ﷛ ورته وویل: وایه!

نو هغهٔ وویل: الله تعالیٰ د آسمان نه یوه توره نازله کړیده او هغه ئې تا له درکړیده او تهٔ پرې دا خلك وژنې او هر ځائې له چه ورشې فتح حاصلوې، پدې وجه تا ته سیف الله وائی، دا خبره صحیح ده؟ نو هغهٔ وویل: دا صحیح نهٔ ده، مونږ له الله تعالیٰ توره نهٔ ده رالیږلې؟ نو هغهٔ ورته وویل چه بیا تا ته سیف الله (د الله تعالیٰ توره) څنګه وائی؟

خالد ﷛ وویل چه ما ته سیف الله پدې وجه وائی چه الله تعالیٰ مونږ کښې خپل نبی رالیږلو هغهٔ مونږ ته دعوت راکړو نو مونږ د هغهٔ نه نفرت وکړو او د هغهٔ نه تول جدا شولو، بیا زمونږ نه بعض کسانو د هغهٔ تصدیق وکړو او تابعدارئې وکړه، او بعضو تکذیب وکړو او د هغهٔ نه جدا شول، او زهٔ هم په هغه کسانو کښې اُوم چه تکذیب ئې وکړو، او وړاند شول، یعنی زهٔ هم اول کښې منونکې نهٔ اُوم، بیا مې روستو اُومنله، بیا د هغهٔ تابعدار شوم،

(مطلب ئې دا وو چه زهٔ هم اول کښې سخت پښتان اُوم چه د مسلمانانو سزه به مې جنګونه کول) بیا الله تعالیٰ ما ته اسلام طرف ته هدایت وکړو، نو ما اسلام قبول کړو، بیا به زهٔ دې نبی ﷺ جهادونو له لیږلم، بیا ئې راته دعاء وکړه او دا ئې راته وویل چه تهٔ د الله تعالیٰ د تورو نه یوه توره ئې چه الله تعالیٰ په مشرکانو پسې راوخکلې ده، او ما دپاره ئې د مدد دعاء وکړه نو د هغه وخت نه ما ته سیف الله وئیلې کیږی۔

(یعنی صرف د نبی ﷺ دعاء راسره ده نور څه نشته) نو زهٔ په مسلمانانو کښې په

مشرکانو باندے ډیر سخت یم۔

نو جرجه ورته وویل چه اے خالد ! تاسو کومے خبرے ته دعوت ورکوئ ؟

خالد ﷺ وویل : ددے خبرے گواهی ته چه نشته حقدار د بندگئ سوئ د الله تعالیٰ نه او محمد ﷺ د الله تعالیٰ بنده او د هغهٔ رسول دے، او د هغهٔ په راوړې دین باندے اقرار کولو ته۔

جرجه وویل : [فَمَنْ لَّمْ يُجِبْكُمْ ؟]

چا چه ستاسو خبره ونهٔ منله نو هغهٔ سره به څه کیږی ؟

خالد ﷺ وویل : جزیه به ورکوی او مونږ به ئے حفاظت کوو۔

جرجه وویل : که جزیه ورنکړی ؟

خالد ﷺ وویل : مونږ به ورته د جنگ خبر ورکوو، بیا به ورسره جنگ کوو،

نو بیا ورته جرجه وویل چه ستاسو په اسلام کښے خلك په څه خبره داخلیږی؟

خالد ﷺ وویل : کلمه دِ دے ووائی اَشْهَدُ اَنْ لَّا اِلٰهَ اِلَّا اللهُ وَاَشْهَدُ اَنَّ مُحَمَّدًا رَّسُوْلُ اللهِ۔

بیا هغه وویل : چه دین اسلام ته داخل شی نو زمونږ دپاره به څهٔ وی ؟

خالد ﷺ وویل : مونږ دپاره چه څه وی د هغه دپاره به هم هغه وی (زمونږ چه څه حال دے د هغهٔ به هم وی)

هغهٔ وویل : څوك چه نن ستاسو په دین کښے داخل شی ددهٔ دپاره به ستاسو په شان اجر او فضیلت وی او که کم ؟

خالد ﷺ وویل : دواړه به یو شان وی بلکه ددهٔ فضیلت به په مخکنو زیات وی،

جرجه وویل : دا څنگه خبره ده چه تاسو پخوا په اسلام کښے داخل شوی یئ او مونږ به اُوس داخلیږو او زمونږ فضیلت به زیات وی ؟

خالد ﷺ وویل : آؤ، ستاسو فضیلت د یلے وجه نه زیات دے،

(دا هم ډیر کمال دے او د دعوت ښکلے طریقه ده چه دے خلکو له ورتلله، داسے ورته نهٔ وائی چه تهٔ به یو تابع ئے، ستا فضیلت کم دے، او د صحابی فضیلت ډیر زیات دے، بلکه داسے ورته وائی چه تهٔ به مونږ نه غوره ئے،

(او دا د احادیثو نه هم معلومیږی چه کله کله روستو امت په بعض خبرو کښے د مشرانو نه غوره کیږی)

Maktaba Tul Ishaat.com

وجه ئې دا بیان کړه چه مونږ چه په نبي ﷺ باندې ایمان راوړو نو مونږ هرڅه لیدلي دي، معجزې آیات او نښې نښانې، چه هغه وخت کښې مونږ ایمان نۀ راوړو نو غلطه خبره به وه، او تۀ او ستا ملګري او روستني خلك چه ایمان راوړي نو دوئ به په غیبو ایمان راوړي، هیڅ مو نۀ دي لیدلي، نو ددې وجه نه ستاسو فضیلت به په مونږ باندې ډیر وي، او دا په یو صحیح حدیث کښې دي :

[طُوْبٰى لِمَنْ رَآنِيْ وَآمَنَ بِيْ وَطُوْبٰى سَبْعَ مَرَّاتٍ لِمَنْ آمَنَ بِيْ وَلَمْ يَرَنِيْ]

[مسند احمد : ٢٢١٩٢، صحیح ابن حبان : ٧٢٣٠ حسن لغیره]

هغه چا لره خوشحالي ده چه زۀ ئې لیدلے یم او په ما باندې ئې ایمان راوړیدے (طُوْبٰى په جنت کښې ونه ده او د جنت نوم هم دے، او د خوشحالۍ معنی ئې هم ده) او اُوه (٧) کرته خوشحالي ده هغه چا لره چه په ما ئې ایمان راوړے او زۀ ئې نۀ یم لیدلے)

دې زمانه کښې چه څوك په محمد رسول الله ﷺ ایمان راوړي نو رسول الله ﷺ ورته اُوه (٧) ځله د خوشحالۍ دعا کړې ده.

یوه ورځ نبي ﷺ د ملګرو نه تپوس وکړو چه ستاسو په نیز د چا ایمان ډیر ناشنا دے ؟ هغوي وویل : ملائك،

نبي ﷺ وفرمایل : چه ملائك به ولې ایمان نۀ راوړي حال دا چه هغوي خو الله تعالیٰ بره د ځان سره په آسمان کښې اُوسه ولي دي،

هغوي وویل : پیغمبران،

وې فرمایل : دوئ باندې خو وحي نازلیږي نو دوئ به ولې ایمان نۀ راوړي.

عرض ئې وکړو : زمونږ ایمان.

وې فرمایل : تاسو به ولې ایمان نۀ راوړئ حال دا چه زۀ ستاسو مینځ کښې یم او وحي هره ورځ نازلیږي او تاسو ئې ګورئ. نو صحابه کرام رضی الله عنهم غلي شول.

نو نبي ﷺ وفرمایل : زما په نیز باندې تعجبي ایمان والا هغه خلك دي چه روستو به راځي، نۀ به ئې الله تعالیٰ لیدلے وي، نۀ به ئې جبریل علیه السلام، نۀ به ئې رسول الله ﷺ لیدلے وي، او صرف د قرآن او حدیث پاڼړې به ئې لیدلي وي په هغې به ایمان راوړي.

Maktaba Tul Ishaat.com

[يَجِدُوْنَ صُحُفًا يُؤْمِنُوْنَ بِمَا فِيْهَا]

هغوی به کتابونه او قرآنونه مونده کوی او په هغې کښې چه څه دی په هغې به ایمان لری۔

[رواه ابو يعلي والبزار والحاكم والبيهقي في الدلائل واسناده حسن لغيره۔ تخريج وآثار كتاب في ظلال القرآن : ١/ ٢٩٠ والصحيحة : ٧/ ٦٥٤-٦٥٧ رقم : ٣٢١٥]

(او د الله تعالیٰ همداسې ایمان خوښ وی چه په غیبو سره وی)

دا حدیث زمونږ د روستنی امت دپاره ډیر د خوشحالئ لائق حدیث دے، ځکه چه اُوس خو هغه د خیر والا خلك د نیشت په درجه کښې دی چه د هغوی مجالسو ته به انسان ورغلو نو ایمان به ئې تازه کیدو، د صحابه کرامو او د امت سلفو ته په کتلو به زړونه ژوندی کیدل۔

الغرض : دغه شخص (جرجه) ووېل چه زما خو دا ایمان خوښ شو زهٔ هم پکښې داخلیږم، نو دے وخت کښې جرجه خپل د هال اُلټه کړو او خالد ﷺ طرفته مائل شو،

نو خالد ﷺ ورته ووېل چه راځه۔

نو خپلې خیمې ته ئې بوتللو او اُوبهٔ ئې ورله ورکړې او دا ئې ورته ووېل چه پدې غسل وکړه، او دوه رکعاته مونځ ئې پرې وکړو، او کلمه ئې ورته وخودله،

نو رومیانو دا گمان وکړو چه زمونږ مشر ورغلو او څه حیله او چل جوړه وی، یا دا د خالد ﷺ حمله ده چه زمونږ په مشر ئې وکړه، دا پته ورته نشته چه جرجه ایمان راوړو،

نو هغوئ سمدست حمله وکړه ځکه چه په خپله غَطْرَسَه (تکبر) کښې وو، نو د مسلمانانو ښي طرف له ئې شکست ورکړو، شا ته ئې بوتلل سوئ د حفاظتی دستې نه چه د هغوی مشر عکرمه بن ابی جهل ﷺ او حارث بن هشام ﷺ وو، او مسلمانان شا ته لاړل تر خپل معسکره پورې او څه مسلمانان پکښې شهیدان شو،

نو پدې مابین کښې زنانه راپاڅیدې او مسلمانانو ته ئې ووېل چه دا تاسو څه کوئ شا ته راځئ، ولې مونږ کافرو له لاس کښې ورکوئ، دا کوم غیرت دے او دانگی ئې راواخستل او مسلمانانو ته ئې نیغ کړل چه هغوی ئې وهل،

نو هغوی له ئې غیرت وروستو او بیرته خپلو صفونو ته واپس شول،

نو د مسلمانانو په گس طرف باندې حمله وشوه نو دے طرف له ئې هم شکست

Maktaba Tul Ishaat.com

ورکړو ځکه چه رومیان د سیلاب په شان زیات وو، او زوره ور هم وو او په جنګ کښې تکړه هم وو، نو دلته هم مسلمانانو ته ډیر تکلیف ورسیدو،

بیا زنانه راغلې او مسلمانانو ته ئې غیرت ورکړو،

نو پدې کښې خالد بن ولید ﷺ چه جرجه ورسره وو د مسلمانانو صفونو مینځ ته راننوتو، او په تورو سره ئې حمله شروع کړه په اتلس زره (۱۸۰۰۰) کسانو سره نو ډیره سخته حمله ئې وکړه چه د ورځې د ابتداء نه شروع وه تر نمر پریوتو ته نزدې پورې،

او مسلمانانو د ماسپښین او مازیګر مونځ په اشاره سره وکړو،

او پدې جنګ کښې جرجه رحمه الله د الله تعالیٰ رحمت ته ورسیدو، او صرف دغه دوه رکعاته مونځ ئې وکړو کوم باندې چه اسلام ته راننوتو

نو پدې جنګ سره رومیان وجړقولې شول، نو مسلمانانو له الله تعالیٰ مدد راولیږلو او دعاګانې طلب شوې او اُوږده معرکه وه چه روایاتو کښې راغلي دي چه دا شپږ (٦) ورځې جاري وه،

او هره ورځ به مسلمانانو د رومیانو حملې واپس کولې او کلك به ورته ولاړ وو، ځکه خالد بن ولید ﷺ به په خپله تیزه دسته د اسونو سره د یو ځائې نه بل ځائې ته نقل کیدو، کوم ځائې چه به مسلمانان د رومیانو د سختو حملو په وجه شا ته راتلل، نو خالد او د هغهٔ شاهسواران ملګرې به د اسونو سره ورمخکښې کیدل،

هره ورځ به د سهار نه جنګ شروع کیدو او د ورځې په آخر به ختمیدو،

هره ډله به بیرته اولنی صفونو یا معسکراتو ته واپس کیدل۔

خبره همدغسې څلور (٤) ورځې وچلیدله چه پدې ورځو کښې د رومیانو خساره د مسلمانانو په نسبت ډیره وه،

په پنځمه ورځ کښې ډیر جنګ ونشو پدې وجه چه رومیانو یو استازې راولیږلو او خالد ﷺ ته ئې پیشکش وکړو چه درې ورځې به جنګ اُودره وو، بیا به جنګ شروع کړو مګر خالد ﷺ ورته په سختئ سره جواب ورکړو:

[نَحْنُ مُسْتَعْجِلُوْنَ لِإِنْهَاءِ عَمَلِنَا هٰذَا]

زمونږ جلتی ده، دا خبره به فیصله کوو او خبره به یو طرف ته کوو۔

په شپږمه (٦) ورځ باندې خالد بن ولید ﷺ استراتیجی منصوبه بدله کړه،

Maktaba Tul Ishaat.com

هغه دا چه د دفاع نه هجوم (په یو ځل باندې حمله) کولو ته نقل شو، او خپله به د اسونو په دسته باندې د مشرئ په وجه باندې د رومیانو کس طرف باندې حمله وکړه، او هغه ئې د شا ته نه راونیوله او څه کسان ددې دستې نه شا ته د رومیانو اسونو سره اُونښتل او هغوی ئې سخت راګیر کړل چه لاره ئې ترې خطاء کړه او نور مسلمانان هره ډله د خپل مقابلې ډلې سره مخامخ په مخامخ ونښتل۔
چه ددې ورځو تفصیل څه داسې دې :

اوله ورځ :


د یرموك جنګ په ۱۵ اګست ٦٣٦م کښې شروع شو هرکله چه صبا راوختو دواړو فوجونو یو بل ته د جنګ دپاره صفونه وتړل چه د یو بل نه د یو میل په اندازه جدا وو، مسلمانانو ته اوله فتح دا راغله چه جرجه ایمان راوړو، او د مسلمانانو په صفونو کښې داخل شو او بیا شهید شو، او دې د رومي فوج په "مینځنۍ" دسته کښې ښي طرف باندې مشر وو، او دې رومیانو په شپیته زره (٦٠،٠٠٠) کسانو باندې مشر کړې وو۔
قتال په اوله ورځ پدې طریقه شروع شو چه پهلوانان د دواړو ډلو نه دوه په دوه د یو بل سره ملاؤ شول چه مسلمانان پهلوان د تورو او نیزو په چلولو تجربو کښې ډیر مخکښې وو، نو پدې سره ئې د رومیانو لوی لوی قائدین ډیر زیات قتل کړل دې دپاره چه د هغوی عزیمت او همت ختم کړي۔
دلته ماهان امر وکړو چه درې (۳) ډلې د فوج دې په مسلمانانو په یو ځل هجوم (حمله) وکړي لیکن د الله تعالیٰ کار ته وګوره چه رومیان په دومره غټه ډله کښې شریك جنګ کولو باندې اموخته نهٔ وو نو پدې وجه په دې اوله ورځ باندې عادي طریقې سره جنګ وشو اګرکه په بعض ځایونو کښې ډیر سخت وو۔
ماهان نشو کولې چه خپل پیاده فوج ته مدد ورسوی تردې چه ماښام شو، او د نمر په پریوتو باندې دواړه ډلې د یو بل نه خپلو خپلو خیمو ته واپس شوې۔

Maktaba Tul Ishaat.com

معرکه د یرموك
اوله ورځ













Maktaba Tul Ishaat.com

دویمه ورځ :

ماهان خپل قوم تیار کړو چه سهار وختی به په تیارهٔ کښې حمله کوو په داسې وخت کښې چه د مسلمانانو فوجونه تیار نهٔ وی، لیکن خالد بن ولید " د ماښام نه په پټه خلك څوکیدارئ ته کینولی وو چه د رومیانو دا منصوبه ئے ناکامه کړه۔


معرکه شروع شوه چه پدے کښې د مسلمانانو مَیمَنَه (ښی طرف لښکر) او مَیُسَرَه (ګس طرف لښکر) په شا باندے راغلل، نو دے مینځ ته خالد بن ولید " راغلو چه کله به د ښی طرف والو مدد ته ورتللو او کله به ګس طرف والو ته،


نو دلته خالد بن ولید " خپله د اسونو والا دسته تقسیم کړه یوه دسته ئے ضرار بن الازور رضی الله عنه ته ورکړه چه دا د رومیانو د قلب الجیش د ښی طرف نه مقابله وکړی نو پدے سره ضرار بن الازور رضی الله عنه د رومیانو یو لوی قائد "دریُجان" قتل کړو سره ددے نه چه دوه زره (۲۰۰۰) شاهسواران د هغهٔ څوکیدارئ ته ولاړ وو۔

نو کله چه "دریجان" قتل شو،

او دارنګه ماهان چه کومه منصوبه جوړه کړے وه هغه ناکام شوه نو دے کار د رومیانو د جنګیانو په نفسیت باندے ډیر لوی اثر وغورزولو چه پدے سره د مسلمانانو د لښکرو معنویات قوی شول۔

Maktaba Tul Ishaat.com





Maktaba Tul Ishaat.com

دریمه ورځ :

پرونۍ ورځ باندې چه کوم حالات راغلل چه "دریجان" پکښې قتل شو نو رومیانو پدې ورځ باندې په یو خاص مقام باندې جنګ شروع کړو چه هغه مَیْمَنَةُ الْجَیْش (ښي طرف دسته) وه چه دا د عمرو بن العاصؓ په قیادت کښې وه، او ددۀ په مقابله کښې د رومیانو مشر "قناطر" یا "قماطر" السُّلافی وو،


او د اسلامي فوج قلب الجیش (مینځنۍ دسته) د ښي طرف نه د شرحبیل بن حسنهؓ " په قیادت کښې وو چه ددۀ په مقابله کښې "ماهان" ولاړ وو،


نو رومیانو د عمرو بن العاصؓ په دسته باندې حمله شروع کړه دې دپاره چه دا د نور لښکر نه جدا کړي نو هغوی ورته څه وخت پورې کلك ودریدل مګر د "قناطر" فوج د کثرت په وجه د مسلمانانو عمرو بن العاصؓ طرف روستو بوتللو نو دلته د شرحبیل بن حسنهؓ فوج هم لږ شان راروستو شو،

نو پدې مینځ کښې د مسلمانانو شاهسوارانو راودانګل (چه ددینه دویمه مرحله جوړیږي) چه د رومیانو هجوم منع کړي نو هغوی د رومیانو د ګس طرف فوج نه تاو شول یعني د هرې جنډې شمالي طرف نه۔ (ځکه چه جنډه به مینځ کښې وه)

دې نه روستو د خالد بن ولیدؓ د اسونو تیزه دسته په تیزۍ سره رانښوتل او د ماهان د رامخکښې شوی لښکر سره ئې مقابله شروع کړه کوم چه شرحبیل بن حسنهؓ " لره راروستو کړې وو، نو دوئ په شریکه د رومیانو حملې د یو طرف او بل طرف نه منع کړې تردې چه ماښام شو، او رومیان خپلو اصلي ځایونو ته واپس شول کوم چه ابتدائي ځایونه د معرکې وو۔

Maktaba Tul Ishaat.com






Maktaba Tul Ishaat.com

څلورمه ورځ:

پدے ورځ هم رومیانو په همدغه طرف د عمرو بن العاص " او شرحبیل بن حسنه " باندے حمله شروع کړه ځکه چه د دوئ خیال وو چه دا مونږ پرون کمزورے کړیده نو شرحبیل بن حسنه رضی الله عنه د اَرُمَنِی فوج نه روستو لاړو ځکه چه د دوئ طرف ته د جَبَله بن اَیُهَم په قیادت کښے د عربی شاهسوارانو د اسونو دسته وه هغوی هم د ماهان سره مدد وکړو او په شریکه ئے د شرحبیل " په طرف باندے حمله وکړه او دلته د عمرو بن العاص " دستے هم د قناطر السلافی د لښکر مخے نه شاته تلل وکړل، د شرحبیل " دستے ډیرے سختے مقابلے ته ځان پیش کړو تردے چه کمزوری شول او روستو لاړل (دا اوله مرحله وه)



Maktaba Tul Ishaat.com

دلتـه نـه د خـالـد بن ولیدؓ دستـه ور ورسیـده او ابو عبیده بن الجراح تـه د یو طرف نـه او یـزید بن ابی سفیانؓ تـه د بـل طـرف نـه حـکـم وکړو چه تاسو د رومی لښکر نورې دوه دستو باندې حمله وکړئ کوم چه د دوئ مخامخ وې چه هغه د قلب الـجیش ښی طرف او د مَیْمَنَةُ الْجَیْش طرف وو، دې دپاره چه هغوی مشغوله شی او د خپـل رومی دغـه دوه دستـو سره مـلـګـری نشی، او په یو ځل حمله کولو ته جوړ نشی، ورنه مسلمانان به ټول ختم کړی۔

نو خالدؓ بـه په جلتئ جلتئ کله یو طرف او کله بل طرف سره ملګرې کیدو نو پدې طریقه د رومیانو ارمنی فوج کوم کښې چه ماهان وو هغه په شا لاړل، او دا حمله د ماسپښین نه روستو پورې اُوږده وه،

هرکله چه د ماهان دسته شا ته شوه نو د هغۀ په خوا کښې د "قناطر" دسته هم په شا وتښیدله او خپلو خپلو ځایونو ته واپس لاړل۔

بـل طرف کښې رومیانو د ابوعبیدهؓ او یـزید بن ابی سفیانؓ په لښکر باندې جـنـګ ګـرم کـړو چـه مـسـلـمانان د سختو غشو ویشتو سره مخامخ شول چه ددې په وجه د ډیرو مسلمانانو سترګې ولګیدلې،

روایاتو کښې د اُوه سوه (۷۰۰) کسانو د سترګو شیړئ کیدل ذکر دی،

لـکـه د ابوسفیان رضی الله عنهٔ سترګه په کښې ولګیده او ددۀ یوه سترګه په طائف کښې لګیدلې وه،


او دارنـګـه مغیره بن شعبهؓ او هـاشـم بـن عـتـبـه بن ابی وقاص رضی الله عنه او اشـعـث بن قیسؓ او عـمـرو بـن معدیکربؓ او قـیـس بـن مکشوحؓ او اشتر نـخـعـی سـتـرګـې ولګیدې، ددې وجه نه دې ورځې تـه بـه ئې خَسَارَةُ الْعُیُون ورځ وئیله، یعنی د سترګو د تاوان ورځ۔

او د مـسـلـمـانـانـو دواړه لښـکـره یعنی د ابوعبیدهؓ او د یـزیـد بـن ابی سفیانؓ لښکر شا ته لاړو۔

او دلتـه د شـکـسـت آثار راښکاره شول لیکن دلته عکرمه بن ابی جهل رضی الله عنه مـجـاهـدیـنـو تـه آواز وکـړو او قـسـم ئـې وکـړو چه ما سره څوك تیار دی چه یا به فتح حاصلوو یا به شهادت؟۔ نو څلور سوه (۴۰۰) کسانو د هغۀ آواز ته لبیك ووئیلو او

Maktaba Tul Ishaat.com

سخت جنګ ئے وکړو چه رومیان ئے په ځائے بانده ودرول پس د هغے نه چه ټول پکښے شهیدان شول مګر هغوی هم د ځلورو سوو نه ډیر زیات کسان رومیان مردار کړل، نو په دے کښے عکرمه بن ابی جهل" او د هغهٔ ځوی عمرو بن عکرمه رضی الله عنهم شهیدان شول۔




پنځمه ورځ :

پـه دې ورځ بـانـدې ماهان چه د ارمنی دستې مشر وو خالدؓ تـه پیشکش راولیږلو چه څو ورځـو پـورې بـه جنګ اُودره وو مګر خالد بن ولیدؓ دا عـرض پریخودو او هیڅ توجه ئې ورنکړه او هغه پوهه شو چه د رومیانو عزم او همت د مخکښې په شان پاتې نهٔ دې،

او تـر نـن پـورې مسـلـمـانـانـو پـه ډیـر تـکـنیـك سـره د رومیانو د هجماتو او حملو مـخـنیـوې کـړیـدې نو خالدؓ فـیـصـلـه وکـړه چـه اُوس پـه شریکه باندې په رومیانو حـمـلـه وکـړی لیـکـن شروع به پدې طریقه کوی چه خپل د اسونو والا دستـه ئې پو هه کـړه چـه زهٔ بـه ددې دستې په مینځ کښې شم، او مونږ به لاړ شو او د رومیانو د فوج په ګس طرف بـه راتـاؤ شو او هلته چه د رومیانو د دَعْم او مدد دپاره کوم د اسونو دستې ولاړې دی هغـوی بـانـدې بـه جـنـګ شـروع کـړو، او بـاقـی فـوج بـه د خپلو مخامخو دشـمـنـانـو سره ونښلی او دویٔ بـه مصروف کړی، او مونږ د اسونو دسته به اُوړده شی نو د رومیانو ګس طرف نه به جنګ شروع کړو چه زمونږ د دستې مینځ او ښی طرف والا بـه د رومیـانـو د اسـونـو پـه دسته حمله وکړی او زمونږ د دستې بل طرف والا به د رومیـانـو پـه ګس طرف باندې شروع وکړی، دا ددې دپاره چه د رومیانو شا تـه د اسونو هیـڅ حـمـایـتـی او حـفـاظـتـی دسته پاتې نشی، او دا مخامخ مسلمانان ئې په شا باندې وتـښـوی څـکـه چـه کـلـه د پیـاده خـلـکو شا تـه اسونو والا وی نو بیا پیاده خلك نشی تښتیـدې نـو اول بـه تـرې د اسـونـو والا حـفـاظـتـی دسته مصروفه کړو نو رومیـان بـه د مخې او شا تـه نـه ووهلې شـی، د مـخې نه په پیاده خلکو او د شا ته نه په اسونو والو باندې او همدا حربه ډیره زیاته کامیابه شوه،

نـو پدې سره ئې د رومیانو ګس طرف والا داسې سخت وتښتول چه مغرب طرف ته لاړل۔


Maktaba Tul Ishaat.com



Maktaba Tul Ishaat.com


شپږمه ورځ:

د مسلمانانو کس طرف فوج چه د یزید بن ابی سفیان " په قیادت کښې وو، او د قلب الجیش ښې طرف د ابو عبیده بن الجراح " په قیادت کښې وو، نو دې دواړو په خپلو جبهو باندې قتال شروع کړو، نو خالد " په خپله دسته د اسونو سره د رومیانو په مَیُمَنَه (یعنی ښی طرف) باندې شروع وکړه، او په عین موقعه کښې ئې د خپلې دستې نه یوه دسته جدا کړه او هغوی ته ئې وویل چه تاسو به د رومیانو د فوج په کس طرف شروع وکړئ چه په عین موقعه کښې عمرو بن العاص " چه د مسلمانانو د فوج په ښی طرف کښې وو هغهٔ د رومیانو په کس طرف باندې حمله وکړه چه دلته د رومیانو سُلافیانو ډیر اکثریت وو او قناطرئے مشری کوله،



Maktaba Tul Ishaat.com

د رومیانو دا ګس طرف فوج د قناطر په قیادت کښې د ګس طرف او د مخامخ طرف نه د هجوم سخته مقابله وکړه او کلك ودریدل لیکن چونکه شا ته ورته د اسونو ډله نۀ وه ځکه چه هغه خو د خالد بن ولید " دستے مصروفه کړی وو، نو دے وخت کښې د قناطر قوات لږ شان روستو شو او خپل قلب الجیش طرف ته ور مائل شول کوم ځائے چه ارمنی فوج د ماهان په قیادت کښې جنګ کولو، هرکله چه د رومیانو په فوج کښې داسے ګډوډی عمرو بن العاص " ولیده کوم چه د مسلمانانو د ښی طرف فوج مشری کوله نو هغوی دا فرصت او موقعه وګنړله نو دوئ د رومیانو د قلب الجیش په ګس طرف باندے حمله وکړه نو د رومی فوج په قلب الجیش کښې ګډوډی پیدا شوه او توازن ئے خراب شو نو په عین موقعه کښې شرحبیل بن حسنه " چه د مسلمانانو د قلب الجیش د ښی طرف قائد وو هغۀ هم د رومیانو په قلب الجیش باندے د مخامخ نه انتهائی سخته حمله وکړه، نو دے ځائے کښې د رومیانو ګس طرف په شا لاړو او شکست ئے وخوړو نو مسلمانان د هغوی ځایونو ته راورسیدل،




Maktaba Tul Ishaat.com

نو دلته خالد بن ولید " د اسونو والو پسے همداسے متواتر روان شو او پیاده جنګیان ئے بالکلیه پریخودل دے دپاره چه د اسونو د دستے په وجه رومیان بیرته راواپس نشی نو د رومیانو د اسونو دسته ئے د رومیانو د نور فوج نه بیخی لرے کړه۔

دلته ماهان خپلو د اسونو دستو ته آواز وکړو چه راواپس شی او د رومیانو د قلب الجیش شا ته ودریږی او په مسلمانانو بیرته ورتاؤ شی، لیکن ماهان دومره تیز نهٔ وو لکه څنګه چه د خالد بن ولید " دسته د اسونو انتهائی تیزه وه،


هغهٔ د رومیانو د اسونو دستے والا د رومیانو د فوج راجمع کیدو ته پرینخودو بلکه متواتر وریسے روان وو او په سرونو به ئے وهل، دلته رومیان د ماهان په مشرئ کنبے لږ ایسار شول مګر د مخے نه پرے مسلمانان د بازانو په شان راولوتل او شا ته نه پسے د خالد بن ولید " د دستے نه څه کافی تعداد کنبے کسان راواپس شول نو د روم فوج نه لاره ورکه شوه نو په ګډوډئ کنبے په تیښته شول چه مسلمانان وریسے شول،

د رومیانو د اسونو دستے په تیښته شوے شمال طرف ته لاړے او خپل پیاده فوجونه ئے خپل تقدیر ته پریخودل، او د دوئ ترمینځ د جبله بن ایهم قوات هم وو هغوی هم د دمشق په طرف تس نس شول۔



Maktaba Tul Ishaat.com

هرکله چه د رومیانو د اسونو دستے تس نس شوے نو خالد بن ولید " د رومیانو د فوجونو مینځ ته راواوړیدو یعنی ارمنی دسته چه د هغوی قیادت ماهان کولو نو د شا ته نه ئے پرے حملے شروع کړے، او ارمنی فوج ډیر سخت جنګیان وو، دوه ورځے مخکښے نزدے وه چه مسلمانانو باندے ئے غلبه حاصله کړے وے، هرکله چه دوئ د مسلمانانو فوجونه خیری کړل لیکن په یو وخت کښے د مسلمانانو د درے طرفونو نه په دوئ باندے حملے وشوے، یو د خالد بن ولید " د اسونو دستے د شا ته نه او د عمرو بن عاص " لښکر پرے د ګس طرف نه او د شرحبیل بن حسنه " د مخامخ نه او شا ته ئے د اسونو والا دعم او مدد هم نۀ وو، او ددے سره سره د دوئ صفونو کښے خلل پدے وجه هم راغلو چه د قناطر په قیادت کښے د سلاف والا لښکرے هم راروستو شوے نو د ارمنیانو د ایساریدو هیڅ فرصت پاتے نشو نو شکست ئے وخوړلو،



Maktaba Tul Ishaat.com

هرکله چه هرمن شکست وخوړو نو اُوس ټولو فوجونو په شکست سر شو نو بعض فوجونه شب کور شول او سخت رعب پرے راغلو او یو طرف او بل طرف ته بے ترتیبه ګډوډ شول او بعض فوجونه په یو ترتیب سره شا طرف ته (یعنی غرب ته) راوتښتیدل وادی الرقاد طرف ته، چه دے وخت کښے مسلمانان وروپسے روان دی او سرونه ورله وهی او غنیمتونه ترے راټولوی،

هرکله چه د رومیانو فوجونه لرے پورے ورسیدل نو دلته یو پل وو چه خالد بن ولیدؓ پرے د مخکښے نه پنځه سوه (۵۰۰) کسان مقرر کړی وو چه کله رومیان شکست وخوری او دغه ځائے ته ورسیږی نو تاسو به پرے راپاڅیږئ او سم به ئے برابر کړئ،

نو همدغسے وشوه هرکله چه د رومیانو فوجونه دغه تنګ ځائے ته ورسیدل او په پُل باندے ئے تیریدل غوښتل او داسے تنګ ځائے وو چه دوئ پکښے وسلے هم نشوے استعمالولے، نو د شا ته نه پسے مسلمانان راورسیدل او د مخے نه پسے دغه شاهسواران راپاڅیدل (نو د خالد منصوبه کامیابه شوه) نو د رومیانو فوجونو نه لاره ورکه شوه، نو دلته د نهر الیرموك په غاړه کښے غټے غټے کندے وے چه پلنوالے ئے پنځه سوه (۵۰۰) متره وو،

نو د شا ته نه د مسلمانانو د یرے نه دوئ دے کندو ته پریوتل او د یو بل دپاسه ډیرے شول، تردے چه د نهر دواړه غاړے برابرے شوے نو د مسلمانانو اسونه پرے دپاسه بل طرف ته راتیر شول،

او ډیر کسان قیدیان شول او پدے سره معرکه د یرموك ختمه شوه۔

د رومیانو مقتولین

روایاتو کښے دی چه پدے کندو کښے یو لاکھ شل زره (۱۲۰،۰۰۰) کسان پریوتل چه اتیا زره (۸۰۰۰۰) هغه کسان وو چه د یو بل سره ئے ځانونه تړلی وو چه نۀ به تښتو، لسو لسو کسانو ځانونه یو بل سره تړلی وو، نو دلته به چه یو پریوتو نو بل به ئے هم ځان سره غورزولو،

الله تعالیٰ ورله خپل زنځیرونه د مرګ ذریعه مقرر کړه، او څلویښت زره (۴۰،۰۰۰)

Maktaba Tul Ishaat.com

آزاد وو، دا ماسوئ وو د هغه کسانو نه چه معرکه کښې وژلے شویدی، د شاهسوارانو او د پیاده خلکو نه۔

دلته خالد بن ولیدؓ بیا هم ایسار نشو، د شپږمې ورځې په ماښام کښې هم خالد بن ولیدؓ پدې میدان کښې ونهٔ موندے شو بلکه تر اومې (۷) ورځې ماښام پورې معسکر ته راواپس شو ځکه چه د نهر نه کوم فوجونه شکست خورده روغ وتلی وو او د دمشق طرف ته روان وو نو دے ورپسے ور روان وو تردے چه په هغوی کښې ورننوتو او دے دپاره چه ماهان قتل کړی نو د مسلمانانو نه یو تن د ماهان سر ووهلو او چغه ئے کړه : [وَاللّٰهِ قَدْ قَتَلْتُ مَاهَانَ] قسم په الله ! ما ماهان قتل کړو، نو ماهان چه د کومې خبرې نه یریدو چه خالد راپسے راروان نشی نو هم هغه پرے واقع شوه، نو همغه شان وشوه خالدؓ ورپسے ورغلو او دا ضرری مشرئے ورله ختم کړو۔

هرکله چه د رومیانو یو مشر قَیُقُلَان (یا فَیُقَار) او د هغهٔ د قوم نورو مشرانو ولیدل چه د هغهٔ لښکرے د هغوی په مخامخ باندے مری، نو هغوی خپل کوټونه ویستل او په مخونو باندے ئے واچول او دا ئے وویل چه

[اِذَا لَمْ نَقْدِرُ عَلٰی نَصْرِ دِیْنِ النَّصْرَانِیَّةِ فَلْنَمُتْ عَلٰی دِیْنِهِمْ]

هرکله چه مونږ د نصرانیت دین مدد نشو کولے نو مونږ له پکار دی چه ددے لښکر په دین باندے مړهٔ شو، (او ژوندی واپس نشو) نو مسلمانان ورپسے راغلل او تر آخره پورے ئے ټول قتل کړل۔ [البداية والنهاية : ۱۸/۷]

د مسلمانانو شهیدان او د معرکے واقعات

پدے معرکه کښې د مسلمانانو نه درے زره (۳۰۰۰) کسان شهیدان شول، چه په هغوی کښې د مشرانو نه عکرمه بن ابی جهل رضی الله عنه وو،

۱- د رومیانو قائدین ډیر په تکبر کښې وو پدے وجه چه نفری ئے زیاته وه، نو اراده ئے وکړه چه په معرکه شروع کیدو کښې جلتی وکړی پدے وجه دوئ د معرکے د اولے ورځے نه سمدستی حملے شروع کړے، او بالفعل ئے د خپل وس مطابق د مسلمانانود فوج

کرادیس (دستے) ئے د ښی او ګس طرف نه څیرے کړے تردے چه قلب الجیش نه روستو مقر القیادة (ځائے د قائد) خالد بن ولید ﷺ او د هغهٔ خیمے ته نزدے ورسیدل نو پدے کښے د اسلامی فوج شاهسواران (اسونو والا) او پیاده پهلوانان د رومیانو سره یو بل کښے ننوتل او په قتال کښے ئے د قربانئ داسے عجیب مثالونه راښکاره کړل چه انسان ورته حیرانیږی۔

اول عکرمه بن ابی جهل رضی الله عنه وفرمایل : ما د رسول الله ﷺ سره په هر پړاؤ کښے جنګ کړیدے او زهٔ به تاسو نه تښتم؟، (داسے نښی کیدے) بیا ئے آواز وکړو چه

[مَنْ يُّبَايِعُ عَلَى الْمَوْتِ ؟]

چه څوك په مرګ باندے ما سره بیعت کوی؟، نو د هغهٔ سره څلور سوه (۴۰۰) کسانو بیعت وکړو چه یو د هغوی نه حارث بن هشام ﷺ چه د عکرمه ﷺ ترهٔ دے، او ضرار بن الازور ﷺ او نور شاهسواران وو، نو دوئ د خالد بن ولید ﷺ د خیمے مخے ته داسے سخت جنګ شروع کړو تردے چه ټول سخت ولګیدل نو څوك پکښے شهیدان شول او څوك سخت زخمیان شول چه روستو شهیدان شول او بعض روغ شول چه یو د هغوی نه ضرار بن الازور ﷺ هم وو۔

عکرمه بن ابی جهل رضی الله عنه راوړے شو چه سخت زخمی وو نو خالد بن ولید ﷺ د هغهٔ سر په خپل پتون باندے کیخودو او د هغهٔ ځوی عمرو بن عکرمه ﷺ راوړے شو چه سخت زخمی وو نو خالد بن ولید ﷺ د هغهٔ سر په خپله پونډئ باندے کیخودو او د هغوی دواړو په مخونو باندے به ئے لاس راخکلو او د هغوی په مریو کښے به ئے اُوبه اچولے۔

[تاریخ الرسل والملوك ابن جریر الطبری : ۲/۳۸۸]

عکرمه رضی الله عنه چه د رسول الله ﷺ سره د هغهٔ د وفات نه مخکښے کوم لوظونه کړی وو هغے باندے ئے پوره پوره پابندی وکړه، هرکله چه دهٔ اسلام راوړو نو رسول الله ﷺ ته راغلو وے فرمایل :

[يَا رَسُولَ اللّٰهِ ! وَاللّٰهِ لَا اَتْرُكُ مَقَامًا قُمْتُهُ لِيُصَدَّ بِهِ عَنْ سَبِيْلِ اللّٰهِ اِلَّا قُمْتُ مِثْلَيْهِ فِیْ سَبِيْلِ اللّٰهِ وَلَا اَتْرُكُ نَفَقَةً اَنْفَقْتُهَا لِيُصَدَّ بِهَا عَنْ سَبِيْلِ اللّٰهِ اِلَّا اَنْفَقْتُ مِثْلَهَا فِیْ سَبِيْلِ اللّٰهِ]

Maktaba Tul Ishaat.com

اې د الله رسوله ! قسم په الله زهٔ به هیڅ داسې مقام نهٔ پریدم چه زهٔ په هغې کښې د الله د لارې تـه د منع کولو دپاره راپاڅیدلے یم مګر اُوس به د الله په لاره کښې دوچنده راپاڅیږم او کـومـه نـفـقه چه ما د الله د لارې نه د منع کولو دپاره کوله نو زهٔ به هغه د الله تعالیٰ د دین د غالبه کولو دپاره کوم۔

نـو هـرکـلـه چـه د یـرموك معرکه شروع شوه نو دے د خپل اس نه راکوز شو او پیاده روان شـو او د داسـې سـختـو پهلوانانو په شان سخت جنګ ئې وکړو چه د هغې نظیر ډیر کـم مـلاویـږي تـردے چـه په زخمونو کښې لت پت لړ وخت روستو شهید شو۔ په هغهٔ باندې څه دپاسه اویا (٧٠) ګوزارونه لګیدلی وو څه د تورو او څه د نیزو او څه د غشو۔

[مصنف بن ابی شیبة کتاب فضل الجهاد، ما ذکر فی فضل الجهاد والحث علیه]

٢- هـرکـلـه چه رومیانو د مسلمانانو د فوج په ښی طرف باندې حمله وکړه نو خالد بن ولید ﷺ په هـغـوی بـانـدې داسې حمله وکړه چه د هغوی نه ئې شپږ زره (٦٠٠٠) کسان مردار کړل۔

بیـا ئې خپـلـو ملګروته وکتل او وې فرمایل : قسم په هغه ذات چه زما نفس د هغهٔ پـه لاس کښې دے، د رومیـانـو سره صبر او کلك والے صرف هغه پاتې دے کوم چه تاسو ولیـدو او زما امید دے چه الله تعالیٰ به تاسو ته د دوئ اُوګې په لاسونو کښې درکړي، بیا د هـغـوی مخـې تـه راغـې او پـه سـلو (١٠٠) شاهسوارانو سره ئې د رومیانو په یو لاکهـ (١٠٠٠٠٠) شاهسـوارانـو بـانـدې حـمـلـه وکـړه نو هغوی ته به نهٔ نزدې کیدو مګر د هـغـوی دله به ئې تس نس کوله او نورو مسلمانانو هم رشتینی حمله وکړه نو رومیانو شکست وخوړو چه شاته ئې نهٔ کتل۔

٣- **د ابوسفیان** بن حرب رضی الله عنه موقف هم مثالی وو،

دا هـغـه شخص وو چه د رسول الله ﷺ په مقابله کښې چه کوم جنګونه شویدی نو لښـکـرو به ددهٔ په قیادت کښې جنګ کولو نو اُوس ددهٔ عاجزئ او خشوع ته وګوره چه پـه دومره ډیر عـمـرئ (بـو ډاوالی) کښې د خپل ځوی یزید بن ابی سفیان ﷺ د جنډې لانـدې غـزا د یـرموك ته حاضر شویدے، دا ډیر تاثیرناك منظر دے، او دلیل دے چه ددې خـلـکـو نیتونه او عملونه ډیر صحیح وو، او سینې ئې د دنیا د برخو نه په سلامتیا کښې وې، او همدا د ایمان حقیقت دے چه انسان داسې عمل ته راکاږي،

Maktaba Tul Ishaat.com

دا دومره مهمه نهٔ ده چه یو تن دِے ځانله د دین خدمت وکړی بلکه مهمه دا ده چه د مسلمانانو د جماعت مدد وکړی، او د دین شان پورته کړی، ابوسفیان رضی الله عنه یوه سترګه په غزا د طائف کښې ورکړه او بله سترګه ئے پدے غزا د یرموك کښے ورکړه۔

په میدان کښے ابوسفیان ﷺ په خپل ځوی یزید بن ابی سفیان ﷺ باندے ورتیر شو او دا ئے ورته وویل :

[يَا بُنَيَّ عَلَيْكَ بِتَقْوَى اللّٰهِ وَالصَّبْرِ فَإِنَّهُ لَيْسَ رَجُلٌ بِهٰذَا الْوَادِيْ مِنَ الْمُسْلِمِيْنَ إِلَّا مَحْفُوْفًا بِالْقِتَالِ، فَكَيْفَ بِكَ وَبِأَشْبَاهِكَ الَّذِيْنَ وَلُّوْا أُمُوْرَ الْمُسْلِمِيْنَ ؟! أُولٰئِكَ أَحَقُّ النَّاسِ بِالصَّبْرِ وَالنَّصِيْحَةِ فَاتَّقِ اللّٰهَ يَا بُنَيَّ وَلَا يَكُوْنَنَّ أَحَدٌ مِنْ أَصْحَابِكَ بِأَرْغَبَ فِي الْأَجْرِ وَالصَّبْرِ فِي الْحَرْبِ وَلَا أَجْرَأَ عَلٰى عَدُوِّ الْإِسْلَامِ مِنْكَ، فَقَالَ : أَفْعَلُ إِنْ شَاءَ اللّٰهُ]

اے بچیه ! تا باندے د الله تعالیٰ تقویٰ او صبر لازم دے، ځکه چه پدے وادی (کنډه) کښے هیڅ یو سړے د مسلمانانو نشته مګر د هغهٔ نه جنګ راتاؤ شویدے، نو ستا او ستا په شان د هغه خلکو به څه حال وی چه هغوی د مسلمانانو مشران جوړ کړے شویدی، داسے خلك خو د صبر او خیر خواهی کولو ډیر لائق دی، نو اے بچیه د الله نه ویریږه او هیڅ یو تن دِے ستا د ملګرو نه په اجر او صبر کښے ستا نه ډیر مینه کونکے او د اسلام په دشمن باندے ډیره زړه ورتیا کونکی نشی، نو هغهٔ وویل : زهٔ به همدغسے کوم ان شاء الله، او بیا ئے همدا خپله وعده پوره کړه۔

سعید بن المسیبؒ د خپل پلار نه نقل کوی چه د یرموك په ورځ باندے آوازونه په آرام شو نو مونږ یو آواز واوریدو چه نزدے وه چه ټول لښکر ئے ډك کړے وے، (یعنی ډیر تیز آواز وو چه ټولو ته رسیدو) (چه دا لښکر دیارلس کیلو میترو پورے لرے پروت وو) داسے آواز ئے وکړو :

[يَا نَصْرَ اللّٰهِ اِقْتَرِبْ، اَلثَّبَاتَ اَلثَّبَاتَ يَا مَعْشَرَ الْمُسْلِمِيْنَ]

اے د الله مدده ! رانزدے شه، اے د مسلمانانو ډلے مضبوط شئ کلك ودریږئ، نو مونږ چه وکتل نو هغه ابوسفیان وو چه د خپل ځوی یزید بن ابی سفیان ﷺ د جنډے لاندے ولاړ وو۔

Maktaba Tul Ishaat.com

٣- موقف الزبير بن العوام ﷺ :

زبير بن العوام رضی الله عنه هم په قربانۍ او اخلاص کښې عجیب مثال ښکاره کړو او انتهائی مړانه (بهادری) ئې وخودله، چه یواځې ئې د رومیانو په فوجونو باندې حمله وکړه، او د هغوی مخکښنۍ دسته ئې څیرې کړه تردې چه بل طرفته ترې ووتلو بیا د مؤخرة الجیش (شا طرف نه) بیرته پکښې راننوتو او مخې طرف ته راووتو۔

هشام بن عروه رحمه الله د خپل پلار نه نقل کوی چه اصحابو د رسول الله ﷺ زبیر ﷺ ته د یرموك په ورځ وویل چه آیا ته حمله نۀ کوې چه مونږ هم درسره حمله وکړو؟ هغۀ وویل : که زۀ حمله وکړم نو تاسو به زما مخالفت وکړئ،

هغوی وویل : داسې نۀ کوو، نو زبیر ﷺ په رومیانو حمله وکړه تردې چه د هغوی صفونه ئې مات کړل، او د هغوی نه بل طرف ته واوړیدو او هیڅوك ورسره نۀ وو بیا ئې د هغه طرف نه بیرته پکښې راواپس شو نو رومیانو د هغۀ د اس واګې ونیولې او د اُوګو ترمینځ د تورې دوه ګوزارونه ئې پرې وکړل چه ددې دواړو ګوزارونو مینځ کښې هغه ګوزار وو چه کوم ئې په غزا د بدر کښې خوړلې وو،

عُروه بن زبیر (د هغۀ ځوی) وائی :

[كُنْتُ اُدْخِلُ اَصَابِعِيْ فِيْ تِلْكَ الضَّرْبَاتِ اَلْعَبُ وَاَنَا صَغِيْرٌ]

زۀ چه کله وړوکې اُوم نو ما به خپلې ګوتې ددغه ګوزارونو (په ځائې) کښې داخلولې او لوبې به مې کولې۔

عُروه وائی : د زبیر ﷺ سره په غزا د یرموك کښې عبد الله بن زبیر ﷺ هم وو، او دې پدې وخت کښې د لسو (١٠) کالو وو، نو هغه ئې په اس باندې کینولو او یو سړی ته ئې حواله کړو۔

[صحیح البخاری، کتاب المغازی، باب قتل ابی جهل رقم الحدیث : ٣٩٧٥]

دغه شان قائدینو به خپلو ځانو ته چلونه خودل چه په مشقتونو باندې اموخته شی او د جنګ چلونه زده کړی۔

٤- د مسلمانانو خپل مینځ کښې په یو بل د ترحم او همدردئ قصه :

Maktaba Tul Ishaat.com

ددې نه معلومیږي چه اسلام مونږ ته دا سبق راکوي چه مسلمان به بل مسلمان لره په خپل ځان باندې په فائدو کښې مخکښې کوي، او ادنیٰ درجه دا ده چه مسلمان له به هغه شے خوښوي چه کوم ځان له خوښوي۔

حبیب بن ابی ثابت رحمه الله فرمائي : (په غزا د یرموك کښې) حارث بن هشام ﷺ او عکرمه بن ابی جهل ﷺ او عیاش بن ابی ربیعه رضی الله عنهم اُوبه وغوښتے نو حارث بن هشام ﷺ آواز وکړو چه اُوبهٔ راوړئ نو هغهٔ ته عکرمه ﷺ وکتل نو حارث ووېل : چه دا اُوبهٔ عکرمه ﷺ ته ورکړئ، هغهٔ چه څکلے نو عیاش بن ابی ربیعه ﷺ ورته وکتل نو عکرمه ﷺ ووېل : دا اُوبه عیاش ﷺ ته ورکړئ، نو اُوبه عیاش ته ونهٔ رسیدلے چه هغهٔ شهید شو او بیرته چه نورو ته راواپس کیدے نو هغوی هم مړهٔ شوي وو، یو هم ونهٔ څکلے۔ د داسے قربانئ مثال نشته۔

[المستدرك علی الصحیحین، کتاب معرفة الصحابة، ذکر مناقب عکرمة بن ابی جهل]

٥- د زنانو قتال :

پدے معرکه کښې لکه د نورو معرکو په شان زنانو هم په قتال کښې برخه اخستے وه، او د بهادرئ نمونے ئے خودلے وے او په خدمت د اسلام کښې ئے د سرو سره سیالی کړے وه، یواځے اسماء بنت یزید بن السکن رضی الله عنها د رومیانو اُوه (٧) فوجیان قتل کړي وو۔

عمرو بن مهاجرؒ د خپل پلار نه روایت کوي چه اسماء بنت یزید بن السکن انصاریه رضی الله عنها د مسلمانانو سره یرموك جنګ ته حاضره شوے وه، نو د خپلے خیمے په لرګي سره ئے د رومیانو اوه (٧) کسان قتل کړل۔

[سنن سعید بن منصور، کتاب الجهاد، باب ما جاء في سهمان النساء]

٦- د اسلامي فوج د سخت قتال په وجه د رومیانو په فوج کښې سخت اضطراب او رعب راغلو۔

ابو واقد اللیثي رضی الله عنه (چه دے خپله هم یرموك ته حاضر شوے وو، عیني شاهد دے)، فرمائي : اسماء بنت ابی بکر الصدیق رضی الله عنها د زبیر بن العوام

Maktaba Tul Ishaat.com

رضي الله عنه سره وه (دا د هغهٔ بې بې وه) ما د هغې نه واوریدل چه زبیر بن العوام رضي الله عنه ته ئې داسې وئیل: اے ابو عبد الله!

[وَاللّٰهِ اِنْ كَانَ الرَّجُلُ مِنَ الْعَدُوِّ لَيَمُرُّ يَسْعٰى فَتُصِيبُ قَدَمَهٗ عُرْوَةُ اَطْنَابِ خِبَائِيْ فَيَسْقُطُ عَلٰى وَجْهِهٖ مَيِّتًا، مَا اَصَابَهُ السِّلَاحُ]

د دشمنانو نه یو تن به ددے په خوا کښې تیریدو منډے به ئې وهلے نو د هغهٔ په خپه کښې به زما د خیمے د تنابونو کړئ ونښته نو پر مخے به راپریوتو او مړ به شو، چه هیڅ د وسلے ګوزار به پرے نهٔ وو شوے۔ (دومره رعب اخستی وو)

۷- دْ خوبونو بیان

د جنګ شروع کیدو نه مخکښې مجاهدینو بهترین خوبونه ولیدل۔

رسول الله ﷺ فرمائی: کله چه یو تن ستاسو خوب وینی چه هغهٔ ته خوښ وی نو دا د الله تعالیٰ د طرف نه دے، نو د الله تعالیٰ حمد دے پرے ووائی او هغه دے بیان کړی۔
[بخاری]

نو دلته سیدنا ابوعبیدهٔ بن الجراح رضي الله عنه یو خوب ولیدو چه په هغې کښې ډیر زیرے وو، او وے غوښتل چه مسلمانانو ته پدے سره زیرے ورکړی، هغوی ته ئې وویل:

ما خوب ولیدو چه ګویا کښې څه سړی راغلل او ما نه تاؤ شول او ما باندے سپینے جامے دی، بیا ئې ما دپاره ستاسو نه څه سړی راوغوښتل چه زهٔ هغوی لره پیژنم، بیا ئې مونږ تهولو ته وویل چه په دشمن باندے اقدام وکړئ او د دوئ نه مهٔ یریږئ ځکه چه یقیناً تاسو به غالبه کیږئ، بیا مونږ د دشمن لښکر ته لاړو هرکله چه هغوی مونږ لره ولیدو چه هغوی طرف ته ور روان یو، نو هغوی مونږ ته لاره کولاوه کړه او مونږ راغلو تردے چه د هغوی په لښکر کښې ننوتو نو هغوی مونږ ته شا راواړه وله او شاکړی واوریدل۔

نو پدے سره مسلمانان ډیر زیات خوشحاله شول، او دا ئې ورته وویل چه دا خوب یو زیرے دے چه الله تعالیٰ تا ته درکړیدے، او مسلمانان پدے خوب باندے ډیر مطمئن

Maktaba Tul Ishaat.com

شول او پدے سره ئے نیك فالي ونیوله۔

هرکله چه ابو مرثد خولانیؒ دا خوب د ابوعبیده رضی الله عنه واوریدو نو هغهٔ وویل چه ما بل خوب لیدلے، ابوعبیده ﷺ ورته وویل : بیان ئے کړه : هغهٔ وویل :

”ما ولیدل چه مونږ دشمن ته راوتلی یو، هرکله چه مونږ ودریدلو نو الله تعالیٰ په هغوی باندے مارغان راواړه ول چه سپین وو او هډوکی وو، د هغوی د زمری د پنجو په شان پنجے وے او هغه به د آسمان نه داسے راپریوتل (راغوته کیدل) لکه د بازانو په شان نو کله چه د مشرکانو د یو سړی سره برابر شو نو داسے گوزار به ئے ورکړو چه هغه به د هغے په وجه مړ راپریوتو۔ او خلکو وویل : اے د مسلمانانو ډلے ! خوشحاله شئ ځکه چه الله تعالیٰ ستاسو مدد د هغوی په مقابله کښے په ملائکو سره وکړو“۔

نو ابوعبیده رضی الله عنه ورته وویل :

[بَشَّرَكَ اللّٰهُ بِالْخَيْرِ، هٰذِهٖ وَاللّٰهِ بُشْرٰی مِنَ اللّٰهِ]

الله تعالیٰ تا ته د خیر زیرے درکړے، قسم په الله دا د الله تعالیٰ د طرف نه یو زیرے دے۔

انجام، نتیجه او غنیمتونه :

الله تعالیٰ رومیانو ته ډیر ناکاره شکست ورکړو مسلمانانو د هغوی نه ډیر زیات غنیمتونه ونیول، خالد بن ولید ﷺ د تذارق (د هرقل د ورور) په خیمه کښے شپه تیره کړه ځکه چه هغهٔ هم خپله خیمه پریخودے وه او تښتیدلے وو چه یواځے په دغه خیمه کښے د وریښمو بسترے او بالختونه او دیرش څادرونه موجود وو، سهار کښے ئے دا ټول غنیمتونه راغونډ کړل، چه په هغوی کښے اوه زره (۷۰۰۰) کسان قیدیان هم وو۔

خالد بن ولید رضی الله عنه غنیمتونه تقسیم کړل او د هغے نه ئے خُمس (پنځمه برخه) امیر المؤمنین عمر بن الخطاب ﷺ ته راولیږل۔

چه دغه غنیمتونو نه بعض د وریښمو لباسونه وو، بعض ملگری چه مدینے ته راغلل نو هغوی د رومیانو دغه لباسونه اغوستی وو نو عمر فاروق ﷺ د هغوی نه مخ واړه ولو او دا ئے ورته وویل چه دا د کفارو لباس دے، تاسو له پکار دی چه د ایمان والو

Maktaba Tul Ishaat.com

لباس اختیار کړئ۔

د هرقل تختیدل :

هرکله چه رومیانو شکست وخوړو نو هرقل ته خبر ورسیدو چه ستاسو فوجونو شکست وکړو او فعلًا شکست خوړلی فوجونه حِمص ته ور ورسیدل نو هرقل باندے هلته هم رعب راغلو، او د شام نه نا امیده شو نو آوازئے وکړو چه دلته نه اُوځو او قسطنطینیه (استنبول/ترکی) ته روان شو، چه دا د رومیانو دار الحکومة وو، نو په یوه ډیره کیځ وختلو او بیائے شام طرف ته مخ راواړه ولو او هغه ئے رخصت کړو، هغے ته ئے داسے خیر آباد ووئیلو :

[اَلسَّلَامُ عَلَيْكِ يَا سُوْرِيَةُ، سَلَامٌ لَا اِجْتِمَاعَ بَعْدَهٗ، وَلَا يَعُوْدُ اِلَيْكِ رُوْمِيٌّ اَبَدًا اِلَّا خَائِفًا]

[الکامل فی التاریخ، ابن الاثیر : ۲/۳۴۱]

اے سوریا ! په تا دِے سلام وی، داسے سلام چه ددے نه روستو به هیڅکله تا سره یو ځائے نشو، او هیڅکله به یو رومی تا ته راواپس نشی مګر په یره سره۔

او په یو روایت کښے داسے الفاظ دی :

[وَدَاعًا يَا سُوْرِيَا الْجَمِيْلَةُ وَدَاعًا لَا لِقَاءَ بَعْدَهٗ]

اے ښکلے سوریه ! رخصتی ده داسے رخصتی چه ددے نه روستو به ملاقات نهٔ وی۔

دا د هغه شخص خبرے دی چه په آسمانی کتابونو باندے عالِم وو، هرقل ته دا یقینی معلومه وه چه مسلمانان په حقه دی، دوئ حق دین په غیره کښے نیولے دے چه هغه دین اسلام دے،

نو هرکله چه دوئ خاص د سوریا زمکه فتح کړه او عام شام او د دوئ د پنجو نه ئے آزاده کړه نو بیا به هیڅکله پدے علاقه باندے ددهٔ حکومت راواپس نشی، لیکن هرقل خپل تکبر او په بادشاهئ باندے بخل او حب الذات تباه کړو، دا خبرے ئے د هدایت نه مانع وګرځیدے۔

هرکله چه هرقل شام پریخودو نو کوم فوجونه ئے چه پاتے شوی وو، د هغوی په راجمعه کولو ئے شروع وکړه دے دپاره چه ددهٔ نه نور ښارونه لاړ نشی لکه اناضول او

مصر۔ چه ددې نه لږه موده روستو مسلمانانو په دغه علاقو باندې هم حملې وکړې او دغه ټولې علاقې ئې په یو څو کلونو کښې ونیولې لکه اناضول، مصر، ارمینیا وغیره،

بیا مصر د عمرو بن العاص رضی الله عنه په لاس فتح شو کوم چه په معرکة الیرموك کښې د اسلامی فوج د ښی طرف قائد وو۔

او مسلمانان د شام په ښارونو کښې آباد شول او ددې ټول ښارونه ئې فتح کړل بیا همداسې د متواترو فتحو پسې روان وو تردې چه شمال افریقی ته ورسیدل۔

د معرکې نه روستو

پدې معرکه کښې الله تعالیٰ رومیان کافران ذلیله کړل او دا علاقه ترې ونیولې شوه او د مسلمانانو غلبه او سیطره پرې راغله، د یرموك معرکه د اسلامی معرکو نه ډیره لویه معرکه وه، او د اسلامی فتوحاتو دپاره لویه فتح او دروازه وه چه په هغه زمانه کښې روم په ټول عالَم کښې سُپر طاقت وو په اعتبار د فوجونو او وسائلو سره او دوئ داسې ناکاره شکست وخوړلو۔

د هرقل د شکست اسباب او د مسلمانانو د فتح

هرکله چه مشرکین وتښتیدل او لاړل د هرقل بادشاه ملاقات ته، نو هغهٔ خپل امیران او قومندانان راجمع کړل او دا ئې ورته وویل چه هلاك شئ تاسو څنګه د مسلمانانو نه راتښتئ

[أَلَيْسَ هٰؤُلَاءِ بَشَرًا مِثْلَكُمْ]

آیا دا خلك ستاسو په شان انسانان نهٔ دی ؟ هغوی وویل : بشر دی،

هغهٔ وویل : بیا څه وجه ده چه تاسو راتښتئ، آیا تاسو کم یئ او هغوی ډیر دی؟

هغوی وویل : مونږ د هغوی نه په ډیرو چندونو زیات یو،

[وَمَا لَقِيْنَاهُمْ فِيْ مَوْطِنٍ إِلَّا وَنَحْنُ أَكْثَرُ مِنْهُمْ]

او مونږ په هره موقعه کښې د دوئ نه زیات یو۔ نو هرقل وویل :

Maktaba Tul Ishaat.com

[وَيۡلَكُمۡ فَمَا بَالُكُمۡ تَنۡهَزِمُوۡنَ إِذَا لَقِيۡتُمُوۡهُمۡ ؟]

هلاك شئ بيا هغوی په تاسو څنګه غالبه کيږی؟

نو هغوی غلی شول، نو په هغوی کښې يو بوډا رشتيا وويل :

(څکه چه دوئ نصارئ وو، او د اعمالو په قدر باندې څه نا څه پوهيدل)

دې خلکو ځان سره انجيلونه هم راوړی وو او رهبان ئې او قسيسين ئې هم راوستی وو او لګيا وو دعاګانې ئې هم غوښتلې ليکن دلته مسلمانان د الله تعالیٰ اولياء دی او جانب مقابل ئې دشمنان دی، نو هغه سړی ورته وويل :

[إِنَّهُمۡ لَقَوۡمٌ يَقُوۡمُوۡنَ اللَّيۡلَ وَيَصُوۡمُوۡنَ النَّهَارَ وَيَتَنَاصَفُوۡنَ فِيۡمَا بَيۡنَهُمۡ وَيَأۡمُرُوۡنَ بِالۡمَعۡرُوۡفِ وَيَنۡهَوۡنَ عَنِ الۡمُنۡكَرِ وَيُوۡفُوۡنَ بِالۡعَهۡدِ]

دا صحابه کرام او مسلمانان هغه خلك دی چه د شپې عبادتونه کوی او د ورځې روژې نيسی او خپل مابين کښې د يو بل سره د انصاف نه کار اخلی (مشر او کشر ئې يو شان دې، که مشر ئې څه ورانې وکړی نو هم ترې بدله اخستې کيږی لکه د کشر په شان) او دوئ په نيکئ امر کوی او د ګناهونو نه منع کوی۔

(په خپلو معسکراتو او علاقو کښې ګناهونه نۀ پريدی څکه ددې کارونو د وجه نه د الله تعالیٰ عذابونه نازليږی، امر بالمعروف او نهی عن المنکر تقريباً زمونږ په زمانه کښې ختم شويدې، د ګناهونو سيلابونه دی، او مونږ کښې هيڅ ايمانی احساس هم نشته چه چا ته ووايو چه دا ګناهونه او فسادونه مۀ کوئ، يا ئې په زړۀ کښې بد وګڼړ)

او دوئ د وعدې پابندی کوی،

او شراب نۀ څکی او فسادونه نۀ کوی، او هرچه مونږ يو :

[وَإِنَّا نَشۡرَبُ الۡخَمۡرَ وَنَرۡتَكِبُ الۡمَحَارِمَ وَنَنۡقُضُ الۡعَهۡدَ وَنَأۡمُرُ بِمَا يُسۡخِطُ اللّٰهَ وَنَنۡهٰى عَمَّا يُرۡضِيۡهِ وَنُفۡسِدُ فِي الۡأَرۡضِ]

مونږ شراب څکو، او ګناهونه کوو، او وعدې ماتوو او هغه کارونه کوو چه الله تعالیٰ پرې ناراضه کيږی او د هغه کار نه منع کوو چه الله تعالیٰ ته خوښ دی، او مونږ په زمکه کښې فسادونه کوو۔

نو هرقل ورته وويل : [أَنۡتَ صَدَقۡتَنِيۡ]

Maktaba Tul Ishaat.com

تـا راته رشتیا وویل، زمونږ د مغلوبیت وجه هم دا ده چه زمونږ عملونه خراب دی او د هغوی د غلبے وجه دا ده چه د هغوی عملونه صحیح دی۔
او دا واقـعـی خبره ده چه الله تعالیٰ د یو قوم سره مدد کوی نو په ایمان او عمل صالح سره، د الله تـعالیٰ مدد د عمل سره وی، الله تعالیٰ انسانانو ته نهٔ گوری بلکه عملونو ته گـوری، کـه دا د هر چا په بدن کښے وی۔ د الله تعالیٰ د اعمالو سره کار دے نهٔ د اشخاصو د ذات سره۔
بیا هرقل وویل چه
[لَاخُرُجَنَّ مِنُ هٰذِهِ الْقَرُيَةِ وَلَآدَعَنَّ هٰذِهِ الْبَلُدَةَ وَمَا لِیُ فِیُ صُحُبَتِکُمُ مِنُ خَیُرٍ وَاَنْتُمُ هٰکَذَا]
هـرکله چه تاسو داسے ناکاره یئ نو قسم په الله زهٔ به ددے کلی نه اُوځم او دا علاقه به پریدم او زما دپاره ستاسو په ملګرتیا کښے هیڅ خیر نشته کله چه تاسو داسے یئ۔
بیا د شام نه ووتو۔
دویم سبب د شکست : د خالد بن ولید ﷺ عسـکری او فوجی او قیادتی صلاحیت وو، ځکه چه خالد بن ولید ﷺ پـه تاریخ کښے د انتهائی ماهرینو شاهسوارانو قائدینو نه وو، هغهٔ ته معلومه وه چه د اسونو دستے په تول جنګ کښے هغه کار کولے شی چه هـغـه پیاده جنګیان نشی کولے، نو پدے وجه ئے خپله د اسونو دسته په تیزئ د یو ځائے نـه بـل ځائے ته نقل کولو په وجه د رومیانو داسے سیلابی لښکر ته شکست ورکړو چه دغه صلاحیت د قیادت په ماهان او د هغهٔ په نورو قائدینو کښے نهٔ وو،
هـغـوی د خپـلو اسونو دستے چه د اتیا (۸۰) زره کسانو نه جوړے وے او څلور دستے ئے د اسونو والو نه جوړے کړے وے هغه ئے پکار باندے رانهٔ وستے بلکه هغه ئے صرف د پیـاده فـوجیـانـو شا ته د حفاظت دپاره ودرولے وے چه په تول جنګ کښے د هغوی هیڅ خاص کردار راونهٔ وتو،
پـدے وجـه خـالد بن ولید ﷺ پـه جـنـګ کښے دا خـلـك مصروف کړل او دوئ تـه ئے شکست ورکړو، او په دمشق طرف باندے ئے وتښتول، نو د هغوی د تښتولو نه روستو اُوس د پیـاده جـنـګیـانـو وهـل آسان شول، نو نورو مسلمانانو مجاهدینو خپل مقابل رومیان د ګازرو او مولو په شان پریکړل،
او عـرب مسیـحیین اګرکه پدے جنګ کښے انتهائی ماهر وو لیکن هغوی صرف د

رومیانو ملګرتیا پدے وجه کړے وه چه په هغوی باندے کوم ټیکسونه مقرر نشی او د رومیانو نه فائدے حاصلے کړی، او بل طرف ته د مسلمانانو اسلامی فوج کښے اکثر خلك انتهائی جنګیان او چالاك او زیرکه او د جنګونو اموخته خلك وو،

خالد بن ولید ﷛ په لړو مسلمانانو باندے انتهائی تکنیکی جنګ وکړو ځکه چه قیادت ئے ډیر مضبوط او د عقل او پوهے نه ډك وو، او بل طرفته رومیانو سره د شمار څه کمے نۀ وو مګر ماهان د هغے نه هیڅ فائده وانخسته ځکه چه خپل فوج ئے په داسے کندوونو کښے واچولو چه هغه د جنګ موافق نۀ وو،

او رومیانو په هغے کښے خپل فوج د مسلمانانو مخے ته نشو خورولے، ددے وجه نه ماهان د معرکے په هیڅ مرحله کښے دا اراده ونکړه چه یو لوی قوت جمع کړی او په مسلمانانو باندے د هغوی صفونه مات کړی، سره ددے نه چه رومی فوج په پنځو اولنو ورځو کښے په حالت د هجوم (حملو) کښے وو،

لکه څنګه چه خالد بن ولید ﷛ دا کار په آخری ورځ د معرکه باندے وکړو چه د رومیانو فوجونه ئے په انتهائی بهادرۍ او تکنیك سره مات کړل او د شا ته نه او د مخے نه او د ګس طرف نه ئے رومی دستے او د هغوی د اسونو دستے په سخت جنګ مصروفه کړے چه د اسونو دستے ئے وتښتولے، او بیا باقی صفونه په ماتیدو شول۔

الله تعالیٰ خپل دین له ترقی ورکړه او مونږ تول د خالد بن ولید ﷛ او د هغۀ د تولو ملګرو سره په اُوچتو جنتونو کښے یو ځائے کړه۔

د ابوبکر صدیق ﷛ بیماری او د هغے وجوهات

دا هغه زمانه وه چه د ابوبکر صدیق ﷛ وفات رانزدے شویدے چه دا دیارلسم (۱۳) کال د هجرت دے او د جمادی الثانیه میاشت ده،

کله چه غزا د یرموك کیده نو دے وخت کښے صدیق اکبر ﷛ بیمار شو،

د هغۀ د بیمارۍ درے (۳) وجے د سیرت په کتابونو کښے ذکر شویدی:

(۱) یو دا چه په غار ثور کښے د نبی ﷺ سره ناست وو نو یو مار چیچلے وو نو هغه زهر ددۀ په بدن کښے پراتۀ وو نو دے وخت کښے د هغه زهر بیرته راتازه شو او ددے په

وجه وفات شو چه دا یو قسم معنوی شهادت دے۔

(۲) بعض وائی چه بعض منافقانو ورته په طعام کښے زهر اچولی وو،

سیوطی رحمه الله د بعض سلفو نه نقل کړیدی چه پدے دنیا باندے څوك څه کوی چه د صدیق اکبر ﷺ په شان انسان ته زهر اچولے کیږی۔

(چه دومره پاك او صدیق او د امت خیر خواه انسان ته خلك زهر اچوی چه دا د دنیا نه ختم شی، بعض خلك دداسے انسانانو په مرگ هم خوشحاله وی)

(۳) بعض وائی چه په یخه ورځ کښے ئے لمبلی وو نو د هغے د وجه نه ئے پنځلس (۱۵) ورځے تبه شروع شوه نو د پیر ورځ چه کله راغله هغهٔ باندے بیمار سخته شوه نو د مخکښے نه هغهٔ اراده وکړه چه د ځان نه روستو ولی عهد (نائب) مقرر کړی، ولے که زهٔ مړ شم او ولی عهد مے نهٔ وی مقرر کړے نو یره ده چه د مسلمانانو اختلاف به پیدا شی، پدے امت باندے ډیر زیات مهربانه وو،

نو د مرگ نه مخکښے ئے مشران صحابه کرام راجمع کړل او دا ئے ورته وویل چه زهٔ د ځان نه روستو یو خلیفه مقررول غواړم چه ستاسو اختلاف پیدا نشی، او فی الحال به ئے زما په مخامخ مقرروئ چه په هغهٔ باندے اتفاق راشی چه معمولی غونته اختلاف هم رانشی، نو اول ئے عبد الرحمن بن عوف ﷺ راطلب کړو چه زهٔ عمر ﷺ مشر کوم ستا څه رایه ده؟، هغهٔ ورته وویل چه همدا ښهٔ کار دے، ستا نه بعد په صحابه کرامو کښے ډیر غوره سړے ددهٔ نه بل نهٔ ښکاره کیږی، د الله تعالیٰ په امر کښے ډیر سخت دے او ډیر موزون انسان ډے غوره کړے۔

بیا ئے بل صحابی ته وویل چه ستاسو څه رایه دهٔ؟، نو ډیرو کسانو هم دا رایه ورکړه چه عمر ﷺ ښه دے، صرف طلحه بن عبید الله ﷺ وویل چه دا مهٔ مقرره وه ځکه چه سخت دے، او امیر سخت نهٔ وی پکار۔

نو ابوبکر صدیق ﷺ وویل چه ددے سختئ وجه دا ده چه زهٔ نرم یم پدے وجه دے سخت دے، او که زهٔ لاړ سخت وے نو دے به نرم وے۔

بلـه دا چه دهٔ ته کار نهٔ دے سپارلے شوے ځکه سخت دے، کله چه دهٔ ته کار وسپارلے شی نو دهٔ کښے به نرمی پیدا شی، او زړ دے چه تاسو به دا کار زما د وفات نه روستو وینئ۔ (الاکتفاء)

Maktaba Tul Ishaat.com

(او دا ډیره صحیح خبره ده چه سړی ته مشری وړیه غاړه شي نو ډیر اوږده اوږده نظرونه ئې لګیږی، او چه مشری نۀ وی وړیه غاړه شوی نو یو سړ وی چه څه ئې وویل او چه څه ئې وکړل هغه به ئې کړی وی، د ابوبکر صدیق ﷺ ډیر فراست وو او همدغه شان وشوه)

د صدیق اکبر ﷺ عمر فاروق ﷺ ته وصیتونه

نو عمر فاروق ﷺ ئې خلیفه جوړ کړو او اول ئې عمر فاروق ﷺ ته وصیتونه وکړل چه د الله تعالیٰ نه به یره کوې، او دویم دا چه د حق تابعداری به کوې، ځکه چه

[اِنَّمَا ثَقُلَتْ مَوَازِيْنُ مَنْ ثَقُلَتْ بِاِتِّبَاعِهِمُ الْحَقَّ وَحُقَّ لِمِيْزَانٍ يُوْضَعُ فِيْهِ الْحَقُّ اَنْ يَّثْقُلَ وَاِنَّمَا خَفَّتْ مَوَازِيْنُ مَنْ خَفَّتْ بِاِتِّبَاعِهِمُ الْبَاطِلَ وَحُقَّ لِمِيْزَانٍ يُوْضَعُ فِيْهِ الْبَاطِلُ اَنْ يَّخِفَّ]

د قیامت په ورځ چه د چا تلې درنیږی نو ددې وجه دا ده چه د حق تابعداری ئې کړې وی او کومه تله کښې چه حق کیخودې شي نو د هغې سره دا لائقه ده چه هغه به درنیږی، او د چا تلې چه سپکیږی نو ددې وجه د باطل تابعداری ده او کومه تله کښې چه باطل کیخودې شي نو د هغې سره دا لائقه ده چه هغه به سپکیږی۔

بیا ئې وویل : [يَا عُمَرُ لَا يَكُوْنُ غَائِبٌ اَحَبَّ اِلَيْكَ مِنَ الْمَوْتِ وَهُوَ نَازِلٌ بِكَ]

اې عمر! د مرګ نه بل غائب شې ډې تا ته ډیر محبوب نۀ وی یعنی مرګ درباندې راروان دې د هغې دپاره تیاری وکړه۔

بل ئې ورته دا وویل :

[وَاعْلَمْ اَنَّ لِلّٰهِ حَقًّا فِي اللَّيْلِ لَا يَقْبَلُهُ فِي النَّهَارِ وَحَقًّا فِي النَّهَارِ لَايَقْبَلُهُ فِي اللَّيْلِ، وَلَا يَقْبَلُ نَافِلَةً حَتّٰى تُؤَدَّى الْفَرِيْضَةُ]

پو هه شه چه د الله تعالیٰ دپاره د شپې حق دې چه د ورځ ئې نۀ قبلوی او د ورځې حق دې چه د شپې ئې نۀ قبلوی، او هغه نفل نۀ قبلوی تردې چه فرض ادا کړې شي۔

بل ئې ورته وویل :

[اَلَمْ تَرَ يَا عُمَرُ اِنَّمَا نَزَلَتْ آيَةُ الرَّخَاءِ مَعَ الشِّدَّةِ وَآيَةُ الشِّدَّةِ مَعَ آيَةِ الرَّخَاءِ لِيَكُوْنَ الْمُؤْمِنُ

Maktaba Tul Ishaat.com

رَاغِبًا رَاهِبًا، لَا يَرْغَبُ رَغْبَةً يَتَمَنّٰى فِيهَا عَلَى اللّٰهِ مَا لَيْسَ لَهُ، وَلَا يَرْهَبُ رَهْبَةً يَلْقٰى فِيهَا بِيَدَيْهِ]

آیا تـهٔ نهٔ گورے اے عمر! د نرمۍ د آیت سره د سختۍ آیت نازل شوے او د سختۍ د آیت سره د نرمۍ آیت نازل شوے دے دپاره چه مؤمن مینه او یره دواړه وکړي، داسے مینه به نهٔ کوي چه په هغے کښے په الله تعالیٰ باندے د هغه شي تمنا وکړي چه ددهٔ سره لائق نهٔ وي، او داسے یره به نهٔ کوي چه په هغے سره ځان هلاك کړي (بلکه میانه روي به کوي)

دارنګه ورته ئے وفرمایل:

[اَوَ لَمْ تَرَ يَا عُمَرُ! اِنَّمَا ذُكِرَ اَهْلُ النَّارِ بِاَسْوَءِ اَعْمَالِهِمْ فَاِذَا ذَكَرْتَهُمْ قُلْتَ اِنِّيْ لَاَرْجُوْ اَنْ لَّا اَكُوْنَ مِنْهُمْ، وَاِنَّهُ اِنَّمَا ذُكِرَ اَهْلُ الْجَنَّةِ بِاَحْسَنِ اَعْمَالِهِمْ لِاَنَّهُ يُجَاوِزُ لَهُمْ مَا كَانَ مِنْ سَيِّءِ اَعْمَالِهِمْ فَاِذَا ذَكَرْتَهُمْ قُلْتَ اَيْنَ عَمَلِيْ مِنْ اَعْمَالِهِمْ ؟]

آیا تهٔ نهٔ گورے اے عمر! الله تعالیٰ اُور والا د هغوی په بدو اعمالو سره ذکر کړیدی نو کله چه تـهٔ هغوی رایاد کړے نو داسے وایه چه زما امید دے چه د دوئ نه به نهٔ شم، او هغهٔ جنتیان په نیکو اعمالو سره ذکر کړیدی ځکه چه الله تعالیٰ به دوئ ته د بدو نه ورتیریږي (معافی به ورته کوي) نو کله چه دوئ رایاد کړے نو وایه چه زما عمل چرته دوئ ته رسیدے شي؟۔

[الکامل فی التاریخ: ۳۹۸/۱، مختصر تاریخ دمشق: ۳۰۰/٤، الاکتفاء: ۱٦۳/۳]

نو عمر فاروق ﷺ په اول کښے سخت انکار وکړو چه تهٔ ما مهٔ امیر کوه، زهٔ امارت نهٔ قبلوم نو ابوبکر صدیق ﷺ ورتـه په بیمارئ کښے توره راپورته کړه چه سر درله وهم که تهٔ امارت قبول نکړے، دا به ضرور قبلوے، نو هغه مجبوره شو۔

(ددے خلکو مشري نهٔ وه خوښه ځکه چه دا خو لویه ذمه واري ده)

ابوبکر صدیق ﷺ خلکو تـه وویـل چـه ددهٔ سره بیعت وکړئ نو د صدیق اکبر ﷺ مخامخ خلکو ورسره بیعت وکړو، بلال ﷺ خلکو کښے اعلانونه وکړل نو ټول خلك راغلل او د عمر فاروق ﷺ سره ئے بیعت وکړو، او د علاقو امیرانو ته دا خبره ولیږلے شوه نو ټولو اُومنله۔

دا د پیر ورځ (یَوم الاثنین) وه نو د عائشے رضی الله عنها نه ئے تپوس وکړو چه نن د

Maktaba Tul Ishaat.com

څه ورځ ده؟ هغې ووېل : يوم الاثنين (پير) دے،
نو هغۀ وفرمايل : زما د الله تعالىٰ نه اميد دے چه ما به نن وفات کوی، (البيهقی)
ځکه چه پدے ورځ باندے رسول الله ﷺ وفات شويدے او ما د هغۀ تابعداری کړيده نو ما به الله تعالىٰ پدے ورځ وفات کوی نو بيا په همدغه ورځ ماښام کښے وفات شو۔
د جمادی الثانية نه اُولس (١٧) ورځے تيرے شوے وے او د شپے دفن کړے شو، او د هغۀ خلافت دوه (٢) کاله او درے (٣) مياشتے او دوه ويشت (٢٢) ورځے وو۔
عائشے رضی الله عنها ته ئے وفرمايل چه ما ته په خپلو کپړو کښے کفن راکړئ او يوه جامه ورسره بله ملگرے کړئ لکه نبی ﷺ له چه کفن درے (٣) کپړے ورکړے شويدی، او ما له نوے جامے مۀ راغواړئ

[فَإِنَّ الْحَيَّ أَوْلَى بِالْحَدِيْدِ مِنَ الْمَيِّتِ، فَإِنَّمَا هُوَ لِلْمَهْلَةِ]

ځکه چه مړی ته د نوو جامو دومره ضرورت نشته، دا د ژوندی سره ډيرے لائقے دی، ځکه چه دا جامے خو د مهلت (انتظار) دپاره دی، نۀ د ډول دپاره يعنی په قبر کښے زر ختميږی۔
دا د ابوبکر صديق ﷺ خپله تواضع ده، اگرکه بهتره دا ده چه مړی ته به هم ښائسته کفن ورکولے شی، عام ساده کفن به ورکړے شی۔
دا ديو صحابی خپله د تواضع او عاجزئ مزاج وی۔

صِديق اکبر ﷺ ته څنگه پته ولگيده چه زۀ مرم ؟

ددے وجه دا ذکر شويده چه صديق اکبر ﷺ عمر فاروق ﷺ ته ووېل کله چه هغۀ د خلافت قبلولو نه انکار وکړو، نو هغۀ ورته ووېل چه غلے شه دا خبرے مۀ کوه ځکه چه زۀ ددے مرض نه مړ کيدونکے يم، ما د رسول الله ﷺ نه روستو خوب وليدو چه زۀ درے کرته د بيمارئ نه روغ شوم او په دريم ځل په آخرت کښے راته طعام راکړے شو، نو زۀ دوه کرته بيمار شوے يم او دا دريم کرت دے، نو زۀ مړ کيدونکے يم، او تۀ ځان د نفس پرستئ نه وساته چه په خلکو ځان غوره کړے، او د ذخيره اندوزئ نه ځان وساته ځکه چه د بادشاه د خلکو نه مالونه ذخيره کول د هغۀ دين لره بربادوی۔

Maktaba Tul Ishaat.com

[الاکتفاء: ۳/۱٦٧]

صدیق اکبر ﷺ د دنیا نه لاړو او په مدینې والو باندې د رسول الله ﷺ د وفات نه روستو دومره لویه مصیبت نۀ وو راغلې، ډیرو خلکو وژړل او پریشانه شو،

خلکو ته ډیر مصیبت پدې وجه ورسیدو چه خلیفه هم دې، او افضل الصحابه هم دې، او پوهه، عقلمند، صاحب الرأی، او علم والا او مفتي او یو عالم او بهادر انسان چه د علاقې نه ځي نو خلکو ته ډیر درد رسیږي، خو کمال ئې دا کړې وو چه د خپل مرګ نه مخکښې ئې اختلاف ختم کړې وو،

سمدست عمر بن الخطاب ﷺ خلیفه مقرر وو نو پدې وجه هیڅ اختلاف پیدا نشو والحمد لله۔

او د خلافت ذ راوستو همدا طریقه ده چه مسلمانان مشورې سره یو تن مقرر کړي، یا دا چه مخکنې خلیفه ځان نه روستو ولي عهد مقرر کړي۔

او ابوبکر صدیق ﷺ دلته خپل بچې خلیفه جوړ نکړو بلکه د قوم نه ورانډې سړې ئې مقرر کړو ځکه چه د امت فائدې ته ئې کتل، اُوس خو چه امیران مقرریږي نو هغوی غالباً خپلې فائدې ته ګوري او صحابه کرامو رضی الله عنهم د دین فائدې ته کتل۔

او ابوبکر صدیق ﷺ چه کله عمر بن الخطاب ﷺ ته وصیتونه کول نو په آخر کښې ئې ورته وویل: چه دا اُوښه هم ځان سره واخله کومه چه د زکاة د اُوښانو نه ده، او ما د استازو دپاره مقرر کړې وه چه کله هغوی راشي نو ددې پئ به څکي،

او دا یوه شړئ هم واخله چه ما به پدې باندې وفدونو ته ځان ښائسته کولو او دا یوه مشکیزه (ډیکه، ګوډې) او دا یوه پیالئ ده دا د بیت المال د اُوښانو سامان دې، او ما باندې اته زره (۸۰۰۰) درهم قرض دي،

او په یو روایت کښې دي چه شپږ زره (٦۰۰۰) قرض دې چه ما هغه د استازو او میلمنو دپاره راقرض کړیدی نو هغه زما د مال نه ادا کړه۔

نو عمر فاروق ﷺ د هغۀ د خوا نه راووتو او ترخ کښې ئې دغه شړئ نیولې وه او مشکیزه او پیاله ئې په لاس کښې اخستې وه، او دغه اُوښه ئې روانه کړې وه او ژړل ئې او

Maktaba Tul Ishaat.com

دا ئے وئیل :

[رَحِمَ اللّٰهُ اَبَا بَكْرٍ لَقَدْ اَتْعَبَ مَنْ بَعْدَهٗ]

الله تعالیٰ دِے په ابوبکر صدیق ﷛ باندے رحم وکړی، یقیناً چه دهٔ روستنی خلفاء ستړی کړل (څکه چه ددهٔ تابعداری خو ډیره گرانه ده چه په دومره زمانه د خلافت کښے ئے د یو خواهش تابعداری هم نهٔ ده کړے) [الاکتفاء ۳/۱٦٧]

د ابوبکر صدیق ﷛ د مرگ خبر یرموك غزا ته ورسیدو چه دے وخت کښے د یرموك معرکه شروع وه، نو خالد بن ولید ﷛ ته خبر ورسیدو نو هغهٔ ملگرو ته حال ونهٔ وئیلو، څکه چه دا هوښیارتیا ئے وکړه چه دلته جنگ شروع دے که زهٔ ملگرو ته حال ووایم نو مسلمانانو کښے به کمزوری راشی۔

کله چه الله تعالیٰ ورله فتح ورکړه او علاقه ئے ونیوله نو بیا په خلکو کښے راپاڅیدو او بیان ئے وکړو چه ابوبکر صدیق ﷛ وفات شویدے، او عمر فاروق ﷛ د هغهٔ په ځائے باندے خلیفه شویدے، او ابوبکر صدیق ﷛ ما ته ډیر زیات محبوب وو او عمر ﷛ په باره کښے هم د الله تعالیٰ نه غوارم چه د هغهٔ محبت زما په زړهٔ کښے واچوی، څکه چه هغهٔ ما سره سختی کوله، او د هغهٔ به هم زهٔ طاعت کوم۔ (د صحابه کرامو ﷛ د یو بل سره انتهائی محبت وو)۔ [البداية والنهاية : ١٨/٧]

عائشے رضی الله عنها ته وصیت

نو پدے طریقه ابوبکر صدیق ﷛ د دنیا نه لاړو،

په آخره کښے ئے عائشے رضی الله عنها ته وصیت وکړو چه د مسلمانانو د مال نه ما درے (۳) څیزونه اخستی دی نو هغه بیت المال ته بیرته واپس کړه، یو تور غلام دے او بل اُوښ دے چه دویٔ له به ئے اُوبه پرے راوړلے، او یوه کاسه ده۔

کله چه دا درے واړه واپس شو، او عمر فاروق ﷛ ته ئے ورولیږل چه دا څیزونه ابوبکر صدیق ﷛ د مسلمانانو د مال نه اخستی وو،

نو عمر فاروق ﷛ ډیر زیات وژړل او دا ئے وویل :

[يَا اَبَا بَكْرٍ لَقَدْ اَتْعَبْتَ مَنْ بَعْدَكَ]

Maktaba Tul Ishaat.com

اې ابوبکر! تا خو د خان روستنی امیران ستړي کړل چه دومره معمولي شے ډېے د بيت المال نه اخستے دے او هغه ډېے هم بيرته واپس کړو۔

عمر فاروق ﷛ ئے ځکه خليفه کړو چه يو خو دے د الله تعالیٰ په امر کښې ډير سخت وو، بل دنيا پرستي پکښې بالکل نهٔ وه او ددے وخت نه روستو په مسلمانانو باندے د دنيا فراخيانے راروانے دي نو داسے امير دے وخت کښې پکار دے، نو ډير موزون اميرئے مقرر کړو۔

غسل :

ابوبکر صديق ﷛ وصيت کړے وو چه ما ته به خپله بی بی (اسماء بنت عميس رضی الله عنها) غسل راکوی نو هغے ورله غسل ورکړو۔

(سړے چه وفات شی نو خپله ښځه ورته غسل ورکولے شی او که ښځه وفات شوه نو خپل خاوند غسل ورکولے شی، کومو علماء کرامو چه دا وئیلي دي چه سړے کله مړ شی نو ښځه ورله غسل نشي ورکولے، او دغه شان برعکس، ځکه چه نکاح ماته شی نو دا مسئله غلطه ده،

نکاح په بعض احکامو کښې صرف ما ته ده، هغه دا چه تهٔ ددے ښځے خور په نکاح اخستے شے، او که څلور ښځے وی او يوه مړه شوه نو اُوس بله کولے شے، ليکن د آخرت په احکامو کښې نکاح باقي ده، هغے ته کتلے شی او لاس ور وړے شی او قبر ته ئے خکته کولے شی، او په آخرت کښې به همدا ښځه ددے سړي ښځه وی، او جنت کښې به هم ددهٔ سره وی، او عوامو کښې دا خبره مشهوره ده چه زنانه وفات شی نو سړے به ورله مخ ته هم نهٔ گوری ځکه چه دا پردئ شوه او نکاح ماته شوه، دا خبره غلطه مشهوره ده)

پدے ورځ باندے اسماء بنت عميس رضی الله عنها روژه هم وه، نو کله ئے چه غسل ورکړو، د صحابه کرامو نه ئے تپوس وکړو چه زهٔ روژه يم او نن ورځ ډيره يخني هم ده (او د مړي د لمبلو نه روستو لمبونکي له غسل پکار دے) نو که زهٔ چرته غسل وکړم نو زهٔ هم مړه کيږم، نو هغوی ورته جواب ورکړو چه رسول الله ﷺ دا خبره لازمه کړے نهٔ ده بلکه دا بهتر عمل دے۔ (که چا مړي ته غسل ورکړو او خپله ئے غسل وکړو

Maktaba Tul Ishaat.com

بهتره ده او که وېې نکړو نو هم جائز ده)۔

جنازه :

ابوبکر صدیق ﷛ چه وفات شو نو امیر المؤمنین عمر فاروق ﷛ پرې جنازه وکړه ځکه چه جنازه حق د خلیفه او بادشاه وی چه په عوامو مسلمانانو به هغه جنازه کوی، چه هغه نهٔ وی نو بیا به د مړی ولی یعنی پلار، ځوی او ورور، او که هغه نهٔ وی نو په کلی کښې ئې چه چا پسې مونځونه کول۔ یعنی د علاقې امام۔

او ابوبکر صدیق ﷛ د نبی ﷺ سره د عائشې رضی الله عنها په کوټه کښې دفن کړې شو، که نهٔ وی طریقه دا ده چه مړی په کورونو کښې خخول صحیح نهٔ دی بلکه مقبرې ته به وړلې شی، خو دا د ابوبکر صدیق ﷛ او عمر فاروق ﷛ خصوصیت دې په اجماع د صحابه کرامو سره چه دواړه د عائشې رضی الله عنها په کوټه کښې خخ کړې شویدی، لکه په یو ضعیف سند والا روایت کښې دې ته اشاره راغلې ده۔

نبی ﷺ یوه ورځ په لاره روان وو، یو طرف ته ابوبکر صدیق ﷛ وو او بل طرفته عمر فاروق ﷛ وو، نو د الله تعالیٰ نبی وفرمایل :

[هٰكَذَا نُبْعَثُ]

لکه څنګه چه مونږ اُوس درې واړه شریك روان یو نو دغه شان به د قبرونو نه یو شان راپورته کیږو۔

[الترمذی : ۳۶۶۹، سعید بن مسلمة ضعیف]

پدې کښې اشاره وه دې ته چه دوئ به شریك خخیږی او په یو ځائې به راپورته کولې شی او په یو ځائې به جنت ته داخلیږی، ډیر بختور اشخاص وو۔

عائشې رضی الله عنها خوب هم لیدلې وو چه زما په کوټه کښې درې سپوږمئ راپریوتی دی، نو ابوبکر صدیق ﷛ ورله تعبیر ورکړې وو چه ستا په کوټه کښې به درې سپوږمئ خخیږی، نو کله چه رسول الله ﷺ وفات شو نو ابوبکر صدیق ﷛ عائشې رضی الله عنها ته وفرمایل : [هٰذَا اَحَدُ اَقْمَارِكِ]

دا ستا یوه سپوږمئ وه چه ستا کوټې ته درغله۔

Maktaba Tul Ishaat.com

بیا چه کله ابوبکر صدیق ﷛ وفات شو نو دے هم د عائشے رضی الله عنها په کوټه کښے خخ کړے شو، دا دویمه سپوږمئ وه،
او بیا عمر بن الخطاب ﷛ چه وفات شو نو د عائشے رضی الله عنها په اجازه باندے د عائشے رضی الله عنها په کوټه کښے خخ کړے شو، دا دریمه سپوږمئ وه۔
دے باندے د صحابه کرامو اتفاق وو، او هر چه باقی مړی دی نو هغه به په مقبره کښے خخولے شی، نو کوم خلك چه جُماتونو یا مدرسو یا کورونو کښے عالِمان یا متولیان خخوی نو دا گناه ده او بدعت دے، په ابوبکر او عمر رضی الله عنها باندے به انسان ځان نهٔ قیاس کوی۔
او خپل ځوی عبد الرحمن رضی الله عنه په قبر کښے وسپارلو او عمر او عثمان او طلحه رضی الله عنهم ورسره ملگری وو، او د هغهٔ سرئے د نبی ﷺ دواړو اوږو سره وگرځولو، او د هغهٔ لحد ئے د رسول الله ﷺ د لحد سره پیوسته جوړ کړو،
او آخری هغه خبره چه ابوبکر صدیق ﷛ په وخت د وفات کښے وکړه هغه دا وه:
[تَوَفَّنِیُ مُسُلِمًا وَاَلُحِقُنِیُ بِالصَّالِحِیُنَ]۔
اے الله ! ما مسلمان وفات کړه او د نیکانو خلکو سره مے پیوسته کړه۔

نو بیا د عمر فاروق ﷛ لس کاله خلافت راغے، د هغے بیان به روستو لیکلے کیږی۔
وبالله التوفیق

تنبیه : د عراق او د شام نور جنگونه به د عمر فاروق ﷛ د سیرت په بحث کښے لیکلے کیږی۔

ختم شو څلورم جلد د **سیرت رسول** ﷺ د الله تعالیٰ په فضل او کرم سره او ددے نه روستو به پنځم جلد کښے د سیدنا عمر بن خطاب رضی الله عنه سیرت ذکر کیږی۔
وسبحانك اللهم وبحمدك اشهد ان لا اله الا انت استغفرك واتوب الیك وصلی الله علی النبی ﷺ وعلی آله وصحبه اجمعین۔
لیلة الاحد ۱۴۳۹ هـ جمادی الاولی ۱۲ ۔ الموافق ۲۷/۱/۲۰۱۸

Maktaba Tul Ishaat.com

فهرست مضامین کتاب سیرتِ رسول جلد

Maktaba Tul Ishaat.com

Maktaba Tul Ishaat.com

Maktaba Tul Ishaat.com

Maktaba Tul Ishaat.com

Maktaba Tul Ishaat.com

Maktaba Tul Ishaat.com

Maktaba Tul Ishaat.com









سیرت الرسول صلی اللہ علیہ وسلم

Maktaba Tul Ishaat.com